كشف البارى
عما فى
صحيح البخارى
تصنیف
حضرت مولانا سلیم اللہ خان

کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان شیخ الحدیث
جامعه فاروقیه کراچی

کتاب الغسل

جلد ⑰

خصوصیات

- ← داحادیثو تخریج
- ← د تعلیقات بخاری تخریج
- ← داسماء الرجال مختصر تعارف
- ← د گرانو لغاتو لغوی صرفی اونحوی حل
- ← ماقبل باب سره د ربط پوره تحقیق
- ← دشرحي دهرې خبرې لاندې په حاشیه کښې حواله
- ← د ترجمة الباب مقصد بیانولو کښې پوره تحقیق
- ← د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان اوبیا د مذهب حنفی ترجیح
- ← د بخاری د احادیثو اطراف خودل

خورونکی: ← فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵ .... ۰۳۱۵۹۵۹۵۷۱۷

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

شارح:- صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان
شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچئ

د ملاویدو پتې: د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رحیمی کتب خانه خوست -- ۰۷۹۹۱۶۱۳۱۳
- اسلامی کتب خانه خوست--
- دیوبند کتب خانه خوست-- ۰۷۹۹۸۸۶۶۸۰
- روغانیول کتب خانه جلال آباد
- دعوت کتب خانه جلال آباد--۰۷۷۶۰۹۷۹۶۵
- رشیدیه جدید کتب خانه کابل
- انتشارات نعمانیه کابل
- انتشارات علامه تفتازانی کابل--۰۷۷۷۴۹۰۵۰۰
- قدرت کتب خانه کابل --
- واحدی کتب خانه خوست
- صداقت کتب خانه کابل-- ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷
- مکتبة القرآن والسنة کابل
- مکتبه صدیقیه غزنی
- مکتبه فریدیه خوست
- مسلم کتب خانه جلال اباد--۰۷۷۶۰۰۶۴۱۶
- غزنوی کتب خانه غزنی -- ۰۷۴۸۵۷۵۱۹۹

خورونکی: ← فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵ .... ۰۳۱۵۹۵۹۵۶۱۷

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِی الْاٰخِرَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِیْمُ الْخَبِیْرُ ۝ [سبا:١]

یُّؤْتِی الْحِكْمَةَ مَنْ یَّشَآءُ ۚ وَمَنْ یُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِیَ خَیْرًا كَثِیْرًا ؕ وَمَا یَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝ [البقرة:٢۶٩]

هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّیّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِهٖ وَیُزَكِّیْهِمْ وَیُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۗ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۝ [الجمعة:٢]

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ؗ سِیْمَاهُمْ فِیْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ [الفتح:٢٩]

وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَیِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ۝ [محمد:٢]

اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓىِٕكَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِیِّ ؕ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا ۝ [الاحزاب:٥۶]

اللهم صل على محمد وأزواجه وذريته كما صليت على آل إبراهيم وبارك على محمد وأزواجه وذريته كما باركت على آل إبراهيم انك حميد مجيد، [صحيح البخاري، كتاب أحاديث الأنبياء رقم الحديث، ٣٣۶٩]

اما بعد: ډیرزیات حمد اوثنا او بې شمیره تعریفونو اوثناګانې د الله تعالی د لاریب او برحق ذات د پاره دي چا چې دخپلې بې اندازې مهربانۍ او احسان سره د خاورې څخه اوبیا د وینې اوغوښې د ټکړو څخه اشرف المخلوقات انسان پیدا کړه. اود عقل اوفهم په ذریعه ئې د نامعلومه اوبې درکه څیزونو په علم او معرفت سره ښائسته کړل او په اولنۍ وحی کښې ئې قلم د تعلیم ذریعه اوګرځوله او د دې د عظمت او اهمیت خبر ئې ورکړو.

په لکهونو او کروړونو درود او سلام او د کامل رحمت نزول دې وی زما د خالق او مالک په محبوب او آخری نبی فداه ابی وامی حضرت محمد بن عبدالله صلوات ربی وسلامه علیه په محترم او مکرم ذات باندې. چا چې د جهالت او ګمراهۍ په ژورو او خطرناکو کندو کښې ورپریوتې انسانیت د اسلام او ایمان په ذریعه د کامیابۍ او کامرانۍ اوچت مقام ته اورسول.

شغفت به حبا فانذ كر اسمه تحدر مع العين يستشهد الخدا

بسيرية عطرت ظل جوانحي لعل يد الرحمن تستنقذ العبدا

أرطب حلقي بالصلاة على إسمه فتنقلب الأشواق في مهجتي بردا

ډيرزيات خوش نصيبه اوبختور دی هغه پاک نفسونه چا چې د الله تعالی کلام اوارشادات نبوی نه صرف په خپلو سينواوليکلو کښې محفوظ کړی دی بلکه خپل ژوندونه ئې د دې ارشاداتواووينا گانوعملی مظهر جوړ کړې دې.اود ((فليبلغ الشاهد الغائب)) حقيقی مصداق جوړ شول.الله جل شانه دې په کروړونو رحمتونه نازل کړی د الله تعالی په مينه کښې مستې دې قافلې په يو باوفا اوباصفا شهسوار ،لوئې داعی ،حضرت مولانا محمدالياس کاندهلوی په قبر باندې، د چا د فکر اوفيض اوسعی مشکور نه رڼا حاصلونکی د يو تبليغی جماعت د نقل اوحرکت په برکت سره بنده ظلوم اوجهول چې د عصيان اونسيان څخه جوړ شوې دې بې اصول عصری فنون د اوبو برپوړقئ اوګڼلې او د علوم الهی او د نبی کريم صلی الله عليه وسلم ارشادات علی صاحبها الصلاة والسلام حاصلولو او درس اوتدريس ، تصنيف اوتاليف سره ئې جوړښت نصيب شو.(يعنی په دې کښې مشغوله شو)

د حديث پاک خدمت يقيناً د الله تعالی فضل وکرم او د قدرمندو استاذانو ،مورپلار، ورونړو، مخلصه دوستانوخاص کر زما د شيخ او مربی ، استاذ المحدثين ، حضرت شيخ الحديث مولانا سليم الله خان صاحب دامت بركاتهم وفيوضاتهم د پيشمنی د وخت دعاګانې ،او د هغوی د تربيت او شفقت په وجه راته نصيب شوې دې.اودا د طالب علمئ د اولنئ زمانې د دعاګانو د قبوليت اثرهم دې.ځکه چې بنده کله په اول ځل د علم د طلب د سفر د پاره قصد اوکړو نوزما مشفق اومحسن مشر ورور مولانا خالد محمود صاحب مدظله (فاضل جامعه فاروقيه کراچی) راته د قطب العالم،ريحانة الهند،حضرت شيخ الحديث مولانا زکريا کاندهلوی نور الله ،،آپ بيتی،، راکړو اودا نصيحت ئې راته اوکړو چې د دې يو مخ مطالعه کوه.نو د مطالعه په دوران کښې د حضرت نور الله مرقده د اول حديث په وخت اول کښې دا دعا مې د نظر څخه تيره شوه چې ،،اې الله د حديث پاک سلسله ډيره روسته شروع شوه دا اوس ترمرګه پورې ماسره اوساته، [ص،۸۸] نو هم د هغه وخت څخه مې دا دعا ځان سره لازمه اونيوله او د هغه سميع او مجيب الدعوات د رحمت په دربار کښې مسلسل دعا کونکې يم چې ،، اې الله د علوم نبوت د حاصلولو سلسله د ډير وخته پورې د عصری ادارو خاورو چانړ کولو څخه پس شروع شوې ده.نو اوس تر مرګه پورې د علوم نبوت د تعليم او تعلم او خدمت سره راته تعلق نصيب کړه او اوس صرف يوه آرزو ده چې د حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم فيوضات اودحديث مبارک د خدمت دا سلسله جاری وی.

اردو شعر

عبث ہے جستجو بحرِ محبت کے کنارے کی

بس اس میں ڈوب ہی جانا اے دل پار ہونا

په موجوده زمانه کښې د الله تعالی د طرفه د دين په ټولو شعبواو کاروتو کښې نوې نوې کارنامې کونکو کښې د الله تعالی په دربار کښې د الله تعالی د قبول شوو بندګانو يوه ډله د علماء اهل سنت والجماعت

ديوبند ده. ددې قافلې مشر محدث كبير،شيخ الاسلام والمسلمين، حضرت مولانا سيد حسين احمد مدني نور الله مرقده د علومو او معارفو څخه څه حصه اخستونكې اوامين ، زما شيخ او مربي ،استاذ المحدثين، حضرت شيخ الحديث مولانا سليم الله خان صاحب دامت بركاتهم وفيوضهم اطال الله بقاءه علينا وعافيته هم دې.د دوى د ديني اصلاحي اوعلمي خدماتو څخه به څوک خبر نه وى د تيرې شوې نيمې صدۍ څخه هم زياته موده ئې د اصح الكتب بعد كتاب الله صحيح البخاري درس پوره په محنت اوكوشش سره جاري دې. او تقريباً د دولس ديارلس كالوراسې د دې درسونو اوافاداتو د ترتيب،مراجعت ،تحقيق اوتعليق عظيم الشانه سلسله روانه ده.په ما عاجز بنده باندې چې دحضرت شيخ الحديث دامت بركاتهم كوم علمي، روحاني اومادى احسانات دى هغه نه صرف د ژبى او بيان محتاج نه دى بلكه د هرقسم رسمي تشكر د كلماتو څخه هم لوړ دى.د دې لوئې احساناتو څخه يو دا هم دې چې كمزوري بنده ته ئې دخپلو درسونو او امالي د ترتيب اومراجعت اود تحقيق اوتعليق كار حواله كړل. كوم چې پخپله د نعمت غيرمترقبه څخه څه كم نه دې.نو د الله تعالى په فضل وكرم سره د حضرت شيخ الحديث دامت فيوضهم دهرقسم او مسلسل سرپرستۍ اوحوصله افزائې او دعاگانو د ترتيب اومراجعت اود تحقيق اوتعليق په تپولو سختو مرحلو كښې د هغې په ترسره كولو كښې د نال (د څارو په پښويباندې چې د اوسپنې كوم پترې لگولې شى هغې ته وائى) كار وركړو.خلاصه دا چې د حضرت شيخ الحديث دامت فيوضهم د صحيح بخارى شهر آفاق دروس او امالي دا مجموعه كوم چې د كشف البارى په نوم باندې نامذاره ده تقريباً د درې كالو مسلسل محنت او صبر ، كوشش اوجدوجهد،د استاذانودعاگانواود مور پلار اوبنده سره دزړه تعلق ساتونكو اومحبت كونكو وروڼړو د پرله پسې دعاگانواومدد نيتجه چې نن موجود يې.او داستاذ المحدثين حضرت شيخ الحديث زيده مجدهم جامع شخصيت د دوى اوچت اخلاق اوصفات حميده ،ديني ، اصلاحي اوپه دې بنده ظلوم اوجهول باندې د شفقت اوعنايت تردې چې په ذاتي دكور په معاملاتو كښې مدد كول دبيان محتاج نه دى البته دا ضرور ده

ديدِ ليلیٰ کیلئے دیدۂ مجنوں ہے ضرور میری آنکھوں سے کوئی دیکھے تماشا ان کا

د سپارلی شوى كار د تفصيل بيانولو څخه وړاندې د خپلوهغه احسان كونكو استاذانواو نورو حضراتو تذكره كول ضروري گنړم د چا خبرو، مدد ،سرپرستۍ ود بيشمنيد دوخت دعاگانو د دې لوې كار دپاره راته لارهمواره كړه په دې حضراتو كښې د ټولو څخه وړاندې د مولاناعبيد الله خالد صاحب مد ظله ذكر خير دې چا چې په حيثيت د ناظم اعلى جامعه فاروقيه اومسئول شعبه تصنيف وتاليف د دې سلسلې په ټولومرحولو كښې چې څومره د هغوى په وس كښې وه نو په آسانتيا پيدا كولو كښې ئې د څه كمى څخه كار نه دې اخستې.الله تعالى دې د خپل شان لائق دوى ته د دې بهترينه بدله وركړى.

زما په احسان كونكو استاذانو كښې د ټولو نه اول مولانا محمد يوسف افشاني صاحب دامت بركاتهم اوحضرت مولانا نورالبشر صاحب دامت بركاتهم دى په دوى كښې د اول ذكر شوى (افشاني صاحب) خوپه ما عاجزه باندې دومره احسانات دى چې د هغې شمارهم زما د وس څخه بهردې ،د دوى هرقسمه

مدد ،دعاګانې ،نصیحتونه او پرله پسې راهنمائی د لارې د مشال کارورکوی.او ثانی الذکر (نورالبشر صاحب) دوی دعلمی او تحقیقی کار په دوران کښې ډیر په ورونړ تندی (خوشحالئ) سره په مختصرو او اوږدو مجلسونوکښې دګرانو ګرانو غټو پرانستل کړی دی (یعنی مشکلات ئې حل کړی دی) اود راهنمائې سره سره ئې د خپلو ډیرواهمو اوقیمتومشورو احسان رابانردې هم کړې دې.د تصنیف د نورو ملګرو خصوصاً استاذ محترم مولانا حبیب الله زکریا صاحب مدظله ،استاذ محترم مولانا مزمل سلاوټ صاحب مدظله ، اواستاذ محترم مولانا عزیز الرحمن صاحب مدظله راسره هم ډیر مدد کړې دې.په دوی کښې د اول الذکر (مولانا حبیب الله زکریا) څخه راته پوره پوره د فائدې اخستلو موقع ملاؤ شوې ده.
د محترمو والدینو، پرله پسې دعاګانو،نصیحتونو، اود مشر ورور مولانا خالد محمود صاحب او صادق محمود صاحب کوم چې اګرچې زما نه د مسافت په اعتبار سره لرې دی خو د دوی مسلسل رابطه ،(تماس) حوصله افزائی ، اومعاشی مدد یقینا دبنده په علمی ،تصنیفی ژوند کښې بنیادی کردار اداکړې دې.ډیره بې انصافی به وی که د ګران ملګری مفتی محمدطاهر اټکی صاحب تذکره اونکړم چا چې بغیر د مبالغې څخه په ګهنتو ګهنتودخانه کعبې غلاف نیولې وو او د بنده دپاره اوخاص کر د موجوده کار دآسانتیااو تکمیل دپاره ئې دعاګانې کړی دی الله تعالى دې زما دې ټولو محسنینوخاص کر مولانا عطاء الله شهاب صاحب ، مولانا شفیق الرحمن صاحب، مولانا صابرمحمود صاحب اود تصنیف دشعبې ملګری مفتی امان اللهصاحب، مفتی مبارک علی صاحب، مفتی محمد راشد صاحب، مفتی عبدالرحیم صاحب، مفتی سمیع الرحمن صاحب ، مفتی عبدالغنی صاحب ، مفتی ثناء الله صاحب ، او نورو مدد کونکو اوډاډ ګیرنه راکونکو ته ډیرې غوره بدلې ورکړی.
بنده د حضرت شیخ الحدیث صاحب دامت فیوضاتهم دطرفه د دروس صحیح بخاری د ترتیب ، مراجعت اوتحقیق دپاره کتاب الغسل باندې کارکولو مکلف ګرځولې شوې وو. کتاب الغسل ټول په ۲۹ ابوابو باندې مشتمل دې. دا زیر نظر مجموعه په دې کښې په یوولس بابونو، دوه قرآنی آیاتونو ، نولس حدیثونو اوپنځه تعلیقاتو او تشریحاتوباندې مشتمل ده.حضرت شیخ الحدیث دامت برکاتهم وفیوضهم اود هغوی په حکم سره د استاذ محترم حضرت مولانا نورالبشر صاحب مدظله د طرفه دبخاری شریف د دې تقریر د ترتیب ،مراجعت او تحقیق دپاره بنده د لاندینی څیزونو دالتزام پابند ګرځولې شوې دې.

۱- د ترجمة الباب مقصد / مقاصد وضاحت اوتراجم ابواب باندې سیر حاصل بحث کول
۲- ربط د بابونو اود مناسبت ذکر کول
۳- د حدیث الباب ترجمه کول
۴- د حدیث الباب دامهات سته څخه تخریج کول

۵- د حديث د راويانو جامع پيژند گلو، خاص كر د هغوى د تعديلاتو او توثيقاتو ذكر كول دغه شان كه په هغوى باندې د امامانو كلام وى نو د هغې ذكر كول، كه بلا تكلف او تعسف دفاع كيدې شى نو دفاع، گنې بيا كم از كم په صحيح بخارى كښې د داسې متكلم فيه راوى د راوړلو عذر بيانول
۶- د حديث په سند باندې محدثانه كلام كول
۷- د حديث په شرح كښې چې د كومو څيزونو خيال ساتلې شوې دې هغه دا دى.
الف: د حديث په نورو طرقو كښې وارد شوې مختلف الفاظ نقل كول او د هغې تشريح كول
ب: نحوى، صرفى، بلاغى، لغوى او اعرابى حيثيت سره تشريح او تحقيق كول
ت: د فقهى مذاهبو (د اصحاب المذاهب د كتابونو څخه) تنقيح او حواله وركول
ث: د فقهى دلائلو التزام
۹- د حديث الباب د ترجمة الباب سره مطابقت بيانول
۱۰- د بخارى د متابعاتو او شواهدو تشريحات
دا خبره دې ياده وى چې په متابعاتو او شواهدو كښې د لانديني خبرو خاص طور سره خيال ساتلې شوې دې.
الف: د حديث د كتابونو حواله چې د صفحاتو سره وركړې شى، نو هلته ورسره د كتاب او باب دغه شان د رقم الحديث ذكر ضرور اوكړې شى.
ب: د حديث الباب تخريج خاص كر د امهات سته څخه چې اوكړې شى كه امام بخارى په هغې كښې متفرد وى نو د معتمد مصنف حواله دې ضرور وركړې شى. او په دې سلسله كښې د فتح البارى، عمدة القارى سره سره د تحفة الاشراف څخه هم مدد واخستې شى.
ت: په متن كښې چې د حديث د كوم كتاب حواله وركړې شوې وى كه هغه كتاب په دار التصنيف كښې موجود وى يا په آسانتيا سره ملاويدې شى نو هغې طرف ته مراجعت كول او حواله وركول دې وى او كه نه وى نو د مجبورئ په وجه ثانوى مراجع مثلاً فتح البارى وغيره حواله دې وركړې شى.
ث: د تعليقات بخارى په سلسله كښې دې خامخا د تعليق التعليق څخه استفاده اوكړې شى.
ج: د راويانو په باره كښې د عامو شروحاتو د حوالې په ځائې دې د اسماء الرجال د معتبرو كتابونو حواله وركړې شى.
ح: د لغوى تحقيقاتو د پاره دې د لغات الحديث او عام لويو د لغت كتابونو مثلاً تاج العروس، لسان العرب، بالمصباح المنير او المغرب وغيره ته ترجيح وركړې شى.
خ: د اعرابى، نحوى، او صرفى تحقيقاتو د پاره (د نحو او صرف خاص كر) د حديثو شروحاتو څخه استفاده واخستې شى.
د: د فقهى مباحثو او د هغې د دلائلو د پاره د هر مكتب فكر كتابونو ته دې رجوع اوكړې شى.
ذ: د حديثى مباحثو او محدثانه كلام د پاره د شروحاتو سره سره د علل حديث كتابونو ته رجوع دى.

ر: په معاصرو تقریرونو باندې خو به د سرسری استفادې حده پورې اعتماد وی خو دحوالې اعتماد به پرې هیڅ کله نشی کولې.
ز: کوم څه چې دحدیث څخه استفاده کولی شی نو هغه به د حدیث د شارحینو د کلام په رڼا کښې وی.
س: دغه شان په یو حدیث باندې فقهی او کلامی مباحث به هم مکرر نشی لیکلی مگر دا چې سخت ضرورت وی نو په هغه وخت کښې به داولنی ځائې حواله هم ورکولې شی.
ش: دحدیث چې کوم مباحث ذکر کول دی د هغې تعین به د اکابرینو شروحات او تقریرونه وړاندې کیخودلی شی او مرتب کولی شی.
احقر د دې خبرزې بنه کوشش کړې دې چې د ذکرشوو څیزونو التزام ساتلوسره سره تقریر آسان او عام فهم وی.
دحضرت شیخ الحدیث دامت برکاتهم په خصوصی حکم سره د ټولو عربی عبارتونو د ترجمې هم التزام مې کړې دې.د دې دپاره چې د کم استعداد طالبان اودحدیث د مباحثو ذوق لرونکی عام مسلمانان ترې هم استفاده کولی شی.خو که په حواشی کښې صرف داهل علمو دپاره چرته د عربی عبارت حواله ورکړې شوې ده نو د هغې د ترجمې التزام نه دې کړې شوې.د تقریر په دوران کښې که چرته حدیث راغلی وی نو دهغې مکمل تخریج کړې شوې دې او د متعلقه کتابونو په مروجه طریقه باندې حواله ورکړې شوې ده.بعضې وخت که د حدیث یوه ټکړه، اثر، یا تعلیق په تقریر کښې موجود وی د ضرورت مطابق مکمل سنداوبعضې وخت پوره متن حدیث هم په حاشیه کښې نقل کړې شوې دې.د احادیثو د تخریج دپاره د ،،دارالسلام،، مطبوعه کتب سته څخه استفاده کړې شوې ده.په حواله جاتو کښې امهات کتب اومصادر اصلیه څخه چې څومره کیدې شوه د استفادې کوشش شوې دې.بعضې وخت د مجبورئ د وجې یا د تائید دپاره د مصادر ثانویه حواله هم ورکړې شوې ده.د حوالو په ورکولو کښې د دې خبرې هم کوشش شوې دې چې ترڅومره کیدې شی نو کم از کم د درې معتبر اومعتمد کتابونو حوالې ورکړې شی.اود تراجم رجال په سلسله کښې څومره چې راته ښودنه شوې وه هغه شان د تراجمو چې کوم کتابونه ملاویږی نو په هغې د مشهورو کتابونو حوالې ورکړې شوی دی.د دې دپاره که اهل علم غواړی نو په آسانتیا سره مطلوبه بحث اوراوی ته رسیدل کولې شی.د فرق باطله د بعضې کتابونو د نه موجود کیدوپه وجه د مجبورئ په وجه د ،، المکتبة الشاملة،، څخه هم استفاده شوې ده.حسب ترتیب په اول کښې د بابونو اجمالی فهرست اود اسماء الرجال مترجم لهم فهرست او په آخر کښې د ټولو مصادرواو مراجعو تفصیلی فهرست هم ورکړې شوې دې.په کوم کښې چې د کتاب اومصنف پوره تعارف، د محقق اومحشی او مکتبه نوم اود طباعت کال که موجود وی نودهغې ذکر هم شوې دې او که د مختلفو مکتبو د مختلفو طبعاتو څخه استفاده شوې وی نوپه داسې صورت کښې هغه په ګوته کړې شوې ده.اود تعلیقاتواو د کتابونو د حواشیوذکر د مصادرو سره د مستقل مصدر په توګه ورکړې شوې دې.

د اهل علمو څخه دا خبره بیخی پټه نه ده چې د هرې یوې علمی مسودې او درسی تقریر د ترتیب او تحقیق په دوران کښې د مقتضاء حال مطابق اضافې او ترمیم وغیره ضروری وی نو دلته هم داسې نوبت راتلل ضروری وو. خو الله تعالی دې زما شیخ اومربی حضرت شیخ الحدیث دامت فیوضهم ته ډیرې ښې بدلې ورکړی چې هغوی په دې بوډاتوب، د بیمارو د زیاتوالی، او د ډیرو دینی او علمی مصروفیاتو باوجود وخت په وخت نه صرف په مهربانۍ سره مطالعه کړه ده بلکه د خوښولو اظهار ئې هم کړې دې.

دیر و حرم میں روشنی شمس و قمر سے ہو تو کیا

مجھ کو تو تم پسند ہو اپنی نظر کو کیا کروں

دا یو خاص علمی او تحقیقی کار دې. او احقر ته د خپلې کم علمۍ او کم فهمۍ نه صرف دا چې احساس دې بلکه ښکاره باره اقرار هم دې.

سرخرو ہوتا ہے انساں ٹھوکریں کھانے کے بعد

رنگ لاتی ہے حنا پتھر سے پس جانے کے بعد

د اهل علم او تحقیق د مزاج مطابق د فن ماهرینو ته به د دې حقیقت هم ښه معلومات وی چې د یو علمی او تحقیقی کار په ترتیب او تحقیق او تعلیق کښې د څومره ځان ستړون، عزم او استقامت، اود تلاش او لټون ضرورت وی چې بعضې وخت صرف د یوې نکتې او د یوې جزئیه پورې رسیدلو دپاره بغیر د مبالغې د سوونو نه بلکه د زرګونو صفحاتو اود څوڅوغټو جلدونو او د شلو کتابونو د صفحاتو اړولو راړلو ضرورت پیښیږی. هله مقصودی ملغلره حاصلیږی. یقیناً دا لوئې خدمت زما د ظلوم او جهول او بې علم او کم استعداد د وس (طاقت) کار نه وو. که د الله تعالی توفیق اود حضرت شیخ دامت برکاتهم العالیه سرپرستی شامل حال نه وه. په دې باندې بس دا وئیلی شی

این سعادت بزور بازو نیست

تانہ بخشد خدائے بخشندہ

بنده د دې عظیم الشان کار په سلسله کښې د خپل ځان څخه وړاندې د قدرمندو استاذانو خاص کر د حضرت مولانا نور البشر صاحب دامت برکاتهم اوحضرت مولانا حبیب الله زکریا صاحب مدظله د منهج د تابعدارۍ څومره چې کیدو شو کوشش کړې دې. خو دانسان په حیثیت دومره علمی او تحقیقی کار کښې دغلطۍ او سهو امکان څخه سل فیصده بچ کیدل ډیره ګرانه ده. او نه بنده خپل ځان د دې څخه خالی ګنړی. د دې وجې د اهل علم اوفضل په خدمت کښې درخواست دې که د مطالعې په دوران کښې ورته ښکلا اوښه والې په نظر راشی نو دا دې د الله تعالی انعام اوګنړی اوزما شیخ او مربی حضرت شیخ الحدیث دامت فیوضهم ته منسوب کړی اوکه په سهو او غلطۍ باندې خبر شی نو دا دې د بنده د طرفه تقریر ته د تحریر جامې اغستلو ناقص کوشش او د مرتب ذاتی کوتاهی اوخامی اوګنړی اودهغې څخه دې ما ضرور خبر کړی د دې دپاره چې د هغې اصلاح اوکړې شی او د دغه شان ممکنه غلطیانو ازاله اوکړې شی.

د كتاب د كمپوزنګ څخه پس د پروف تصحيح او نظرثانى د څو ورځو د مسلسل جدوجهد ،كوشش او صبر كونكى محنت څخه پس بنده په خپله مكمل كړه اود كمپوزنګ او سيټنګ په باره كښې عرفان انور مغل ورور مې ډير د مهارت ښودنه اوكړه اود مياشتو كارئې په ورځو او ګنټو كښې اوكړه او د هنرمندئ ثبوت ئې وركړل.اوپه بعضې انتظامى كارونو كښې راته د مكتبه فاروقيه ناظم مفتى حماد خالد صاحب، يوسف رانا صاحب او محمدصديق صاحب د دې ورونړو ښه تعاون حاصل وو.الله تعالى دې دې ټولو حضراتو ته او نورو ټولو مدد ګارانو اواحسان كونكو ته جزاء خير وركړى

په آخر كښې احقر په خپله هم دعا كوى او قدرمندولوستونكو ته خو درخواست كوى چې زما د شيخ اومربى حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم واطال الله بقاءه علينا دمكمل صحت اوعافيت دپاره خصوصى دعاګانې كوى چې الله تعالى د حضرت اقدس د مهربانئ سيورې ترډير وخته پورې په مونږ باندې قائم او دائم اوساتى اومونږ ته او ټول امت ته دې د هغوى د فيوضاتو څخه د مستفيد كيدو توفيق وركړى دغه شان د مرتب دپاره هم دعا كوئى چې زرترزره د باقى سپارلې شوى كار د تكميل توفيق وركړى اوداحقر دا معمولى غونډې كوشش په خپل دربار كښې قبول اومنظور كړى اودا دښده د ده د مور پلار او د ټولو دوستانواو محبانو دپاره د صلاح اوفلاح اود آخرت ذخيره اوګرځوى.آمين

ابوالخير عارف محمود بن حاجى جمعه خان
استاذورفيق شعبه تصنيف وتاليف جامعه فاروقيه كراچئ
۲۴ ربيع الثانى ۱۴۳۵ هجرى مطابق ۲۴ فرورى ۲۰۱۴ عيسوى
پښتومترجم احقرشاه فيصل بن نبى ګل ترې اوزګارشو

دجمعې مباركه ورځ ديرويشتم شوال كال ۱۴۳۷ موافق ۲۹ جولائى كال ۲۰۱۶ عيسوى

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

۷-باب: المضمضة والاستنشاق في الجنابة ۲۵۵

بسم الله الرحمن الرحیم

۵ - کتاب الغسل

وَقَوْلِ اللهِ تَعَالىٰ ﴿ وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ۚ وَإِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى أَوْ عَلٰى سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَاءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَأَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ ۚ مَا يُرِيْدُ اللهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴾ /المائدة:٦/.

وَقَوْلِهِ جَلَّ ذِكْرُهُ: ﴿ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَأَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ۚ وَإِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى أَوْ عَلٰى سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَاءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَأَيْدِيْكُمْ ۗ إِنَّ اللهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴾ /النساء:٤٣/. (١)

دَ بسم الله سره متعلق تفصيلي بحث "بدء الوحي" لاندې تیرشوي دي. (٢)

دلته دَ عنوان نه وړاندې بسم لله شته که نه؟: دَاصيلي په روايت کښې دَ عنوان نه وړاندې بسم الله نشته دې او هغه دَ "كتاب" په ځائې دَ "باب" عنوان قائم کړې دې. دازياته اوجه دَ په نسبت دَ کتاب ځکه چه کتاب دَ مختلف انواع مجموعه ته وائی اوغسل دَ طهارت یونوع او قسم دې سره دَدې چه في نفسه دَدې اسباب ډيردی. زمونږ په نيزمتداول نسخه اودَ نورو حضراتو په روايت کښې دکتاب دَ عنوان نه وړاندې بسمله مذکورده. (٣)

عنوان مقدم دې که بسمله؟: دَدې نه پس دلته دااختلاف دې چه عنوان مقدم دې که بسمله؟ دَ حافظ ابن حجر رحمه الله په قول بسمله دَعنوان نه مقدم ده خودَاکثروحضراتو په نيز دَدې عکس دې. (٤) يعنې بسمله مؤخراوکتاب الغسل عنوان مقدم دې.

دَماقبل سره ربط: امام بخاري رحمه الله په ماقبل کښې "كتاب الوضوء" په عنوان سره دَ طهارت صغرىٰ او دَدې انواع بيان کړې وو. اوس دَدې ځائې نه «كتاب الغسل» په عنوان سره طهارت کبرىٰ اودَهغې انواع بيانوي. دَ حدث اصغر سره دَ طهارت زيات حاجت پيښيږي په خلاف دَحدث اکبر، لهذا دَ طهارت صغرىٰ کثيرالوقوع کيدلو دَوجې نه ئې دا په طهارت کبرىٰ باندې مقدم کړې دې. (٥).

---

(١) آيات سره متعلق بحث وړاندې راځي.

(٢) کشف الباري بدء الوحي: ٣٨٤-٣٦٩، ٢٠٧-٢٠٣-١/٢.

(٣) عمدة القاري: ٢٨١/٣.

(٤) فتح الباري: ٤٧٤/٣، إرشاد الساري: ٤٧٥/١.

(٥) عمدة القاري: ٢٨٢/٣

دَغسل لغوی تحقيق: په لغت كښې غسل دَ باب ضرب نه «غسل الشئ غَسْلاً» وينخل «او په اوبوسره خيرې لرې كول» ته وائي. (۱)
علامه رازی رحمه الله فرمائی چه غسل دَ سين په ضمه اوسكون دواړه شان مستعمل دي. (۲)علامه جوهری رحمه الله وائی «غسل: غَسَلْتُ الشئ غَسْلاً بالفتح والاسم الغُسل بالضم» (۳)يعنی دَغين دَ فتحه سره مصدر اوضمه سره اسم دي. ابن منظور رحمه الله وائی الغَسل بفتح الغين مصدر دي غَسَلْتُ نه اوبضم الغين اسم دي دَ اغتسال او غسل بضم الغين د ټول بدن وينځلوته وائی (۴)ابن اثير رحمه الله هم دَغين فتحه سره مصدر اوضمه سره اسم گرځولي دي. البته هغه وائی «الغُسل بالضم الماء الذي يغسل به» يعنی غسل بضم الغين هغه اوبوته وئيلی شی چه په هغې سره غسل كوليشی. (۵)ابن سيده رحمه الله فرمائی چه په مصدرباندې ضمه اوفتحه دواړه جائزدی بعض وائی چه الغَسل «بالفتح» دَ لامبلوعمل ته وائی اوضمه سره هغه اوبوته وائی په كوم سره چه لامبلې شی. (۶)
صاحب دَمجمع بحار الأنوار، علامه طاهر پټنی رحمه الله فرمائی «الغَسل: بفتح غين أشهر وأفصح من ضمها مصدر غسل»، الغسل مصدر دې دَ غسل يعنی بفتح غين اشهر وافصح دي په نسبت دَ غين دَ ضمه. (۷)
هم دغه توجيه علامه قسطلانی رحمه الله په أرشاد الساري كښې اوشيخ الاسلام علامه زكريا انصاری رحمه الله تحفة الباري كښې اختيار كړې ده. (۸)
دَعلامه نووی رحمه الله رائې: علامه نووی رحمه الله فرمائی «بفتح الغين وضمها لغتان، الفتح أفصح وأشهر عند أهل اللغة والضم هو الذي يستعمله الفقهاء، أوأكثرهم» (۹)يعنی غسل دَ غين په فتحه اوضمه دواړه شان لوستلې كيږې دَاهل لغت په نيز فتح سره افصح او اشهردې. اواكثرفقهاء ئې ضمه سره استعمالوی. علامه نووی رحمه الله نور فرمائی چه علامه جمال الدين بن مالك رحمه الله چه په خپله زمانه كښې دَاهل ادب امام وو. مادَهغوی نه په دې باره كښې تپوس اوكړو نوهغوی اوفرمائيل: «إذا أريد به الاغتسال، فالمختار ضمه، ويجوز فتحه، كقولنا: غسل الجنابة اغتسالها، ومن فتحه أراد غسل يديه غَسلاً» (۱۰) يعنی كه چرې اغتسال يعنی غسل كول مراد واخستې شی نوبيا ضمه مختار ده اوفتحه هم جائزده لكه چه زمونږ قول غسل الجنابة دي يعنی دَ جنابت نه غسل كول اوخوك چه دامفتوح لولی نودې نه مراد دَلاسونو وينځل دی.

۱) القاموس الوحيد:ص ۱۱۶۷.
۲) مختار الصحاح:ص ۲۸۱.
۳) معجم الصحاح: ص ۷۷٤.
٤) لسان العرب: ۷۰/۱۰.
۵) النهاية فی غريب الحديث والأثر: ۳۰۸/۲، مجمع بحار الأنوار: ۳۸/٤.
۶) اوگورئی فتح الباري: ۴۷۴/۲.
۷) مجمع بحارالأنوار: ۳۸/٤.
۸) أرشاد الساری: ٤۸۵/۱ تحفة الباری: ۲۱۷/۱.
۹) المجموع شرح المهذب: ۱۳۰/۲
۱۰) تهذيب الأسماء واللغات، مادة غسل: ۶۰/۳.

غسل: بكسر الغين هغه څيزته وائى چه دَ تنظيف په غرض سره په غسل كښې استعمالولې شي (١) لكه خَطمى، سدر اوصابون وغيره. جوهرى وائى «والغِسل بالكسر: مايغسل به الرأس من خطمى وغيره» (٢)
الغُسل بالضم دا دَ غسول «بفتح الغين» جمع هم راځي. دَ كپړوويڅخونكي اشنان «صابون» وغيره ته وائي.
علامه نووى رحمه الله «المهذب» په حواله سره ليكلى دى چه دَحضرت ميمونه رضي الله عنها په روايت كښې دى «أدنيت لرسول الله صلى الله عليه وسلم غُسلاً من الجنابة» (٣). يعنى ما دَ رسول الله ﷺ دَ غسل جنابت دَپاره اوبه كيخودې، اودَحضرت قيس بن سعد رضي الله عنه روايت كښې دى «أتانا رسول الله صلى الله عليه وسلم فوضعنا له غُسلاً» (٤) يعنى رسول الله ﷺ موږ له تشريف راوړو نوموږ دَهغوى دَ «غسل» دَپاره اوبه كيخودې.
په دې دواړو احاديثوكښې لفظ غسل مضموم الغين دې اومراددې نه دَغسل اوبه دى. په دې دواړو احاديثوكښې لفظ «غُسلاً» مضمون الغين كيدل اهل لغت، محدثين اوفقهاؤ په نيزمتفق عليه دى.
باقى پاتې شوه خبره دَ شيخ عمادالدين بن باطيش رحمه الله «المهذب» په الفاظودكتابت كښې دا مكسور الغين گرځول نودايوصريح خطا، قبيح تصحيف اوداسې منكردى چه ده نه وړاندې چادې ارتكاب نه دې كړې اوداسې باطل دى چه په كوم كښې به دَهغه اتباع نه شي كولې. مادې تذكره خلق په دې باندې دَ خبرولودَپاره كړې ده، دې دَپاره چه څوك په دې سره دهوكه اونه خورى. (٥)
يوه شبه: علامه نووى رحمه الله ليكلى دى چه دَ فقهاؤ اقوال: **باب غسل الجنابة اوغسل الميت او وجب عليه وضوءوغسل او يجب الغسل من خروج المنى** وغيره په شان الفاظوكښې لفظ غسل دَ غين په ضمه او فتحه دواړه شان لوستل جائزدى دواړه شان لوستل فصيح دى. البته فتحه سره لوستل مشهوردى. دَ فقهاؤ خپل مضمون لوستل خطاوجهل اوپه بل لغت باندې نه خبريدل دى. (٥)
جواب: علامه عبدالحى لكهنوى رحمه الله دَعلامه نووى رحمه الله دَ طرف نه دَفقهاؤ تغليط اوتجهيل په جواب كښې فرمائى «تخصيص الفقهاء الغسل الشرعى بالضم واستعمالهم الفتح فى غيره إنما هوللتميز لئلا يشتبه أحدهما بالآخر، فلاوجه لتغليطهم» (٦) يعنى دَفقهاء غسل شرعى ضمه سره خاص كول او «لفظ دَغسل» دَ غين فتحه سره په نورو معنوكښې استعمالول په دواړوكښې تميز پيداكولودَپاره دې. دې دَپاره چه په دې دواړو كښې اشتباه پيدانه شي لهذا هيڅ وجه نشته دې چه په دې باره كښې دَ فقهاؤ تغليط اوكړې شي.
دَ كتاب شروع په قرانى اياتونوسره دَ كولوغرض: امام بخارى رحمه الله دكتاب الغسل شروع دَ قرآن مجيدپه دوو آياتونو سره كړې ده. يودَ سورت نساء او بل دَ سورت مائده آيت دې. علامه كرمانى رحمه الله دَدې نه دَامام بخارى رحمه الله غرض بيانولوسره فرمائى «**وأما غرض البخاري من هاتين الآيتين فهوبيان أن**

---

(١) لسان العرب: ١٠/٧٠، إرشادالسارى: ١/٤٨٥، تحفة البارى: ١/٢١٧.
(٢) معجم الصحاح: ص٧٧٥، تحفة البارى: ١/٢١٧، إرشاد السارى: ١/٤٨٥.
(٣) سيأتى تخريجه
(٤) الحديث أخرجه الإمام أحمد بن حنبل فى مسنده، حديث قيس بن سعد بن عبادة رضى الله عنه: ٣٩/٢٦٢، رقم الحديث: ٢٣٨٤٤.
(٥) تهذيب الأسماء واللغات: ٣/٥٩.
(٦) السعاية: ١/٢٧٤.

وجوب الغسل على الجنب مستفاد من القرآن»[1] يعني دَ امام بخاري رحمه الله غرض په دې دوو آياتونوسره دابيان كول دي چه په جنبي باندې دَغسل واجب كيدل دَ قرآن پاك نه مستفاد دى. هم دا توجيه علامه قسطلاني رحمه الله اوعلامه عيني رحمه الله هم اختياركړې ده.[2]

يودقيق نكته: بيا امام بخاري رحمه الله دَ سورة مائده آيت دَ سورة نساء په آيت باندې مقدم كړې دې. حالانكه په ترتيب كښې سورت نساء په سورت مائده باندې مقدم دې. دَدې توجيه حافظ ابن حجر رحمه الله دا بيان كړې ده چه امام بخاري رحمه الله دا دَ يودقيق نكته دَ وجې نه كړې دى. هغه دا چه دَ سورت مائده لفظ ﴿فَاطَّهَّرُوْا﴾كښې اجمال دې اودَسورت نساء لفظ ﴿حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا﴾كښې دَاغتسال تصريح او تطهير مذكوربيان دى.[3]

دَعلامه عيني رحمه الله رائې: علامه عيني رحمه الله دَ حافظ صاحب دا توجيه ردكړې ده هغه فرمائى چه ﴿فَاطَّهَّرُوْا﴾ كښې هيڅ اجمال نشته دې نه دَ لغت په اعتبارسره اونه دَ اصطلاح په اعتبارسره ځكه چه ﴿فَاطَّهَّرُوْا﴾ دَ لغت او اصطلاح هر دواړو په اعتبارسره دَ بدن دَ غسل په معنى كښې دې.[4]

دَ بخارى شريف متداول نسخه كښې او شرح ابن بطال كښې دادواړه آياتونه مختصراً اوكشف البارى دَ متن دَپاره منتخب نسخه اودَ بخارى شريف په نورو شرحوكښې مكمل ذكردى.[5]

﴿ وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ۭ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰي سَفَرٍ اَوْ جَاۗءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَاۗىِٕطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَاۗءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَاۗءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ ۭ مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ ﴾[6]

ترجمه: اوكله چه جنابت اوشى نوښه شان سره پاكوالې حاصل كړئى، اوكه چرې بيمارئى، يا په سفركښې وى،ياڅوك تاسوكښې لاړشى دَ ضرورت نه راغلې وى، يابښځوله ورغلې وى، بيا اوبه نه بيا مومئى تاسو، نواراده اوكړئى دَ پاكې خاورې اواومږئى خپل مخ او لاسونه په دې سره، الله تعالى نه غواړى چه په تاسوباندې سختى اوكړى، ليكن غواړى چه تاسو پاك كړى اوپوره كړى خپل احسان په تاسو باندې دې دَپاره چه تاسو احسان اومنئى.

په سورت نساء كښې دَالله تعالى ارشاد دې: ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ۭ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰي سَفَرٍ اَوْ جَاۗءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَاۗىِٕطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَاۗءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَاۗءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ۝ ﴾[7]

---

[1] صحيح أبى عبدالله البخارى بشرح الكرمانى:١١١/٣.
[2] اوګورئى إرشادالسارى:٤٨٣/١ عمدة القارى:٢٧٢/٣.
[3] فتح البارى:٤٧٥/٢-٤٧٤.
[4] عمدة القارى:٣٧٣/٣.
[5] صحيح البخارى:٣٩/١،قديمى كتب خانه، كراچى شرح ابن بطال: ٣٧٥/١ اوګورئى فتح البارى:٤٧٤/٢عمدة القارى :٢٧٢/٣تحفة البارى:. ٢١٧/١إرشاد السارى:٤٨٥/١شرح الكرمانى:١١١/٣-١١٠.
[6] سورت المائدة آيت:٦
[7] سورت نساء آيت: ٤٣.

ترجمه: اې دَ ايمان والو مه نيزدې کيږئي مانځه ته کوم وخت چه تاسو په نشه کښې نې، تردې چه تاسو پوهيږئي په هغې څه چه وايئي اونه دهغه وخته پورې چه دَغسل حاجت وى مګر په لاره تللووخت کښې تردې چه غسل اوکړئي، اوکه چرې تاسو بيماران يئي ياراغلې وې يوسړې تاسونه دَ ضرورت نه يا ورغلې وى ښخوته، بيامـلاؤنه شى تاسو ته اوبه، نواراده اوکړئي دَ پاکې خاورې، بيااومږئي په خپلو مخونو او لاسونوباندې، بيشکه الله تعالى معاف کونکې اوبخښونکې دې.

دَ طهارت کبرىٰ اصل: دَ سورت مائده او نساء دا آياتونه دَ طهارت کبرىٰ په حواله سره دَ اصل حيثيت لرى. (١)دَ طهارت ټول احکام دَدې آياتونونه مستنبط کړې شوى دى. په سورت مائده کښې مقصود اصلى دَ اودس احکام بيانول دى. غسل اوتيمم تبعاً ذکرشوې دې. اودَ سورت نساء په آيات سره دَ غسل مقصدبيانول دى.

دَغسل حکم رومبې آيت کښې ﴿فَاطَّهَّرُوا﴾ اوپه دويم آيت کښې ﴿حَتّٰى تَغْتَسِلُوا﴾ په ذريعه ورکړې شوې دې. دلته دَ تطهير اواغتسال هم يو معنى ده ځکه چه ﴿فَاطَّهَّرُوا﴾ دَباب تفعيل صيغه ده په کوم سره چه په طهارت کښې مبالغه مطلوب ده.(هغه هم دَغسل په ذريعه سره حاصليدې شى) بيا په دې باندې نور دا چه تطهر پخپله په لغت کښې دَ غسل په معنى کښې مستعمل دې. (٢)

دحدث اکبرنه غسل دَ امت محمديه خصوصيت نه دې: دَ حدث اکبر يعنى لوئى پليتئى نه غسل کول اوطَهارت حاصلول دَامت محمديه خصوصيت نه دې، بلکه دې نه وړاندې بنى اسرائيل هم دَدې مکلف وو. اوالبته دَ صحيح قول مطابق اودس دَدې امت خصوصيت دې پخوانوامتونوته داشرف حاصل نه وو. سابقين انبياءکرامو ته هم دا حکم وو. حدث اکبرنه طهارت دَدې امت خصوصيت نه دې دَدې په دليل کښې علامه عبدالحى لکهنوى رحمه الله فرمائى: عبدبن حميددَ وهب رحمه الله نه نقل کړې دى چه هغوى فرمائى ((مکتوب فى الزبور: من اغتسل من الجنابة فإنه عبدي حقاً ومن لم يغتسل من الجنابة فإنه عدوي حقاً)) (٣)يعنى په زبورکښې ليکلې شوى دى چه الله تبارك وتعالى ارشادفرمائيلې دې چاچه دَ جنابت نه غسل اوکړو هغه زما حقيقى بنده دې اوچاچه دَ جنابت نه غسل اونه کړو هغه په حقيقت کښې زمادښمن دې.

---

(١) بداية المجتهدونهاية المقتصد: ٥٢٧/١.

(٢) لامع الدرارى:٢٠٦/٢.

(٣) السعاية فى كشف مافى شرح الوقاية: ١٧/٣،ولم أجده تماماً كما ذكر، إلا أن الإمام ابابكراحمد بن مروان بن محمد الدينورى القاضى المالكى (المتوفى٣٣٣ ﻫ) أخرجه مختصراً أفى المجالسة وجواهر العلم (١٤٩/٦-١٤٨رقم الحديث:٢٤٧٨) ولفظه: [قال] حدثنا محمدبن عبدالعزيز، نا أبى، ناعبدالرزاق، نا معمر عن زيدبن أسلم، قال: سمعت وهباً الدمارى يقول: "قرأت فى الزبور: إن الله تبارک وتعالى يقول: "من اغتسل من الجنابة فإنه عبدي حقاً".آه .أما لفظه: "فإنه عدوى حقاً" أخرج معناه الإمام أبوبكر أحمدبن الحسين البيهقى (المتوفى ٤٥٨ ﻫ) مرسلاً فى شعب الإيمان، باب العشرون من شعب الإيمان [وهوباب] فى الطهارات، فضل الوضوء(١٩/٣رقم الحديث ٢٧٤٩): [قال]أخرنا أبوعبدالله الحافظ، ثنا أبوالعباس الأصم، ثنا يحيى بن أبى طالب، ثنا عبدالوهاب بن عطاء، أنا عوف بن أبى جميلة وجعفر بن حبان أبوالأشهب والربيع بن صبيح عن الحسن عن النبى صلى الله عليه وسلم أنه يروى ذلک عن ربه تبارک وتعالى أنه قال: ثلاث من حافظ عليهن فهوعبدى حقاً وقال عوف وأبى: حقاً ومن ضيعهن فهو عدوى حقاً، الصلاة، والصوم والجنابة" يعني غسل الجنابة وهذا مرسل. اﻫ

دَ انبياء سابقين وظيفه: علامه بيهقي رحمه الله په دلائل النبوة کښې نقل کړې دی چه غسل جنابت دَ انبياء کرام عليهم السلام وظيفه وه په دې امت باندې هم دَ جنابت غسل فرض کړې شوې دې. چنانچه هغوی دَ حضرت وهب بن منبه رحمه الله نه نقل کړې دی چه الله تعالی په زبور کښې په حضرت داؤد عليه السلام باندې وحي نازل کړه اووئې فرمائيل: «يا داؤد! إنه سيأتي من بعدك نبي يُسمى: أحمد ومحمداً، صادقاً سيداً، لا أغضب عليه أبداً، ولا يغضبني أبداً، وقد غفرت له قبل أن يعصيني ما تقدم من ذنبه وما تأخر وأمته مرحومة، أعطيتهم من النوافل مثل ما أعطيت الأنبياء، وافترضت عليهم الفرائض التي افترضت على الأنبياء والرسل، حتى يأتوني يوم القيامة نورهم مثل نور الأنبياء، وذلك أني افترضت عليهم أن يطهروا لي لكل صلاة، كما افترضت على الأنبياء قبلهم، وأمرتهم بالغسل من الجنابة كما أمرت الأنبياء قبلهم وأمرتهم بالحج كما أمرت الأنبياء قبلهم، وأمرتهم بالجهاد كما أمرت الرسل قبلهم» [1]

يعنی اې داؤد! تاسو پس به يو نبي راځي دَ هغه نوم به احمد او محمد وي، هغه به رښتوني او سردار وي، زه به دَ هغه نه کله هم نه ناراض کيږم او هغه به ما کله هم ناراض نه کړي. ما دَ نافرمانئ نه وړاندې دَ هغه مخکښې روستو ټول ګناهونه معاف کړې دی. دَ هغه امت بخښلې شوې دې. ما دَ هغه امت ته دَ انبياء کرامو په شان نوافل ورکړې دی او په هغوی باندې هغه فرائض فرض کړې شوی دی کوم چه په انبياء کرامو او رسولانو باندې فرض کړې شوې. ترڅو چه هغوی به په قيامت کښې زما په دربار کښې حاضرېږي په داسې حال کښې چه دَ هغوی نور به دَ انبياء کرامو دَ نور په شان وي. داځکه چه ما په هغوی باندې فرض کړې دی چه هغوی دې زما دَپاره په هر مانځه کښې پاکي حاصله کړي لکه څنګه چه په مخکينو انبياء کرامو باندې فرض کړې شوې وو. او ما هغوی ته دَ جنابت نه دَ غسل حکم ورکړې دې لکه څنګه چه دَ هغوی نه مخکښې رسولانو ته حکم ورکړې شوې وو او هغوی ته دَ حج حکم ورکړې شوې دې لکه چه وړاندې انبياء کرامو ته ورکړې شوې وو او هغوی ته مې دَ جهاد حکم ورکړې دې لکه چه وړاندې رسولانو ته حکم ورکړې شوې وو.

دَ جنابت غسل کله فرض شوې؟: دَ غسل فرضيت دَ هجرت نه وړاندې شوې. حافظ ابن عبدالبر رحمه الله دَ اهل سير نه نقل کړې دی چه غسل دَ جنابت په مکه مکرمه کښې فرض شوې. [2]

دَ غسل جنابت فرضيت په مکه مکرمه کښې په کومه موقع شوې نو په دې باره کښې علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله ليکلي دی چه دَ غسل جنابت فرضيت مکه مکرمه کښې اسراء (معراج) په شپه شوې لکه چه دَ ابن عمر رضي الله عنهما روايت په دې باندې دلالت کوي. [3]

امام ابوداؤد رحمه الله دَ حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه نقل کړې دی: «كانت الصلاة خمسين، والغسل من الجنابة سبع مرار، وغسل البول من الثوب سبع مرار، فلم يزل رسول صلى الله عليه وسلم يسأل حتى جعلت الصلاة خمساً، والغسل من الجنابة مرة، وغسل البول من الثوب مرة» [4] يعنی په شروع کښې مونځونه پنځوس او دَ جنابت غسل اووه ځل او دَ متيازو کپړې وينځل اووه ځل فرض شوې وو، رسول الله ﷺ (په شپه دَ معراج) دَ الله تعالی نه

---

[1] جماع أبواب صفة رسول الله صلى الله عليه وسلم، باب صفة رسول الله صلى الله عليه وسلم في التوراة والإنجيل والزبور وسائر الكتب وصفة أمته: ١/٣٨٠.

[2] إنسان العيون في سيرة الأمين المامون المعروف بالسيرة الحلبية: ١/٣٧٨، أوجز المسالك: ١/٣٣٩.

[3] السعاية: ٣/٢٧٤.

[4] كتاب الطهارة، باب في الغسل من الجنابة، رقم الحديث: ٢٤٧.

دکمی درخواست اوکړو تردې چه پنځه مونځونه باقی پاتې شو او غسل دَ جنابت یوځل او دَمتیازونه کېږې وینځل یوځل باقی پاتې شو.

دَغسل په فرضیت باندې دَعلماؤ اتفاق: بیاجمهور علماء فرمائی چه دَ جنابت غسل فرض دې. ابن عبدالبر رحمه الله (۱)ابن رشدمالکی رحمه الله (۲)اوابن حزم رحمه الله په دې باندې اتفاق نقل کړې دې. (۳)لیکن عمر بن ابراهیم العلوی الزیدی الکوفی الحنفی (المتوفی ۵۳۹ هـ) چه دَ روافض فرقه جارودیه سره تعلق لرلو هغه دَ غسل جنابت قائل نه وو. (۴)

دَعلامه ابوالغنام نرسی قول: علامه شمس الدین ذهبی رحمه الله العبرفی خبرمن غبر (۵)اوتاریخ اسلام کښې نقل کړی دی «قال الحافظ محمد بن ناصر: سمعت الحافظ أبي الغنائم النرسي یقول: عمر بن إبراهیم جارودي المذهب ولا یري الغسل من الجنابة» (۶)یعنی حافظ بن ناصر وئیلی دی چه ما دَ حافظ ابوالغنام النرسی نه واورېده چه عمر بن ابراهیم جارودی المذهب وو اودَغسل جنابت قائل نه وو.

دَ قران اوسنت مخالفت: دَهغه دامذهب دَ قرآن اوسنت خلاف دې ځکه چه دَ الله تعالی ارشاد دې ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ (۷)

اونبی کریم ﷺ ته چه کله هم جنابت شوې نوحضورپاک غسل فرمائیلې دې لکه څنګه چه دَ روایاتونه معلومیږی.

دَجنابت دَغسل تعلیم: الله تعالی نبی کریم ﷺ ته دَ نور ارکان اسلام سره دَحضرت جبرائیل علیه السلام په ذریعه باندې دَ جنابت دَ غسل تعلیم هم ورکړې دې. چنانچه په مصنف ابن ابی شیبه کښې دَعبدالله بن بریده رحمه الله روایت دې هغه فرمائی چه کله مونږ مدینې منورې ته راغلو نودَحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په خدمت کښې حاضرشو هغوی اوفرمائیل: «کنا عند رسول الله صلی الله علیه وسلم فأتاه رجل جید الثیاب، طیب الریح، حسن الوجه، فقال: السلام علیك یا رسول الله!، فقال: وعلیك، فقال: یارسول الله! أدنو منك؟ فقال: "أدنُه" فدنا دَنوةً، فقلنا: ما رأینا کالیوم رجلاً أحسن ثوبًا ولا أطیب ریحًا ولا أحسن وجهاً ولا أشد توقیراً لرسول الله صلی الله علیه وسلم، ثم قال: یارسول الله! أدنو منك؟ قال: "نعم" فدنا دَنوةً، فقلنا مثل مقالتنا، ثم قال له الثالثة: أدنو منك یارسول الله!؟ قال: "نعم" حتی ألزق رکبتیه برکبة رسول الله صلی الله علیه وسلم، قال: یارسول الله! ما الإسلام؟ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: "تُقیمُ الصلاة، وتؤتی الزکاة، وتصوم رمضان، وتحج البیت، وتغتسل من الجنابة"، قال: صدقت، فقلنا: ما رأینا کالیوم قطّ رجلاً، والله لکأنه یُلَقِّن رسول الله صلی الله علیه وسلم» یعنی مونږ دَ

---

(۱) الاستذکار: ۱/۳۰۴ فتح المالک بتبویب التمهید: ۱/۴۲۰.

(۲) بدایة المجتهد: ۱/۵۳۴.

(۳) الأوسط فی السنن والإجماع والاختلاف: ۱/۱۱۱.

(۴) لسان المیزان: ۶/۶۳-۶۲.

(۵) العبرفی خبرمن غبر: ۲/۲۵۷-۲۵۶.

(۶) تاریخ الإسلام: ۱۱/۳۲۱.

(۷) المائدة: ۶، یعنی که چرې تاسو په جنابت کښې شئ نو په ښه شان سره پاکي حاصلوئ. داآیت سره دَدې چه مدنی دې لیکن دادَ هغه آیاتونه دی دَ کوم حکم چه په مکه کښې راغلې وو اونزول ئې په مدینه کښې شوې. (السعایة: ۱/۲۷۴).

رسول الله ﷺ په مجلس كښې ناست وو چه ناڅاپې دَ رسول الله ﷺ په خدمت كښې يو سړې راغلو چه دَ بهترين كپړو والا، ښكلې خوشبوئى والا اوښكلې مخ والا وو. هغه دَ الله تعالى دَ نبى په خدمت كښې سلام عرض كړو نو حضورپاك دَ سلام جواب وركړو. بيا هغه عرض اوكړو اې دَ الله تعالى رسول آيا زه لږشان نيزدې شم؟ نوحضورپاك ارشاد اوفرمائيلو رانيزدې شه، نوهغه لږ شان نيزدې شو.
حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وائى چه مونږ په (خپل زړه كښې) اووئيل چه مونږ دَ نن ورځې په شان يوسړې نه دې ليدلې چه دَ ښكلې كپړو والا، پاكيزه خوشبوئى والا، ښكلې مخ والا اودَ رسول الله ﷺ ډيرزيات عزت كونكې. بيادې سړى عرض اوكړو اې دَالله تعالى رسول! آيازه تاسو ته درنيزدې شم؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل او، نوهغه لږ نور ورنيزدې شو. مونږ په خپل زړه كښې دَ مخكښې خبرې په شان سوچ اوكړو. بيادې سړې په دريم ځل اووئيل اې دَالله رسول! آيازه تاسوته درنيزدې شم؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل او، نودحضورپاك سره دومره نيزدې شو چه هغه خپل دواړه زنګونونه دَ رسول الله ﷺ زنګونونوسره يوځائى كړل. بيا هغه سوال اوكړو اې دَالله رسول! آسلام څه څيزدې؟ نبى كريم ﷺ اوفرمائيل (اسلام دادې چه) ته مونځ قائم كړې، زكوة اداكړې، دَرمضان روژې اوساتې، دَ بيت الله حج اوكړې اودَ جنابت غسل اوكړې. هغه اووئيل تاسو رښتيا اوفرمائيل. مونږ وئيل چه مونږ دَ نن په شان سړې كله هم نه دې ليدلې، په الله تعالى قسم الكه چه هغه رسول الله ﷺ ته دَ (دغه امور) تعليم وركولو.

دَغسل دَمشروعيت حكمت: دحيض نفاس اوجنابت نه پس دسړى اوښځې په بدن كښې فتور او سستى پيدا كيږى، په طبيعت كښې دَ يوقسم كمزورى اوكمې محسوس كيږى. په غسل سره په سړى كښې تازه والې راځى. دَ حيض نفاس او جنابت سره راتلونكې كمزورى لرې كيږى او طبيعت بحال كيږى. بيا دَ جنابت په حالت كښې په عام توګه انسان دَالله تعالى دَ ذكرنه غافل كيږى اوحائضه او نفساء مونځ هم صحيح نه دې. الله تعالى دَ جنابت وغيره نه پس غسل واجب ګرځولې دې دې دَپاره چه دَ انسان قوت بحال شى اوهغه تازګى محسوس كړى اودَ الله تعالى دَ ذكرنه غافل نه شى او شرعاً دَمونځ اداكول صحيح شى. (١)

دَحكيم الامت رحمه الله توجيه: حكيم الامت حضرت مولانا اشرف على تهانوى رحمه الله دَ غسل دَمشروعيت وجه بيانولو سره فرمائى: "جنابت او حيض دواړه داسې حالتونه دى كوم ته چه دَ قرب الهى سره منافات او په كوم كښې چه نجاست سره اختلاط دې. اومونځ او قرآن كريم لوستل الله تعالى سره دَ هم كلام كيدو مرتبه ده اودَ الله تعالى سره دَ هم كلام كيدو شرف سره انسان هله مشرف كيدې شى چه دَ هر قسم نجاستونو نه پاك اومطهروى څكه چه الله تعالى پاك دې اوهغه دَ ناپاكئى نه نفرت دې".
حكيم الامت حضرت مولانااشرف على تهانوى رحمه الله نورليكلى دى چه په جماع كښې تلذذ وى او په دې سره په ذكر الهى كښې غفلت ضرور كيږى په دې وجه دَ دې دَتلافى كولودَپاره غسل كولې شى. دَ منى په وتلوسره دَ بدن ټول مسامات كولاويږى كله دې نه خوله اوځى اودې خولې سره دَ بدن دَ دننه حصې نه ګنده مواد هم خارج كيږى كوم چه مساماتوته په رسيدوسره حصاريږى. كه چرې دا اونه وينځلې شى نودَخطرناكو بيمارو راپيداكيدو انديښنه كيږى. (٢)

دَ بقراط قول: حضرت مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله اوفرمائيل چه فصول بقراط كښې دى: دَ جماع نه پس فورى توګه باندې غسل كولوسره دَ بيمارئى خطره ده په دې وجه ډيره تادى نه دى كول پكار. دغه

(١) تعليقات بداية المجتهد: ٥٢٧/١.
(٢) احكام اسلام عقل كى نظر ميں: ص٣٧.

شان غسل جنابت بالكل نه كولوسره برګې مرض او ګنده بغل بيماري پيداكيږي اوحيض په حالت كښې جماع كولوسره دَ جذام بيماري پيدا كيږي.[1] كه چرې څوك دا اووائى چه منى په نجس كيدوكښې په يقينى توګه دَ متيازو وغيره نه كمه ده نوبيا صرف خروج منى سره دَ پوره بدن وينځل ولې واجب ګرځولې شوى دى نه چه په بول وبراز سره؟

جواب: علامه شعرانى رحمه الله "الميزان الكبرىٰ" كښې دَ خپل رور شيخ افضل الدين نه دَدې جواب نقل كړې دى چه دَ خروج منى يا جماع دَ وجې نه پوره بدن وينځل واجب ګرځول صرف دَ نجاست دَ وجې نه نه دى بلكه په دې كښې دموجود هغه خوند دَ وجې نه دى چه په پوره بدن كښې ورننوځى اودا يخوى اودې دَ خپل رب دَ يادنه غافل كوى. هم په دې وجه شارع مونږ ته داحكم راكړې دې چه تركوم ځائى پورې دَ دې خوند رسيږى هلته دَ بدن پوره سطح باندې اوبه اوبهيونى «دې دَ پاره چه ددې اثرات ختم كړې شى» ([2])

دَ ابن قيم الجوزيه رحمه الله رائې: علامه ابن قيم الجوزيه رحمه الله ليكلى دى چه په خروج منى سره دَ غسل واجب اولازم كيدل او په متيازو وغيره سره نه واجب كيدل دَ شريعت اسلامى دَ لويوخوبيانو رحمت حكمت او مصلحت نه دې. ځكه چه منى دَ ټول بدن نه اوځى په دې وجه الله سبحان وتعالى دَدې نوم "سلاله" كيخودلې دې. ([3]) ځكه چه منى دَ ټول بدن نه راوتوسره آخردَ شاپه لار ښكته راځى «اودَ اندام مخصوصه په ذريعه سره خارج كيږى» اومتيازې وغيره صرف دَ خوراك څښاك فضلې وى كوم چه په معده اومثانه كښې جمع كيږى. په دې وجه دَ خروج بول وبراز په نسبت دَ منى وتلوسره بدن ډيركمزورې كيږى. ([4])

جنابت دَغفلت سبب او غسل دَ تازګئى سبب دې: په خروج منى سره غسل كول نه صرف دَ بدن زړه او روح دَپاره مفيد دې بلكه دَ هغه ټولو ارواح دَ پاره مفيد دې دكوم چه بدن سره تعلق دې. ځكه چه دا په غسل سره قوى كيږى. غسل دَ خروج منى سره راتلونكې كمزورى لرې كوى. په جنابت سره په بدن كښې درونډوالې، سستى اوغفلت پيدا كيږى اوپه غسل سره تازګى او په بدن كښې سپكوالې پيدا كيږى. ([5])

دَ جنابت بوج: دَ جنابت نه پس تركومې پورې چه غسل كولوسره طهارت حاصل نه كړې شى دَدې په نجاست سره انسان په خپل ځان دَ غرېه شان بوج محسوس كوى. چنانچه حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه فرمائى «واغتسلت فكأنى ألقيت عنى جبلاً» ([6]) يعنى ماغسل «دجنابت» اوكړو «اودَغسل نه پس داسې محسوس شوه چه» لكه چه مادَ خپل ځان نه يوغرښكته كړې وى.

---

[1] فيض البارى: ٤٥٣/١، انوار البارى: ٩/٩.

[2] السعاية: ١٨/١.

[3] وهوفى قوله تعالى ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ ﴾ المؤمنون: ١٢.

[4] إعلام الموقعين عن رب العالمين، فصل: كل ما فى الشريعة يوافق العقل، الغسل من المنى دون البول: ١٠١/٢.

[5] أعلام الموقعين عن رب العالمين: ٧٨/٢-٧٧.

[6] الحديث أخرجه الإمام أبوداؤد فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب الجنب يتيمم، رقم الحديث: ٣٣٢، انظر جامع الأصول رقم: ٥٢٩٢.

دَ جنابت دَغسل نه بې پرواهی کولونحوست: کوم سړې چه په غسل جنابت کښې بې پرواهی کوي اوهغه دَ جنبی پاتې کيدو عادت ګرځولې وی ترديې چه دَمونځ وخت هم تيرشی نودداسې سړی دَ جنابت نحوست ذکر په حديث شريف کښې راغلی دی. چنانچه امام ابوداؤد ﷫ اوامام نسائی ﷫ دَحضرت علی ﷜ نه دَ حضوراقدس ﷺ ارشاد مبارك نقل کړې دې چه نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی «لاتدخل الملائكة بيتًا فيه صورة، ولاجنب ولاكلب» يعنی دَرحمت ملائکې په داسې کورکښې نه داخليږی په کوم کښې چه تصوير جنبی او سپې وی.

دَ جنابت غسل ناخوښولوانجام: اسلامی احکام ناخوښه ګرځول اودَهغې په مقابله کښې دَ کافرانو دَ مذهب څه خبره خوښول ډيره خطرناکه خبره ده. کيدې شی چه څوك مغرب وهلې او دَجديدتعليم ليونې تش په نوم عالم يامستشرقين شاګردان دامعمولی عمل ګڼړی ليکن يادلرنې چه داد يومؤمن دَايمان دَپاره دَ زهرهلاهل نه کم نه دې. اکثرداسې خبرې دَ ايمان نه محرومی اودَلمن دَخالی کيدو سبب جوړيږی. يوه مشهوره واقعه ده چه يوعالم په انګلينډ کښې اوسيدلو. هلته يوه انګريزه ښځه مسلمانه شوه. دَدغه عالم په لاس ئې کلمه اولوستله اودَهغه نه دَ دين دَ ډيروخبرو دَ تعليم حاصلولو سره ئې په عمل کښې پوخوالې پيداکړو. څه موده پس دغه ښځه وفات شوه اودَهغې ئې هم هلته جنازه کولوسره خښه کړه. دا مولوی صاحب دَ انګلينډنه دَ حج يا عمرې په نيت سره مکې مکرمې ته راغلو. هلته دَ يوبل عالم انتقال شوې وو.

په مکه کښې رواج دادې چه هم په يوقبرکښې څه موده پس بل مړې کيخودې شی. دغه شان هم په يوقبرکښې دَ مناسب وقفې سره ډير مړی يوبل پسې خښولې شی. دَ ړومبی مړی هډوکی وغيره يوطرف ته کولوسره هم په دَغه قبرکښې بل مړې کيخودې شی. هم په دغه رواج سره دَدغه مړشوی عالم دَپاره هم يوقبر کولاؤکړې شو نو په هغې کښې دَ انګلينډ دَهغه مړې شوې ښځې نعش دَ اول نه پروت وو. دَ انګلينډ والا مولوی صاحب هم هلته موجود وو هغه دا ښځه اوپيژندله. هغه مړشوې عالم په يوبل قبرکښې خښ کړې شو.

مولوی صاحب چه کله انګلينډته لاړو نودَهغه خيال راغلوچه په انګلينډکښې خښه کړې شوې دغه نوې مسلمانې ښځې نعش خو مکې مکرمې ته رسولې شوې دې چه دلته دَهغې په قبرکښې څوك دې؟ دې سوچ کولوسره ئې چه کله دَهغې په قبرکښې اوکتل نوهلته دَمکې دَهغه عالم مړې پروت وو. هغه ډيرحيران شو چه داڅه قصه ده. بيا هغه سوچ اوکړو چه مکه کښې دَدې عالم باره کښې معلومات کول پکاردی چه هغه څنګه سړې وو؟ دَخلقونه ئې تپوس اوکړو نو هريوهم دغه اووئيل ډير ښه عالم وو ډير نيك وو. په دې باندې هغه سوچ اوکړو چه دَهغه دَ ښځې نه معلومول پکاردی څکه چه دَ ښځې تعلق ډير نيزدې وی. دَهغې نه تپوس اوکړې شو نوهغې هم دغه جواب ورکړو چه ډير ښه وو ليکن يوه خبره به ئې کوله که په جنابت کښې غسل فرض نه وې نوډيره آسانی به وې. په عيسائی مذهب کښې دا ډيره ښه خبره ده چه غسل جنابت فرض نه دې.

دَ غورکولونه پس معلوميږی چه يوه ښځه کومه چه دَ کفرپه وطن کښې مړه شوې وه دَهغې څه عمل الله تعالی ته دومره خوښ شوې وو چه دَهغې مړې دَهغه ځائی نه مکې مکرمې ته اورسولو اويوعالم چه په ظاهره ډير نيك وو ليکن هغه په اسلام کښې نقص راؤويستلو يواسلامی حکم يعنی دَ جنابت نه پس غسل ئې ناخوښ کړو اودَ دې په مقابله کښې دَ عيسائيت طريقه ښه اوګڼړله. دَ کومې نقصان چه

دا شو چه په مکه کښې مرکيدونه پس هلته دَخښيدونه باوجود الله تعالى دَهغه مرې دکافرانو وطن ته اورسولو ،أعاذنا الله منه.[1]

دا واقعه دَ هغه مسلمانانودَپاره دَعبرت سبب دې چه په هره خبره کښې دَمغرب اودکافرانودَ پاره دَخوښوالى اظهارکوى. خاص کر دَاهل علم په نوم باندې يادېدونکى خلق چه دَخپلو مشرانودَ نسبتونو امانتدار جوړيدو په ځائى سرکارى عهدو اين جى اوز ورکړې شوې دولت دَ وجې نه مستشرقين اودَ هغوى دَ منونکو په غير کښې تلى ناست دى يا خپل نسبت بزرګانوطرف ته خوګوى ليکن هغوى په حقيقت کښې دَدې دنياوى مفاداتو حصول غواړى. تحرير او تقرير افکاراونظريات کښې هغوى دَمسلمانانوترجمانى کولوپه ځائى هروخت دَ غيرمسلمو تعريفونه کوى. لکه چه دا خلق په اسلام باندې کفرته ترجيح ورکوى. داسې خلقوله هم دَ خپل بد انجام نه ويريدل پکاردى. الله تعالى دې دَ ټولو مسلمانانو ايمان عقائد اونظرياتوحفاظت اوکړى.

په دين اکبرى کښې دَغسل جنابت منسوخيت: حضرت مولانا منظوراحمد نعمانى صاحب ﷫ تذکره مجدد الف ثانى کښې ليکلى دى چه دَ(اکبربادشاه) دَ نوى دين يوه مسئله وه چه غسل جنابت واجب نه دې چه دَمنى نه نيکان خلق پيداکيږى بلکه بهتردادې چه دَ کوروالى کولونه وړاندې غسل اوکړې شى [2] دا خبره بديهى البطلان ده.

دَ بدن اوقلب ضرورت: بهرحال دا يوه داسې معامله ده کوم چه هرسليم الطبع او صحيح الفطرت سړې پيژنى چه غسل جنابت دَ انسانى بدن او قلب دَ ضرورياتونه دى ځکه چه جنابت سره دَ انسان ارواح طيبه يعنى دَ فرښتونه لرېوالې پيدا کيږى اوکله چه غسل کوى نودا لرېوالې ختميږى. بل دَ جنابت دَ وجې نه انسانى روح دَخپل رب په دربارکښې دَ سجدې کولونه منع کولې کيږى. حضرت ابو الدرداء ﷛ فرمائى «إذا نام الإنسان عرج روحه حتى يؤتى بها إلى العرش، فإن كان طاهرا أذن لها بالسجود، وإن كان جنبا لم يؤذن لها بالسجود»[3] يعنى کله چه انسان اوده کيږى نودَهغه روح دَ عرش طرف ته اوړلې شى، که چرې انسان پاك وى نودَهغه روح (دَخپل رب په دربار کښې) دَ سجدې کولو اجازت ورکولې شى اوکه هغه جنبى وى نودَهغه روح ته دَ سجدې کولو اجازت نه ملاويږى.

دَ اوده کيدونه وړاندې دَ اودس حکمت: کيدې شى هم دغه وجه ده چه دَ حضورپاك دَ تعليماتو نه معلوميږى چه جنبى کله اوده کيږى نوهغه له پکاردى چه اودس اوکړى. کله چه حضرت عمر ﷛ دَ رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو «هل ينام أحدنا وهو جنب؟» يعنى په مونږ کښې څوك اوده کيدې شى په داسې حال کښې چه هغه جنبى وى؟حضورپاك اوفرمائيل «نعم ليتوضأ ثم لينم حتى يغتسل إذا شاء».[4]

او هغه له پکاردى چه هغه دې اودس اوکړى بيادې اوده شى ترهغې پورې کله چه هغه اوغواړى چه غسل اوکړى (دَ سحرنه وړاندې).

---

[1] جواهر الرشيد:٩/١٥-١٤.

[2] ص:٧٢، بحواله فتاوى حقانيه:٥٦٨/١.

[3] الأثر أخرجه عبدالله بن المبارك المروزى فى كتاب الزهد، الجزء العاشر، ص:٢٥٤، رقم:١٢٤٥.

[4] الحديث أخرجه الإمام مسلم فى صحيحه وانفردبه، كتاب الحيض، باب جواز نوم الجنب واستحباب الوضوء له وغسل الفرج إذا يأكل أو يشرب أو ينام أو يجامع، رقم الحديث:٧٠٣، انظر: تحفة الأشراف، رقم:٧٧٨١.

دَ حاذق اطباء رائې: حاذق طبيبانودَدې خبرې صراحت کړې دې چه دَ جماع نه پس غسل کول دَ بدن تحليل شوې قوتونه واپس کوی اوکمزورنې ختموی اودَ بدن اوروح دَپاره ډيرزيات مفيد دی. اودَ جنابت په حالت کښې پاتې کيدل دَ بدن او روح دَپاره سخت مضردی. دَدې امر په ښه والی باندې عقل او فطرت سليمه گواهی کافی ده.(١)

دَ غسل جنابت دَ فضيلت باره کښې يوبې سندروايت: دَ جنابت دَ غسل دَ فضيلت باره کښې بعض بې سند اوموضوع روايات بيانولې شی. په عام توگه خطيبان حضرات په خپلو بيانونوکښې داسې بې سند روايتونه بيانوی. تردې چه بعض حضراتو وراندې راتلونکی بې سند روايت تحقيق کولونه بغير دَ تشريح په نوم باندې يومفصل کتاب هم تصنيف کړې دې. (٢)

علامه جلال الدين سيوطی رحمه الله فرمائی چه ماته شيخ شمس الدين ابن القماح رحمه الله په يوه مجموعه کښې دا روايت ملاؤشوې دې. په کوم کښې چه دَ ابوالعباس مستغفری نه روايت وو چه مايوخل دَ علم په تلاش کښې ابوحامد مصری له دَمصرتلودَپاره اراده اوکړه. هلته په رسيدوسره مادَهغه نه حديث دَ خالد بن وليد رضی الله عنه اورولو درخواست اوکړو. هغه ماته دَ يوکال روژې ساتلو حکم راکړو. بيا ماهغه ته دَدې باره کښې بيا درخواست اوکړو نوهغه دَخپل مشائخ په سندسره دَحضرت خالدبن وليد رضی الله عنه پورې سندسره ماته داحديث بيان کړو چه حضرت خالدبن وليد رضی الله عنه فرمائی يوسړې دَ حضورپاك په خدمت کښې حاضر شو وئی وئيل زه دَ دنيا او آخرت دَ نيکوباره کښې تپوس کول غواړم. حضورپاك ارشاد اوفرمائيلوچه څه غواړې تپوس اوکړه. په دې باندې دغه سړی دَمختلف څيزونومتعلق تپوسونه کول شروع کړه. په دغه سوالونوکښې ئی دَيوسوال دا پوښتنه اوکړه «أحب أن ألقى الله نقياً من الذنوب»چه زه داغواړم دَ گناهونونه پاك صفاشم او الله تعالی سره ملاقی شم. حضور پاك په جواب کښې ارشاد اوفرمائيلو «اغتسل من الجنابة متطهراً، تلقى الله يوم القيامة وما عليك ذنبٌ» يعنی دَ جنابت غسل په ښه اهتمام او صفائی سره کوه نودَ قيامت په ورځ به الله تعالی سره په داسې حال کښې ملاقات اوکړې چه په تاباندې به هيڅ گناه نه وی. (٣)والله اعلم بالصواب.

---

(١) إعلام الموقعين عن رب العالمين:٢/٧٨.

(٢) دَ مذکوره کتاب نوم "زندگی کے پچیس مسائل اور ان کا کامیاب حل" دې کوم چه ادارة الرشيد کراچی نه چهاپ شوې دې.

(٣) وتمامه: قال العلامة السيوطی:

وجدت بخط الشيخ شمس الدين بن القماح فی مجموع له عن أبی العباس المستغفری قال: قصدت مصر أريد طلب العلم من الإمام أبی حامد المصری والتمست منه حديث خالد بن الوليد فأمرنی بصوم سنة. ثم هاودته فی ذالک، فأخبرنی بإسناده عن مشايخه إلی خالد بن الوليد قال: جاء رجل إلی النبی صلی الله عليه وسلم فقال: إنی سائلک عما فی الدنيا والآخرة! فقال له: "سل عما بدالک" قال: يانبی الله! أحب أن أكون أعلم الناس. قال: اتق الله تكن أعلم الناس. فقال: أحب أن أكون أغنی الناس. قال: كُن قنعاً تكن أغنی الناس. قال: أحب أن أكون خيرالناس. فقال: خيرالناس من ينفع الناس. قال أحب أن اكون اخص الناس إلی الله قال اكثرمن ذكرک الله تكن خص العباد إلی الله. فقال: أحب أن أكون أعدل الناس. قال: أحبَّ للناس ماتحب لنفسک تكن أعدل الناس. فكن نافعاً لهم. قال:أحب أن أكونَ من المحسنين. قال: اعبدالله كأنک تَراه فأن لم تكن تراه فإنه يراک. قال: أحب أن يكمل إيمانی. قال: حَسِّن خُلُقکَ يكمل إيمانک. فقال: أحب أن أكون من المطيعين. قال: أدِّ فرائض الله تكن مطيعًا. فقال: أحب أن ألقی الله نقياً من الذنوب. قال: اغتسل من الجنابة متطهرتلقی الله يوم القيامة أوماعليک ذنب. قال: أحب أن يرحمنی ربی،

قال: ارحم نفسک وارحم خلق الله يرحمک الله. قال: أحب أن تقل ذنوبي قال: استغفر الله تقل ذنوبک. قال: أحب أن أكون أكرم الناس. قال: لاتشكون الله إلى الخلق تكن أكرم الناس. فقال: أحب أن يوسع عليّ في رزقي. قال: دُمْ على الطهارة يوسع عليک في الرزق. قال: أحب أن أكون من أحباء الله ورسوله. قال: أحب ما أحب الله ورسوله وأبغض ما أبغض الله ورسوله. قال: أحب أن أكون آمنا من سخط الله. قال. لاتغضب على أحد تأمن غضب الله وسخطه. قال: أحب (أن) تستجاب دعوتي. قال: اجتنب الحرام تستجب دعوتک. قال: أحب أن لا يفضحني الله على رؤوس الأشهاد. قال: احفظ فرجک كي لا تفتضح على رؤوس الأشهاد. قال: أحب أن يسترالله على عيوبي. قال: استرعيوب إخوانک يستر الله عليک عيوبک. قال: مالذي يمحوا عني الخطايا؟ قال: الدموع والخصوع والأمراض. قال: أي سيئة أعظم عندالله؟قال: سوء الخلق والشح المطاع. قال: مالذي يُسكن غضب الرحمن؟ قال: إخفاء الصدقة وصلة الرحم قال: مالذي يطفئ نارجهنم: قال: الصوم. ١هـ (جمع الجوامع، الحجامع الكبيرفي الحديث والجامع الصغير وزوائد، المسانيد والمراسيل، مسند خالدبن الوليد رضي الله عنه، حرف الخاء:١٤/٣٥٣-٣٥٢، رقم الحديث:١٠٩٥٤، ونقل عنه العلامة على المتقي الهندي رحمه الله في كنزالاعنال في سنن الأقوال والأفعال، كتاب الموعظ والرقائق والخطب والحكم من قسم الأفعال، فصل في جامع المواعظوالخطب، خطب النبي صلى الله عليه وسلم ومواعظه:-٥٣ ١٦/٥٤رقم الحديث:٤٤١٤٧). يعني حضرت خالدبن وليد رضي الله عنه فرمائي يوسړي د حضورپاك په خدمت كښې حاضرشو وئې وئيل زه دَدنياااوآخرت باره كښې تاسونه پوښتنه كول غواړم. حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه څه غواړې تپوس اوكړه. په دې باندې هغه سړي أووئيل اې دَا لله تعالى نبي زه دَټولونه لوئې عالم جوړيدل غواړم. حضورپاك اوفرمائيل دَالله تعالى نه ويره اختياركړه دَټولو نه به لوئې عالم جوړشې. هغه سړي اووئيل په خلقوكښې دَ ټولونه لوئې غنى كيدل غواړم. حضورپاك ارشاد اوفرمائيل قناعت اختياركړه په خلقوكښې به دَ ټولو نه لوئې غني جوړشې. هغه سړي اووئيل چه زه په خلقوكښې دَټولونه بهترجوړيدل غواړم. حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو په خلقو كښې دَ ټولونه بهترهغه سړي دې چه خلقوته نفع رسونكې وى نوته هم خلقوته دَ نفع رسونكې جوړشه. هغه وئيل زه په ټولوخلقوكښې دِ ټولونه لرئې عادل جوړيدل غواړم. حضورپاك اوفرمائيل چه څه دَ ځان دپاره خوښوې هم هغه دَ خلقود پاره هم خوښوه نو په خلقوكښې به دَټولونه لوئې عادل جوړشې. هغه وئيل زه دَالله تعالى په درباركښې دَټولونه خاص بنده جوړيدل غواړم. حضورپاك اوفرمائيل دَ الله تعالى ذكربه كثرت سره كوه نودَالله تعالى په بنديګانوكښې به دَ ټولونه خصوصي جوړشې. هغه وئيل زه دَهغه خلقونه كيدل غواړم چه دَاحسان والا (دَ احسان صفت سره متصف دې). حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو دَالله تعالى عبادت دَاسې كوه لكه چه ته هغه ګوري بيا كه هغه ته نه هم ګوري نوهغه خوتاته ګوري. هغه وئيل زه غواړم چه زما ايمان كامل شي. حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو خپل اخلاق ښه جوړكړه ستا ايمان به كامل شي. هغه وئيل زه دَالله تعالى په فرمانبردار بنديګانوكښې كيدل خوښوم. حضورپاك اوفرمائيل دَالله تعالى فرائض په ځائې راوړه دَ الله تعالى مطيع به جوړشې. هغه وئيل زه غواړم چه دَ ګناهونونه پاك صفا الله تعالى سره ملاؤشم. نبي پاك اوفرمائيل ته دَ جنابت غسل ښه په صفائي سره كوه په داسې كولوسره به ته دَ قيامت په ورځ الله تعالى سره په داسې حال كښې ملاقات اوكړې چه په تاباندې به هيڅ ګناه نه وى. هغه وئيل چه زه غواړم دَ قيامت په ورځ ما په نور كښې راوچت كړې. حضورپاك اوفرمائيل په چاباندې ظلم مه كوه دَ قيامت په ورځ به ته په نور كښې اوچت كړې شې. هغه وئيل زه غواړم چه زما رب په ماباندې رحم اوكړې. حضورپاك اوفرمائيل په خپل ځان باندې رحم اوكړه اودَ الله په مخلوق باندې رحم اوكړه الله تعالى به په تاباندې رحم اوكړې. هغه وئيل زه غواړم چه زما ګناهونه كم شي. حضورپاك اوفرمائيل دَالله تعالى نه بخښنه غواړه ستا ګناه به كمه شي. هغه وئيل زه غواړم چه په خلقوكښې دَ ټولونه معزز جوړشم. حضورپاك اوفرمائيل دَ خلقو په وړاندې دَالله تعالى شكايت هيڅ كله مه كوه نومعززترين سړي به جوړشې. هغه وئيل زه دَالله تعالى اودَ هغه دَ رسول محبوب ترين جوړيدل غواړم. حضورپاك اوفرمائيل څوك چه الله تعالى اودَهغه رسول ته

یوبل موضوع روایت: بعض خلق دَ جنابت دَ غسل په فضیلت کښې دَحضرت انس ﷺ طرف ته منسوب کولوسره مرفوعًا روایت نقل کوی چه حضورپاك ﷺ فرمائیلی دی: «من اغتسل من الجنابة حلالاً أعطاه الله عزوجل مائة قصر من درة بيضاء، وكتب له بكل قطرة ثواب ألف شهيد»[1] یعنی کوم سړی چه په حلال طریقه سره کوروالی کولونه پس دَ جنابت غسل اوکړو الله عزوجل به دَ سپینو مرغلرو جوړشوی سل محلونه ورکوی او (دَغسل دَ اوبو) دَ هرڅاڅکی په بدله کښې به (دَ هغه په عمل نامه کښې) دَ زرو شهیدانو ثواب لیکلې کیږی. واضح دی وی چه علامه ابن الجوزی رحمه الله (المتوفی ۵۹۷هجری) په کتاب الموضوعات کښې[2]، علامه جلال الدین سیوطی رحمه الله (المتوفی ۹۱۱هجری) اللآلی المصنوعة

محبوب وی ته هم هغوی خوښوه اودَهغه رسول چه کوم څیزسره بغض ساتی ته هم هغې سره بغض ساته. هغه وئیل زه دَالله تعالی دَ ناراضګتیا نه مامون جوړیدل غواړم. حضورپاك اوفرمائیل په چاباندې غصه مه کوه نودَالله تعالی دَ غصې او خفګان نه به محفوظ شې. هغه وئیل زه مستجاب الدعوات جوړیدل غواړم. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل دَ حرامونه پرهیزکوه مستجاب الدعوات به جوړشې. هغه وئیل زه غواړم چه الله تعالی دَ ګواهانو په وړاندې ما رسوا نه کړی. حضورپاك اوفرمائیل دَ خپل شرمګاه حفاظت کوه دې دپاره چه ته دَ ګواهانو په وړاندې رسوا نه شې. هغه وئیل زه غواړم چه الله تعالی زما په عیبونوباندې پرده واچوی. حضورپاك اوفرمائیل دَ خپلو رونړو په عیبونوباندې پرده اچوه الله تعالی به ستا په عیبونوباندې پرده واچوی. هغه وئیل کوم یوڅیززما ګناهونه ختمونکې دې؟ حضورپاك اوفرمائیل اوښکې عاجزی او بیمارئی. هغه وئیل دَ الله تعالی په نیزکومه یوه نیکی دَ ټولونه افضل ده؟ حضورپاك اوفرمائیل ښه اخلاق تواضع، په مصیبت باندې صبرکول او دَالله تعالی په فیصله باندې راضی کیدل. هغه وئیل دَ الله تعالی په نیزکومه یوه ګناه دَ ټولونه لویه ده؟ حضورپاك اوفرمائیل بداخلاقی اوهغه بخل دَ کوم اطاعت چه شوې وی. هغه وئیل دَ رحمن غصه یخونکې څیزکوم یودې؟ نبی پاك اوفرمائیل په پټه صدقه کول او صلهٔ رحمی کول. هغه وئیل دَ دوزخ اور مړکونکې کوم یوڅیزدې؟ حضورپاك اوفرمائیل روژه.

مذکوره روایت بې سنددې: دَعلامه سیوطی رحمه الله دا روایت بې سنددې په پوره سندکښې صرف دَ دریو راویانو نومونه ذکر دی. دَ باقی څه معلومات نشته دې. په دغه دریوکښې هم دَ ابوالحامد مصری په کتب رجال وغیره کښې څه تذکره نه ملاویږی. باقی قاضی شمس الدین ابن القماح رحمه الله ددوی دَ حالاتودپاره اوګورئی: طبقات الشافعية الكبرى، طبقة السادسة:۲۱۳/۵-۲۱۲الدُرر الكامنة فى أعيان المائة الثامنة، حرف الميم:۱۸۵/۲. اوابوالعباس جعفری مستغفری رحمه الله ددوی دَ حالاتودپاره اوګورئی:الأنساب للسمعاني، باب الميم والسين:۲۸۶/۵. حالات علماء رجال بیان کړی دی. اودَ ابوالعباس مستغفری رحمه الله دَ وفات کال ۴۳۲هجری دې اوحضرت خالدبن ولید ﷺ په ۲۱هجری کښې ددې دنیانه رخصت شوې وو. دَ مینځ پوره سند غیرمذکوردې. لهذا ترکومې چه په یومعتبرسندسره ددې ثبوت نه ملاویږی هغه وخت پورې دا حضورپاك ته منسوب کول او بیانول جائزنه دی. دَعلامه سیوطی رحمه الله په روایت کړې شوې دې روایت باندې اودَدې نه علاوه په ډیر دَ پاك اوهند کښې عام مشهور روایاتو باندې زمونږ فاضل دوست مولانا طارق امیرخان صاحب، متخصص فی الحدیث جامعه فاروقیه کراچي دَ اصول حدیث او ائمه جرح وتعدیل په رڼاکښې "غیر معتبر روایات کا فنی جائزہ" په عنوان سره یوډیر محققانه کارکړې دې.

[1]) كتاب الموضوعات، كتاب الطهارة، باب ثواب الغسل:۱۱/۲، اللا المصنوعة فى الأحاديث الموضوعة، كتاب الطهارة: ۸/۲ تنزيه الشريعة المرفوعة عن الأحاديث الشنيعة الموضوعة، كتاب الطهارة، الفصل الأول:۶۸/۲

[2]) كتاب الطهارة باب ثواب الغسل: ۱۱/۲.

كښي[1] اوعلامه ابن عراق كناني (المتوفى ۹۶۳هجري) تنزيه الشريعة كښي[2] صراحت سره دَدې حديث باره كښې ليكلي دى "وضعه دينار" يعنى داحديث دينار وضع كړې دې. ابن حبان رحمه الله دَ دينار باره كښي فرمائى: «يروي عن أنس أشياء موضوعة لايحل ذكره إلا بالقدح فيه» [3] يعنى دينار دَ حضرت انس رضي الله عنه طرف ته منسوب كولوسره ډېر زيات موضوع اودَ خان نه جوړشوي څيزونه نقل كوى چه دَهغې ذكر كول جائزنه دى. بغيردَدې نه چه څوك دادَ موضوع كيدودَ وضاحت دَپاره بيان كړى.

غرض دَدې قسم بې سند اوموضوع رواياتو په ذريعه دَ جنابت دَغسل دَ فضيلت ثابتولو هيڅ ضرورت نشته دې. په قرآن اوحديث كښې ذكرشوى اونور نصوص صحيحه باندې اكتفااوكړې شى، بې سند اوموضوع رواياتونه دَ مكمل اجتناب ضرورت دې.

دَ غسل حقيقى او اصطلاحي تعريف: علامه ابن حجرعسقلانى رحمه الله فرمائى دَ غسل حقيقت دَ بدن په اندامونوباندې اوبه بهيول دى[4]

دَ احنافو فقهاء كرامودَغسل اصطلاحي تعريف «غَسل البدن» دَ بدن په وينځلوسره كړې دې. [5] علامه لكهنوي رحمه الله دَغسل شرعي تفسير «غسل تمام الجسد» يعنى دَپوره بدن په وينځلو سره كړې دې[6]

دَعلامه زَبيدي رائې: علامه زَبيدى رحمه الله فرمائى «واصطلاحًا غسل البدن بالماء الطهور من جنابة أو حيض أو نفاس» [7] يعنى په اصطلاح كښې جنابت، حيض اونفاس نه پاكى حاصلولودَپاره بدن پاكول په اوبو سره وينځلوته غسل وائى. خو شوافع په بدن باندې اوبه بهيولوسره نيت هم ضرورى ګرځوى. [8] او مالكيه په نيز نيت سره «دلك» يعنى مږل هم ضرورى دى.[9] دَ نيت او دلك في الغسل هم هغه حكم دې كوم چه په اودس كښې دَ نيت اودلك دې. دَدې تفصيل كتاب الوضوء كښې اوګورئ.

اركان غسل: دَ اركان غسل باره كښې دَ احنافو په مينځ كښې اختلاف دې. دَ صاحب وقايه په نيز اركان غسل درې دى ① مضمضه ② استنشاق ③ پوره بدن يوځل وينځل.[10]

علامه علاء الدين سمرقندى رحمه الله فرمائى: «للغسل ركن واحد، فهو تسييل الماء على جميع ما يمكن غسله من بدنه مرة واحدة، حتى لوترك شيئًا يسيرًا لم يصبه الماء، لم يخرج من الجنابة» [11]

---

[1] كتاب الطهارة:۲/۸.

[2] كتاب الطهارة الفصل الأول:۲/۱۱.

[3] كتاب الموضوعات كتاب الطهارة باب ثواب الغسل:۲/۱۱.

[4] فتح الباري:۱/۴۷۴.

[5] اوګورئى ردالمحتار: ۱/۱۱۲بدائع الصنائع:۱/۲۶۷البحر الرائق:۱/۸۶

[6] السعاية:۱/۲۷۴.

[7] إتحاف السادة المتقين بشرح إحياء علوم الدين، كتاب أسرار الطهارة، كيفية الغسل: ۲/۵۹۸

[8] مغني المحتاج:۱/۶۷

[9] حاشية الصاوي على الشرح الصغير:۱/۱۶.

[10] الوقاية مع السعاية:۱/۲۸۰-۲۷۴.

[11] تحفة الفقهاء، كتاب الطهارة، الجنابة والغسل:ص ۱۹-۱۸.

يعني غسل هم پورکن دې چه ترکومې پورې ممکن وی په پوره بدن باندې يوخل اوبه بهيول، تردې چه که معمولي شان خاني هم پاتې شی اوهلته اوبه اونه رسی نوډ جنابت نه وتلې نه شی.
ليکن علامه لکهنوی رحمه الله صاحب تحفة الملوك پنځه څيزونه نقل کړی دی درې سابقه څلورم نوم ته دننه اوبه رسول اوپنځم ډ وينتو بيخونو ته اوبه رسول. (١)
داخبره ډعلامه سمرقندی رحمه الله ډ صنيع نه هم مستفاد ده په دې وجه هغه ډ رکن غسل په تفصيل کښې دا پنځه واړه ذکرکړی دی. (٢)
صاحب تنويرالابصار علامه تمرتاشی رحمه الله په نيزباندې اته څيزونه دی. ① مضمضه ② استنشاق ③ پوره بدن باندې اوبه بهيول ④ نوم ⑤ بريت ⑥ وريځې ⑦ ډ ږيرې ډ بيخونو پورې اوبه رسول ⑧ اوفرج خارج وينځل. (٣)
صاحب مراقی الفلاح علامه شرنبلالی رحمه الله يولس څيزونه ذکرکړی دی: ①خله ②پوزه ③پوره بدن ④قلفه (ډ اندام مخصوصه زياتی څرمن کومه چه ډ سنت په وخت پرې کولې شي) دننه حصه ډ کوم جدا کول چه مشکل نه وی، ډهغې وينځل، ⑤ډنوم دننه اوبه رسول ⑥ هرهغه سورې چه يوځائی شوې نه وی هغې ته اوبه رسول. ⑦ ډ ښځې اوسرې راغونډ کړې شوې وينتو بيخ ته اوبه رسول ⑧ چه ږيره ګڼره وی نوډ ږيرې لاندې ډ مخ ډ څرمن پورې اوبه رسول. ⑨ دغه شان بريت ⑩ اوډ اوريځو څرمن پورې اوبه رسول او ⑪ اوفرج خارج وينځل.
علامه شرنبلالی رحمه الله اوفرمائيل چه ډدې ټول مرجع او حاصل هم يوڅيز دې اوهغه دا چه ترکوم ځائی پورې بغيرډ حرج نه ممکن وی په پوره بدن باندې اوبه بهيول، البته دا ټول ځان ځانله شميرل ډتعليم په غرض سره دی. (٤)
هم دغه خبره علامه لکهنوی رحمه الله هم ليکلی ده. (٥)امام ابوبکرجصاص رحمه الله فرمائی «والمفروض من غسل الجنابة إيصال الماء بالغسل إلى كل موضع يلحقه حكم التطهير من بدنه لعموم قوله: ﴿ فَاطَّهَّرُوا ﴾»(٦) يعنی ډالله تعالی ارشاد ﴿فَاطَّهَّرُوا﴾ ډعموم په رڼا کښې ډ بدن هرهغه حصې پورې په غسل جنابت کښې اوبه رسول فرض دی ډکوم پاکول چه ضروری دی. الحاصل په پوره بدن باندې يوځل اوبه بهيول ترکومې چه ممکن وی بغيرډ څه حرج نه اوبه بيهول ممکن وی رکن غسل دې، حتی چه که چرې ډ بدن لږه شان حصه هم اوچه پاتې شی نوغسل به صحيح نه وی. (٧)
ايا په غسل کښې واجبات شته؟: علامه لکهنوی رحمه الله فرمائی چه چاهم ډدې صراحت نه دې کړې چه په غسل کښې واجبات شته که نه، البته ډ فقهاؤ صرف ډ غسل فرائض اوسنن ذکرکولوباندې اکتفاء

---

(١) السعاية:١/٢٧٤ تحفة الملوك:ص ٣٩.
(٢) تحفة الفقهاء: ص١٩.
(٣) تنوير الأبصارمع الدرالمختار:ص٢٦.
(٤) مراقی الفلاح مع حاشية الطحطاوی. كتاب الطهارة. فصل (لبيان فرائض الغسل): ص١٠٣-١٠٢.
(٥) السعاية: ٢٧٥/١.
(٦) أحكام القرآن. سورة المائدة. باب الغسل من الجنابة:٤٥٨/٢.
(٧) ردالمحتار: ١١٢/١، بدائع الصنائع:٢٦٧/١، البحرالرائق:٨٦/١.

کول دَدې خبرې دليل دې چه په غسل کښې هيڅ واجب نه دی دا يواستقرائي امردې. (١)ليکن دا يادساتئی چه بعض فقهاء فرائض هم په واجبات سره تعبير کوی. «لجواز اطلاق بعضهما على البعض».

دَ طهارت مراتب: امام غزالي رحمه الله دَ طهارت څلورمراتب بيان کړی دی: ① المرتبة الأولى: تطهير الظاهر عن الأحداث وعن الأخباث والفضلات. ② المرتبة الثانية: تطهير الجوارح عن الجرائم والآثام ③ المرتبة الثالثة: تطهير القلب عن الأخلاق المذمومة والرذائل الممقوتة. ④ المرتبة الرابعة: تطهير السر عما سوي الله تعالى، وهي طهارة الأنبياء صلوات عليهم والصديقين. (٢)

يعنی ① ظاهربدن دَ احداث (حدث اصغراواکبر) خيری اوفضلات نه پاکول. ② جوارح دَ جرائم اوګناه نه پاکول يعنی بچ کول. ③ زړه دَاخلاق ذميمه اوقابل نفرت رذائل نه پاکول. ④ سر يعنی باطن قلب دَالله تعالى نه سوا دَ هرڅيزنه پاکول چه دَ الله تعالى نه علاوه په زړه کښې دَ بل چاخيال رانه شی داد انبياء کرامو اوصديقين شان طهارت دې.

دَ طهارت اهميت: علماؤ ليکلی دی چه طهارت په ټولو مراتب دَ طهارت کښې دَنصف عمل مقام لری ځکه چه دَ اعمال باطنه مقصود دَالله تعالى عظمت او جلال منکشف کيدل دی اوداهغه وخته پورې نه شی کيدې ترکومې چه دَ باطن نه ماسوی الله اونه څی. طهارت قلب يعنی اخلاق حميده حصول دَهغه وخته پورې نه شی کيدې ترکومې چه زړه دَ اخلاق ذميمه او قابل نفرت رذائل نه پاك نه کړې شی. دغه شان جوارح ترهغه وخته پورې په طاعات سره ښائسته کيدې نشی ترکومې چه دَ ګناهونونه بچ نه کړې شی. هم دغه حال دَ ظاهرهم دې چه ظاهری طهارت هم هغه وخت نه شی حاصليدې ترکومې چه دَ احداث نه پاکي حاصله نه کړې شی. دا يادساتئی چه دَ طهارت په ټولو مراتب کښې اصل دَباطن طهارت دې خودَدې حصول هم په ظاهری طهارت باندې موقوف دی. (٣)

اسلام دَ طهارت اوپاکوالی دَ ضرورت په وجه نه صرف دَدې حکم ورکړې دې بلکه دَدې اصول او احکام ئې هم مقرر کړی دی. حضورپاك دَخپلو تعليماتو په ذريعه دَدې حدودهم متعين کړی دی. دَ انسان ظاهری بدن، کپړې، مکان او چاپيره ماحول هم دَ صفاساتلو تعليم ورکړې دې. دَدې تعليماتو په رڼا کښې حضرات صحابه کرام رضي الله عنهم به دَ طهارت او پاکوالی ښه اهتمام کولو دَکوم په وجه چه الله تعالى په قرآن کريم کښې دَهغوی تعريف کښې ارشاد اوفرمائيلو ﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ﴾ (٤)

ترجمه: په دوی کښې څه خلق داسې دی چه خوښوی چه هغوی دې پاك صفاوی اوالله پاك اوصفا اوسيدونکی دوستان ساتی.

په طهارت باندې دَ صحابه کرامو تعريف: طلحه بن نافع وائی چه ماته ابوايوب انصاری رضي الله عنه حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه اوحضرت انس بن مالك رضي الله عنه اوخودل کله چه دا (پورتنې) آيت نازل شو نو

---

(١) السعاية: ٢٧٥/١.

(٢) إحياء علوم الدين وكتاب أسرار الطهارة: ص١٦٠.

(٣) إحياء علوم الدين، كتاب أسرار الطهارة:ص: ١٦١-١٦٠،مفتاح السعادة ومصباح السيادة فى موضعات العلوم :٢٦/٣-٢٥التعليق الصبيح: ١٧١/١.

(٤)سورة التوبة:١٠٨.

رسول الله ﷺ انصار مخاطب كولوسره اوفرمائيل: «يامعشرالأنصار! إن الله أثني عليكم في الطهور خيراً، فما طهوركم هذا؟ قالوا: يارسول الله! نتوضأ للصلاة ونغتسل من الجنابة ونستنجي بالماء، قال: هوذاك، فعليكم به» [۱] يعني اې دَ انصارو ډلې الله تعالى دَ طهارت باره كښې ستاسو تعريف بيان كړې دې. نو داستاسو طهارت اوپاكي څه ده؟ انصارو عرض اوكړو اې دَالله تعالى رسول ﷺ دَ مانځه دپاره اودس كوو دَ جنابت نه غسل كوو اوپه اوبوسره استنجاء كوو، نوحضورپاك اوفرمائيل چه هم دغه هغه طهارت اوپاكي ده دكوم چه الله تعالى تعريف كړې دې نوتاسودا لازم اونيسئ.

هم طلحه بن نافع دَ حضرت ابوايوب انصارى رضي الله عنه نه نقل كړى دى چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلې دې «الصلوات الخمس والجمعة وأداء الإمانة (كفارة) لما بينهن، قلت وما أداء الأمانة؟ قال: الغسل من الجنابة» [۲] يعني پنځه مونځونه، جمعه او دَامانت اداكول دَدې په مينځ كښې كيدونكې ګناه دپاره كفاره ده. حضرت ابوايوب انصارى رضي الله عنه فرمائى چه ماعرض اوكړو دَ امانت دَ اداكولونه څه مراددې؟ نوحضورپاك اوفرمائيل دې نه مراد دَ جنابت نه غسل كول دى. دَ حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه په روايت كښې دَ امانت دَ اداكولو تفسيرنه پس دى «فإن الله لم يأمن ابن آدم على شيء من دينه غيرها» [۳]

يعني الله تعالى بنيادم ته دَ غسل جنابت نه زيات دَ دين دَ يوشي ذمه وار او امين نه دې جوړ كړې.

۱ـ باب: الْوُضُوءِ قَبْلَ الْغُسْلِ

دَغسل نه وړاندې دَ اودس بيان

دَترجمة الباب مقصد: دَدې ترجمة الباب غرض بيانولوكښې شراح حديث كښې اختلاف پيداشوې دې اودَدوى نه ډير اقوال اوتوجيهات نقل شوى دى:

اولنې توجيه: دَترجمة الباب يومقصد داكيدې شى چه كيف الوضوء قبل الغسل يعني دَ غسل نه وړاندې دَ اودس څه طريقه ده؟ آيا هم هغه طريقه ده كومه چه دَ مونځ والا داودس ده ياد غسل نه وړاندې دَ اودس څه بل څه طريقه ده؟ نو دَدې ترجمې نه دَامام بخارى رحمه الله غرض دَغسل نه وړاندې دَ اودس طريقه بيانول دى. [۴]

دويمه توجيه: بعض حضراتو وئيلى دى چه دَامام بخارى رحمه الله مقصد دَغسل نه وړاندې داودس صورت بيانول دى چه آيا خپې هم دَ نورو اندامونو دَ اودس سره هم په شروع كښې اووينځلې شى لكه چه دَحضرت عائشه رضي الله عنها په روايت كښې چه راغلى دى يا په شروع كښې اونه وينځلې شى بلكه دَ غسل نه فارغ كيدوسره بيا اووينځلې شى. لكه چه دَحضرت ميمونه رضي الله عنها په روايت كښې چه راغلى دى. امام بخارى رحمه الله دواړه روايتونه نقل كولوسره لكه چه دواړه صورتونه ذكر كړى دى. [۵]

---

[۱] شعب الإيمان، باب العشرون من شعب الإيمان [وهوباب] فى الطهارات، فصل الوضوء: ۳/۱۹-۱۸رقم الحديث: ۲۷۴۷.

[۲] شعب الإيمان، باب العشرون من شعب الإيمان [وهوباب] فى الطهارات، فصل الوضوء: ۳/۱۹-۱۸رقم الحديث: ۲۷۴۸.

[۳] المصدرالسابق: ۳/۲۰-۱۹رقم الحديث: ۲۷۵۰.

[۴] فضل البارى: ۲/۴۲۵.

[۵] اوګورئى: الكنزالمتوارى فى معادن لامع الدرارى: ۳/۱۸۹، وتقريربخارى: ۲/۷۹

دريمه توجيه: ياد امام بخاري رحمه الله مقصد په دې ترجمه سره داخودل دی چه د غسل اودس د غسل شروع کولونه وړاندې کولې شی نه چه د غسل نه فارغ کیدونه پس، ځکه چه یوځل غسل کولوسره طهارت حاصل شو نو اوس داودس حاجت پاتې نه شو.(١)
څلورمه توجیه: دترجمة الباب یومقصد داهم کیدې شی چه امام بخاري رحمه الله داخودل غواړی چه حضورپاك د غسل نه وړاندې کله اودس کړې دې اوکله ئې نه دې کړې.
دعلامه قسطلاني اوحافظ ابن حجر توجیه: علامه قسطلاني اوحافظ ابن حجر رحمه الله د توجیه مطابق د امام بخاري رحمه الله غرض ددې باب نه وړاندې د اودس سنت یا مستحب کیدل بیان کول دی.(٢)
دعلامه عیني رحمه الله توجیه: علامه عیني رحمه الله فرمائی چه په دې باب سره دوضوء قبل الغسل حکم بیانول مقصوددی چه آیا دا واجب دی؟ که سنت دی؟ اوکه مستحب دی؟(٣)
دحضرت شیخ الحدیث رحمه الله توجیه: شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه زما په نیز زیات اوجه دادی چه په دې باب سره دامام بخاري رحمه الله غرض دغسل نه وړاندې محض استحباب وضوء بیانول دی.(٤)

الحديث الاول

٢٤٨- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم "أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ: كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ، بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ، ثُمَّ يَتَوَضَّأُ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ يُدْخِلُ أَصَابِعَهُ فِي الْمَاءِ، فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُولَ شَعَرِهِ، ثُمَّ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ غُرَفٍ بِيَدَيْهِ، ثُمَّ يُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى جِلْدِهِ كُلِّهِ" [حديث باب ٢٥٩، ٢٦٩](٥)

ترجمه: مونږ ته عبدالله بن یوسف بیان اوکړو اوونیل چه امام مالك رحمه الله مونږ ته خبرراکړو د هشام نه هغه دخپل پلارعروه نه هغه دحضرت عائشة رضي الله عنها نه چه حرم محترم وه د رسول الله ﷺ، چه رسول الله ﷺ به کله د جنابت غسل کول غوښتل نو (په لوښي کښې د لاس وهلونه وړاندې) په شروع کښې خپل دواړه لاسونه وینځل بیابه ئې د مونځ د اودس په شان اودس کولو، بیابه ئې خپلې ګوتې په اوبوکښې وهلې اودې سره به ئې د ویښتودجړرو خلال کولو. بیابه ئې په خپلو دواړو لاسونوباندې درې لپې اوبه واخستې او په خپل سربه ئې اچولې بیابه ئې په خپل ټول بدن مبارك باندې اوبه بهیولې.

---

(١) فضل الباري:٤٢٥/٢.
(٢) اوګورئی:إرشادالساري: ٤٨٧/١فتح الباري:٤٧٥/١.
(٣) عمدة القاري:٢٨٣/٣.
(٤) الأبواب والتراجم لصحيح البخاري:ص ٦٠
(٥) الحديث أخرجه البخاري أيضاً في كتاب الغسل، باب هل يدخل الجنب يده في الاناء قبل أن يغسلها إذا لم يكن على يده قذرٌ غير الجنابة؟ رقم:٢٦٢، وفي باب تخليل الشعر حتى إذا ظن أنه قد أروى بشرته أفاض عليه، رقم:٢٧٢ومسلم في صحيحه في كتاب الحيض، باب صفة الغسل من الجنابة، رقم:٣١٦،وأبوداؤد في سننه في كتاب الطهارة، باب في الغسل من الجنابة، رقم:٢٤٢، والترمذي في جامعه، أبواب الطهارة، باب ماجاء في الغسل من الجنابة، رقم: ١٠٤، والنسائي في سننه في كتاب الطهارة، ذكر وضوء الجنب قبل الغسل، رقم:٢٤٨، وانظر كذلك في تحفة الأشراف، مسندعائشة، رقم:١٧١٦٤،وجامع الأصول في كيفية الغسل، رقم:٥٣١٩.

تراجم رجال

قوله:حدثنا عبدالله بن یوسف: دامشهورامام اومحدث ابومحمدعبدالله بن یوسف دمشقی رحمه الله دي چه په تینسی اوکلاعی سره هم مشهوردي[۱]دَدوی تفصیلی حالات کتاب بدء الوحي دویم حدیث اوکتاب العلم،باب لیبلغ العلم الشاهد الغائب لاندې تیرشوی دی.[۲][۳]

قوله:قال: أخبرنامالك: [۴]دا امام دارالهجرة عالم المدینه ابوعبدالله بن مالك بن انس بن مالك بن ابی عامربن عمرو الاصبحی المدنی دي. [۵]

شیوخ واساتذه: دَ امام مالك رحمه الله په استاذانوکښې اسحاق بن عبدالله بن ابوطلحه، جعفر بن محمد الصادق، ربیعه بن ابوعبدالرحمن، زیدبن اسلم، سعدبن اسحاق، ابوبکربن محمدبن عمرو بن حزم، عبدالله بن دینار، ابوالزناد عبدالله بن ذکوان، محمدبن مسلم بن شهاب زهری، نافع مولی ابن عمر، یحی بن سعیدالانصاری اوابوزبیر مکی وغیره رحمهم الله مشهوردی. [۶]

تلامذه: دَهغوی رحمه الله نه روایت کونکوکښې ابن مهدی، ابن القاسم، معن، ابومصعب، [۷]ابراهیم بن طهمان، حبیب بن ابی حبیب، سفیان ثوری، سفیان بن عیینه، عبدالله بن مبارك عبدالله بن یوسف تینسی، ابونعیم الفضل ابن دکین، مکی بن ابراهیم، وکیع بن الجراح، یحیی بن زکریا بن ابی زائده، ابوعلی الحنفی او ابوالولیدطیالسی رحمهم الله وغیره معروف دی.[۸]

دَ امام بخاری رحمه الله نه چه کله «أصح الإسانید» باره کښې تپوس اوکړې شو نوهغوی اوفرمائیل «مالك

قوله ::عن نافع عن ابن عمر»[۹] یعنی اصح الاسانید هغه روایتونه دی کوم چه امام مالك دَ نافع عن ابن عمر په طریق سره نقل کړی دی. مثنی بن سعیدوائی چه ما امام مالك رحمه الله نه اوریدلی دی چه ما یوه شپه داسې نه ده تیره کړې چه ماته دَ رسول الله ﷺ په خوب کښې زیارت نه وی شوې.

دَحدیث رسول ﷺ احترام: امام مالك رحمه الله بـه دَ رسول الله ﷺ دَ ارشاداتو ډیرزیات احترام کولو. کله چه به ئی دَ حدیث اورولواراده کوله نواول به ئی اودس کولو بیابه ئی بهترین لباس اغوستلو توپئی به

---

[۱]) تهذیب الکمال:۱۶/۳۳۳.

[۲]) کشف الباري:۳/۱۱۳.

[۳]) کشف الباري:۱/۲۸۹.

[۴]) دَامام مالك رحمه الله حالات کشف الباري:۱/۲۹۰کتاب بدء الوحي دَ دویم حدیث په ذیل کښې اوکشف الباري: ۲/ ۸۰ کتاب الإیمان، باب: من الدین الفرارمن الفتن په ذیل کښې تیرشوی دی.

[۵]) تقریب التهذیب:ص ۵۱۶رقم:۶۴۲۵

[۶]) تهذیب الکمال:۲۷/۱۰۶-۹۳.

[۷]) الکاشف:۲/۲۳٤.

[۸]) تهذیب الکمال:۲۷/۱۱۰-۱۰۷.

[۹]) تقریب التهذیب. ص:۵۱۶رقم:۶۴۲۵تهذیب الکمال:۲۷/۱۱۰.

نی اچوله ډیره به نی ګمنزکوله او په خپل ځائی به ډیر په وقار او دبدبه سره کیناستلو اوبیابه نی حدیث بیانول شروع کړلو. د هغوی نه دا ذدي (ټول اهتمام)باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نوهغوی اوفرمائیل چه زه دا ټول هرڅه دحدیث رسول الله ﷺ په احترام کښې کوم.[1]

دامام مالك رحمه الله په تصانیف کښې موطا اوتفسیر غریب القرآن مشهوردی. دې نه علاوه هغوی مسائل او نجوم باندې یوکتاب او الوعظ، الردعلی القدریة په نوم سره رسائل هم لیکلی دی.[2]

هشام: دا ابوالمنذرو یا ابوعبدالله، هشام بن عروه، اسدی، مدنی رحمه الله دې. دجلیل القدر تابعي عروه بن الزبیر بن العوام خوئی دې.[3]، دهغوی رحمه الله په توثیق او جلالت شان باندې د ائمه اتفاق دې.[4]

قوله :: عن أبیه: دا ابوهشام عروه بن الزبیربن العوام رضي الله عنه دې.[5] د حضرت عروه رحمه الله حالات کشف الباري، بدء الوحی ددویم حدیث په ذیل کښې اختصارسره [6]اوکشف الباري کتاب الایمان باب أحب الدین إلی الله أدومه لاندې په تفصیل سره بیان کړې شوی دی.[7]

قوله ::عن عائشة رضي الله عنها: دادحضورپاك زوجه محترمه ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها بنت حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه ده.ددې مختصر حالات (بدءالوحی)دویم حدیث لاندې تیرشوی دی[8]

شرح حدیث: أن النبي صلی الله علیه وسلم کان إذا اغتسل من الجنابة بدأ فغسل یدیه. نبی کریم ﷺ چه به کله د غسل جنابت (اراده) کوله نواول به نی خپل دواړه لاسونه وینځل.

د جنابت لغوی تحقیق: جنابت په لغت کښې د قرب ضد دې ((الجنابة،أجنب،یجنب اجناباً)) نه اسم دې په اصل کښې لرېوالی اوبعدته وائی.[9]

قوله :: جُنُبٌ (دنصرنه)اوجنب الشيء تجنیباً دلرې کولوپه معنی کښې دې.په قرآن مجید کښې الله تعالی د حضرت ابراهیم علیه السلام دعانقل کړې ده هغه هم په دغه معنی کښې ده ﴿ وَّاجْنُبْنِيْ وَبَنِيَّ اَنْ نَّعْبُدَ الْاَصْنَامَ ۝ ﴾ (اې الله) اوما اوزما اولاد د بتانودعبادت نه لرې اوساته.[10]

---

[1] حلیة الأولیاء:۳۱۸/۶تهذیب الکمال:۱۱۰/۲۷.

[2] الأعلام للزرکلی:۲۵۷/۵.

[3]ددوی حالات کشف الباري:۲۹۱/۱بدء الوحي په ذیل کښې مختصراً اوکشف الباري: -۴۲۲ ۴۳۶/۲ کتاب الإیمان په ذیل کښې په تفصیل سره تیرشوی دی

[4] دامام مالك رحمه الله د ثقاهت اوجلالت شان باره کښې تفصیلات دپاره اوګورئی تهذیب الکمال: -۱۱۱ ۱۱۷/۲۷،حلیة الأولیاء: ۳۲۲/۵-۳۱۸.

[5] عمدة القاري:۲۸٤/۳.

[6] اوګورئی:کشف الباری:۲۹۱/۱.

[7] کشف الباری:۴۳۶/۲.

[8] کشف الباری۲۹۵/۱-۲۹۱.

[9] لسان العرب:۳۷٤/۲.

[10] اوګورئی معجم الصحاح، ص:۱۹۱،مختار الصحاح، ص:۷۹-۷۸. لغات القرآن:۳۱/۱.

ابن منظور رحمه الله وائي چه الجنابة منی ته وائي. په قرآن کریم کښې دَالله تعالی ارشاد ګرامی دې. ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ (۱)

جنب څه ته وائي؟: دَ جماع یا منی دَخروج سره چه په چا غسل واجب شي هغه ته جنب یا جنبی وائی. که هغه سړې وی او که ښځه وی، یو وی که دوه وی یادَدې نه زیات په ټولو باندې دَدې اطلاق صحیح دې. علامه ابوبکر جصاص رحمه الله فرمائی «الجنُب اسمٌ يطلق على الواحد وعلى الجماعة، وذلك لأنه مصدر» (۲) یعنی لفظ جنُب چونکه مصدر دې په دې وجه دَدې اطلاق یوکس او جماعت (دواړو) باندې کولې شی. (۳) کله دَ جنب تثنیه جنبان جمع جنبون او اجناب خومؤنث جنابات هم راځی. (۴)

دَ جنبی وجه تسمیه: انسان ته دَ جنبی وئیلو وجه هم دغه ده چه هغه په عام توګه باندې دَ ناپاکنی په حالت کښې خپل ځان دَخلقونه لرې ساتی ترکومې چه پاکی حاصله نه کړی. (۵)

علامه ازهری رحمه الله وائی چه انسان ته جنبی څکه وئیلې شی ترکومې چه هغه پاکی حاصله نه کړی هغه دَمواضع الصلاة دَ قربت نه منع کړې شوې دې. (۶) یعنی شرعاً هغه په حالت دَ جنابت کښې دَ مانځه نه په لرې اوسید وباندې مامور دې. (۷) علامه نووی رحمه الله فرمائی «سمي الجنب جنباً لأنه يجتنب الصلاة والمسجد والقراءة ويتباعد عنها» (۸) انسان ته جنبی څکه وئیلې شوې چه هغه په حالت دَ جنابت کښې مونځ جمات اودَ قرآن دَ تلاوت نه لرې وی او ځان ساتی. امام ابوبکر جصاص رحمه الله فرمائی «الجنابة اسم شرعي يفيد لزوم اجتناب الصلاة وقراءة القرآن ومس المصحف ودخول المسجد إلا بعد الاغتسال، فمن كان مأموراً باجتناب ما ذكرنا من الأمور موقوف الحكم على الاغتسال فهو جنبٌ» (۹) یعنی جنابت داسې شرعی حکم دې په کوم سره چه مونځ دَقرآن کریم تلاوت قرآن کریم ته لاس لګول اودَ جمات دَ داخلیدونه ځان ساتل لازم راځی البته غسل نه پس داټول کارونه کولې شی. نوچه کوم سړې هم دَ ذکرشوو څیزونونه په اجتناب کولو باندې ماموروی اودَ دغه امورو حکم په غسل باندې موقوف وی نو داسې سړی ته جنب وئیلې شی.

په جنابت حیض اونفاس کښې فرق: جنابت حیض اونفاق سره دَدې چه وړاندې بیان کړې شوی احکام «اجتناب عن الصلاة، والمسجد ومس المصحف وقراءة القرآن» کښې برابر دی خو په دواړو کښې فرق په دې اعتبارسره دې چه حیض اونفاس مانع دی دَ وطی نه، ترکومې چه ښځه دَ حیض اونفاس والاوی

---

(۱) لسان العرب:۳۷٤/۲.
(۲) أحكام القرآن، سورة المائدة، باب الغسل من الجنابة:٤٥۷/۲.
(۳) اوګورئی: لسان العرب:۳۷٤/۲، النهاية: ۲۹۵/۱، معجم الصحاح ص:۱۹۱،مجمع بحار الأنوار:۳۹٦/۱،عمدة القاري:۲۸۲/۳.
(۴) لسان العرب:۳۷٤/۲الصحاح ص:۱۹۱.
(۵) النهاية:۲۹۵/۱لسان العرب:۳۷٤/۲.
(۶) لسان العرب:۳۷٤/۲النهاية:۲۹۵/۱عمدة القاري:۲۸۲/۳.
(۷) معجم مفردات القرآن ص: ۱۱۳.
(۸) المجموع:۱۵۵/۲.
(۹) أحكام القرآن، سورة المائدة، باب الغسل من الجنابة:٤٥۷/۲.

نودَ غسل نه باوجود به هم دې سره کوروالي جائزنه وی خو غسل جنابت ختموی او انسان پاکوی اوجنابت دَ جواز وطی نه هم مانع نه دې. [1]

دَجنابت اصطلاحی تعریف:صاحب هدایه علامه ابوالحسن المرغینانی رحمه الله فرمائی چه په لغت کښې جنابت دَ منی په شهوت سره وتلوته وائی. ((أجنب الرجل)) هغه وخت وئیلې کیږی کله چه سړې په یوه ښځه سره خپل شهوت پوره کړی. [2]

علامه سعدی جلبی محشی هدایه وعنایه او صاحب کفایه رحمهما الله فرمائی چه جنابت په شهوت سره دَ منی وتلودَ وخت حالت ته وائی. [3]علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله صاحب دَ هدایه دَ ذکرکړې شوی تعریف محل نظر گرځولوسره لیکلی دی چه دَدې دَ ثبوت دپاره دَ لغت دَمعتبره کتابونو حواله ضروری ده، حالانکه دَ لغت په کتب معتبره کښې دَ جنابت معنی بعد اولریوالی سره کړې شوې ده. [4]

علامه زبیدی رحمه الله فرمائی ((الجنابة حالة تحصل عند التقاء الختانين أو خروج المنى على وجه الشهوة، فيصير من قامت به جنباً)) [5]

علامه نووی رحمه الله فرمائی ((تطلق في الشرع على من أنزل المنى وعلى من جامع)) یعنی دَ شریعت په اصطلاح کښې دَ جنابت اطلاق انزال منی او جماع کولوباندې کیږی. [6]ابن حزم رحمه الله فرمائی ((الجنابة هى الماء الذى يكون من نوعه الولد)) یعنی جنابت هغه اوبوته وائی دَ کوم نه چه بچې پیدا کیږی. [7]

جنابت دَ حدیث په رڼاکښې: دَ احادیث مبارکه دَتتبع نه معلومیږی چه جنابت دَ یوداسې شئ نوم دې چه کوروالي، احتلام اودَ خروج منی نه پس دَ انسانی بدن دَ دننه نه خارج کیږی او انسانی بدن یا په دې باندې موجود هروېښته لاندې راځی اودریږی. لکه دَ امام ابوداود رحمه الله او ابن ماجه روایت ((تحت كل شعرة جنابة)) [8]اودَ امام احمد رحمه الله روایت ((على كل شعرة جنابة)) [9]

دَ ابن فارس رائې: ابن فارس نقل کړی دی چه خپلې بی بی سره کوروالي کونکې جنب هم دَدې نه مشتق دې ځکه چه هغه هم دَ دغه څیزونونه لرې وی کوم سره چه نور نیزدې وی لکه مونځ جمات وغیره. [10]په شریعت کښې جنابت دَ ښځې اوسړی اختلاط (جنسی) نوم دې. [1]

---

[1] أحكام القرآن، سورة المائدة، باب الغسل من الجنابة:٤٥٧/٢.

[2] اوگورئی:الهداية:٤٦/١الجنابة فى اللغة، خروج المنى على وجه الشهوة، يقال أجنب الرجل إذا قضى شهوته من المرأة

[3] اوگورئی: حاشية سعدى چلپي على الهداية:٤٢/١ ، الكفاية: ٢٠/١.

[4] اوگورئی:السعاية:٣١٠/١.

[5] إتحاف السادة المتقين بشرح إحياء علوم الدين، كتاب أسرار الطهارة، كيفية الغسل:٥٩٨/٢.

[6] المجموع شرح المهذب:١٥٥/٢.

[7] المحلى بالآثار:٢٥٠/١.

[8] سنن أبى داؤد، كتاب الطهارة، باب الغسل من الجنابة، حديث رقم:٢٤٨، سنن ابن ماجه، كتاب الطهارة وسننها، باب تحت كل شعرة جنابة:، رقم الحديث:١٠٦.

[9] مسندأحمد، مسندعائشة رضى الله عنها، رقم الحديث:٢٤٨٥١،٢٦٢٢٠. نه معلومیږی. الإعجاز العلمى فى لفظ الجنابة وحكمها الشرعى ص:٢.

[10] مجمل اللغة لابن فارس:١٩٩/١.

دَ سیدسابق رائې: فقه سنه کښې سیدسابق لیکلی دی. چه جنابت دَ ښځې یا سړی په خوب یا بیدارنی کښې شهوت سره دَ منی وتلوته وائی اودا دَ رسول الله ﷺ دَ ارشاد «الماءمن الماء» [۲] دَ وجې نه موجب غسل دې. [۳]

موجبات غسل: دَموجبات غسل باره کښې ائمه مجتهدین اوفقهاء کرامو په مینځ کښې اختلاف دې.

دَ مالکیه مذهب: دَمالکیه په نیز په څلورو شیانوسره غسل واجب کیږی: ①خروج منی ② غیوبت حشفه ③حیض ④نفاس. [۴]

دَ شوافع مذهب: دشوافع په نیز په پنځوشیانوسره غسل واجب کیږی ① مرګ ② حیض ③ نفاس دَ بچې په پیداکیدوسره، سره دَدې چه څه لوندوالې نه وی ④ جماع سره کله چه حشفه یا دَدې په اندازه په فرج کښې داخل شی او⑤ خروج منی سره که په معتاد طریقه سره وی اوکه په غیرمعتاد طریقه سره وی. [۵]

دَ حنابله مذهب: حنابله په نیز په شپږو څیزونوسره غسل واجب کیږی. ①خروج منی که شهوت سره وی ② التقاء ختانین سره سره دَدې چه انزال اونه شی ③حیض ④ نفاس ⑤مرګ ⑥اودکافردَ اسلام قبلولوسره. [۶]

دَ احنافو مذهب: دَ احنافو فقهاء په نیز دریوڅیزونوسره غسل واجب کیږی. ①جنابت ② حیض ③ نفاس [۷] البته دَ ثبوت جنابت دوه سبب دی ①دَمنی په شهوت سره په توپ سره وتل ② دَ ښځې د متیازو په مقام کښې، یادَ سړی یا ښځې دَ دکومتیازو په مقام کښې دخول سره، که انزال وی اوکه نه وی. [۸] په دې کښې فاعل اومفعول دواړه برابردی. یعنی دَ دواړو حکم یودې. [۹]

موجبات غسل کښې به دَهریووضاحت په خپل مقام باندې راځی، دلته چونکه دَغسل جنابت بیان روان دې په دې وجه جنابت اودَدې دَ اسباب سره متعلق به دَ ضروری امورو وضاحت کولې شی.

---

[۱] معجم مقاييس اللغة:۱/۴۸۳.

[۲] الحديث أخرجه مسلم واللفظ له فى كتاب الحيض، باب بيان أن الجماع كان فى أول الإسلام لايوجب الغسل إلا أن ينزل المنى وبيان نسخه وأن الغسل يجب بالجماع، رقم:۷۷۶. وأبوداؤد فى كتاب الطهارة، باب فى الإكسال، رقم:۲۱۷وابن ماجه فى سننه فى كتاب الطهارة، باب الماء من الماء، رقم:۶۰۶،وأحمدفى مسنده، مسندأبى سعيدالخدرى، رقم:۱۱۲۶۳، والطحاوى شرح معانى الآثار، فى كتاب الطهارة، باب الذى يجامع ولاينزل:۱/۴۵انظر كذلك جامع الأصول، الفصل الأول فى غسل الجنابة، النوع الثانى:الإنزال، رقم:۵۳۰۵.

[۳] فقه السنة للسيدسابق: ۱/۴۹.

[۴] الشرح الصغيرعلى أقرب المسالك إلى مذهب الإمام مالك:۱/۱۶۰حاشية الدسوقى على الشرح الكبير:۱/۲۰۸.

[۵] المجموع شرح المذهب:۲/۱۳۰فتح العزيز:۲/۱۰۹الحاوى الكبير:۱/۲۵۵.

[۶] المغنى:۱/۱۲۸الفقه الإسلامى وأدلته:۱/۵۲۱،۵۱۴.

[۷] الهداية:۱/۴۵ومابعدها، بدائع الصنائع:۱/۲۷۳البحرالرائق:۱/۹۹-۹۳.

[۸] فتح القدير:۱/۶۵بدائع الصنائع:۱/۲۷۳البحرالرائق:۱/۹۹المبسوط: ۱/۱۸۳،۱۸۷.

[۹] أحكام القرآن، سورة المائدة،باب الغسل من الجنابة:۲/۴۵۷.

په خروج منی سره دَ غسل واجب کیدل: په دې خبره خودتولو ائمه حضراتو اتفاق دې چه په خروج منی سره غسل واجب کیږی البته په دې خبره کښې اختلاف دې چه مطلقًا په خروج منی سره به غسل واجب کیږی یا شهوت سره کیدل هم ضروری دی؟

مذاهب ائمه: په دې سلسله کښې تفصیل دادې چه امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله اودَ راجح قول مطابق دَ مالکیه په نیز منی که شهوت سره وی نوبیاموجب غسل ده گنی نه ده.[1] خوامام شافعی رحمه الله اوبعض مالکیه رحمهم الله فرمائی چه مطلقاً په خروج منی سره به غسل واجب کیږی که منی په شهوت سره وتلې وی اوکه بغیرد شهوت نه.[2]

لهٰذا که دَ وزن په اوچتولوسره منې اوځی یادَ یواوچت ځائی نه دَ راپرېوتلودَ وجې نه وتلې وی یا په شاباندې په ډنډه وغیره سره وهلودَ وجې نه وتلې وی یادَ یوبیمارئی دَ وجې نه وتلې وی غرض چه په هریوه غیرمعتادطریقه سره دَمنی خروج سره دَ حنفیه او حنابله په نیز غسل نه واجب کیږی.[3]خودَ شوافع په نیز په دې قسم تولو صورتونوکښې هم غسل واجب دې.[4]

دَ شوافع دلیل: دَ شوافع دلیل دَحضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه روایت دې کوم چه امام مسلم رحمه الله امام ابوداؤد رحمه الله امام احمد رحمه الله اوامام طحاوی رحمه الله وغیره نقل کړې دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی «إنما الماء من الماء» [5]یعنی انزال دَمنی اوبوسره غسل واجب کیږی.[6]

علامه نووی رحمه الله فرمائی «معناه یجب الغسل بالماء من إنزال الماء الدافق، وهو المنی» [7]ماء دافق یعنی دَمنی په انزال سره په اوبوباندې غسل واجب کیږی. شوافع دَ عموم حدیث نه استدلال کوی دلته دَ شهوت هیڅ قید نشته دې، مطلقًا خروج منی موجب غسل گرځولې شوې دی.[8]

دَ احنافو دلیل: دَحنفیه یودلیل خودَ قرآن کریم آیت دې. سورت مائده کښې دَالله تعالی ارشاد مبارک دې ﴿وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾[9]یعنی که تاسو په جنابت کښې شئ نوپاکی حاصله کړئ.علامه شبیر

---

[1] اوگورئی: ردالمحتار علی الدرالمختار:١/١١٨، الهدایة:١/٤٥المبسوط: ١/١٨٥بدائع الصنائع:١/٢٧٣المغنی لابن قدامة :١/١٢٨الإنصاف:١/٢٢٧الشرح الصغیر:١/١٦١-١٦٠حاشیة الدسوقی:١/٢١٠بدایة المجتهد:١/٥٣٨.

[2] اوگورئی: کتاب الأم:١/٤٨الحاوی الکبیر:١/٢٥٥المجموع:٢/١٣٨فتح العزیز:١/١٢٢،١١٤.

[3] اوگورئی:بدائع‌الصنائع:١/٢٧٧المبسوط:١/١٨٥السعایة:١/٣١٠ردالمحتار:١/١١٨المغنی:١/١٢٨الإنصاف :١/٢٢٨

[4] المجموع: ٢/١٣٩الحاوی الکبیر:١/٢٦٠بدائع الصنائع:١/٢٧٧المبسوط:١/١٨٥بدایة المجتهد:١/٥٣٨.

[5] الحدیث أخرجه مسلم واللفظ له فی کتاب الحیض، باب بیان أن الجماع کان فی أول الإسلام لایوجب الغسل إلا أن ینزل المنی وبیان نسخه وأن الغسل یجب بالجماع، رقم:٧٧٦، وأبوداؤد فی کتاب الطهارة، باب فی الإکسال، رقم:٢١٧وابن ماجه فی سننه فی کتاب الطهارة، باب الماء من الماء، رقم:٦٠٦وأحمدفی مسنده، مسندأبی سعیدالخدری، رقم:١١٢٦٣، والطحاوی شرح معانی الآثار، فی کتاب الطهارة، باب الذی یجامع ولاینزل:١/٤٥انظر کذلک جامع الأصول، الفصل الأول فی غسل الجنابة، النوع الثانی:الإنزال، رقم:٥٣٠٥.

[6] الحاوی الکبیر:١/٢٦٠فتح الملهم:٣/٢٠٠الهدایة:١/٤٦.

[7] المجموع شرح المهذب:٢/١٣٨.

[8] الحاوی الکبیر:١/٢٦٠المجموع شرح المهذب:٢/١٣٩الهدایة ١/٤٦السعایة: ١/٣١١.

[9] المائدة:٦

احمد عثمانی رحمه الله فرمائی چه په جنابت سره دَ غسل واجب کیدو دارومدار دَمنی په توپ سره دَ شهوته وتلوباندې دې. لکه چه لفظ «جنباً» دَ الله تعالی ارشاد ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ کښې دې طرف ته اشاره ده لکه څنګه چه صاحب دَ هدايه دَ دې وضاحت کړې دې.[1]

دَامام شافعی رحمه الله دَ دليل جواب: دَامام شافعی رحمه الله دَ طرف نه ذکرکړې شوې حدیث «الماء من الماء» دَ جمهورو دَ طرف نه مختلف جوابونه ورکړې شوی دی دَ کوم تفصيل چه به انشاء الله دَ جنابت سبب ثانی په ذيل کښې ډير زر بيانولې شی. البته دلته صرف په يوجواب باندې اکتفاکوو.

دَ صاحب هدايه توجيه: صاحب دَ هدايه علامه ابوالحسن المرغينانی رحمه الله «الماء من الماء» باره کښې فرمائی «والحديث محمول على خروج المنى عن شهوة».[2] يعنی مذکوره حدیث دَمنی په شهوت سره وتلو باندې محمول دې.

دَعلامه عينی رحمه الله وضاحت: علامه عينی رحمه الله فرمائی چه حدیث «الماء من الماء» په «خروج المنى على وجه الشهوة» باندې په دې وجه محمول کړې دې چه په ادله کښې تطبيق ورکړې شی.[3] په دې وجه چه حضورپاك په نورو رواياتوکښې «خروج المنى على وجه الشهوة» باندې خو غسل لازمی ګرځولې کړې دې نه چه دَ مطلقاً خروج ماء باندې. چنانچه امام ابوداؤد رحمه الله امام نسائی رحمه الله اوامام احمد رحمه الله دَ حضرت علی رضی الله عنه نه روايت نقل کړې دې «عن علی قال: كنت رجلاً مذاءً فجعلت أغتسل حتى تشقق ظهري، فذكرت ذلك للنبي صلى الله عليه وسلم، أوذكرله، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "لاتفعل إذا رأيت المذي فاغسل ذكرك وتوضأ وضوءك للصلاة، فإذا فضحت الماء فاغتسل"».[4] حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه زمانه به په کثرت سره مذی وتله (اودَمسئلې نه معلوميدو دَ وجې نه) مابه په دې سره غسل کولو(او په کثرت سره به دَدې نوبت راتلو) تردې چه (دَيخننی په موسم کښې دَ سختې يخننی او باربار غسل کولوسره) زماپه ملا کښې دردپيداشوې وو. ماحضورپاك سره دَدې تذکره اوکړه يابل چا حضورپاك سره تذکره اوکړه نوحضورپاك اوفرمائيل داسې مه کوه يعنی دَ مذی سره غسل مه کوه اوکله چه ته مذی اووينې نوخپل اندام مخصوصه اووينځه اودَمانځه والااودس اوکړه اوکله چه ته دَ توپ والااوبه اووينې نوبياغسل کوه يعنی غسل ماء دافق (منی) سره واجب کيږی نه چه مذی سره.

په مسنداحمد کښې دَحضرت علی رضی الله عنه هم دغه قصه مختصراً نقل ده په هغې کښې حضورپاك حضرت علی رضی الله عنه ته فرمائيلی «إذا خذفت الماء فاغتسل من الجنابة وإن لم تكن خاذفاً فلا تغتسل»[5] يعنی

---

[1] فتح الملهم: ۲۰۷/۳، الهداية: ۴۶/۱، فتح القدير: ۶۵/۱.
[2] الهداية: ۴۶/۱.
[3] البناية: ۳۲۸/۱.
[4] الحديث أخرجه أبوداؤد فی سننه فی كتاب الطهارة، باب فی المذی، رقم: ۲۰۶، والنسائی فی سننه فی كتاب الطهارة، باب الغسل من المنی، رقم: ۱۹۳، وأحمدفی مسنده، مسندعلی بن أبی طالب: ۳۲۱/۱، رقم: ۸۶۸، انظر كذلك جامع الأصول، باب الغسل، النوع الثانی، المذی: ۱۹۹/۷، رقم: ۵۲۱۹.
[5] الحديث، أخرجه الإمام أحمدفی مسنده، فی مسندعلی بن أبی طالب: ۳۱۶/۱ رقم: ۸۴۷.

كله چه په توپ سره اوبه وى نو دَ جنابت نه غسل اوكړه اوكه چرې اوبه (منى) دفق وشهوت سره نه وى نو غسل مه كوه.
په رومبې روايت كښې «فضحت» اودويم روايت كښې «خذفت» الفاظ راغلى دى فضح اوحذف دَ منى دفق اوشهوت سره وتلوته وائى نولكه دَدواړو روايتونو مطلب دا اووتلو چه كله انزال دفق او شهوت سره وى نوغسل كوه گنى مه كوه.[1] چونكه دَحضرت على رضي الله عنه والا دواړه روايتونه مقيددى اوحديث «الماءمن الماء» مطلق دې اودا هم يوې واقعه سره متعلق دى لهذا مطلق به په مقيدباندې محمول كولې شى. دَ امام شافعى رحمه الله په نيزخومختلف واقعاتوسره تعلق لرونكى مطلق روايات په مقيدباندې محمول كول صحيح دى نودلته په طريقه اولى سره به داسې كول صحيح وى.[2]
دويمه توجيه: حديث «الماءمن الماء» دَ خروج منى بالشهوة باندې محمول كولو يوه وجه داهم ده چه «الماءمن الماء» دَخپل عمومى مفهوم په اعتبارسره سره دَدې چه منى مذى اوودى درېواړوته شامل دى ليكن دا په خپل عموم باندې باقى نه دې ځكه چه په مذى اوودى سره غسل نه واجب كيدو باندې اجماع ده.[3]لهذا «الماء» نه به دلته خاص اوبه مراد اخستې شى اودابه په خروج منى بالشهوة باندې محمول كولې شى.
دَدې دليل دَ ام سليم رضي الله عنها روايت دې چه هغه دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضره شوه اووئى وئيل چه الله تعالى دَ حق بيانولوسره نه شرميږى، آيا په ښځه باندې غسل شته كله چه هغې ته احتلام اوشى؟ حضورپاك اوفرمائيل چه او كه چرې هغه اوبه اووينى[4] دَ روايت الفاظ دى «نعم! إذارأت الماء» نودلته دَ الماء نه خاص اوبه مراددى. گنى مذى اوودى سره به هم غسل لازم راشى. خبره داده چه په اجماع سره په دې غسل نه واجب كيږى.[5]
دَخروج منى من الذكر په وخت دَ شهوت حكم: دَ احنافو علماء كرام په دې خبره باندې خومتفق دى چه دَ وجوب غسل دَپاره دا ضرورى دى چه منى كله دَخپل ځائى نه يعنى صُلب نه جدا وى نوچه شهوت سره وى خوچه كله دَ اندام مخصوصه نه بهراوځى نوهغه وخت دَ شهوت موجود كيدل شرط دې كه نه؟

---

[1] البناية:٣٢٧/١ السعاية:٣١١/١ بذل المجهودفى حل سنن أبى داؤد:١٤٩/٢-١٤٨.
[2] اوگورئى: البناية:٣٢٧/١والسعاية:٣١١/١.
[3] المنهاج:٢٠٤/٣البناية:٣٢٧/١ الأوسط:١٣٦/١-١٣٣بدائع الصنائع:٢٨٧/١.
[4] الحديث أخرجه البخارى فى كتاب العلم، باب الحياء فى العلم، رقم:١٣٠،وفى كتاب الغسل، باب إذا احتلمت المرأة، رقم: ٢٨٢ وفى كتاب أحاديث الأنبياء، باب خلق آدم وذريته، رقم: ٣٣٢٨ وفى كتاب الأدب، باب التبسم والضحك، رقم:٦٠٩١ وفيه أيضًا باب مالايستحيامن الحق للتفقه فى الدين، رقم:٦١٢١ومسلم فى صحيحه فى كتاب الحيض، باب وجوب الغسل على المرأة بخرج المنى منها، رقم: ٣١٣والنسائى فى سننه فى كتاب الطهارة، باب غسل المرأة ترى فى منامهامايرى الرجل، رقم: ١٩٧،وابن ماجه فى أبواب التيمم، باب فى المرأة ترى فى منامهامايرى الرجل، رقم: ٦٠٠ انظر كذلك جامع الأصول، رقم:٥٣١٠.
[5] البناية شرح الهداية:٣٢٧/١.

دَ طرفين رائې: نو په دې باره کښې دَطرفين اوامام ابويوسف رحمه الله په مينځ کښې اختلاف دې. چنانچه امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله فرمائي چه دَ وجوب غسل دَپاره منى دَخپل ځائى نه يعنى صُلب نه شهوت سره وتل ضرورى دى كه دَ اندام مخصوصه نه دَ وتلووخت كښې شهوت وى اوكه نه وى.

دَامام ابويوسف رائې: امام ابويوسف رحمه الله فرمائي چه دَاندام مخصوصه نه دَ بهكاره كيدو په وخت هم دَ شهوت موجود كيدل ضرورى دى. هغه دَ اندام مخصوصه نه دَ وتلوپه وخت منى دَ صلب نه جدا كيدو باندې قياس كوى لكه څنګه چه دَ وجوب غسل دَپاره دَمنى دَ خپل مقرنه په شهوت سره وتل ضرورى دى هم دغه شان دَ اندام مخصوصه نه دَ وتلو وخت كښې هم دَ شهوت موجود كيدل ضرورى دى. څكه چه كه منى دَ خپل مقرنه جدا شوه اودَ اندام مخصوصه نه وتل موجودنه شى نو بالاجماع غسل نه واجب كيږى. دَ غسل دَ واجب كيدودَپاره دَمقر نه جدا كيدو سره دَ اندام مخصوصه نه خروج هم ضرورى دې اودَمقر نه دَ جدا كيدو په وخت په اتفاق سره شهوت موجودكيدل ضرورى دى نود قياس تقاضاداده چه دَ خروج په وخت هم دَدې اعتبار اوكړې شى.(١)

دَ طرفين استدلال: طرفين رحمهما الله فرمائى دَ انفصال منى په وخت چۆنكه شهوت وى نودَدې تقاضا داده چه غسل دې واجب وى څكه چه دَ وجوب غسل دَپاره مطلق شهوت شرط دې نه چه كمالِ دَ شهوت. نوچه كله شهوت موجود شى نوغسل واجب كيدل پكاردى اوكله چه شهوت مفقودوى نودَ وجوب غسل حكم هم نه دى لګيدل پكار. اوكله چه دَخروج په وخت شهوت نه وى نودَدې تقاضا ده چه غسل دې واجب نه وى. نوچه كله دَ غسل واجب كيدو او نه واجب كيدو دوارو احتمال دې اومن وجه غسل واجب دې نوموږ په احتياط باندې عمل كولوسره دَ غسل واجب كيدو اوونيل څكه په عبادات كښې هم دَ احتياط په طرف باندې عمل كولې شى. (٢)

دَ اختلاف ثمره: دَ پورته ذكرشوو اختلافاتو ثمره به هم په هغه ټولو صورتونوكښې راوځى په كوم كښې چه دَمنى انفصال دَمقر په وخت چه شهود موجود وى اودَاندام مخصوصه نه دَ وتلو په وخت نه وى لكه چه كه يوسړى استمناء باليد اوكړو اومنى دَخپل مقرنه شهوت سره اووتله اودغه سړى خپل اندام مخصوصه نيولې اوساتلو تردې چه شهوت ختم شو اومنى بغيردَ شهوت نه اووتله نودَ طرفين په نيزبه په دې صورت كښې غسل واجب وى اودَ امام ابويوسف رحمه الله په نيزبه غسل واجب نه وى. (٣)

علامه قاضى خان رحمه الله فرمائى چه دَتيرو شوو مونځونوباره كښې به دَ امام ابويوسف رحمه الله دَ قول اعتباركولې شى اونه به شى راګرځولې اودَ راتلونكومونځونو په سلسله كښې به دَ طرفين په قول باندې عمل كولوسره بغيردَ غسل نه نشى كولې.(٤)

علامه شرنبلالى رحمه الله فرمائى كه چرې انسان يوداسې ځائى كښې ميلمه وى چرته چه دَتهمت خطره وى نودَ امام ابويوسف رحمه الله په قول باندې به فتوى وركولې شى اوپه عام حالاتوكښې دَ طرفين قول مفتى به دې. (٥)

---

(١) الهداية مع فتح القدير:٦٦/١ البناية:٣٣٠/١ السعاية:٣١٢/١البحرالرائق:١٠٢/١.

(٢) السعاية:٣١٢/١البناية:٣٣٠/١ البحرالرائق:١٠٣/١.

(٣) الدرالمختارمع ردالمحتار:١١٨/١فتح القدير:٦٦/١ البحرالرائق:١٠٣/١فتاوى قاضى خان:٤٦/١.

(٤) فتاوى قاضى خان:٤٦/١البحرالرائق:١٠٣/١فتح القدير:٦٦/١

(٥) السعاية:٣١٢/١ البناية: ٣٣١/١الدرالمختار مع ردالمحتار:١١٨/١.

دَ جنابت سبب ثانی: دَ احنافو په نیز دَ جنابت سبب ثانی دَ ښځې دَ متیازو په مقام کښې یا دَ سړی یا ښځې دَ ډکو متیازو په مقام کښې دخول دې که انزال وی اوکه نه وی. (۱)

په التقاء ختانین سره وجوب غسل: پورته بیان کړې شوی صورت کښې که چرې التقائې ختانین وی او په اندازه دَ حشفه دخول اوشی نوجمهور صحابه رضی الله عنهم تابعین، ائمه اربعه او جمهور علماء کرام په نیزغسل واجب کیږی. اِنزال ضروری نه دې سوادَ داؤد ظاهری نه دَ ددوی په نیز التقائې ختانین سره انزال هم ضروری دې. (۲)

امام بخاری رحمه الله "کتاب الغسل" په آخر کښې "التقاء الختانین" په عنوان سره باب قائم کړې دې. په زیر بحث مسئله کښې دَهغوی رائې او نور حدیثی مباحث به هم ددې باب لاندې راځی. ان شاء الله تعالی.

دَ اکسال دَ مسئلې باره کښې دَ صحابه کرامواختلاف: په عهدصحابه رضی الله عنهم کښې دَحضرت عمر فاروق رضی الله عنه دَ زمانې پورې پخپله په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې اختلاف وو چه دَ وجوب غسل دَپاره انزال ضروری دې که نه؟ یا صرف التقاء ختانین یعنی په اکسال سره غسل واجب کیږی. چنانچه په صدر اول کښې دَ صحابه کرامو یوجماعت په کوم کښې چه حضرت ابوسعید خدری، ابی بن کعب، سعدبن ابی وقاص، ابوایوب انصاری، علی بن ابی طالب، عبدالله بن مسعود، رافع بن خدیج، ابن عباس، زید بن خالد جهنی رضی الله عنهم وغیره دی. ددې خبرې قائل وو چه صرف په اکسال سره غسل نه واجب کیږی ترکومې چه دې سره انزال نه وی.(۳) لیکن دَ حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې ازواج مطهرات سره دَ رجوع نه پس دَ ټولو صحابه کرامو په دې باندې اجماع اوشوه چه صرف هم التقاء ختانین موجب غسل دې که انزال وی اوکه نه وی. (۴)

دَ قائلین عدم وجوب غسل استدلال: دَ قائلین عدم وجوب غسل دَ اختلاف په وخت استدلال یوخو په صحیح مسلم کښې روایت شوې دَ حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت نه وو. حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی:

«خرجت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم الإثنين إلى قباء، حتى إذا كنا في بني سالم، وقف رسول الله صلى الله عليه وسلم على باب عتبان، فصرخ به، فخرج يجر إزاره، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "أعجلنا الرجل، فقال عتبان: يارسول الله! أرأيت الرجل يعجل عن امرأته ولم يمن، ماذا عليه؟، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إنما الماء من الماء"» (۵)

---

(۱) الهداية شرح بداية المبتدی، كتاب الطهارات، فصل فی الغسل:۱/۴۷-۴۶فتح القدير، كتاب الطهارات، فصل فی الغسل:۱/۶۷/۶۵بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع،كتاب الطهارة،فصل فی أحكام الغسل:۲۷۳- ۱/۲۷۶ومابعدها، البحر الرائق شرح كنزالدقائق، كتاب الطهارة:۱/۱۰۹-۹۹تبيين الحقائق شرح كنزالدقائق، كتاب الطهارة :۱/۶۹-۶۵ النهر الفائق شرح كنزالدقائق، كتاب الطهارة:۱/۶۶-۶۴ المبسوط، باب الوضوء والغسل:۱/۱۸۸-۱۸۷.

(۲) بداية المجتهد:۱/۵۳۶الاستذكار:۱/۳۲۰الكنز المتواری:۳/۲۳۷-۲۳۶فتح المالك:۱/۴۳۴الحاوی الكبير:۱/۲۵۵ الأوسط:۲/۸۱وقال ابن منذر: "لست أعلم اليوم بين أهل العلم فيه اختلافاً". اهـ

(۳) الحاوی الكبير:۱/۲۵۵بذل المجهود:۲/۱۷۶ الاستذكار:۱/۳۲۱الأوسط فی السنن والإجماع والاختلاف : ۲/۷۷ الاعتبار فی الناسخ والمنسوخ فی الحديث:۱/۱۸۵.

(۴) أوجزالمسالك:۱/۱۶۵معارف السنن:۱/۳۷۰بداية المجتهد:۱/۵۳۸

(۵) الحديث أخرجه مسلم فی صحيحه فی كتاب الحيض، باب الماء من الماء، رقم:۷۷۳، وانفرد به، انظر تحفة الأشراف ، رقم:۴۱۲۲.

يعني زه رسول الله ﷺ سره دَ پير په ورځ دَ قباء طرف ته اووتلم، كله چه مونږ بنى سالم ته اورسيدو نو رسول الله ﷺ دَ عتبان په دروازه باندې اودريدو اوهغه ته ئى آواز ورکړو نوهغه خپل لنګ رانښکلوسره راووتلو (حضورپاك هغه په دې حالت كښې اوليدلو) نوونى فرمائيل: مونږ سرې په تادئى كښې اخته كړو. حضرت عتبان ﷺ اووئيل: اې دَالله تعالى رسول! كله چه سړې دَهغه ښځه په تادئى كښې اخته كړى او هغه انزال نه شى نو په هغه باندې څه دى؟ (يعنى په هغه به غسل وى؟). رسول الله ﷺ اوفرمائيل اوبه په اوبو سره واجب كيږى يعنى غسل خو په انزال سره واجب كيږى.

دَ حضرت ابوسعيدخدرى ﷺ يوروايت كښې دى «أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أرسل إلى رجل من الأنصار، فجاء ورأسه يقطر، فقال النبى صلى الله عليه وسلم: لعلنا أعجلناك، فقال: نعم! فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا أعجلت أو قحطت فعليك الوضوء» يعنى رسول الله ﷺ څوك اوليګلواودانصار يوسړې راؤغوښتلو. هغه راغلونودَهغه دَ سر نه دَ اوبو څاڅكى پريوتل. حضورپاك اوفرمائيل: لعلنا أعجلناك؟ كيدې شى مونږ ته په تادئى كښې واچولې؟ هغه وئيل اوجى اې دَالله تعالى رسول! حضورپاك اوفرمائيل: «إذا أعجلت أو قحطت، فلا غسل عليك، وعليك الوضوء» يعنى كله چه دَ تادئى (څه كار) راشى يا تاسو ته انزال نه وى شوې نو په تاسوباندې غسل نشته او په تاسو باندې اودس دې.

دغه شان په صحيحين كښې دَ عطاء بن يسار ﷺ نه روايت دې: «أن زيد بن خالد أخبره أنه سأل عثمان بن عفان قلت: أرأيت إذا جامع فلم يمن؟ قال عثمان: يتوضأ كما يتوضأ للصلاة، ويغسل ذكره قال عثمان: سمعته من النبى صلى الله عليه وسلم» [١] يعنى زيد بن خالد الجهنى ﷺ دَحضرت عثمان ﷺ نه معلومه كړه كه يو سړې صحبت اوكړى اوانزال دَمنى نه وى شوې (نوڅه حكم دې؟). حضرت عثمان ﷺ اوفرمائيل "يتوضأ كما يتوضأ للصلاة، ويغسل ذكره" يعنى اودس دې اوكړى څنګه چه دَ مانځه دَپاره اودس كوى او خپل اندام دې اووينځى. حضرت عثمان ﷺ وائى ما دادَ رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى.

بخارى شريف كښې هم دَدې حديث په آخره كښې راوى وائى «فسألت عن ذلك عليا والزبير وطلحة وأبى بن كعب، فأمروه بذلك» [٢] يعنى ما په دې باره كښې دَحضرت على ﷺ حضرت زبير ﷺ حضرت طلحه ﷺ او ابى بن كعب ﷺ نه معلومه كړه تولودَدغه سرى باره كښې هم دغه حكم وركړو (يعنى صرف اودس دې اوكړى، دَغسل حاجت نشته دې). هم دغه خبره امام طحاوى ﷺ "شرح معانى الآثار" كښې نقل كړې ده. [٣] علامه كرمانى ﷺ فرمائى دې حضراتو يعنى حضرت على زبير طلحه او ابى بن كعب ﷺ دَ طرف نه دا فتوى وركړې شوې وه خو حضرت عثمان ﷺ دَ فتوې وركولوسره دَدې خبرې نسبت دَحضورپاك طرف ته هم كوى. [٤]

---

[١] الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه فى كتاب الوضوء، باب من لم يرالوضوء إلا من المخرجين القبل والدبر، رقم:١٧٩، ومسلم فى صحيحه فى كتاب الحيض، باب الماء من الماء رقم:٧٧٩انظر تحفة الأشراف رقم:٩٨٠١.

[٢] أخرجه البخارى فى صحيحه فى كتاب الوضوء باب من لم يرالوضوءإلا من المخرجين القبل والدبر، رقم:١٨٠ الاعتبارفى الناسخ والمنسوخ فى الحديث: ١٨٢/١.

[٣] شرح معانى الآثار، باب الذى يجامع ولاينزل:٤٤/١.

[٤] شرح الكرمانى:١٥٥/٣فتح البارى:٥٢٢/١.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ظاهر دادی چه دې حضراتو هم زید بن خالد جهنی ته هم دَدې خبرې حکم ورکړو دَ کومې خبرې چه حضرت عثمان رضی الله عنه امر کړې وو. لیکن دَمحدث اسماعیلی په روایت کښې دی «فقالوا مثل ذلك» یعنی هغوی دَ حضرت عثمان رضی الله عنه په شان اوونیل. دَدې روایت ظاهر دَ دغه حضراتو دَ روایت مرفوع کیدوطرف ته اشاره ده ځکه چه حضرت عثمان رضی الله عنه فتوې ورکولوسره داخبره دَحضورپاك نه هم نقل کړې ده. لهذا دَ محدث اسماعیلی په روایت کښې "مثل" لفظ دَدې خبرې تقاضا کوی چه هغه هم فتوی ورکولوسره دَدې نسبت دَحضور پاك طرف ته کړې دی. محدث اسماعیلی په یویل روایت کښې دَدې خبرې صراحت کړې دې چه دې حضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم داخبره هم دَحضورپاك نه نقل کړې ده.[۱] حضرت مولانامحمدیوسف کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه علامه بیهقی رحمه الله هم دَدې حضراتو قول مرفوع کیدودَ "الحسین بن عیسی البسطامی" په طریق سره تصریح کړې ده اودَحسین نه پخپله امام بخاری رحمه الله هم روایت کړې دې.[۲]

دَ اکسال نه په وجوب غسل باندې دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع: بهرحال په صدراول کښې دَحضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم په خپل مینځ کښې دَ اکسال په مسئله کښې اختلاف پیداشو لیکن دَحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې بیا په دې خبره باندې اجماع اوشوه چه فقط التقائې ختانین سره غسل واجب کیږی سره دَدې چه انزال نه وی. امام طحاوی رحمه الله دَ حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم په دې مسئله باندې خپل مینځ کښې اتفاق په روایت دَ حضرت رفاعه رضی الله عنه په تفصیل سره نقل کړی دی. حضرت رفاعه رضی الله عنه فرمائی: «**قال: إني لجالس عند عمر بن الخطاب رضي الله عنه إذ جاء رجل فقال: ياأميرالمؤمنين، هذا زيد بن ثابت يفتي الناس في الغسل من الجنابة برأيه. فقال عمر رضي الله عنه: أعجل عليّ به، فجاء زيد. فقال عمر رضي الله عنه: قد بلغني من أمرك أن تفتي الناس بالغسل من الجنابة برأيك في مسجد النبي صلى الله عليه وسلم. فقال له زيد: أم والله ياأميرالمؤمنين، فما أفتيت برأيي، ولكني سمعت من أعمامي شيئاً فقلت به. فقال: من أي أعمامك؟ فقال: من أبي بن كعب، وأبي أيوب، ورفاعة بن رافع. فالتفت إلى عمر فقال: مايقول هذا الفتى؟ قال: قلت: إنا كنا لنفعله على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم لانغتسل. قال: أفسألتم النبي صلى الله عليه وسلم عن ذلك؟ فقلت: لا. قال: على بالناس، فاتفق الناس أن الماء لايكون إلا من الماء، إلا ما كان من علي ومعاذ بن جبل فقالا: إذا جاوز الختان الختان، فقد وجب الغسل. فقال: ياأميرالمؤمنين لاأجد أحداً أعلم بهذا من أمر رسول الله صلى الله عليه وسلم، من أزواجه. فأرسل إلى عائشة رضي الله عنها فقالت: "إذا جاوز الختان الختان، فقد وجب الغسل" فتحطم عمر، وقال: لئن أخبرت بأحد يفعله ثم لايغتسل لأنهكته عقوبة "أي لماألنت في عقوبته"**»

یعنی حضرت رفاعه رضی الله عنه وائی زه حضرت عمر رضی الله عنه سره ناست ووم چه یوسړی راغلو وئی وئیل اې امیرالمؤمنین زید بن ثابت رضی الله عنه خلقوته دَ جنابت دَغسل باره کښې په خپله رائې سره فتوی ورکوی. نوحضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل هغه زر ماله راولئی. حضرت زید رضی الله عنه راغلو نو حضرت عمر رضی الله عنه ورته اووئیل چه ماته دا معلومه شوې ده چه ته په مسجد نبوی (علی صاحبها الصلاة والسلام) کښې خلقو ته دَ غسل جنابت باره کښې په خپله رائې سره فتوی ورکوې؟ حضرت زید رضی الله عنه اووئیل په الله قسم، اې

---

[۱]) فتح الباري:۱/۵۲۲أماني الأحبار:۱/۲۷۵.

[۲]) أماني الأحبار في شرح معاني الآثار:۱/۲۷۵.

اميرالمؤمنين په دَخپلې رائې نه فتوى نه ده وركړې بلكه ماذ اعمام (ترونو) نه چه څه اوريدلى وو هم هغه مې بيان كړى دى. حضرت عمر رضي الله عنه تپوس اوكړو ستا ترونه څوك دى؟ نوحضرت زيد رضي الله عنه اوونيل حضرت ابى بن كعب، ابوايوب او رفاعه بن رافع رضي الله عنهم نه مې اوريدلى دى، حضرت رفاعه رضي الله عنه وائى چه حضرت عمر رضي الله عنه زما طرف ته متوجه شو وئى وئيل دا څه وايئ؟ حضرت رفاعه رضي الله عنه وائى چه ما اوونيل مونږ به دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كښې هم داسې (يعنى اكسال) كولو اوبيابه موغسل نه كولو. حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل آيا تاسو خلقو دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه كړې وه؟ نومااوونيل نه حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل صحابه كرام رضي الله عنهم راجمع كړنى (صحابه كرام رضي الله عنهم راجمع شو) اوټولو په دې خبره باندې اتفاق اوكړو چه غسل په انزال سره واجب كيږى (صرف التقائي ختانين موجب غسل نه دې) سوادَ حضرت على رضي الله عنه اومعاذبن جبل رضي الله عنه نه. دې دواړو اوونيل چه كله شرمگاه شرمگاه كښې داخل شى (دَ جماع نه كنايه ده) نوغسل واجب كيږى. حضرت رفاعه رضي الله عنه اوونيل اې اميرالمؤمنين په دې باره كښې دَحضورپاك دَطرزعمل په سلسله كښې دَ ازواج مطهرات نه زيات څوك عالم نه گنړم. حضرت عمر رضي الله عنه حضرت حفصه رضي الله عنها له څوك ورواوليګل نوهغې اوفرمائيل ماته دَدې باره كښې څه علم نشته دې. بيا حضرت عمر رضي الله عنه حضرت عائشه رضي الله عنها له څوك ورواوليګل نوهغې اوفرمائيل چه شرمگاه شرمگاه سره متجاوز شى نوغسل واجب كيږى. حضرت عمر رضي الله عنه دَ غصې اظهاراوكړو اوونى وئيل دَنن نه پس كه ماته پته اولګيدله چه چا اكسال كړې دې اوغسل نى نه دې كړې نوزه به هغه ته ډيره سخته سزا وركوم. (۱)

دَ جمهورو استدلال: جمهورائمه حضراتو استدلال دَ حضرت عائشه رضي الله عنها او حضرت ابوهريره رضي الله عنه دَ روايت نه دې چه حضورپاك فرمائيلى «إذا جلس بين شعبها الأربع ثم جهدها فقد وجب الغسل» (۲) يعنى كله چه سړې دَ ښځې په مينځ كښې په څلوربولى كينى او كوشش اوكړى (بعض رواياتو كښې دى "ومسّ الختان الختان" كله چه شرمگاه په شرمگاه كښې داخل شى) نوغسل واجب شو. حضرت ام كلثوم رضي الله عنها دَ رسو الله صلى الله عليه وسلم دَ بى بى حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها نه نقل كړى دى: «ان رجلاً سأل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الرجل يجامع أهله ثم يكسل، هل عليهما الغسل؟ وعائشة جالسة، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إنى لأفعل ذلك، أنا وهذه ثم نغتسل» (۳) يعنى يوسړى دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دَ يوداسې سړى باره كښې تپوس اوكړو چه خپلې بى بى سره كوروالې كوى بيا اكسال كوى، آيا په دغه دواړو باندې غسل دې؟، حضرت عائشه رضي الله عنها هلته تشريف فرماوه، حضورپاك دَهغې طرف ته اشاره كولوسره اوفرمائيل چه زه

---

(۱) شرح معانى الآثار:۱/۴۸فتح الملهم:۳/۱۰۴.

(۲) صحيح مسلم كتاب الحيض باب نسخ الماء من الماء ووجوب الغسل بالتقاء الختانين، رقم الحديث: ۳۵۰.

(۳) حديث أبى هريرة رضى الله عنه أخرجه البخارى فى صحيحه فى كتاب الغسل، باب إذا التقى الختانان، رقم: ۳۴۸ وأخرجه النسائى فى صحيحه فى كتاب الطهارة، باب وجوب الغسل إذا التقى الختانان، رقم:۱۹۱وانظر كذلك تحفة الأشراف، رقم:۱۴۶۵۹، وجامع الأصول رقم:۵۳۰۰، وحديث عائشة رضى الله عنها أخرجه الترمذى فى صحيحه فى كتاب الطهارة، باب ماجاء إذا التقى الختانان وجب الغسل، رقم:۱۰۹-۱۰۸، وابن ماجه فى صحيحه فى كتاب الطهارة، باب فى وجوب الغسل إذا التقى الختانان، رقم:۶۰۸، الاعتبارفى الناسخ والمنسوخ فى الحديث:۱/۱۸۷-۱۸۶.

اودا هم داسې كوو بيامونږ غسل كوو. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه ما اورسول الله ﷺ داسې كړى (يعنى اكسال كړې) اومونږ غسل كړې. (١)

دَحديث "الماءمن الماء" توجيهات: دَجمهور ائمه دَ طرف نه دَ حديث "الماءمن الماء" ډير جوابونه وركړې شوى دى. يو جواب خودادې چه مذكوره حديث ((خروج المنى على وجه الشهوة)) باندې محمول دې (٢)

امام ابوداؤد رحمه الله حديث "الماءمن الماء" منسوخ كيدل نقل كړى دى چنانچه هغوى په خپل سنن كښې سهل بن سعد الساعدى نه روايت نقل كړې دې هغه ته ابى بن كعب رضي الله عنه خبر وركړې دې چه رسول الله ﷺ "الماءمن الماء" دَ كپړو دَ كمى دَ وجې نه دَاسلام په شروع كښې دَخلقو دَپاره رخصت ګرځولې وو بيائى دَغسل حكم وركړو اودَدې (يعنى اكسال) نه ئى منع اوكړه. (٣) امام نووى رحمه الله هم دا دَ اسلام دَ شروع كښې واقعه ګرځولې ده چنانچه هغوى په صحيح مسلم كښې په دې لاتدينو الفاظوسره عنوان قائم كړې دې: ((باب بيان أن الجماع كان فى أول الإسلام لا يوجب الغسل إلا أن ينزل المنى وبيان نسخه وأن الغسل يجب بالجماع)) (٤) بيا دې نه پس هغوى ((باب نسخ الماء من الماء ووجوب الغسل بالتقاء الختانين)) عنوان قائم كړې دې. (٥) دغه شان بعض صحابه كرام رضي الله عنهم لكه حضرت ابوايوب انصارى، حضرت على، حضرت طلحه او حضرت ابي بن كعب رضي الله عنهم وغيره چه دَ وجوب غسل دَپاره انزال ضرورى ګرځولو هغه هم دَ اسلام په شروع كښې دَ رسول الله ﷺ دَ طرف نه وركړې شوى رخصت باندې محمول دى. (٦)

ابن ارسلان فرمائى چه حديث "الماءمن الماء" مباشرت فى غير الفرج باندې محمول دې او په دې صورت كښې غسل دَ ټولو ائمه حضراتو په نيز هم په انزال باندې موقوف دې. (٧) حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه "إنما الماءمن الماء فى الاحتلام" يعنى داحديث په احتلام باندې محمول دې. (٨)

حضرت مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ قول مطلب دادې چه حديث "الماءمن الماء" جماع اليقظه دَپاره منسوخ شوې دې (البته جماع فى المنام كوم ته چه احتلام وائى) دَ پاره اوس هم محكم او واجب العمل دې اوداسې په كثرت سره كيږى چه يوحديث منسوخ بعض جزئيات دَپاره واجب العمل باقى پاتې كيږى. (٩) دَحضرت ګنګوهى رحمه الله نه نقل دى چه "الماءمن

---

(١) فتح المالك: ١/٤٣٤.

(٢) دَتفصيل دَپاره اوګورئى: كشف البارى كتاب الغسل باب الوضوء قبل الغسل: ص ١٣٢-١٣٠.

(٣) كتاب الحيض ص: ٧٣٤.

(٤) حواله سابق.

(٥) الحديث أخرجه أبوداؤد فى صحيحه فى كتاب الطهارة باب فى الإكسال رقم: ٢١٤.

(٦) الحديث أخرجه أبوداؤد فى صحيحه فى كتاب الطهارة باب فى الإكسال رقم: ٢١٥.

(٧) بذل المجهود: ٢/١٧٩.

(٨) قول ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه الترمذى فى صحيحه فى كتاب الطهارة باب ماجاء أن الماء من الماء رقم: ١١٢، انظر الاعتبار فى الناسخ والمنسوخ فى الحديث: ١/١٩٧.

(٩) فيض البارى: ١/٤٨ معارف السنن: ١/٣٧٣.

الماء: عام اوساتلي شي كه هغه حقيقي وي اوكه حكمي نو ايلاج «ادخال الذكر في الفرج» ماء حكمي دي يعنى دَ انزال په حكم كښې دي. (١)
دَ اجماع په مقابله كښې دَ داؤد ظاهري دَ قول حيثيت: باقي پاتې شوه خبره دَ داؤد ظاهرى دَ اختلاف، چه دَدې څه اعتبارشته كه نه؟ نوحضرت بنورى رحمه الله علامه سبكى رحمه الله شرح التقريب په حواله سره نقل كړى دى چه «لاعبرة بخلافه عند المحققين» يعنى دَ محققين په نيز دَ اجماع په مقابله كښې دَ داؤدظاهرى دَ قول هيڅ اعتبارنشته دي. (٢)
علامه نووى رحمه الله فرمائى «فالمسألة اليوم مجمع عليها ومخالفة داؤدلاتقدح فى الإجماع عند الجمهور» يعنى دَ داؤدظاهرى په اختلاف سره دَ جمهورو په نيز په اجماع باندې هيڅ اثر نه پريوځى.(٣)
عقلي دلائل: امام طحاوى رحمه الله په شرح معانى الآثاركښې صرف التقائي ختانين سره په وجوب غسل باندې دَ "نظر" په نوم سره درې دليلونه ذكركړى دى.
رومبي نظر: جماع مع الانزال دَ "أغلظ الأحداث" نه ده يعنى دَدې په وجه سره غسل واجب كيږى او جماع بغيرالانزال كښې اختلاف دې. كله چه جماع مع الانزال او جماع بغيرالانزال په اتو احكامو كښې شريك او متساوى دى: ① دَ جماع په دواړو صورتونوكښې يعنى كه انزال شوې وي اوكه نه وى شوې دَ روژې ماتيدو نه پس قضاء اوكفاره واجب كيږى. ② په دواړو صورتونوكښې دَ حج فاسد كيدو نه پس قضا او دم واجب كيږى. ③ دَ حج او روژې په دواړو صورتونو كښې فى مادون الفرج حرام دى. ④ ښځې سره دَ زناكولوسره په دواړو صورتونوكښې حد واجب كيږى. ⑤ ښځې سره زنا بالشبه كولوسره په دواړو صورتونوكښې حد نشته صرف مهرواجب كيږى. ⑥ وطى فيمادون الفرج....بدون شبهة دَ وجې نه په دواړو صورتونوكښې حد اومهرنشته دې صرف تعزيرواجب كيږى.
⑦ ښځې سره صرف جماع فى الفرج كولونه پس طلاق وركولودَ وجې نه په دواړو صورتونوكښې مهر اوعدت واجب كيږى اودَ زوج اول دَپاره هم دغه ښځه حلال كيږى. ⑧ ښځې سره صرف جماع فى مادون الفرج نه پس طلاق وركولودَ وجې نه په دواړو صورتونوكښې نصف مهر يا متعه واجب كيږى.
خلاصه دكلام داده چه "جماع مع الانزال" او "جماع بغيرالانزال" په اتواحكامو كښې شريك او متساوى دى. پدې احكامو باندې نظراوقياس كولوتقاضاداده چه غسل واجب كمدلواونه واجب كيدوكښې هم دواړه شريك اومتساوى كيدل پكاردى. اودَ انزال په صورت كښې چونكه په اتفاق سره غسل واجب كيږى پدې وجه "جماع بغيرالانزال" په صورت كښې هم غسل واجب كيدل پكاردى دې دَپاره چه دَ دواړو حكم يوشى.(٤)
دويم نظر: دا نظر علامه طحاوى رحمه الله "حجة أخرى" په عنوان سره بيان فرمائيلې دې دَ كوم خلاصه چه داده چه كه يوسړى اوښځې نه التقائي ختانين اوشى نوپورته ذكرشوى اته احكام واجب كيږى اوكه

---

(١) بذل المجهود:١٧٩/٢.
(٢) معارف السنن:٣٧٠/١ المجموع شرح المهذب:١٣٧/٢.
(٣) المجموع شرح المهذب:١٣٧/٢.
(٤) باب: الذى يجامع ولاينزل، ص: ٤٩.

چرې التقائي ختانين نه پس هم انزال اوشي نو په دې سره څه نوې حکم نه واجب کيږي مثلاً که يوسړې زناکولوسره يوې ښځې سره التقائې ختانين اوکړونوحد واجب کيږي. اوس که چرې د التقائې ختانين نه پس انزال هم اوشي نو په دې سره بل حد نه واجب کيږي، يا که چا د شك د وجې نه جماع کولو سره التقائې ختانين اوکړو نومهرواجب کيږي.
اوس که دَدې نه پس انزال هم اوشي نودې سره نوې مهر نه واجب کيږي.خلاصه دا چه کله دَالتقائې ختانين نه پس انزال مؤخرشي نوحد مهر او نور څيزونه واجب کيدوتعلق صرف التقائې ختانين سره کيږي په انزال باندې موقوف کيږي نه. په دې باندې نظر او قياس تقاضاداده چه دَغسل تعلق هم صرف التقائې ختانين سره کيدل پکاردي. انزال باندې موقوف کيدل نه دی پکار.لهذا دَ التقاء ختانين دَ وجه نه پکاردی چه انزال وی اوکه نه وی، په دواړو صورتونو کښې غسل واجب کيدل پکاردی.([1])

دريم نظر: دانظر هم علامه طحاوی رحمه الله "حجة أخرى" په عنوان سره بيان فرمائيلې دې دَ کوم خلاصه چه داده چه جماع مع الانزال په صورت کښې دَ ښځې اوسړی دواړو حکم يوشان دې يعنی په دواړو باندې غسل واجب کيږي.
په دې باندې دَ نظر اوقياس تقاضا داده چه دَ جماع بغيرالانزال په صورت کښې هم دَ ښځې اوسړی دواړو حکم يوشان کيدل پکاردی اوچونکه دَانزال نه کيدو په صورت کښې په ښځه باندې په اتفاق سره غسل واجب کيږي په دې وجه په دې صورت کښې په سړې باندې هم غسل واجب کيدل پکاردی دې دَپاره چه په دې صورت کښې هم دَدواړو حکم يوشان شی.([2])

قوله :: **بدء فغسل يديه**:(حضورپاك چه به کله دَغسل جنابت اراده کوله)نواول به ئې خپل دواړه لاسونه وينځل.

دَ اودس نه وړاندې دَدواړو لاسونو وينځلووجه: دَ اودس نه وړاندې دَ لاسونو وينځلو دوه وجوهات کيدې شي يوخوداممکن دی چه وينځل په لاسونوباندې لګيدلې ګندګئی وغيره نه پاکی حاصلولودپاره وی لکه څنګه چه دَحضرت ميمونه رضي الله عنها دَ روايت نه دَدې تائيدکيږي. يا داوينځل دَخوب نه په ويښيدو باندې چه دَ لاس دَ وينځلو حکم دې دَدې دَ وجې نه وی. دَدې تائيد دَ ابن عيينه رحمه الله الفاظ ((قبل أن يدخلهما في الإناء)) سره کيږي چه هغوی په دې حديث کښې دَ هشام نه نقل کړی دی.
يعنی سړې چه کله دَ خوب نه بيدارشی نوهغه له پکاردی چه هغه دې خپل دواړه لاسونه په لوښی کښې دَ وهلونه وړاندې وينځی.([3]) که په لاسونوباندې څه پليتی لګيدلې وی نودَهغې وينځل واجب دی ګني مستحب دی. ([4])

بهترين اضافه: هم دَ ابن عيينه رحمه الله په روايت کښې دَدې الفاظو هم زياتوالې دې ((ثم يغسل فرجه)) چه بيادې خپل شرمګاه هم اووينځی. هم دغه خبره هشام نه امام مسلم رحمه الله دَ ابومعاويه په طريق سره نقل

[1]) باب: الذى يجامع ولاينزل: ص ۵۰-۴۹.
[2]) باب: الذى يجامع ولاينزل: ص ۵۰-۴۹.
[3]) اوګورئی: فتح البارى:۱/۴۷۵عمدة القارى:۳/۲۸۴.
[4]) أوجزالمسالک:۱/۳۲،۴۹۷.

كرى ده.[1] اوامام ابوداؤد دَ حمادبن زيد په واسطه سره هم دغه روايت نقل كړې دې. [2]حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه «ثم يغسل فرجه» يوه بهترين اضافه ده ځكه چه شرمګاه اول وينځلوسره دوران غسل دا «دوباره» دَ لاس لګولو ضرورت نه پاتې كيږى «وهذا على مذهب الشوافع».[3]

قوله:: ثم يتوضأ كما يتوضأ للصلوة: بيابه حضورپاك ﷺ هم هغه شان اودس كولولكه چه دَ مانځه دَپاره به ئى اودس كولو.

قوله:: كما يتوضأ للصلوة: دَ مانځه والا دَ اودس قيدئې ځكه اولګولو دې دَپاره چه اودس لغوى يعنى صرف دَلاسونودَ وينځلونه احتراز اوشى ځكه چه دَ اودس اطلاق صرف دَ لاسونو په وينځلو باندې كيږى. **توضأ كما يتوضأ للصلوة** وئيلو سره ئې اوخودل چه دلته مراد اودس لغوى نه دې بلكه دَ مونځ والا اودس مراددې. [4]علامه كورانى رحمه الله فرمائى چه په حديث كښې راغلې لفظ "كان" په دې خبره باندې دلالت كوى چه حضورپاك به په عام توګه دَغسل جنابت نه وړاندې اودس فرمائيلو.[5]

دَغسل جنابت نه وړاندې دَ اودس حكم: دَ غسل نه وړاندې دَ اودس په استحباب باندې دَ ائمه اربعه او جمهورو اتفاق دې. [6]علامه ابن عبدالبر رحمه الله او ابن بطال رحمه الله وغيره په دې باندې اجماع نقل كړې ده.[7]

ليكن روستنوعلماؤوضوء قبل الغسل كښې دَ داؤد ظاهرى اودَ ابوثور اختلاف نقل كړې دې حتى چه حافظ ابن حجر رحمه الله دَدې دواړو حضراتو دَاختلاف دَ وجې نه دَ اجماع قول ته مردود وئيلې دى. [8]دَ حافظ صاحب رحمه الله داخبره ځكه صحيح نه ده چه دَاجماع په مقابله كښې په نيز دَ داؤدظاهرى دَ قول هيڅ حيثيت نشته دې لكه چه علامه سبكى رحمه الله او علامه نووى رحمه الله په دې باندې تنبيه فرمائيلې ده.[9]

بهرحال روستنوعلماؤ اختلاف نقل كړې دې. چنانچه شيخ الحديث مولانا زكريا صاحب كاندهلوى رحمه الله اوابن ارسلان دَ داؤد ظاهرى او ابوثورمطلقاًدَدې دَوجوب قائل كيدل نقل كړى دى.[10]خوحافظ ابن حجر رحمه الله دَدې حضراتو په حواله سره نقل كړى دى كه چرې څوك محدث وى نودَهغه دَپاره اودس

---

[1] فتح البارى:۴۷۵/۱أخرجه مسلم فى صحيح فى كتاب الحيض باب صفة غسل الجنابة رقم:۷۱۸وانفردبه مسلم. انظر تحفة الأشراف رقم:۱۶۹۰۱.

[2] فتح البارى:۴۷۵/۱.

[3] فتح البارى:۴۷۵/۱.

[4] الكوثر الجارى:۴۰۶/۱ عمدة القارى:۲۸۴/۳ فتح البارى:۴۷۵/۱أوجز المسالک:۴۹۷/۱.

[5] مرقاة المفاتيح:۳۳/۲ أوجزالمسالک:۳۹۸/۱.

[6] الكوثر الجارى:۴۰۶/۱.

[7] فتح المالک بتبويب التمهيدلابن عبدالبرعلى مؤطاالإمام مالک:۴۲۰/۱شرح ابن بطال على صحيح البخارى :۳۷۹/۱ فتح البارى لابن رجب الحنبلى:۱۴۲/۱.

[8] فتح البارى:۴۷۶/۱.

[9] معارف السنن:۳۷۰/۱المجموع:۱۳۷/۲.

[10] أوجزالمسالک:۴۹۸/۱بذل المجهود:۲۵۵/۲.

واجب دي صرف غسل د اودي د طرف نه به كفايت نه كوي.[1] په يوروايت كښې دامام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله نه هم دغه مذهب نقل دې خود صحيح قول مطابق دا دواړه حضرات هم جمهوروسره دي.[2] چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله دغسل جنابت نه وړاندې د اودس د استحباب ذكر كولونه پس ليكي "امام شافعي رحمه الله فرمائي چه الله تعالى مطلقًا غسل فرض فرمائيلې دې د يوخاص عمل نه د غسل شروع كولوحكم ئې نه دې وركړې چه په دې سره د غسل شروع اوكړې لهذا غسل كونكې دې پوره بدن اووينځي نوچه څنګه هم غسل كوي صحيح به وي"[3]

د علامه عيني رحمه الله توجيه: وړاندې دغسل نه اودس كول چونكه د احنافو په نيز سنت دې په دې وجه علامه عيني رحمه الله دحافظ ابن حجر رحمه الله او قائلين وجوب په ردكښې فرمائي چه نص قرآني سره ددې چه مطلق دې او په هغې كښې د يوداسې شي تذكره نشته دې په كوم سره چه دغسل شروع اوكړې شي.مګر دحضرت عائشه رضي الله عنها په روايت سره دا واضحه شوه چه حضورپاك به دغسل نه وړاندې د مانځه والااودس په شان اودس كولو. لهذا د حضورپاك په عمل سره دسنت ثبوت اوشو اوواجب په دې وجه نه دې چه د اودس تحقق د غسل په ضمن كښې كيږي. لكه چه حائضه ښځه چرته جنبي شي نودهغې دپاره هم يوغسل كافي كيږي.[4] بيادااودس كوم چه دغسل په شروع كښې كيږي په دې كښې دوه احتماله دي ياخودې دادغسل نه وړاندې مستقل سنت وي يا دې دغسل جزء وي؟ كه چرې دامستقل سنت اومنلې شي نو غسل كښې د بدن اندامونوسره د اودس اندامونه وينځل هم ضروري كيږي اوكه چرې دا دغسل جزء اومنلې شي نو د اودس اندامونه په اودس كښې وينځل كافي كيږي. دوباره په غسل كښې باقي بدن سره به ددې وينځل ضروري نه وي.[5]

د اودس دتقديم وجه: حافظ ابن حجر رحمه الله وغيره د تقديم وضوء باره كښې فرمائي: «إنما قدم غسل أعضاء الوضوء تشريفاً لها ولتحصيل لها صورة الطهارتين الصغري والكبري»[6] داودس د اندامونو شرافت او فضيلت د وجې نه اودس په غسل باندې مقدم كړې شوې دې يادې وجې نه مقدم كړې شوې دې چه طهارت صغرىٰ او طهارت كبرىٰ دواړه حاصل شي.

كه چرې د تشريف اوفضيلت د وجې نه د اودس اندامونه وينځل مقدكړې دي نو چه د كومو حضراتو په نيز اودس كښې نيت شرط دې نودهغوي په نيز به په شروع كښې نيت كول وي اوكه چرې دغسل جزنه دې بلكه مستقل سنت دی نو بيا په اودس كښې به د جنابت دازاله كولو نيت هم كولې كيږي. علامه داؤدي فرمائي چه په غسل كښې د اودس اندامونه داودس په ترتيب باندې وينځلوكښې مقدم كړي ليكن په شروع كښې دې د جنابت دغسل نيت هم اوكړي.[7]

---

[1] فتح الباري: ۱/ ۴۷۶.
[2] أوجز المسالك: ۱/ ۴۹۸ بذل المجهود: ۱/ ۵۳۱.
[3] فتح الباري: ۱/ ۴۷۵ كتاب الأم: ۱/ ۱۵۹.
[4] عمدة القاري: ۳/ ۲۷۳.
[5] فتح الباري: ۱/ ۴۷۵ الكنز المتواري: ۳/ ۱۸۸.
[6] تحفة الباري: ۱/ ۲۱۸ فتح الباري: ۱/ ۴۷۵ شرح ابن بطال: ۱/ ۳۸۹.
[7] فتح الباري: ۱/ ۴۷۵.

شیخ الاسلام علامه زکریا انصاری رحمه الله نقل کړی دی چه راجع دادې که دَ جنابت نه وړاندې دې باندې څه پلیتی نه وی نودَ جنابت دَ غسل نه وړاندې په اودس کښې دې دَغسل دَسنت نیت اوکړی اوکه جنابت اوحدث دواړه راجمع شی نودَغسل نه وړاندې اودس سره دې دَحدث اصغردَ لرې کولونیت اوکړی.(۱)

دَغسل نه پس دَاودس حکم: بعض حضراتودَغسل نه پس اودس واجب ګرځولې دې.(۲) علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه دَ علماؤ په دې خبره باندې اتفاق دې چه دَغسل نه پس به دوباره اودس نه شی کولې(۳)

اعتراض: په دې باندې دااعتراض کیدې شی چه مصنف ابن ابی شیبه کښې دَابوالبختری نه روایت دې «أن علیاً کان یتوضأ بعد الغسل»(۴) یعنی حضرت علی رضی الله عنه به دَ غسل نه پس اودس کولو.

جواب: ابن بطال رحمه الله فرمائی چه دَحضرت علی رضی الله عنه روایت مرسل دې ځکه چه یحیی بن معین فرمائیلی دی دَابوالبختری الطائی نوم سعیدبن عبیددې اودا ثقه راوی دې لیکن دَ حضرت علی رضی الله عنه نه دَده سماع ثابته نه ده اوکه چرې دَحضرت علی رضی الله عنه نه داعمل ثابت هم شي نودَهغوی داعمل به یا دَ انتقاض وضوء دَ وجې نه به وی یا په اودس کښې دَ کیدو اونه کیدو دَ شك دَ وجې نه به وی. (۵)

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه حضرت علی رضی الله عنه او ابن مسعود رضی الله عنه نه دَ غسل نه پس دَ اودس نه انکار نقل دې. (۶) دَحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه دَ غسل نه پس دَ اودس باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نو هغوی اوفرمائیل «أي وضوء أعم من الغسل؟» (۷) یعنی آیا یواودس دَغسل نه هم زیات اعم دې. هم دغه خبره دَ حضرت علقمه رضی الله عنه نه هم نقل ده چه هغوی فرمائیلی «أي وضوء أعم من الغسل؟» (۸) حضرت سعید بن جبیر رضی الله عنه نه وضوء بعدالغسل باره کښې تپوس اوکړې شو نوهغه دا ناخوښه کړه. (۹)

دَ حضرت عائشه رضی الله عنها نه په صراحت سره دَدې انکار مروی دې. چنانچه اسود بن یزید دَحضرت عائشه رضی الله عنها نه نقل کړی دی «کان رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یتوضأ بعد الغسل» (۱۰) یعنی رسول الله ﷺ دَ غسل جنابت نه پس اودس نه کولو. بلکه په یوروایت کښې وضوء بعدالغسل ناخوښه کیدل ذکرشوی دی. چنانچه ابن عباس رضی الله عنهما وائی چه حضورپاك فرمائیلی دی «من توضأ بعد الغسل فلیس منا» یعنی څوك

---

(۱) اوګورئی: تحفة الباری:۱/۲۱۸.

(۲) عمدة القاری:۳/۲۸۳البنایة: ۱/۳۱۹.

(۳) الاستذکار:۱/۳۰٤.

(۴) مصنف ابن ابی شیبه کتاب الطهارة فی الوضوء بعدالغسل من الجنابة، رقم:۷۵۹.

(۵) شرح ابن بطال:۱/۳۸۹.

(۶) عمدة القاری:۳/۲۸۳البنایة:۱/۳۱۹فتح الباری لابن رجب الحنبلی:۱/۱٤۲-۱٤۱.

(۷) مصنف ابن أبی شیبة، کتاب الطهارة، فی الضوء بعدالغسل من الجنابة:۷٤۸.

(۸) مصنف ابن أبی شیبة، کتاب الطهارة، فی الضوء بعدالغسل من الجنابة:۷۵۲.

(۹) مصنف ابن أبی شیبة، کتاب الطهارة، فی الضوء بعدالغسل من الجنابة:۷۵٤.

(۱۰) مصنف ابن أبی شیبة، کتاب الطهارة،فی الوضوء، بعدالغسل من الجنابة:۱/٤۷٦-٤۷۵ رقم الحدیث:۷٤۹.

چه دَغسل نه پس اودس اوکړی هغه زمونږ نه نه دې.(١)علامه هیثمی رحمه الله په مجمع الزوائد کښې دَدې روایت نقل کولونه پس فرمائی چه علامه طبرانی رحمه الله په معجم کبیر او صغیر او اوسط کښې دا روایت ذکرکړې دې.دمعجم اوسط په سندکښې سلیمان بن احمدنومې راوی دې ابن معین دَده تکذیب کړې دې اوعبدان ئې توثیق کړې دې.(٢)علامه بنوی رحمه الله فرمائی «ولم ینبه علی إسناد "الکبیر" والصغیر" ،فعسی أن یکون إسنادهما لاغمز فیه» (٣) علامه هیثمی رحمه الله معجم کبیراوصغیر په اسنادباندې کلام نه دې کړې کیدې شی دَدې وجې نه چه دَدې دواړو په اسناد کښې دکلام څه گنجائش نشته دې.

په وضوء قبل الغسل کښې دَ سردمسح حکم: په وضوء قبل الغسل کښې به دَ سرمسح کولې شی که نه؟ په دې کښې اختلاف دې. اسحاق بن راهویه په یوغیرمشهور روایت کښې امام احمدبن حنبل رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نیز به وضوء قبل الغسل کښې مسح دَ سر نه شی کولې بلکه په دوران غسل کښې په سرباندې اوبه بهیول دَسردَ مسح دَ طرف نه کافی کیږی. (٤)

هم دغه خبره دَابن عمر رضی الله عنهما نه په صراحت سره مروی ده او امام ابوداؤد رحمه الله دَ امام احمد رحمه الله نه هم دغه شان قول نقل کړې دې. (٥)

ابن رجب حنبلی رحمه الله فرمائی چه وضوء قبل الغسل کښې دَ مسح په ځائې دَ سرپه وینځلو اکتفاء کول دَدې خبرې دلیل دې چه په اودس کښې دَ سر وینځل کافی دی دَمسح ضرورت نشته دې لیکن په عام اودس کښې داسې کول مکروه دی البته هغه اودس چه غسل سره یوځائی وی نو په هغې کښې داسې کول صحیح دی. (٦)

په یوروایت کښې حسن بن زیاد رحمه الله دَامام ابوحنیفه رحمه الله نه دانقل کړی دې چه په وضوء قبل الغسل کښې به دَ سرمسح نه شی کولې ځکه چه دَ جنابت دَ وجې نه په هغه باندې دَ سروینځل ضروری دی او دَ سروینځل فرض دی نوفرضیت مسح به نه ظاهریږی. (٧)دَسفیان ثوری رحمه الله امام مالک رحمه الله اودَ مشهورقول مطابق دَ امام شافعی رحمه الله او حنابله نه خلال او اودَهغه شاګرد ابوبکر په نیزوضوء قبل الغسل کښې به دَ سرمسح کولې شی. (٨)

دَ احنافو ظاهری روایت هم دغه دې چه په دغه اودس کښې به دَ سرمسح کولې شی. (٩)

---

(١) والحدیث أخرجه الترمذی فی سننه فی کتاب الطهارة باب ماجاء فی الوضوء بعدالغسل، رقم:١٠٧والنسائی فی سننه فی کتاب الطهارة، باب ترک الوضوء بعدالغسل، رقم: ٢٥٣، وابن ماجه فی سننه فی کتاب الطهارة، باب فی الوضوء بعدالغسل، رقم:٥٧٩،انظر کذلک تحفة الأشراف، رقم:١٦٠١٩، وجامع الأصول، رقم:٥٣٣٣.

(٢) اوګورئې: معجم الطبرانی الکبیر:٢١٣/١١رقم:١١٦٩١ومجمع الزوائد، کتاب الطهارة، باب فیمن توضأ بعد الغسل :٢٧٣/١معارف السنن:٣٦٨/١.

(٣) اوګورئې: معارف السنن:٣٦٨/١.

(٤) فتح الباری لابن رجب الحنبلی:١٣٨/١.

(٥) فتح الباری لابن رجب الحنبلی:١٣٨/١.

(٦) فتح الباری بشرح صحیح البخاری لابن رجب الحنبلی:١٣٩/١.

(٧) المبسوط للسرخسی:١٤٨/١،عمدة القاری:٢٨٤/٣البنایة:٣١٩/١.

(٨) فتح الباری لابن رجب الحنبلی:١٣٩/١.

(٩) المبسوط:١٤٨/١البنایة: ٣١٩/١عمدة القاری:٢٨٤/٣.

علامه عیني رحمه الله دحسن بن زیاد رحمه الله قول ذکر کولونه پس ظاهر روایت ته ترجیح ورکوي هغه فرمائي چه وضوء قبل الغسل کښې د سر په مسح کولو کښې د غسل پوره والي دې. (۱)کوم حضرات چه په وضوء قبل الغسل کښې دسر دمسح قائل نه دي هغه وائي چه دنبي کریم ﷺ نه د غسل جنابت نه وړاندې اودس کول خونقل دی لیکن په دغه اودس کښې چرته په یوروایت کښې د سر دمسح تصریح نه دغه راغلې.(۲)

د قائلین مسح دلیل: د سرد مسح قائلین دحضرت امام بخاري رحمه الله تخریج کړې شوې دحضرت عائشه رضي الله عنها د حدیث باب د ظاهر نه استدلال کوي هغه وائي چه دحضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها په روایت کښې دحضورپاك د مانځه والا د اودس په شان اودس کول منقول دی اودمانځه والا په اودس کښې د سرمسح کولې شي. لهذا دلته به هم د سرمسح کولې شي.(۳)

شارحین حدیث «توضأكما يتوضأ للصلوة» نه د اودس کامل مراد اخستې دي بغیرد خپو د وینځلو د تاخیر، ځکه چه بعض روایاتوکښې دتاخیرغسل رجلین یعنی د خپوروستو وینځلو ذکرموجوددې(۴)

دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه ددې اودس باره کښې تپوس اوکړې شو نوهغوی اوفرمائیل «توضأوضوءك للصلوة إلا رجليك» (۵)یعنی د خپل مونځ والا داودس په شان اودس اوکړئ بغیرد خپو د وینځلو (چه هغه به د اودس نه فارغ کیدو باندې وینځلې شي). ابن رجب حنبلي رحمه الله فرمائي چه دابن عمر رضي الله عنهما د قول نه داخبره معلومیږي چه وضوء قبل الغسل کښې به د سرمسح کولې شي. (ځکه چه د مانځه والا اودس کښې کولې شي). (۶)

دحضرت شیخ الحدیث رحمه الله رائې: حضرت شیخ الحدیث مولانا محمدزکریا صاحب کاندهلوي رحمه الله فرمائي چه زما په نیزپه دې مسئله کښې توسع ده یعني که د سرمسح اوکړې نوبیاهم صحیح ده اوکه دسرمسح اونه کړې نو بیاه م صحیح دی. ځکه چه دحضرت عائشه رضي الله عنها روایت سره د سرمسح کول معلومیږي او د حضرت میمونه رضي الله عنها په روایت کښې د سرد وینځلوذکرخوشته لیکن د سرد مسح چرته هم تصریح نشته دې.(۷)

د خپو وینځل د غسل جنابت نه وړاندې که روستو؟ خپې په غسل جنابت کښې وړاندې په اودس کښې اووینځلې شي یا د غسل جنابت نه فارغ کیدونه پس؟ یعنی د جنابت دغسل نه وړاندې به د اودس تکمیل کولې شي که نه؟ په دې سلسله کښې دواړه شان روایات موجوددی. په دې وجه په ائمه کرامو کښې په دې مسئله کښې اختلاف پیداشوې دې. چنانچه د ائمه اربعه نه په دې سلسله کښې څلور اقوال نقل دی. اود مذکوره مسئلې صورتونه هم څلور جوړیږي په دې وجه به د ائمه رائې هم دې څلورو صورتونو کښې ذکرکولې شي.

---

(۱) عمدة القاري: ۲۸۳/۳.
(۲) فتح الباري لابن رجب الحنبلي: ۱۳۹/۱.
(۳) فتح الباري بشرح صحيح البخاري لابن رجب الحنبلي: ۱۳۹/۱.
(۴) أوجزالمسالک إلی مؤطامالک: ۴۹۷/۱فتح الباري لابن رجب الحنبلي: ۱۳۶/۱.
(۵) فتح الباري بشرح صحيح البخاري لابن رجب الحنبلي: ۱۳۹/۱.
(۶) فتح الباري بشرح صحيح البخاري لابن رجب الحنبلي: ۱۳۹/۱.
(۷) أوجزالمسالک: ۵۰۶/۱-۵۰۵.

رومبی صورت: دَ جنابت دَغسل نه وړاندې هم په اودس کښې خپې وينځلې شي يعنې دَ غسل دَ شروع نه وړاندې اودس پوره کړې شي، خپې وينځل دَ غسل نه پس پورې روستونه کړې شي هم دغه دَ امام شافعي رحمه الله اشهر، اصح او مختار رائې ده.[1]
دَعلي بن زياد رحمه الله دَروايت مطابق دَ امام مالك رحمه الله هم دغه رائې ده[2]شرح العمده کښې علامه فاکهاني رحمه الله فرمائي((وهوالمشهور))يعنې هم دغه دَ امام مالك رحمه الله مشهورقول دې[3]امام احمدبن حنبل رحمه الله په يوروايت کښې هم دا قول اختيارکړې دې. [4]ابن رجب حنبلي رحمه الله فرمائي چه هم دغه زمونږ په اصحاب کښې مشهوردې اوخلال اودهغه ملګرې ابوبکر هم دغه رائې ده. [5]
دَ احنافو يوروايت هم دغه دې چه خپې اول اووينځلې شي. صاحب درمختار علامه حصکفي رحمه الله دا مستحب ليکلې دی. [6]اوعلامه شامي رحمه الله دَ صنيع نه هم دَدې ترجيح معلوميږي. [7]
دويم صورت: دويم صورت دادې چه دَغسل په شروع کښې دَ اودس پوره والې اونه کړې بلکه خپې وينځل روستوکړي اودَ غسل جنابت نه پس خپې اووينځي. هم دغه دَ امام شافعي رحمه الله دويم قول دې [8]امام نووي رحمه الله داضعيف ګرځولې دې.[9] داشان قول دَامام احمدبن حنبل رحمه الله نه هم نقل دې. [10]

ابن وهب په مبسوط کښې دَامام مالك رحمه الله نه نقل کړې دی که څوك خپې وينځل دَ غسل نه دَ فارغيدوپورې روستوکول غواړي نو داسې کولې شي[11]اکثرمشائخ حنفيه رحمهم الله مطلقًا دَ خپو دَ روستو وينځلو قائل دی[12]امام محمدبن حسن الشيباني رحمه الله هم دا اختيارکړې دی.[13]
دريم صورت: دريم صورت دادې چه دخپو وينځل دجنابت غسل کښې په تقديم اوتاخيرسره دواړه برابردی که غواړي نو اول دې اووينځي اودَاودس تکميل دې اوکړي اوکه غواړي نوخپې وينځل دې روستوکړي اودَغسل نه پس دې اووينځي.دَامام احمدبن حنبل رحمه الله نه په يوروايت کښې داسې نقل دی. [14]
څلورم صورت: که دَ غسل ځائې پاك وي ختې وغيره نه وي اواوبه هم نه حصاريږي لکه چه په يو کانړي ياډَګې په تخته باندې غسل کولې شي ياهغه ځائې پوخ وي نو خپې دې دَغسل نه وړاندې

---

[1] المنهاج شرح صحيح مسلم للنووي:۳/۲۲۹فتح الباري لابن رجب الحنبلي:۱۳۹/۱ فتح الباري:۴۷۷/۱.
[2] المنتقى شرح مؤطامالک لأبي الوليد الباجي:۳۹۲/۱.
[3] إرشاد الساري لشرح صحيح البخاري للقسطلاني:۴۸۷/۱.
[4] المغني لابن قدامة الحنبلي:۱۳۸/۱الإنصاف لأبي الحسن المرداوي الحنبلي:۲۵۲/۱.
[5] فتح الباري لابن رجب الحنبلي:۱۳۹/۱الإنصاف:۲۵۲/۱.
[6] البحرالرائق:۹۴/۱ الدرالمختارمع ردالمحتار:۱۱۷/۱-۱۱۶أوجزالمسالک:۴۹۸/۱.
[7] ردالمحتار مع الدرالمختار۱۱۶/۱بذل المجهود:۲۵۸/۲.
[8] المنهاج شرح صحيح مسلم للنوي:۲۲۰/۳المجموع:۱۸۲/۲تلخيص الحبير:۱۸۰/۲.
[9] المنهاج شرح صحيح مسلم للنوي:۲۲۰/۳.
[10] المغني لابن قدامة الحنبلي:۱۳۸/۱الإنصاف للمرداوي الحنبلي:۲۵۲/۱.
[11] المنتقى لأبي الوليد الباجي:۳۹۲/۱ أوجزالمسالک:۳۹۸/۱الشرح الصغير:۱۷۲/۲.
[12] ردالمحتار:۱۱۶/۱البحرالرائق:۹۴/۱البناية: ۳۱۹/۱عمدة القاري:۲۸۷/۳.
[13] ردالمحتار:۱۱۶/۱.
[14] فتح الباري لابن رجب الحنبلي:۱۳۹/۱المغني لابن قدامة الحنبلي:۱۳۸/۱الإنصاف:۲۵۲/۱.

اووينځي اوداودس تكميل دي اوكړي اوكه هلته ختې يااوبه جمع كيږي نودځپو وينځل دې روستو كړي اودَ غسل نه فراغت نه پس يوپاك ځائى ته راشى اوځپې دې اووينځى. دَ احناف اومالكيه نه يو قول داشان هم نقل دې.(۱)

دَ جنابت دَغسل دَ پوره كولونه وړاندې دَ اودس دليل: اكمال وضوء قبل الغسل يعنى دَ غسل نه وړاندې دَځپودَوينځلودَاستحباب دَقائلينو دليل دَبخارى شريف حديث الباب دې. داحضرات فرمائى چه دَحضرت عائشه رضي الله عنها اكثر رواياتوكښې «يتوضأكمايتوضأللصلاة» الفاظ راغلى دى. ظاهر حديث نه تقديم غسلِ رجلين معلوميږى ځكه چه دې نه كامل اودس مراددې په كوم كښې چه دَ ځپو وينځل هم داخل دى.(۲)

يواعتراض: په دې استدلال باندې يواعتراض دا كيږى چه دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها په اكثرو رواياتوكښې دَمانځه دَ اودس په شان دَاودس ذكردې په كوم سره چه تقديم معلوميږى دَ ځپو روستو وينځلو هيڅ ذكرنشته دې ليكن امام مسلم رحمه الله دَ ابومعاويه عن هشام په طريق سره دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه هم داشان روايت نقل كړې دې دَ دې په آخره كښې دا الفاظ دى: «ثم أفاض على سائر جسده ثم غسل رجليه» (۳)دَدې الفاظو په نقل كولو دَ هشام په شاګردانوكښې سره دَدې چه ابومعاويه متفرددې ليكن امام بيهقى رحمه الله دَده ده تفرد صحيح ګرځولې دې. (۴)

دغه شان ددې زياتى شاهدهم موجود دې. ابوداؤد طيالسى رحمه الله دَ ابوسلمه رضي الله عنه په واسطه سره دَ حضرت عائشه رضي الله عنها روايت نقل كړې دې دَدې په آخره كښې دى «فإذافرغ غسل قدميه» (۵) يعنى كله چه دَغسل جنابت نه فارغ شى نو دواړه ځپې دې اووينځى.(۶)

دَدې نور تائيددَدې نه هم كيږى چه مسنداحمدكښې دَحضرت عائشه رضي الله عنها په روايت كښې دَ تاخير غسل الرجلين صراحت دې. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذاأرادأن يغتسل من جنابة يغسل يديه ثلاثاً، ثم يأخذ بيمينه ليصب بيمينه على شماله فيغسل فرجه حتى ينقيه، ثم يغسل يده غسلاً حسناً، ثم مضمض ثلاثاً، ويستنشق ثلاثاً، ويغسل وجهه ثلاثاً، وذراعيه ثلاثاً، ثم يصب على رأسه الماء ثلاثاً، فإذاخرج غسل قدميه» (۷)

يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم چه به كله دَ جنابت دَغسل اراده كوله نودې خله به ئې خپل دواړه لاسونه وينځل، بيابه ئې په خپل ښى لاس سره اوبه اخستلې چه هغه به ګس لاس باندې واچوى، بياچه به ئې كله خپل شرمګاه وينځلو تردې چه ښه به پاك شو، بيابه حضورپاك خپل لاس په ښه شان سره وينځلو،

---

(۱) عمدة القارى:۲۸۷/۳ إرشادالسارى:۴۸۷/۱ ردالمحتار:۱۱۶/۱ البحرالرائق:۹۴/۱ شرح الزرقانى على مؤطأ مالك: ۹۰/۱ فتح البارى للعسقلانى:۴۷۷/۱.

(۲) فتح البارى للعسقلانى:۴۷۷/۱ فتح البارى لابن رجب الحنبلى:۱۳۹/۱ عمدةالقارى:۲۸۵/۳ المنتقى للباجى المالكى:۳۹۲/۱ المنهاج للنووى:۲۲۰/۳ أوجز المسالك:۴۹۸/۱ معارف السنن:۳۵۹/۱.

(۳) فتح البارى:۴۷۵/۱ أخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الحيض، باب صفة غسل الجنابة، رقم:۷۱۸ وانفرد به مسلم، انظر تحفة الأشراف، رقم:۱۶۹۰۱.

(۴) فتح البارى: ۴۷۷/۱ معارف السنن:۳۶۰/۱ فتح الملهم:۴۵/۳ انيل الأوطار للشوكانى:۲۶۴/۱.

(۵) الحديث أخرجه أبوداؤد الطيالسى فى مسنده من طريق أبى سلمة بن عبدالرحمن:۲۰۲/۲ رقم:۱۵۷۷.

(۶) فتح البارى:۴۷۷/۱ فتح الملهم:۱۴۵/۱.

(۷) انظرمسنداحمد، فى مسنده عائشة رضي الله عنها:۱۵۷/۸ رقم:۲۵۱۵۵.

بيا به نى دري خله غرغرې كولې اودرې خله به نى پوزه كښې اوبه اچولې اودرې خل به نى خپل مخ وينخلو اودرې خل خپلې متې، بيابه نى په خپل سر باندې درې خل اوبه بهيولې، بياچه به كله د «غسل» خانى نه وتلو نوخپلې دواړه خپې به نى وينخلې.

جواب: دمسنداحمد د روايت جواب د ادې لكه څنګه چه په دې كښې دتاخير صراحت راغلې دې هم دغه شان په دې كښې دحضرت عائشه رضي الله عنها نه د تقديم صراحت هم نقل دې. چنانچه شعبى رحمه الله د حضرت عائشه رضي الله عنها نه نقل كړى دى «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا اغتسل من الجنابة بدأ فتوضأ وضوءه للصلاة وغسل فرجه وقدميه، ومسح يده بالحائط ثم أفاض عليه الماء، فكأنى أرى أثر يده فى الحائط» (١)

يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم چه به كله د جنابت د غسل اراده كوله نود مانځه والا داودس په شان اودس به نى كولواوخپل شرمګاه به نى وينخلواودواړه خپې، اوبه ديوال پورې به نى خپل لاس مږلو، بيا به حضور پاك په خپل ځان باندې اوبه بهيولې، حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائى لكه چه زه د حضور پاك صلى الله عليه وسلم په ديوال باندې د لاس مږلو اثر وينم.

لهذا دحضرت عائشه رضي الله عنها روايت الباب اونور ددې معنې تول روايتونه په خپل ظاهر باندې محمول دى اومراد ترې نه هم تقديم غسل الرجلين دې. باقى پاتې شوه خبره دابومعاويه عن هشام والا روايت «اوابوداؤدطيالسى اومسنداحمد كښې تاخيرغسل الرجلين والاروايتونه» نوددې دوه جوابونه وركړې شوى دى. يودا چه په دې سره تفريق وضوء جواز بيانول مقصوددى يعنى په اودس كښې څه اندامونه وړاندې اوڅه دغسل كولونه پس وينځل جائزدى. دويم جواب دا وركړې شوې دې چه ابومعاويه عن هشام ياددې په شان معنى والا روايتونوكښې چه كوم «ثم غسل رجليه» په شان الفاظ راغلى دى نودې نه مراد داد‌ې «أعاد غسلهما لاستيعاب الغسل بعد أن كان غسلهما فى الوضوء» يعنى په اودس كښې دخپو وينځلونه پس د استيعاب د وجې نه دوباره دا اووينځلې. ددې توجيه نه دا «ثم يفيض على جلده كله» بيا نې په خپل تول بدن باندې اوبه اوبهيولې، موافق به شى چه ددې نه هم استيعاب غسل مقصود دې.

(٢) بيا داحضرات فرمائى چه د حضرت عائشه رضي الله عنها ضبط حديث اود طول صحبت د وجې نه ددې روايت ته دحضرت ميمونه رضي الله عنها په روايت باندې ترجيح حاصله ده. (٣)

د قائلين تاخيردليل: دغسل جنابت نه وړاندې په اودس كښې د خپو نه وينځل اوداد غسل نه پس روستوكولو پورې قائل حضرات وائى چه د حضرت ميمونه رضي الله عنها په اكثرو رواياتوكښې د خپو روستو وينځلو صراحت موجوددې. حضرت ميمونه رضي الله عنها «وضوءه للصلاة» سره د غيررجلين زياتوالې هم نقل كړې دې او په روايت كښې ددې خبرې صراحت هم موجوددې چه حضورپاك دغسل نه فارغيدونه پس يوطرف ته كيدوسره خپې مباركې وينځلى دى. (٤) امام مسلم رحمه الله پخپله د حضرت عائشه رضي الله عنها د ابو معاويه عن هشام په طريق سره تاخيرغسل الرجلين نقل كړې دې. (٥)

---

(١) انظر مسندأحمد، فى مسند عائشة رضي الله عنها: ٤٦٣/٨، رقم: ٢٦٥٢٣.

(٢) اوګورئى: فتح البارى للعسقلانى: ٤٧٧/١، فتح الملهم: ١٤٥/١.

(٣) فتح الملهم: ١٤٥/١، معارف السنن: ٣٦٠/١، البناية: ٣٢٠/١.

(٤) فتح البارى: ٤٧٥/١، أخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الحيض، باب صفة غسل الجنابة، رقم: ٧١٨، وانفرد به مسلم، انظر تحفة الأشراف، رقم: ١٦٩٠١.

(٥) قدمر تخريجه آنفاً، انظر ص: ١٥٧، رقم الحاشية: ٣.

په دې روايت باندې سره دَدې چه كلام كړې شوې دې چه دَ ابومعاويه تفرددې ليكن علامه بيهقى رحمه الله داصحيح گرخولې دې. (۱)اومحدثين شراح حديث دَ ابوداؤدطيالسى دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دَدې شاهد گرخولې دې. (كماتقدم) (۲) په مسنداحمدكښې هم دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه تاخير نقل دې. په كوم سره چه دَدې نور تائيدكيږى(۳)دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه هم صراحتاً تاخيرغسل الرجلين نقل دې. (۴)

دَ تقديم والا رواياتو توجيه: دَ حضرت عائشه رضي الله عنها هغه روايتونه په كوم كښې چه «يتوضأكمايتوضأ للصلاة» په شان الفاظ نقل دى دكوم نه چه قائلين تقديم اكمال وضوء قبل الغسل باندې استدلال كوى. قائلين تاخيردَدې په جواب كښې وائى چونكه دَحضرت ميمونه رضي الله عنها په اكثرو رواياتوكښې د تاخيرصراحت راغلې دې اوپخپله دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه تاخيرهم روايت دې لهذا «يتوضأكمايتوضأ للصلاة» نه «أكثره سوي الرجلين» يعنى بغيردَ خپودَ وينخلونه به اكثراودس مراد اخستلې شى. (۵)

علامه قسطلانى رحمه الله دَعلامه كرمانى رحمه الله دا توجيه ردكړې ده هغه فرمائى چه دَ حضرت عائشه رضي الله عنها روايت مطلق او دَحضرت ميمونه رضي الله عنها روايت مقيد گرخول صحيح نه دى ځكه چه دَ اطلاق اوتقييد تعلق صفات سره دې دَ يواندام وينځلواونه وينځلوسره نه دې. (۶)بياعلامه قسطلانى رحمه الله وائى چه زياتوالې خودَحضرت عائشه رضي الله عنها په روايت كښې دې چه هغې دَغسل نه وړاندې په اودس كښې خپې وينځل نقل كړى دى.

لهذا دَحضرت ميمونه رضي الله عنها په روايت باندې به دَحضرت عائشه رضي الله عنها روايت ته تقديم حاصل وى.

(۷)علامه كرمانى رحمه الله دَدې دا جواب وركړې دې چه دَ محدثينو په نيزدَ ثقه دَ زياتى نه مراد الفاظ كښې زياتوالې وى اودَالفاظو زياتې دَحضرت ميمونه رضي الله عنها په روايت كښې دې دَ حضرت عائشه رضي الله عنها په روايت كښې نشته دې. (۸)حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دَحضرت عائشه رضي الله عنها روايت په مجازباندې محمول كولوسره دې نه اكثراودس مراد اخستې شى.(۹)

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دَحافظ ابن حجر رحمه الله داخبره صحيح نه ده چه دَحضرت عائشه رضي الله عنها روايت په مجاز باندې محمول كړې شي ځكه چه بغيردَ ضرورت نه دَ مجاز طرف ته نه شى تللې اودَحضرت عائشه رضي الله عنها په روايت كښې دَ مجازطرف ته دَ تللو هيڅ داعيه او سبب هم موجودنه دې. (۱۰)

---

(۱) الحديث أخرجه أبوداؤد الطيالسي في مسنده من طريق أبي سلمة بن عبدالرحمن:۲۰۲/۲رقم:۱۵۷۷.
(۲) فتح البارى:۴۷۷/۱ نيل الأوطار:۲۶۴/۱فتح الملهم:۱۴۵/۳معارف السنن:۲۶۰/۱.
(۳) مسنداحمد، مسندعائشه رضي الله عنها۱۵۷/۸رقم:۲۵۱۵۵.
(۴) فتح البارى لابن رجب الحنبلى:۱۳۹/۱.
(۵) فتح البارى:۴۷۷/۱شرح الكرمانى:۱۱۲/۳.
(۶) إرشادالسارى بشرح صحيح البخارى:۴۸۹/۱.
(۷) إرشاد السارى للقسطلانى:۴۸۹/۱شرح الكرمانى:۱۱۲/۳.
(۸) شرح الكرمانى على صحيح البخارى:۱۱۲/۳.
(۹) فتح البارى للعسقلانى:۴۷۷/۱عمدة القارى:۲۸۷/۳.
(۱۰) عمدة القارى للعينى:۲۸۷/۳.

دَغسل رجلین دَتاخیر حکمت: امام قرطبی رحمه الله فرمائی «الحکمة فی تأخیر غسل الرجلین لیحصل الافتتاح والاختتام بأعضاء الوضوء» [۱] دَ غسل جنابت نه وراندې په اودس کښې دَخپو په وینځلوکښې تاخیر کښې حکمت دادې چه غسل جنابت افتتاح اواختتام داودس په اندامونوسره وی.

دَدریم صورت توجیه: دَخپو وینځلو وراندې کول اوروستوکول دواړه برابردی که غواړی نو اول دې اووینځی اوکه غواړی نو روستودې اووینځی. په یوروایت کښې امام احمدبن حنبل رحمه الله نه هم دغه نقل دی. [۲]

صاحب مغنی علامه ابن قدامة حنبلی رحمه الله دَدې قول په توجیه کښې فرمائی چه دَخپو وینځلو وراندیوالې او روستووالی کښې دَاحادیثواختلاف په دې خبره باندې دلالت کوی چه «دلته» موضع غسل مقصودنه دې بلکه مقصودخواصل غسل«خپې» دی.«که هغه وراندې حاصل وی اوکه روستو» [۳]

دَخلورم صورت توجیه: دَاحنافو او مالکیه دَ یوروایت مطابق که چرې غاسل په داسې ځائی کښې غسل کوی چرته چه اوبه نه جمع کیږی اوختې وغیره هم نه وی نوخپې وینځل دې وراندې کړی ګنې روستودې کړی.داقول په جمع بین الروایات باندې مبنی دی دَدې قائلین فرمائی چه بعض روایاتو کښې تقدیم او بعض کښې تاخیر ذکر دې لهذا که چرې په داسې ځائی کښې غسل اوکړې شی چرته چه اوبه نه جمع کیږی یا ختې وغیره نه وی نودَخپو وینځل دې وراندې کړی لکه چه دَ حضرت عائشه رضی الله عنها په روایاتوکښې راغلی دی اوکه چرې اوبه جمع کیږی یا ختې وغیره وی نودَخپو وینځل دې روستوکړی. لهذا دَتاخیروالاتول روایتونه هم په دې صورت باندې محمول دی. [۴]

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه مجمع الماء کیدودَ وجې نه تاخیرغسل رجلین قول دَ ماء مستعمل په نجس کیدوباندې مبنی دې. [۵] دَعلامه ابن عابدین شامی رحمه الله دَ صنیع نه تقدیم غسل رجلین افضل کیدل معلومیږی. دَ پورته ذکرشوی تفصیلاتو دَ ذکرکولونه پس هغوی فرمائی چه دَ مفتی به قول مطابق چونکه ماء مستعمل طاهر یعنی پاکې وی اوبیادا چه اوبوته ترهغه وخته پورې مستعمل نه شی وئیلې ترکومې چه دَتول بدنه جدا نه شی. لهذا کله چه غسل کونکې خپل ځائی بدل کړی نوبیابه دَ اوبودمستعمل کیدو حکم لګولې شی. [۶] باقی پاتې شوه خبره دَ روایاتودَاختلاف نوعلامه ابن نجیم مصری رحمه الله فرمائی چه په روایاتوکښې دَتقدیم اوتاخیر اختلاف اولویت او غیراولویت دې نه چه دَ جواز اوعدم جواز. [۷]

حاصل داچه دَ جنابت دَغسل نه وراندې په اودس کښې خپې وینځل افضل دی البته حضورپاک به کله دَ تنظیف په توګه اودَ جواز دَ بیان دَ پاره دَدې وینځل روستوکول. [۸]

---

[۱] فتح الباری :۱/۴۷۸المنتقی:۱/۳۹۲ارشادالساری:۱/۴۸۸.

[۲] المغنی لابن قدامة الحنبلی:۱/۱۳۸الإنصاف للمرداوی:۱/۲۵۲.

[۳] المغنی لابن قدامة الحنبلی:۱/۱۳۸.

[۴] عمدة القاری:۳/۲۸۵.۲۸۷ارشادالساری:۱/۴۸۹.

[۵] البنایة شرح الهدایة للعینی:۱/۳۲۲.

[۶] ردالمحتار مع الدرالمختار:۱/۱۱۷-۱۱۶.

[۷] البحرالرائق شرح کنزالدقائق:۱/۹۴فتح الملهم:۳/۱۴۵.

[۸] الکوثرالجاری:۱/۴۰۸بذل المجهود:۲/۲۵۸.

قوله: ثم يدخل أصابعه في الماء فيخلل بها أصول الشعر: بیا به (حضورپاك) خپلې گوتې په اوبو کښې ډوبولې او په هغې سره به ئې د ویښتو په جرړوکښې خلال کولو. فیخلل بها، یعنې په خپلو گوتوسره به ئې د ویښتو خلال کولو کومې چه به ئې په اوبوکښې ډوبې کړې وې. (١)

دَ امام مسلم رحمه الله په روایت کښې «ثم یأخذ الماء، فیدخل أصابعه فی أصول الشعر» (٢) یعنې بیابه حضورپاك اوبه اخستلې اوخپلې گوتې به ئې دَ ویښتو په جرړوکښې داخلولې. امام ترمذی رحمه الله او امام نسائی رحمه الله دَ ابن عیینه رحمه الله په طریق سره روایت نقل کړې دې «ثم یشرب شعره الماء» (٣) یعنې بیابه حضورپاك خپل ویښته په اوبوسره لمدول. مقصددَ ټولو روایاتوداخودل دی چه حضورپاك به دَ ویښتو جرړې په اوبوسره لمدولې.

اصول الشعر: دَ مستملی اوحموی په روایت کښې أصول الشعر یعنې الشعر لام دَ تعریف سره راغلې دې (٤) خودکشمیهنی په روایت کښې أصول الشعر په ځائې باندې أصول شعره الفاظ راغلی دی یعنې دَخپل سرمبارك دَ ویښتو جرړوته به ئې اوبه رسولې. (٥)

دَدې تائیددَ امام بیهقی رحمه الله دَهشام عن حماد بن سلمه په روایت سره کیږی په دې کښې دی «فیخلل بها شق رأسه الأیمن، فیتبع بها أصول الشعر، ثم یفعل بشق رأسه الأیسر» (٦) یعنې حضورپاك به په خپلو لوېدو گوتوسره دَسردَ ښې طرف خلال فرمائیلو اودَویښتو جرړو پورې به ئې اوبه رسولې، بیابه ئې دَسردَ گس حصې خلال کولو. قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه بعض حضرات وائی چه دَ ټول بدن دَ ویښتو خلال به کولې شی. هغه یا خودَ أصول الشعر په عموم سره استدلال کوی یادَ بدن دَباقی حصو دَ ویښتو دَسریه ویښتوباندې قیاس کوی (٧) علامه کورانی رحمه الله فرمائی چه أصول شعره الفاظ په دې خبره باندې دلالت کوی چه دَویښتو جرړوته اوبه رسول ضروری دی (٨) دَ یوبل روایت نه هم دَدې تائید کیږی چه حضورپاك اوفرمائیل «إن تحت کل شعرة جنابة» (٩) یعنې دَهرویښته لاندې جنابت (نجاست) وی.

دَ ویښتودَ خلال حکمت اوفائده: ابن حجر رحمه الله وغیره دَتخلیل شعر حکمت اوفائده بیانولوسره فرمائی: «فائدة التخلیل إیصال الماء إلی الشعر والبشرة، ومباشرة الشعر بالید لیحصل تعمیمه بالماء، وتأنیس البشرة لئلا

---

(١) فتح الباری: ١/٤٧٦ عمدة القاری: ١/٢٨٤.

(٢) أخرجه مسلم فی صحیحه فی کتاب الحیض، باب صفة غسل الجنابة: رقم: ٧١٨.

(٣) الحدیث أخرجه الترمذی فی جامعه، فی أبواب الطهارة، باب ماجاء فی الغسل من الجنابة، رقم: ١٠٤ والنسائی فی سننه کتاب الطهارة، باب تخلیل الجنب رأسه، ولفظه: "کان یشرب رأسه" رقم: ٢٥٠.

(٤) إرشاد الساری بشرح صحیح البخاری: ١/٤٨٧ تحفة الباری: ١/٢١٩.

(٥) عمدة القاری: ٣/٢٨٥ فتح الباری: ١/٤٧٦.

(٦) أخرجه البیهقی فی السنن الکبری، کتاب الطهارة، باب تحلیل أصول الشعر بالماء وإیصاله إلی البشرة، رقم: ٨٢٥

(٧) شرح الزرقانی: ١/٩١ فتح الباری: ١/٤٧٦.

(٨) الکوثر الجاری إلی ریاض أحادیث البخاری: ١/٤٠٧.

(٩) الحدیث أخرجه أبوداؤد فی سننه فی کتاب الطهارة، باب فی الغسل من الجنابة، رقم: ٢٤٨ وابن ماجه فی سننه فی کتاب الطهارة، باب تحت کل شعرة جنابة، رقم: ٥٩٧ والترمذی فی جامعه فی أبواب الطهارة، باب ماجاء أن تحت کل شعرة جنابة، رقم: ١٠٦ وانظر جامع الأصول، النوع الأول فی کیفیة الغسل، رقم: ٥٣١٦ وتحفة الأشراف، رقم: ١٤٥٠٢.

يصيبها بالصب ما تتأذى به» (۱) دَ تخليل فائده دَ ويښتوجرړو ته او څرمن ته اوبه رسول دی دې دپاره چه په عمومی توګه باندې دَ بدن هرځائی ته اوبه اورسیږی اوڅرمن نرمه شی، اوبغیردَ خلال نه اوبه بهیولوسره دکیدونکی ممکن تکلیف نه بچاؤاوشی. امام نووی رحمه الله اوعلامه قسطلانی رحمه الله «فيدخل أصابعه في أصول الشعر» په شرح کښې فرمائی: «والحكمة في هذا تليين الشعر وترطيبه ليسهل مرور الماء عليه ويكون أبعد من الإسراف في الماء» (۲)
دَ خلال حکمت دادې چه ویښته نرم تازه اوښکلې شی دې دپاره چه په هغې باندې اوبه بهیول آسان وی اودَ اوبو په استعمال کښې دَ اسراف نه بچ شی.

دَ سردَ ویښتودَخلال حکم: حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه زرقانی رحمه الله لیکلی دی چه په غسل کښې په اتفاق سره دَ سردَ ویښتو خلال غیرواجب دې الایه چه دَ سر ویښته په څه څیزسره ترلې شوې وی یعنی ویښته اینختې وی او څه څیزسره کلك شوې وی دَ کوم په وجه چه بغیردَ تخلیل نه اوبه دَ ویښتو جرړو ته نه شی رسیدې. «نوبیابه خلال کول ضروری وی دې دپاره چه اوبه دَ ویښتو جرړو ته اورسیدې شی» (۳)

تخلیل لحیه: دَ ائمه په مینځ کښې مختلف فیه ده دَ دې وضاحت په کتاب الوضوء کښې راغلې دې.

قوله: :ثم يصب على رأسه ثلاث غرف بيديه: بیا حضورپاك په خپلو لاسونو باندې درې لپې «اوبه» په خپل سرباندې واچولې. **ثلاث غرف:** غرف دَ غین په ضمه او راء فتحه سره دَ **غرفة** جمع ده. **الغرفة** «دَ غین ضمه سره» یوه لپه اخستې شوې اوبوته وائی. او**الغَرفة** «دَغین فتحه سره» مصدرمرة دې یوځل لپه ډکولو ته وائی. (٤)

دَعلامه انورشاه کشمیری رحمه الله رائې: علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه **الغَرفة** په فتح دَغین په لوښی سره لږې اوبوته وائی او**الغُرفة** په ضمه دَ غین دَنهر نه لږې اوبه اخستوته وائی. لکه چه ارشاد باری تعالی دې ﴿إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهِ﴾ (۵) یعنی مګرڅوك چه واخلی یوه لپه په خپل لاس سره. (٦) دَ **الغُرفة** جمع **غُرُفات،غُرَفات** او **غُرْفات** دَ راء په ضمه فتحه اوسکون سره هم راځی. (۷)

دَ نسخواختلاف: علامه عینی رحمه الله وائی چه دکشمیهنی په روایت کښې «ثلاث غرف» راغلې دې. (۸) خو حافظ ابن حجر رحمه الله غرفات دَ کشمیهنی روایت ګرځولې دې. (۱) علامه قسطلانی رحمه الله وائی چه

---

(۱) اوګورئی: فتح الباری:۱/٤۷٦شرح الزرقانی علی موطأ للإمام مالك:۱/۹۱.
(۲) اوګورئی: المنهاج شرح صحيح مسلم للنووی:۳/۲۲۰،إرشادالساری بشرح صحيح البخاری:۱/٤۸۸.
(۳) فتح الباری:۱/٤۷٦شرح الزرقانی علی موطأالإمام مالك:۱/۹۱فتح الملهم بشرح صحيح الإمام مسلم:۳/۱٤٤.
(٤) الصحاح للجوهری، ص:۷۲۲لسان العرب:۱۰/٥٤مجمع بحار الأنوار:٤/۲۹فتح الباری:۱/٤۷٦عمدة القاری: ۳/۲۸٥إرشاد الساری:۱/٤۸۸.
(۵) البقرة:۲٤۹.
(٦) فیض الباری:۱/٤٥۳.
(۷) الصحاح للجوهری ص:۷۲۲لسان العرب:۱۰/٥٤مجمع بحارالأنوار:٤/۲۹.
(۸) عمدة القاری:۳/۲۸٥.

غرفات دَ اصيلى روايت دې. (۲)بهرحال دَ نسخواختلاف په خپل ځائى دلته هم لفظ غرفات راجح دې ځکه چه غرفات جمع قلت ده اوبه عام توګه دَ ثلاث عدد تميزجمع قلت راخى.(۲)

دَ لفظ غرف رومبې توجيه: البته په کومونسخوکښې چه غرف راغلې دې دَهغې يوه توجيه داده چه لفظ غرف سره ددې چه دَ جمع کثرت وزن دې ليکن دلته دا جمع دَ قلت قائم مقام ده ځکه چه کله جمع کثرت جمع قلت په ځائى او جمع قلت دَ جمع کثرت په ځائې راوړلې شى. (۳)

دويمه توجيه: ددې دويمه توجيه داده چه غرف په وزن دَ فُعل کوفيين په نيزجمع قلت دَ اوزان نه ده. هغه وائى چه دَ فعل فاء ضمه اوكسره سره دجمع قلت وزن دې لکه دالله تعالى ارشاد ﴿فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ﴾ (۵) او﴿ثَمَانِيَ حِجَجٍ﴾(۶)کښې لفظ "سور"په وزن فعل اولفظ "حجج" په وزن دَ فعل جمع قلت دَ اوزان نه ده.(۷)

دَ ثلاث غرف نه دَ شوافع تثليث فى الغسل باندې استدلال: ثلاث غرف الفاظ نه شوافع دَ«تثليث فى الغسل»په استحباب باندې استدلال کړې دې.(۸)چنانچه امام نووى رحمه الله په مسلم شريف کښې دَ جبير بن مطعم رضى الله عنه روايت «فإنى أفيض على رأسى ثلاث أكف»(۹)يعنى زه په خپل سرباندې درې لپې اوبه اچوم. په ذيل کښې ليکلى دى: "په دې حديث سره په سرباندې درې ځل دَ اوبواچولو استحباب معلوميږى په دې باندې اتفاق دې. زمونږ اصحاب (فقهاء شافعيه) په سر اوباقى دَاودس په اندامونو باندې قياس کولوسره ټول بدن دې سره ملحق کړې دې. ځکه چه په اودس کښې تخفيف دې اوباربار دَدې ضرورت پيښيږى. لهذا چه کله په اودس کښې تثليث مستحب دې نو په غسل کښې به په طريقه اولى مستحب وى. په دې مسئله کښې دَ چا په نيزڅه اختلاف زمونږ په علم کښې نشته دې بغيردَ قاضى القضاة ماوردى رحمه الله هغه وائى چه په غسل کښې تکرار مستحب نه دې دَهغه دا قول شاذ اومتروك دې."(۱۰)

---

[1] فتح البارى:۱/۴۷۶.
[2] إرشاد السارى:۱/۴۸۸.
[3] فتح البارى:۱/۴۷۶عمدة القارى:۳/۲۸۵إرشادالسارى:۱/۴۸۸.
[4] فتح البارى:۱/۴۷۶عمدة القارى:۳/۲۸۵إرشادالسارى:۱/۴۸۸.
[5] سورت هود:۱۳.
[6] سورت القصص:۲۷.
[7] عمدة القارى:۳/۲۸۵إرشادالسارى:۱/۴۸۸.
[8] فتح البارى:۱/۴۷۶إرشادالسارى:۱/۴۸۸.
[9] الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه فى كتاب الغسل باب من أفاض على رأسه ثلاثاً رقم:۲۵۴ومسلم فى صحيحه فى كتاب الحيض باب استحباب إفاضة الماء على الرأس وغيره ثلاثاً رقم:۷۴۰وأبوداؤد فى سننه فى كتاب الطهارة باب فى الغسل من الجنابة رقم:۲۳۹والنسائى فى سننه فى كتاب الطهارة باب ذكر مايكفى الجنب من إفاضة الماء على رأسه رقم:۲۵۰ وأخرجه أيضاً فيه فى كتاب الغسل والتيمم باب مايكفى الجنب من إفاضة الماء على رأسه رقم:۴۲۳وابن ماجه فى سننه فى كتاب الطهارة وسننها، باب فى الغسل من الجنابة رقم:۵۷۵انظر تحفة لأشراف رقم:۳۱۸۶.
[10] المنهاج:۳/۲۳۵-۲۳۴.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه (عدم استحباب صرف دَماوردی رحمه الله نه دې) بلکه هم دغه خبره ابو علي السنجي رحمه الله په شرح الفروع کښې ذکرکړې ده اوامام قرطبی رحمه الله هم دَدې قائل دې.(۱) په مذکوره روايت کښې تثليث ته ((باب من بدأبالحلاب أو الطيب عند الغسل)) کښې حضرت قاسم رحمه الله دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه په روايت باندې محمول کړې شوې دې دَدې مقتضٰی داده چه هريو لپه دَ سردَ مختلف طرفونونه اچولې شوې وی. (۲)

چنانچه ماوردی رحمه الله هم دا اختيارکړې دې هغه فرمائي چه دَغسل شروع دَ ښي طرف نه اوبه بهيولوسره کوئي. دَ قاسم رحمه الله دَحضرت عائشه رضي الله عنها دَ روايت دَ وجې نه، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه کله به رسول الله ﷺ دَ جنابت دَ غسل اراده کوله نو په خپلو دواړو لاسونوکښې به ئې اوبه اخستلې اودَسر مبارك دَښي طرف نه به ئې شروع کوله بيابه ئې گس طرف باندې اوبه اچولې.(۳)

دَ بخاري شريف په روايت کښې حلاب دَ راغوښتلوهم ذکر دې. دَدې تفصيلي بحث به په مذکوره باب کښې راځي. ان شاء الله. دَ احنافو په نيزهم په غسل کښې درې ځل اوبه بهيول سنت دی ليکن دا ياد ساتئ چه درې لپې اوبه اچول مسنون نه دی بلکه سنت درې ځل استيعاب سره غسل کول دی.

چنانچه ابن نجيم رحمه الله ليکلی دی ((السنة تكرار الغسلات المستوعبات لاالغرفات))(۴) يعنې تکرارسره داسې غسل کول چه پوره بدن اووينځلې شی سنت دی نه چه (درې ځل) لپې اوبه اچول. علامه زرقاني رحمه الله فرمائي چه تثليث رأس سره خاص دې. هم دغه دَ حديث (الفاظ "ثم يصب على رأسه") مدلول دې. (۵)

قوله: ثم يفيض الماء على جلده كله: بيا به حضورپاك په خپل ټول بدن مبارك باندې اوبه بهيولې. **يفيض الماء:** أفاض، يفيض، إفاضة دَ باب افعال نه دَمضارع معروف صيغه ده. ((أفاض الماء على نفسه)) په بدن باندې اوبه بهيولوته وائي. (۶)

علامه مطرزی رحمه الله وائي ((أفاض الماء: صبه بكثرة)) په کثرت سره اوبه بهيولوته وائي. (۷)علامه کوراني رحمه الله ليکلی دی چه ((الإفاضة: الصب من الأعلى بكثرة، من فاض الماء إذا سال عن جوانب الحوض))(۸) افاضه دَ

---

(۱) فتح الباري:۱/۴۷۶.

(۲) فتح الباري:۱/۴۷۶.

(۳) الحاوی الكبير:۱/۲۶۸والحديث أخرجه البخاری فی صحيحه فی كتاب الغسل باب من بدأ بالحلاب أوالطيب عندالغسل رقم:۲۵۸ومسلم فی صحيحه فی كتاب الحيض، باب صفة غسل الجنابة رقم:۷۲۵ أبوداؤد فی سننه فی كتاب الطهارة باب فی الغسل من الجنابة رقم:۲۴۰والنسائی فی سننه فی كتاب الغسل والتيمم، باب استبراء البشرة فی الغسل من الجنابة رقم:۴۲۲ انظر تحفة الأشراف رقم:۱۷۴۴۷.

(۴) البحر الرائق:۱/۴۷.

(۵) شرح الزرقاني:۱/۹۱.

(۶) اوگورئی: لسان العرب:۱۰/۳۶۶الصحاح للجوهری ص:۸۳۰النهاية لابن الأثير:۲/۴۰۴.

(۷) المغرب فی ترتيب المعرب للمطرزی:۲/۱۵۴الكوثر الجاری للكورانی:۱/۴۰۷.

پورته طرف نه په كثرت سره اوبه بهيولوته وائى. اودا «فاض الماء» نه ماخوذ دي. «فاض الماء» هغه وخت ونيلې شى كله چه په حوض كښې دَ اوبو ډكيدونه پس دَدې دَ اطرافونه بهيدل شروع شى. فاض الماء فيضاً دَسمع نه دَ اوبوچپه راتلل ډكيدوسره بهيدل اوبه كثرت سره بهيدوته وائى.(۱)

دَعلامه لكهنوى رحمه الله رائې: علامه عبدالحى لكهنوى رحمه الله دَ "دُرر" په حواله سره ليكلى دى چه «الإفاضة: الصب» يعنى دَ پورته نه اوبه راغورزولوته وائى. لهذا په غيرجارى اوبوكښې كه چرې صب نه وى نوغسل ته به مسنون نه شى ونيلې سره دَدې چه پليتى لرې شى. (اوطهارت حاصل شي) البته په بهيدلو اوبوكښې كه څوك غوپه اووهى او په اندازه دَ اودس اوغسل په هغې كښې حصارشى نوهغه دَ سنت تكميل اوكړو. (۲)

كوم حضرات چه دلك شرط نه ګرځوى هغه «يفيض الماء» نه استدلال كوى (چه يفيض صرف اوبه بهيولوته وائى نه چه مرلوته) نودَدې نه معلومه شود چه دلك ضرورى نه دې. دَ حنفيه شافعيه حنابله اوبعض مالكيه په نيز «دلك في الغسل» مستحب دې خو امام مالك رحمه الله او امام مزنى رحمه الله دا په اودس باندې قياس كولوسره واجب ګرځوى. (۴)

علامه مازرى رحمه الله وائى چه دَ جمهورو «الإفاضة» په «الإسالة» معنى كښې اخستلوسره په عدم دلك باندې استدلال كول صحيح نه دى ځكه چه «فاض» دَ «غَسَل» په معنى كښې هم راځى لهذا په غسل كښې به اختلاف باقى پاتې وى. (۵)حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى «ولايخفى مافيه» (۶)يعنى علامه مازرى رحمه الله په دې قول كښې چه كوم ضعف دې هغه دَچانه هم پټ نه دې. دَعلامه مازرى رحمه الله دَدې قول باره كښې حافظ ابن حجر رحمه الله «ولايخفى مافيه» ونيلو وجه داده چه دَ لغت دَيومعتبر كتاب نه«فاض» په معنى دَ «غَسَل» ثبوت نشته دې.(۷)

قوله: جلده: دَ جلدنه مراددلته بدن دې علامه رافعى رحمه الله وائى«وقديكنى بالجلدعن البدن» (۸) يعنى جلد ونيلو سره بدن مراد اخستې شى.

قوله: كلّه: كله دَتاكيدپه توګه راورلې شوې دې دې دَپاره چه چاته دا وهم نه وى چه دَدې نه اكثر بدن مراددې بلكه دَ كلّه تاكيد په دې خبره دلالت كوى چه رسول الله ﷺ په غسل كښې ټول بدن

---

(۱) الكوثرالجارى:۱/۴۰۷.
(۲) لسان العرب:۱۰/۳۶۶الصحاح ص:۸۳۰النهاية:۲/۴۰۴.
(۳) السعاية فى كشف مافى شرح الوقاية للإمام عبدالحى اللكهنوى:۱/۲۹۶.
(۴) اوګورئې: فتح البارى للعسقلانى:۱/۳۷۶عمدة القارى:۳/۲۸۵إرشادالسارى:۱/۴۸۸شرح الزرقانى:۱/۹۱.
(۵) اوګورئې: فتح البارى للعسقلانى:۱/۴۷۶شرح الزرقانى على موطأالإمام مالك:۱/۹۱.
(۶) فتح البارى:۱/۴۷۶.
(۷) اوګورئې: لسان العرب:۱/۳۶۶المغرب:۲/۱۵۴الصحاح ص:۸۳۰ النهاية:۲/۴۰۴.
(۸) شرح الزرقانى على موطأالإمام مالك:۱/۹۱.

مبارك اووينځلو.(١)دَ كلِه په تاكيدسره دَدې خبرې تائيدهم كيږي چه دَ غسل نه وړاندې اودس كول مستقل سنت دى اوپه دې سره دَ اودس پوره كول وړاندې دَغسل په استحباب باندې هم استدلال اوكړې شو چه غسل نه وړاندې په اودس كښې خپې اووينځلې شى روستودې نه كړې شى لكه چه «كمايتوضأللصلوة» دَ الفاظو نه ښكاره كيږى. (٢)

فائده: په حديث باب كښې دَ «كان إذا اغتسل» نه اراده دَغسل مراد ده او «من الجنابة» كښې "من" دَ سببيت دَپاره دې. يعنى «لأجل الجنابة» دَ جنابت دَ وجې نه. (٣)

په حديث مبارك كښې "بدأ"، "فغسل" او "ثم توضأ" دَماضى په صيغه سره راوړل او "يدخل"، "فيخلل"، "يصب" او "يفيض" دَ مضارع راوړلوكښې نكته داده چه كه چرې "إذا" شرطيه اومنلې شى نوماضى به دَمستقبل په معنى كيږى لهذا ټول به دَمستقبل په معنى كښې وى. باقى پاتې شوه خبره دَ الفاظو دَ اختلاف نوهغه دَدې خبرې طرف ته دَ اشارې كولودَپاره راوړلې شو چه په دې كښې كوم افعال غسل كښې داخل دى اوكوم خارج دى. لهذا دَماضى والا دريواړه افعال دَغسل نه خارج او مضارع والا افعال دَ غسل نه دى.(٤)كه چرې "إذا" ظرفيه اومنلې شى نو ماضى خو به په خپل اصل وى اودَ مضارع والوصيغوكښې دَاصل نه دَمستقبل طرف ته عدول په دې وجه كړې شوې دې چه سامعين ته دَ غسل دَ صورت استحضار اوشى.(٥)

دَحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دَحديث شريف ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې چه په حديث كښې هم دَ غسل جنابت نه وړاندې دَ اودس كولو صراحت موجوددې.

دَحديث نه مستنبط شوى احكام: ① دَ اودس شروع كولو نه وړاندې دَلاسونو وينځل مستحب دى. (كه چرې څه پليتى نه وى لګيدلې نو ګنى دَ لاسونو وينځل به واجب وى)(٦). ② دَغسل نه وړاندې اودس كول سنت دى.(٧) ③ دَغسل نه وړاندې دَ اودس پوره والې اوكړى خپې وينځل دې روستوكوى نه. (٨)④ دَ سرويښتوكښې خلال اودَ ږيرې ويښتوكښې خلال په غسل كښې واجب دې اوپه اودس

---

(١)اوګورئى:فتحالبارى:١/٤٧٦عمدةالقارى:٣/٢٨٥إرشادالسارى:١/٤٨٨شرحالزرقانى:١/٩١الكوثرالجارى: ١/٤٠٧.

(٢)اوګورئى:فتح البارى:١/٤٧٦عمدة القارى:٣/٢٨٥إرشادالسارى:١/٤٨٨شرح الزرقانى :١/٩١الكوثرالجارى: ١/٤٠٧.

(٣) فتح البارى:١/٤٧٥عمدة القارى:٣/٢٨٤إرشادالسارى:١/٤٨٧.

(٤) شرح الكرمانى على صحيح البخارى:١/١١٢-١١١عمدة القارى:٣/٢٨٤تحفة البارى:١/٢١٩-٢١٨.

(٥) اوګورئى: فتح البارى:١/٤٧٦عمدة القارى:٣/٢٨٤شرح الكرمانى:١/١١٢.

(٦) عمدة القارى:٣/٢٨٥شرح الكرمانى على صحيح البخارى:١/١١٢تحفة البارى:١/٢١٩

(٧) عمدة القارى:٣/٢٨٥فتح البارى على صحيح البخارى:١/٤٧٥شرح ابن بطال:١/٣٧٩٩إرشادالسارى:١/٤٨٨.

(٨) فتح البارى:١/٤٧٦عمدةالقارى:٣/٢٨٥.

كنبې سنت دي. (1)⑤ په خپل لاس باندې درې لپې اوبه په خپل سر باندې اچول مستحب دي. (2)⑥ دَ جنابت په غسل كنبې گوتې په اوبو كنبې داخلول جائزدي. (3)

الحديث الثالث

۲۳۹ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الجَعْدِ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: «تَوَضَّأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُضُوءَهُ لِلصَّلاَةِ، غَيْرَ رِجْلَيْهِ، وَغَسَلَ فَرْجَهُ وَمَا أَصَابَهُ مِنَ الأَذَى، ثُمَّ أَفَاضَ عَلَيْهِ المَاءَ، ثُمَّ نَحَّى رِجْلَيْهِ، فَغَسَلَهُمَا، هَذِهِ غُسْلُهُ مِنَ الجَنَابَةِ» [حديث باب ۲۵۷، ۲۵۴، ۲۵۲، ۲۲۲، ۲۲۳، ۲۷۰، ۲۷۲، ۲۷۷] (4)

ترجمه: مونږ ته محمدبن يوسف بيان اوکړو چه اووئيل مونږ ته سفيان (ثوري) هغه دَاعمش نه هغه دَ سالم بن ابي الجعد نه هغه دکريب نه اوهغه دَ ابن عباس ﷺ نه هغوى دَ حضرت ميمونه ﷺ نه چه حرم محترم وه دَ حضورپاك ﷺ هغې اووئيل رسول الله ﷺ (دَ غسل جنابت نه وړاندې) دَ مانځه په شان اودس اوکړو صرف خپې ئې اونه وينځلې اوخپل شرمگاه ئې اووينځلو اوکوم گندگى چه لگيدلې وه (هغه ئې وينځله) بيائې په خپل ځان باندې اوبه اوبهيولې بيائې دواړه خپې اوځنډلې هغه ئې وينځلې (سالم اووئيل) دَ حضورپاك دَ جنابت غسل هم دغه وو.

تراجم رجال:

---

(1) عمدة القاري:۲۸۵/۳ إرشادالساري:۴۸۸/۱.

(2) شرح الكرماني:۱۱۲/۱ تحفة الباري:۲۱۹/۱.

(3) عمدة القاري:۲۸۶/۳ شرح الكرماني:۱۱۲/۱.

(4) الحديث أخرجه البخاري في صحيحه أيضاً في كتاب الغسل باب الغسل مرة، رقم: ۲۵۷، وأخرجه أيضاً في الكتاب نفسه، في باب المضمضة والاستنشاق في الجنابة رقم:۲۵۹ بنحوه، وفيه أيضاً، باب مسح اليد بالتراب لتكون أنقى رقم:۲۶۰ وفيه أيضاً، باب تفريق الوضوء والغسل رقم:۲۶۵، بنحوه مختصراً، وفيه أيضاً باب من أفرغ بيمينه على شماله في الغسل رقم:۲۶۶ بنحوه وفيه أيضاً باب من توضأ في الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد غسل مواضع الوضوء منه مرة أخرى رقم: ۲۷۴، بنحوه، وفيه أيضاً باب نفض اليدين من الغسل عن الجنابة رقم:۲۷۶، وفيه أيضاً في باب التستر في الغسل عند الناس رقم:۲۸۱، مختصراً نحوه وفيه أيضاً، باب الغسل بالصاع ونحوه رقم:۲۵۳، وأخرجه مسلم في صحيحه في كتاب الحيض، باب تستر المغتسل بثوب ونحوه، رقم: ۷۶۴، مختصراً، وفيه أيضاً باب صفة غسل الجنابة رقم: ۷۲۲، وأخرجه أبوداؤد في سننه مطولاً في كتاب الطهارة باب في الغسل من الجنابة، رقم: ۲۴۵، وأخرجه الترمذي في جامعه في كتاب الطهارة باب ماجاء في الغسل من الجنابة، بنحوه مختصراً، وقال هذا حديث حسن صحيح رقم: ۱۰۳، وأخرجه النسائي في سننه في كتاب الطهارة باب غسل الرجلين في غيرالمكان الذي يغتسل فيه رقم:۲۵۳، وأيضاً في كتاب الغسل والتيمم باب إزالة الجنب الأذى عنه قبل إفاضة الماء عليه بنحوه، مختصراً، رقم: ۴۱۸، أيضاً في الكتاب نفسه، باب مسح اليدبالأرض بعدغسل الفرج:۴۱۹، وفيه أيضاً باب الاستتار عندالغسل، مختصراً رقم:۴۰۶، وفيه أيضاً باب الغسل مرة واحدة رقم: ۴۲۸ وأخرجه ابن ماجه في سننه في كتاب الطهارة وسننها، باب المنديل بعد الوضوء وبعد الغسل، مختصراً رقم:۴۶۷، انظرجامع الأصول رقم:۵۳۲۱ وتحفة الأشراف رقم:۱۸۰۶۴.

محمدبن يوسف: دامحمدبن يوسف فريابى رحمه الله دي. دَدوى تفصيلى حالات «كتاب العلم باب ماكان النبى صلى الله عليه وسلم يتخولهم بالموعظة والعلم كى لاينفروا» لاندې تيرشوى دى. (١)

سفيان: دامشهورامام محمدث سفيان بن سعيدثورى رحمه الله دي. دَدوى حالات «كتاب الايمان باب علامة المنافق» لاندې بيان كړې شوى دى. (٢)

الاعمش: دامشهورمحدث سليمان بن مهران الاعمش رحمه الله دي. دَدوى حالات «كتاب الايمان باب ظلم دون ظلم» لاندې تيرشوى دى. (٣)

سالم بن ابي الجعد: داسالم بن ابى الجعد كوفى رحمه الله دي. دَدوى حالات «كتاب الوضوء باب التسمية على كل حال، عندالوقاع» لاندې تيرشوى دى. (٤)

كُريب: داكريب بن ابى مسلم قرشى دي. دَدوى حالات «كتاب الضوء باب التخفيف فى الوضوء» لاندې تيرشوى دى. (٥)

ابن عباس رضي الله عنه: دادَحضورپاك دَ تره خوئى عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دي. دَدوى تفصيلى حالات «بدءالوحى باب كيف كان بدءالوحى إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، الحديث الرابع» لاندې تيرشوى دى. (٦)

ميمونة رضي الله عنها: دادَ حضورپاك زوجه مطهره ام المؤمنين حضرت ميمونه بنت الحارث رضي الله عنها ده. دَدې حالات «كتاب العلم باب السمر فى العلم» دَويم حديث لاندې تيرشوى دى. (٧)

شرح حديث

قوله: : **توضـأ رسول الله صلى الله عليه وسلم وضوءه للصلاة غيررجليه**: رسول الله صلى الله عليه وسلم (دَغسل جنابت نه وړاندې) دَ مانځه والا دَ اودس په شان اودس كړې دي. صرف خپې اونه وينځلې.

قوله: : **غيررجليه**: دَحضرت ميمونه رضي الله عنها په الفاظوكښې دَغسل جنابت په اودس كښې دَ خپو دَ وينځلو دَ روستوكولو صراحت دې اوداد حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت كړې شوې دَتيرشوى روايت مخالف هم دې. (٨)

دَعلامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله توجيه: حضرت مولاناعلامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله دَحضرت عائشه رضي الله عنها اودَحضرت ميمونه رضي الله عنها دَ روايتونو توجيه بيانولوسره ليكى: "دَدې ترجمه په ذيل كښې امام

---

(١) اوګورئی: كشف البارى:٣/٢٥٤-٢٥٢
(٢) اوګورئی كشف البارى:٢/٢٧٨.
(٣) اوګورئی: كشف البارى:٢/٢٥١.
(٤) صحيح البخارى كتاب الوضوء باب التسمية على كل حال، وعندالوقاع.
(٥) صحيح بخارى كتاب الضوء باب التخفيف فى الوضوء.
(٦) اوګورئی: كشف البارى:١/٤٣٧-٤٣٥.
(٧) اوګورئی كشف البارى:٤/٤٢٢-٤٠٢.
(٨) فتح البارى:١/٤٧٧عمدة القارى:٣/٢٨٧.

بخاری رحمه الله دوه روایتونه نقل کړدي دی دحضرت عائشه رضي الله عنها په روایت کښې دخپو د وینځلو جدا ذکرنشه دي اودحضرت میمونه رضي الله عنها په روایت کښې د خپود وینځلوجدا تذکره موجودده چه حضورپاك دغسل نه فارغ کیدونه پس خپې د هغه ځائی نه اخواکیدوسره او وئی وینځلې. حضرات فقهاء ددې دواړو روایتونود صحت د وجې نه دا په جدا جدا صورتونوباندې محمول کوی. کله دا صورت وی چرته چه غسل کولې شي هلته داستعمال شوی اوبود وتلو لار وی، په داسې صورت کښې به خپې اودس سره وینځلې شي اوکله دغسل په مقام کښې د استعمال شوې اوبو د وتو لار نه وی اواوبه هم هلته جمع کیږی. په داسې صورت کښې به خپې د غسل نه پس هم وینځلې شی. د دوو جدا صورتونو د روایت د وجې نه دامعلومیږی چه دحضرت عائشه رضي الله عنها په کورکښې به د اوبو د وتلو لار وی په دې وجه حضورپاك خپې وینځل روستونه کړې اود حضرت میمونه رضي الله عنها کره دغسل په مقام کښې د اوبووتلو لار نه وه په دې وجه حضورپاك خپلې خپې دهغه ځائی نه اخوا کیدوسره اووینځلې.(۱)

قوله: وغسل فرجه وما أصابه من الأذى: اوحضورپاك خپل شرمګاه اووینځلو اوکومه ګندګي چه لګیدلې وه (هغه ئې اووینځله). **وغسل فرجه:** وغسل فرجه کښې واو دترتیب دپاره دې یانه دې یاد بل څه معنې دپاره مستعمل دې په دې باره کښې شراح حدیث مختلف توجیهات بیان کړی دی.

اعتراض: علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه که څوك دا اووائی چه د شرمګاه وینځل خود اودس نه وړاندې وی نو بیا په حدیث کښې اودس ولې مقدم کړې شوې دې؟

دعلامه کرمانی رحمه الله توجیهات: ددې اعتراض علامه کرمانی رحمه الله درې جوابونه ورکړی دی: ① د اودس د شرمګاه په وینځلوباندې مقدم کول واجب نه دی په دې وجه تقدیم اوتاخیر واقع کیږی. ② یادلته واؤ دترتیب دپاره نه دې (لهذا په دې سره شرمګاه وینځلوتاخیر لازم نه راځي) ③ یا واؤ حالیه دې(یعنی د مانځه والا د اودس په شان اودس ئې اوکړو په داسې حال کښې چه شرمګاه ئې اووینځلو) (۲)

دعلامه عینی رحمه الله په علامه کرمانی رحمه الله باندې نقد: علامه عینی رحمه الله دعلامه کرمانی رحمه الله په دریواړو توجیهاتو باندې نقدکړې دې. هغه فرمائي چه هغه دا څنګه اووئیل چه د شرمګاه وینځل مقدم کول واجب نه دی. (حالانکه واجب دی) دهغه ددې قول هیڅ حیثیت نشته دې. (۳)

اودهغه دا وینا چه دلته واؤ ترتیب دپاره نه دې دا تعسف دې (بې ځایه خبره) ده. داپخپله دهغه خلاف یودلیل دې ځکه چه دهغوی په نیزخو واؤ اصل کښې د ترتیب دپاره راځي. حالانکه یومحقق هم ددې قائل نه دې. (۴)

د علامه کرمانی رحمه الله واؤ حالیه ګرځول هم صحیح نه دی ددې هیڅ صحیح توجیه هم نه شی کیدې ځکه چه حضورپاك شرمګاه وینځلوسره به څنګه اودس کړې وی؟(۱)

---

۱) فضل الباری:۲/۴۲۶.

۲) اوګورئی: شرح الکرمانی علی صحیح البخاری:۱/۱۱۲عمدة القاری:۳/۲۸۷ إرشادالساری للقسطلانی:۱/۴۸۹.

۳) عمدة القاری:۳/۲۸۷.

۴) عمدة القاری:۳/۲۸۷.

دَعلامه عینی رحمه الله توجیه: علامه عینی رحمه الله دَ واؤ باره کښې دا توجیه بیان کړې ده صحیح خبره داده چه واؤ دَاصل وضع په اعتبارسره مطلق دَ جمع دَپاره راځي نودَحدیث معنی دا شوه چه حضورپاك ﷺ اودس اوشرمګاه وینځلوعمل جمع کړې. (۱)بیا واؤ مطلق دَ جمع دَپاره کیدل دا سره دَدې چه علی التعیین دَ یوعمل په بل عمل باندې دَتقدیم مقتضی نه دې. لیکن په دویم روایت کښې دَدې صراحت راغلې دې چه حضورپاك اول شرمګاه اووینځلو بیائی اودس اوکړو لکه چه امام بخاری رحمه الله پخپله «باب التستر فی الغسل عند الناس» کښې عبدالله ابن المبارك عن الثوری په طریق سره نقل کړې دې. په دې کښې اول لاسونه وینځل بیاشرمګاه وینځل او په دیوال باندې لاس مږل اوصفاکول اوبیا دَاودس کولوسوادَ خپو وینځل نقل دی. (۳)

چنانچه حضرت میمونه رضی الله عنها فرمائی: «سترتُ النبی صلی الله علیه وسلم وهویغتسل من الجنابة، فغسل یدیه، ثم صبّ بیمینه علی شماله، فغسل فرجه وما أصابه، ثم مسح بیده علی الحائط، أوالأرض، ثم توضأ وضوءه للصلاة غیر رجلیه ثم أفاض الماء علی جسده، ثم تنحی، فغسل قدمیه» (۴)

یعنی کوم وخت چه نبی کریم ﷺ دَ جنابت غسل کولو نومادَهغوی پرده کړې وه. حضورپاك خپل لاسونه اووینځل بیائی په ښی لاس سره په ګس باندې اوبه اوبهیولې اوشرمګاه ئی اووینځلو، اوڅه چه په هغې باندې لګیدلې وو هغه ئی اووینځل، بیاځپل لاس په زمکه یا په دیوال باندې مږلوسره اووینځلو، بیادَمانځه دَ اودس په شان اودس اوکړو دَخپو نه علاوه، بیائی اوبه په خپل بدن باندې اوبهیولې بیا دَهغه ځائی نه اخوا شو او خپلې خپې ئی اووینځلې.

په دې روایت کښې تول ا فعال په "ثم" سره بیان کړې شوی دی کوم چه په ترتیب باندې دلالت کوی. بیا چونکه بعض احادیث دَ بعض نورو وضاحت کوی (لهذا دَدې روایت دَ وجې نه «ثم غسل فرجه» باره کښې به داسې وئیلې شی چه دلته مطلق اودس او شرمګاه وینځل دواړه راجمع کړې شوی دی حلانکه دَترتیب مطابق دَ شرمګاه وینځل مقدم دی. (۵)

قوله: :فرجه: دلته دَ فرج نه مراد عضومخصوص (اندام مخصوصه) دې علامه کرمانی رحمه الله فرمائی «هذا دلیل صحیح علی صحة إطلاق الفرج علی الذکر» (۶)

الاذی: الأذی نه «المستقذر الطاهر» پاك خیری وغیره مراددی.(۷) علامه عینی رحمه الله دَ بعض خلقو داقول چه «وما أصابه من الأذی» نه نجاست مرادنه دی، دائی مکابره ګرځولې ده. (۸)

---

۱) عمدة القاری:۲۸۷/۳.

۲) عمدة القاری:۲۸۷/۳.

۳) عمدة القاری:۲۸۷/۳ فتح الباری للعسقلانی:۴۷۸/۱ إرشادالساری: للقسطلانی:۴۸۹/۱.

۴) رقم الحدیث:۲۸۱وقد مرتخریجه بالتفصیل، انظرص:۱۷۴، حاشیة رقم:۷.

۵) عمدة القاری:۲۸۷/۳إرشادالساری:۴۸۹/۱فتح الباری:۴۷۸/۱.

۶) شرح الکرمانی:۱۱۲/۱عمدة القاری:۲۸۷/۳تحفة الباری:۲۱۹/۱.

۷) عمدة القاری:۲۸۷/۳شرح الکرمانی:۱۱۳/۱.

۸) عمدة القاری:۲۸۷/۳.

قوله:: ثم أفاض عليه الماء ثم نحى رجليه فغسلهما: بيا حضورپاك په خپل خان باندې اوبه اوبهيولې بيا دَهغه خائ نه اخوا شو خپې ئې اووينځلې.
دَ تيرشوى حديث په تشريح كښې داخبره تيره شوې ده چه دَدې افاضه ماء نه مراد استيعاب غسل دې اوخپې روستو كولوسره بيا دَهغه خائ نه اخواكيدل او وينځلوتوجيهات هم بيان كړې شوى دى.

قوله:: هذه غسله من الجنابة: هم دغه دَ نبى كريم ﷺ دَ جنابت غسل وو. **هذه غسله**: هذه اسم اشاره دَ تانيث دپاره راوړلې شوې ده مشار اليه، الأفعال المذكوره دى. يعنى افعال مذكوره دَ حضورپاك دَ جنابت دَغسل صورت دې. (١)

يا «**هذه صفة غسله**» تقدير دې يعنى مضاف محذوف دې. مطلب دا شوه چه دادَ رسول الله ﷺ دَ غسل جنابت صفت اوطريقه ده. دا دَ ابن عساكر رحمه الله توجيه ده. (٢)

دَ كشميهنى رحمه الله په روايت كښې «**هذا غسله**» دې اسم اشاره دَ پاره دَ مذكرراوړلې شوې دَخبرمذكركيدودَ وجې نه يعنى دادَ حضورپاك غسل جنابت دې. (٣)

هذه غسله دَچاقول دې؟: «**هذه غسله من الجنابة**» دادَ حضرت ميمونه رضي الله عنها الفاظ نه دى بلكه دَ سالم بن ابى الجعد دَ طرف نه ادراج دې لكه چه محدث اسماعيلى رحمه الله دَدې طرف ته اشاره كړې ده. خوزائده بن قدامه رحمه الله دَ اعمش رحمه الله نه په خپل روايت كښې دابيان كړې دې چه دادَ سالم بن ابى الجعدقول دې. (٤)

دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت: دَحديث ترجمة الباب سره مناسبت ښكاره دې چه په حديث كښې صراحتًا دَ وضوء قبل الغسل تذكره موجود ده.

دَحديث نه مستنبط شوې احكام: ① دَغسل جنابت نه وړاندې شرمگاه وينځل. ② كه په شرمگاه باندې څه نجاست لگيدلې وى نوهغه ختمول. ③ دَ غسل جنابت نه وړاندې په اودس كښې دَ خپو وينځل روستوكول. ④ دَغسل نه پس خپې وينځل. (٥)

امام بخارى رحمه الله دَ حضرت ميمونه رضي الله عنها داروايت په كتاب الغسل كښې اته ځايونوكښې روايت كړې دې اودَدې نه ئې مختلف مسائل جدا جدا ثابت كړى دى. دلته دَدې روايت نه ئې «**وضوء قبل الغسل**» ثابت كړې دې. والله اعلم بالصواب.

---

(١) شرح الكرمانى:١/١١٣فتح البارى: ١/٤٧٨عمدة القارى:٣/٢٨٨.

(٢) إرشادالسارى:١/٤٨٩فتح البارى:١/٤٧٨.

(٣) فتح البارى:١/٤٧٨عمدة القارى:٣/٢٨٧شرح الكرمانى:١/١١٣إرشاد السارى:١/٤٨٩تحفة البارى:١/٢١٩.

(٤) فتح البارى للعسقلانى:١/٤٧٨عمدة القارى للعينى:٣/٢٨٨فتح البارى لابن رجب الحنبلى:١/١٤١.

(٥) فتح البارى:١/٤٧٨عمدة القارى:٣/٢٨٨.

۲- باب: غُسْلِ الرَّجُلِ مَعَ امْرَأَتِهِ

دَ سړي خپلې ښځې سره (په يولوښي سره) غسل کول

دَترجمة الباب مقصد: دَامام بخاري رحمه الله دَ دې ترجمه نه دَ غرض اومقصد ډېر احتمالات دي. علامه عيني رحمه الله علامه قسطلاني رحمه الله او شيخ الاسلام زکريا انصاري رحمه الله دَ رائې مطابق امام بخاري رحمه الله په دې باب سره دَسړي اوښځې په يولوښي سره دَ غسل حکم بيانوي. (۱)

دَحضرت شاه ولي الله رحمه الله رائې: حضرت شاه ولي الله رحمه الله فرمائي «أي أنه جائز وفيه خلاف البعض» (۲)يعني دَعلماؤ په دې خبره کښې اختلاف دې چه دَ سړي خپلې ښځې سره غسل کول جائزدي که نه؟ نو امام بخاري رحمه الله دَ عدم جوازقائلينوباندې رد فرمائي. دَهغوي مقصد په دې ترجمة الباب سره دَدې جواز بيانول دي. دَ مولانا محمدادريس کاندهلوي رحمه الله هم دغه رائې ده چه دَترجمة الباب مقصد داخودل دي چه دَ ښځې اوسړي په يولوښي سره په يوځائې غسل کول جائزدي. (۳)

يواشکال: دَ سړي اوښځې په يوځائې په يولوښي باندې طهارت حاصلولوتوجيه باندې دااشکال کيږي چه امام بخاري رحمه الله دامسئله «باب وضوء الرجل مع امرأته» کښې بيان کړې ده بيادلته دوباره دَدې دَ ذکرکولوڅه ضرورت دې؟

جواب: دَدې جواب دادې چه امام بخاري رحمه الله په کتاب الوضوء کښې په يولوښي سره اودس کول ثابت کړي وو. اوس دلته دَ سړي اوښځې په يولوښي سره غسل کول ثابتوي. (نولکه چه هلته ئې طهارت صغرئ کښې اشتراک بيان کړې وو نودلته طهارت کبرئ کښې اشتراک بيانول مقصوددي.) (۴)

دَ سړي اوښځې په يوځائې باندې غسل کولودَبيانولو وجه: دَدې بيانولو ضرورت غالباً ځکه پېښ شو چه ابن ابي شيبه رحمه الله دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه نقل کړې دي «أنه نهى أن تغتسل المرأة والرجل من إناء واحد» (۵)يعني هغوي په يولوښي سره دَ سړي اوښځې لامبل منع کړې دي.

دَدې حديث سندسره دَدې چه صحيح دې ليکن امام بزار رحمه الله په سندحسن سره دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه دَدې جواز نقل کړې دې. چنانچه(کشف الأستار)کښې دي «أن النبي صلى الله عليه وسلم كان هووأهله أوبعض أهله يغتسلون من إناء واحد» (۶)يعني نبي کريم صلى الله عليه وسلم اودَهغوي کوروالا يابعض کور والا (ازواج مطهرات) به دَ يولوښي نه غسل کولو.

---

(۱) عمدة القاري:۳/۲۹۰ إرشادالساري:۱/۴۸۹ تحفة الباري:۱/۲۱۹.

(۲) رسالة شرح تراجم أبواب صحيح البخاري للإمام الشاه ولي الله الدهلوي ص:۱۸،الأبواب والتراجم لصحيح البخاري لشيخ الحديث محمدزكريا الكاندهلوي ص:۶۰ الكنزالمتواري:۳/۱۹۰.

(۳) الأبواب والتراجم للشيخ محمدإدريس الكاندهلوي ص:۲۵۷.

(۴) اوګورئ:فضل الباري:۲/۴۲۶.

(۵) الحديث أخرجه ابن أبي شيبه في المصنف، كتاب الطهارة باب من كره ذلك: ۱/۳۶۱رقم الحديث: ۳۸۶.

(۶) كشف الأستار كتاب الطهارة باب اغتسال الرجال والنساء من إناء واحد:۱/۱۶۴رقم الحديث:۳۲۴،المصنف لابن أبي شيبه مع تحقيق الشيخ محمدعوامه حفظه الله:۱/۳۶۲-۳۶۱.

دَ دې روايت دَ رواتو توثيق: علامه هيثمي رحمه الله فرمائي «رواه البزار ورجاله ثقات» [1]يعني بزار رحمه الله دَدې حديث روايت كړې اوددې ټول راويان ثقه دی. دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه نقل شوې دَ جواز والا روايت تائيددَ نورو هم ډيرو احاديثو او آثارنه كيږي. «كما قاله الشيخ محمد عوامه حفظه الله في تعليقاته على المصنف» [2] علامه طحاوي رحمه الله علامه قرطبي رحمه الله اوامام نووي رحمه الله دَ سړي اوښځې په يولوښي باندې غسل كولوپه جواز باندې اتفاق نقل كړې دې. [3]علامه عيني رحمه الله دَ نهه صحابه كرامو رضي الله عنهم نه ددې جواز نقل كړې دې په كوم كښې چه حضرت علي بن ابي طالب، حضرت ابن عباس، حضرت جابر، حضرت انس، حضرت ابوهريره، حضرت عائشه صديقه، حضرت ام سلمه، حضرت ام هاني اوحضرت ميمونه رضي الله عنهن شامل دی. [4]دَمذكوره بحث دَ تفصيل دَپاره كتاب الوضوء باب وضوء الرجل مع امرأته وفضل وضوء المرأة اوګورئ.

دَ بعضې حضراتو توجيه: بعض حضراتودَ ترجمة الباب مقصد داخودلې دې چه امام بخاري رحمه الله په كتاب الوضوء كښې وضوء من فضل المرأة ثابت كړې وو. دلته غسل من فضل المرأة ثابتوي ځكه چه كله هغوی په يوځائې غسل كوی نوچه كوم وخت يوكس اوبه اخلي نوهغه اوبه به دَ بل دَ پاره فضل جوړيږي. [5]

دَ بعض حضراتو په توجيه باندې يونظر: يوبعيدتوجيه داده ځكه چه دلته دَ فضل المرأة هيڅ تصريح نشته دې الايه چه څوك په زبردستئي سره دا ثابته كړی چه كله سړې اوښځه په يوځائې غسل كوی نو بهرحال دواړه به په يوځائې اوبوكښې لاس نه وهي كله به دَ يولاس وړاندې كيږی اوكله دَ بل. اوس كه دَ ښځې لاس اول پريوتلو نواوبه به فضل مرأة جوړې شي. دَدې قسم تكلفات ضرورت به هغه وخت وی كله چه بله څه صحيح توجيه ممكن نه وی. والله اعلم.

دَ شيخ الحديث حضرت مولانامحمدزكريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث حضرت مولانا محمدزكريا كاندهلوي رحمه الله فرمائي «والأوجه أن المصنف أشار بذلك إلى جواز نظر المرأة إلى عورة زوجها وعكسه» [6]اوجه داده چه دَامام بخاري رحمه الله مقصد ترجمة الباب نه دَ سړي اوښځې دَ يوبل شرمګاه كتلو جواز بيانول دی.

دَزوجين دَ يوبل شرمګاه كتل: دَ زوجين په يوځائې په غسل كولوكښې داخبره بعيده ده چه دَ يونظر دَ بل په شرمګاه باندې پرينوځي. حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري كښې نقل كړی دی چه داؤدی دَ حديث باب نه دَ زوجين دَ يوبل شرمګاه ته دَكتلو په جواز باندې استدلال كړې دې. [7]

دَدې تائيددَ ابن حبان رحمه الله دَ روايت نه هم كيږی چنانچه ابن حبان رحمه الله فرمائي: «حدثنا محمد بن شعبة قال حدثني عتبة بن أبي حكيم أنه سأل سليمان بن موسى عن الرجل ينظر إلى فرج امرأته، فقال: سألت عنها عائشة

---

[1]) مجمع الزوائد:۱/۲۷۳كشف الأستار:۱/۱٦٤.

[2]) المصنف لابن أبي شيبة مع تحقيق الشيخ محمدعوامه حفظه الله:۱/۳٦۲.

[3]) فتح الباري:۱/۳۹۷عمدة القاري:۳/۱۲٦المنهاج للنووي:۳/۲۲۷.

[4]) عمدة القاري:۳/۱۲٦.

[5]) الأبواب والتراجم لصحيح البخاري ص:٦۰الكنزالمتواري:۳/۱۹۰.

[6]) الأبواب والتراجم لصحيح البخاري ص:٦۰الكنزالمتواري:۳/۱۹۰.

[7]) اوګورئ: فتح الباري:۱/٤۸۰.

فقالت: كنت أغتسل أنا وحبى صلى الله عليه وسلم من الإناء الواحد تختلف فيه أكفنا، وأشارت إلى إناء فى البهته قدر ستة أقساط» (۱).

یعنی محمدبن شعیب رحمه الله وائی چه ماته ابوحکیم رحمه الله اووئیل چه ماد سلیمان بن موسیٰ رحمه الله نه دسرې د ښځې شرمګاه ته دکتلو متعلق تپوس اوکړو نوهغوی اووئیل چه ماد عطاء رحمه الله نه پوښتنه اوکړه هغه اووئیل چه ماد حضرت عائشه رضی الله عنها نه ددې باره کښې تپوس اوکړو نوهغې اوفرمائیل چه ما او زما محبوب صلی الله علیه وسلم به په یولوښي غسل کولو دکوم نه چه به مونږ وار په وار اوبه اخستلې او په کورکښې موجود د شپږ قسط په اندازه د یولوښي طرف ته ئې اشاره اوفرمائیله.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه داحدیث په مذکوره مسئله کښې دنص حیثیت لرې.(۲) د ابن حبان رحمه الله د روایت نه دامعلومه شوه چه سړې او ښځه د یوبل شرمګاه ته کتلې شي.

په مذکوره استدلال باندې یواشکال: په دې استدلال باندې دا اشکال کیدې شي چه دابن ماجه او شمائل ترمذی په روایت کښې پخپله دحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه ددې خلاف روایت دې. چنانچه هغه فرمائی «ما نظرته أوقالت: مارأيت فرج رسول الله صلى الله عليه وسلم» (۳)یعنی کله هم زما نظر دحضورپاك په شرمګاه باندې نه دې پریوتې. په یوبل روایت کښې دی «مارأيت من رسول الله صلى الله عليه وسلم ولارأى مني» (۴) یعنی نه ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم شرمګاه لیدلې نه هغوی زما.

د شیخ الحدیث مولانازکریا رحمه الله جواب: شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله ددې اشکال په جواب کښې فرمائي: «يمكن الجمع بينهما بأن النفي للرؤية قصداً، وأما رواية الإثبات محمولة على وقوع النظر من غير قصد كمايكون فى صورة الاغتسال معاً» (۵)یعنی په دواړو روایتونوکښې جمع ممکن ده په داسې توګه په یوځائې غسل کولوسره نظر پریوتل سره ددې چه مستبعدنه دې لیکن نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوحضرت عائشه رضی الله عنها په قصداً ددې نه احتراز کولو.

مدعیٰ څنګه ثابته شوه؟: اوس سوال دا پیداکیږی چه کله ئې د کتلونه ځان ساتلو نوبیا مدعیٰ یعنی د زوجین د یوبل شرمګاه ته کتل څنګه ثابت شو؟

جواب: ددې جواب هم هغه پورتنئ توجیه ده چه مدعیٰ اقرب حالت باندې نظرکولوسره ثابتیږی یعنی چه کله سړې اوښځه په یوځائې ناست وی غسل کوی نوډیر زیات مستبعد دی چه نظر پرینوځی،

---

(۱) صحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان مع تحقيق الشيخ شعيب الأرنؤط، كتاب الحظر والإباحة، رقم:۵۵۷۷وقال الشيخ شعيب الأرنؤط: إسناده حسن

(۲) فتح الباري:۱/۴۸۰.

(۳) الحديث أخرجه ابن ماجه فى سننه فى كتاب الغسل باب: النهى أن يرى عورة أخيه، رقم:۶۶۲ والترمذی فى الشمائل باب ماجاء فى حياء رسول الله صلى الله عليه وسلم ص:۱۶۳،رقم:۳۶۰،انظر تحفة الأشراف رقم:۷۸۱۶.

(۴) اوګورئ جمع الوسائل فى شرح الشمائل باب ماجاء فى حياء رسول الله صلى الله عليه وسلم ص:-۲۱۷ ۲۱۸،اداره تالیفات اشرفیه ملتان، أشرف الوسائل إلى فهم الشمائل للهيتمي، باب ماجاء فى حياء رسول الله صلى الله عليه وسلم ص:۵۲۱رقم:۳۴۴الأبواب والتراجم لصحيح البخاري:ص ۶۰ الكافي الشاف فى تخريج أحاديث الكشاف للحافظ ابن حجر رحمه الله وهوفى ذيل الكشاف سورة الأعراف (تحت آية رقم:۲۱):۲/۹۴، ط:نشر البلاغة رقم: سوق القدس.

(۵) اوګورئ:الأبواب والتراجم لصحيح البخاري:ص:۶۰

نظر پريوځي. دا يوه بله خبره ده چه حضرت عائشه رضي الله عنها او نبی کريم ﷺ په عام توګه دَدې نه ځان ساتلو. والله اعلم بالصواب.

دکتاب الغسل دَ ابواب په خپل مينځ کښې مناسبت: علامه عينی رحمه الله دکتاب الغسل دَ ابواب په خپل مينځ کښې مناسبت باره کښې فرمائی «وجه المناسبة بين أبواب هذا الكتاب أعني: كتاب الغسل، ظاهر، لأن كلها فيما يتعلق بالغسل وما يتعلق بالجنب»[1] يعنې دکتاب الغسل په ابواب کښې په خپل مينځ کښې مناسبت بالکل واضح دې ځکه چه په دې کښې دَهريو تعلق غسل او جنابت اودَدې سره متعلق امورو سره دې.

الحديث الأول

۲۵۰- حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ، مِنْ قَدَحٍ يُقَالُ لَهُ الفَرَقُ» [حديث باب [۲۴۷][۶۹۰۸، وانظر:۲۵۸]][2]

ترجمه: مونږ ته آدم بن ابی اياس بيان اوکړواووئيل مونږ ته ابن ابی ذئب بيان اوکړو، هغه دَ (ابن شهاب) زهری نه هغه دَ عروه نه هغه دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه هغې اووئيل ما او نبی کريم ﷺ (دواړو يوځائی) په خانك[3] په شان لوښی سره غسل کولو کوم ته چه فرق وئيلې شی.

تراجم رجال

ادم بن ابي اياس: دا آدم بن ابی اياس عبدالرحمن بن محمد العسقلانی دې. [4]ابوالحسن دَدوی کنيت دې.[1]

---

[1]) اوګورئی:عمدة القاري:۳/۲۹۰.

[2]) الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی كتاب الغسل، باب هل يدخل الجنب يده فی الإناء أن يغسلها إذا لم يكن على يده قذرغير الجنابة، رقم:۲۶۲-۲۶۱وفی باب تخليل الشعر حتى إذا ظن أنه قد أروى بشرته أفاض عليه. رقم:۲۷۳وفی كتاب الحيض، باب مباشرة الحائض رقم:۲۹۹، وفی كتاب اللباس، باب ماوطئ من التصاوير رقم: ۵۹۵۶، وفی كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة، باب ماذكر النبی صلى الله عليه وسلم وحض على اتفاق أهل العلم وما اجتمع عليه الحرمان: مكة والمدينة وما كان بهما من مشاهد النبی صلى الله عليه وسلم والمهاجرين والأنصار. ومصلى النبی صلى الله عليه وسلم والمنبر والمقبر، رقم: ۷۳۳۹، وأخرجه مسلم فی سننه فی كتاب الحيض، فی باب القدر المستحب من الماء فی غسل الجنابة، وغسل الرجل والمرأة فی إناء واحد فی حالة واحدة. وغسل أحدهما بفضل الآخر رقم:۳۱۹، وابوداؤد فی الطهارة فی باب مقدار الماء الذی يجزئ به الغسل رقم:۲۳۸ والترمذی فی سننه فی كتاب اللباس ما جاء فی الجمة واتخاذ الشعر، رقم:۱۷۵۵والنسائی فی الطهارة فی باب ذكر القدر الذی يكتفی به الرجل من الماء للغسل، رقم:۲۲۹ وأيضاً فيه، باب ذكرالدلالة على أنه لاوقت فی ذلك، رقم:۲۳۲، وأخرجه ابن ماجه فی سننه فی كتاب الطهارة باب الرجل والمرأة يغتسلان من إناء واحد، رقم:۳۷۶، وانظر جامع الأصول فی أحاديث الرسول رقم:۵۳۳۳.

[3]) دَ اوړو اغړلو دَ خاورو لوښې خانك، *فيروز اللغات اردو جامع ص:۱۰۳۶.*

[4]) دَ دوی مختصر حالات كشف البارى كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده:۱/۶۷۸ لاندې تيرشوی دی.

دَ هغه پلار ابواياس په نوم كښې اختلاف دې. امام بخاری رحمه الله ابن ابی حاتم رحمه الله وغيره عبدالرحمن بن محمد نقل كړې دې. (١)علامه مغلطائی رحمه الله فرمائی «قال أبواسحاق الحبال: اسم أبی إياس عبدالرحمن، يعرف بناهية»(٢) ابواسحاق الحبال اووئيل دَ ابواياس نوم عبدالرحمن دې اوهغه دَ ناهيه په نوم سره مشهوردې. هغه اصلاً دَ خراسان اوسيدونكې وو. (٣)ابن حبان رحمه الله فرمائی «مولده بمروالروذ» (٥)يعنی دَهغوی پيدائش ځائی مروالروز (خراسان) دې. په بغدادكښې لوئی شوې هم هلته ئی علم حديث حاصل كړې. بيا هم دَدې مقصدد پاره كوفه بصره حجاز مصر اوشام سفركړې. عسقلان ئی خپل وطن جوړكړو اوعسقلانی ورته وئيلې شی.(٦)

دَهغوی شيوخ حديث: دَهغوی په استاذانو او شيوخ كښې ابن ابی ذئب، امام شعبه، شيبان النحوی، حمادبن سلمه، امام ليث، اسرائيل، مسعودی، ورقاء، ابان بن تغلب، اسماعيل بن رجاء، حبيب بن ابی ثابت، سليمان الاعمش، سماك بن حرب، طلحه بن مصرف، عاصم بن بهدله، عبدالرحمن بن الاسود بن يزيد، عدی بن ثابت، محارب بن دثار، نهال بن عمرو او دَدوی پلار يزيدبن عبدالرحمن الاردی وغيره دی. دَچانه چه به دوی حديث روايت كول.(٧)

تلامذه: دَهغوی نه روايت كونكوكښې امام بخاری، امام دارمی اودَهغهٔ خونی عبيدبن آدم، ابوحاتم، ابوزرعه الدمشقی، يعقوب الفسوی، يزيدبن محمدبن عبدالصمد، اسماعيل سمويه، ايوب بن سويدالرملی، ابواسامه، حماد بن اسامه، سفيان ثوری، عمروبن ابی سلمه تينسی، عيسیٰ بن ابراهيم العبدی، مخلدبن شداد، وكيع بن الجراح، يحيی بن زكريا بن ابی الحواجب، يحيی بن زكريا بن ابی زائده، يعلی بن عبيدطنافسی رحمهم الله وغيره دی، اسحاق بن اسماعيل رملی دَهغوی آخری شاگرد او روايت كونكی دی. (٨)

جلالت شان اوتوثيق كښې دَ ائمه اقوال: خطيب بغدادی رحمه الله فرمائی «كان أحد عباد الله الصالحين»(٩) آدم بن ابی اياس به دَالله تعالی په كثرت سره عبادت كونكودَ نيكوبنديگانونه وو. امام ابوداؤد، ابن

---

(١)تاريخ بغداد:٢٩/٧ رقم الترجمة:٣٤٩٢،كتاب الثقات لابن حبان التميمی:٨٣/٥رقم الترجمة:٥٨٠تهذيب التهذيب ١٩٦/١ : رقم الترجمة:٣٦٨.

(٢) التاريخ الكبير جزء:١ قسم:٢ رقم الترجمة:٣٩ الجرح والتعديل:١٩٥/٢رقم:٩٧٠.

(٣) إكمال تهذيب الكمال:٢٩/٢رقم الترجمة:٣٥١.

(٤) كتاب الثقات:٨٣/٥رقم الترجمة:٥٨٠تاريخ بغداد:٢٩/٧رقم الترجمة:٣٤٩٢.

(٥) كتاب الثقات:٨٣/٥رقم الترجمة:٥٨٠وفی الجرح والتعديل:١٩٥/٢،وأصله من مروزی مولی بنی تميم.

(٦) تاريخ بغداد:٢٩/٧ رقم الترجمة:٣٤٩٢،تهذيب الكمال:٣٠١/٢،رقم الترجمة: ٢٩٤.

(٧) دَنور تفصيل دَپاره اوگورئی: تاريخ بغداد:٣٠/٧-٢٩ رقم الترجمة:٣٤٩٢،كتاب الثقات لابن حبان التميمی ٨٣/٥:رقم الترجمة:٥٨٠تهذيب الكمال:٣٠٣/٢-٣٠٢رقم الترجمة:٢٩٤ تهذيب التهذيب:١٩٦/١رقم الترجمة ٣٦٨:،إكمال التهذيب:٣٠/٢رقم الترجمة:٣٥١، الجرح والتعديل:١٩٥/٢رقم الترجمة: ٩٧٠.

(٨)دَنور تفصيل دَپاره اوگورئی: تاريخ بغداد:٣٠/٧-٢٩ رقم الترجمة:٣٤٩٢،كتاب الثقات لابن حبان التميمی ٨٣/٥:رقم الترجمة:٥٨٠تهذيب الكمال:٣٠٣/٢-٣٠٢رقم الترجمة:٢٩٤ تهذيب التهذيب:١٩٦/١رقم الترجمة : ٣٦٨،إكمال التهذيب:٣٠/٢رقم الترجمة:٣٥١، الجرح والتعديل:١٩٥/٢رقم الترجمة: ٩٧٠.

(٩) تاريخ بغداد:٣٠/٧رقم الترجمة:٣٤٩٢.

معين، ابوحاتم، خطيب بغدادي، امام عجلي، ابونعيم، ابن عبدالبر او سمعاني رحمهم الله دَدوى توثيق كړې دې. (١)ابن حبان رحمه الله په كتاب الثقات كښې دَ ده تذكره كړې ده.(٢) امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى چه آدم بن ابى اياس اميرالمؤمنين فى الحديث دَامام شعبه په مجلس كښې دَحديث ليكونكونه وو. امام شعبه به دَ حديث املا كوله اوهغوى به په ولاړه ليكل. (٣)آدم بن ابي اياس پخپله فرمائى چه مابه امام شعبه سره حديث ليكل، زه په تيز ليكونكوكښې ووم خلقو به زما دَ ليكلې شوى نه نقل كولو. امام نسائى رحمه الله فرمائى ((لابأس به)) (٤)خطيب بغدادى رحمه الله فرمائى ((كان آدم مشهوراً بالسنة شديد التمسك بها والحض على اعتقادها)) (٥)يعني آدم بن ابى اياس په سنت باندې په سختئى سره عمل كونكې اوپه دې باندې عقيده كولوكښې مشهوروو. دابواحمدبن عدى كتاب مشايخ بخاري كښې دى ((كان من الزهاد)) (٦)

دَخطيب بغدادى رحمه الله يوروايت: خطيب بغدادى رحمه الله په خپل سندسره نقل كړې دې. "ابوبكر الاعين وائى چه زه آدم عسقلانى له راغلم اوهغه ته مې اووئيل چه دَامام ليث كاتب عبدالله صالح تاسو ته سلام كوى. نوهغه اووئيل چه هغه ته زما سلام مه وايه، ما وئيل ولې؟ نوهغه اوفرمائيل ځکه چه هغه قرآن ته مخلوق وائى. ما هغه ته اووئيل چه هغه دَدې نه توبه او رجوع كړې ده. اوخلقوته ئى دَخپلې رجوع خبر وركړې دې. نوآدم بن ابى اياس اووئيل كه چرې داسې وى نو بيا هغه ته زما سلام وايه، راوى وائى ما هغه ته اووئيل چه زه بغداد ته تلل غواړم كه ستاسو څه كار وى نو اوښايه. هغه وئيل او (يوكار دې) كله چه ته بغداد ته اورسې نو امام احمدبن حنبل له لاړشه اوزما سلام ورته وايه او ورته وايه ته دَالله تعالى نه اووېرېږه، په كوم څيزكښې چه ته اخته ئى دَهغې په ذريعه سره دَالله تعالى قرب حاصل كړه، څوك دې تا په وېره او پريشانئى كښې راګيرنه كړى، ان شاء الله ته ډير زر جنت ته تلونكې ئى اوهغه ته اووايه: حدثنا الليث بن سعد عن محمد بن عجلان، عن أبى الزناد عن الأعرج عن أبى هريرة: قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من أرادكم على معصية الله فلاتطيعوه" يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى چه كه څوك تاته دَالله تعالى دَ نافرمانئى اووائى نودَهغه تابعدارى مه كوه، راوى وائى زه امام احمدبن حنبل رحمه الله له جيل ته راغلم اوسلام مې اوكړو اوهغوى ته مې دَ آدم بن ابى اياس سلام اورسولو اودَهغه پيغام او حديث مې واورولو.

امام احمد رحمه الله خپل سر ټيټ كړو بيائى خپل سر اوچت كړو اووئى فرمائيل رحمه الله حياً وميتاً، فلقد أحسن النصيحة لله تعالى دې په هغه باندې په دنيا او آخرت كښې رحم اوكړى هغه دَنصيحت حق اداكړو يعنى بهترين نصيحت ئى اوكړو. (٧)

---

(١) اوګورئى: تاريخ بغدادى:۳۱/۷-۳۰ ، الجرح والتعديل:۱۹۵/۲ تهذيب الكمال:۳۰٤/۲ إكمال التهذيب:-۲۸ ۳۱/۲، تهذيب التهذيب:۱۹۶/۱.

(٢) كتاب الثقات لابن حبان:۸۳/۵.

(٣) تاريخ بغدادى: ۳۰/۷، تهذيب الكمال:۳۰٤/۲، الجرح والتعديل:۱۹۵/۲.

(٤) تهذيب التهذيب:۱۹۶/۱.

(٥) تاريخ بغدادى: ۳۰/۷ ،إكمال التهذيب:۳۰/۲.

(٦) إكمال تهذيب الكمال:۲۹/۲.

(٧) تاريخ بغدادى:۳۱/۷ رقم الترجمة:۳٤۹۲، تهذيب الكمال:۳۰۶/۲-۳۰۵رقم الترجمة:۲۹٤.

وفات: ابوعلي الحسين بن القاسم الكوكبي وابي ابوعلي المقدسي خودلى دى چه كله دَ آدم بن ابى اياس دَ انتقال وخت رانيزدې شو نوبوقرآن ئې پوره لوستلو سره ختم كړو په داسې حال كښې چه هغوى په ارخ باندې ملاست وو. بيائې اوفرمائيل اې الله تاته دې زما دَ محبت واسطه وى ته په دې خطرناك وخت كښې زما ملګرې جوړشه، ما تاته هم دديې ورځې اميد اوتمنا لرله. دَدې نه پس ئې لاإله ألاالله اووئيل او روح ترې لاړو. رحمه الله رحمةً واسعةً. (۱)

ابن ابي ذئب: داامام محمدبن عبدالرحمن بن المغيره بن الحارث بن ابى ذئب، قرشى عامرى مدنى رحمه الله دى(۲) دَدوى تفصيلى حالات **كشف الباري كتاب العلم، باب حفظ العلم** ددويم حديث لاندې تيرشوى دى.(۳)

زهري: (۴)د امشهورمحدث امام ابوبكرمحمدبن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب بن عبدالله بن الحارث بن زهره بن كلاب بن كعب بن لؤى الزهرى المدنى دې. (۵)

دَ حديث استاذان: دَامام زهرى رحمه الله استاذان اوشيوخ كښې ابراهيم بن عبدالله بن حنين، ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف، اسماعيل بن محمدبن سعيد بن ابى وقاص، ثابت بن قيس الزرقى، ثعلبه بن ابى مالك القرظى، جعفربن عمرو بن اميه الضمرى، حبيب مولى عروة بن الزبير، حرمله مولى اسامه بن زيد، الحسن بن محمدبن الحنفيه، حفص بن عاصم بن عمر بن ا لخطاب، خارجه بن زيد ثابت، خالدبن المهاجربن خالدبن الوليد، سالم بن عبدالله بن عمر، السائب بن يزيد، سعيدبن خالدبن عمرو بن عثمان بن عفان، سليمان بن يسار، طاؤس بن كيسان، عامربن سعدبن ابى وقاص، عبدالله بن ابى بكر بن محمد بن عمرو بن حزم، عبدالله بن عبدالله بن عمر بن الخطاب، عبيدالله بن عبدالله بن عمر بن الخطاب، عروه بن الزبير، عطاء بن ابى رباح، علقمه بن وقاص الليثى، على بن الحسين بن على بن ابى طالب، عمربن عبدالعزيز، القاسم بن محمد ابن ابى بكرالصديق، نافع مولى ابن عمر، يزيدبن الاصم، ابو ادريس الخولانى رحمهم الله وغيره دى.(۶)

تلامذه: ابن شهاب زهرى رحمه الله نه روايت كونكوكښې ابان بن صالح، ابراهيم بن ابى علبه، اسامه بن زيد الليثى، ايوب السختيانى، بكربن وائل، زمع بن صالح، زياد بن سعد، سفيان بن عيينه، عبدالله بن دينار، عبدالله بن عيسىٰ بن عبدالرحمن بن ابى ليلى، عبدالله بن مسلم ابن شهاب الزهرى، عبدالرحمن بن خالد بن مسافر، عبدالرحمن بن عمرو الاوزاعى، عطاء بن ابى رباح، عقيل بن خالد الايلى، عمربن عبدالعزيز، عمروبن دينار، عمرو ابن شعيب، قتاده بن دعامه، ليث بن سعد، مالك بن انس، محمدبن عبدالرحمن بن ابى ذئب، محمدبن المنكدر، معاويه بن سلام، هشام

---

(۱) تاريخ بغدادى:۳۲/۷-۳۱ تهذيب الكمال: ۳۰۵/۲ ,إكمال التهذيب الكمال:۳۱/۲.

(۲) اوګورئى تهذيب الكمال:۶۳۰/۲۵

(۳) كشف البارى:۴۴۹/۴-۴۴۲.

(۴) دَدوى مختصر حالات، كشف البارى:۳۲۶/۱بدء الوحى، باب كيف كان بدء الوحى الى رسول الله صلى الله عليه وسلم دَدريم حديث په ذيل كښې تيرشوى دى.

(۵)اوګورئى:تهذيب الكمال:۴۲۰/۲۶-۴۱۹رقم الترجمة:۵۶۰۶ سيرأعلام النبلاء: ۳۲۶/۵رقم الترجمة: ۱۶۰.تهذيب التهذيب :۴۴۵/۹رقم الترجمة:۷۳۲.

(۶) اوګورئى: تهذيب الكمال:۴۲۶/۲۶-۴۲۰،تهذيب التهذيب:۴۴۷/۹-۴۴۶.

بن عروه، يحيى بن سعيد الانصاري، يوسف بن يعقوب بن ماحبيشون، ابوسلمة العاملي، ابوعلى بن يزيد الايلي رحمهم الله وغيره دى.[1]

مقام اوجلالت شان: امام بخاري رحمه الله دَ ابراهيم بن منذر رحمه الله نه نقل كړي دى «أنه أخذ القرآن في ثمانين ليلة» يعنى ابن شهاب زهرى رحمه الله په اتياؤشپو كښې قرآن كريم ياد كړو.[2]

ابراهيم بن سعد رحمه الله دَ خپل پلار نه نقل كوى: «ماسبقنا ابن شهاب بشيء من العلم إلا أنه كان يشد ثوبه عند صدره ويسأل عن ما يريد، وكنا تمنعنا الحداثة»[3] يعنى ابن شهاب رحمه الله زمونږ نه دَ يوخيزپه ذريعه په علم كښې زيات نه دې سواد دې نه چه هغه به خپله كپړه خپلې سينې سره تړله اوځه چه به هغه غوښتل دهغې باره كښې به ئې تپوس كولو اوزمونږ كم عمرى به مانع كيدلو.

دَامام زهرى رحمه الله حالات هم دهغوى په ژبه: ما زهرى نه واورېدله هغوى فرمائيل چه زه لوئې شوم په داسې حال كښې چه زه هلك ووم اوماسره څه مال نه وو اونه دَ ديوان نه دَخليفه دَ طرف نه زماځه حصه مقرروه اوزه عبدالله بن ثعلبه بن صُعير نه دَخپل قوم نسب زده كولو. يوسړى هغه له راغلواودَ طلاق دَ مسئلې پوښتنه ئې تري اوكړه نوهغه دهغې جواب ورنه كړې شو اوسوال كونكى ته ئې دَ سعيدبن المسيب نه دَ معلومات كولودَپاره اووئيل. ما په خپل زړه كښې اووئيل چه زه داسې بوډا سړى سره يم چه دا وائى رسول الله ﷺ دهغه په سرباندې دَ شفقت لاس راښكلې دې او هغه دَ طلاق يوه مسئله هم نه پيژنى. ما ثعلبه پريخودو او دَ سائل سره سعيدبن المسيب له راغلو. (دې نه پس) زه عروه ، عبيدالله او دَ ابوبكر بن عبدالرحمن په صحبت كښې كيناستم تردې چه مادَ شريعت مسائل زده كړل.

بيا زه شام ته راغلم دَ پيشمنى په وخت دَ دمشق په جمات كښې داخل شوم نومقصوره (وړې كمرې) مخې ته يوه ډيره لويه حلقه قائم وه زه په هغې كښې كيناستم. خلقو زمادَ نسب باره كښې پوښتنه اوكړه نوماوئيل قريشى يم. نوهغوى تپوس اوكړو چه آيا تاته دَ أم ولد دَ حكم باره كښې څه علم شته؟ نوماهغوى ته دَ عمر بن الخطاب رضي الله عنه قول واؤرولو. هغوى اووئيل دادَ قبيصه بن ذؤيب مجلس دې هغه به په دې باره كښې ستا حمايت كوى. قبيصه تشريف راوړو نوهغوى ته په دې باره كښې اوخودلې شو. هغه زما دَ نسب پوښتنه اوكړه اودَ سعيدبن المسيب اودهغه دَ ملګرو باره كښې ئې پوښتنه اوكړه. ما هغوى ته اوخودل نو هغه اووئيل زه به تا اميرالمؤمنين له بوځم. دَ سحر مونځ كولونه پس قبيصه واپس راؤګرځيدو نوزه هغه سره شوم. قبيصه اميرالمؤمنين عبدالملك له لاړو. زه دروازې سره لږساعت اودريدم تردې چه نمر راؤختلو. بيا خادم (اجازت وركونكې) بهرراغلو اووئې وئيل چه چرته دې مدينى اوقرشي؟ ما وئيل چه زه دلته يم. دغه خادم سره زه اميرالمؤمنين له راغلم. ما اوكتل چه دهغه مخې ته قرآن كريم پروت دې كوم چه اميرالمؤمنين بندكړې دې. دَاميرالمؤمنين په حكم باندې مصحف دهغه ځائى نه اوچت كړې شو. هغه سره دَ قبيصه نه علاوه بل څوك ناست نه وو. ما هغوى ته سلام اوكړو. اميرالمؤمنين زما باره كښې تپوس اوكړو نوما ورته اووئيل چه زه محمدبن مسلم يم. دې نه پس ئې دَ أم ولدباره كښې تپوس اوكړو نوما دَ أم ولدباره كښې دَ حضرت عمر رضي الله عنه

---

[1]) تهذيب الكمال:٢٦/٤٣١-٤٢٧،تهذيب التهذيب: ٩/٤٤٧.

[2]) تاريخ الكبير:١/٢٢٠.

[3]) ذيب الكمال:٢٦/٤٣٣.

حديث بيان كړو. نودَ قبيصه طرف ته متوجه كيدوسره اميرالمؤمنين اوفرمائيل: دا دَ ټولو آفاق طرف ته اوليكئي. (١)
محمدبن سعد رحمه الله دَ امام زهري رحمه الله تذكره اهل مدينه طبقه رابعه كښې كړې ده. (٢)سفيان بن عيينه عمرو بن دينار نه نقل كوي هغه فرمائي ما دَ زهري رحمه الله نه زيات صحيح حديث بيانونكې نه دې ليدلې (٣)هم دَعمرو بن دينار رحمه الله نه نقل دي چه مادَ زهري رحمه الله نه زيات څوك نه دي ليدلې چه درهم اودينارَ هغه په نيز بې قيمت وي. دنانير اودرهم دَهغه په نيزد سوټونه زيات حيثيت نه لرلو. (٤) امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائي چه زهري رحمه الله په خلقوكښې دَ ښه حديث او بهترين سندوالا دې. (٥)
تدوين حديث: دَتابعينو په زمانه كښې دَ تدوين حديث عظيم الشان كارنامه سر ته رسونكو محدثينوكښې امام زهري رحمه الله نوم دَ ټولونه په سردې. عمربن عبدالعزيز رحمه الله په مدينه كښې خپل عامل ابوبكربن حزم رحمه الله اونورعاملان په دې خبره باندې ماموركړل چه هغوي دې دَ رسول الله ﷺ سنت راجمع كړي.
چنانچه ابوبكربن حزم رحمه الله او ابن شهاب زهري رحمه الله داعظيم كار په ښه طريقه سره سر ته اورسولو. خاص كر ابن شهاب زهري رحمه الله دَ جمع اوتدوين حديث په سلسله كښې كوم خدمات سرته رسولي دي هغه دَ يوصاحب علم نه پټ نه دي.
ابن عساكر او نور مؤرخين اوعلماء كرامو دَ امام مالك رحمه الله نه نقل كړي دي چه هغوي فرمائيلي دي «أول من دوّن العلم ابن شهاب» (٦)يعني دَټولونه اول علم «حديث» تدوين كونكې ابن شهاب رحمه الله دي.
عبدالعزيز بن محمد دراوردي رحمه الله فرمائي «أول من دوّن العلم وكتبه ابن شهاب» (٧)يعني دَ ټولونه اول علم «حديث» تدون كونكې اوليكونكې ابن شهاب رحمه الله دي. دَدې تصريحات نه معلومه شوه چه دَ ټولو نه اول حديث جمع كونكې اومدون كولوشرف ابن شهاب زهري رحمه الله ته حاصل دې. دَدې نه پس بيا علماء سلف دَ جمع اوترتيب سلسله جاري اوساتله.
په امام زهري رحمه الله باندې دَ مستشرقينو اعتراضات او شبهات: دَامام زهري رحمه الله ثقاهت ديانت اوامانت باندې ائمه اسلام اتفاق كړې دې. مستشرقين نه دَ جرمني يومتعصب يهودي "اگنس گولډزيهر" دَ مسلمانانودَ حديث ذخيره مشكوك گرځولو په فاسد غرض په امام زهري رحمه الله باندې دَ حديث دَ ځان نه جوړولو تهمت اولگولو. دَدَغه خبيث الباطن يهودي باطل گمان دې چه دَ امام زهري رحمه الله دَ بنو اميه حكمرانانوسره تعلقات وو په دې وجه امام زهري رحمه الله دَهغوي دَاغراض او خواهش موافق ډير احاديث جوړكړل او خپل نوم سره ئې دَ ډيرو زياتو احاديثومنسوب كولو اجازت وركړو وغيره. دَدې نه گولډزيهر دا نتيجه اوويستله چه كله دومره ثقه راوي هم احاديث وضع كول نودَ نورو معامله خو بهرحال اهون ده لهذا په دې وجه دَ احاديثو موجوده ذخيره جعلي ده.

---

(١) سيرأعلام النبلا:٥/٣٣٠.
(٢) الطبقات الكبرى: ٤/١٢٦.
(٣) الجرح والتعديل: ٨/٨٦٨رقم الترجمة:٣١٨.
(٤) تهذيب الكمال:٢٦/٤٣٥.
(٥) سيرأعلام النبلا:٥/٣٣٥.
(٦) تاريخ دمشق:٥٥/٣٣٤حلية الأولياء:٣/٣٦٣البداية والنهاية: ٩/٣٥٨.
(٧) تاريخ دمشق: ٥٥/٣٤٣، سيرأعلام النبلاء: ٥/٣٣٤|كمال تهذيب الكمال: ١٠/٣٥٣.

دَ ګولډزیهر په شبهاتو باندې رد: دَ ګولډ زیهر یهودی مستشرق دا شبهات په بنیادی توګه سره بالکل غلط دی.دادَ یهودو اومستشرقینو دَاسلام دښمننی اودَاحادیثوذخیره شکمنه جوړولو په سلسله کښې کیدونکوکوششونو تسلسل دې.علماء اسلام په هره زمانه کښې په دې بې خایه اعتراضاتو باطلې بنه پوره ردونه کړی اودَهغې ئې محققانه کافی اوشافی جوابونه ورکړی دی.

چنانچه ډاکټر مصطفی حسنی سباعی صاحب خپل کتاب «السنة ومكانتها في التشريع الإسلامي» کښې دَ ګولډزیهر په ټولواعتراضاتو باندې محققانه کلام کړې دې. ډاکټر صاحب لیکی چه نه ده معلومه امام زهری رحمه الله غوندې ثقه ثبت حجت او صادق امام دَ بنوامیه حکمرانانوسره تعلقات دَ بنوامیه حکمرانانو دَ وضع حدیث دَ پاره څنګه غنیمت اوګنړلو. حالانکه دَ پخوانتی زمانې نه دَ علماء کرامو دا دستور پاتې دې چه عامة المسلمین دَ مصالح په خاطر، یا حکمرانانوته نصیحت کولو یاهغوی ته دَ یودینی خبرې تعلیم ورکولو یادَهغوی دَاولاد تربیت کولوپه غرض سره به هغوی له تلل راتلل. خپل یوذاتی غرض حاصلول ئې مقصد نه وو.

«العقد الفريد» کښې ذکردی چه امام زهری رحمه الله ولیدبن عبدالملك له تشریف راوړو نوهغه اوونیل چه اهل شام مونږ ته یوحدیث بیانوی. امام زهری رحمه الله اوونیل کوم یوحدیث؟ نوولیداوونیل چه هغوی وائی «أن الله إذا استرعى عبداً رعيته، كتب له الحسنات ولم يكتب له السيئات» یعنی کله چه الله تعالی یوبنده حاکم جوړوی نودَهغه نیکئی لیکلې کیږی اوبدئی نه لیکلې کیږی. امام زهری رحمه الله اوفرمائیل دا حدیث باطل دې. آیا یونبی چه خلیفه هم وی هغه دَالله تعالی په نیززیات قابل اکرام احترام دې یاغیرنبی څوك چه صرف خلیفه وی؟ نو ولیدونیل داسې نه ده بلکه چه کوم نبی خلیفه وی هغه زیات دَ اکرام اواحترام قابل دې. نو امام زهری رحمه الله اوفرمائیل الله تعالی خپل نبی داؤد عليه السلام ته مخاطب کولوسره اوفرمائیل ﴿ يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ﴾ [1] نوچه کله الله تعالی خپل نبی چه خلیفه هم دې ته دا تنبیه فرمائی نوستاڅه خیال دې چه دَهغه سړی باره کښې څوك چه صرف خلیفه وی نبی نه وی؟

ولید اوونیل داخلق اهل شام مونږ زمونږ دَ دین باره کښې ګمراه کوی.[2] غوراوکړئی چه دَ امام زهری رحمه الله اوخلیفه ولید په مینځ کښې تعلق سره امت ته چه کوم فکری فائده حاصلیږی هغه په کومه اندازه ده.

بل دا چه آیا امام زهری رحمه الله دَ حکمرانانو مخکښې ټیټیږی. آیا دَ دغه خلقو په خواهش باندې په رسول الله ﷺ باندې دَ خان نه احادیث جوړوی یا په مکمل خیرخواهئی سره دَ دروغژنوخلقو نه دَ رسول الله ﷺ دَ سنتو حفاظت کوی بلکه ددې نه زیات امام زهری رحمه الله خلیفه مسلمین دَ کذاب راویانو دَاثر لاندې پاتیکیدو سره استمرار في الظلم والباطل نه منع کوی.

---

[1] سورة ص:۲۶، ترجمه: اې داؤده ته مونږ ګرخولې نائب په ملك کښې بس ته حکومت کوه خلقوکښې په انصاف سره اومه زه دَ زړه په خواهش باندې بیابه هغه تا ګمراه کړې دَ لارې دَالله تعالی نه، بیشکه چه کوم خلق ګمراه کیږی دَالله تعالی دَ لارې نه دهغوی دپاره سخت عذاب دې په دې خبره باندې چه هغوی هیره کړه ورځ دَ حساب.

[2] الجزء الأول ص:۶۰ الطبعة الجديدة.

دَ امام زهری رحمه الله يوه واقعه ده کومه چه ابن عساکر رحمه الله په خپل سندسره دَ امام شافعی رحمه الله نه نقل کړې ده. چه هشام بن عبدالملك دَ سليمان بن يسار نه دَالله تعالى دَ ارشاد ﴿ وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴾ (۱) دَ تفسير باره کښې تپوس کولوسره اووئيل چه ﴿ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ ﴾ نه څوك مراددى؟ سليمان په جواب کښې اووئيل چه عبدالله بن ابى بن سلول، هشام دَ حق باره کښې دَهغه سختى او غيرت ازميښت کولوډپاره اووئيل نه تاغلط بيانى اوکړه بلکه دې نه مرادعلى بن ابى طالب رضى الله عنه دې. سليمان اووئيل چه اميرالمؤمنين دَخپلې خبرې باره کښې ډيربهترپوهيږى. په دې کښې ابن شهاب زهرى رحمه الله تشريف راوړو نوهشام هم دغه سوال دَهغه نه تپوس اوکړو. هغه هم په جواب کښې اوفرمائيل چه دې نه مراد عبدالله بن ابى بن سلول دې.

هشام دَ وراندې په شان امام زهرى رحمه الله ته هم اووئيل چه تادَ غلط بيانئى نه کاروا خستو دې نه خوعلى بن ابى طالب رضى الله عنه مراددې. امام زهرى رحمه الله په سخته غصه کښې اووئيل ولې زه دروغ وايم ته تباه شې په الله تعالى قسم که څوك دَ آسمان نه آواز اوکړى چه الله تعالى دروغ وئيل جائز کړى دى نوما به بياهم دروغ نه وئيل. بيائى اوفرمائيل چه ماته فلانکى فلانکى حديث بيان کړو چه دې نه مراد عبدالله بن ابى بن سلول دې. امام شافعى رحمه الله فرمائى چه درباريانو يوشان دَ امام زهرى رحمه الله باره کښې غصه کولو تردې چه هشام امام زهرى رحمه الله ته اووئيل چه زه لاړشه ورخه زمونږ دپاره مناسب نه دى چه ستاپه شان دَ سرى خبره برداشت کړو. امام زهرى رحمه الله اوفرمائيل چه دا ولې؟ ولې تازه په دې باندې مجبورکړم ياما ته په دې باندې مجبور کړې؟ چه اوس تا ماته دَتلو اووئيل؟ هشام اووئيل داسې خبره نه ده بلکه تامانه دوه لاکهه قرضه اخستې ده . امام زهرى رحمه الله اووئيل چه ته اوتانه وراندې ستا پلار دواړه په دې خبره باندې ښه پوهه يئى چه ما نه تانه اونه ستادَ پلار نه داما ل قرض اخستې. بيا په غصه کښې دَهغه خانى نه راؤوتلو. په دې باندې هشام اووئيل چه مونږ شيخ غصه کړو. بيا هشام دَ امام زهرى رحمه الله دَ قرضونونه يولك دَ اداکولوحکم اوکړو. امام زهرى رحمه الله ته اوخودلې شو نو هغه اوفرمائيل چه الحمدلله دادَ الله تعالى دَ طرف نه دى.(۲) داهغه واقعه ده چه ابن عساکر په خپل تاريخ کښې اته صدئى وراندې دَامام شافعى رحمه الله په شان صدق وحق امام نه نقل کړې ده او په امام زهرى رحمه الله باندې دَ اموى حکمرانانو په خاطر دَ حديث دَ وضع کولو تهمت لګونکې متعصب يهودى هغه وخت پيدا شوې هم نه وو. داواقعه ښائى چه دَ امام زهرى رحمه الله تعلق دَخلفاء سره دَ څه دنياوى يا نفسانى غرض په خاطر نه ووبلکه خالص دينى اونصح باندې مبنى تعلق وو.

بيا داخبره هم دَغور قابل ده چه دَامام زهرى رحمه الله په نسبت که چرې دا اومنلې هم شى چه هغوى دَ اموى حکمرانانو ملګرتياکړې ده نوبه دې سره دَ دغه اوچت شان والا دَ امام څه مقصد کيدې شو؟ ولې هغه دَدوى نه دَمال طلبګار وو؟ هيڅ کله نه څکه چه دې مستشرق يهودى پخپله دَعمرو بن دينارنه دَ امام زهرى رحمه الله باره کښې نقل کړې دى چه دَ درهم اودينار نه لوئى هيڅ څيز دَهغوى په نيز اهون نه وو لکه درهم اودينار دَهغوى په نيز دَ سوټو په شان وو. ولې امام زهرى رحمه الله دَهغوى نه دَ شان شوکت غوښتونکې وو؟ حالانکه پخپله معترض دامنى چه په پوره امت اسلاميه کښې دَامام زهرى رحمه الله شهرت خورشوې وو. دَدومره شان شوکت نه پس امام زهرى رحمه الله ولې دَنور څه شان شوکت غوښتونکې وو. کله چه امام زهرى رحمه الله نه دَ شان شوکت طالب وو نه دَ مال دولت طالب وو اودَهغوى

---

۱) سورة النور:۱۱.

۲) السنة وكانتها فى التشرع الإسلامى ص:۲۰۱.

دیني غیرت اوبهادری هم مسلم ده نوچه بیا نه دَهغه دَ شان شوکت طلب نه دَ مال طلب اونه دَځه منصب خواهش نوولي هغه دَ امویانوسره دَخپل دین سودا کولوسره دَ حماقت اوبې وقوفتیا مرتکب کیدوسره په مسلمانانوکښې خپله نیك نامي او شهرت ورکول غوښتل؟.
مستشرق گولډزیهر دَ بنوامیه دور حکومت منظر کشی په ظلم اوستم سره کولوسره هغوی ظالمان گرځوی اووائی چه دَمدیني متقی اوپرهیزگار علماء به بنوامیه سره محاربه کول اودَهغوی نه ډډه کول اختیارول. خو مونږ په دې باندې پوهیږو چه امام زهری رحمه الله په مدینه کښې لوئې شوی اودَ مدیني دَ شیوخ اوعلماء نه ئې کسب فیض کړې. دَسعید بن مسیب رحمه الله دَ مرگه پورې دَهغه په مجلس کښې ناست دې. امام مالك رحمه الله چه به کله هم مدینې ته تشریف راوړو دَهغوی نه به ئې استفاده کوله. پنځه دیرش کالو پورې مدینې اوشام ته تلو راتلو.
که چرې دَ گولډزیهر خبره دَ حقیقت مطابق وی نودَ مدینې اوشام علماء هغه ولې ناخوښه نه کړو. که هغه دَ امویانودَ پاره دروغ وئیلي وو نوبیا دَمدیني اوشام علماؤ دَهغه دَدې عمل تکذیب ولې اونه کړو. دَامام زهری رحمه الله شیخ چه دَعبدالملك حکومت طاقت اوعظمت په خاطرکښې نه راوستلو هغه دَزهری رحمه الله نه دَ خلاصې اظهارولې اونه کړو؟ کومه یوه داعیه وه چه هغې دادَ حق ویونکي علماء په خاموشئ باندې مجبورکړل؟ ولې هغوی ویریدل؟ اودا علماء دَ نقد رجال په سلسله کښې دَخلیفه نه واخله دَمعاشرې دَ یوعام سړی پورې دچانه هم نه ویریدل نوولې هغوی دَامام زهری رحمه الله نه ویریدل؟
دَ بنوامیه دَ دور علماء پریږده دَ بنوعباس په حکومت کښې علماؤ په امام زهری رحمه الله باندې ولې نقداونه کړو. علماء هم پریږدئ دَ بنوعباس انصار او اعوان څنگه چه دَ بنوامیه خلفاء امراء اودَهغوی دَ معاونین خبر اخستې دې نو هغوی په امام زهری رحمه الله باندې ولې اعتراض اونه کړو؟ دوی هم پریږدئ په علماء جرح اوتعدیل کښې امام احمدبن حنبل، یحیی بن معین، امام بخاری، امام مسلم، ابن ابی حاتم رحمهم الله وغیره چه دَ ﴿ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ﴾ عملي اوحقیقي تصویرونه وو هغوی ولې خاموش پاتې وو اوبیا کله چه دا نقد هم دَ حکومت بنوامیه دَ یوډیر لوئې اومشهور شخصیت سره متعلق وی.دَمدیني منورې دَعلماؤ اوشیوخ خاص کر دَامام زهری رحمه الله شیخ سعیدبن مسیب رحمه الله خاموشی بیا دَ علماؤ اونورو ډیرو زیاتو علماؤ دَ امام زهری رحمه الله نه روایت کول، دَ امام زهری رحمه الله دَ امویانو سره دَ ژور تعلق نه باوجود دَعباسیانو په دورکښې دَ جرح اوتعدیل علماؤ دَهغوی توثیق کول وغیره ولې په دې خبره باندې ډیرلوئې دلیل نه دې چه امام زهری رحمه الله دَ مستشرق یهودی گولډزیهر دَ شبهاتو نه بری اودَ هغه دَهرقسم بدې وینا نه ارفع، کذب ووضع حدیث اودَاهل ظلم وباطل نه ممالات وغیره ټولو الزاماتونه ډیر زیات اوچت او بالادې.[1]

دَحدیث لاتشدالرحال دَ وضع الزام: دَ گولډ زیهرگمان باطل دې چه خلیفه عبدالملك «قبة الصخرة» څکه جوړه کړې وه دې دَپاره چه دَدې په ذریعه دَ اهل شام او عراق اودَ حج اوکعبه په مینځ کښې یو حائل اوحاجز جوړشی اوچه خلق دَ حج بیت الله دَ زیارت دَپاره دَتللو په ځائې دَ بیت المقدس دَ دې گنبد دَ زیارت دَپاره راځی. دَدې مقصد دَپاره دَ رائې عامه هوارولو په غرض داسې احادیث وضع کړی په کوم سره چه دَبیت المقدس عظمت اوشان ښکاره شی دې دَپاره چه خلق هلته په حج باندې تیارکړې شی. دَدې مقصد دَ تکمیل دَپاره عبدالملك دَ امام زهری انتخاب اوکړو. دَهغه په وینا باندې

[1] السنة ومکانتها فی التشریع الإسلامی ص: ۲۰۰-۲۰۳.

امام زهري هغه احاديث وضع کړل. چنانچه «لاتُشَدُّ الرِّحَالُ إلَّا إلى ثلثة مَسَاجِدَ» والا حديث هم دَدوی په سندسره مروی دي.[1]

هغه وائي چه کله داحديث دَهغه زمانې دَتاريخی حالاتو په رڼاکښې کتلې شی نودا موضوع معلوميږی ځکه چه هغه وخت په دمشق باندې عبدالملك بن مروان حکومت وو او په مکه مکرمه کښې دَعبدالله بن زبير رضی الله عنهما خلافت قائم وو. فريقين کښې جنګ شروع شوې وو دکوم په وجه چه عبدالملك بن مروان يوکال حج هم موقوف کړې وو. دَدې نه پس دَهغه خواهش دا وو چه د حج مناسك دَ مکې مکرمې نه واړوی دَ شام او بيت المقدس طرف ته راواړي. دَعامو خلقو دَ سوچ رااګرځولودپاره ئې دَ بيت المقدس فضيلت سره متعلق احاديث وضع کړل دې دپاره چه په مزه مزه خلق دَهغه ځائی په حج باندې تيارکړې شي. دَدې مقصدد پاره هغه دَ امام زهري رحمه الله انتخاب اوکړو چه دَ عبدالملك قاضی وو اوهغه وخت دَ عامو علماؤ په خلاف حکومت سره دَهغه دوستانه تعلقات وو. غرض دا چه امام زهري رحمه الله دَ عبدالملك په وينا باندې احاديث وضع کړل. دَدې دليل دادې چه دَ بيت المقدس سره متعلق ټول احاديث هم دَ زهري رحمه الله نه روايت دی اوهغه دا احاديث دَ ممانعت حج دَ فتنه نه پس بيان کړې وو.

په دې باندې ګولډ زيهر دادليل پيش کړو چه دَ بيت المقدس په فضائل باندې څومره احاديث دی هغه ټول دامام زهري رحمه الله په سندسره دی اوزهري رحمه الله دَ ممانعت حج دَ دغه فتنه نه پس بيان کړی دی.

دَ ګولډزيهر دَ شبهاتو جواب: دګولډ زيهر دَ اعتراض علماؤ ردکړې دې اودَدې ئې ډيرجوابونه ورکړی دی.

دومبې جواب: ثقه مؤرخين ابن عساکر، طبری، ابن اثير، ابن خلدون اوابن کثير وغيره په دې خبره باندې متفق دی چه «قبة الصخرة» وليدبن عبدالملك جوړکړې وو نه چه عبدالملك. دَ ثقه مؤرخينو په يوروايت کښې دَ ګولډ زيهر دَ باطل ګمان په شان يوروايت هم داسې نه دې چه عبدالملك بن مروان «قبة الصخرة» تعميراوکړو چه خلق دَ حج بيت الله دَ تلو په ځائی دَدې ځائی مخ اوکړی اوکه چرې داسې کيدله نودابه يقيناً دَ تاريخ اسلامی يوه ډيره لويه او اهم حادثه کيدله اومؤرخين چاچه دَ اسلامی تاريخ معمولی واقعات هم دَ قلم بندکولونه ډډه نه ده کړې هغوی به خامخا دَدې تذکره کوله دا يو غيرمعقول امر دې چه يوه داسې اهم او لويه واقعه دَمؤرخينو مخې ته راغلې وی او هغوی دَ دې نه سترګې پټې کړې وی داسې نه شی کيدې. البته دَ علامه دميري کتاب الحيوان کښې په يو ضعيف روايت کښې دی چه دا عبدالملك جوړکړې وو اوخلق به دَعرفه په ورځ هغې سره اودريدل. که چرې داخبره دَ ضعف او ثقه مؤرخينو دَ مخالفت نه باوجود هم اومنلې شی نوبياهم په دې کښې داسې څه اشاره هم نشته دې چه عبدالملك خلق دَ حج نه منع کولودپاره دا جوړکړې وو. البته دَخلقو دَعرفه په ورځ دغه ګنبدسره اودريدل دَهغوی ذاتی فعل وو. فقهاء اسلام دَدې دَمکروه کيدو صراحت فرمائيلې دې.

غوراوکړئې چه يوشئ دَ بيت الله دَ متبادل په توګه جوړول اوخلق دَعرفه په ورځ هغې سره دَ حجاج په شان بغيرد چادَ وينا کولوپخپله اودريدل دې دپاره چه دَ حاجيانودَمشابهت دَ وجې نه دوی هم دهغوی په اجر اوثواب کښې شريك شی. په دې دواړو لاسونوکښې ډير فرق دې. بيا دَ وقوف داعمل په ډيرو

---

[1] سيأتي تخريجه.

زيات اسلامی ښارونوکښې رائج وو ((قبة الصخرة)) سره په وقوف باندې منحصر نه وو بلکه خلقو به دَ عرفه په ورځ په ټولو ښارونوکښې دَ حجاج دَ مشابهت په غرض سره وقوف کولو.(۱)

دويم جواب: دا واقعه څنګه چه ګولډزيهربيان کړې ده هغه صريح البطلان ده. ځکه چه دَ يوځيز تعمير په داسې نيت سره کول چه خلق بيت الله پريږدي او هلته حج اوکړي صريح کفردې. عبدالملك دَدې صريح کفرڅنګه ارتکاب اوکړو حالانکه عبدالملك به دَ کثرت عبادت دَ وجې نه ((حمامة المسجد)) په لقب سره يادولې شو.بل دَ عبدالملك بن مروان مخالفينو په هغوی باندې نور ډيرزيات اعتراضات هم کړي دي خوچاهم دَهغه تکفيرنه دې کړې اونه ((قبة الصخرة)) دَ تعميزدَ وجې نه هغه ته بدې ردې وئيلې.که دَمعترض په خبره کښې دَ يو شان څه صداقت وې نومخالفينو به دَ ټولو نه وړاندې په عبدالملك باندې دې اعتراض کولوسره مشهور کولو.(۲)

دريم جواب: د اهم يوتاريخی حقيقت دې چه دَامام زهری رحمه الله پيدائش ۵۱ يا ۵۲ هجری کښې شوې اودَ عبدالله بن الزبير رضي الله عنهما شهادت واقعه ۷۳هجری کښې پيښه شوې نولکه دَ امام زهری رحمه الله عمر هغه وخت علي اختلاف القولين ۲۲يا ۲۳ کاله وو نوآيا دامعقول خبره ده چه هغه وخت په امت کښې امام زهری رحمه الله ته دومره شهرت اومقبوليت حاصل شوې وو چه مسلمانانودَهغه وضع کړې شوې يوداسې حديث قبول کړو په کوم کښې چه هغه دَ کعبه په ځائې ((قبة الصخرة)) بيت المقدس کښې دَحج دعوت ورکوی؟(۳)

څلورم جواب: دَ ګولډزيهر دَ باطل ګمان څلورم جواب دادې چه تاريخی نصوص په يقينی توګه باندې ښائی چه دَ عبدالله بن الزبير رضي الله عنهما په زمانه کښې دَامام زهری رحمه الله خونه دَ عبدالملك سره څه پيژندګلو وه اونه ئې هغه ددې نه پس کتلې دې.دَعلامه ذهبی رحمه الله اوابن عساکر رحمه الله مطابق امام زهری رحمه الله دَعبدالله بن الزبير رضي الله عنهما دَشهادت نه څوکاله پس ۸۰يا ۸۲ هجری کښې په ړومبی ځل عبدالملك بن مروان سره ملاؤشو. هغه وخت امام زهری رحمه الله ځوان وو. عبدالملك دَهغه امتحان واخستوبيائې هغه ته نصيحت اوکړو چه هغه دې لاړشي دَانصارو په کورونوکښې دې علم حاصل کړي. ددې تاريخی شهادت نه پس دَ يهودی مستشرق داګمان څنګه صحيح کيدې شي چه امام زهری رحمه الله دَخپل دوست عبدالملك دَ خوشحالئې دَپاره دَ بيت المقدس حديث وضع کړو دې دَپاره چه خلق به دَعبدالله بن الزبير رضي الله عنهما په زمانه کښې هلته حج له راځی؟(۴)

پنځم جواب:دَدغه متعصب يهودی مستشرق دَباطل ګمان پنځم جواب دادې چه حديث ((لاتشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد)) صرف دَ امام زهری رحمه الله تفردنه دې بلکه کبار محدثينودَده نه علاوه په نورو مختلف طرق سره هم دَدې تخريج کړې دې.

چنانچه امام بخاری رحمه الله دَ امام زهری رحمه الله دَ طريق نه علاوه دادَ حضرت ابوسعيدخدری رضي الله عنه نه نقل کړې دې. امام مسلم رحمه الله په دريو طرق سره دا روايت نقل کړې دې.يو دَامام زهری رحمه الله او دوه دَهغه نه

(۱) السنة ومكانتها في التشريع الإسلامی ص:۲۰۴-۲۰۳.
(۲) السنة ومكانتها في التشريع الإسلامی ص:۲۰۴-۲۰۳.
(۳) السنة ومكانتها في التشريع الإسلامی ص:۲۰۴.
(۴) السنة ومكانتها في التشريع الإسلامی ص:۲۰۴.

علاوه جريرعن ابن عمير عن قزعة عن ابى سعيد او ابن وهب عن عبد الحميد بن جعفر عن عمران بن ابى انس عن سلمان الاغرعن ابى هريرة رضي الله عنه په طريق سره نقل کړي دي.(۱)

شپږم جواب: دَمتعصب يهودى اعتراض شپږم جواب دادې چه «لاتشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد» والا حديث امام زهرى رحمه الله دَ خپل شيخ سعيد بن مسيب رحمه الله نه روايت کړي دې. که چرې امام زهرى رحمه الله دَ امويين دَ خوشحالولو دَ پاره دَ سعيد بن مسيب رحمه الله طرف ته نسبت کولو سره داحديث وضع کړي وى نوهغه به هم کله خاموشى نه اختياروله. حالانکه سعيد بن مسيب رحمه الله ته امويين په تکليفونو رسولو کښې څه کمى نه وَو پرېخودې اوذ سعيد بن مسيب رحمه الله انتقال هم دَحضرت عبدالله بن الزبير رضي الله عنهما دَ شهادت نه ۲۰ کاله پس ۹۳هجرى کښې شوې وو نوبيا داڅنګه کيدې شى چه هغه دومره دَ اوږدې مودې پورې په دې خاموش پاتې شوې وى اوداهم يومسلم حقيقت دې چه حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله دَحق خبرې په بيانولو کښې دَ اوچتو غرونونه هم زيات قوت لرلو او حق خبره کولو کښې دَ يوملامت کونکى ملامتيا په خاطر کښې نه راوستله.

اووم جواب: فرض کړه که مونږ دا اومنوچه امام زهرى رحمه الله داحديث دَ عبدالملك بن مروان دَ خوشحالولو دَپاره وضع کړي وو نوبيابه هم دَ اعتراض کونکى مقصد حاصل نه شى څکه چه دَ معترض دَباطل ګمان مطابق عبدالملك غوښتل چه خلق دې دلته دَ حج دَپاره راشى اوپه دې حديث کښې «قبة الصخرة» دَ څه فضيلت صراحت سره نه دې بيان کړي شوې. دَدې حديث اودې نه علاوه دَ بيت المقدس سر متعلق نور ټول صحيح احاديثو حاصل دادې چه په بيت المقدس کښې دَ مونځ اداکولو فضيلت دې اودَدې زيارت دَ يومتعين وخت دَ تعيين نه بغير فضيلت دې. فى الجمله دَدې ثبوت پخپله دَقرآن مجيد نه هم کيږى. په دې کښې اودَ معترض په باطل ګمان کښې دَ زمکې او آسمان فرق دې.(۲)

اتم جواب: علماء کرامو دَ حديث «لاتشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد» تصحيح کړې ده. دَدې بيت المقدس او قبة الصخره فضائل کښې بيان کيدونکى دَ دروغو رواياتو سره هيڅ تعلق نشته دې. او په دغه مکذوب رواياتو کښې يوهم دَ امام زهرى رحمه الله نه مروى نه دې.

په دې رواياتوباندې علماؤ نقد کړې دې اوفرمائيلى دى چه «کل حديث فى الصخرة فهو کذب» يعنى دَ قبة الصخره دَ فضيلت باره کښې بيان کيدونکى ټول روايات دروغ دى. نورفرمائى چه دَ بيت المقدس دَ فضيلت باره کښې صرف درې احاديث صحيح دى. ① يوحديث «لاتشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد» (۳)

---

(۱) سياتى تخريج هذه الطرق.

(۲) السنة وکانتها فى التشرع الإسلامى ص:۲۰۵.

(۳) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه عن الزهرى فى کتاب فضل الصلاة فى مسجد مکة والمدينة، باب فضل الصلاة فى مسجد مکة والمدينة رقم الحديث:۱۱۸۹، ومسلم فى صحيحه عن الزهرى وغيره، کتاب الحج، باب فضل المساجد الثلاثة، رقم الحديث:۱۳۹۷، وابوداؤد فى سننه، کتاب المناسک، باب ماجاء فى إتيان المدينة، رقم الحديث:۲۰۳۳، والترمذى فى جامعه، أبواب الصلاة، باب ماجاء فى أى المساجدأفضل، وقال: هذاحديث حسن صحيح رقم الحديث:۳۲۶-۳۲۵،وابن ماجه فى سننه عن الزهرى وغيره، کتاب إقامة الصلوات، باب ماجاء فى الصلاة فى مسجد بيت المقدس، رقم الحديث:۱۴۱۰-۱۴۰۹،والنسائى فى سننه عن الزهرى، کتاب المساجد [باب] ما

③ دویم حدیث «سئل عن أول بیت وضع فی الأرض، قال: المسجد الحرام، قیل ثم ماذا؟، فقال: المسجد الاقصی» (۱)

④ دریم حدیث «إن الصلاة فیه تعدل سبع مائة صلاة فی غیره» (۲)

دَ احادیثو خپل طرف ته دَ نسبت اجازت ورکولو شبه: گولډزیهر یهودی مستشرق په امام زهری رحمه الله باندې یواعتراض دا کړې دې چه هغه خپل طرف ته نسبت کولوسره به دَهرقسم احادیثو بیانولو اجازت ورکولو. چنانچه ابراهیم بن ولید اموی دَ احادیثو یوه صحیفه واخستله اودَامام زهری رحمه الله په خدمت کښې حاضرشو او عرض ئې اوکړو چه دادَ سماع په بنیاد باندې هغه ته دَ نشر کولواجازت ورکړه. نوامام زهری رحمه الله بغیردَ څه تردد اجازت ورکولوسره اوفرمائیل: «من یستطیع أن یجیزك بها؟» یعنې زمانه علاوه څوك تاته دَدې دَ اجازت ورکولوهمت کولې شي؟ لکه چه دغه شان دَ ابراهیم اموی په صحیفه کښې لیکلې شوې دا احادیث مرویات زهری رحمه الله گرځولوسره په روایت کولو کښې کامیاب شو.

اولنې جواب: دَدې شبه ړومبې جواب دادې چه ابن عساکر رحمه الله دَ امام زهری رحمه الله نه دَ ابراهیم دَسماع صراحت کړې دې نولکه دا صحیفه پیش کول دَ ابراهیم هم دَ خپل شیخ امام زهری رحمه الله نه اوریدلی احادیث پیش کولوسره اجازت غوښتلودَ قبیل نه دی. دَ محدثینو په اصطلاح کښې دې ته مناولة وائی. ابن صلاح په خپله مقدمه کښې «أنواع تحمل الحدیث» لاندې لیکلی دی چه شاګرد دَ خپل شیخ په خدمت کښې یوداسې کتاب پیش کړی چه هغه دَ شیخ نه اوریدلی دی نودَغه صحیفې جائزه اخستلو اودَتامل نه پس که چرې اوفرمائی چه داته زماطرف ته منسوب کولوسره بیانولې شې. نودې ته عرض مناولة وائیلی شی. امام حاکم رحمه الله فرمائی چه دَ ډیروزیاتو متقدمینو په نیز مناوله هم سماع ده. دَا امام زهری رحمه الله نه علاوه امام مالك، امام ربیعه، یحیی بن سعید، مجاهد اوسفیان رحمهم الله وغیره نه هم دغه حکایت کړې شوې دې. (۳)

دَ مناوله مثال: ایوب وائی چه مونږ به دَ امام زهری رحمه الله خدمت علم پیش کولو. عبیدالله بن عمر وائی چه مادَ امام زهری رحمه الله په خدمت کښې یوکتاب راوړلو هغه دَدې جائزه اخستلونه پس اوفرمائیل چه زه تاته دَدې روایت اجازت درکوم. دَامام زهری رحمه الله شاګردانو به په کثرت سره دغه شان کتاب پیش کولوسره اجازت اخستلو اوامام زهری رحمه الله به دَ پیش کړې شوې کتاب جائزه اخستلونه پس دَهغې اجازت ورکولو. لهذا دَ ابراهیم بن ولید اموی واقعه به هم یقیناً دَداسې قبیل نه وی لکه چه دَابن عساکر په روایت سره دَ دې تائیدهم کیږی. باقی پاتې شوه داخبره چه ابراهیم دَخپل طرف نه څه

تشدالرحال إلیه من المساجد، رقم الحدیث:۷۰۱، انظر جامع الأصول: رقم الحدیث:۶۹۹٤،۹۸۹۵،۹۸۹٤، راجع تحفة الأشراف، رقم:۱۳۲۸۳،۱۳۱۳.

(۱) الحدیث أخرجه البخاري فی صحیحه کتاب أحادیث الأنبیاء، باب، رقم الحدیث:۳۳۶۶، وباب قول الله تعالی ﴿ وَوَهَبْنَا لِدَاوُدَ سُلَيْمَانَ ۚ نِعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴾ (ص:۳۰)، رقم الحدیث:۵۲۰، والنسائی فی سننه، کتاب المساجد، ذکر أي مسجدوضع أولاً، رقم الحدیث:۶۹۱، انظرجامع الأصول رقم الحدیث:۶۸۸۱.

(۲) باب فضل بیت المقدس، والصخرة، وعسقلان، وقزوین:۱۵۳/۱، جنة المرتاب بنقد المغنی عن الحفظ والکتاب للشیخ أبی حفص عمر بن بدر الموصلی، تصنیف أبواسحاق الحوینی، دارالکتاب العربی، بیروت، الطبعة الثانیة: ۱٤۱٤ه، ۱۹۹٤م.

(۳) مقدمة ابن صلاح، ص:۸۹، اختصار علوم الحدیث، ص:۱٤۱.

احاديث جوړولوسره صحيفه مدون کړه بيانی دَ امام زهری رحمه الله نه دَ هغې دَ روايت اجازت اوغوښتلو اوامام زهری رحمه الله دَ هغې اجازت ورکړو نودادامام زهری رحمه الله په شان دَ جليل القدر امام نه مستحيل دی دَ چا امانت صدق او ضبط چه په پوره امت مسلمه کښې معروف دې.(۱)

دويم جواب: دويم جواب دادې چه معترض دلته دَ تحريف نه کار اخستې دې. دَ امام زهری رحمه الله اصل قول کوم چه ابن عساکر نقل کړې دې دَهغې الفاظ دادی: ((من يحيزك بهاغيري؟)) اوپه دې کښې دَ څه اشکال خبره نشته دې ځکه چه دَامام زهری رحمه الله نه علاوه خپل شاګرد ابراهيم ته دَدې احاديث کوم چه صرف هغه دَ زهری رحمه الله نه اوريدلې وو بل چا اجازت ورکولې شو. داخبره هم دَ ډيرو محدثينونه روايت شوې ده که چرې امام زهری رحمه الله نه وې نو ډيرزيات احاديث به دَنقل کولونه پاتې کيدل. پخپله امام مسلم رحمه الله دَدې خبرې اعتراف کړې دې چه هغه لس کم سل احاديث داسې نقل کړی دی چه صرف دَامام زهری رحمه الله نه روايت شوی دی. نو په دې بنيادباندې به دَ امام زهری رحمه الله دَ قول مطلب داشې چه زما نه علاوه بل چاته دَدې احاديثو علم دې چه هغوی تاته دَدې اجازت درکړی؟ دَدې دامطلب هيڅ کله نه دې چه زما نه علاوه تاته څوک دَ حديث دَ وضع کولو داجازت جرات نه شی کولې.

دريم جواب: معترض چه دَ کوم ابراهيم بن وليد اموی واقعه بنياد جوړولوسره اعتراض کړې دې دَ هغه نه محدثينو يوروايت هم نه دې نقل کړې. اونه دَ جرح اوتعديل په کتابونو کښې دَ هغه څه تذکره شته نه په ثقات کښې اونه په ضعفاء کښې. نوبيا هغه احاديث چرته دی دَ کوم دَ بيان کولوچه امام زهری رحمه الله اجازت ورکړې وو. دَ حديث په کوم يوکتاب کښې دی؟ اوچاهغه نقل کړی دی؟ هغه صحيفه چرته ورکه شوه چه دَ تاريخ په يوکتاب کښې هم اوس موجودنه ده؟(۲)

په کتابت حديث باندې دَ مجبوره کولوشبه: ګولډ زيهر دَامام زهری رحمه الله قول ((إن هؤلاء الأمراء أكرهونا على كتابة أحاديث)) يعنې دې امراء مونږ دَ احاديثو په کتابت باندې مجبورکړو نه دا اعتراض راابښکلو چه امام زهری رحمه الله په دې کښې هغه خطرناک اعتراف کړې دې چه هغه دَ امراء په مجبوره کولو سره احاديث ليکل. لکه چه هغه په امت کښې دَخپل مسلمه شهرت په وجه باندې دَ بنواميه حکمرانانو خواهشاتو ته عملی جامې اچولو کوشش کړې دې.

جواب: دَ امام زهری رحمه الله صداقت اوجراءت دوه واقعات مونږ وړاندې بيان کړی دی چه هغه دَ حکامو دَ خواهشاتو پوره کولونه څومره لرې وو. اودَ دغه تاريخی واقعاتونه داهم معلومه شوې ده چه امام زهری رحمه الله هيڅ کله دَهغه خلقو نه نه وو چه دَ بنواميه دَ حکمرانانو په خواهشاتو پوره کولو باندې تياروو. باقی پاتې شوه خبره دَ امام زهری رحمه الله دَ قول نومعترض دَهغې يوه ټکړه پيش کولوسره قصداً دَدې بالکل برعکس مفهوم اخذ کړې دې. صحيح او پوره واقعه لکه چه ابن عساکر رحمه الله او ابن سعد رحمه الله نقل کړې ده هغه داسې ده چه امام زهری رحمه الله به خلقو ته دَ احاديثو املاء نه ليکله بيا زبانی بيان به ئې کولو دې دَپاره چه خلق دَهغې په يادولو کښې خپل دَ يادولو قوت په کار راولی اوصرف دَ حديث په کتابت باندې اکتفااونه کړې. هشام بن عبدالملک اصرار اوکړو چه امام زهری رحمه الله دَهغه خوئی ته څه احاديث املاء کړې دې دَپاره چه دَهغه دَحافظې امتحان واخستلې شی. چنانچه په دې اصرار باندې امام زهری رحمه الله دَهغه خوئی ته څلورسوه احاديث املاء کړل. بيا دَ هشام نه واپس راغلو

---

(۱) السنة ومكانتهافى التشريع الإسلامى، ص:۲۰۶.

(۲) المرجع السابق:ص:۲۰۷.

نوخلق ئې مخاطب كړل په اوچت آواز ئې اوفرمائيل «يأيها الناس إنا كنا منعناكم أمراً، قد بدلنا الآن لهؤلاء وإن هؤلاء الأمراء أكرهونا على كتابة الأحاديث، فتعالوا أحدثكم بها، فحدثهم بالأربعمائة الحديث» يعنى اې خلقو مونږ تاسو دَ حديث دَ املاء نه منع كړې وئې. اوس مونږ پخپله املاء اوكړه، اودې امراء په مونږ باندې املاء كولوسره يوځو احاديث په كتابت باندې مجبوركړو. لهذا راشئ چه تاسو ته هم هغه يوځو احاديث واؤروم. چنانچه بيائې هغه څلورسوه احاديث بيان كړل.

دادې دَامام زهرى رحمه الله دَ قول صحيح تاريخى روايت دكوم نه چه دې مستشرق دَخپلې مرضئ اعتراض اوشبه پيدا كولو مذموم كوشش كړې دې. غوراوكړئ چه اصل واقعه اودَ معترض بيان كړې شوې اعتراض كښې څومره فرق دې چه مؤرخينو خو الاحاديث وئيلوسره صرف دَ څلورو سوو يو مخصوص واقعه په كوم كښې چه دَ املاء تذكره ده بيانوى خو معترض دې ته احاديث وئيلوسره مطلقاً دَ ټولو احاديثو په وضع باندې محمول كړې دى. آيا داځه علمى امانت دې چه دَ الاحاديث نه الف لام حذف كولوسره أحاديث جوړكړې شى او بيا قول دَهغې دَ پس منظر نه اخوا كولوسره دَخپلې مرضئ اعتراض راښكلې شې. اودَ امام زهرى رحمه الله په فضيلت اومنقبت باندې مشتمل واقعه سره په هغوى باندې دَامراء په خاطر دَ حديث دَ وضع الزام اولګولې شى. حالانكه اصل روايت مونږ ته ښائى چه امام زهرى رحمه الله په دې خبره باندې هم راضى نه وو چه يوعمل دكوم نه چه عام مسلمانان منع كړې شوې وو اوس دَ امراء په أصرار باندې هغه پوره كړې دې نوبيا ولې عام مسلمانان دَدې نه محروم كړې شى. چنانچه بيائې خلقو ته هغه څلور سوه احاديث املاكړل. دادې دَامام زهرى رحمه الله اخلاص ديانت ثقاهت كوم چه دَ دې مستشرق علمى امانت دَ امراء دَپاره دَ وضع حديث په الزام كښې بدل كړو. فشتان بينهما. (١)

اموى حكمرانانو له دَ تګ راتګ شبه: مستشرق ګولډ زيهر په امام زهرى رحمه الله باندې يوالزام داهم لګولې دې چه هغه دَ هغه خلقونه وو چاسره چه اتفاق نه شوكيدې ځكه چه هغه دَ وخت حكومت سره كاركول جائزګڼړل اواموى حكمرانانو سره دَ هغوى په محلونوكښې دَ تګ راتګ نه ځان نه ساتلو بلكه په كثرت سره به بادشاه له تلو راتلو.

جواب: داخبره دَ چا نه پټه نه ده چه دَ علماء سلف دَ خلفاء او امراء په مجالس كښې دَ يودينى ضرورت دَ وجې نه تګ راتګ سره دَهغوى په امانت اوديانت باندې څوك څه پيغورنه شى كولې اونه داوئيلې شى چه هغوى دَ خلفاء دَ خواهشاتو په وړاندې خاموش وو. دَ امام زهرى رحمه الله او بنواميه دَ خلفاؤ په مينځ كښې تعلق دَدنيا اودَهغې دَ معمولى څيزونو په بنيادباندې نه وو بلكه دَ هغوى تعلق دَهغه علماؤ په شان وو چاته چه دَ خپل علم اودين په وجه عزت اومرتبه حاصله وه. امام زهرى رحمه الله كله هم دَ يوحق خبرې په وئيلوكښې دَ بادشاه اوسلطان په وړاندې ويره نه كوله.

پخوانئ زمانه كښې صحابه كرام رضي الله عنهم اموى خليفه حضرت معاويه رضي الله عنه په خدمت كښې اوتابعين دَ نورو اموى خلفاء له ورتلل. امام ابوحنيفه رحمه الله به خليفه منصور له ورتللو اودَ امام ابويوسف رحمه الله خو هارون الرشيدسره پوخ تعلق وو. دَدې باوجود چاهم دې حضراتو ته صرف خلفاؤ سره تعلق او دَ تګ راتګ دَ وجې نه مطعون كړى نه دى اونه بادشاهانوسره تعلق ساتل او ناستې پاستې دَ وجې نه دوى دَ عدالت دَ مرتبې نه راښكته كړى دى. (٢)

---

(١) السنة ومكانتها فى التشريع الإسلامى، ص:٢٠٨-٢٠٧.

(٢) المرجع السابق ص:٢٠٨.

دَ حجاج په ملګرتيا کښې دَ حج الزام: ګولډزيهر دَ امام زهرى رحمه الله نه متنفرکولو اودَهغوى قلت تدين ثابتولودَپاره په هغوى باندې دا الزام لګولې دې چه هغه دَ حج دَ پاره دَ حجاج ملګرتيا اختيار کړې وه.

جواب: دا هم صرف دَالزام نه سوا هيڅ نه دى. امام زهرى رحمه الله دَ حج دَپاره هيڅ کله هم دَ حجاج ملګرتيانه ده اختيار کړې. بلکه هغه دَعبدالله بن عمر رضي الله عنهما سره وو. کله چه دَ حج په موقع دَهغه حجاج سره ملاقات شوې وو. امام عبدالرازق په خپل مصنف کښې دَامام زهرى رحمه الله نه نقل کړى دى چه عبدالملك بن مروان حجاج ته حکم ورکړې وو چه هغوى دې په مناسك حج کښې دَعبدالله بن عمر رضي الله عنهما اقتداء اوکړى. دغه شان حجاج دَعرفه په ورځ هغوى ته ګزارش کړې وو چه کله دَهغوى دَ تګ اراده وى نوخبردارې دې اوکړى. امام زهرى رحمه الله وائى چه کله ابن عمر رضي الله عنهما اوسالم روان شو نوزه دې دواړو حضراتوسره ووم. هغه وخت زما روژه وه په دې وجه دَ ګرمئ سختى ډيره محسوس کيدله. دَدې نه معلومه شوه چه په حقيقت کښې امام زهرى رحمه الله دَ ابن عمر رضي الله عنهما په ملګرتيا کښې وو نه چه هغه دَ حجاج په ملګرتيا کښې حج کړې وو. (١)

دَ هشام دَاولاد دَ تربيت الزام: ګولډ زيهر په امام زهرى رحمه الله باندې يوالزام داهم لګولې دې چه هشام هغه دَخپل ولى عهد مربى مقرر کړې وو.

جواب: دا اعتراض هم دَ ګولډ زيهر دَتاريخ نه دَ جهالت نتيجه ده ځکه چه دَ هشام خپل خوئى دَهغه ولى عهدنه وو بلکه دَهغه دَ رور وليد خوئى دَهغه ولى عهد وو لکه چه دَهغه رور يزيدبن عبدالملك دَدې وصيت کړې وو. او دومره خبره ضرور ده چه هشام کله حج اوکړو نوهغه وخت ئى امام زهرى رحمه الله دَخپلو بچو مربى مقرر کړې وو. دَدې نه علاوه بله هره خبره دَ امام زهرى رحمه الله طرف ته منسوب کول تاريخى غلطى ده.

مزيد په دې نه دى معلوم چه امام زهرى رحمه الله که چرې دَهشام دَ بچو تربيت کړې دې نو په دې سره په هغه باندې څه الزام راتلې شى؟ ولې دا بهترنه ده چه دهغوى دَ تربيت ذمه وارى په يوبدچلن دَ الله او دَ هغه دَ رسول صلى الله عليه وسلم دَ نافرمان په ځائې امام زهرى رحمه الله سرته اورسولو. هم دَدغه تربيت نتيجه ده چه دَهشام بچو دَ اسلام په نشرواشاعت کښې لوئى کردار اداکړو او دَ روم په ښاريوکښې ئى ډيرغزوات اوکړل. ولې دَ دې تولو سهره دَ هغوى دَ شيخ امام زهرى رحمه الله په سرباندې ښه نه ښکارى؟ خاص کر چه مؤرخينو ددې خبرې صراحت کړې دې چه امام زهرى رحمه الله پخپله هم يوجليل القدر مجاهد وو. يوځل ئى شام ته دَ غزوه په غرض سره تشريف راوړو نود مجاهدينو والالباس ئى اچولې وو. (٢)

دَ قضاء عهده قبلولوباندې اعتراض: دَخپلې تيلئى تول غشى چلولونه پس په آخره کښې ګولډزيهر په امام زهرى رحمه الله باندې دا اعتراض اوکړو چه هغه دَ يزيد ثانى په زمانه کښې دَ قضاء عهده قبوله کړې وه. که چرې هغه پرهيزګاره اومتقى عالم وې نوهغه له دَ امام شعبى رحمه الله او نورو صلحاؤ په شان ددې نه لرې تختيدل پکاروو.

جواب: آياڅوك دَعقل سليم والاسړې به دا اعتراض صحيح تسليم کړى؟ ځکه چه ترننه پورې چاهم دَ قضامنصب سبب دَ جرح اوعدالت کښې دَ تهمت سبب نه دې ګڼړلې. او رسول الله صلى الله عليه وسلم پخپله حضرت

---

(١) السنة ومكانتها فى التشريع الإسلامى ص:٢٠٨.

(٢) المرجع السابق:ص:٢٠٩.

على ﷺ حضرت معاذ بن جبل ﷺ اوحضرت معقل بن يسار ﷺ وغيره قاضيان جوړكړي وو او ډير زيات تابعين عظام د بنو اميه وغيره قاضيان جوړشوى. امام شريح، ابو ادريس خولانى، عبدالرحمن بن ابى ليلى، قاسم بن عبدالرحمن بن عبدالله بن مسعود وغيره رحمهم الله او نورو ډيرو زياتو اكابرو د بنواميه د حكومت په زمانه كښې قاضيان پاتې شوى وو او په دوى كښې بعض د حجاج په زمانه كښې قاضيان مقررشوى خوچا هم دوى په دې باندې متهم كړى نه دى. باقى پاتې شوه خبره د امام شعبى رحمه الله چه هغه د قضا نه تختيدلې وو نو په دې كښې هم د مغالطه نه كار اخستې شوې دې ځكه چه حقيقت دادې چه د ابن اشعث د فتنې يخيدونه پس د حجاج په زمانه كښې امام شعبى رحمه الله د يزيد بن عبدالملك قاضى مقررشوې وو. معترض د امام شعبى رحمه الله د دې روستونى عمل نه ولې سترګې پټوى حالانكه دا زيات د دې خبرې مستحق دى چه د دې نه استدلال اوكړې شى.

باقى پاتې شوه خبره د هغه د دغه باطل ګمان چه متقيان او صالحان د قضا عهده قبلولونه ځان ساتى اودا به ئې د سقوط عدالت سبب ګنړلو: په دې باندې په دليل كښې داحديث پيش كوى «من ولى القضاء أوجعل قاضيا، فقد ذبح بغيرسكين»(١) يعنى چه څوك قاضى جوړشو يا هغه قاضى جوړكړې شونو البته هغه بغيرچاړه ذبح كړې شو.

د دې جواب دادې چه د اسلاف نه نقل شوې داخبره خلاف واقع ده ځكه چه اسلافو د دې خبرې صراحت فرمائيلې دې چه د ظالم اوجابرحكمرانانو د طرف نه د قضا منصب قبلول بغيرد څه اختلاف نه جائزدى او د حديث مطلب دادې چه په دې كښې په دې خبره باندې قاضى راتيار كړې دې چه پخپله دې د قضامنصب نه غواړى اوكه قاضى جوړكړې شو نوبيا دې د عدل نه كار واخلى.

د حنفيه نه صاحب د هدايه د سلطان جائر د طرف نه د قاضى جوړولو د جواز په صراحت سره بيان كړې دې.(٢)

ابن العربى مالكى ليكلى دى چه ولايت د قضا فرض كفايه دې كه چرې حاكم وخت ټولو خلقوته د دې د قبلولودعوت وركړو اويوهم قبول نه كړو نوټول به ګناهګار وى.(٣)

ابن فرحون په تبصرة الحكام كښې ليكلى دى چه هغه ټول احاديث په كوموكښې چه د قضاباره كښې تخويف او وعيد راغلې دې نوهغه د ظالمانو قاضيانو باره كښې اود هغه جاهلانو باره كښې دې چه بغيرد علم نه دامنصب قبلوى د دغه دواړو قسمونو باره كښې وعيدراغلې دې (نه چه مطلقًا)(٤)

د دې تصريحاتونه معلوميږى چه معامله داسې نه ده ځنګه چه ده مردار ګولډزيهر د هغې منظركشى كړې ده چه قبوليت قضا عدالت ساقط كوى. بلكه دا يوعظيم عزت دې د الله تعالى په نازل كړې شوو احكاموسره د خلقو معاملات فيصله كولوباره كښې د رسول الله ﷺ صرف د نيابت معامله د هغې د شرافت او فضيلت د پاره كافى دى. البته بعض اسلافو د قضاد قبوليت نه تيخته هم اختياركړې ده او په دې باره كښې ئې مختلف قسم تكليفونه هم برداشت كړى دى ليكن دا ټول د دې وجې نه نه چه په

---

(١) والحديث أخرجه أبوداؤد فى سننه، كتاب القضاء باب فى طلب القضاء رقم الحديث:٣٥٧١، ٣٥٧٢ والترمذى فى جامعه، وقال: هذا حديث حسن غريب من هذاالوجه. أبواب الأحكام باب ماجاء عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فى القاضى، رقم الحديث:١٣٢٥.

(٢) الهدايه مع فتح القدير:٦/٣٦٤.

(٣) شرح ابن العربى على سنن الترمذى:٦/٦٦

(٤) تبصرة الحكام فى أصول الأقضية ومناهج الأحكام:١/١٠-٩.

دي سره عدالت ساقط كيږي يا دا د جرح سبب دي بلكه دا صرف اوصرف د ورع اوزهد د وجې نه وو دې دپاره چه كله هغوى د الله تعالى سره ملاقات اوكړى نو چه په هغوى باندې دخلقو د معاملاتو څه ذمه وارى نه وى.

ابن العربى رحمه الله دبعض صحابه كرامو رضي الله عنهم د قضاعهده نه قبلولو وجه بيانولوسره ليكلى دى چه سړې كوم نيك اعمال كوى دهغې باره كښې هغه له وړيدل پكاردى چه كيدې شى ددې عمل په پوره كولوكښې څه كمې شوې وى اوعمل د دغه څيزونونه بچ كول غواړى په كوم سره چه هغه د عدم قبوليت ښكاركيږى. داخودهغه طاعات باره كښې چه صرف د بنده خپل خان سره خاص دى نوبيا څه خيال دې دهغه اعمالوباره كښې چه حقوق الناس سره متعلق وى او بنده په هغې كښې اخته وى. لهذا دتقصيرويره اوعمل دعدم قبوليت د اسباب نه بچ كول په هغه كښې د اولنى نه زيات كيدل پكاردى.

الحاصل ددې ټول تفصيل نه د گولډ زيهر يهودى مستشرق د امام زهرى رحمه الله باره كښې اوچت كړې شوى ټول اعتراضات اوشبهات باره كښې تفصيلى بحث راغلې دې په كوم كښې چه گولډزيهر دا كوشش كړې وو چه ددې تهمتونو او اباطيل په ذريعه د امام زهرى رحمه الله ثقاهت ختم كړى. دې دپاره چه د حديث د ټولوكتابونو نه اعتماد اوچت شى. فرض كړه كه د هغه دا دعاوى تسليم كولې شوى نويقيناً د ذخيره حديث نه به دخلقو اعتماد پورته كيدلو ليكن الحمدلله په تيرو شوو صفحاتوكښې بيان كړې شوى تفصيل نه دغه ټولو شبهاتو اواباطيل حقيقت واضح شو چه دهغه حيثيت د تارعنكبوت يعني د جولاگى د جالې د تار نه زيات هيڅ نه دى.[1]

په حديث كښې د ادراج بحث: [2]

---

[1]) السنة ومكانتها فى التشريع الإسلامى ص: ۲۱۰-۲۰۹.

[2]) ادراج يوڅيز په بل څيزكښې داخلولواوضم كولوته وائى. د علماء حديث په اصطلاح كښې مُدرج هغه حديث ته وائى د كوم سياق سندچه بدل كړې شوى وى يابغيرد فصل نه غيرحديث دحديث په متن كښې داخل كړې شوې وى. دمدرج دوه قسمونه دى:(۱) مدرج الإسناد (۲) مدرج المتن، دمدرج الإسناد علماء متعدد صورتونه بيان كړى دى دهغې خلاصه داده چه:

① چه راوى يوحديث د محدثينو د يوداسې جماعت نه واورى دكوم سندونه چه مختلف وى، بيا هغه ددې اختلاف سند بيانولونه بغير داحديث ددغه ټولونه هم په يوسندسره روايت كړى.

② راوى د يوحديث متن په يوسندسره نقل كړى سواد دې د يوجزء نه چه هغه په بل سندسره نقل كړى بيايوبل راوى ده نه هغه دواړه حصې كومې چه په جدا جدا سند سره وې هغه يوځائى كړى اوپه يوسندسره ئى روايت كړى يا دوه احاديث چه په جدا جدا سندسره روايت شوى وى هغه هم په يوسند كښې جمع كولوسره روايت كړى.

③ محدث د حديث بيانولودپاره د يوحديث سندبيان كړى بيا د څه عارض د لاحق كيدود وجې نه د خپل طرف نه څه خبره اوكړى، د سامعين نه بعض د محدث دا ذاتى كلام د دغه بيان كړې شوى سندمتن گڼرلوسره نقل كړى. دا ابن صلاح رحمه الله په شبه وضع كښې شمير كړې دې. اوبعض علماء داهم موضوع شمير كوى. حافظ ابن حجر رحمه الله دا په مدرج كښې شمير كړې دى اودا اولى دى ځكه چه په دې كښې د ادراج معنى اظهرده. دمدرج المتن درې قسمونه دى:

دَ امام زهری رحمه الله په توثیق باندې دَ ائمه اتفاق دې هغوی دَ اوچتې درجې محدث اوفاضل وو. خو په ادراج فی الحدیث کښې ئی هم شهرت لرلو. دَحدیث په بیانولوسره به نی مینځ کښې خپله رائې داخلوله اواکثربه ئی دَهغې وضاحت نه کولو، دکوم نه چه به دَهغه ادراج کړې شوې الفاظ هم دَ حدیث حصه گنړلې شوه. چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله دَامام زهری رحمه الله دَدې عادت باره کښې «النکت علی ابن الصلاح» کښې لیکلی دی: «**كان الزهري يفسر الأحاديث ورعا أسقط أداة التفسير فكان بعض أقرانه دائماً يقول له: افصل كلامك من كلام النبي صلى الله عليه وسلم**». [1] یعنی امام زهری رحمه الله به دَ احادیثو تفسیرکولو اواکثروختونوکښې دَ دغه مفسرانه کلام (حروف) به تفسیرساقط کولو. دَهغه بعض معاصر (امام ربیعة الرای) به همیشه هغوی ته فرمائیل چه خپل تفسیری کلمات دَ نبی کریم ﷺ دَ کلام نه جدا بیانوه.

پخپله امام بخاری رحمه الله التاریخ الکبیر کښې دَ ابوعثمان ربیعه بن ابوعبدالرحمن په حالاتوکښې دَ عبدالعزیز په واسطه سره دَ امام مالك رحمه الله نه نقل کړی دی: «**كان ربيعة يقول لابن شهاب: إن حالتي ليس تشبه حالك، أنا أقول برأيي، من شاء أخذ، وأنت تحدث عن النبي صلى الله عليه وسلم، فتحفظ**». [2]

یعنې امام ربیعه رحمه الله به ابن شهاب رحمه الله ته فرمائیل چه زما حالت ستادَ حالت په شان نه دې، زه خودَخپلې رائې اظهارکوم چاچه اوغوښتل په هغې باندې ئی عمل اوکړو. اوته دَنبی کریم ﷺ نه حدیث نقل کوې نوښه احتیاط کوه.

امام ذهبی رحمه الله هم دَ امام مالك رحمه الله نه دَ امام ربیعه رحمه الله مذکوره قول نقل کړی دې چه امام ربیعه رحمه الله به امام زهری رحمه الله ته وئیل چه زما اوستاحالت یوشان نه دې، امام مالك رحمه الله وائی: هغه اووئیل هغه څنګه؟ نو امام ربیعه رحمه الله اوفرمائیل چه زه خودَخپلې رائې اظهارکوم چا چه اوغوښتل عمل نی اوکړو اوچا چه اوغوښتل هغه نی پرېخودل. او ته خودَ رسول الله ﷺ نه حدیث نقل کوې هغه محفوظ کولې شی. [3]

---

① چه په اول دَ حدیث کښې ادراج وی دا په عام توګه باندې قلیل دې لیکن په وسط حدیث کښې دَ ادراج په نسبت سره زیات دې. ② په وسط حدیث کښې چه ادراج کړې شوې وی دادَ اول نه اقل دې. ③ آخرحدیث کښې ادراج کړې شوې وی اودا غالب دې.

دواعی ادراج: دواعی ادراج متعدد دې یوڅومشهوردادی: ① چه دَ یوڅیزشرعی حکم بیانول مقصود وی. ②اتمام حدیث نه وړاندې هم دَحدیث نه دَیوشرعی حکم استنباط مقصود وی. ③ په حدیث کښې واردشوی یولفظ غریب شرح مقصودوی.

ادراك اود ادراج طریقه: دَ ادراج ادراك په دې لاندینوامورسره کولې شی:

① هغه روایت "کلام مدرج" سره منفصل کیدوسره چه په دویم طریق سره بل ځائی کښې مروی وی. ② دَادراج نه واقفیت لرونکو ائمه محدثین دَدې صراحت کړې وی. ③چه راوی پخپله دا اقرار اوکړی چه هغه د فلانکی کار ادراج کړې دې. ④ څه داسې خبره وی چه دَهغې نسبت دَحضورپاك طرف ته کول محال وی. (تعلیقات أستاذنا المکرم العلامة البحاثة الشیخ نور البشر حفظه الله ورعاه علی خیر الأصول فی حدیث الرسول للعلامة المحدث الفقیه الشیخ خیرمحمد الجالندهری رحمه الله، ص: ٤٧-٤٥).

[1]) تحت النوع العشرون: المدرج، ص:٣٥٣.

[2]) التاریخ الکبیر:٣/٢٨٧-٢٨٦رقم الترجمة:٩٧٦.

[3]) تاریخ الإسلام:٣/٦٧٤تحت ترجمة ربیعة الرائی، رقم الترجمة:٢٣٦٣.

خطیب بغدادی رحمه الله خپل سندسره دَ امام لیث رحمه الله نه نقل کړی دی: «قال ربیعة لابن شهاب: یاأبابکر! إذا حدثت الناس برأیك فأخبرهم بأنه رأیك وإذا حدثت الناس بشیئ من السنة فأخبرهم أنه سُنَّة لا یظنون أنه رأیك»
(۱)علامه سخاوی رحمه الله هم«فتح المغیث شرح ألفیة الحدیث» کښې دَ امام زهری رحمه الله ادراج اودَ امام ربیعه رحمه الله دَهغه دَدې نه دَمنع کولو فهمائش نقل کړې دې.(۲)
دَ ابن شهاب زهری رحمه الله دَ ادراج فی الروایة ډیر مثالونه موجود دی. اکابرعلماء سلف کښې امام دارقطنی رحمه الله امام طحاوی رحمه الله علامه ابن عبدالبر رحمه الله امام ابوبکر حازمی رحمه الله امام نووی رحمه الله علامه جمال الدین زیلعی رحمه الله علامه ابن کثیر رحمه الله حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله علامه جلالالدین سیوطی رحمه الله اوملاعلی قاری رحمه الله وغیره دَ امام زهری رحمه الله ادراج فی الحدیث په صراحت سره ذکرکړی دی.(۳).

په روایات فدک کښې ادراج: دَ مطالبه فدك خمس خیبروغیره په روایاتوکښې چرته دَ حضرت فاطمه رضی الله عنها او سیدناصدیق أکبر رضی الله عنه په مینځ کښې دَخفګان الفاظ مثلاً غصه کیدل، هجران، خبرې نه کول، عدم اطلاع وفات فاطمه رضی الله عنها وغیره مروی شوی دی. په دې سلسله کښې ټول ۳۶ طرق سره روایات راغلی دی. په دې کښې ۲۵ طرق دارومدار په زهری باندې دې او ۱۱ طرق دَزهری نه علاوه دَ نورو راویانونه نقل دی. دَ ابن شهاب زهری رحمه الله نه علاوه چه کوم ۱۱نور طرق دی په هغې کښې دغه پورته بیان کړې شوی دَ خفګان الفاظ اوحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره دَ قطع تعلق ذکرنشته دې. دا صرف دَ زهري رحمه الله ۱۶طرق کښې ذکردی. په دې وجه ښکاره خبره ده چه دادَ زهری رحمه الله دَ طرف نه اداراج دی. (۴)کنې دَ دې نه علاوه چه دَ کوم یولس طرق سره داقصه نقل ده په هغې کښې چرته په یوکښې په دَدې ذکر وې.(۵)

شرح حدیث

قوله: **كنت أغتسل أنا والنبي ﷺ من إناء واحد من قدح يقال له الفرق**: (حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی) ما اونبی کریم ﷺ (دواړه یوځائی) دَ یولوښی نه غسل کولو کوم ته چه فرق وئیلې شی.
والنبي: په حدیث شریف کښې موجود لفظ النبي منصوب اومرفوع دواړه شان لوستلې شی. مفعول معه

---

(۱) كتاب الفقيه والمتفقه، باب ذكر أخلاق الفقيه وآدابه وما يلزمه استعماله مع تلاميذه وأصحابه. ص:۱٤۸.
(۲) ۲۰۷/۱،تحت بحث المدرج.
(۳) رحماء بينهم:۱۵۱/۱
(۴) واضحه دې وی چه دَ امام زهری رحمه الله دَ جلالت شان نه باوجود دا ادراجات شرعًا غیرمعتبر دی ځکه چه که ادراج دَ یوحکم شرعي بیان، یادَ استنباط دپاره وی یادَ یولفظ غریب شرح اووضاحت دپاره وی نو جائزدی. دَدې نه علاوه که ادراج دَهرقسم غرض دپاره وی هغه دَ فقهاء اومحدثینو حضراتو په نیز بالاجماع حرام دی.
حكم الإدراج: "الإدراج حرام باجماع العلماء من المحدثين والفقهاء وغيرهم. ويستثنى من ذلك ماكان لتفسيرغريب، فإنه غيرممنوع ولذلك فعله الزهري وغيره من الأئمة" (تعليقات أستاذنا المكرم العلامة البحاثة الشيخ نورالبشر حفظه الله ورعاه على خير الأصول في حديث الرسول للعلامة المحدث الفقيه الشيخ خيرمحمد الجالندهري رحمه الله، ص:٤۷.)
(۵) دَ نورتفصیل دَپاره اوګورئی: رحماء بینهم: ۱۵۱/۱-۱۳۶کشف الباری، کتاب المغازی ص:٤۵۸-٤۵۹.

کیدودَ وجې نه به منصوب لوستلې کیږی او په ضمیرمرفوع باندې دَعطف دَ وجې نه به مرفوع لوستلې شی.(۱) دَ أغتسل نه پس ئی أنا ضمیر منفصل راوړلو چه دَاسم ظاهر عطف په دې باندې اوکړې شی.(۲)

اشکال: باقی پاتې شوه داخبره چه لفظ النبی که چرې معطوف اوګرځولې شی په ضمیرمرفوع باندې نوتقدیری عبارت به داسې شی ((أغتسل أنا والنبی)) (صیغه متکلم سره) خوداترکیب صحیح نه دې ځکه چه اسم ظاهردَ غائب په حکم کښې وی نودَدې دَپاره دَ متکلم صیغه (أغتسل) راوړل ځنګه صحیح کیدې شی؟(۳)

جواب: دَدې جواب دادې چه دادَ ((تغلیب المتکلم علی الغائب)) دَ قبیل نه دې اودلته یغتسل عامل مقدردې تقدیری عبارت به داسې شی ((أغتسل ویغتسل النبی)) لهذا دَ النبی عطف په ماقبل باندې صحیح دې. (۴)دَدې مثال دَالله تعالی داارشاد مبارك دې په کوم کښې چه الله تعالی حضرت آدم علیه السلام ته اوفرمائیل: ﴿أَسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ﴾ (۵)آیت مبارك کښې ((زوجك)) (اسم ظاهر کوم چه دَغائب په حکم کښې دې) عطف أنت مخاطب باندې کړې شوې دې اودادَ تغلیب المخاطب علی الغائب دَ قبیل نه دې. دَدې تقدیری عبارت ((أسکن أنت ویسکن زوجك الجنة))(۶)

دویم اشکال: که چرته څوك دا اووائی چه آیت مبارك ((تغلیب المخاطب علی الغائب)) نه خوداخودل مقصود دی چه سکنٰی په جنت کښې حضرت آدم علی نبینا و علیه السلام اصل او حضرت حواء علیها الصلاة والسلام دَهغې تابع ده نو په زیر بحث حدیث کښې تغلیب المتکلم علی الغائب څه فائده ده؟ (۷)

جواب: دَدې خبرې جواب شراح حدیث دا ورکړې دې چه په حدیث کښې تغلیب المتکلم علی الغائب نه دې طرف ته اشاره کول مقصوددی چه هم ښځې دَ شهوت محل دې اوهم دوی دَ غسل سبب اوذریعه جوړیږی نولکه چه هغه (ښځې) دَغسل په باب کښې اصل اوسړی دَهغې تابع دی. (۸)

---

(۱) شرح الکرمانی:۱۱۳/۳فتح الباری:۴۷۹/۲ تحفة الباری:۲۱۹/۱.
(۲) عمدة القاری:۲۹۰/۳ شرح الطیبی:۸۵/۲
(۳) شرح الکرمانی علی صحیح البخاری:۱۱۳/۳عمدة القاری:۲۹۰/۳ تحفة الباری:۲۱۹/۱ شرح الطیبی علی مشکاة المصابیح:۸۵/۲
(۴) شرح الکرمانی: ۱۱۳/۳عمدة القاری:۲۹۰/۲ فتح الباری ۴۷۹/۱ تحفة الباری:۲۱۹/۱.
(۵) البقرة:۳۵، والأعراف:۱۹، قال العلامة أبوالفضل شهاب الدین السید محمود الألوسی رحمه الله فی تفسیر هذه الآیة:(أنت) توکید للمستکن فی(اسکن)والمقصد منه بالذات صحة العطف، إذا لو لاه لزم العطف علی الضمیر المتصل بلافصل، وهوممتنع فی الفصیح علی الصحیح، وإفادة تقریر المتبوع مقصودة تبعاً، وصح العطف مع أن المعطوف لایباشره فعل الأمر، لأنه وقع تابعًا،ویغتفر فیه مالا یغتفر فی المتبوع، وقیل هناک تغلیبان: تغلیب المخاطب علی الغائب والمذکر علی المؤنث.... وللتخلص عن ذلک قیل: إنه معطوف بتقدیر فلیسکن، وفیه أنه حینئذ یکون من عطف الجملة علی الجملة فلا وجه للتأکید". (روح المعانی فی تفسیر القرآن العظیم والسبع المثانی :۲۳۴/۱).
(۶) شرح الکرمانی: ۱۱۳/۳عمدة القاری:۲۹۰/۳ تحفة الباری:۲۱۹/۱شرح الطیبی:۸۵/۲
(۷) شرح الکرمانی:۱۱۳/۳عمدة القاری:۲۹۰/۳ شرح الطیبی:۸۵/۲.
(۸) شرح الکرمانی:۱۱۳/۳عمدة القاری:۲۹۱/۳ تحفة الباری:۲۱۹/۱ شرح الطیبی علی مشکاة المصابیح:۸۵/۲

دَعلامه كوراني توجيه: علامه كوراني رحمه الله دَ تغليب توجيه خبط گرځولي ده. هغه فرمائي حديث په خپل ظاهر باندې محمول دې په دې كښې دَ تغليب اعتبار كولو هيڅ ضرورت نشته دې. بل دا چه كله مونږ فعل مذكور «أغتسل» مناسبت سره والنبي دَپاره دويم فعل «يغتسل» مقدرمنو نو بيا دَ تغليب اعتبار غيرمعقول امردې. (۱)

دريم اشكال: علامه كرماني رحمه الله وغيره دلته يوبل اعتراض هم ذكركړې دې هغه دا كه چرې څوك دا اووائي چه دَ حديث داسې تقدير هم بيانولې شي: «أغتسل أنا ورسول الله صلى الله عليه وسلم من إناء مشترك بيني وبينه فبادرني ويغتسل ببعضه ويترك لي ما بقي، فأغتسل أنا منه» يعنى ما اورسول الله ﷺ به دَ يوشريك لوښي نه غسل كولو حضورپاك به مخكښې والې كولو او په څه اوبوسره به ئې غسل كولو اوباقي به ئې زما دَ پاره پريخودلې نوما به په هغې سره غسل كولو. (ليكن دا تقدير نه دې اختيار كړې شوې، دَدې څه وجه ده؟)(۲)

دَعلامه كرماني رحمه الله جواب: علامه كرماني رحمه الله فرمائي چه داسې تعبيراختيارول دَ ظاهرحديث خلاف دې خاص كرچه كله أغتسل أنا والنبي كښې والنبي مفعول معه اومنلې شي ځكه چه دَمفعول معه منلو په صورت كښې معيت في الغسل معنى به متعين شي اودَمعترض والاتقدير منلو په صورت كښې به جدا جدا غسل كول لازم راځي چه دَ ظاهردَ حديث خلاف دې. (۳)

دَعلامه عيني رحمه الله جواب: علامه عيني رحمه الله فرمائي چه داتقديرځكه صحيح نه دې چه په يوبل حديث سره دَدې مخالفت كيږي په كوم كښې چه حضورپاك ښځې له دَ سرې نه پاتې شوې اوبوسره دَ غسل كولو نه منع كړې ده. (۴)علامه طيبي رحمه الله هم دا توجيه اختيار كړې ده. (۵)

قوله :: من إناء من قدح: دَ پيالئي په شان دَ يولوښي نه. من إناء من قدح كښې حرف من دوه ځل راغلې دې په دې كښې رومبي من ابتدائيه دې. (۶)علامه كرماني رحمه الله فرمائي اولې دادى چه لفظ قدح په لفظ إناء سره دَ حرف جردَ تكرارسره بدل اوگرځولې شي. (۷) علامه سيوطي رحمه الله اودَ شيخ الاسلام زكريا انصاري رحمه الله هم دغه رائې ده. (۸)البته شيخ الاسلام زكريا انصاري رحمه الله «من إناء من قدح» كښې من دوه ځايه ابتدائيه گرځولې دي. (۹)

---

(۱) الكوثر الجاري: ۱/۴۰۹-۴۰۸.
(۲) شرح الكرماني: ۳/۱۱۴ عمدة القاري: ۳/۲۹۱.
(۳) شرح الكرماني: ۳/۱۱۴.
(۴) عمدة القاري: ۳/۲۹۱.
(۵) شرح الطيبي على مشكاة المصابيح: ۲/۸۵.
(۶) شرح الكرماني: ۳/۱۱۴ عمدة القاري: ۳/۲۹۱ فتح الباري: ۲/۴۸۰.
(۷) شرح الكرماني: ۳/۱۱۴ عمدة القاري: ۳/۲۹۱.
(۸) التوشيح على الجامع الصحيح: ۱/۲۴۲ تحفة الباري: ۱/۲۱۹.
(۹) تحفة الباري: ۱/۲۱۹.

دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله لفظ قدح دَ اناء نه بدل کيدل صرف يواحتمال گرخولې دي چنانچه هغه فرمائي «ويحتمل أن يكون قدح بدلاً من إناء بتكرار حرف الجر»[1] يعنى په لفظ قدح کښې يواحتمال دې چه هغه دَ حرف جر په تکرارسره لفظ اناء نه بدل جوړشي.

دَعلامه عيني رحمه الله په حافظ صاحب باندې نقد: علامه عيني رحمه الله په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې تنقيدکړې دې چه هغه دَ قدح دَ بدل کيدو باره کښې يحتمل تعبيراختيارکړې دې حالانکه په داسې مقاماتوکښې يحتمل نه شي وئيلې خکه چه دَعلامه کرماني رحمه الله ذکرکړې شوې دواړه وجهې په يقيني توګه باندې صحيح او جائزدي. او زيات نه زيات يوې توجيه ته په بله باندې فوقيت ورکولې شي. ([2])لکه څنګه چه پخپله علامه کرماني رحمه الله بدل کيدل اولى ګرخولى دى. ([3])

دَ لفظ قدح وضاحت: قدح دَ قاف اودال دواړو فتحه سره أقداح واحددې. ([4]) ابن منظور رحمه الله او علامه جوهري رحمه الله وغيره وائي چه قدح دَ څکلو يولوښى ته وئيلې شي. ([5])ابن اثير رحمه الله اوعلامه طاهر پټنى رحمه الله وغيره دادَ خوراك يولوښې ګرځوي. ([6]) دواړه خبرې صحيح دى په داسې توګه چه قدح يولوښې دې چه دَ خوراك څښاك دواړو دَ پاره استعمالولې شي. دغه شان دا لوښې په توګه دَ پيمانه هم استعمالولې شي. ([7])قدح په عام توګه دَ بره نه پلن اودَدې ښکته حصه تنګه او لاسکى والاوى. ([8]) دادَ لرګى شيشې او پيتلونه جوړولې شي. ([9])په حديث کښې دَ قدح نه مراد دَ پيتلو والا لوښې دې ابن التين رحمه الله وائي «كان هذا الإناء من شَبَهٍ وهو بفتح المعجمة والموحدة»([10])يعنى دالوښې شبه (دَ شين اوباء فتحه سره)دَ پيتل جوړشوې وو. علامه عيني رحمه الله وغيره فرمائي «وهو (أي الشبه) نوع من نحاس، يدل عليه مارواه الحاكم من طريق حماد بن سلمة عن هشام بن عروة عن أبيه: ولفظه: تورمن شَبَه، ويقال كوزشَبَه، شبه بمعنى.»([11])شبه دَ پيتلويوقسم دې په حديث کښې دَ قدح نه دَ پيتل والا لوښې مراددې دَدې تائيددَ امام حاکم رحمه الله دَ حماد بن سلمه والا روايت نه کيږى کوم چه هغه دَ هشام نه اوهغه دَخپل پلار عروه رحمه الله نه نقل کړې دې په هغې کښې دى تورمن شبه يعنى دَ پيتلو دَ اوبووالا لوښې اودې ته دَپيتلو دَ لاسکى والا پيالئى هم وئيلې شي. ([12])

---

[1]) فتح الباري لابن حجر:۲/۴۸۰.

[2]) عمدة القاري:۳/۲۹۱.

[3]) شرح الكرماني:۳/۱۱٤عمدة القاري:۳/۲۹۱.

[4]) لسان العرب: ۱۱/۵۰ الصحاح ص:۸٤۰مجمع بحار الأنوار:٤/۲۱۶.

[5]) لسان العرب: ۱۱/۵۰ الصحاح ص:۸٤۰إرشاد الساري:۱/٤۹۰.

[6]) النهاية:۲/٤۲۰مجمع بحار الأنوار: ٤/۲۱۶إرشاد الساري:۱/٤۲۰.

[7]) القاموس الوحيد ص:۱۲۸۰.

[8]) مجمع بحارالأنوار:٤/۲۱۷فتح الباري:۱/۳۹۸إراشادالساري:۱/٤۲۰فقه اللغة ص:۱۸۰.

[9]) مجمع بحارالأنوار:٤/۲۱۷ فتح الباري:۱/۳۹۸ إراشادالساري:۱/٤۲۰.

[10]) فتح الباري:۱/٤۸۰إرشادالساري:۱/٤۹۰.

[11]) عمدة القاري:۳/۲۹۱فتح الباري:۱/٤۸۰والحديث رواه الحاكم في المستدرك على الصحيحين في كتاب الطهارة: ۱/۲۷٤-۲۷۵رقم الحديث:۶۰۱/۱۵۶.

[12]) القاموس الوحيدص:۲۰۶، ۱۲۸۰، ۱٤۳٤.

خلاصه داشوه چه قدح یوداسې لوښې ته وائی چه دکرګی شیشې او پیتلونه جوړولې شی. داد خوراک څښاك د پیمانه په توګه اودغسل د لوښی په توګه هم استعمالولې شی. ددې پورتنئی حصه پلنه اوښکته سرتنګ اولاسکی والاوی. حدیث کښې د قدح نه د پیتلووالالوښې مرادې. قدح د فقهاؤ په اصطلاح کښې د صاع د اجزا نه دې علامه شربینی رحمه الله وائی چه صاع اووه مدکم دوه قدح برابر وی او هر پنځلس مدنه اووه قدح جوړیږی.[1]

قوله:: یقال له الفرق: دې ته فرق وئیلی شی. الفرق د راء اوفاء دواړو فتحه او راء په سکون دواړه شان لوستلې کیږی. ابوزید انصاری رحمه الله یحیی رحمه الله او درید رحمه الله د راء سکون نقل کړې دې.[2] د ابن التین رحمه الله او جوهری رحمه الله هم دغه رائې ده.[3] لیکن مشهور د راء په فتحه سره دې.[4] علامه کرمانی رحمه الله اوقتیبی رحمه الله هم د راء فتحه سره نقل کړې دې.[5] علامه نووی رحمه الله فرمائی الفرق د راء فتحه سره افصح اواشهر دې.[6]

دعلامه ابوالولیدباجی رحمه الله رائې: علامه ابوالولید باجی رحمه الله فرمائی چه فرق د راء فتحه سره کیدل صحیح دی.[7]

دعلامه نووی رحمه الله په علامه باجی رحمه الله باندې رد: علامه نووی رحمه الله د ابوالولیدباجی رحمه الله رائې ردکړې ده چه فرق د راء فتحه سره صحیح دې هغه فرمائی «وزعم الباجی أنه الصواب ولیس کما قال، بل هما لغتان»[8] یعنی علامه باجی رحمه الله داګمان کړې دې چه هم دغه «راء فتحه سره» صحیح دې د هغه دا رائې صحیح نه ده بلکه «فرق» کښې د راء فتحه اوسکون دوه لغتونه دی.

دعلامه باجی رحمه الله د رائې ماخذ: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه کیدې شی د ابوالولیدباجی رحمه الله د رائې مستنداو ماخذ د ثعلب هغه قول دې کوم چه ازهری رحمه الله دهغه نه نقل کړې دې چه فرق د راء فتحه سره دې محدثین راء ساکن نقل کوی اوپه کلام عرب کښې هم د راء فتحه سره نقل دې.[9]

لیکن صحیح خبره هم دغه ده چه کومه دعلامه نووی رحمه الله په حواله سره پورته نقل کړې شوې ده چه فرق کښې دواړه لغتونه جائزدی. د اهل لغت او شراح حدیث په حواله سره تفصیل په ماقبل کښې راغلې دې. په حدیث کښې الفرق د راء فتح سره دې.[10]

---

[1] الموسوعة الفقهیة:۲۹۸/۳۸.

[2] شرح الکرمانی:۱۱۳/۳فتح الباری:۴۸۰/۲عمدة القاری:۲۹۰/۳المنتقی لأبی الولید الباجی:۳۸۶/۱.

[3] فتح الباری:۴۸۰/۲عمدة القاری:۲۹۰/۳الصحاح:ص:۸۰۸

[4] تحفة الباری:۲۱۹/۱طرح التثریب للعراقی:۲۵۵/۱.

[5] شرح الکرمانی:۱۱۳/۳فتح الباری: ۴۸۰/۲ عمدة القاری:۲۹۰/۳.

[6] شرح النووی المعروف بالمنهاج: ۲۲۸/۴فتح الباری:۴۸۰/۲.

[7] المنتقی:۳۹۶/۱فتح الباری:۴۸۰/۱عمدة القاری:۲۹۰/۳ المنهاج للنووی:۲۲۸/۴.

[8] المنهاج:۲۲۸/۴فتح الباری:۴۸۰/۱عمدة القاری:۲۹۰/۳.

[9] فتح الباری:۴۸۰/۱.

[10] فتح الباری:۴۸۰/۱.

دَ فرق مقدار: (۱)علامه جوهري رحمه الله ليكلي دي «الفرق مكيال معروف بالمدينة، وهو ستة عشر رطلاً» (۲)يعني فرق دَمديني يو معروف پيمانه ده چه دَ ۱۶ رطل وي.

دَعلامه ابن اثير رحمه الله رائې: ابن اثير رحمه الله وائي: «الفرق بالتحريك: مكيال يسع ستة عشر رطلاً، وهي اثنا عشر مداً، أو ثلاثة آصع عند أهل الحجاز، وقيل: الفرق: خمسة أقساط والقسط: نصف صاع، فأما الفرق بالسكون فمائة وعشرون رطلاً» (۳)يعني فرق په فتحه دَ راء سره يوه پيمانه ده په کوم کښې چه ۱۶ رطل راځي اوهغه دولس مد يا دَ اهل حجاز په نيز دَ درې صاع برابر وي. دَ فرق باره کښې يو قول دا هم دې چه هغه دَ پنځو اقساطو وي او يو قسط دَ نصف صاع برابروي. خو فرق دَ راء په سکون سره دَ ۱۲۰ رطل وي.

امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کښې دَ سفيان بن عيينه رحمه الله نه نقل کړی دی چه «الفرق ثلاثة آصع» (۴)

علامه نووي رحمه الله دا دَ جمهورو رائې گرځولې ده. هغوی فرمائي «أما كونه ثلاثة آصع، فكذا قاله الجماهير» (۵) يعنی دَ يوفرق دَ دريوصاع برابريدل هم دغه دَجمهورو قول دې. يوقول دَ دوو صاع هم دې ليکن ابوعبيد په دې خبره باندې اتفاق نقل کړې دې چه يوفرق دَدريو صاع وي. (۶)

هم دغه دَجمهورو قول دې لکه چه دَ علامه نووي په حواله اوس تير شوی دی.

په حديث کښې دَ فرق نه څه مراددې؟: علامه نووي رحمه الله فرمائي چه دلته دَ فرق نه مراد جنس بيانول دی يعنې هغه لوښې په کوم سره چه دَغسل دَپاره اوبه راخستې شي دامراد نه دې چه حضورپاك عليه السلام دَ فرق په اندازه اوبوسره غسل کولو. علامه نووي رحمه الله حديث باب دَ دليل په توگه سره نقل کړې دې.(۷)

رومبې احتمال: رومبې احتمال دادې چه حضورپاك به په هغه لوښې سره غسل کولو سره دَدې چه دهغې نه به ئې لرې شان اوبه استعمالولوسره اکثربچ کولې يا په هغې کښې موجود تولې اوبه اونورې به ئې هم استعمالولې. نودا دَدغه لوښې (فرق) سره دَ طهارت حاصلولو په جواز باندې دليل دې. دَ

---

(۱) دَ الفرق دَ موجوده پيمانو په اعتبارسره تحقيق: الفرق دَ راء فتحه سره، په دې کښې دَپخوانو پيمانو په حساب سره ۱۶ رطل راځي او په يو رطل کښې ۱۳۰ درهم وي او يو درهم ۳،۰۶۱۸ گرام وي. اوس دَ رطل وزن (۱۳۰ درهم) کله ۳،۰۶۱۸ گرام سره ضرب ورکړو نو ۳۹۸،۰۳۴ گرام جواب راغلو. بيادَ ۱۶ رطل وزن معلومولودَپاره ۱۶ته ۳۹۸،۰۳۴ سره ضرب ورکړو نوجواب ۶۳۶۸،۵۴۴ گرام راغلو چه په موجوده حساب سره ۶کلوگرام ۳۶۸گرام او ۵۴۴ملي گرام جوړيږي.

الفرق دَ راء په سکون سره، په دې کښې دَ پخوانو پيمانوپه اعتبارسره ۱۲۰ رطل راځي دَپورتنئ طريقې مطابق ۱۲۰ اله په ۳۹۸،۰۳۴ سره ضرب ورکړو نو په جواب کښې ۴۷۷۶۴،۰۸ گرام راغلو. په موجوده حساب سره دَدې وزن يومن ۷کلوگرام ۷۶۴گرام او ۰۸،۰ ملي گرام جوړيږي.

(۲) الصحاح،ص:۸۰۸،عمدة القاري:۲۹۰/۳،شرح الكرماني:۱۱۳/۳.

(۳) _النهاية:۳۶۳/۲ فتح الباري:۴۸۰/۱.

(۴) كتاب الحيض باب القدر المستحب من الماء في غسل الجنابة وغسل الرجل والمرأة في إناء واحد في حالة واحدة وغسل أحدهما بفضل الأخر، رقم:۷۲۷.

(۵) المنهاج:۲۲۸/۴،فتح الباري:۴۸۰/۱، عمدة القاري:۲۹۰/۳.

(۶) فتح الباري:۴۸۰/۱.

(۷) المنهاج:۲۲۸/۴،مجمع بحار الأنوار:۱۲۸/۴.

فقهاؤ په دې خبره باندې اتفاق دې چه بغيرد سرو زرو او سپينو زرو هرپاك لوښى سره طهارت حاصلول جائزدى.[1]

دويم احتمال: دويم احتمال دادې چه حضورپاك ﷺ به په غسل كښې فرق نومې لوښې ډكولو يعنى دهغې په اندازه به ئې اوبه استعمالولې نولكه چه دا خودول مقصوددى چه حضورپاك به په عام توګه په غسل كښې په دومره مقدار سره اوبه استعمالولې. اګرچه په دې كښې دَدې خبرې طرف ته اشاره نشته چه كم نه كم په څومره مقدار سره غسل كولې شى.[2]

دَعلامه كشميرى رحمه الله رائې: په حديث كښې چه دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها نه كوم نقل دى چه ما اونبى كريم ﷺ به په يولوښى كوم ته چه فرق وئيلې شى هغې سره غسل كولو اودَ فرق باره كښې داخبره تيره شوې ده چه هغه داسې لوښې وى په كوم كښې چه دَدرې صاع په اندازه باندې اوبه ځائى كيږى. دَدې باره كښې حضرت علامه انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى: «فإن كان ملأن يصير لكل منهما صاع ونصف، والمعروف في عادته في الغسل صاع، وقد مر أنه لاتحديد فيه، والأمر تقريبى، وإن كان خالياً فالأمر تحقيقى، ويصير لكل منهما صاعاً، فإنه لايلزم يكون الفرق هذا القدر أن يكون الماء فيه أيضاً كذلك، فيمكن أن يكون الماء على قدر عادته»[3]

«يعنى فرق كښې خو درې صاع راځى ليكن دَحديث باب نه داخبره نه راڅى چه دَحضورپاك غسل كولوپه وخت هغه ډك وو برابر وو؟ كه چرې ډك وو نولكه چه دَ نبى كريم ﷺ اوحضرت عائشه رضي الله عنها دواړو په حصوكښې دوه نيم دوه نيم صاع راغله اوكيدې شى چه په دومره مقدار سره هم حضورپاك غسل كړې وى، اګرچه مشهوردَحضورپاك عادت مبارك هم دغه ووچه په يوصاع سره به ئې غسل كولو اوفرق مذكور دَخالى او پوره والى په صورت كښې خوددې ځائى نه هم دَدغه مشهورې خبرې خلاف نه شو چه ممكن دى هغه وخت په هغه لويه پيمانه كښې هم صرف دوه رطل موجود وى. په رومبې صورت كښې دَ غسل دَاوبو مقدار به تقريبى منلې كيږى چه تحديد هيڅ نه دې. تقريبًا په يو يا يونيم رطل سره به ئې غسل كولو په دويم صورت كښې به دې ته تحقيقى وئيلې كيږى چه هميشه به ئې هم په يورطل سره غسل كولو. كله به دغه مقدار په وړوكى لوښى كښې وو اوكله په لوئى لوښى كښې.

دَامام طحاوى رحمه الله تحقيق: امام طحاوى رحمه الله فرمائى چه دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَحديث نه داثابته شوه چه هغې او رسول الله ﷺ به په فرق سره غسل كولواو يوفرق دَ دريوصاع وى نولكه چه هغوى دواړو به په يونيم يونيم صاع سره غسل كولو. «دَ احنافو په نيز» يوصاع دَ اتو رطل وى «اودَ جمهورو په نيز» يوصاع دَ پنځو رطل او ثلث رطل برابر وى. «خودَ جمهورو په نيز يوفرق دَ دريوصاع برابر وى اودَ احنافو په نيزيوصاع دَ دوو فرق برابروى».

بيا امام طحاوى رحمه الله فرمائى چه حديث عائشه رضي الله عنها كښې صرف دَ فرق ذكردې دَ اوبودَمقدار څه تذكره نشته دې چه هغه ډك وو كه كم وو. لهذا داكيدې شى چه كله به هغه ډك وو نودرې صاع اوبه به وې اوچه كله به كم وو نو دوه صاع اوبه به وې. او په دې دويم صورت كښې به حضورپاك يوصاع او

---

[1] المنتقى شرح موطأ مالك: ۳۹۵/۱.
[2] المنتقى شرح موطأ مالك: ۳۹۵/۱.
[3] فيض البارى: ۴۵۳/۱.

دويم صاع سره حضرت عائشه رضي الله عنها غسل كولو. لهذا دا مفهوم دَدې حديث دَمفهوم موافق دې په كوم كښې چه راغلي دی چه حضورپاك به په يوصاع سره غسل فرمائيلو. (۱)

فائده: حضورپاك اوحضرت عائشه رضي الله عنها به په عربوكښې دَ اوبو دَ قلت دَ وجې نه په عاموحالاتوكښې په دغه فرق سره غسل كولو چه دَ دريو صاع يعني ۱۶ رطل برابروی. البته داهم ممكن دی چه هغه فرق كوم چه دَ ۱۲۰ رطل برابروی دَ كوم مقدارچه دَ يولوښې تپ اوتال برابروی دَهغې نه هم كله اوبه په زيات مقداركښې موجودكيدو په صورت كښې ئې غسل فرمائيلې وی نوهيڅ لرې خبره نه ده چه په غسل كښې دَ يوصاع اوبو مقدار تحديد نشته دَ اسراف نه دَ بچ كيدو سره په څومره اوبوسره هم چه غسل اوكړې شي جائزدې.

په حديث الباب كښې دَ معيت في الغسل صراحت نشته دې: امام بخاري رحمه الله په ترجمه كښې دَ سړی اوښځې په يوځائې غسل كول بيان كړی دی خو په حديث الباب كښې صرف دومره ذكر دې چه حضرت عائشه رضي الله عنها اورسول الله صلى الله عليه وسلم به په يولوښې سره غسل كولو نولكه چه په حديث الباب كښې دَمعيت في الغسل صراحت نشته دې؟

دَعلامه سندهي رحمه الله جواب: علامه ابوالحسن نورالدين سندهي رحمه الله فرمائي چه دَ حديث الفاظ «كنت أغتسل أنا والنبي صلى الله عليه وسلم» په معيت باندې په مكمل توگه باندې دلالت نه كوی البته دا صرف دَ غسل دَ لوښې په وحدت باندې دلالت كوی. ځكه چه واؤ عاطفه قران يعني په يوځائې غسل كولوباندې دلالت نه كوی اودَ ظرف او لوښې دَ وحدت نه دا نه ثابتيږی چه دَ غسل كولو وخت هم يو وو. او داكيدې شي چه «كنت أغتسل أنا والنبي» كښې واؤ دَعطف په ځائې دَمعيت دَپاره واخستې شي ليكن دابعيددې. (۲)

دَدې صحيح جواب دادې چه دَدې سلسلې نور ټول روايات دَدې خبرې طرف ته اشاره كوی چه حضوراكرم اوحضرت عائشه رضي الله عنها دواړو واقعي په يوځائې غسل كولو په دې وجه به دلته هم معيت زماني مراد اخستې شي. «فلاستدلال بالنظر إليه، لا بالنظر إلى هذا اللفظ» يعنی استدلال دَ نورو رواياتو په رڼا كښې كيدې شي دې الفاظوسره نه شي كيدې. (۳)

دَسړی اوښځې په يولوښې سره طهارت حاصلول: دَحديث باب او دغه شان نورو رواياتو په رڼا كښې دَ مسلمانانو په دې خبره باندې اتفاق دې چه سړې اوښځه په يولوښې سره طهارت حاصلولې شي. په دې خبره باندې هم اجماع ده چه ښځه دَ سړی نه پاتې شوو اوبو سره طهارت حاصلولې شي. (۴)

البته په دې كښې اختلاف دې چه سړې دَ ښځې نه پاتې شوې وبوسره طهارت (اودس اوغسل) كولې شي كه نه؟

دَ جمهورائمه او امام بخاري رحمه الله موقف: جمهور ائمه سلف او ائمه ثلاثه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله او امام مالك رحمه الله دې ته مطلقاً جائز وائی كه ښځې اودس يا غسل په ځان له ځائې

---

(۱) شرح معاني الآثار، كتاب الزكاة، باب وزن الصاع كم هو: ۱/۳۵۲-۳۵۱.

(۲) دَحضرت سندهي رحمه الله داخبره محل نظر ده ځكه چه نحويين اوشراح حديث په نيزدلته واؤ دَمعيت دَپاره اخستې شي دَتفصيل دَپاره اوگورئې: كشف الباري كتاب الغسل ص: ۲۲۰.

(۳) صحيح البخاري بحاشية السندي: ۱/۵۶.

(۴) المنهاج: ۴/۲۲۷ عمدة القاري: ۳/۲۹۱.

كښې كړې وى يادَ نورو په وړاندې نى طهارت حاصل كړې وى (۱) امام بخارى رحمه الله هم په دې مسئله كښې جمهور ائمه سره دې.

دَعلامه كشميرى رحمه الله تحقيق: حضرت علامه انور شاه كشميرى رحمه الله «باب غسل الرجل مع امرأته» په ذيل كښې فرمائى چه دغه شان امام بخارى رحمه الله وړاندې «باب وضوء الرجل مع امرأته» راوړلې دې دكوم نه چه معلومه شوه چه هغوى په دې باره كښې دَ امام احمد رحمه الله مذهب نه دې اختيار كړې (بلكه دَ جمهور ائمه مذهب ئى اختيار كړې) دَ مسئلې پوره تفصيل وړاندې تيرشوې دې په كوم كښې چه دا واضحه كړې شوى وو چه دَ ممانعت دارو مدار (دروغږن) كيدو باندې دې او په يوځائى باندې اودس كول يا غسل كولو باندې (دَپاتې شوو اوبو) اطلاق نه كيږى. (۲)

دَ حنابله اوظاهريه وغيره مسلك: امام احمدبن حنبل رحمه الله اودَ ظاهريه نه داؤد ظاهرى وغيره وائى كه ښځې خان له ځانى كښې طهارت حاصل كړې وى نودَ سړې دَپاره دَهغې استعمال جائز نه دې. (۳)

حضرت عبدالله بن سرجس رحمه الله اودَحضرت حسن بصرى رحمه الله نه په يوروايت كښې هم دغه قول نقل دې. په يويل قول كښې دَحضرت حسن رحمه الله اوسعيدبن مسيب رحمه الله نه دَ ښځې پاتې شوې اوبوسره طهارت حاصلولوته مطلقًا مكروه وئيلى شوى دى (۴) خودَ امام احمد رحمه الله نه يوقول دَ جمهور ائمه دَ قول په شان نقل دې. (۵)

دَعلماؤ پنځه اقوال: علامه ابن عبدالبر رحمه الله په دې مسئله كښې دَعلماؤ پنځه اقوال نقل كړى دى هغوى فرمائى: وللعلماء في هذه المسألة خمسة أقوال: (أحدها): الكراهة لأن يتطهر الرجل بفضل المرأة. (والثاني): أن تتطهر المرأة بفضل وضوء الرجل. (والثالث): أنهما إذا شرعا جميعاً في التطهر فلا بأس به وإذا خلت المرأة بالطهور فلا خير في أن يتطهر بفضل طهورها. (والرابع): أنه لا بأس أن يتطهر كل واحد منهما بفضل طهور صاحبه ما لم يكن الرجل جنباً، والمرأة حائضاً أو جنباً، وهو قول ابن عمر. (والخامس): وقد روي عن ابن عباس أنه سئل عن فضل وضوء المرأة فقال: هن ألطف بناناً وأطيب ريحاً، وهذا جواب بجواز فضلها على كل حال، وهذا قول زيد بن ثابت وجمهور الصحابة والتابعين. (۶)

په دې مسئله كښې دَ علماؤ پنځه اقوال دى: ① چه سړې دَ ښځې نه پاتې شوو اوبوسره طهارت حاصل كړى. ② ښځه دَ سړى نه پاتې شوو اوبوسره طهارت حاصل كړى. دا دواړه صورتونه مكروه دى. ③ چه سړې او ښځه په يوځائى باندې طهارت حاصلول شروع كړى دا جائزدى البته كه ښځه په خان له ځانى كښې طهارت حاصل كړى نوبيا دَ سړى دَهغې دَ پاتې شوو اوبوسره طهارت حاصلولوكښې هيڅ خير نشته دې. ④ سړې كه جنبى نه وى او ښځه حائضه يا جنبه نه وى نو بيا په

---

(۱) المنهاج: ۲۲۷/٤ عمدة القاري: ۱۲۶/۳ فتح المالك: ۳۰۰/۱.

(۲) فيض الباري: ۴۵۳/۱.

(۳) المنهاج: ۲۲۷/٤ عمدة القاري: ۱۲۶/۳ الاستذكار: ۲۰۹/۱.

(۴) المنهاج: ۲۲۸/٤-۲۲۷ عمدة القاري: ۱۲۶/۳.

(۵) المنهاج: ۲۲۸/٤ عمدة القاري: ۱۲۶/۳، ۲۹۱.

(۶) الاستذكار: ۲۱۰/۱ عمدة القاري: ۱۲۶/۳.

دوی کښې هریوډ بل نه پاتې شوو اوبوسره طهارت حاصلولې شی داډ ابن عمر رضی الله عنهما قول دی. (۵) دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه دَهغه نه دَ ښځې دَ اودس نه پاتې شوو اوبوباره کښې پوښتنه اوکړې شوه نوهغوی اوفرمائیل چه هغه (ښځې) دَ ښکلې بندونو والا اوپاکیزه خوشبوئی والا وی دَهغوی دَ طرف نه دا جواب دَ ښځو دَ پاتې شوو اوبوسره په هرحال کښې په جواز دَ طهارت باندې مبنی دې اوهم دغه دَ حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه او جمهور صحابه کرامو اوتابعینو قول دې

یواعتراض اوجواب: که چرې څوك دا اووائی چه په حدیث کښې خودَ ښځې نه پاتې شوې اوبوسره دَ غسل کولونه منع کړې شوې ده؟ نودَدې جواب دادې چه امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه محدثینودَدې حدیث اسناد مرفوع نه دی گرځولی که چرې رفع ثابته هم شی نوهغه منسوخ ده.(۱)

دَدې مسئلې تفصیلات کتاب الوضوء باب وضوء الرجل مع امرأته وفضل وضوء المرأة کښې تیرشوې دی.

دَحدیث باب نه مستنبط شوی احکام: دَحدیث باب نه دا لاندینی احکام مستنبط شوی دی:

(۱) داودی دَ حدیث باب نه دَ سړی اوښځې دَ یوبل شرمگاه ته دَ کتلو په جواز باندې استدلال کړې دې. (۲)دَدې تائید دَ ابن حبان رحمه الله دَ روایت نه هم کیږی په کوم کښې چه حضرت عطاء رحمه الله دَحضرت عائشه رضی الله عنها نه دې باره کښې تپوس اوکړو نوهغې په جواب کښې حدیث باب بیان کړو. (۳)دَدې مسئلې تفصیل باب مذکور لاندې تیرشوې دې.

(۲) دَ سړی اوښځې په یولوښې سره اودس اوغسل کول جائزدی او په دې باندې اجماع ده. (۴)

(۳) دَ ښځې دَ سړی نه پاتې شوو اوبوسره طهارت حاصلول جائزدی.(۵)

(۴) جمهور علماؤ اوائمه ثلاثه رحمهم الله په نیز دَ سړی دَ ښځې نه پاتې شوو اوبوسره طهارت حاصلول جائزدی البته دَامام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز که ښځې خان له خاتی کښې اوبه استعمال کړې وی نوبیادَ سړی دَپاره دَهغې دَ پاتې شوو اوبو سره طهارت حاصلول جائزنه دی.(۶)

(۵) دَ جنبی دَ لاس پاك کیدل (که په هغې باندې څه ظاهری نجاست نه وی لگیدلې) (۷)

(۶) دَ جنبی او حائضه نه پاتې شوو اوبوپاکیدل. (۸)اودَدوی نه بچ شوو اوبوسره دَ غسل او اودس صحیح کیدل.(۱)

(۷) دَ فقهاؤ په دې خبره باندې اجماع ده چه دَ سړو زړو اوسپینو زړو نه علاوه په ټولو لوښو سره اودس کول (طهارت حاصلول) جائزدی.(۹)

---

(۱) شرح الکرمانی:۳/۱۱۴عمدة القاری:۳/۲۹۱تحفة الباری:۱/۲۹۱.

(۲) فتح الباری:۲/۴۸۰عمدة القاری:۳/۲۹۱الکنزالمتواری:۳/۱۹۰.

(۳) فتح الباری:۲/۴۸۰عمدة القاری:۳/۲۹۱التوشیح للسیوطی:۱/۲۴۲.

(۴) عمدة القاری:۳/۲۹۱ المنهاج: ۴/۲۲۷ تحفة الباری:۱/۲۱۹.

(۵) شرح الکرمانی:۳/۱۱۴عمدة القاری:۳/۲۹۱ المنهاج: ۴/۲۲۷.

(۶) شرح الکرمانی:۳/۱۱۴عمدة القاری:۳/۲۹۱ المنهاج: ۴/۲۲۷.

(۷) الکوثر الجاری:۱/۴۰۸.

(۸) عمدة القاری:۳/۲۹۱.

(۹) شرح ابن بطال: ۱/۳۸۰شرح الکرمانی:۳/۱۱۴.

⑧ دَمسلمانانو په دې خبره باندې اجماع ده چه دَ اودس اوغسل دَ پاره دَ اوبوڅه خاص مقدار لازمي اوضروري نه دې په دې کښې دَطبائع فرق دې دَ چاد پاره چه څومره مقدار (که لږ وی اوکه زيات وی) کافي شی هغه صحيح دې. (١)

⑨ دَعلماؤ په دې خبره باندې اتفاق دې چه (دَ اودس اوغسل) اوبوکښې اسراف منع دې اګر چه طهارت حاصلونکې دَ نهر په غاړه ولې نه وی. (٢)

٣ – باب: الْغُسْلِ بِالصَّاعِ وَنَحْوِهِ

صاع اودَدې په شان لوښوسره غسل کول

دَ ترجمة الباب مقصد: دَ دې ترجمة الباب په مقصد کښې دَ شراح حديث نه متعدد اقوال نقل دی.

دَ حافظ ابن حجر رحمه الله توجيه: دَحافظ ابن حجر رحمه الله په نيز ترجمة الباب مقصد صاع اودَدې برابر لوښی ډکولوسره غسل کول بيانول دی. هغه فرمائی: «باب الغسل بالصاع ونحوه أي: على الصاع ونحوه أي مايقاربه» (٣) يعني صاع اودَدې برابر لوښی ډکولوسره غسل کولوبيان کښې.

دَعلامه عينی رحمه الله رائې: علامه عينی رحمه الله فرمائی چه دَامام بخاری رحمه الله مقصد په دې باب سره غسل بالماء اودَ ډك شوی صاع په اندازه اوبوسره دَ غسل کولوحکم بيانول دی. ځکه چه صاع خودَ لرګی نه جوړشوی يولوښی ته وئيلی شی دا (نفس صاع) سره غسل ممکن نه دې (البته په دې کښې موجود اوبو سره غسل کولې شی). (٥) دَصاحب تحفه علامه زکريا انصاری رحمه الله اوعلامه قسطلانی رحمه الله هم دغه رائې ده. (٦)

دَعلامه ابن رجب حنبلی رحمه الله رائې: دَ علامه ابن رجب حنبلی رحمه الله په نيز هم دَترجمة الباب مقصد داخودل دی چه دَ غسل دَ اوبو په مقدارکښې څه تحديدنشته دې. بلکه دَ صاع او دې په شان لوښو سره نيزدې چه څومره اوبوسره غسل کولې شی يعنی تقريب مراددې تحديدنه دې. (٧)

دَ شيخ الحديث مولانازکريا رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائی: «لعله إشارة إلى أن تحديد الصاع الوارد في الأحاديث ليس بحتم، بل المراد التقريب، كما يدل عليه لفظ الحديث: "بإناء نحو صاع" ولذا ذكر في الترجمة ونحوه وهو الأوجه» (٨)

امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې ونحوه لفظ زياتولوسره دَدې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چه په احاديثوکښې چه کوم دَ صاع لفظ (غسل النبی صلی الله عليه وسلم باره کښې) واردشوی دې هغه

---

(١) المنتقی: ١/٣٩٤ أوجز المسالک: ١/٥٠٠.

(٢) فتح المالک بتبويب التمهيد لابن عبدالبر علی مؤطأ الإمام مالک: ١/٣٢٨ المنهاج: ٤/٢٢٧ أوجز المسالک: ١/٥٠٢.

(٣) المنهاج للنووی: ٤/٢٢٧.

(٤) فتح الباری لابن حجر: ٢/٤٨١.

(٥) عمدة القاری: ٣/٢٩١.

(٦) تحفة الباری: ١/٢٢٠ إرشادالساری: ١/٤٩٠.

(٧) فتح الباری لابن رجب الحنبلی: ١/١٤٤.

(٨) الأبواب والتراجم، ص: ٦٠ الكنز المتواری: ٣/١٩١.

دتحديد دپاره نه دي بلكه مراد دَدي نيزدي نيزدي دي لكه دَ حديث الفاظ "بإناء نحو صاع" په دي باندي دلالت كوى هم دغه توجيه اوجه ده. علامه شبيراحمد عثماني رحمه الله هم دا توجيه اختيار كړي ده [1]

دَ شيخ الحديث رحمه الله بيان كړې شوې يوبل احتمال: شيخ الحديث حضرت زكرياكاندهلوي رحمه الله يو بل احتمال هم بيان كړي دي: «ويحتمل أنه أراد الرد على من قال: أن ذكر الصاع بيان للإناء لا الماء» [2] په دې كښې داحتمال هم دې چه امام بخاري رحمه الله ترجمة الباب څكه قائم كړو چه په هغه خلقو باندې رد اوكړې شى څوك چه دا وائى چه په حديث كښې دَ صاع نه لوښې بيانول مقصود دي نه چه دَ اوبو (مقدار).

دَ علامه انور شاه كشميري رحمه الله توجيه: حضرت علامه شاه انورشاه كشميري رحمه الله فرمائى چه امام بخاري رحمه الله غسل بالصاع عنوان دَدې دَخاص اهميت ښكاره كولو او په احاديثوكښې دَدې دَ وارد كيدو په وجه قائم كړې دې چه كوم امور دَ حضورپاك په تعامل سره ثابت وى هغې ته خاص اهميت وركول او ښكاره ذكركول ډيرمناسب دى.

دَ ائمه مجتهدين نه امام محمد رحمه الله چه كوم كوم اعتناء او اهتمام دَدې امر كړې دې هغه بل چا نه دې كړې څكه چه هغه دَ حديث اودَدې اثر په اتباع كښې دَ صاع مقدار دَ غسل دپاره (اودَ مُد مقدار دَ اودس دپاره) معتبر گرځولې دې سره دَدې چه دَ دې مقصود هم تحديد اوتوقيت نه دې. [3]

دَ صاع وضاحت: صَاعُ، صِواعُ (بالكسر والضم) او صَوْعُ په لغت كښې پيمانه ته وائى دَدې جمع أصوعُ، أصؤعُ (همزه سره) صُوعُ او صِيْعَانُ هم راځى. [4]

دَ فقهاؤ په نيزدَ صاع مفهوم: دَ فقهاؤ په اصطلاح كښې صاع يوې پيمانې ته وائى چه په خرڅولو اواخستلو كښې دَ اندازې دپاره استعماليږى. دَ ډيرو زياتو شرعى احكاماتو مدار هم په دې باندې دى. بعض حضراتو وئيلى دى چه صاع يولوښى ته وائى په كوم كښې چه اوبه څكلې شى. [5]

دواړه خبرې صحيح دى چه صاع كله دَ پيمانه اوكله دَ څكلو دَ لوښى په توگه استعماليږى او بعض وخت دَدواړو كارونودپاره استعماليږى.

ابن منظور رحمه الله دعزيزمصردَصاع باره كښې هم دغه نقل كړى دى چه هغه دَپيمانه او څكلو دواړو كارونودپاره استعمالولې شوه. [6]

دَ صاع مقدار: دَ ټولو فقهاء كرامو په دې باره كښې اتفاق دې چه صاع يوه داسې پيمانه ده په كوم كښې چه څلور مُد راځى ليكن دَ مُد په مقداركښې اختلاف دې. امام شافعي رحمه الله اودَ حجاز فقهاء دې ته دَ يورطل او دريمې حصې برابر وائى.

خوا مام ابوحنيفه رحمه الله او فقهاء عراق په نيزيومُد دوه رطل عراقى برابر دې. لهذا دَ شوافع په نيزيوصاع پنځه رطل اوثلث وى اودَاحنافو په نيزدَ اتو رطل وى. [1]

---

[1] فضل الباري:٢/٤٢٨.

[2] الأبواب والتراجم، ص:٦٠ الكنزالمتواري:١٩١/٣.

[3] فيض الباري:٤٥٣/١.

[4] القاموس المحيط ص:٦٦٦ لسان العرب:٤٤٢/٧ الصحاح ص:٦٠٧

[5] الموسوعة الفقهية:٢٧/٣٠٤، ٣٨/٢٩٦ القاموس المحيط ص:٦٦٦ الصحاح ص:٦٠٧

[6] لسان العرب:٤٤٢/٧.

د دې مسئلې ټول تفصيلات كتاب الوضوء باب الوضوء بالمد لاندې اوګورئ.

الحديث الأول

٢٥١- حَدَّثَنَا عَبْدُاللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ الصَّمَدِ قَالَ: حَدَّثَنِي شُعْبَةُ [ص:٦٠]، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ حَفْصٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ، يَقُولُ: دَخَلْتُ أَنَا وَأَخُو عَائِشَةَ عَلَى عَائِشَةَ، فَسَأَلَهَا أَخُوهَا عَنْ غُسْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَدَعَتْ بِإِنَاءٍ نَحْوًا مِنْ صَاعٍ، فَاغْتَسَلَتْ، وَأَفَاضَتْ عَلَى رَأْسِهَا، وَبَيْنَنَا وَبَيْنَهَا حِجَابٌ» قَالَ أَبُو عَبْدِاللَّهِ: قَالَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَبَهْزٌ، وَالجُدِّيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، «قَدْرِ صَاعٍ» [حديث باب] (١)

ترجمه: حضرت ابوسلمه رضی الله عنه فرمائی چه زه اود حضرت عائشه رضی الله عنها (رضاعی) رور د حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها خدمت ته لاړو. د هغې رور د هغې نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د غسل باره کښې پوښتنه اوکړه (چه حضور صلی الله علیه وسلم به غسل څنګه کولو) نوهغوی (حضرت عائشه رضی الله عنها) د صاع په شان يولوښې (د اوبو) راؤغوښتلو بيائې غسل اوکړو او په خپل سر باندې اوبه اوبهيولې هغه وخت زمونږ اودهغوی په مينځ کښې يوه پرده لګيدلې وه.

ابوعبدالله (امام بخاری رحمه الله) وائی چه يزيدبن هارون او بهز او جدی د شعبه نه قدر صاع (د يوصاع په اندازه) الفاظ نقل کړی دی.

تراجم رجال

عبدالله بن محمد: [3]دا ابوجعفر عبدالله بن محمد بن عبدالله بن جعفر بن يمان بن اخنس الجعفی، البخاری، المسندی دی.(٤)

دمسندی وئيلو وجه: دوی ته مسندی ځکه وئيلې شی چه دوی به هميشه د مسنداحاديثو په لټول او کوشش کښې وو. مراسيل او منقطعات سره د هغوی هيڅ رغبت نه وو.(٥) امام حاکم رحمه الله فرمائی دوی ته مسندی وئيلو وجه داده چه هغوی په ماوراء النهر کښې د ټولونه اول د حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم مسانيد جمع کړی وو.(٦)

---

[1] عمدة القاری:٣/٢٩٢-٢٩٢ النهاية:٢/٥٩مجمع بحار الأنوار:٣/٣٦٧.

[2] الحديث أخرجه مسلم فی صحيحه كتاب الحيض باب القدر المستحب من الماء فی غسل الجنابة وغسل الرجل والمرأة فی إناء واحد فی حالة واحدة، وغسل أحدهما بفضل الآخر رقم:٧٢٨، والنسائی فی سننه، كتاب الطهارة، باب ذكر القدر الذی يكتفی به الرجل من الماء للغسل، رقم:٢٢٧، وانظر جامع الأصول رقم: ٥٣٣٣وكذلک تحفة الأشراف رقم:١٧٧٩٢.

[3] د دوی مختصر حالات كشف الباری كتاب الإيمان، باب أمور الإيمان لاندې تير شوی دی اوګورئ كشف الباري:١/٦٥٧.

[4] تهذيب الكمال:١٦/٥٩ تهذيب التهذيب:٦/٩إكمال تهذيب الكمال:٨/١٧٣ سيرأعلام النبلاء:١٠/٦٥٨

[5] تهذيب الكمال:١٦/٦٠ سيرأعلام النبلاء:١٠/٦٥٩

[6] تهذيب التهذيب:١٠/٦إكمال تهذيب الكمال:٨/١٧٣.

اساتذه و شیوخ: دَهغوی په شیوخ کښې ابراهیم بن عمر ابوالوزیر، ازهر بن سعد السمان، حسین بن علی الجعفی، حسین بن محمد المروزی، حفص بن غیاث، سفیان بن عیینه، سلیمان بن حرب، ابوداؤد سلیمان بن داؤد الطیالسی، ابوعاصم الضحاك بن مخلد، عبدالرحمن بن مهدی، عبدالرزاق بن همام، عبدالصمد بن عبدالوارث، ابوعلی عبیدبن عبدالمجید الحنفی، فضیل بن عیاض، معتمر بن سلیمان، وکیع بن الجراح، یحیی بن معین، یعقوب بن ابراهیم بن سعد، حرمی بن عمارة، ابوعامر العقدی، یحیی بن آدم، وهب بن جریر، زهیر بن حرب، عمر بن علی، ابوعوانه، یوسف بن الماجشون، فضیل بن سلیمان، عبیدالله بن ثور او یونس بن محمد المودب وغیره رحمهم الله شامل دی.(۱)

تلامذه: ددوی نه روایت کونکوکښې امام بخاری، امام مسلم، ابراهیم بن محمد مروزی، عبدالله بن عبدالرحمن الدارمی، ابوزرعه عبیدالله بن عبدالکریم الرازی، ابوحاتم محمدبن ادریس الرازی، محمد بن نصر المروزی، محمدبن یحیی الذهلی، الحسن بن سفیان، محمد بن احمد ابن هارون المصیصی وغیره رحمهم الله شامل دی. (۲)صاحب الزهرة وائی چه امام بخاری رحمه الله دَ عبدالله بن محمد مسندی رحمه الله نه ۴۴ روایات نقل کړی دی.(۳)

دَ جلالت شان اوتوثیق کښې دَ ائمه اقوال: احمدبن سیار مروزی رحمه الله وائی چه ابوجعفر مسندی رحمه الله خپله علاقه پریخوده او دَدنیا په مختلفو ښارونوکښې دَ حدیث په طلب کښې اوسیدلو. هغه به دَمسندی په لقب سره یادولې شو اوهغه په اهل عدالت اوصدق کښې مشهوروو صاحب سنت وجماعت وو. اتفاق اوضبط دَهغوی پیژند ګلووه.

مروزی رحمه الله وائی چه ماهغه په واسط کښې اولیدلو ښکلې قدوقامت دَ سرویښته سپین او په ږیره لږشان توروالې اودَسکون اووقار والاوو.(۴)

امام حاکم رحمه الله فرمائی عبدالله بن محمد مسندی رحمه الله دَ خپلې زمانې ماوراءالنهربلامقابله امام المحدثین وو(۵)ابوحاتم رحمه الله فرمائی صدوق. (۶)ابن حبان رحمه الله کتاب الثقات کښې دَدوی تذکره کړې ده اوفرمائی وکان متقناً. (۷)یعنی عبدالله بن محمد متقن وو. علامه الخلیل رحمه الله فرمائی الثقة المتفق علیه. (۸)

خلف بن عامر رحمه الله دَامام بخاری رحمه الله نه نقل کړی دی هغه فرمائی چه ماته حسن بن شجاع اووئیل تاسو نه حدیث څنګه پاتې کیدې شی چه ته دَهغه خزانه یعنی عبدالله بن محمد رحمه الله په صحبت کښې اوسیږې.(۹)

---

(۱) تهذیب الکمال:۱۶/۶۰-۵۹ تهذیب التهذیب:۹/۶الجرح والتعدیل:۱۹۸/۵سیر أعلام النبلاء:۱۰/۶۵۹

(۲) تهذیب الکمال:۱۶/۶۰-۵۹ تهذیب التهذیب:۹/۶الجرح والتعدیل:۱۹۸/۵سیر أعلام النبلاء:۱۰/۶۵۹

(۳) إکمال تهذیب الکمال:۱۷۳/۸ تهذیب التهذیب:۱۰/۶.

(۴) تهذیب الکمال: ۱۶/۶۱ تهذیب التهذیب:۹/۶ سیر أعلام النبلاء:۱۰/۶۵۹

(۵) تهذیب التهذیب:۱۰/۶إکمال تهذیب الکمال: ۱۷۳/۸سیر أعلام النبلاء:۱۰/۶۵۹

(۶) الجرح والتعدیل: ۱۹۸/۵تهذیب الکمال:۶۱/۱۶تهذیب التهذیب:۹/۶.

(۷) کتاب الثقات:۳۵٤/۸تهذیب الکمال:۶۱/۱۵۶ تهذیب التهذیب:۹/۶.

(۸) تهذیب التهذیب:۱۰/۶إکمال تهذیب الکمال: ۱۷۳/۸

(۹) تاریخ بغداد:۶۶/۱۰تهذیب ا لکمال۶۱/۱۶سیر أعلام النبلاء: ۶۶۰/۱۰

وفات: محمدبن احمدبن محمد رحمه الله بن سلمیان الحافظ فرمائی «توفی یوم الخمیس بست بقین من ذی الحجة سنة تسع وعشرین ومئتین»[1] یعنی عبدالله بن محمد رحمه الله دَ زیارت په ورځ ۲۴ ذی الحجه ۲۲۹هجری کښې وفات شوې. امام بخاری رحمه الله دَ ذی ا لحجه په ځائې ذوالقعده دَ وفات میاشت ګرځولې ده. هغوی فرمائی «مات یوم الخمیس أول النهار، بست بقین من ذي القعدة سنة تسع وعشرین ومئتین»[2] یعنی عبدالله بن محمد دَ زیارت په ورځ دَ سحر وخت ۲۴ذوالقعده ۲۲۹هجر کښې وفات شوې. دَ ابن حبان هم دغه رائې ده.[3] علامه ذهبی رحمه الله هم دا اختیارکړې دې.[4]

عبدالصمد: دا عبدالصمدبن عبدالوارث بن سعیدبن ذکوان تمیمی عنبری تنوری بصری رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری کتاب العلم باب من أعاد ثلاثاً لیفهم عنه رومبې حدیث لاندې تیرشوی دی.[5]

شعبة: دا امیرالمؤمنین فی الحدیث شعبه بن الحجاج بن الوردی عتکی واسطی بصری رحمه الله دې. ټول ائمه دَ دوی په جلالت شان اوامامت باندې متفق دی. دَدوی مختصر حالات کتاب الإیمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده دَ رومبې حدیث لاندې تیرشوی دی.[6]

ابوبکربن حفص: دا ابوبکرعبدالله بن حفص بن عمر بن سعدبن ابی وقاص قرشی زهری مدنی دې. دې په خپل کنیت ابوبکرسره مشهوردې.[7]

شیوخ حدیث: دَدوی په شیوخ حدیث کښې انس بن مالك، حسن بن حسن بن علی بن ابی طالب دَدوی پلار حفص بن عمر بن سعید بن ابی وقاص، سالم بن عبدالله بن عمر، سلمان الاغر، شرحبیل بن السمط، عبدالله بن حسن بن حسن بن علی بن ابی طالب، عبدالله بن حسین، عبدالله بن عامر بن ربیعه، عبدالله بن عمر بن الخطاب، عبدالله بن محریز، عروه بن الزبیر، عمر بن سعدبن ابی وقاص، محمدبن مسلم بن شهاب زهری، ابوسلمه بن عبدالرحمن، ابوعبدالله مولی بنی تیم بن مره، ابومصبح مقرائی رحمهم الله دی.[8]

تلامذه: دهغوی نه روایت کونکوکښې ابان بن عبدالله بجلی، بدر بن عثمان، بلال بن یحیی عبسی، حریث بن ابی مطر، زید بن ابی أنیسه، سعیدبن ابی بردة بن ابی موسی، امیرالمؤمنین فی الحدیث شعبه بن الحجاج، عبدالله بن عثمان بن خثیم، عبدالرحمن بن عبدالله مسعودی، عبدالملك بن جریج، قیس بن سلیم غنبری، محمد بن سوقه، ابوغسان محمدبن مطرف، مسعر بن کدام، المفضل بن لاحق، منصور بن المعتمر او ابواسرائیل ملائی رحمهم الله شامل دی.[9]

---

1) تاریخ بغداد:۶۶/۱۰اکمال تهذیب الکمال: ۱۷۳/۸.
2) تهذیب الکمال۶۱/۱۶تهذیب التهذیب:۹/۶ سیرأعلام النبلاء:۶۶۰/۱۰تاریخ بغداد:۶۶/۱۰
3) کتاب الثقات:۳۵٤/۸.
4) سیرأعلام النبلاء:۶۵۹/۱۰
5) کشف الباری:۵۷۸/۳-۵۷۷.
6) کشف الباری:۶۷۸/۱
7) التاریخ الکبیر:۷۶/۵رقم الترجمة:۲۰۰ تهذیب الکمال:٤۲۳/۱٤الجرح والتعدیل:٤۲۱/۵تقریب التهذیب ص ۳۰۰ رقم:۳۲۷۷.
8) تهذیب الکمال:٤۲۳/۱٤الجرح ولتعدیل:٤۲/۵ میزان الاعتدال:٤۰۹/۲.
9) تهذیب الکمال:٤۲٤/۱٤ الجرح والتعدیل:٤۲/۵میزان لاعتدال: ٤۰۹/۲.

جلالت شان اوتوثیق کښې دائمه اقوال: ابوبکربن حفص رحمه الله تابعی دې دَدوی شمیر په طبقه خامسه کښې کیږی[1] امام نسائی رحمه الله دَ دوی توثیق کړې دی هغه فرمائی **ثقه**[2] ابن حبان رحمه الله کتاب الثقات کښې دَدوی تذکره کړې ده اوفرمائی **کان راویاً لعروة**.[3] یعنی ابوبکر بن حفص عروة بن الزبیر نه روایت کوی.

امام عجلی رحمه الله معرفة الثقات کښې دَدوی تذکره کړې ده اوهغه ئې ثقه گرخولې دې.[4] حافظ ابن حجر رحمه الله تقریب التهذیب کښې لیکلی دی چه هغه ثقه دې.[5] علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی «**کان من أهل العلم والثقة، أجمعوا علی ذلك**» [6] یعنی ابوبکربن حفص رحمه الله اهل علم اوثقه خلقو نه وو دَ ائمه په دې باندې اجماع ده.

ابوسلمة: داابوسلمه عبدالله بن عبدالرحمن بن عوف رحمه الله دې دَمشهور صحابی رسول حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه خوئې دې اودَمدینې منورې فقهاءسبعه نه یوفقیه اومشهور تابعی او محدث دې. دَدوی تفصیلی حالات کتاب الایمان باب صوم رمضان احتساباًمن الایمان رومبې حدیث لاندې ذکرکړې شوی دی.[7]

شرح حدیث:

قوله: سمعتُ أباسلمة یقول: دخلت أنا وأخوعائشة علی عائشة رضی الله عنها

(حضرت ابوسلمه فرمائی) څه او دَحضرت عائشه رضی الله عنها (رضاعی) رور دَحضرت عائشه رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شو.

دَ یقول اعراب: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه **یقول** دَحال کیدودَ وجې نه محلاً منصوب دې. ځکه چه دَ صحیح قول مطابق **سمعت** صرف دَیومفعول طرف ته متعدی کیږی[8] علامه قسطلانی رحمه الله هم داحال گرخولې دې[9]

البته دکوموحضراتوپه نیز چه **سمعت** ددوو مفعولونوطرف ته متعدی کیږی لکه چه د ابوعلی فارسی قول دې.دهغوی په نیز **یقول** (جمله)مفعول ثانی کیدو دَ وجې نه به محلاً منصوب وی.[10]

---

[1] تقریب التهذیب ص:۳۰۰.

[2] تهذیب الکمال:۱٤/٤۲٤ میزان الاعتدال:۲/٤۰۹.

[3] کتاب الثقات:۵/۱۲ تهذیب الکمال:۱٤/٤۲٤.

[4] معرفة الثقات باب الباء الموحدة: ۲/۳۸۷ مکتبة الدار بالمدینة المنورة.

[5] تقریب التهذیب ص:۳۰۰۹ رقم الترجمة: ۳۲۷۷.

[6] إکمال تهذیب الکمال: ۷/۲۰۸تهذیب التهذیب:۵/۱۸۹.

[7] کشف الباری:۲/۳۲۵-۳۲۳.

[8] عمدة القاری:۳/۲۹۳.

[9] إرشاد الساری:۱/٤۹۰.

[10] عمدة القاری:۳/۲۹۳.

قوله: أخوعائشة: حديث باب كښې أخوعائشة نه كوم يورور مراددې حقيقي يا بل يو؟ دَ شراح حديث په دې باره كښې اختلاف دې دَ داؤدي په نيز أخوعائشة نه عبدالرحمن بن ابي بكر الصديق (دَحضرت عائشه رضي الله عنها حقيقي رور) مراد دې. (١)بعض حضراتو وئيلي دي أخوعائشة نه دَحضرت عائشه رضي الله عنها اخيافي (دَموړشريك) رور الطفيل بن عبدالله مراددې. (٢) حافظ ابن حجر رحمه الله علامه عينى رحمه الله او علامه قسطلانى رحمه الله فرمائي دا دواړه اقوال صحيح نه دي. (٣)

اخوعائشه نه رضاعي رور مراد دې: صحيح خبره دا ده چه په حديث باب كښې اخوعائشه نه دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها رضاعي رور مراد دې لکه چه امام مسلم رحمه الله په طريق معاذ، امام نسائى رحمه الله په طريق خالد بن الحارث او ابوعوانه رحمه الله په طريق دَ يزيدبن هارون، امام شعبه رحمه الله نه روايت كړې دې په كوم كښې چه «أخوها من الرضاعة» (دَ حضرت عائشه رضي الله عنها رضاعي رور) صراحت موجود دې. (٤)

دَ رضاعي رور نه څوک مراددې؟: امام نووى رحمه الله فرمائي چه دلته دَ رضاعي رور نه عبدالله بن يزيد مرا ددې. (٥)

دَدې دليل دَ امام مسلم رحمه الله هغه روايت دې كوم چه هغه كتاب الجنائز كښې ابوقلابه عن عبدالله بن يزيد رضيع عائشه نه كتاب الغسل والا روايت نه علاوه يوبل روايت سره نقل كړې دې.(٦)

دَ حافظ ابن حجر او علامه عينى رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى رحمه الله ليكلى دي چه دَامام مسلم رحمه الله دَ دې (پورته ذكرشوى) روايت نه دا نه لازميږى چه دلته په حديث باب كښې هم دغه عبدالله بن يزيد مراد وى ځكه چه دَ حضرت عائشه رضي الله عنها يو بل رضاعي رور كثير بن عبيدهم دې. امام بخاري رحمه الله الأدب المفرد كښې (٧)اوامام ابوداؤد رحمه الله په خپل سنن كښې (١)دَهغه ځوئي سعيدبن كثير په طريق باندې دَهغه نه روايت نقل كړې دې.

---

(١) فتح الباري:٤٨١/٢عمدة القاري:٢٩٣/٣.

(٢) فتح الباري:٤٨١/٢عمدة القاري:٢٩٣/٣.

(٣) حواله سابق إرشاد السارى:٤٩١/١.

(٤) قد مر تخريج الحديث لمسلم والنسائى آنفاً تحت حديث الباب، وأما حديث أبوعوانة فقد رواه فى مسنده فى كتاب الطهارة باب الأوانى التى كان يغتسل منها رسول الله صلى الله عليه وسلم من الجنابة وصفة غسل رأسه من الجنابة دون سائر جسده: ٢٤٧/١رقم:٨٤٩ دارالمعرفة بيروت، الطبعة الأوالى ١٤١٩هـ-١٩٩٨م.

(٥) المنهاج: ٢٢٩/٤ فتح البارى:٤٨١/٢عمدة القارى:٢٩٣/٣إرشاد السارى:٤٩٠/١.

(٦) رواه مسلم فى كتاب الجنائز باب من صلى عليه أربعون شفعوا فيه رقم:٩٤٧ ولفظه عن أبى قلابة عن عبدالله بن يزيد رضيع عائشة عن عائشة عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: "ما من ميت يصلى عليه أمة من المسلمين يبلغون مائة، كلهم يشفعون له، إلا شفعوا فيه".

(٧)أخرجه البخارى فى الأدب المفرد فى باب الرفق فى المعيشة ص:١٢٧ رقم: ٤٧٣ دارالسلام بيروت، وقال: حدثنا حرمى بن حفص قال حدثنا عبدالواحد قال حدثنا سعيد بن كثير بن عبيد قال حدثنى أبى قال: دخلت على عائشة أم المؤمنين رضى الله عنها فقالت: أمسك حتى أخيط نقبتى، فأمسكت، فقلت: يا أم المؤمنين الوخرجت فأخبرتهم لعدّوه منك بخلاً، قالت: أبصر شانك إنه لاجديد لمن لا يلبس الخلق.

بیاعلامه عیني رحمه الله فرمائي چه دلته دَدوي نه یوهم متعین نه دي أخوها (اطلاق) نه دا اقرب دي چه عبدالرحمن بن ابوبکر رحمه الله مرادوي (سره دَدې چه دَمسلم وغیره نه معلومه شوه چه دا رضاعي رور وو) اودَمسلم وغیره دَ بل روایت نه دا نه لازمیږي چه هغه عبدالله بن یزیدوي خکه چه دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه چه چادَ رسول الله ﷺ دَ غسل باره کښې سوال کړې وو دا ضروري نه ده چه هم هغه دي وي دَچانه چه امام مسلم رحمه الله په طریق دَ ابوقلابه کتاب الجنائز کښې روایت نقل کړې دې. نولکه چه خلاصه داشوه چه ((أخوها)) نه څوك متعین کس مرادنه دي دَدغه دواړو رضاعي رونړونه هم څوك کیدېشي او دَدوي نه علاوه هم څوك (رور) کیدې شي.
حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائیل چه عبدالله بن یزید بصري دي اوکثیربن عبید کوفي دې نو أخوها کښې دَدې خبرې هم احتمال شته چه دَدغه دواړو نه یومرادوي یادَدې دواړونه علاوه بل څوك وي.([2])
علامه شبیر احمدعثماني رحمه الله فتح الملهم کښې دا توجیه اختیارکړې ده.([3])
دَ اخوعائشه دَعطف سره متعلق بحث: دَ أخوعائشة عطف دخلت کښې ضمیرمرفوع دَ متصل دکولو دَپاره أنا ضمیر مرفوع منفصل دَ تاکیدپه توګه راوړلې شو دې دَپاره چه دَ أخوعائشة عطف د خلت باندې صحیح شي. خکه چه دَنحو قاعده ده چه ضمیرمرفوع متصل (که بارز وي اوکه مستتر) باندې عطف صحیح کولودَپاره ضروري دي چه دَدې نه پس دَ تاکیددَپاره ضمیر مرفوع منفصل راوړلې شي([4])لکه چه ﴿ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ ﴾([5])کښې دَ آباءکم عطف کولودَپاره أنتم ضمیر مرفوع منفصل دَ تاکید دَپاره راوړلې شوې دې.([6])
قوله::فسألها أخوها عن غسل النبي صلی الله علیه وسلم: دَحضرت عائشه رضي الله عنها رضاعي رور دَهغې نه دَ رسول الله ﷺ دَ غسل باره کښې پوښتنه اوکړه. ابوذر، ابوالوقت، آصیلي او ابن عساکر په نسخوکښې غسل النبي په خائې غسل رسول الله صلی الله علیه وسلم الفاظ دي.([7])
قوله::فدعت بإناء نحواً من صاع: حضرت عائشه رضي الله عنها دَصاع په شان یولوښې (دَاوبو) راؤغوښتلو. دَعَت، دلته طَلَبَتْ په معنی کښې دې یعني راوني غوښتلو.([8])
دَ نحواً اعراب: دَ کریمه په روایت کښې نحواً منصوب دې او دَ باقي حضراتو په روایت کښې تنوین سره مجروردې.([9]) دَ مجرور کیدو په صورت کښې نحو دَ إناء صفت جوړیږي (تقدیري عبارت به داسې شي فَدَعَتْ بِإناءٍ نحوكائنٍ من صاع)([10])

---

[1]) عمدة القاري:۳/۲۹۳.
[2]) فتح الباري:۲/۴۸۱.
[3]) فتح الملهم:۳/۷۸.
[4]) عمدة القاري:۳/۲۹۳إرشادالساري:۱/۴۹۱.
[5]) سورة الأنبیاء:۵٤ الشعراء:۷۶.
[6]) عمدة القاري:۳/۴۹۱.
[7]) إرشاد الساري:۱/۴۹۱.
[8]) شرح الکرماني:۳/۱۱٤.
[9]) فتح الباري:۲/۴۸۱عمدة القاري:۳/۲۹۳ إرشادالساري:۱/۴۹۱.

دَمنصوب کیدو په صورت کښې دوه احتماله دی: ① نحواً ب، صفت جوړیږی دَ إناءِ او إناءِ دَ دَعَتْ مفعول به کیدو دَ وجې نه محلاً منصوب وی. (تقدیری عبارت، به داسې شی فدعت بإناءٍ نحواًك اثنا من صاع، ② دویم احتمال دادې چه نحواً دَ أعني فعل محذوف مفعول به وی (نو تقدیری عبارت به داسې شی فدعت بإناءٍ أعني نحواً كائناً من صاع)[۱] منصوب اومجرور دوا ړو حالتونو کښې به مفهوم هم یو وی یعنی حضرت عائشه رضي الله عنها دَ صاع په شان یولوښې راؤغوښتو.

قوله::فاغتسلت وأفاضت على رأسها وبيننا وبينها حجاب: هغې (حضرت عائشه رضي الله عنها) غسل اوکړو او په خپل سرباندې ئې اوبه اوبهیولې په داسې حال، کښې چه زمونږ اودَهغې په مینځ کښې پرده وه. أفاضت: أفاضت أی أسالت الماء على رأسها یعنی حضرت عائشه رضي الله عنها په خپل سرباندې اوبه اوبیهولې[۳] په کثرت سره اوبه بهیولوته أفاض الماء وائي[۴] أفاضت على رأسها داجمله فاغسلت دَپاره دَ تفسیر په شان ده.[۵] مطلب دا شوه چه حضرت عائشه رضي الله عنها لکه چه دَغسل شروع په سرباندې دَ اوبو بهیولونه اوکړو.

قوله::بيننا وبينها حجاب: راوی وائی چه زمونږ اودَ حضرت عائشه رضي الله عنها په مینځ کښې پرده وه. بيننا وبينها حجاب صراحت نه منکرین حدیث او روافض وغیره ټول مزعومه اعتراضات ختمیږی.[۶] بيننا وبينها حجاب، داجمله (دَ کوفیانو په نیز) فاغتسلت نه او (بصریانو په نیز) أفاضت نه حال واقع کیږی.[۷]

دَ راوی سائل اوحضرت عائشه رضي الله عنها خپل مینځ کښې رشته اوتعلق: حضرت عائشه رضي الله عنها دَ حدیث باب دَ راوی حضرت ابوسلمه بن عبدالرحمن ترور ده. ځکه چه دَحضرت عائشه رضي الله عنها خور ام کلثوم بنت ابی بکر رضي الله عنهما ابوسلمه له پیئی ورکړی وو. دادَهغې رضاعی خوئی وو. دغه شان دَ رسول الله ﷺ دَ غسل باره کښې تپوس کونکي دَحضرت عائشه رضي الله عنها رور وو سره دَدې چه دَدې خبرې تعیین نه دې شوې چه هغه ئی حقیقی رور وو که رضاعی رور ئې وو.[۸]

دَ روافض او منکرین حدیث بې ځایه اعتراض: بعض خلق روافض او منکرین حدیث دَ امام بخاری رحمه الله دَدې روایت په شان په ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها باندې دَ بې ځایه اعتراض کولو

---

[۱] فتح الباری:۴۸۱/۲ عمدة القاری:۲۹۳/۳ إرشادالساری :۴۹۱/۱ التوشیح على الجامع الصحیح للسیوطی:۲۴۳/۱.

[۲] فتح الباری: ۴۸۱/۲ عمدة القاری:۲۹۳/۳ إرشاد الساری:۴۹۱/۱ التوشیح على الجامع الصحیح للسیوطی: ۲۴۳/۱.

[۳] عمدة القاری:۲۹۳/۳.

[۴] المغرب فی ترتیب المعرب:۱۵۴/۲ لسان العرب:۳۶۶/۱۰ الصحاح للجوهری ص:۸۳۰ النهایة لابن الأثیر:۴۰۴/۲.

[۵] عمدة القاری:۲۹۳/۳.

[۶] سیاتی التفصیل.

[۷] عمدة القاری:۲۹۳/۳.

[۸] شرح الکرمانی:۱۱۴/۳ فتح الباری للعسقلانی:۴۸۱/۲ عمدة القاری:۲۹۳/۳ المنهاج للنووی:۲۲۹/۴.

كوشش كوى چه امام بخارى ﷫ د هغې طرف ته په حديث كښې دا منسوب كړى دى چه هغې خلقوته غسل كولو سره اوخودل. دا نعوذبالله د بې حيائۍ خبره ده ځكه چه كه دغه خلقوته عملاً خودل وو نود پردې لګولوڅه ضرورت وو اوكه چرې ښكاريدل نودمعترض مدعابه ثابته شى چه داسې كول دبې حيائۍ په زمره كښې راځى. دايمان د حقيقت نه محروم دا بې بصيرت اود صحابه كرامو دښمنان طعن كونكى خلق صحابه ﷡ دپاره احاديثونه دخپلې خوښې مفهوم راويستلودپاره دير د غلطې طريقې استعمالولونه هم نه منع كيږى سره ددې كه دهغوى داعتراض كولو هڅو څه بنيادهم نه وى.بهرحال ددې مزعومه اعتراض د جواب نه وړاندې د تمهيدپه توګه دحضرت عائشه صديقه ﷺ مختصراً علمى مقام اوحضرات صحابه كرامو اود تابعينو د شريعت دمسئلو د پيژندلودپاره اودمعلومولودپاره هغوى ته رجوع كول بيانول به مفيدوى.

دحضرت عائشه ﷺ علمى مقام اود صحابه كرامو دهغې طرف ته رجوع : دحضرت عائشه ﷺ نه لوئې څوك د قرآن مجيد، ميراث اوحلال حرام د مسئلوماهرنه وو. عروه ابن الزبير ﷺ وائى چه مادحضرت عائشه ﷺ نه لوئى څوك عالم نه دې ليدلې چه د قرآن پاك فرائض، حلال اوحرام، شعر، دعربو واقعات او په انساب كښې دهغې نه څوك ماهروى. (۱)

علامه ابن كثير ﷫ فرمائى چه حضرت عائشه ﷺ نه يوازې په ازواج مطهرات كښې بلكه دټولو ښځونه زيات د دين علم لرلو. امام زهرى ﷫ فرمائى كه چرې ټولې ازواج مطهرات اود ټولو ښځو علم يوطرف ته وى او بل طرف ته د حضرت عائشه ﷺ علم وى نوهغه افضل دې يعنى دهغوى نه زيات دې.(۲)حضرت ابوموسى اشعرى ﷺ فرمائى چه د حضورپاك صحابه كرامو ته به كله د حديث متعلق څه اشكال پيښيدو نود حضرت عائشه صديقه ﷺ نه په پوښتنه كولوسره به دهغې حل ضرور راوتلو. (۳)

د اعتراض جواب: هم ددې پس منظرلاندې د حديث راوى ابوسلمه او حضرت عائشه ﷺ رور د ام المؤمنين نه د حضورپاك د غسل (اوبو) باره كښې سوال اوكړو نوهغې د وضاحت اوكړو. په دې روايت كښې خونه امام بخارى ﷫ د ام المؤمنين طرف ته څه غلطه خبره منسوب كړې اونه دحضرت عائشه ﷺ دعمل نه څه داسې شك معلوم شوې دې. بلكه د راوى حديث حضرت ابوسلمه ﷺ الفاظ «بيننا وبينها حجاب» بالكل واضحه او بې دوړو خبره ده او په صراحت سره ښائى چه دغسل عمل د پردې نه شاته اوشو په دې سره نه خو په حضرت عائشه ﷺ باندې څه الزام لګيدې شى او نه په امام بخارى ﷫ باندې څه خبره راتلې شى.

دمعترضينو د فاسدګمان برعكس امام بخارى داحديث ددې خبرې د وضاحت كولودپاره روايت كړې دې چه حضورپاك به د صاع په شان يولوښى سره غسل كولو او په دې باره كښې د اوبوڅه خاص تحديدنشته دې لكه چه امام بخارى ﷫ ترجمة الباب «باب الغسل بالصاع ونحوه» سره بالكل واضح اوښكاره دې. شراح حديث دداسې ممكنه مزعومه اعتراض دوه شان جواب وركړې دې.

---

(۱) حلية الأولياء:۲/۵۰-۴۹.

(۲) البداية والنهاية:۸/۹۷.

(۳) البداية والنهاية:۸/۹۷.

دَ قاضي عياض رحمه الله او امام قرطبي رحمه الله جواب: رومبي جواب قاضي عياض رحمه الله او امام قرطبي رحمه الله ورکړې دې کوم چه شراح حديث په عام توګه باندې نقل کړې دې چه دَحديث راوي ابوسلمه رضي الله عنه اوسائل دَحضرت عائشه رضي الله عنها دَ محارم نه وو دَچادَپاره چه سر اودَ بدن پورتنئ حصه کتل جائزوو. دَحديث ظاهري هم دغه دې چه دې حضراتو دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَ غسل عمل اوکتلو يعنې سر وينځل اودَ بدن پورته حصه (سټ او اوږووباندې) اوبه بهيولو مشاهده ئې اوکړه ځکه چه که هغوي ددې مشاهده نه کوله نوبيادَحضرت عائشه رضي الله عنها اوبه راغوښتل دَهغوي په موجودګئ کښې دَغسل اوطهارت دَعمل کولو هيڅ معنى نه وه اوکه چرې عائشه صديقه رضي الله عنها په پرده کښې داعمل کولو نو زياني خودلو او دې کښې به هيڅ فرق باقي نه پاتې کيدلو لهذا عائشه رضي الله عنها داعمل په پرده کښې پاتې کيدو سره اوکړو په داسې حال کښې چه دَ بدن هغه حصه (يعني سر او اوږو) نه علاوه دکوم طرف ته چه محرم له نظر کول جائزنه دی هغه پټ وو.(¹) علامه عيني رحمه الله فرمائي چه دَحضرت عائشه رضي الله عنها په دې عمل سره دا ثابته شوه چه عملي تعليم اوتعلم مستحب دې ځکه چه دادَ زباني تعليم نه زيات واضح او مؤثر وي.(²)

دَ علامه کوراني رحمه الله جواب: علامه احمدبن اسماعيل بن عثمان بن محمد کوراني رحمه الله فرمائي چه دَ قاضي عياض رحمه الله وغيره جواب زما په نيزمحل نظردې ځکه چه دَ محارم دَ بدن پورتنئ حصې ته کتل سره دَدې چه جائزدی ليکن داعام خلق هم نه خوښوي چه ددې نسبت مجسم حيا حضرت عائشه رضي الله عنها طرف ته اوکړې شي. باقي پاتې شوه خبره دَ لوښي نوهغه ئې ځکه اوغوښتلو چه دې سره دې حضراتو ته دَ حضورپاك دَغسل دَ اوبو مقدار اوښائي. هغې دَ دوي دَپاره باقاعاده غسل نه دې کړې کيدې شي چه دَهغې دَ وړاندې نه دَغسل کولو اراده وي او په اتفاقي توګه سره دا دواړه حضرات هم راغلي وي اودَ حضورپاك دَغسل باره کښې ئې تپوس اوکړو او په دې کښې هيڅ شك نشته دې چه حضرت عائشه رضي الله عنها سره دَدې چه په پرده کښې غسل اوکړو ليکن دا دَ زباني تعليم نه زيات ابلغ وو.(³)

دَ عرف او محاوره رعايت: دَ شراح حديث ددې جوابونو نه يوطرف ته يوجواب داهم ورکولې شي چه دَ حديث راوي کوم تعبيراختيارکړې دې هغه دَعرف اوعام محاورې په بنياد باندې دې په دې سره دا نه لازميږي چه هغوي دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَ غسل مشاهده هم کړې وي. ځکه چه په عرف کښې دَ چا نه کله داسې سوال کولې شي چه په څومره مقدار اوبوسره غسل کولې شي؟ يا فلانکي به په څومره اوبوسره غسل کولو؟ نوکه ددې په جواب کښې هغه په مخصوص لوښي کښې اوبوسره عملاً غسل کولوسره راشي او اوښائي چه په دومره مقدار سره ئې غسل کړې وو نو په دې سره دا نه لازميږي چه تپوس کونکو هغه ليدلې وي. دغه شان به دلته هم شوې وي. بل دا چه راوي پخپله دا وائي چه «وبيننا وبينها حجاب» يعني زمونږ اودَهغې په مينځ کښې پرده وه نوبيادَخپل طرف نه دَ اعتراض کولو څه

---

¹) التوضيح لابن لملقن: ٥٥٥/٤شرح الكرماني:١١٥/٣ فتح الباري:٤٨١/٢عمدة القاري:٢٩٢/٣ المنهاج: ٢٢٩/٤ فتح الباري لابن رجب الحنبلي:١٤٤/١.

²) عمدة القاري::٢٩٤/٣.

³) الكوثر الجاري إلى رياض أحاديث البخاري:٤١٠/١-٤٠٩.

ضرورت دي؟ دا بغيردَدي نه چه هغه نفوس قدسيه سره دَ عداوت او دښمنئ دَ اظهار كولو نه بل هيڅ نه دي.[1]
دَدې نه علاوه كه دَدې حضراتو په حضرت عائشه رضي الله عنها باندې نظرپريوتلې هم وي نو په دې كښې په شرعي نقطه نظر سره هيڅ حرج نشته دې. ځكه چه دا دواړه دَهغې دَمحارم نه دې اودَدوي دپاره دَ بدن پورتنئ حصې طرف ته نظر كول شرعاً جائزوو. (كمامر) اِن شاء الله وراندې به دَدې مسئلې وضاحت راځي چه دَمحارم دَپاره كوموانداموته نظر كول شرعاً جائز دي.
دَابن رجب حنبلي رحمه الله او علامه ګنګوهي رحمه الله وضاحت: بيا دَ شراح حديث نه علامه ابن رجب حنبلي رحمه الله او علامه رشيداحمد ګنګوهي رحمه الله دَدې خبرې وضاحت كړې دې چه حضرت ابوسلمه رضي الله عنه هغه وخت نابالغ اووړوكې ماشوم وو.[2]داخبره هم په معاشره كښې په عام توګه خوره ده چه دَ خاندان مشران خپلو كشرانوته ته دَ ډيرو زياتو خبرو عملي تعليم وركوي. كه چرته عائشه رضي الله عنها دَ خپل محارم نه يوماشوم ته په پرده كښې پاتې كيدو سره دَ حضورپاك دَغسل تعليم وركړې دې نو په دې كښې څه حرج دې اوكه چرې دَ هغه نظر هم پريوتلې وي نودَ بدن په هغه حصه باندې دكوم چه دَ محارم دپاره كتل شرعاً جائزهم دي لكه سر او اوږه وغيره.

---

[1] علامه ډاكټر خالدمحمود صاحب (پي ايچ ډي لندن) په آثارالحديث (۴۳۲/۲-۴۳۱) كښې حديث غسل ام المؤمنين باندې يواعتراض لاندې ليكلي دي: "په حديث باندې دَ پوهيدو په ځائې عرف اومحاوره استعمالول هم مخې ته كيخودلې كيږي مثلاً په دوو كسانوكښې په دياتتدارئ سره په دې موضوع باندې جګړه اوشوه چه دَ لامبلودپاره كم نه كم څومره اوبه كيدل پكاردي؟ يوكس اووئيل چه زه په دوه سيره اوبوسره لامبلي شم بل اووئيل چه داسې نه شي كيدې، ته لامبلوسره اوښايه. هغه دوه سيره اوبه اخستو سره خلوت ته لاړو وئې لامبل راغلو وئې وئيل ما په دوو سيرو اوبوسره پوره غسل اوكړو. دَ يوبل په دياتتدارئ باندې ئې پوره اعتمادوو. اوس كه رومبې سړې دا وائي چه سړې په دوه سيره اوبوسره لامبلې شي او فلانكې سړې زما په وړاندې په دوو سيرو اوبوسره لامبلي دي
نو په داسې موقعوباندې به دَخبر اترو دا انداز غلط نه وي. نه به دَدې په وړاندې داخبره غلطه وي. مخامخ لامبلوسره داسې لامبل خودل مراد دي نه دا چه رومبې دَ هغه بل په وړاندې بربنډشوې وو اوبالكل ئې دَهغه په وړاندې لامبلې وو. چه په حديث كښې داسې څه واقعه راشي نومنكرين حديث دې ته په ډير وړوكې سوچ سره سوچ كوي او نه پوهيږي چه په دنياكښې دَتجربې اومافي الضميردَ اظهاردپاره دَعرف اوماحول څومره پيمانې استعمالولې شي. ولې په دې حديث په دې قسم پيمانه سره نه شي پوهيدلې؟"
دَام المؤمنينعائشه رضي الله عنها خورئې ابوسلمه رضي الله عنه اودَهغې رور (رضاعي) عبدالله بن يزيد دَ هغوي په خدمت كښې حاضر شو. رور دحضرت ام المؤمنين نه تپوس اوكړو حضورپاك به په څومره اوبو سره غسل كولو. هغې اوبه راؤغوښتلې چه يوصاع (يوه پيمانه) وې اوغسل ئې اوكړو اوبه خپل سرباندې ئې اوبهيولې. په صحيح بخاري كښې دلته په صراحت سره نقل دي چه دَام المؤمنين دَ هغې دَ رور اوخورئې په مينځ كښې پرده وه . په دې تصريح سره خبره هغه ځائې ته راځي كومه چه مونږه كړې ده. مګر منكرين حديث دي چه داحديث (دَدې پردې دَبحث نه يوطرف ته كولوسره) په ډير سپكاوي سره نه صرف پيش كوي بلكه په دې حواله سره دَخپل منكرين حديث كيدو باندې فخر هم كوي.
[2] فتح الباري لابن رجب الحنبلي:۱٤٤/۱ لامع الدراري:۲۰۷/۲ الكنز المتواري:۱۹۱/۳.

دامام قرطبي رحمه الله رائې: علامه ابن رجب حنبلي رحمه الله دامام قرطبي رحمه الله نه نقل كړي دي چه د مسلم شريف په روايت كښې د راوي د ازواج مطهرات د وينتود كيفيت باره كښې خبرور كول په دې خبره باندې دلالت كوي چه هغه صرف د حضرت عائشه رضي الله عنها وينته ليدلې وو. اود محارم دپاره ددې په جواز كښې دچاهم اختلاف نشته دې. بغيردډې نه چه د ابن عباس رضي الله عنهما نه د كراهت يو قول نقل كولې كيږي.[1] حضرت مولانا رشيداحمد گنگوهي رحمه الله هم كالرأس ونيلوسر دې خبرې طرف ته اشاره كړې ده چه هغه صرف سر ليدلې دې.[2]

حيا او احتياط: دې نه علاوه داخبره هم تولوته معلومه ده چه په هغه زمانه كښې د نن صبا په شان مكمل بندې غسل خانې نه وې اود حضورپاك عام هدايت هم دا وو چه د غسل وخت كښې ستر پټ ساتنى لكه څنگه چه خپله امام بخاري رحمه الله «باب التستر في الغسل عند الناس» په عنوان سره باب هم قائم كړې دې. نوآيا داممكن دى چه حضرت عائشه رضي الله عنها د حضورپاك دتعليماتوخلاف عمل كړې وى داسې سوچ هم نه شى كيدې. بيا دا ضرورى خونه دى چه عائشه صديقه رضي الله عنها د لباس نه بغيرغسل كړې وى. په يوصحيح روايت كښې هم نه ددې صراحت شته اونه په كنايه سره ددې خبرې اشاره ملاويږي. اقرب هم دادى چه دهغې داغسل د لباس اغوستلوپه حالت كښې وو. لهٰذا يوشرعى مسئلې دتعليم دپاره كپړې اچولوسره پټيدل او په پرده كښې كيدل، په دې باندې اعتراض كولو په ځائې د هغې په حيا او احتياط باندې دلالت كوي.

دصحابه كرامو اوتابعينو عدم نكير: كه په واقعه حال كښې دمعترض د باطل گمان مطابق څه خبره داعتراض قابله شوې هم وى اوهغه اومنلې هم شي نوهغه شرعًا يا عرفاً څه قابل اعتراض خبره نه ده اوكه چرې داسې وې نوعقل داخبره نه منى چه په خيرالقرون كښې موجود صحابه كرام اوپخپله راوى او سائل په دې باندې څه نكير نه كولو او خاموشى ئې اختيارولې حاشاوكلا.

دا پريږدئى كه په دې روايت باندې داسې څه اعتراض وې نود امت اساطين اهل علم نه به يونه يو كس ضرور دې طرف ته توجه كوله اوددې قابل اعتراض كيدل به ئې بيانول. ليكن ترننه پورې چا هم دا روايت او د دې الفاظ قابل اعتراض نه دى گڼرلى نوددې مطلب داواضح دې چه معترض صرف اوصرف په خپل زړه كښې موجود بغض اوكينې د اظهاركولونه علاوه بل هيڅ نه كوى.

د خراب فطرت د پاره هيڅ دليل مفيدنه دې: خبره داده چه د يونيك او سليم الفطرت سړى دپاره هم دومره كافي دى چه د حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها د پاكدامنئى او حيا بيانولودپاره الله تعالى قرآن پاك نازل كړو اود نبى په خله باندې دهغې تعريف او توصيف بيان كړې دې. اوكه يوخراب فطرت اود ايمان دحقيقت نه محروم وى نودهغه دپاره خو نه دالله تعالى كلام كافى كيدې شى او نه درسول الله صلى الله عليه وسلم ارشادات مفيد ثابتيدې شى.

حديث باب كښې سوال د غسل دكيفت باره كښې وو كه دكميت باره كښې؟: د حضرت عائشه رضي الله عنها نه دهغې رورد حضورپاك دغسل باره كښې چه كوم سوال كړې وو هغه د كيفيت غسل باره كښې وو؟ياد كميت ماء «داوبودمقدار» باره كښې وو؟ په دې باره كښې د شراح حديث دواړه شان اقوال دى:

---

[1]) فتح الباري لابن رجب الحنبلي:١/٤٤ ١.

[2]) لامع الدراري: ٢٠٧/٢ الكنزلامتواري:١٩٣/٣.

دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلي دي چه دَ أخوعائشة سوال کيفيت اوکميت دواړو باره کښې وو هغه فرمائي: «ولماكان السؤال محتملاً للكيفية والكمية،ثبت لهما مايدل على الأمرين معاً،أما الكيفية: فبالاقتصار على إفاضة الماء،وأما الكمية فبالاكتفاء بالصاع» [1]

يعنې په سوال کښې دَ غسل دَ کيفيت اوکميت دواړو احتمال وو نوپه حديث کښې دَ حضرت عائشه رضي الله عنها عمل هم په دواړو باندې دلالت کوي دکيفيت باره کښې سر او بدن باندې اوبه بهيول خودل اوکميت يوصاع باندې اکتفاکولوسره ښکاره کړل.

دَ علامه عيني رحمه الله رائې او په حافظ صاحب باندې رد: علامه عيني رحمه الله دَ حافظ صاحب دا خبره ردکړې ده چه سوال دَ کيفيت اوکميت دواړو باره کښې وو. هغوی فرمائي سوال صرف دَ کيفيت غسل باره کښې وو مونږ دا نه منو چه سوال دَ کميت ماء باره کښې هم وو. نو فرمائي «ولئن سلمنا فلم تبين إلا الكيفية ولاتعرض فيه للكمية،لأنه قال: فدعت بإناء نحو من صاع، فلايدل ذلك على حقيقة الكمية،لأنها طلبت إناء ماء مثل صاع،أن يكون ذلك الماء ملء الاناء أوأقل منه» [2]

يعنې که مونږ ئې اومنوهم چه سوال دَ دواړو باره کښې وو نوحضرت عائشه رضي الله عنها صرف دَغسل کيفيت خودلې دې کميت سره ئې هيڅ غرض نه دې کړې.ځکه چه راوي وائي چه حضرت عائشه رضي الله عنها يولوښې دَ صاع پيمانه اواندازه اوبه راؤغوښتې، په دې کښې احتمال دې چه هغه لوښې ډک وی اوداهم ممکن ده چه په هغې کښې اوبه کمې وی «دې سره خود اوبوحقيقی مقدار معلوم نه شو لهذا په دې سره په کميت ماء باندې استدلال صحيح نه دې»

دَ محارم بدن او اندامونوته نظرکولوحکم: دَ حديث باب نه علماؤ دَ محارم بدن او اندامونو بعض حصوته دَ نظر کولو جواز مستنبط کړې دې. دَ فقهاؤ په نيزدَ محارم دَ بدن کومې حصې او اندام طرف ته نظرکول جائزدي اوکومې حصې طرف ته کتل جائزنه دی؟ آيا دې نه مراد په عام توګه سره چه په کورونوکښې سر اودَ سروينته، سټ، مخ، لاسونه، څنګل، خپې او پنډئی وغيره باندې نظر پريوځي؟ يا دَ سترنه علاوه مخ او لاسونه مراددی؟ يا صرف مخ مراددې؟ يا دَ نامه او زنګونونو پورې نه علاوه باقی بدن طرف ته دَ کتلو ګنجائش شته دې؟ په دې باره کښې دَ علماؤ اختلاف دې. [3]

دَمالکيه مسلک: دَ مالکيه په نيز دَ سړی دَپاره دَ محارم څنګلې، دَ سروينته، دَ سينې دَ پاسه حصه اودَ سټ لاندې حصه اودَ خپو اطرافو طرف ته کتل جائزدی. [4] دَ محرم ښځو سينو ته سينې ته او فتونونوته کتل جائزنه دی. [5]

دَسړی دَ بل سړی کومو اندامونوته کتل چه جائزدی ښځه دَخپل محرم هغه اندامونوته کتلې شي يعنې دَ ښځې دپاره دَ محرم سړی دَ نامه نه واخله دَ زنګونونو پورې نه علاوه باقی بدن طرف ته کتل جائزدی.[1]

---

[1]) فتح الباري:٢/٤٨٢-٤٨١.

[2]) عمدة القاري:٣/٢٩٤.

[3]) فتح الباري لابن رجب الحنبلي:١/١٤٤.

[4]) مواهب الجليل لشرح مختصر الخليل:٢/١٨٢.

[5]) الشرح الكبير مع حاشية الدسوقي:١/٣٤٦مواهب الجليل لشر مختصر الخليل:٢/١٨٣.

تنبیه: دَمالکیه په نیز سره دَدې چه دَ شهوت ویره نه وی دَ سرې خوانې محرمې ښځې ته په ډك نظر باربار کتل جائز نه دی بغیرهٔ ضرورت نه (یعنی که دَ گواهئی وغیره په وخت خوانې محرمې ښځې ته دَ کتلو ضرورت وی نودَدې گنجائش شته)([1])

دَ شوافع مسلک: دَ شوافع دَ فقهاؤ په نیز که دَ فتنې ویره نه وی نودَ نامه نه واخله تر زنګونونو پورې نه علاوه باقی بدن ته کتل جائزدی. ([2])

په یویل قول کښې دَ شوافع په نیز دَمحارم دَهغه اندامونوطرف ته کتل جائزدی چه په کورکښې کار کولو په وخت کښې په عام توګه ښکاره کیږی لکه سر سټ مخ او خپې وغیره دَدې نه علاوه طرف ته دَ کتلو هیڅ ضرورت نشته دی. ([4])

دَحنابله مسلک: دَ حنابله علماؤ په نیز (په یوقول کښې دَ شوافع په نیز هم) دَ سړی دَ خپل محارم هغه اندامونوته کتل جائزدی چه عموماً ښکاره کیږی لکه مخ سټ سر لاسونه څنګلې خپې وغیره.([5]) ابو الحسن مرداوی رحمه الله دا دَاکثر حنابله مذهب ګرځولې دې. ([6])البته دَ فتنې نه دَ بچ کیدو دَپاره پنډو او سینې طرف ته کتل صحیح نه دی. ([7])

دَښځې دَمحرم سړي طرف ته کتلوپاره کښې دَ حنابله دوه قوله دی: ① دَ سړی دَ شرمګاه نه علاوه ته کتل جائزدی. ② دَ سړی دَ بل سړی چه کومواندامونوته کتل جائز دی ښځه هم دَ محرم سړی هغه اندامونوطرف ته کتلې شی. ([8])

دَ احنافو مسلک: دَعلماء احناف کثرالله سوادهم په نیز که چرې طرفین (محرم سړې اوښځه) دَ طرف نه دَشهوت ویره نه وی نوسړې دَ محرم ښځې سر اوددې ویښته، غوږ، مخ، سینه، مټې، سینوته، پنډنی اوخپو طرف ته کتلې شی ځکه چه الله تعالی په قرآن پاك کښې دَ محارم دَپاره دَ زینت دَ اظهار اجازت ورکړې دې چنانچه دَالله تعالی ارشاد دې ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ﴾ ([9])

ترجمه: اونه دی ښکاره کوی خپل سنګار مګر دَخپل خاوند په وړاندې، یادَ خپل پلار، یادَ خپل خاوند دَپلار، یا دَخپل خوئی، یادَ خپل خاوند دَ خوئی، یادَ خپل رور، یا دَ خپلو وریرونو، یادَ خپلو خورینو، یا دَخپلو ښځو یا دَ خپل لاس دَ مال (په وړاندې).

په ایت کښې دَ زینت نه څه مراددې؟: په آیت کښې دَ زینت نه صرف نفس زینت مراد نه دې ځکه چه دَ نفس زینت اظهار منهی نه دې بلکه مواضع زینت هم مراد دی. ځکه چه په آیت کښې الله تعالی دَ

---

[1]) الشرح الکبیر مع حاشیة الدسوقی:۲٤۶/۱مواهب الجلیل لشرمختصر الخلیل:۱۸۳/۲.

[2]) مواهب الجلیل لشرمختصر الخلیل:۱۸۳/۲.

[3]) کفایة الأخیار ص ٤٦٩-٤٧٠ المجموع شرح المهذب:۲۱۶/۱۷-۲۱۵.

[4]) کفایة الأخیار ص ٤٦٩-٤٧٠ المجموع شرحالمهذب:۲۱۶/۱۷-۲۱۵.

[5]) المغنی لابن قدامة:۷۵/۷.

[6]) الإنصاف للمرداوی:۲۰/۸.

[7]) المغنی لابن قدامة:۷۵/۷.

[8]) المغنی لابن قدامة:۸۰/۷

[9]) سورت النور:۳۱.

اصل زينت طرف ته كتل مباح گرځولې دى. لهذا دَ سرى دَ محرم ښځې مواضع زينت طرف ته كتل جائز دى.دَ بدن دَ اندامونونه سر موضع تاج دې او وېښته دَ چوټيو ځايونه دى مخ موضع كُحل دې سټ اوسينه موضع هار اوموضع حمائل دى. غوږونه دَ والو اچولوځايونه دى په څنګل كښې بازوبند او بنګړى اچولې شى او خپې دَخضاب او پانزيب ځائې دې. (۱)

عقلى دليل: علامه كاسانى رحمه الله فرمائى ((لأن المخالطة بين المحارم للزيارة وغيرها ثابتة عادة، فلا يمكن صيانة مواضع الزينة عن الكشف إلا بحرج وأنه مدفوع شرعاً)) (۲)

يعنى محارم سره (سفر اوحضر) كښې يوځائې كيدل او ملاويدل عادتاً ثابت دى او په عام توګه دَ محارم دَپاره دَ زينت مواضع پټول او دَ اظهار اوښكاره كولونه بچ كول مشكل او دَ حرج سبب دې په دې وجه دَ حرج نه دَ بچ كولودَ پاره دَهغوى طرف ته كتل شرعاً جائزګرځولې شوى دى. ځكه چه شرعاً حرج مدفوع دې.

مواضع زينت دَ غض بصر دَ حكم نه مستثنى دى: الله تعالى مسلمانانوته په عمومى توګه دَ غض بصر يعنى دَ نظر ښكته ساتلوحكم وركړې دې اومواضع زينت ئې دَدې نه مستثنى كړى دى نو ځيټه ملا شرمګاه او پنډئى مواضع زينت نه كيدو دَ وجې نه به دَ غض بصر په عمومى حكم كښې داخل وى اودې ته كتل به جائزنه وى. هر هغه اندام دَ كوم طرف ته چه محارم دَپاره كتل جائز دى كه چرته دَ شهوت ويره نه وى نوهغې ته لاس لګول به هم جائز وى. (۳)

دَحديث نه مستنبط شوې مسائل: دَحديث باب نه دامسائل مستنبط كيږى ① زبانى تعليم سره عملى تعليم وركول مستحب دى(۴)② محرم دَ خپلو محارمو بعض اندامونوطرف ته كتلې شى (كمامر) ③ددې حديث نه معلومه شوه چه په غسل كښې دَ اوبوبهيولو باره كښې څه خاص شمير اوتكرار شرط نه دې (البته درې ځل اوبه بهيول سنت دى يوځل ضرورى دى) شرط دادې چه په ټول بدن باندې داسې اوبه اوبيهولې شى چه هرې حصې ته اوبه اورسى.(۵)

دَحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دَحديث ترجمة الباب سره مناسبت ښكاره دې چه امام بخارى رحمه الله باب الغسل بالصاع ونحوه عنوان قائم كړې دې. په حديث كښې وارد ((فدعت بإناء ونحواً)) الفاظو سره ترجمة ثابتيږى.(۶)

تعليق: قال أبوعبدالله: قال يزيد بن هارون وبهز والجدي عن شعبة: قدر صاع: امام بخارى رحمه الله وائى يزيد بن هارون، بهز او جدى دَامام شعبه رحمه الله نه ((نحو من صاع)) په ځائې ((قدر صاع)) الفاظ نقل كړى دى.

رجال تعليق

(۱) بدائع الصنائع:۴۸۹/۶ البحر الرائق:۳۵۵/۸ حاشية ابن عابدين:۲۵۹/۵.
(۲) بدائع الصنائع:۴۸۹/۶ البحر الرائق:۳۵۶/۸-۳۵۵ الدرالمختار مع ردالمحتار:۲۵۹/۵.
(۳) بدائع الصنائع:۴۹۰/۶-۴۸۹ البحر الرائق:۳۵۶/۸-۳۵۵.
(۴) فتح البارى:۴۸۱/۲ عمدة القارى: ۲۹۴/۳.
(۵) عمدة القارى:۲۹۴/۳.
(۶) عمدة القارى:۲۹۴/۳.

ابوعبدالله: دا صاحب کتاب ابوعبدالله محمدبن اسماعیل بخاری رحمه الله دی. دَدوی تفصیلی حالات کشف الباري مقدمة الکتاب کښې تیرشو ی دی. (۱)

یزیدبن هارون: دا ابوخالدیزید بن هارون بن زاذان، یا زاذان واسطی رحمه الله دی. دَدوی حالات صحیح بخاري کتاب الوضوء باب التبرز في البيوت دَدویم حدیث لاندې اوګورئی. (۲)

بَهز: بهز «بفتح الباء الموحدة وسكون الهاء وفي آخره زاء معجمة» دَ باء فتحه سره دَ هاء سکون اوآخره کښې زاء ده. (۳)دا ابوالاسود بهز بن اسدعمی بصری رحمه الله دې اودوی دَ معلی بن اسد رور دې. (۴)

اساتذه وشیوخ: دَ دوی په استاذانو اوشیوخ کښې ابان بن یزید عطار، حماد بن سلمه، سلیمان بن مغیره، شعبه بن حجاج، عمر بن ابوزائده، مثنی بن اسد، همام بن یحیی، وهیب بن خالد، یزید بن ابراهیم تستری، یزید بن زریع، ابوبکر نهشلی، ابوعقیل دورقی وغیره شامل دی. (۵)

تلامذه: دَدوی نه روایت کونکوکښې ابراهیم بن موسی رازی، احمدبن ابراهیم دورقی، احمدبن سنان القطان، احمدبن محمد بن حنبل، عبدالله بن هاشم طوسی، عبدالرحمن بن بشر بن حکم نیشاپوری، محمدبن بشار بندار، محمدبن حاتم السمين او یعقوب بن ابراهیم دورقی وغیره شامل دی. (۶)

جلالت شان اودَائمه توثیقی اقوال: عبدالرحمن بن بشر وائی چه یحیی بن سعید رحمه الله ماته اوفرمائیل زه تاته ګورم چه ته مانه دَ شعبه باره کښې زیات تپوسونه کوې. ته بهز بن اسد لازمی اونیسه، «فإنه صدوق ثقة» خکه چه هغه رښتونې او ثقه دې اودَهغه دَ شعبه کتاب هم واؤره. (۷)

هم دَدغه عبدالرحمن بن بشر رحمه الله قول دې «مارأيت رجلاً خيراً من بهز» (۸) علامه ذهبی رحمه الله تذکرة الحفاظ کښې لیکلی دی «كان من جلة العلماء» (۹)یعنی بهز بن اسد دَ جلیل القدر علماؤ نه وو.

ابوبکراسدی رحمه الله وائی ما دَ احمدبن حنبل رحمه الله نه فرمائیلوسره واؤریده «بهز بن أسد إليه المنتهى في التثبت» (۱۰)

- یحیی بن معین ابوحاتم او امام نسائی رحمهم الله وغیره فرمائی ثقة. (۱۱) ابن سعد رحمه الله وائی «كان ثقة كثير الحديث حجة» (۱) ابوحاتم رحمه الله فرمائی «إمام صدوق ثقة» (۲)امام عجلی رحمه الله فرمائی «بصري ثبت في الحديث، رجل صالح، صاحب سنة» (۳)

---

(۱) کشف الباري: ۱/۱۵۳-۱۲۲.
(۲) الصحيح للإمام البخاری کتاب الوضوء باب التبرز في البيوت.
(۳) فتح الباری: ۲/۴۸۲ عمدة القاری: ۳/۲۹۴.
(۴) تهذيب الکمال: ۴/۲۵۷ التاريخ الكبير: ۳/۱۴۳ أعلام النبلاء: ۹/۱۹۲ الجرح والتعديل: ۲/۳۵۴.
(۵) تهذيب الکمال: ۴/۲۵۸-۲۵۷ سير أعلام النبلاء: ۹/۱۹۲ ميزان الاعتدال: ۱/۳۵۳ تذكرة الحفاظ: ۱/۳۴۱.
(۶) الجرح والتعديل: ۲/۳۵۵ تذكرة الحفاظ: ۱/۳۴۲-۳۴۱ تهذيب الکمال: ۴/۲۵۷ سير أعلام النبلاء: ۹/۱۹۲.
(۷) تهذيب الکمال: ۴/۲۵۹ تهذيب التهذيب: ۱/۲۵۱.
(۸) تذكرة الحفاظ: ۱/۳۴۲ سير أعلام النبلاء: ۹/۱۹۲ تهذيب الكمال: ۴/۲۵۹.
(۹) تذكرة الحفاظ: ۱/۳۴۲.
(۱۰) تهذيب الكمال ۴/۲۵۸ الجرح والتعديل: ۲/۳۵۵ ميزان الاعتدال: ۱/۳۵۳.
(۱۱) تهذيب الكمال: ۴/۲۵۹-۲۵۸ سير أعلام النبلاء: ۹/۱۹۲ الجرح والتعديل: ۲/۳۵۵ ميزان الاعتدال: ۱/۳۵۳.

دَعلامه ازدی شاذ قول: دَابوالفتح ازدی یوشاذ قول دې چه بهز بن اسد دَحضرت عثمان رضی الله عنه باره کښې ښه گمان نه لرلو.(۴)

دَعلامه ذهبی دَ علامه ازدی تردید: علامه ذهبی رحمه الله دَعلامه ازدی په سختئی سره تردید کړې دې هغه فرمائی «كذا قال الأزدي والعهدة عليه، فما علمت في بهز مغمزاً»(۵) یعنی ازدی دَ بهز باره کښې داسې وئیلی دی اودَ دې (قول) ذمه واری (وبال) هم په هغه باندې دې. ما بهزبن اسد کښې هیڅ قابل اعتراض خبره او عیب نه دې لیدلې. نور دا چه علامه ذهبی رحمه الله تاریخ اسلام (۶) کښې دَهغه توثیق کړې دې او الکاشف کښې فرمائی «حجة إمام» (۷) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی «ثقة ثبت»(۸)

وفات: دَ بهزبن اسد رحمه الله دَ وفات دکال باره کښې مختلف اقوال دی. البته دَ ټولو نتیجه هم یو ده. عقبه بن مکرم عمی رحمه الله وائی بهزبن اسد یحیی بن سعید القطان نه وړاندې وفات شوې دې. (۹) ابن حبان رحمه الله فرمائی ۲۰۰ هجری نه پس وفات شوې دې.(۱۰) علامه ذهبی رحمه الله سیرأعلام النبلاء کښې تذکرة الحفاظ او تاریخ اسلام کښې ۱۹۷ هجري دَهغه دَ وفات کال گرخولې دې. (۱۱) حافظ ابن حجر رحمه الله دَ ابن قانع نه هم ۱۹۷ هجری قول کړې دې.(۱۲)

الجُدّي: «الجُدّي بضم الجيم وتشديد الدال» جدی دَ جیم ضمه او دال تشدید سره دَ جده طرف ته نسبت دې جده دَ مکې مکرمې دَ سمندر دَغاړې علاقه ده. (۱۳)

ن صبا دې ته (دَ جیم فتحه سره) جده وئیلی شی دا تصحیف دې صحیح هم دَ جیم ضمه سره دې. دا ابوعبدالله عبدالملك بن ابراهیم جدی قرشی مکی حجازی رحمه الله دې.(۱۴)

اساتذه او شیوخ: دَ دوی په استاذانو اوشیوخ کښې ابراهیم بن طهمان، حمادبن سلمه، حوشب بن عقیل، سعید بن خالد خزاعی،سفیان ثوری، سلیمان بن مغیره، شعبه بن حجاج، صلت بن دینار، القاسم بن الفضل حدانی، محمد بن محمد ، بن نافع طائطی، نافع بن عمر الجمعی، همام بن یحیی،

---

(۱) طبقات ابن سعد:۲۹۸/۷تهذیب الکمال:۲۵۹/۴.
(۲) تهذیب الکمال:۲۵۸/۴میزان الاعتدال:۳۵۳/۱.
(۳) معرفة الثقات:۲۲۵/۱مطبعة المدنی، قاهرة، مصر.
(۴) میزان الاعتدال:۳۵۳/۱تهذیب الکمال:۲۵۱/۱.
(۵) میزان الاعتدال:۳۵۳/۱.
(۶) تاریخ اسلام:۲۲۲/۵.
(۷) الکاشف ص:۲۷۶.
(۸) تقریب التهذیب:۱۳۹/۱.
(۹) تهذیب الکمال:۲۵۹/۴.
(۱۰) کتاب الثقات:۱۵۵/۸تهذیب التهذیب:۲۵۱/۱تهذیب الکمال:۲۵۹/۴.
(۱۱) سیرأعلام النبلاء:۱۹۲/۹ تذکرة الحفاظ:۳۴۲/۱ تاریخ الأسلام:۲۲۲/۵.
(۱۲) تهذیب التهذیب:۲۵۱/۱.
(۱۳) فتح الباری:۴۸۳/۲عمدة القاری:۲۹۴/۳تقریب التهذیب:۶۱۳/۱
(۱۴) تهذیب الکمال:۱۸/-۲۸ التاریخ الکبیر:۴۰۶/۵ الجرح والتعدیل:۴۰۵/۵ تقریب التهذیب:۶۱۳/۱ کتاب الثقات ۳۸۷/۸ تاریخ الاسلام:۴۲۱/۵ تهذیب التهذیب:۲۸۴/۶ الکاشف:۶۶۳/۱

ابوعوانه الوضاح بن عبدالله، يزيد بن ابراهيم تستری او اليسع بن قيس رحمهم الله وغيره شامل دی.[1]

تلامذه: دَدوی نه روایت کونکوکښې ابراهيم بن يعقوب جوزجانی، ابوالازهر احمدبن الازهر نيشاپوری، احمدبن بزيع، احمدبن حسن ترمذی، احمدبن محمدبن عبدالله بن القاسم بن ابی بزه بزی مقری، احمدبن منصور مروزی، حجاج بن شاعر، حسن بن علی خلال، سلمه بن شبيب نيشاپوری، ابو داؤد سليمان سيف حرانی، عبدالله بن منير مروزی، ابوعبدالرحيم محمدبن احمدبن ابی عيسی جوزجانی، ابوكريب محمدبن علاء، محمدبن مقصود جوزمانی مكی، محمود بن غيلان مروزی، وهب بن حفص حرانی او ابوعبيده بن فضيل بن عياض رحمهم الله وغيره شامل دی.[2]

په توثيق کښې دَ ائمه اقوال: امام ابوداؤد امام ترمذی اوامام نسائی رحمهم الله دَده روايت نقل کړې دې اوامام بخاری رحمه الله «مقروناً بغيره» دَ تاکيدپه توګه دَده روايت نقل کړې دې.[3] ابوعبدالرحمن المقری رحمه الله وائی «هوأحفظ منی»[4] ابوزرعه رحمه الله وائی «لابأس به»[5] امام مزّی رحمه الله وائی «ثقة مأمون»[6] امام ابوحاتم رحمه الله وائی «شيخ»[7] امام ابن حبان رحمه الله كتاب الثقات کښې دَدوی تذکره کړې ده[8] امام دار قطنی رحمه الله فرمائی: «ثقة»[9] حافظ ابن حجر رحمه الله تقريب التهذيب کښې فرمائی «صدوق»[10]

وفات: امام بخاری رحمه الله فرمائی دعبدالملك بن ابراهيم په ۲۰۴ يا ۲۰۵ هجری کښې انتقال شوی[11] ابن حبان رحمه الله په کتاب الثقات کښې هم داقول اختيارکړې دې[12] علامه ذهبی علامه عينی او علامه قسطلانی رحمهم الله ۲۰۵ هجری دَ هغوی دَ وفات کال ګرځولې دې.[13]

شعبة: داامير المؤمنين فی الحديث شعبه بن حجاج بن وردعتکی، واسطی، بصری رحمه الله دې. دَدوی حالات كشف الباری كتب الايمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده رومبی حديث لاندې تيرشوی دی.[14]

تخريج تعليق

---

[1] تهذيب الكمال: ۲۸۰-۲۸۱/۱۸ تاريخ الإسلام:۴۲۱/۵ الجرح والتعديل:۴۰۵/۵ تهذيب التهذيب: ۳۸۴/۶.

[2] تهذيب الكمال: ۲۸۱/۱۸ تهذيب التهذيب: ۳۸۵/۶ تاريخ الإسلام:۴۲۱/۵.

[3] تهذيب الكمال: ۲۸۲/۱۸ الكاشف: ۶۶۳/۱ عمدة القاری:۲۹۴/۳.

[4] تهذيب الكمال: ۲۸۲/۱۸ تاريخ الإسلام:۴۲۲/۵ تهذيب التهذيب:۳۸۵/۶.

[5] الجرح والتعديل:۴۰۶/۵ تهذيب التهذيب: ۲۸۵/۶ تهذيب الكمال:۲۸۲/۱۸ تاريخ الإسلام:۴۲۱/۵.

[6] تاريخ الإسلام:۴۲۱-۴۲۲/۵ تهذيب الكمال:۲۸۲/۱۸ تهذيب التهذيب: ۳۸۵/۶.

[7] الجرح والتعديل:۴۰۶/۵ تهذيب الكمال: ۲۸۲/۱۸ تهذيب التهذيب: ۳۸۵/۶.

[8] كتاب الثقات:۳۸۷/۸ تهذيب التهذيب:۳۸۵/۶.

[9] تهذيب التهذيب:۳۸۵/۶.

[10] تقريب التهذيب: ۶۱۳/۱.

[11] التاريخ الكبير:۴۰۶/۵ تاريخ الإسلام:۴۲۲/۵ تهذيب الكمال:۲۸۲/۱۸.

[12] كتاب الثقات: ۳۸۷/۸.

[13] الكاشف:۶۶۳/۱ عمدة القاری:۲۹۴/۳ إرشاد الساری:۴۹۱/۱.

[14] كشف الباری: ۶۷۸/۱.

قال يزيد بن هارون، وبهز، والجُدِّيُّ عن شعبة: قدر صاع. دا متابعت ناقصه دې دا امام بخاري رحمه الله په توګه دتعليق ذکرکړې دې. (١)يزيدبن هارون، بهز او جدى عن شعبه روايت کوم چه امام بخارى رحمه الله دتعليق په توګه ذکرکړې دې. ددې باره کښې حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى رحمه الله فرماتى چه په دې مذکوره تعليق کښې دَ يزيدبن هارون دَ شعبه نه روايت ابوعوانه موصولاً نقل کړې دې. (٢)البته حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلى چه ابوعوانه رحمه الله په خپل صحيح کښې روايت کړې دی.(٣) خوعلامه عينى رحمه الله فرمائى چه ابوعوانه رحمه الله په خپل مستخرج کښې دا نقل کړې دی. (٤)په دواړو کښې هيڅ تعارض نشته دې ځکه چه صحيح اومستخرج دواړه هم ديوکتاب نومونه دی،حافظ ابن حجر رحمه الله دَيزيد بن هارون عن شعبه والا روايت دَ صحيح ابى عوانه په حواله سره په تغليق التعليق کښې مکمل سندسره تخريج کړې دې. (٥)

دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله دَ يزيدبن هارون عن شعبه والا روايت باره کښې فرمائى چه ابونعيم هم مذکوره تعليق په خپل مستخرج کښې موصولاً نقل کړې دې. (٦)حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله دابونعيم دَ طريق تخريج کړې دې. (٧)دَ بهز بن اسد دَ امام شعبه نه روايت لکه چه امام بخارى رحمه الله تعليقاً ذکرکړې دې محدث اسماعيلى خپل مستخرج کښې دا موصولاً نقل کړې دې. حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله دَهغه دَ سند تخريج کړې دې. (٨)البته دَ عبدالملک بن

---

(١) عمدة القاري:٢٩٤/٣.

(٢) هدى السارى مقدمة فتح البارى:٢٥/١ فتح البارى:٤٨٢/٢ عمدة القارى:٢٩٤/٣.

(٣) هدى السارى:٢٥/١.

(٤) عمدة القارى:٢٩٤/٣.

(٥)تعليق التغليق: ١٥٢/٢ قال الحافظ ابن حجرفيه: أما حديث يزيد بن هارون، فقال أبوعوانة فى صحيحه: حدثنا محمد بن عيسى العطار، ثنا يزيد بن هارون، أنا شعبة، عن أبى بكربن حفص، عن أبى سلمة عن عائشة. سألها أخوها من الرضاعة عن غسل النبى ﷺ من الجنابة، فدعت بإناء قدرصاع، فاغتسلت وصبت على رأسها ثلاثا.

(٦) فتح البارى:٤٨٢/٢عمدة القارى:٢٩٤/٣.

(٧) عمدة القارى:٢٩٤/٣وقال الحافظ فى تغليق التعليق: ١٥٢/٢ وقرأته عالياً على عبدالله بن محمد بن أحمد المقدسى، أنباكم عبدالله بن الحسين ابن الحسن وقرأت على عبدالله ايضاً، عن زينب بنت أحمد بن عبدالرحيم عن الحافظ أبى الحجاج بن خليل، أن محمد بن إسماعيل الطرسوسى أخبره عن الحسن بن أحمد، أنا أبونعيم الحافظ، أنا أبوبكربن خلاد، ثنا الحارث بن محمد، ثنا يزيد بن هارون: مثله سواء. وكذلك وصله البيهقى فى السنن الكبرى له: ١٩٥/١، فى كتاب الطهارة، باب أستحباب أن لاينقص فى الوضوء من مدولا فى الغسل من صاع عن الحاكم عن بكر الصير فى عن الحارث عن يزيد بن هارون مثله.

(٨)تغليق التعليق: ١٥٢/٢ عمدة القارى:٢٩٤/٣ وقال العلامة العينى: أما طريق بهز بن أسد فرواها الإسماعيلى: حدثنا المنيعى يعقوب وأحمد حدثنا إبراهيم قالا: حدثنا بهز بن أسد، حدثنا شعبه. وقال الحافظ ابن حجر رحمه الله: أماطريق بهز بن أسدفقال الإسماعيلى فى مستخرجه: أخبرنا المنيعى، حدثنا يعقوب وأحمد، أنبانا إبراهيم قال: حدثنا بهز بن أسدبه.

ابراهیم جدی دَ روایت باره کښې حافظ ابن حجر رحمه الله «لم أجدها» او علامه عینی رحمه الله «فلم أقف علیه» فرمائیلی دی.[۱]

دَ تعلیق غرض: دَ امام بخاری رحمه الله مقصد اوغرض دَدې تعلیق نه دا بیان کول دی لکه څنګه چه دَ امام شعبه رحمه الله شاګرد عبدالصمد رومبې روایت (حدیث باب) کښې دَحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها باره کښې «فدعت بإناء نحواً من صاع» الفاظ نقل کړی دی نوهم دَامام شعبه رحمه الله درې نورو شاګردانو یزید بن هارون، بهز او جُدی «نحواً من صاع» په ځائې «قدر صاع» الفاظ نقل کړی دی.[۲] نولکه چه امام بخاری رحمه الله دَ روایت دَ الفاظوتحقیق کوی اودَ امام شعبه رحمه الله شاګردانو دَحضرت عائشه رضی الله عنها باره کښې مختلف الفاظ نقل کړی دی دا بیان کوی په دواړو روایتونوکښې فرق دادې چه «نحواً من صاع» کښې دَتقریب بیان دې چه حضورپاك په صاع اودَدې په شان په لوښی سره غسل کولو په دې کښې تحدید نشته دې بلکه صاع اودَدې په شان لوښی کښې چه به ئې په څومره اوبوسره غسل کولې شو هم په هغې سره به ئې غسل کولو په دې کښې دکمی زیاتی دواړو ګنجائش شته. په دویم روایت کښې امام شعبه نه دَهغه دریوشاګردانو «قدر صاع» الفاظ نقل کړی دی په دې کښې دَ تحقیق اوتحدید بیان دې. هم دغه مسنون دی اودَ حنفیه مسلك هم دَدې مطابق دې.

قوله:: قدر صاع: تقدیری عبارت به داسې شی «فدعت بإناء قدر صاع» قدرصاع کښې هم «نحواً من صاع» په شان دوه ترکیبی احتمال دې. چه مجرور اولوستلې شی نودا به دَ اناء صفت جوړیږی یا دا اعراب حکائی دې اوکه منصوب اولوستلې شی نوهم به دَ اناء صفت جوړیږی او اناء دَ دعت مفعول به کیدو دَ وجې نه محلاً منصوب وی یا بیا أعني فعل محذوف مفعول به کیدودَ وجې نه منصوب وی.[۳]

دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله دواړه روایتونه (حدیث باب اوتعلیق) مآل هم یو ګرځولې دې هغه فرمائی: «والمراد من الروایتین أن الاغتسال وقع بملء الصاع من الماء تقریباً لا تحدیداً» [۴] یعنی دَ الأقوال دواړو روایتونونه مراددادې چه په یوصاع اوبوسره دَ غسل کیدل تقریبی امر دې نه چه تحدیدی.

دَعلامه عینی رحمه الله نقد: علامه عینی رحمه الله دَ حافظ ابن حجر رحمه الله په مذکوره رائې باندې نقد فرمائیلې دې هغه وائی چه یوصاع اوبوسره غسل کیدلوته تقریبی امر وئیل نه چه تحدیدی، داپخپله دَ حافظ صاحب رحمه الله په سابق باب کښې حدیث مجاهد عن عائشه رضی الله عنها په ذیل کښې وئیلې شوې خبرې معارض دې څکه چه دَامام مجاهد رحمه الله په روایت کښې تیرشو چه کله هغه صاع ناپ کړو نوهغه اته رطل وو. په دې باندې کلام کولوسره حافظ رحمه الله وئیلی وو «أن الحزر لا یعارض به التحدید» چه حزر (ناپ کول) دَ تحدید معارض نه

---

[۱] هدی الساری:۲۵/۱ عمدة القاری:۲۹٤/۳.
[۲] عمدة القاری:۲۹٤/۳.
[۳] عمدة القاری:۲۹٤/۳ فتح الباری:٤۸۲/۲ إرشاد الساری:٤۹۱/۱.
[٤] فتح الباری:٤۸۲/۲.

شي جوړيدې. لكه چه حافظ رحمه الله په باب سابق كښې تحديد صحيح او راجح ګرځولې وو. اوس «والمراد من الروايتين الخ» نه تقريب مراد اخستل د سابقه خبرې منافي او مناقض ده.[1]

د امام بخاري رحمه الله غرض خوتعليق سره د روايت الفاظوكښې فرق بيانول دى ګنى ځنګه چه د باب په رومبى روايت سره د تقريب معنى په واضحه توګه په پوهه كښې راځي هم دغه شان په مذكوره تعليق كښې «قدرصاع» الفاظ د تحديد واضحت كوى. د حافظ ابن حجر رحمه الله دا وينا چه دواړو روايتونو نه تقريب مراد دې نه چه تحديد، دا صحيح نه دى. حافظ صاحب په سابقه باب كښې صرف په حنفيه باندې د ردكولود پاره د تحديد قول صحيح ګرځولې او اوس دلته په دواړو روايتونوسره تقريب مراد اخلى حالانكه په تعليق سره تقريب نه بلكه تحديد معلوميږى.

الحديث الثاني

۲۵۲- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، قَالَ: حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ، أَنَّهُ كَانَ عِنْدَ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ هُوَ وَأَبُوهُ وَعِنْدَهُ قَوْمٌ فَسَأَلُوهُ عَنِ الغُسْلِ، فَقَالَ: «يَكْفِيكَ صَاعٌ»، فَقَالَ رَجُلٌ: مَا يَكْفِينِي، فَقَالَ جَابِرٌ: «كَانَ يَكْفِي مَنْ هُوَ أَوْفَى مِنْكَ شَعَرًا، وَخَيْرٌ مِنْكَ» ثُمَّ أَمَّنَا فِي ثَوْبٍ [حديث باب ۲۴۹، ۲۵۲، ۲۵۳][2]

ترجمه: مونږ ته بيان اوكړو عبدالله بن محمد اووئيل مونږ ته يحيى بن آدم، اووئيل مونږ ته زهير د ابواسحاق نه هغه (ابواسحاق) وائي چه مونږ ته ابوجعفر (محمدباقر) بيان اوكړو چه هغه او د هغه پلار (زين العابدين) حضرت جابر رضي الله عنه سره وو اوهغوى سره څه خلق هم ناست وو. هغوى د حضرت جابر رضي الله عنه نه د غسل باره كښې تپوس اوكړو نوهغوى اووئيل ستاسود پاره يوصاع اوبه كافي دى يوسړى (حسن بن محمدبن علي) اووئيل ماله خوكافى نه دى. حضرت جابر رضي الله عنه اوفرمائيل (دا مقدار اوبه) خوبه د هغوى د پاره كافي كيدلې د چا ويښته چه ستانه زيات ګڼړ وو او څوك چه ستا نه بهتر وو (يعنى حضورپاك) بيا حضرت جابر رضي الله عنه هم په يوه كپړه كښې زمونږ امامت اوكړو.

تراجم رجال

عبدالله بن محمد: دا ابوجعفرعبدالله بن محمدبن عبدالله بن جعفر بن اليمان بن اخنس بن خنيس جعفي، بخاري، مسندي دې. د ده مختصر احوال كتاب الايمان باب امور الايمان لاندې [3] او تفصيلى حالات كتاب الغسل باب الغسل بالصاع ونحوه د رومبې حديث په ذيل كښې تيرشوى دى. [4]

---

[1] عمدة القاري:۳/۲۹٤.

[2] احديث أخرجه البخاري في الباب نفسه رقم: ۲۵۶-۲۵۵ومسلم في صحيحه في كتاب الحيض، باب استحباب إفاضة الماء على الرأس وغيره ثلاثاً رقم:۳۲۹والنسائي في سننه، كتاب الغسل باب ذكر القدر الذي يكتفي به الرجل من الماء للغسل رقم:۲۲۱ انظر جامع الأصول:۱۸۳/۷ رقم:۵۳۲۹ وانظر كذلك تحفة الأشراف رقم:۲٦٤۱.

[3] كشف الباري:۱/۶۵۷

[4] راجع ص:۲٤۱.

يحيى بن ادم: دا ابوزکریا یحیی بن آدم بن سلیمان کوفی اموی قرشی رحمه الله دې.[۱] طبقه تاسعه په کبار ائمه کښې دَدوی شمیر کیږي.[۲] علامه ذهبی رحمه الله لیکلی دی چه دَ ۲۴۰هجری نه پس هغه پیداشوي خپل پلار ئې نه دې لیدلې لکه چه دې کوم وخت دَخپلې سور په خیټه کښې وو نوهغه وخت دَده دَپلار انتقال شوې وو.[۳]

اساتذه او شیوخ: دَ یحیی بن آدم رحمه الله استاذان او شیوخ کښې ابراهیم بن حمید رواسی، ابراهیم بن سعد زهری، اسرائیل بن یونس، بشر بن سری، جریر بن حازم، حسن بن صالح، حسین علی جعفی، حفص بن غیاث، زهیر بن معاویه، سفیان ثوری، سفیان بن عیینه، سلیمان بن مغیره، ابوالاحوص سلام بن سُلیم، عبدالله بن مبارك، عمار بن زریق، عیسی بن طهمان، فضیل بن عیاض، فطرابن خلیفه، قطبه بن عبدالعزیز، مالك بن مغول، مسعر بن کدام، مفضل بن مُهَلهَل، ابوعوانه الوضاح بن عبدالله، وکیع بن الجراح، وهب بن خالد، یحیی بن زکریا بن ابی زائده، یزید بن عبدالعزیز، ابوبکر بن عیاش، ابوبکر نهشلی، ابوشهاب حناط او ابومعاویه ضریر رحمهم الله وغیره شامل دی.[۴]

تلامذه: دَدوی نه روایت کونکوکښې امام احمدبن حنبل، اسحاق بن راهویه، بشربن خالد عسکری، سفیان بن وکیع بن جراح، ابوبکرعبدالله بن محمد بن ابی شیبه، عبدالله بن محمدمسندی، عبدالرحمن بن صالح ازدی، عبد بن حمید، عثمان بن محمد ابن ابی شیبه، علی بن محمد طنافسی، علی بن مدینی، محمدبن عبدالله بن مبارك، محمدبن العلاء، محمود بن غیلان مروزی، یحیی بن معین وغیره رحمهم الله دی.[۵]

جلالت شان: محمود بن غیلان رحمه الله وائي ما دَ ابواسامه رحمه الله نه واورېده چه سیدنا حضرت عمر رضي الله عنه په خپله زمانه کښې په هراعتبارسره دَ خلقو مشر اوامیر وو. دَهغوی نه پس (دَعلم په اعتبارسره) ابن عباس رضي الله عنهما دَهغوی نه پس شعبی رحمه الله دَهغوی نه پس سفیان ثوری رحمه الله او بیا یحیی بن آدم مشروو.[۶]

علامه ذهبی رحمه الله په سیراعلام النبلاء کښې په مذکوره قول باندې دَ ډیرو نورو کبار ائمه دَ نومونو اضافه کړې ده. دَ یحیی بن آدم رحمه الله باره کښې فرمائي چه هغه دَ لوئي ائمه اجتهاد نه وو.[۷] علی بن مدینی رحمه الله فرمائي الله تعالی دې په یحیی بن آدم رحمه الله باندې رحم اوکړی هغه سره بنه بنکلې علم وو بیائي دَهغه مدح او تعریف بیان کړو.[۸] ابواسامه رحمه الله وائي ((أنه كان جامعاً للعلم))[۱]

---

[۱] تهذيب التهذيب:۱۷۵/۱۱تهذيب الكمال:۱۸۸/۳۱ الجرح والتعديل:۱۸۵/۹كتاب الثقات لابن حبان: ۲۵۲/۹الفهرست لابن النديم ص:۲۸۳ سير أعلام النبلاء:۵۲۲/۹ تذكرة الحفاظ:۳۵۹/۱ الكاشف:۳۶۰/۲تقريب التهذيب ص۵۸۷ تاريخ الإسلام:۳۸۸/۵.

[۲] تقريب التهذيب ص۵۸۷ رقم الترجمة:۷۴۹۶.

[۳] سير أعلام النبلاء:۵۲۲/۹ رقم الترجمة:۳۰٤.

[٤] تهذيب الكمال:۱۸۹-۱۹۰/ الجرح والتعديل:۱۸۵/۹تهذيب التهذيب: ۱۷۵/۱۱ سير أعلام النبلاء:۵۲۳/۹ تاريخ الإسلام:۳۸۸/۵.

[۵] تهذيب الكمال:۱۹۰-۱۹۱/۳۱ سير أعلام النبلاء:۵۲۳/۹ تهذيب التهذيب:۱۷۵/۱۱.

[٦] تهذيب الكمال:۱۹۲/۳۱.

[۷] سير أعلام النبلاء: ۵۲۵/۹.

[۸] تهذيب الكمال:۱۹۱/۳۱ سير أعلام النبلاء:۵۲٤/۹ تاريخ الإسلام:٤۸۸/۵.

دَ ائمه حضراتو توثیقی اقوال: یعقوب بن شیبه رحمه الله وائی «ثقة كثير الحديث فقيه البدن ولم يكن له سن متقدم» (۱)علامه ذهبی رحمه الله تاریخ اسلام کښې لیکلی دی «كان فقيهاً إماماً قارئاً، غزير العلم» (۲) امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی «واحد الناس» (۳)ابوحاتم رحمه الله اوفرمائیل «كان يتفقه وهو: ثقة» (۴) یحیی بن معین رحمه الله امام نسائی رحمه الله وغیره دَهغه توثیق کړې دې. (۵)ابن حبان رحمه الله کتاب الثقات کښې دَ دوی تذکره کړې ده هغه فرمائی «كان متقناً يتفقه» (۶) ابن سعد رحمه الله فرمائی «كان ثقة» (۷)عجلی رحمه الله وائی «كان ثقة جامعاً للعلم، عاقلاً، ثبتاً في الحديث» (۸)حافظ ابن حجر رحمه الله تقریب کښې لیکلی دی «ثقة حافظ فاضل» (۹)ابن شاهین دَ یحیی بن ابی شیبه رحمه الله نه نقل کړی دی هغه فرمائی «ثقة صدوق، ثبت حجة مالم يخالف من هو فوقه مثل وكيع» (۱۰)

وفات: محمدبن سعد رحمه الله امام بخاری رحمه الله اوابوحاتم رحمه الله فرمائی چه یحیی بن آدم رحمه الله وفات ۲۰۳هجری کښې شوې دې(۱۱)ابن سعد رحمه الله لیکلی دی چه صلح (۱۲)په سر باندې نصف ربیع الاول (۱۴)۲۰۳هجری مامون په زمانه کښې هغه وفات شوې(۱۵)دَمامون وزیر حسن بن سهل دَهغه جنازه کړې وه.(۱۶)

زهیر: دا ابوخیثمه زهیر بن معاویه بن حدیج بن الرحیل بن زهیر بن خیثمه جعفی کوفی دې. دَ دوی تفصیلی حالات کتاب الایمان باب الصلاة من الایمان رومبې حدیث لاندې تیرشوی دی. (۱۷)

ابواسحاق: دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبیدسبیعی کوفی دې. دَ دوی تفصیلی حالات کتاب الایمان باب الصلاة من الایمان رومبې حدیث لاندې تیرشوی دی. (۱)

---

(۱) تهذیب ا لکمال:۱۹۲/۳۱ سیرأعلام النبلاء:۵۲۴/۹ تاریخ الإسلام:۴۸۸/۵.
(۲) تهذیب ا لکمال:۱۹۱/۳۱ سیرأعلام النبلاء:۵۲۴/۹ تاریخ الإسلام:۴۸۸/۵ تهذیب التهذیب:۱۷۵/۱۱.
(۳) تاریخ اسلام:۴۸۸/۵.
(۴) تهذیب ا لکمال:۱۹۱/۳۱ سیرأعلام النبلاء:۵۲۴/۹ تهذیب التهذیب:۱۷۵/۱۱ تذکرة الحفاظ:۳۶۰/۱.
(۵) الجرح والتعدیل:۱۵۸/۹تهذیب التهذیب:۱۷۵/۱۱ سیرأعلام النبلاء:۵۲۴/۹.
(۶) تهذیب ا لکمال:۱۹۱/۳۱ سیرأعلام النبلاء:۵۲۳/۹ تهذیب التهذیب:۱۷۵/۱۱ تذکرة الحفاظ:۳۶۰/۱.
(۷) کتاب الثقات:۲۵۲/۹ تهذیب التهذیب:۱۷۵/۱۱.
(۸) الطبقات الکبری:۴۰۲/۶.
(۹) تهذیب التهذیب:۱۷۵/۱۱.
(۱۰) تهذیب التهذیب:۱۷۶/۱۱.
(۱۱) تهذیب التهذیب:۱۷۶/۱۱ تعلیقات تهذیب الکمال:۱۹۲/۳۱..
(۱۲) الطبقات الکبری:۴۰۲/۶ الجرح والتعدیل:۱۵۹/۹-۱۵۸التاریخ الکبیر:۲۶۲/۸.
(۱۳) الصلح: هواسم نهر كبير بين واسط وجبل عليه عدة قرى، وعليه كانت دار الحسن بن سهل وزير المامون. انظر سیرأعلام النبلاء مع تحقيق كامل الخراط:۴۹۲/۹.
(۱۴) ابن حبان ربيع الآخر نقل كړې دې كتاب الثقات:۲۵۲/۹.
(۱۵) الطبقات الکبری:۴۰۲/۶.
(۱۶) تهذیب الکمال:۱۹۲/۳۱تاریخ اسلام:۴۸۸/۵.
(۱۷) کشف الباری:۳۷۰/۲-۳۶۷.

ابوجعفر: دا ابوجعفر محمدبن علي بن الحسين بن علي بن ابی طالب دي چه د باقر په نوم سره مشهوردي.(۲) د دوی حالات كتاب الوضوء باب من لم یر الوضوء الامن المخرجين لاندې تیرشوی دی.

ابوه (علي بن الحسين): داد ابوجعفر پلار علی بن الحسين بن علی بن ابی طالب علوی قرشی هاشمی دي.(۳) ابوالحسن د دوی کنیت دي. ابوالحسن، ابومحمد او ابوعبدالله هم ورته وئیلی شی.(۴) د ده د مور نوم سَلامه یا سُلافه دي چه د شاه فارس یَزدَجزد لور وه.(۵) ابن سعد رحمه الله د تابعين په طبقه ثانيه کښې د دوی تذکره کولوسره ليکلی دی چه د ده د مور نوم غزاله وو.(۶)

علامه مزی رحمه الله د يعقوب بن سفيان نه اوعلامه ذهبی رحمه الله تاريخ اسلام کښې نقل کړی دی چه علی بن حسين رضي الله عنه ۳۳هجری کښې پيداشوې.(۷) خو سيرأعلام النبلاء کښې علامه ذهبی ليکلی دی چه کيدې شی د دوی پيدائش ۳۸هجری کښې شوې دې.(۸)

په معرکه دکربلاکښې شرکت: ده ته علی اصغيروئيلې شی. د ده نور رونړه چه د ده نه لوئی وو هغوی ته به علی اکبروئيلې شو. معرکه دکربلا کښې خپل پلار حضرت امام حسين رضي الله عنه سره دې شهيدکړې شوې وو.(۹)

علی اصغر يعنی علی بن حسين هم خپل پلار حضرت امام حسين رضي الله عنه سره د کربلا په معرکه کښې شريك وو. هغه وخت د ده عمر ۲۳ يا ۲۵کاله وو. دې په هغه موقعه باندې بيمار وو او په کټ پروت وو. کوم وخت چه حضرت امام حسين رضي الله عنه شهيدکړې شو نوشمر اووئيل دې هم قتل کړئی. د شمير ملګروکښې چا اووئيل سبحان الله آيا ته داسې ځوان قتل کول غواړې چه بيماردې او هغه زمونږ خلاف جنګ هم نه دې کړې. په دې کښې عمر بن سعد بن ابی وقاص راغلو اوهغه اووئيل چه دې ښځو اودې بيمار يعنی علی اصغر سره هيڅ غرض اونه کړئی. دې دهغه ځائی نه دمشق ته راوړلې شو. يزيدد ده اکرام اوکړو اودهغوی دکور والوسره ئی واپس مدينې ته اوليګلو.(۱۰)

شيوخ حديث: دهغه په شيوخ حديث کښې دهغه پلار حضرت امام حسين رضي الله عنه دهغه تره حضرت امام حسن رضي الله عنه ام المؤمنين حضرت صفيه رضي الله عنها، ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضي الله عنها، حضرت ابوهريره رضي الله عنه، ابن عباس رضي الله عنهما، ابورافع، مسور بن مخرمه، زينب بنت ابی سلمه،

---

(۱) کشف الباري:۲/ ۳۷۰-۳۷۵.

(۲) عمدة القاري: ۳/ ۷۷،۲۹۵.

(۳) تهذيب الکمال:۲۰/ ۳۸۲ سيرأعلام النبلاء:٤/ ۳۸۶حلية الأولياء:۳/ ۱۳۳تذکرة الحفاظ:۱/ ۷٤تهذيب التهذيب:۷/ ۳۰٤کتاب الثقات:۵/ ۱۵۹ الجرح والتعديل:۶/ ۲۲۹التاريخ الکبير:۶/ ۲۶۶تاريخ الإسلام:۳/ ۱۸۰الکاشف:۲/ ۳۷.

(٤) تهذيب الکمال:۲۰/ ۳۸۲ سيرأعلام النبلاء:٤/ ۳۸۶ تهذيب التهذيب:۷/ ۳۰٤ تاريخ الإسلام:۳/ ۱۸۰.

(۵) سيرأعلام النبلاء:٤/ ۳۸۶تهذيب الکمال:۲۰/ ۳۸۳.

(۶) الطبقات الکبری:۵/ ۲۱۱تاريخ الإسلام:۳/ ۱۸۱.

(۷) تاريخ اسلام:۳/ ۱۸۱ تهذيب الکمال:۲/ ٤۰۲.

(۸) سيرأعلام النبلاء: ٤/ ۳۸۶.

(۹) تاريخ اسلام:۳/ ۱۸۱الطبقات الکبری:۵/ ۲۱۱.

(۱۰) الطبقات الکبری:۵/ ۲۱۲-۲۱۱ تاريخ الاسلام:۳/ ۱۸۱سيرأعلام النبلاء: ٤/ ۳۸۷-۳۸۶.

سعيد بن مسيب، سعيدبن مرجانه، مروان بن حكم، ذكوان ب، عمرو بن عثمان بن عفان ، عبيد الله بن ابى رافع رحمهم الله وغيره شامل دي. دَحضرت على رضي الله عنه نه مرسل روايت كوى.[1]

تلامذه: دَ دوى نه روايت كونكوكښي دَهغوى خوئي ابوجعفر محمد، عمر، زيد، عبدالله ابن شهاب زهرى، عمرو بن دينار، حكم بن عتيبه، زيد بن اسلم، يحيى بن سعيد، ابوالزناد، على بن جدعان، جيب بن ابى ثابت، عاصم بن عبيدالله، عاصم بن عمر بن قتاده بن نعمان، قعقاع بن حكيم، ابوالاسود، هشام بن عروه، ابوزبيرمكى، ابوحازم، عبدالله بن مسلم بن هرمز، محمدبن فرات تميمى، منهال بن عمرو، حكيم بن جبير، زيدبن اسلم، طاوس بن كيسان، عاصم بن عبيدالله بن عاصم بن عمر بن الخطاب، عبيدالله بن عبدالرحمن، قاسم بن عوف شيبانى، محمدبن هلال مدنى، مسلم البطين، يحيى بن سعيد انصارى او ابوحمزه ثمالي وغيره شامل دى.[2]

جلالت شان او دَ ائمه توثيقى اقوال: سفيان بن عيينه رحمه الله دَ زهرى رحمه الله نه نقل كړى دى هغه فرمائى «ما رأيت قرشيا أفضل من على بن حسين»[3] مادَعلى بن حسين رحمه الله نه افضل يوقريشى نه دې ليدلې. ابن سعد رحمه الله طبقات كښې ليكلى دى «كان على بن حسين ثقة، مأموناً، كثير الحديث، عالياً، رفيعاً ورعاً»[4] ابن عيينه رحمه الله دَ زهرى رحمه الله نه نقل كړى دى چه زه به اكثردَ على بن حسين رحمه الله په مجلس كښې كيناستم دَهغه نه لوئى هيڅوك ما فقيه نه دې ليدلې ليكن هغه به ډيرې كمې خبرې كولې.[5] امام مالك رحمه الله فرمائى «لم يكن فى أهل البيت مثله وهو ابن أمة»[6] دَعلى بن حسن رحمه الله په شان په اهل بيت كښې بل څوك نشته حالانكه هغه دَ يوې وينځې خوئى وو. ابن حبان په كتاب الثقات كښې دَهغه تذكره كړې ده. فرمائى «كان من أفاضل بنى هاشم من فقهاء أهل المدينة وعبادهم..... وكان يقال بالمدينة: إن على بن الحسين سيد العابدين فى ذلك الزمان»[7] يعنى على بن حسين رحمه الله دَ بنوهاشم دَ بهترين خلقو نه او دَ اهل مدينه دَ فقهاؤ اوعابدين نه وو. په هغه زمانه كښې په مدينه كښې هغه ته سيدالعابدين يعنى دَ عابدانو سردار وئيلې كيدلو. سعيد بن مسيب رحمه الله فرمائى «ما رأيت أورع منه»[8] امام عجلى رحمه الله فرمائى «مدنى، تابعى، ثقة»[9]

---

[1] تهذيب الكمال ٣٨٣/٢ سير أعلام النبلاء: ٣٨٧/٤ تهذيب التهذيب: ٣٠٤/٧.

[2] تهذيب الكمال ٣٨٤/٢-٣٨٣ سير أعلام النبلاء: ٣٨٧/٤ تهذيب التهذيب: ٣٠٤/٧.

[3] تهذيب الكمال: ٣٨٤/٢٠ سير أعلام النبلاء: ٣٨٧/٤.

[4] الطبقات الكبرى: ٢٢٢/٥ تهذيب الكمال: ٣٨٤/٢٠.

[5] تهذيب الكمال: ٣٨٦/٢٠ سير أعلام النبلاء: ٣٨٩/٤.

[6] سير أعلام النبلاء: ٣٨٩/٤ تهذيب الكمال: ٣٨٧/٢٠ تهذيب التهذيب: ٣٠٥/٧.

[7] كتاب الثقات: ١٦٠/٥-١٥٩.

[8] حلية الأولياء: ١٤١/٣ تهذيب التهذيب: ٣٠٥/٧ تهذيب الكمال: ٣٨٩/٢٠.

[9] تهذيب التهذيب: ٣٠٥/٧ تهذيب الكمال: ٣٨٨/٢٠ سير أعلام النبلاء: ٣٨٦/٤.

دَ عبادت كونكوزينت: امام مالك رحمه الله فرمائي ماته دا خبره رسيدلې ده چه دَعلي بن حسين رحمه الله ترمرګه پورې هره ورځ زر ركعته نفل كولومعمول وو. «وكان يسمى زين العابدين لعبادته» هغه ته دَ كثرت عبادت دَ وجې نه زين العابدين وئيلې كيدلو.(۱)

امام زهري رحمه الله چه به كله هم دَ علي بن حسين رحمه الله تذكره كوله نو ژړل به ئې او فرمائيل ئې زين العابدين يعني هغه دَ عبادت كونكو زينت وو(۲) ابونعيم رحمه الله فرمائي «زين العابدين، منار القانتين، كان عابداً وفياً وجواداً حفياً» (۳) يعني هغه دَ عبادت كونكو زينت، دَ قانتين علامت، دَعبادت حق اداكونكې او ډيرزيات سخي او مشفق وو.

دَ الله تعالى نه ويره: حضرت علي بن حسين رحمه الله چه به كله دَ مانځه دَ پاره اودس كولو نو دَ مانځه پورې به په هغه باندې يو رنګ جاري وو. چادَې باره كښې پوښتنه اوكړه نووئې فرمائيل تاسو ته نه ده معلومه چه زه دَ چا په وړاندې اودريدو ته روان يم اوچاسره مناجات كونكې يم(يعني الله تعالى ته).(۴)

سخاوت: زين العابدين رحمه الله چه يوطرف ته دَ اوچتې درجې عبادت كونكې وو نويل طرف ته ډير زيات سخي هم وو. چنانچه حجاج بن ارطاة دَ ابوجعفر رحمه الله نه نقل كړې دى هغه فرمائي چه زما پلار علي بن حسين رحمه الله دوه ځل خپل ټول مال دَ الله تعالى په لار كښې وركړې وو. (۵)

ابوحمزه ثمالي رحمه الله وائي علي بن حسين رحمه الله به دَ شپې په تياره كښې په شا باندې ډوډئ راباركولې اومسكينان به ئې لټول اوفرمائيل به ئې چه دَ شپې په تياره كښې صدقه كول دَالله تعالى غصه يخوي.(۶)

شيبه بن نعامه وائي چه علي بن حسين رحمه الله به خلقو په ژوند كښې بخيل خيال كولو خوچه كله دَهغوى انتقال اوشو نو پته اولګيدله چه ده به دَ مدينې دَ سلو كورونو كفالت كولو.(۷)

جلالت شان اوهيبت: خلقوبه دَهغوى ډيرزيات قدر اوعزت كولو. ابونعيم رحمه الله علامه مزي رحمه الله او علامه ذهبي رحمه الله يوه مشهوره واقعه بيان كړې ده: هشام بن عبدالملك دَخپل خلافت دَ زمانې نه وړاندې يوځل حج له لاړو. دَ بيت الله شريف دَ طواف دوران كښې ئې څوځل دَ حجر اسود دَ ښكلولو اراده اوكړه ليكن دَ خلقو دَ رش دَ وجې نه ئې داسې اونه كړې شو. په دې كښې علي بن حسين رحمه الله دَ طواف دَپاره تشريف راوړو او طواف ئې كولو. چه كله حجر اسود ته رانيزدې شو نوخلق دَهغه دَ جلالت شان اوهيبت دَ وجې نه روستو شو ترڅو چه هغوى حجراسود ښكل كړو. هشام ته دا خبره ښه ښكاره نه شوه. په اهل شام كښې چادَ هغه نه تپوس اوكړو داڅوك دې دَ چا هيبت نه چه خلق پخپله دَ هغه دَ پاره

---

(۱) تهذيب الكمال: ۳۹۰/۲۰ تهذيب التهذيب: ۳۰۶/۷ سير أعلام النبلاء: ۳۹۲/۴.

(۲) حلية الأولياء: ۱۳۵/۳.

(۳) حلية الأولياء: ۱۳۳/۳.

(۴) الطبقات الكبرى: ۲۱۶/۵ تهذيب الكمال: ۳۹۰/۲ سير أعلام النبلاء: ۳۹۲/۴.

(۵) حلية الاولياء: ۱۴۰/۳ الطبقات الكبرى: ۲۱۹/۵ تهذيب التهذيب: ۳۰۶/۷.

(۶) حلية الاولياء: ۱۳۶/۳-۱۳۵ تهذيب الكمال: ۳۹۲/۲۰ سير أعلام النبلاء: ۳۹۳/۴.

(۷) الطبقات الكبرى: ۲۲۲/۵ حلية الأولياء: ۱۳۹/۳ تاريخ الإسلام: ۱۸۴/۳-۱۸۳.

خاني خالي كولو باندې مجبور كړل؟ هشام په دې سوچ سره چه هسې نه اهل شام دَهغه طرف ته راغب نه شي وني ونيل زه ني نه پيژنم چه دا څوك دې. مشهور شاعر فرزدق نيژدې ولاړو هغه اوونيل چه زه دې پيژنم نوشامي اوونيل چه اې ابوفراس دا څوك دې؟ په دې باندې فرزدق دَ علي بن حسين رحمه الله په تعريف كښې ډير شعرونه اوونيل په هغې كښې يوځو دادي:

هذا الذي تعرف البطحاء وطأته والبيت يعرفه والحل والحرم
هذا ابن فاطمة إن كنت جاهله بجده أنبياء الله قد ختموا

ترجمه:① دا هغه سړي دې دَ چا په تګ سره چه بطحا پيژنی بيت الله، حل او حرم هم دې پيژنی.

ترجمه:② دادَ فاطمه رضي الله عنها خوئی (نمسی) دې سره دَدې چه ته دَ ده باره كښې دَ تجاهل نه كار اخلې هم دَ ده دَ نيكه محمد صلى الله عليه وسلم په ذريعه دَ انبياء كرامو سلسله ختمه كړې شوې ده. يعنی دا داسې سړې دې څوك چه دَ بيت الله هره حصه پيژنی اګرچه ته دَده دَ پيژنګلونه انكار كوې.

دَ روافض دَځان نه جوړو شوو نظرياتونه براءت: روافض دَ هغهٔ ائمه هدیٰ طرف ته ډيرياتې غلطې اواسلامی نظريات سره متصادم خبرې منسوب كړی دی. هغوی دَ انبياء عليهم السلام په شان معصوم، مفترض الطاعه او منصوص من الله ګنړي. العياذبالله. حالانكه دَدغه حضراتو نه خونه عملاً اونه علمی اعتبارسره داسې څه خبره نقل ده البته دَدې مخالف اقوال ضرور روايت دی.

چنانچه فضيل بن مرزوق وائی چه ما دَ عمربن علی رحمه الله او حسين بن علي رحمه الله نه سوال اوكړو چه آيا دَاهل بيت نه څوك سړي داسې هم شته دَ چا اطاعت چه فرض ګرځولې شوې وی. اوآيا تاسو دَدې پيژندګلو لرنی اوڅوك چه دَدې معرفت نه لری ولې هغه به دَ جاهليت په مرګ مری؟ نودې دواړو اوفرمائيل په الله تعالی باندې قسم په اهل بيت كښې داسې هيڅوك سړې نشته دې چه مفترض الطاعة وی اوچه دَاهل بيت باره كښې داسې خبره اوكړی هغه كذاب (دروغژن) دی.

فضيل بن مرزوق وائی چه ماعمربن علی رحمه الله ته اوونيل چه شيعه ګان داعقيده لری چه حضورپاك دَ ځان نه پس دَ حضرت علی رضي الله عنه دَپاره وصيت كړې وو هغوی دَ حسن رضي الله عنه دَپاره اوحسن رضي الله عنه دَ حسين رضي الله عنه دَپاره اوحسين رضي الله عنه دَخپل خوئی علی دَپاره او هغه دَخپل خوئی محمد دَپاره وصيت كړې وو. عمربن علی رحمه الله په جواب كښې اوفرمائيل په الله تعالی باندې قسم چه زما پلار په داسې حال كښې وفات شوې چه هغه دَ دوو حرفونوهم وصيت نه دې كړې. دغه خلقوباندې څه شوی دی چه مونږ پورې دروغ تړی الله تعالی دې دوی هلاك كړی. په الله پاك قسم دا خلق دَاهل بيت په نوم باندې خپلې خيټې ډكوی بيائې اوفرمائيل چه دا خنس دَ مارغانوګندګی ده او تاسو ته معلومه ده چه خنس څوك دې راوی اوونيل ماونيل چه معلی بن خنس ونی فرمائيل او معلی بن خنس. بيائې اوونيل ما ترډيره وخته پورې سوچ كولو اوزه حيران شوم چه دَ دغه خلقو په عقلونوباندې الله تعالی پرده اچولې ده ترڅو چه معلی بن خنس هغوی ګمراه كړل.[1] عيسی بن دينار دَ ابوجعفر محمدبن علی بن حسين نه نقل كړی چه علی بن حسين دَ كعبه په دروازه كښې اودريدو او په مختاربن ابوعبيدباندې لعن كولو. چا اوونيل اې ابوالحسين تاسو په هغوی باندې ولې لعنت كوئی؟ حالانكه هغه ستاسو په نوم باندې ذبح

[1] تهذيب الكمال: ۲۰/۳۹۶-۳۹۵.

كړې شوې دي. علي بن حسين رحمه الله اوفرمائيل بيشكه هغه دروغژن وو په الله تعالى اودَ هغه په رسول ﷺ پورې به ئې دروغ ترل.(۱)

دَ بنواميه په اقتدا كښې مونځ: حكم دَ ابوجعفر نه نقل كړى دى هغه فرمائى چه مونږ به دَ بنواميه په اقتدا كښې بغيردَ څه تقيه مونځ كولو اوزه دَخپل پلار باره كښې ګواهى وركوم چه هغه هم دَ بنواميه په اقتدا كښې بغيردَ څه تقيه مونځ كولو.(۲)

دَخلفاء راشدين رضي الله عنهم احترام: دَاهل بيت دا پاكباز نفوس حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم خاص كر خلفاء راشدين باره كښې ئې نه يوازې دَ اهل سنت والجماعت والانظريه لرله بلكه دَهغوى دفاع كونكې هم ښكاريدل.

ابوحازم رحمه الله وائى چه دَعلي بن حسين رحمه الله نه چاتپوس اوكړو چه دَحضرت ابوبكر اوعمر رضي الله عنهما دَ حضورپاك په نيز څه مقام وو؟ هغه دَحضورپاك روضه مباركې ته اشاره كولوسره اوفرمائيل لكه څنګه چه دوى دواړه نن دَحضورپاك په روضه مباركه كښې رسول الله ﷺ سره دى هم دغه شان په ژوند كښې دَحضورپاك نيزدې ملګرى او صحابه وو. (۳)

دَخلفاء راشدين اوصحابه رضي الله عنهم دفاع: محمدبن علي بن حسين رحمه الله دَخپل پلار نه نقل كړې دي هغوى له دَعراق نه څه خلق راغله اوهغوى دَحضرت ابوبكر اوعمر رضي الله عنهما تذكره اوكړه اوهغوى سب اوشتم اوكړو. بيانى دَ حضرت عثمان رضي الله عنه په شان كښې ګستاخى اوكړه نوحضرت علي بن حسين رحمه الله اوفرمائيل ماهغوى ته اووئيل آيا تاسو دَاولين مهاجرينونه ئى دَچاباره كښې چه الله تعالى دا ارشاد فرمائيلې ﴿لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ﴾ (۴)

هغوى اووئيل چه مونږ دَهغه خلقونه نه يودَچاباره كښې چه الله تعالى ارشادفرمائيلې دي. بيا حضرت علي بن حسين رحمه الله هغوى ته اووئيل چه آيا تاسو دَهغه خلقو نه يئې دَچاباره كښې چه الله تعالى دا ارشاد فرمائيلې ﴿وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ؕ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ (۵)

---

(۱) الطبقات الكبرى:۲۱۳/۵ تهذيب الكمال:۳۹۶/۲۰ سيرأعلام النبلاء:۳۹۷/٤.

(۲) الطبقات الكبرى:۲۱۷/۵ سيرأعلام النبلاء:۳۹۷/٤.

(۳) تهذيب الكمال:۳۹۳/۲۰ سيرأعلام النبلاء:۳۹۵/٤.

(۴) سورت الحشر الايه:۸. ترجمه: (داما ل فئ) دَهغه حاجت مندو مهاجرينو حق دې څوك چه دَ خپلو كورونو اومالونونه ويستلې شوى دي. هغوى دَ الله تعالى دَ طرف نه دَ فضل او خوشحالئى غوښتونكې دى اودَ الله تعالى اودهغه دَ رسول ﷺ امدادكوى هم دغه خلق صادقان دى.

(۵) سورت الحشر الايه:۹. ترجمه: اودهغه خلقودپاره دى چه اول دې ځائې (يعنى مدينه كښې) ايمان سره مقيم دى (يعنى انصاردمدينې) څوك چه دوى له هجرت كولوسره راځې دوى هغوى سره محبت كوى اوڅه چه دغه مهاجرينوته وركولې شى دوى په خپلو سينو كښې دهغې هيڅ خواهش هم نه محسوس كوى اودوى له په خپل ځان باندې ترجيح وركوى. كه په دوى باندې دَ تنګدستياحالت تيريږى اوكوم خلق چه دَخپل طبيعت دَ بخل نه محفوظ پاتې شى هم دغه هغه خلق دى چه فلاح اوخلاصې بيامونډونكې دى.

هغوی اوونیل چه مونږ دَ دغه خلقو نه هم نه یو په دې باندې حضرت زین العابدین رحمه الله اوفرمائیل چه تاسو خلقوپخپله دَدې خبرې اظهاراوکړو چه تاسو په آیاتونوکښې مذکور دواړو فریقونه نه یئی نوزه دَدې خبرې ګواهی ورکوم چه تاسو دَدې دریمې ډلې نه هم نه یئی دَچاباره کښې چه الله تعالی ارشادفرمائیلې دی ﴿ وَالَّذِيْنَ جَآءُوْمِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴾ (۱)

یحیی بن کثیر دَ جعفر بن محمد رحمه الله نه اوهغوی دَخپل پلار نه نقل کړی دی هغه وائی زما پلار ل. یوسړې راغلو اوونی ونیل چه ماته دَابوبکر رضی الله عنه باره کښې اوښایه (چه هغه څنګه سړې وو؟) هغه اوونیل دَصدیق رضی الله عنه باره کښې تپوس کوې؟ هغه سړی اوونیل چه ته هغه ته صدیق وائی؟ امام باقر رحمه الله اوفرمائیل ستامور دې تا ورک کړی ما نه بهتر یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم اومهاجرین اوانصار هغه نه صدیق ونیلې دې نوڅوک چه هغوی ته صدیق نه وائی الله دې دَهغه خبره رښتیانه کړی زه ابوبکر اوعمر رضی الله عنهما سره محبت کوه اوهغوی عزیز ګنړه دَدې ټوله ذمه واری زما په سټ ده.(۲) یحیی بن سعید وائی چه علی بن حسین (زین العابدین) رحمه الله اوفرمائیل ((والله ما قتل عثمان إلا على وجه الحق)) (۳)

وفات: دَ حضرت زین العابدین رحمه الله دَ وفات دَ کال تعیین کښې اختلاف دې. ابونعیم، شباب، ابوبکربن ابی شیبه، علی بن مدینی، قعنب بن محرز او ابن حبان رحمهم الله وغیره ۹۲هجری دَهغوی دَوفات کال ګرځولې دې.(۴) معن بن عیسی رحمه الله فرمائی ۱۹۳هجری کښې انتقال شوې. (۵) یحیی بن بکیر رحمه الله نه دَ ۹۵هجری قول نقل دې. (۶)بعض حضراتو نه دَ ۹۹هجری قول هم مروی دې. (۷)علی بن محمدمدائنی رحمه الله وائی ۱۰۰هجری کښې وفات شوې. (۸)یحیی بن عبدالله هاشمی وائی چه علی بن حسین رحمه الله دَ چارشنبې په ورځ ۱۴ ربیع الاول ۹۴هجری کښې وفات شوې دې.(۹)

واقدی، ابوعبید، امام بخاری، فلاس، علی بن جعفر بن محمد بن علی بن حسین، عبدالحکیم بن عبدالله بن ابی فروه، علی بن عبدالله تمیمی، محمدبن عبدالله بن نمیر، یحیی بن معین، عمروبن علی، مصعب بن عبدالله زبیری، زبیر بن بکار او جعفرصادق رحمهم الله نه هم دَ وفات کال ۹۴هجری

---

(۱)سورت الحشرالایه: ۱۰.ترجمه: اوهغه خلق چه دَدې مهاجرینو اوانصارو نه پس راغله هغوی دا وائی چه ای زمونږ پروردګار زمونږ مغفرت هم اوفرمایه اوزمونږ دَدغه رونړو هم چه زمونږ نه وړاندې نی ایمان راوړلې دې اوزمونږ په زړونو کښې دَایمان راوړونکوډپاره هیڅ بغض مه ساتې ای زمونږ پروردګارته ډیر شفیق ډیر مهربان ئې. نور اوګورئی: سیرأعلام النبلاء: ۳۹۵/٤ تهذیب الکمال: ۳۹٤/٤-۳۹۳.

(۲) تهذیب الکمال: ۳۹۵/۲-۳۹٤ حلیة الأولیاء: ۱۳۷/۳-۱۳٦سیرأعلام النبلاء: ۳۹۵/٤.

(۳) الطبقات الکبری: ۳۱٦/۵سیرأعلام النبلاء: ۳۹۷/٤.

(٤) تهذیب الکمال: ٤۰۳/۲۰سیرأعلام النبلاء: ٤۰۰/٤کتاب الثقات: ۱٦۰/۵.

(۵) تهذیب الکمال: ٤۰۳/۲۰سیرأعلام النبلاء: ٤۰۰/٤تهذیب التهذیب: ۳۰۷/۷تاریخ الإسلام: ۱۸٤/۳.

(٦) تاریخ الإسلام: ۱۸٤/۳تهذیب الکمال: ٤۰٤/۲۰سیرأعلام النبلاء: ٤۰۰/٤.

(۷) تهذیب الکمال: ٤۰٤/۲۰تهذیب التهذیب: ۳۰۷/۷.

(۸) تهذیب الکمال: ٤۰٤/۲۰تهذیب التهذیب: ۳۰۷/۷.

(۹) تاریخ الإسلام ۱۸٤/۳سیرأعلام النبلاء: ٤۰۰/٤.

نقل دي.(۱)سفيان بن عيينه رحمه الله دَ جعفربن محمد نه هغه دَخپل پلار نه نقل کړي دی چه علي بن حسين رحمه الله ۵۸ کالو په عمر کښې وفات شوې. (۲)هم دغه خبره مصعب بن عبدالله يحيى بن بکير او ابوبکر بن البرقي وغيره رحمهم الله نه هم نقل ده.(۳)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي دَدې حضراتو دَ قول مقتضٰى دادې چه دَعلي بن حسين رحمه الله انتقال ۹۴يا ۹۵ هجري کښې شوې خکه چه دا خبره ثابته ده چه ددوی پلار دَعاشورې په ورځ ۶۱هجري کښې شهيدشوې هغه وخت دَهغوی عمر ۲۳کاله وو.(۴)
مصعب وائي چه په دغه کال يعني ۹۴هجري سنة الفقهاء (دَ فقهاء کال) ونيلوشو خکه چه په دغه کال په کثرت سره دَ فقهاؤ انتقال شوې وو.(۵) علامه ذهبی رحمه الله تاريخ اسلام او سيرأعلام النبلاء کښې ۹۴هجري قول صحيح گرځولې دې.(۶) جنت البقيع کښې جنازه شوې ده اوهم هلته مدفون دی.(۷) رحمه الله ورحمةً واسعةً.
جابربن عبدالله رضي الله عنه: دا مشهور اوجليل القدر صحابي حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه دې. دَدوی تذکره کتاب الوضوء باب من لم ير الوضوء إلا من المخرجين القبل والدبر لاندې راغلې ده.

شرح حديث

قوله:: أنه كان عند جابر عن عبدالله هو وأبوه وعنده قوم فسألوه عن الغسل: ابوجعفر رحمه الله وائي چه هغه اودَهغه پلار (علي بن حسين) حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه سره وواوهغه سره څه خلق هم ناست وو هغوی دَحضرت جابر رضي الله عنه نه دَغسل باره کښې تپوس اوکړو.
قوله:: هو وأبوه: "هو" نه ابوجعفر محمدبن علي او"أبوه" نه علي بن حسين مراد دی.(۸)
قوله:: وعنده قوم: اوحضرت جابر رضي الله عنه سره څه خلق ناست. دَ عنده ضمير حضرت جابر رضي الله عنه طرف ته راگرځي.(۹)
دَقوم نه کوم خلق مراددي؟: دَ قوم نه څه خلق مراددی هيڅ تعيين اوتخصيص نشته دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دَ بخاري په کومونسخوباندې ماته واقفيت حاصل دې. په دې ټولوکښې قوم هم

(۱) سيرأعلام النبلاء:۴۰۰/۴تهذيب الكمال:۲۰/۴۰۴-۴۰۳.
(۲) الطبقات الكبرى:۲۲۱/۵تاريخ الإسلام:۱۸۴/۳تهذيب التهذيب:۳۰۷/۷سيرأعلام النبلاء:۴۰۰/۴التاريخ الكبير:۲۶۶/۵ تهذيب الكمال:۴۰۴/۲۰.
(۳) تهذيب الكمال:۴۰۴/۲۰.
(۴) تهذيب التهذيب:۳۰۷/۷.
(۵) تهذيب الكمال:۴۰۴/۲۰الطبقات الكبرى:۲۲۱/۵.
(۶) تايخ اسلام:۱۸۴/۳ سيرأعلام النبلاء۴۰۰/۴ الكاشف:۳۷/۲.
(۷) الطبقات الكبرى:۲۲۱/۵تهذيب الكمال:۴۰۴/۲۰ سيرأعلام النبلاء: ۴۰۰/۴.
(۸) عمدة القاري:۲۹۵/۳ فتح الباري:۴۸۲/۲.
(۹) فتح الباري: ۴۸۲/۲ تحفة الباري:۲۲۱/۱ إرشادالساري:۴۹۱/۱.

(نکره) دی البته "عمدة الأحکام" کښې "وعنده قومه" الفاظ دی اودَ "عمده" شارحین "قومه" ضمیر دَ حضرت جابر رضی الله عنه طرف ته راګرځوی چه په هیڅ شان سره هم صحیح نه دی. بیا دا چه دَامام مسلم رحمه الله باره کښې که چرې دا تسلیم کړې شی چه هغه هم دَمتفق علیه روایاتو نه تخریج کوی نو بیا دَ بخاری مذکوره روایت په صحیح مسلم کښې نشته دې.(۱) دَحافظ صاحب رحمه الله دَ خبرې تائید دې نه هم کیږی چه مذکوره روایت امام نسائی رحمه الله او په څه قدرې مختلف الفاظو سره امام مسلم رحمه الله هم نقل کړې دی لیکن دَ دې دواړو په روایت کښې هم دَ هغه خلقو دَ حضرت جابر رضی الله عنه دَ قوم نه کیدل نه دی وارد شوی. صحیح خبره هم هغه ده چه دَ بخاری شریف په متداول نسخو کښې دی. یعنی "قوم" (نکره) ده نه چه "قومه".

قوله: فسألوه: دَحضرت جابر رضی الله عنه نه دَسوال تپوس کونکې څوك وو؟ په دې باره کښې دَشراح حدیث آرا مختلف دی.

دَ شیخ الاسلام زکریا انصاری رائې: شیخ الاسلام زکریا انصاری رحمه الله لیکلی دی چه سائل راوی حدیث ابوجعفر وو یا خوله بنت جعفر وه.(۲)

دَ جمهور شراح حدیث رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله علامه عینی رحمه الله علامه قسطلانی، علامه سیوطی او علامه کورانی رحمهم الله راوی حدیث ابوجعفر سائل کیدو تعیین کړې دې. البته علامه کورانی دَدې تعیین دلیل کښې دَ نسائی شریف روایت پیش کوی په کوم کښې چه ابوجعفر رحمه الله وائی «تمارینا فی الغسل عند جابر بن عبدالله» (۳)

باقی ائمه حافظ ابن حجر رحمه الله علامه عینی رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله وغیره دَ اسحاق بن راهویه رحمه الله نه دَ ابوجعفر سائل کیدلو استدلال کړې دې.(۴) هم دغه صحیح ده. ځکه چه دَاسحاق بن راهویه په روایت کښې دَ راوی دَ طرف نه پخپله صراحت دې چه هغوی سوال کړې. چنانچه اسحاق بن راهویه په خپل مسند کښې جعفر بن محمدنه هغه دَخپل پلار (ابوجعفر) نه نقل کړې دی هغه فرمائی «سألت جابراً عن غسل الجنابة» (۵)زه (یعنی ابوجعفر) دَ حضرت جابر رضی الله عنه نه دَ غسل جنابت باره کښې تپوس اوکړو.

دَفسالوه په ظاهرباندې یواعتراض: فسألوه دَ ظاهرنه معلومیږی چه سوال دَ "قوم" دَ طرف نه وو. هم دَدې احتمال په بنیادباندې علامه کرمانی رحمه الله اعتراض قائمولو سره دا جواب ورکړې دې هغه فرمائی چه که چرې څوك دا اووائی چه سوال کونکې دَ قوم کسان وو یعنی یو کس نه وو.

---

(۱) فتح الباري: ۴۸۲/۲.
(۲) تحفة الباري: ۲۲۱/۱.
(۳) الکوثر الجاري: ۴۱۰/۱.
(۴) فتح الباري: ۴۸۲/۲ عمدة القاري: ۲۹۵/۳ إرشاد الساري: ۴۹۱/۱.
(۵) فتح الباري: ۴۸۲/۲.

نوبیا په جواب کښې "یکفیك" ولې اووئیل یعنی کاف خطاب دَپاره دَ واحد مذکرراوړلو. دَ ظاهر حدیث تقاضا خودا وه چه هغه فرمائیل «یکفی کل واحد منکم صاع» چه په تاسو کښې دَ هریودپاره به یوصاع کافی شی.(۱)

دَعلامه کرمانی رحمه الله جواب: علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دَدې اعتراض جواب دادې چه سائل خو هم یوکس دې البته دَ سوال نسبت دَ قوم طرف ته څکه کړې شوې دې چه هغه هم دَ قوم یوکس دې لکه چه وئیلې شی «النبوة فی قریش» یعنی نبوت په قریشوکښې دې سره ي دَدې چه نبی هم دَهغوی نه یوکس دې. دویم جواب علی سبیل التسلیم دا دې چه تیك دې سوال دَ قوم دَ طرف نه وو خو یکفیك کښې خطاب عام دې چه پوره قوم ته شامل دې لکه دَ الله تعالی قول ﴿وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا۟ رُءُوسِهِمْ﴾(۲) اودَ رسول الله ﷺ دا ارشاد «بشر المشائین فی ظلم اللیالی إلی المساجد بالنور التام»(۳) په خطاب کښې عموم دې نولکه چه مطلب به داشي «یکفی لکل من یصح الخطاب له صاع» یعنی چاته چه هم خطاب صحیح وی هغه له به یوصاع کافی وی.(۴)

دَ حافظ ابن حجر رحمه الله توجیه: حافظ ابن حجر رحمه الله دَدې توجیه په بل انداز سره بیان کړې ده هغه فرمائی چه سائل خو ابوجعفر رحمه الله یعنی یوکس دې اومجازاً دَ سوال نسبت دَ پوره قوم طرف ته کړې شوې دې. څکه چه هغوی هم دَغسل باره کښې معلومات کول غوښتل. هم دغه وجه ده چه حضرت جابر رضي الله عنه جواب په حرف خطاب دَپاره دَ مفرد په ذریعه ورکړو اویکفیك ئې اوفرمائیل. په جواب کښې یوکس مخاطب جوړکړو څکه چه نور خلق صرف تحقیق غسل په طلب او خواهش کښې شریك وو په سوال کښې شریك نه وو.(۵)

قوله: فسألوه عن الغسل فقال: یکفیك صاع: هغوی دَ حضرت جابر رضي الله عنه نه دَ غسل باره کښې پوښتنه اوکړه نوهغوی جواب ورکړو ستاسودپاره به یوصاع اوبه کافی وی.

سوال دَ کوم څیزباره کښې وو؟: دَحضرت جابر رضي الله عنه دَ جواب نه معلومیږی چه سوال دَ کمیت ماء باره کښې وو. علامه کرمانی رحمه الله علامه کورانی رحمه الله اوفرمائیل چه دَ سائل سوال دَ غسل دَاوبو دَ مقدار باره کښې وو.(۶)

قوله: فقال: رجل: مایکفینی: یو سړی اووئیل زما دَپاره (خودامقدار) کافی نه دې. دَ محدث اسماعیلی په روایت کښې منهم اضافه ده یعنی دَ قوم نه چا اووئیل.(۷)

---

(۱) شرح الکرمانی:۱۱۶/۳ عمدة القاری:۲۹۵/۳.

(۲) سورت السجدة:۱۲.

(۳) ترجمه: دَ شپې په تیاره کښې دَ جماتونوطرف ته تلونکو ته دَ پوره نور زیرې ورکړه. والحدیث أخرجه أبوداؤد فی سننه فی کتاب الصلاة باب ماجاء فی فضل العشاء والفجر فی الجماعة رقم:۲۲۳ انظر جامع الأصول رقم:۷۰۹۷.

(۴) شرح الکرمانی:۱۱۶/۳عمدة القاری:۲۹۵/۳.

(۵) فتح الباری:۴۸۳/۲.

(۶) شرح الکرمانی: ۱۱۶/۳عمدة القاری:۲۹۵/۳ الکوثرالجاری:۴۱۰/۱.

(۷) فتح الباری:۴۸۳/۲عمدة القاری:۲۹۵/۳.

دَ رجل نه څوک مراددي؟ : دَ شراح حديث په دې باندې اتفاق دې چه رجل نه حسن بن محمد بن حنفيه مرادې.[1] دَحنفيه نوم خوله بنت جعفر دې.[2]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي دَمحدث اسماعيلي الفاظ منهم نه زمونږ دَ روايت تائيدکيږي ځکه چه رجل نه حسن بن محمدبن علي بن ابي طالب المعروف بابن الحنفيه مرادې. لکه چه صاحب دَعمدة القاري په جزم سره ونيلي دي او حسن بن محمد دَحضرت جابر رضي الله عنه دَ قوم نه نه دې ځکه چه حسن بن محمد هاشمي اوحضرت جابر رضي الله عنه انصاري دې.[3] په دې سره دَهغه خلقو هم ترديد کيږي څوک چه داواني چه دَ قوم په ځائي قومه الفاظ دي او مراد دَ حضرت جابر رضي الله عنه قوم دې (كمامر).
دَ «كتاب الغسل باب: من أفاض على راسه ثلاثاً» آخرى حديث نه هم معلوميږي چه دَ رجل نه مرادهم حسن بن محمد بن حنفيه رحمه الله مراددې لکه چه علامه کرماني رحمه الله دَدې طرف ته اشاره فرمائيلې دې.[4]
دَحديث نه مزاحمت باندې دَ حضرت جابر رضي الله عنه تنبيه: دَ حضرت جابر رضي الله عنه نه چه کله دَغسل باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نوهغه اوفرمائيل ستاسودَپاره به يوصاع اوبه کافي وي. په دې باندې په مجلس کښې موجود يوسړی (حسن بن محمدبن حنفيه) اوونيل چه زمادَپاره به دامقدارکافي نه شي. دَهغه دا خبره چونکه دَ حضورپاك دَ عمل په مقابله کښې وه په دې وجه حضرت جابر رضي الله عنه دَتنبيه په توګه ارشاد اوفرمائيلو «كان يكفي من هوأوفى منك شعراً وخيرمنك»[5] يعنى هغه له خوبه کافي کيدلې دَ چاوېښته چه ستانه زيات وو اوڅوك چه تانه بهتر وو.
دَحضورپاك دَعمل مخالفت يادَحديث اوسنت دَبيان نه پس دَ هغې په خلاف عمل باندې دَحضرات صحابه کرامو رضي الله عنهم دَ طرف نه تنبيه يا دَخفګان اظهار په رواياتوکښې په کثرت سره وارد شوی دی.
دَحضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه هم دغه شان واقعه ده چه هغه خپل يونيزدې رشته دار ته دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث بيان کړو اوبيائي هغه دَدغې په خلاف عمل باندې اوليدلو نودَخفګان اظهارکولوسره ئې هغه سره خبرې اترې کولونه انکاراوکړو. چنانچه هم په بخاري شريف کښې امام بخاري رحمه الله «كتاب الذبائح والصيد باب الخذف والبندقة» کښې عبدالله بن بريد په واسطه سره دَ حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه نه نقل کړی دی: «أنه رأى رجلاً يخذف، فقال له: لاتخذف، فإن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن الخذف أوكان يكره الخذف، وقال: إنه لايُصادُ به صيدٌ ولا يُنكأ به عدوٌّ، ولكنها قد تكسر السن، وتفقأ العين، ثم رآه بعد ذلك يخذف فقال له: أحدثك عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه نهى عن الخذف أوكره الخذف، وأنت تخذف لاأكلمك كذا وكذا».[6]
ترجمه: حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه يوسړې په کانړو ويشتلو سره اوليدلو نوهغه‌ته ئې اوونيل چه کانړي مه اوله، ځکه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ کانړو ويشتلو نه منع فرمائيلې ده. يا حضورپاك به کانړي

---

[1] فتح الباري: ۴۸۳/۳ عمدة القاري: ۲۹۵/۳ الكوثرالجاري: ۴۱۰/۱ التوشيح على الجامع الصحيح للسيوطي: ۲۴۳/۱.
[2] فتح الباري: ۴۸۳/۲ عمدة القاري: ۲۹۵/۳.
[3] فتح الباري: ۴۸۳/۲.
[4] الكوثرالجاري: ۴۱۰/۱.
[5] فضل الباري: ۴۲۹/۲.
[6] رقم الحديث: ۵۴۷۹.

ويښتل ناخوښه ګنړل او حضورپاك اوفرمائيل چه په دې سره خو نه ښكار كيدې شي او نه په دې سره دشمن زخمي كيدې شي. او ليكن د چا غاښ ماتولې شي، ياني ستركه ويستې شي. بيا حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ هغه سړي په كاڼړو ويشتلوسره اوليدلو نوورته ئې اوويل چه ماتاته د رسول الله ﷺ حديث بيان كړو چه حضورپاك د كاڼړو ويشتو نه منع كړې ده يا ئې دا ناخوښه ګنړلې دي اوته كاڼړې اولې زه به تاسره بيا خبرې اونه كړم.

د مسلم شريف په روايت كښې «لاأكلمك أبداً» الفاظ راغلي دي.(١) يعني زه به آئنده تاسره كله هم خبرې اونه كړم.

قوله:: أوفى منك شعراً: شعراً مرفوع او منصوب دواړه شان نقل كړې شوې دې. مرفوع به وي د خبركيدو د وجې نه او چه منصوب وي نو تميزبه جوړيږي دَدې الفاظونه مراد رسول الله ﷺ دې.

دَاوفى مطلب: شيخ الاسلام زكريا انصاري او علامه قسطلاني رحمه الله اوفرمائيل چه «أوفى» مطلب اكثردې. يعني د حضورپاك ويښته ستاسو د ويښتو نه زيات وو. خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه أوفى كښې دوه احتماله دي چه ويښته د صفت او مقدار په اعتبارسره أوفى وو. يعني د رسول الله ﷺ ويښته ستاسو د ويښتونه اوږده هم وو او زيات هم.(٢)

قوله:: وخيرمنك: د اصيلى په نسخه كښې «خيراً» منصوب دې باقي نسخوكښې مرفوع دې. د مرفوع كيدو په صورت كښې دَدې عطف «أوفى» باندې وي كوم چه د هو خبردې. نولكه چه دَمرفوع كيدو وجه په خبر باندې عطف كيدل دي. اوكه چرې منصوب اولوستلې شي لكه چه د اصيلى په نسخه كښې دې نوبيابه دَدې عطف په من موصوله باندې وي اومن محلاً منصوب دې څكه چه هغه دَيكفي مفعول دې.(٣)

د حضوراكرم ﷺ ويښته مبارك: امام ترمذي رحمه الله په شمائل كښې «باب ماجاء في شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم» په عنوان سره دَحضرت عائشه حضرت براء بن عازب حضرت انس حضرت ام هاني بنت ابي طالب اوحضرت ابن عباس رضي الله عنهم نه اته احاديث نقل كړي دي دَهغه ټولو خلاصه داده:

① دحضوراكرم ويښته نه بالكل اينختي وو اونه بالكل خلاص، بلكه لږ شان اينختي او ګورګوتي وو.

② دَحضورپاك ويښته نيمې غوږونو پورې وو.

③ دَحضورپاك ويښته مبارك داسې وو چه د غوږونو د نرمئ پورې وو څه دَهغې نه زيات وو اودَهغې نه كم وو كوم چه د اوږو پورې وي.

④ بعض وخت به دَحضورپاك ويښته څلور حصې د ګمسو په شان وو مراد هغه ګمسې دي په كوموكښې چه ښځو سره تشبيه نه وي څكه چه د تشبيه نه حضور ﷺ پخپله ممانعت فرمائيلې دې.

⑤ حضورپاك به چه د اسلام په شروع كښې په كوموكښې چه ممانعت نه وو راغلې دَهغې د وجې نه ئې د اهل كتاب په موافقت كښې ويښته بغيرد لارې ويستلو هم داسې پريخودل. ليكن روستو دَاهل

---

(١) كتاب الصيد والذبائح، باب إباحة مايستعان به على الاصطياد والعدو وكراهة الخذف، رقم الحديث: ٥٠٥٣-٥٠٥٤.

(٢) تحفة الباري:٢٢١/١ إرشادالساري:٤٩١/١ فتح الباري:٤٨٣/٢.

(٣) شرح الكرماني:١١٦/٣ عمدة القاري:٢٩٥/٣ فتح الباري:٤٨٣/٢ تحفة الباري:٢٢١/١ إرشادالساري:٤٩١/١.

كتاب دَ موافقت والاحكم منسوخ شو نو حضورپاك به دَاهل كتاب په مخالفت كښې په سركښي لاړ ويسته.(١)

⑨ دَحضرت براء بن عازب رضي الله عنه روايت دې چه حضورپاك دَ كنړو ويښتو والاوو.(٢)

په مختلفورواياتوكښې تطبيق: ملاعلي قاري رحمه الله او شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله فرمانى دَ حضورپاك دَ زلفومباركودَ مقدار باره كښې مختلف روايات واردشوى دى او په هغې كښې څه تعارض هم نشته دې. ځكه چه ويښته دَ لوئيدلو ځيزدې. كه په يوه زمانه كښې دَ غوږونودنرمو پورې وو نو په بل وخت كښې دَهغې نه زيات، ځكه چه دَ حضورپاك سر خرول يوځو ځل ثابت دى نوچاچه دَ نيزدې زمانه نقل كړې ده هغه واړه ويښته نقل كړى دى اوچاچه دَ ويښتو خرولو دَ مودې پورې وخت نقل كړې دې نوهغه زيات ويښته نقل كړى دى. بعض علماؤ روايات داسې هم جمع كړى دى چه دَ سر مبارك دَ وړاندې حصې ويښته دَ نيمو غوږونو پورې رسيدلې وو اودَ مينځ دَ سرمبارك دَ دې نه ښكته پورې اودَ آخرسر ويښته اوږو سره نيزدې پورې.(٣)

دَحديث شارحينوحضراتو ليكلى دى چه دَحضورپاك دَهجرت په كالونوكښې صرف درې ځل دَ حديبيه، عمرة القضاء اوحجة الوداع په موقع باندې ويښته خرولې دى اوصرف يوځل ئې ويښته واړه كړى دى.(٤)

علامه عبدالرؤف مناوى رحمه الله دَ ابن العربى رحمه الله نه نقل كړى دى: «الشعر في الرأس زينة وتركه سنة وحلقه بدعة وحالة مذمومة، جعلها المصطفى (صلى الله عليه وسلم) شعار الخوارج»(٥) يعنى په سرباندې ويښته دَ زينت سبب دى ويښته پريخودل (لويول) سنت دى او (مستقل) حلق (ګنجې) كول بدعت اومذموم حالت دې. (مبالغه او استمرارسره) حلق كول حضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم دَخوارجو شعارګرځولې دې.

دَحضرت جابر رضي الله عنه دَقول مقصد: دَ زياتو اوبواستعمالول دَ دوو وجوهاتونه پيښيږى يودَ ويښتودَ زياتوالى او بل دَ نظافت دَ وجې نه. دَحضرت جابر رضي الله عنه مقصد دا وو چه ما څه وئيلى دى هغه مې دَ حضورپاك دَعمل په رڼاكښې وئيلى دى اوحضورپاك ته به دومره مقدار كافى كيدلو. ستاد پاره ددې مقدار ناكافى كيدلو څه وجه ده؟ ولې ستا دَ سر ويښته دَ حضورپاك نه زيات دى يا ته دَ حضورپاك نه زيات احتياط كونكې ئې؟ دَرسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارك سر باندې ستا نه زيات ويښته وو اوحضورپاك ستانه زيات بهتر او احتياط كونكې وو. ستادَ پاره ناكافى كيدلو وجه اسراف كيدې شى. كه چرې ته

---

(١) الشمائل المحمدية والخصائل المصطفوية، ص:١٩-١٧، رقم الحديث: ٢٤، ٢٥، ٢٦، ٢٧، ٢٨، ٢٩، ٣٠، ٣١، أشرف الوسائل إلى فهم الشمائل، ص:٩٧-٩٣جمع الوسائل في شرح الشمائل، ص:٩٩-٩٠، خصائل نبوى شرح شمائل نبوى ص:٤٧-٤٤.

(٢) الحديث أخرجه الترمذي في الشمائل باب ماجاء في خلق رسول الله صلى الله عليه وسلم ص:٨ رقم الحديث:٣.

(٣) جمع الوسائل في شرح الشمائل باب ماجاء في شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم ص:٩٩،خصائل نبوى، ترجمه وشرح شمائل ترمذى، باب ماجاء في شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم ص:٤٤.

(٤) جمع الوسائل في شرح الشمائل باب ماجاء في شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم ص:٩٩. خصائل نبوى، ترجمه وشرح شمائل ترمذى، باب ماجاء في شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم ص:٤٤.

(٥) شرح الشمائل للمناوى بهامش جمع الوسائل ص:٩٠.

دَ اوبو په استعمال كښې اسراف پريږدي نودَ اوبوچه كوم مقدار ذكر كړې شوې دې هغه دَغسل دَپاره كافى كيدې شى.[1]

ابن رجب حنبلى رحمه الله نقل كړى دى، حضرت جابر رضي الله عنه ته ويونكې چه زمادَپاره يوصاع كافى نه دى حسن بن محمد بن حنفيه رحمه الله وو اوهم هغه دَ ټولو نه اول دَ ارجاء قول اختيار كړې وو.[2] دا هم وئيلى شى چه حضرت حسن بن محمد رحمه الله په طهارت كښې زياتې اوبه استعمالولو په حواله سره دَ اباضيه دَ مسلك طرف ته مائل وو.[3]

دَ اوبو په استعمال كښې اعتدال: كه چرې په اعتدال سره اوبه استعمال كړې شى نو يوصاع په اندازه باندې اوبه كافى كيږى او واقعه داده چه دَ بې اعتدالئى په وجه اوبه زياتې خرچ كيږى. علامه نووى رحمه الله ليكلى دى چه امام شافعى رحمه الله فرمائى «قد يرفق بالقليل فيكفى، ويخرق بالكثير فلا يكفى»[4] يعنى په طريقه سره لږې اوبه هم كافى كيږى اوبې طريقې سره ډيرې زياتې هم ناكافى كيږى. علامه كرمانى رحمه الله ليكلى دى چه په يوصاع اوبوسره غسل كول مندوب دى په دې معنى چه اوبه دَ يوصاع نه كمې نه وى اوكه چرې دَ يوصاع نه ئې زياتې استعمال كړې ليكن اسراف ئې اونه كړو نوسنت ئې اداكړل اوكه ددې نه ئې په كموسره غسل اوكړو نوجائزدى.[5]

قوله: ثم أمنا في ثوب: بيا هغوى هم په يوه كپړه كښې زمونږ امامت اوكړو. امامت چا اوكړو؟ «ثم أمنا في ثوب» دَچا وينا ده اوهم په يوه كپړه كښې امامت كونكې څوك وو؟په دې باره كښې دَ حديث دَ شراح رائې كښې اختلاف دې.

دَ علامه كرمانى رحمه الله رائې: علامه كرمانى رحمه الله په دې باره كښې دوه احتماله بيان كړى دى. يو دا چه «ثم أمنا في ثوب» دَ حضرت جابر رضي الله عنه قول وى اودَدې عطف «كان يكفى» باندې وى معنى به داشى چه حضرت جابر رضي الله عنه اووئيل چه بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوه كپړه كښې زمونږ امامت اوكړو. او دويم احتمال دادې چه «ثم أمنا في ثوب» دَ ابوجعفر رحمه الله قول وى اودَدې عطف «فقال جابر» باندې وى، يعنى ابوجعفر رحمه الله اووئيل چه بيا حضرت جابر رضي الله عنه په يوه كپړه كښې زمونږ امامت اوكړو.[6]

دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله دويم احتمال ته ترجيح وركړې ده. هغوى فرمائى چه «أمنا» فاعل حضرت جابر رضي الله عنه دې لكه چه ډير زر به په كتاب الصلاة كښې دَ حضرت جابر رضي الله عنه دَ

---

[1] فضل البارى:۴۲۹/۲.

[2] فتح البارى لابن رجب الحنبلى:۱۴۶/۱دَ ارجاء سره متعلق تحقيقى خبره حضرت حسن بن محمد بن حنفيه رحمه الله په حالاتوكښې راځى انظر ص:۳۸۴-۳۸۱.

[3] اباضيه عبدالله بن اباض منونكوته اباضيه ويلې شى دَ مروان بن محمد په زمانه كښې خروج كړې هغه عبدالملك بن محمدبن عطيه دهغه په قتال باندې مامور كړو. عبدالملك دَ تباله په مقام باندې هغه سره قتال اوكړو، عبدالله ابن يحيى اباضى دَ عبدالله بن اباض نيزدې دوست او دَ اباضيه داعى وو. انظر للتفصيل: الملل والنحل: ۱۳۱/۱، فتح البارى لابن رجب الحنبلى:۱۴۶/۱.

[4] المنهاج: ۲۲۷/۴ المجموع: ۱۸۹/۲.

[5] شرح الكرمانى:۱۱۶/۳.

[6] شرح الكرمانى:۱۱۶/۳.

حپل عمل بیان راځی.[۱] شیخ الاسلام زکریا انصاری رحمه الله علامه قسطلانی رحمه الله اوعلامه سیوطی رحمه الله هم دَ «أمنا» فاعل حضرت جابر رضي الله عنه گرځولې دې.[۲]

دَعلامه عینی رحمه الله رائې: علامه عینی رحمه الله هم دحضرت جابر رضي الله عنه په یوه کپړه کښې دَ امامت کولو ته ترجیح ورکړې ده. البته هغه دَ حافظ ابن حجر رحمه الله دَ ترجیح په وجه باندې ردکړې دې هغه فرمانی دَحافظ صاحب رحمه الله دَدې نه مقصود په علامه کرمانی باندې ردکول دی اوددې رد دپاره هغوی په کتاب الصلاة کښې دَمحمدبن منکدر رحمه الله دَ روایت نه استدلال کړې دې. دَهغوی په روایت کښې دی «رأیت جابراً یصلی فی ثوب واحد وقال رأیت النبی صلی الله علیه یصلی فی ثوب» یعنی ما حضرت جابر رضي الله عنه په یوه کپړه کښې مونځ ورکولوسره اولیدلو اوحضرت جابر رضي الله عنه وائی چه ما حضورپاك په یوه کپړه کښې مونځ ورکولوسره اولیدلو.[۳]

دَ حافظ ابن حجر رحمه الله په دې روایت سره په علامه کرمانی رحمه الله باندې رد کول بې وجې دی خکه چه په دې روایت کښې خو دَ حضرت جابر رضي الله عنه اورسول الله صلی الله علیه وسلم دواړو په یوه کپړه کښې مونځ ورکولو سره لیدلو ذکر دې نوبیا دَ علامه کرمانی رحمه الله بیان کړې شوې دوو احتمالاتوکښې یوختمول او بل ته ترجیح ورکولودلیل څنګه جوړولې شی.[۴]

دَعلامه کورانی رحمه الله رائې: علامه کورانی رحمه الله اوفرمائیل په یوه کپړه کښې امامت کونکې حضرت جابر رضي الله عنه وو. هغوی «کتاب الصلاة باب عقد الإزار علی القفا فی الصلاة» دَ رومبی روایت نه استدلال کړې دې. محمد منکدر رحمه الله وائی چه حضرت جابر رضي الله عنه په یوتهبند کښې مونځ اوکړو په داسې حال کښې چه هغه دَادَ مخې طرف نه تړلې وو اودَهغوی کپړې په کونډه کښې زوړند وې. چا اووئیل «تصلی فی إزار واحد؟ فقال: إنما صنعت ذلك لیرانی أحمق مثلك، وأینا کان له ثوبان علی عهد النبی صلی الله علیه وسلم»[۵] یعنی تاسو په یوتهبند کښې مونځ کوئی؟حضرت جابر رضي الله عنه اوفرمائیل چه ما داسې خکه کړی دی چه ستا په شان احمق ماته اوګوری، او بل دا چه مونږ کښې چاسره دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې دوه کپړې وې.

بیا علامه کورانی رحمه الله په دغه خلقو (علامه عینی رحمه الله وغیره) باندې رد کړې دې چاچه دَامامت نسبت دَحضورپاك طرف ته کړې دې وئی فرمائیل دادَهغوی لغزش دې.[۶] خلاصه دا چه «أمنا» فاعل حضرت جابر رضي الله عنه دې لکه چه دَ شراح حدیث دَ اقوال نه معلومه شوه اودلته دَدې امامت نسبت

---

[۱] فتح الباری:۲/۴۸۳.

[۲] تحفة الباری:۱/۲۲۱إرشادالساری:۱/۴۹۲ التوشیح:۱/۲۴۳.

[۳] الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب الصلاة باب عقد الإزار علی القفا فی الصلاة رقم:۳۵۳.

[۴] عمدة القاری:۳/۲۹٦-۲۹۵.

[۵] الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب الصلاة، باب عقد الإزارعلی القفا فی الصلاة رقم:۳۵۳-۳۵۲وفی باب إذا صلی فی الثوب الواحد فلیجعل علی عاتقیه، رقم:۳۵۹ وفی باب: الصلاة بغیر رداء: رقم: ۳۷۰.

[۶] الکوثر الجاری:۱/۴۱۰.

دَحضوریاك طرف ته کول صحیح نه دی. ابن ملقن رحمه الله لیکلی دی چه «ثم أمنا فی ثوب» مقتضی کښې هیڅ اختلاف نشته دې ځکه چه په یوه کپړه کښې مونځ کول جائزدی سره دَدې چه که هغه امام وی.(۱)

دَحدیث ترجمة الباب سره مناسبت: علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چه دَ روایت الفاظ «یکفیك» «صاع» نه ترجمة الباب راوتلې دې. امام بخاری رحمه الله دا ثابتول غواړی چه دَحضوریاك په غسل کښې چه دَ یوصاع اوبودا کوم ذکر راغلې دې هلته صرف هغه مقدار مذکوردې کوم چه کفایت کوی. دَ یوصاع تحدید مقصودنه دې. دَ ترجمه هم دغه مقصددې. (۲)

دَحدیث نه مستنبط شوې مسائل: دَدې حدیث نه دا لاندینئ مسئلې مستنبط کړې شوې دی:

① سلف صالحین به دَ حضوریاك عمل هم مدارِدَ استدلال جوړولو اودَهغې تابعداری به ئې کوله.(۳)

② په داسې سړی باندې رد کول او تنبیه کول جائز دی چه بغیردَعلم اوتحقیق بحث مباحثه کوی او سخت رانیول ئې هم صحیح دی. که چرې دَ تنبیه کونکی مقصد دَ حق وضاحت او سامعین دَدې نه بندول وی.(۴)

③ دَ اوبوپه استعمال کښې دَ اسراف کراهیت هم دې نه ثابتیږی.

④ په غسل کښې دَ یوصاع اوبه استعمالول مستحب دی. (۵)

⑤ دَدې روایت نه په یوه کپړه کښې مونځ کولو جواز هم معلومیږی.

الحدیث الثالث

۲۵۳- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَيْمُونَةَ كَانَا يَغْتَسِلَانِ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ» قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: «كَانَ ابْنُ عُيَيْنَةَ يَقُولُ أَخِيرًا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ وَالصَّحِيحُ مَا رَوَى أَبُو نُعَيْمٍ» [حدیث باب: ۲۵۰](۶)

---

(۱) التوضیح: ۵۵۷/٤.

(۲) فضل الباری: ۴۲۹/۲.

(۳) فتح الباری: ۴۸۳/۲ عمدة القاری: ۲۹۶/۳ فضل الباری: ۴۲۹/۲.

(۴) عمدة القاری: ۲۹۶/۳ فتح الباری: ۴۸۳/۲ فضل الباری: ۴۲۹/۲.

(۵) فتح الباری: ۴۸۳/۲ عمدة القاری: ۲۹۶/۳ إرشاد الساری: ۴۹۲/۱ فضل الباری: ۴۲۹/۲.

(۶) الحدیث أخرجه مسلم فی صحیحه فی کتاب الحیض، باب القدر المستحب من الماء فی غسل الجنابة وغسل الرجل والمرأة فی إناء واحد فی حالة واحدة، غسل أحدهما بفضل الآخر، رقم: ۳۲۲، وأخرجه الترمذی فی سننه فی أبواب الطهارة، باب ماجاء فی وضوء الرجل والمرأة من إناء واحد رقم: ۶۲ وأخرجه النسائی فی سننه فی کتاب الطهارة، باب ذکر اغتسال الرجل والمرأة من نسائه من إناء واحد، رقم: ۲۳۷، وأخرجه ابن ماجه فی سننه، کتاب الطهارة وسننها، باب الرجل والمرأة یغتسلان من إناء واحد، رقم: ۳۷۷، انظر جامع الأصول النوع الثامن فی اجتماع الرجل والمرأة علی الإناء الواحد رقم: ۵۰٤۱، وانظر کذلک تحفة الأشراف رقم: ۵۳۸.

قال أبوعبدالله: كان ابن عيينة يقول أخيراً: عن ابن عباس عن ميمونة، والصحيح ما رواه أبونعيم.[١]

ترجمه: مونږ ته ابونعيم بيان كړي دي، وئي وئيل چه مونږ ته سفيان بن عيينه بيان اوكړو، هغه دَعمرو بن دينار نه هغه دَ جابربن زيد نه هغه دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه چه نبى كريم اوحضرت ميمونه رضي الله عنها دواړو (په يوخائې) په يولوښى سره غسل كولو.

امام بخاري رحمه الله فرمائى سفيان بن عيينه رحمه الله په خپل آخرى عمركښې داسې فرمائيل: (دا روايت مروى دې) دَابن عباس نه هغه دَ ميمونه رضي الله عنها نه (نقل كړى دى) اوصحيح هم هغه روايت دې كوم چه ابونعيم نقل كړې دې.

تراجم رجال

ابونُعيم: دامشهورمحدث ابونعيم الفضل بن دكين عمرو بن حماد الملائى الكوفى الاحول دى. دَدوى تفصيلى احوال ((كتاب الإيمان باب: فضل من استبرأ لدينه)) دَ ړومبى روايت په ذيل كښې راغلى دى.[٢]

ابن عيينه: دا ابومحمد سفيان بن عيينه بن ابى عمران هلالى كوفى رحمه الله دې. دَدوى مختصرحالات بدء الوحي دَړومبى حديث لاندې [٣]اوتفصيلى حالات ((كتاب العلم، باب قول المحدث: حدثنا أوأخبرنا وأنبأنا)) دَدريم حديث لاندې راغلى دى. [٤]

عمرو: دامشهور امام اوفقيه ابومحمد عمرو بن دينار مكى جُمَحي رحمه الله دې. دَدوى تفصيلى حالات ((كتاب العلم كتابة العلم)) دَ دريم حديث لاندې راغلى دى. [٥]

جابربن زيد: دا جابربن زيد ازدى يحمدى بصرى جوفى ياخوفى دې. ابوالشعثاء دَدوى كنيت دې[٦]

دَ جوف طرف ته دَ نسبت وضاحت: جوف دَ جيم فتحه واؤ په سكون اودې نه پس فاء سره، دَ عمان دَ يوې علاقې طرف ته نسبت دې. امام بخارى علامه مزى ابن حبان ابن سعد مغلطائى او ابن حجر رحمهم الله وغيره هم دغه نسبت نقل كړې دې. [٧]علامه ذهبى رحمه الله ليكلى دى چه دا لفظ (جوف نه) بلكه خوف خاء سره دعمان يوه علاقه ده. په دې وجه دَهغوى نسبت خوفى دې.[٨]علامه سمعانى رحمه الله

---

[١] دَ كشف البارى د متن دَپاره استعاليدونكې (داكتر مصطفى ديب البغاء صاحب) په نسخه كښې مذكوره تعليق موجود نه دې. خوددې په خائې په طباعت كښې دَ غلطئى دَ وجې نه دَسابقه حديث تعليق مكرردې. دَكوم تصحيح چه كړې شوې ده.

[٢] كشف البارى:٢/٦٧٣-٦٦٩.

[٣] كشف البارى:١/٢٣٨.

[٤] كشف البارى:٣/١٠٦-١٠٢.

[٥] كشف البارى:٤/٣١٣-٣٠٩.

[٦] اوګورئى: التاريخ الكبير:٢/٢٠٤، تهذيب الكمال:٤/٤٣٤، الجرح والتعديل:١/٤٢٧، كتاب الثقات:٤/١٠١، حلية الأولياء: ٣/٨٥ تهذيب الأسماء واللغات:١/١٤١، الكاشف:١/١٨٧، تذكرة الحفاظ: ١/٧٢، سيرأعلام النبلاء:٤/٤٨١، والبداية والنهاية:٩/١٠٣، تهذيب التهذيب:٢/٣٨، إكمال تهذيب الكمال:٣/١٢١، الأنساب:٢/١٢٢، الكامل فى التاريخ:٤/٢٧٩.

[٧] التاريخ الكبير:٢/٢٠٤، تهذيب الكمال:٤/٤٣٥، كتاب الثقات:٤/١٠١، الطبقات الكبرى:٧/١٧٩، إكمال تهذيب الكمال:٣/١٢١، تهذيب التهذيب:٢/٣٨، تقريب التهذيب:١/١٥٢.

[٨] سيرأعلام النبلاء:٤/٤٨١.

الأنساب کښې عمرو بن علی فلاس نه نقل کړی دی چه جوف فتحه دَ جیم سکون دَ واؤ او په آخره کښې فاء درب الجوف (دَ جوف کنده) طرف ته نسبت دې او جوف دَ بصره یوه علاقه ده.[1]
علامه مزی رحمه الله هم په قیل دا قول نقل کړی دې.[2]
په اقوال کښې تطبیق: په دې اقوالو کښې دَتطبیق صورت دادې چه جابر بن زید رحمه الله په اصل کښې خودَ جوف عمان وو روستودَ بصره علاقه ازد ته راغلو اوسیدو. هغه دَخپل پلارګنی علاقې جوف دَنسبت درب الجوف یعنی دَاهل جوف محله ونیلې شوه. [3]دَدې تطبیق تائید یوخودَابن حبان رحمه الله دَ قول نه کیږی هغه وائی: «**أصله من الجوف ناحیة بعمان، وکان ینزل البصرة فی الأزد [فی] موضع یقال: درب الجوف**» [4]یعنی جابر بن زید په اصل کښې دَعمان دَ یوې علاقې جوف وو اوهغه په بصره کښې دَ ازد په مقام یوخانی ته راغلو اوسیدو کوم ته چه درب الجوف ونیلې شی.
دویم تائید دَ ابن سعد رحمه الله دَ قول نه کیږی کوم چه هغه دَایاس رحمه الله نه نقل کړې دې هغه وائی: «**أدرکت البصرة ومفتیهم، رجل من أهل عمان جابر بن زید**»[5] یعنی ما بصره اودَ دې مفتی اولیدلو (یعنی هغه سره ملاؤ شوم) هغه دَا هل عمان نه یوسړې جابربن زید رحمه الله وو.
اساتذه او شیوخ: جابربن زید رحمه الله چه دکوموحضراتو نه کسب فیض اوکړو په هغوی کښې عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمر، عبدالله بن زبیر، حکم بن عمروغفاری، عکرمه مولی ابن عباس اومعاویه بن ابی سفیان رضی الله عنهم شامل دی.[6]
تلامذه: دَدوی نه استفاده او دَ حدیث روایت کونکوکښې امیه بن زید ازدی، ایوب سختیانی، حیان الاعرج، داؤد بن ابی قصاف، سلیمان بن سائب، صالح الدهان، ابوحفص عبدالله بن رستم، ابوالمنیب عبدالله بن عبدالله عتکی، عزره بن عبدالرحمن کوفی، عمرو بن دینار، عمرو بن هرم ازدی، غطریف ابوهارون عمانی، قتاده بن دعامه، محمد بن عبدالعزیزجرمی، مزید بن هلال، یا هلال بن مزید، مهلب بن ابی حبیبه، ولیدبن یحیی، یعلی بن حکیم؛ یعلی بن مسلم او ابوعنبس اکبر رحمهم الله شامل دی. تهذیب الکمال:٤٣٥/٤، سیر أعلام النبلاء: ٤٨٢/٤ تهذیب التهذیب: ٣٨/٢ تذکرة الحفاظ: ٧٢/١.الکاشف:٢٨٧/٢.
جلالت شان اوعلمی مقام: جابربن زید رحمه الله یولوئی جلیل القدر تابعی دې. حضرت حسن بصری رحمه الله او ابن سیرین رحمه الله سره دَهغوی شمیرکیږی. اودَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ کبار تلامذه نه دې.[7]
دَ قرآن پاك په علوموکښې ماهر وو. حضرت عطاء رحمه الله دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړی دی هغه فرمائی «**لوأن أهل البصرة نزلوا عند قول جابربن زید لأوسعهم علماً من کتاب الله، ورعا قال: عما فی کتاب الله**»[1] که چرې

---

[1] الأنساب:١٢٣/٢.
[2] تهذیب الکمال: ٤٣٥/٤.
[3] تعلیقات التاریخ الکبیر:٢٠٤/٢.
[4] الثقات لابن حبان: ١٠١/٤.
[5] الطبقات لابن سعد:١٧٩/٧.
[6] تهذیب الکمال:٤٣٥/٤، سرأعلام النبلاء: ٤٨٢/٤تهذیب التهذیب: ٣٨/٢ تذکرة الحفاظ: ٧٢/١.الجرح والتعدیل: ٤٢٧/١ الکاشف:٢٨٧/١.
[7] سیرأعلام النبلاء: ٤٨٢/٤-٤٨١ الکاشف:٢٨٧/١.

اهل بصره دَ حضرت جابر بن زيد رحمه الله قول اختيارکړی نوهغه به دَهغوی دَپاره دکتاب الله دَعلم نه بنه ورکونکې اوبنه غنی کونکې وې اوکله به ئې فرمائيل چه کتاب الله کښې کوم علوم دی دَهغې نه به بنه فائده اوچتونکې وې.

ابن عباس رضي الله عنهما به حضرت جابربن زيد رحمه الله په علماؤ کښې شميرلو. عکرمه رحمه الله دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړی دی چه هغوی به دَجابربن زيد رحمه الله باره کښې فرمائيل «هوأحد العلماء» [1] زياد بن جبير رحمه الله وائی چه ما دَجابربن عبدالله انصاری رضي الله عنهما نه دَ يوې مسئلې تپوس اوکړو هغه دَ هغې جواب راکړو. بيائی اوفرمائيل ته زمونږ نه ولې تپوس کوې په تاسوکښې خو ابوالشعثاء (جابربن زيد) موجود دې. [3] دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه يوقول هم داسې دَ جابر بن زيد رحمه الله باره کښې نقل دې. [4]

حضرت ضحاك رحمه الله وائی چه ابن عمر رضي الله عنهما جابربن زيد رحمه الله ته ئې اوونيل اې جابر ته دَ اهل بصره دَ فقهاؤ نه ئې، خلق به تاسو نه دَمسائلو تپوس کوی ته هيڅ کله فتوی مه ورکوه سواء دَ قرآن اوسنت نه، که چرې ته دَ قرآن اوسنت نه اخوا جواب ورکړې نو پخپله به هم هلاك شې او خلق به هم په هلاکت کښې واچوې. [5]

علامه ابن کثير رحمه الله البداية والنهاية کښې اوامام بخاری رحمه الله په التاريخ الکبير کښې دَ ابن عمر رضي الله عنهما په ځائی دَدې قول نسبت دَ جابربن عبدالله رضي الله عنهما طرف ته کړې دې. [6] عمرو بن دينار رحمه الله وائی چه ما دَجابربن زيد رحمه الله نه زيات دَ فتوی علم لرونکې نه دې ليدلې. [7] حماد بن زيد رحمه الله وائی چه دَ ايوب نه تپوس اوکړې شو تاجابر بن زيد رحمه الله ليدلې دې؟ هغه اوفرمائيل او هغه عقلمند او هوښيار وو. [8]

دائمه توثيقی احوال: امام عجلی رحمه الله فرمائی «تابعي، ثقة». [9]

ابن حبان رحمه الله کتاب الثقات کښې دَدوی تذکره فرمائيلې ده اوليکلی دی «کان فقيهاً» [10] يحيی بن معين رحمه الله فرمائی «بصري، ثقة» [11] ابوزرعه رحمه الله فرمائی «بصري، أزدي، ثقة» [12] ابن حجر رحمه الله فرمائی

---

[1] الجرح والتعديل: ٤٢٧/١ کتاب الثقات: ١٠٢/٤، الکاشف: ٢٨٧/١، الطبقات الکبری: ١٧٩/٧، حلية الأولياء: ٨٥/٣

[2] تهذيب الکمال: ٤٣٦/٤.

[3] حلية الاولياء: ٨٦/٣ البداية والنهاية: ١٠٢/٩.

[4] الجرح والتعديل: ٤٢٧/١ تذکرة الحفاظ: ٧٢/١ سير أعلام النبلاء: ٤٨٢/٤، تهذيب التهذيب: ٣٨/٢ تهذيب الکمال: ٤٣٦/٤.

[5] حلية الاولياء: ٨٦/٣ التاريخ الکبير: ٢٠٤/٢ تذکرة الحفاظ: ٧٢/١ إکمال تهذيب الکمال: ١٢٢/٣.

[6] البداية والنهاية: ١٠٣/٩ التاريخ الکبير: ٢٠٤/٢.

[7] حلية الاولياء: ٨٦/٣ البداية والنهاية: ١٠٣/٩ التاريخ الکبير: ٢٠٤/٢ تذکرة الحفاظ: ٧٢/١ إکمال تهذيب الکمال: ١٢٣/٣.

[8] الطبقات الکبری: ١٨٠/٧ تذکرة الحفاظ: ٧٢/١ سير أعلام النبلاء: ٤٨٢/٤.

[9] تهذيب التهذيب: ٣٨/٢ إکمال تهذيب الکمال: ١٢٢/٣.

[10] کتاب الثقات: ١٠٢/٤ تهذيب التهذيب: ٣٨/٢.

[11] تهذيب الکمال: ٤٣٦/٤ الجرح والتعديل: ٤٢٧/١ تهذيب التهذيب: ٣٨/٢.

[12] الجرح والتعديل: ٤٢٨/١ تهذيب الکمال: ٤٣٦/٤ تهذيب التهذيب: ٣٨/٢.

«ثقة،فقيه» (۱)طبري رحمه الله طبقات الفقهاء كښې فرمائي: «كان عالماً فقيهاً»x(۲)، ابن عبدالبر رحمه الله فرمائي: «كان أحد الفقهاء العلماء الفضلاء، أثنى عليه ابن عباس بالعلم، وحسبك بذلك»x(۳)يعنې جابر بن زيد د فقهاؤ علماؤ اوفضلاؤ نه دې. ابن عباس رضي الله عنهما دَهغوی دَعلم تعریف کړې دې هم دغه ستاسو دِ پاره کافی دی. ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه ابوالشعثاء (جابربن زید) دَاهل علم نه وو او په بصره کښې به ئې فتوی ورکوله.(۴) منتجالی رحمه الله فرمائي «كان يفتي الناس وكان ثقة» (۵)

دَاباضیه طرف ته نسبت: اباضیه، جابربن زید رحمه الله به دَ اباضی کیدو دعوی کوله، هم په دې وجه دَ بعض ائمه نه هم دَهغوی باره کښې دَ اباضی کیدو قول مروی دې. چنانچه ساجی دَ احمدبن محمد نه هغوی دَ یحیی بن معین رحمه الله نه نقل کړی دی چه جابر(بن زید) اباضی وو.(۶)

دَدې نسبت حقیقت: حقیقت دادې چه جابربن زید رحمه الله اباضی نه وو. دَ اباضیه دا دعوی غلطه ده هغه دَدې طرف ته دَ دروغو نسبت کوی هغه دَدې نه بری وو. هشام دَمحمد نه نقل کړی دی چه اباضیه چه څه وائی دَهغې نه جابر بری وو. عارم وائی چه اباضیه دَهغه دَ خپل طرف ته غلط او دروغ نسبت کولو.(۷) سفیان رحمه الله عمرو بن دینار رحمه الله ته اوونیل آیا تا چرته ابوشعثاء نه دَ اباضیه یا دَهغوی دَعقائدو باره کښې څه اوریدلی؟ هغه اوونیل مادَهغوی نه دې باره کښې هیڅ هم نه دی اوریدلی.(۸)

دَهندبنت مهلب ګواهی: دَ هندبنت مهلب په وړاندې دَ جابر بن زید رحمه الله تذکره اوشوه اوخلقو اوونیل چه هغوی اباضی وو. هند بنت مهلب اوفرمائیل جابربن زید رحمه الله به دَ خلقو نه زیات ماسره او زما مورسره وخت تیرولو هغه به ماته الله تعالی ته دَ نیزدې کیدو اعمالو حکم راکولو اودَ الله تعالی نه لرې کونکی څیزونو نه به ئې منع کولم. هغه زه کله هم دَ اباضیه طرف ته نه یم راغوښتې اونه ئې ماته دَدې حکم راکړې دې. سره دَدې چه هغه به ماته داهم خودل چه زه لوپټه څنګه په سرکړم اوهغې (هندبن مهلب) خپل لاس په تندی باندې کیخودو (دې دَپاره چه اوښائی چه جابربن زید به هغې ته لوپټه اچولودَپاره څنګه وینا کوله).(۹)

دَحضرت جابر دَ اباضیه نه براءت: هم دغه خبره پخپله هم دَ جابر بن زید رحمه الله نه نقل ده. قتاده رحمه الله او داؤد بن ابی قصاف دَ غزره نه نقل کړی دی هغه وائی چه ما جابربن زید رحمه الله ته اوونیل چه اباضیه

---

(۱) تقريب التهذيب:۱/۱۵۲.
(۲) إكمال التهذيب كمال:۳/۱۲٤.
(۳) إكمال تهذيب الكمال:۳/۱۲۲.
(٤) البداية والنهاية:۹/۱۰۲.
(۵) إكمال تهذيب الكمال:۳/۱۲٤.
(٦) الكامل لابن عدى: ٤/۷۱ تهذيب التقريب:۲/۳۸ إكمال تهذيب الكمال۳/۱۲۲.
(۷) الطبقات الكبرى: ۷/۱۸۱.
(۸) التاريخ الكبير:۲/۲۰٤إكمال تهذيب الكمال:۳/۱۲۲.
(۹) حلية الاولياء:۳/۸۹البداية والنهاية:۹/۱۰٤-۱۰۳.

داګمان کوی چه تاسو دَهغوی نه ئی؟ جابربن زید رحمه الله اوفرمائیل زه دَهغوی نه اودَهغوی دَ عقائدونه بری یم اودَالله تعالی پناه غواړم.(1)
دَ ثابت بنانی رحمه الله په روایت کښې دی چه دَ جابربن زید رحمه الله نه دَ زنکدن په حالت کښې دَ اباضیه باره کښې تپوس اوکړې شو نوهغوی دَ برات اظهاراوکړو.(2)
وفات: ابن سعد رحمه الله او واقدی رحمه الله اوونیل چه جابربن زید رحمه الله ۱۰۳هجری کښې وفات شوې.(3)هیثم بن عدی رحمه الله ۱۰۴هجری دَ وفات کال ګرځولې دې.(4)
امام احمد، فلاس، امام بخاری، عمرو بن علی، ابن حبان، ابونعیم، حافظ ابن حجر اوعلامه ذهبی رحمهم الله ۹۳هجری دَهغه دَ وفات کال ګرځولې دې.(5)
علامه ذهبی رحمه الله دَ ۱۰۳ هجری قول شاذ ګرځولې دې هغه فرمائی «**شذ من قال: إنه توفي سنة ثلاث ومئة**»(6) قتاده رحمه الله دَ هغوی دَ وفات په ورځ اوفرمائیل نن دَ اهل بصره علم یادَعراق عالم خښ کړې شو.(7) یائې داسې اوفرمائیل نن دَدنیا والوعلم خښ شو.(8)
ابن عباس رضي الله عنهما: دا مشهورصحابی، دحضورپاک دَتره خوئی حضرت عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف رضي الله عنهما دې. دَدوی حالات «**کتاب بدء الوحی، باب کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم**» په څلورم حدیث کښې (9) او «**کتاب الإیمان باب کفران العشیر، وکفر بعد کفر**» دَ رومبی حدیث لاندې تیرشوی دی. (10)

شرح حدیث

قوله:: أن النبی صلی الله علیه وسلم ومیمونه کانا یغتسلان من إناء واحد: «دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې چه» نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوحضرت میمونه رضي الله عنها دواړو «په یوځائې» په یولوښی سره غسل کولو.
دَ زوجین په خپل مینځ کښې دَتعلق اهمیت: دَ زوجین په یولوښی سره غسل کولو او دَ یویل نه پاتې شوو اوبو سره طهارت حاصلولو سره متعلق مباحث تیرشوی دی. البته دَ زوجین په خپل مینځ کښې دَ تعلق باره کښې دلته یو بل اړخ ته توجه راګرځول مقصود دی. دَ کوم طرف ته چه په عام توګه شراح

---

(1) الطبقات الکبیر:۱۸۱/۷تهذیب الکمال:۴۳۶/٤تهذیب التهذیب:۳۸/۲.
(2) الطبقات الکبیر:۱۸۲/۷.
(3) الطبقات الکبیر:۱۸۲/۷تهذیب الکمال:۴۳۶/٤تهذیب التهذیب:۳۸/۲تذکرة الحفاظ:۷۳/۳.
(4) تهذیب الکمال:۴۳۶/٤تهذیب التهذیب:۳۸/۲.
(5) التاریخ الکبیر:۲۰٤/۲کتاب الثقات:۱۰۲/٤تهذیب الکمال: ۴۳۶/٤تذکرة الحفاظ:۷۳/۱-۷۲تهذیب التهذیب: ۳۸/۲ إکمال تهذیب الکمال:۱۲۲/۳تقریب التهذیب: ۱۵۲/۱ الکاشف:۲۸۷/۱.
(6) سیرأعلام النبلاء:٤۸۳/٤.
(7) تهذیب الکمال:٤۳۶/٤ إکمال تهذیب الکمال:۱۲۳/۳تهذیب التهذیب: ۳۸/۲.
(8) حلیة الأولیاء: ۸۶/۳تذکرة الحفاظ:۷۲/۱.
(9) کشف الباری:۱/۴۳۷-٤۳۵.
(10) کشف الباری:۲/۲۰۶-۲۰۵.

حدیث توجونه ده راګرځولې. دَدې وجه داده چه حدیث باب اودا شان روایت محدثین حضرات په کتاب الطهارة کښې په عام توګه ذکر کوی او دَدې نه دَ طهارت دَ مسائلو بیانول مقصود وی. دا اهم په خپل خانی باندې دَ ډیراهمیت حامل دی. لیکن دَدې قسم روایاتونه دا هم پته لګی چه په شریعت کښې دَ زوجین په خپل مینځ کښې دَتعلق ډیرزیات اهمیت دې. دَدې تعلق دَ بقاء او په دې کښې دَ زیاتوالی دَپاره الله تعالی اودَهغه رسول ﷺ دَداسې اعمالو حکم فرمائیلې دې چه په ظاهر معمولی ښکاری لیکن په زوجین کښې دَخپل مینځ تعلق او الفت کښې اضافه او کلکوالی سبب جوړیږی. لکه دَ زوجین په یوځائی یولوښی سره غسل کول، نه صرف دَ مودت او الفت اظهاردې بلکه په دې کښې دَ زیاتوالی هم سبب دې.

دَعلامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله وضاحت: حضرت مولانا علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله فتح الملهم کښې په دې اړخ باندې رڼا اچولې فرمائی: دَ ښځې اوخاوند په مینځ کښې ټول تعلقات نه دَټولونه لوئی او اهم تعلق کورنې تعلق دې. هم دغه دَ ټولونه زیات فائده مند تعلق دې اودَدې ضرورت هم زیات پیښیږی. په دې وجه دَ اسلامی شریعت زیات کوشش داوی چه ترکومې پورې ممکن وی دا په خائی اوساتلې شی. اودَدې مقاصد پوره کړې شی.

او دا تعلق بې کیف او مکدر یعنی خړ کول او مکمل ختمول شریعت ناخوښه کړی دی اودَهیڅ قسم تعلق ثمرات بغیردَ الفت اومحبت نه حاصلیدې نه شی. دَمحبت دَحاصلولودَپاره زوجین به په څه خصال حمیده باندې کلک اودریدل وی لکه دَ یوبل سره دَهمدردئی اظهار دَ یوبل دَ ناخوښه خبرو معافی کول اودَهغه کارونونه ډډه کول دَ کومو په وجه چه په زړه کښې دَ یوبل دَپاره کینه اوبغض پیداکیږی. (او په څو کارونوباندې به کلك اودریدل وی خاص کړ) یوبل سره خنداخوشحالی کول په رونړ تندی سره ملاویدل وغیره.

دَحکمت تقاضا داوه چه دَدې امورو نه یوازې دا چه ترغیب ورکړې شی بلکه دَقول اوفعل په ذریعه زوجین دې ته تیار کړې شی. هم دَدې نکتې په رڼا کښې حضورپاك هغه صحابی ته کوم چه ثیبه ښځې سره واده کړې وو اوفرمائیل څه ښه به وه چه تا یوې پیغلې سره واده کړې وو تادَهغې نه خوند اخستو اوتانه هغې خوند اخستو.[1]

حضرت عائشه رضي الله عنها چه به په کوم لوښی کښې اوبه څکلې هم هغه لوښې به ئې دَحضورپاك په خدمت کښې پیش کولو. حضورپاك به دَ لوښی هم هغه حصې سره خله مبارکه لګولوسره اوبه څکلې دَ کوم خائی نه چه به حضرت عائشه رضي الله عنها څکلې.[2] دغه شان به حضورپاك دَحضرت عائشه صدیقه خوړلې

---

[1] الحديث أخرجه البخاري في صحيحه، كتاب الصلاة باب الصلاة إذا قدم من سفر. مختصراً. رقم الحديث:٤٤٣ وفي كتاب البيوع، باب شراء الدواب والحمير رقم :٢٠٩٧ ومسلم في صحيحه كتاب الرضاع. باب استحباب نكاح ذات الدين. رقم:٣٦٣٦. وأيضاً في باب استحباب نكاح البكر رقم:٣٦٤٢-٣٦٣٧. والترمذي في سننه، كتاب النكاح باب ماجاء في تزويج الأبكار رقم:١١٠٠. وأبوداؤد في سننه في كتاب النكاح باب في تزويج الأبكار رقم:٢٠٤٨ وابن ماجه في سننه، أبواب النكاح باب تزويج الأبكار رقم:١٨٦٠ والنسائي في سننه، كتاب النكاح باب نكاح الأبكار رقم:٣٢٢٢-٣٢٢١ انظر جامع الأصول رقم: ٣٤٠ وتحفة الأشراف: رقم: ٢٤٣٦، ٢٥٣٥.

[2] الحديث أخرجه مسلم في صحيحه في كتاب الحيض. باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله وطهارة سؤرها رقم:٦٩٢ وأوداؤد في سننه في كتاب الطهارة باب مؤكلة الحائض ومجامعتها، رقم: ٢٥٩، والنسائي في سننه

شوي هم وكي چې ول (۱) او حضور پاك او حضرت عائشه صديقه به دواړو په يوخائي هم په يولوبني سره غسل كولو كله به حضور پاك اول دَ اوبو لوبني اخستلو او كله به حضرت عائشه رضي الله عنها اوبه اخستلو كښې وړانديوالي كولو تردې چه حضور پاك به ورته فرمائيل چه اول ما اوبو اخستو ته پريږده او حضرت عائشه رضي الله عنها به وئيل چه اول ما پريږده.(۱)
هم دغه اموردي چه په ښځه او خاوند كښې محبت پيدا كوي او دَ ناخوښئې نفرت او ووه كولونه ئې لرې ساتي.(۳)
دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت: دَدې باب دَدريم حديث ترجمة الباب سره مناسبت كيدلو او نه كيدلو كښې دَ شارحين حديث په مينځ كښې اختلاف دې.
دَعلامه كرماني رحمه الله رائې: علامه كرماني رحمه الله دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت ثابتولو دَپاره درې توجيهات بيان كړي دي:
رومبې توجيه: رومبې توجيه ئې دا بيان كړې ده چه په حديث كښې «إناء» نه مراد فرق مذكوردې دَ كوم تذكره چه كتاب الغسل كښې راغلې ده. چونكه دَهغوى په نيزدا معروف وو په دې وجه ئې دَ بيانولو ضرورت اونه گڼرلو.(۴)
دويمه توجيه: دويمه توجيه ئې دا بيان كړې ده چه دَ دغه اناء نه يوخاص قسم لوبني مراد دې په كوم كښې چه دوه يادَ دې نه زيات صاع اوبه راتلې. په عرف او عادت باندې يقين كولو سره راوى دَدې تذكره اونه كړه.(۵)
دريمه توجيه: دريمه توجيه دَحديث ترجمة الباب سره دَ مناسبت په حواله دا بيان كړې چه دا دَ اختصار حديث دَ قبيل نه دى او دويم روايت كوم چه دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها نه نقل دې په هغې كښې تفصيل دې په كوم سره چه مذكوره ترجمه په آسانه ثابتيږي.(۶)
دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ صاحب رحمه الله ليكلي دي چه بعض شارحينودا دعوى كړې ده چه دَ حديث ميمونه رضي الله عنها ترجمه سره مناسبت نشته دې ځكه چه په هغې كښې دَ لوبنى مقدار نه دې خودلې شوې. او په ترجمه كښې صاع اودَ دې په اندازه دَ لوبنى ذكر دې. دَدې جواب دادې چه دَ دغه خلقو لوبنى واړه وو،
لكه څنگه امام شافعي رحمه الله په ډيرو ځايونو كښې دَدې تصريح كړې ده. لهذا داحديث ترجمه كښې ذكرشوې ونحوه مطابق به شي. يادَدې دويم جواب دادې چه حديث ميمونه رضي الله عنها كښې اناء مطلق

في كتاب الطهارة باب سؤر الحائض رقم: ۳٤۲ وابن ماجه في سننه في باب ماجاء في مؤاكلة الحائض وسؤرها، رقم: ٦٤۳ انظر كذلك جامع الأصول رقم: ٥٤۰۳ وتحفة الأشراف: رقم: ١٦١٤٥.
(۱) انظر الحاشية السابقة.
(۲) الحديث أخرجه مسلم في صحيحه كتاب الحيض باب القدر المستحب من الماء في غسل الجنابة رقم: ۷۳۲ والنسائي في سننه كتاب الطهارة باب الرخصة في ذلك رقم: ۲٤۰ انظر جامع الأصول رقم: ٥٠٤٠.
(۳) فتح الملهم: ۳/۸۲.
(۴) شرح الكرماني: ۳/۱۱۷ إرشاد السارى: ۱/٤۹۲.
(۵) شرح الكرماني: ۳/۱۱۷ إرشاد السارى: ۱/٤۹۲.
(۶) شرح الكرماني: ۳/۱۱۷.

حديث عائشه رضي الله عنها كښې ذكرشوې فرق مقيد باندې محمول كړې شي. ځكه چه دواړه هم دَ حضوراكرم ببيانې وې اوهرې يوې حضورپاك سره غسل كړې دې. لهذا دهرې يوې په حصه كښې به دَيوصاع نه زياتې اوبه راغلې وي. په دې وجه چه دَ كوم لوښي ذكر په حديث ميمونه رضي الله عنها كښې راغلې دې په تقريبي توګه سره به په ترجمة الباب كښې داخل شي.[۱]

دَعلامه عيني رحمه الله رائې او په سابقه توجيهاتو باندې رد: علامه عيني رحمه الله ليكلي دي چه دَ حديث ميمونه رضي الله عنها ترجمة الباب سره مناسبت غيرظاهر دې. بيائي دَعلامه كرماني رحمه الله ذكركړې شوي دريواړه توجيهات غيرموزون كولوسره وئيلي دي چه علامه كرماني رحمه الله دَ ترجمه ثابتولودپاره دَتكلف نه كاراخستي دې. (هم دغه رائې دَعلامه قسطلاني هم ده.)[۲]

بيادَ حافظ ابن حجر رحمه الله دواړه توجيهات ذكركولوسره ليكي چه دا دَ علامه كرماني رحمه الله دَ توجيهاتونه هم په اخوا دي. ځكه چه دَحضرت ميمونه رضي الله عنها دَ روايت غرض خو صرف دَ سړي او ښځې په يولوښي سره دَغسل جواز بيانول دي نه چه دَ لوښي مقدار بيانول او په ترجمة الباب كښې مقدار ذكردې. نوبيا په حديث اوترجمة كښې ځنګه مطابقت كيدې شي.

بيا دَحافظ صاحب دا وينا كول چه حضرت عائشه رضي الله عنها حضرت ميمونه رضي الله عنها دواړه دَ حضورپاك ببيانې وې. دې نه دا معلوميږي چه دَ هغه اصول فن سره هډو مناسبت نشته. اودَدې دواړو دحضورپاك ببيانې كيدل مطلق په مقيدباندې محمول كولوسبب ځنګه كيدې شي؟ حالانكه اصل اوقاعده داده چه مطلق په خپل اطلاق باندې او مقيدپه خپل تقييد باندې جاري كيږي اومطلق په مقيدباندې محمول كولو صورتونه مخصوص دي كوم چه په خپل ځائې كښې ذكر دي.[۳]

دَ شيخ الاسلام زكرياانصاري رحمه الله رائې: شيخ الاسلام علامه زكريا انصاري رحمه الله ليكلي دي چه په دې حديث كښې دَ لوښي نه هغه لوښې مراددې په كوم كښې چه يوصاع اوبه راځي نوحديث به دَترجمه موافق شي.[۴]

دَحضرت شاه ولي الله رحمه الله رائې: حضرت شاه ولي الله رحمه الله رساله شرح تراجم ابواب صحيح البخاري كښې ليكلي دي: «ثالث أحاديث الباب لم يذكر فيه قدر الصاع، ووجه الاستدلال به ثبوت ذكره فيه بطريق آخر» [۵] يعني دَدې باب په دريم حديث كښې دَ صاع دَقدر تذكره نشته دې دَدې نه دَ استدلال وجه داده چه په دويم طريق سره دَدې تذكره ثابته ده. حضرت شاه ولي الله رحمه الله په دې توجيه كښې دكوم دويم طريق طرف ته اشاره فرمائيلې ده دَهغې باره كښې حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلي دي چه امام بيهقي رحمه الله دَ عبدالوارث بهز بن حكيم په طريق سره موصولاً روايت كړې دې.[۶]

دَ ډير لټون نه باوجود دَ عبدالوارث روايت معلوم نه شوالبته امام بيهقي رحمه الله دَحضرت ام هاني رضي الله عنها نه يوروايت نقل كړې دې: «اغتسل رسول الله صلى الله عليه وسلم وميمونة من إناء واحد قصعة فيها أثر العجين»

---

[۱] عمدة القاري:۳/۲۹۶.
[۲] فتح الباري لابن رجب الحنبلي:۱/۱٤۸.
[۳] فتح الباري:۲/٤۸۳.
[٤] تحفة الباري:۱/۲۲۱.
[۵] رسالة شرح تراجم أبواب صحيح البخاري:ص: ۱۸.
[۶] هدى الساري:۱/۲۵.

ږ). يعنې حضورپاك او حضرت ميمونه ﷞ په يولوښي يعنې قصعه (كاسه) سره په كوم كښې چه د اغړلی شوې اورو اثرات وو هغې سره غسل اوكړو.

د ابن ملقن رحمه الله رائې: ابن ملقن رحمه الله د امام بخاري رحمه الله دا حديث ((باب الغسل بالصاع ونحوه)) كښې د ذكركولووجه دا ليكلې ده چه حضورپاك اوعائشه ﷞ به په فرق نومې لوښي سره غسل كولو اوداخبره اول تيره شوې ده چه فرق د دريو صاع وى اوددې نيم د يونيم صاع برابر وى اوهغه د اتو رطل او يورطل د يوصاع نه لږ شان زيات وى نولكه چه په يوخائې به ئې غسل كولو نودهريوپه حصه كښې يوصاع يا ددې نه څه زياتې اوبه راتلې اوهم دغه دترجمة الباب مقصد دې.(²)

قال أبوعبدالله: كان ابن عيينة يقول أخيرا: عن ابن عباس عن ميمونة، والصحيح ماروا‌ه أبونعيم: يعنې امام بخاري رحمه الله اوفرمائيل، سفيان بن عيينه رحمه الله په خپل آخرى عمركښې داسې فرمائيل (دا روايت مروى دې) دابن عباس ﷞ نه، هغه دميمونه ﷞ نه (نقل كړې دې) اوصحيح هم هغه روايت دې كوم چه ابونعيم رحمه الله نقل كړې دې.

دتعليق غرض: دادامام بخاري رحمه الله د طرف نه په دريم حديث الباب باندې تعليق دې. دامام بخاري رحمه الله غرض ددې تعليق نه ددې باب دريم حديث (كوم چه دابونعيم نه روايت دې) د ابن عيينه رحمه الله دنورو شاګردانو په روايت باندې ترجيح وركول اوهغه په مسندات ابن عباس ﷞ كښې ګرځول دى.

د علامه كرماني رحمه الله او علامه عيني رحمه الله رائې: علامه كرماني رحمه الله اوعلامه عيني رحمه الله ليكلې دى چه امام بخاري په دې تعليق كښې ((قال ابن عيينه)) نه دى وئيلې بلكه ((كان ابن عيينه)) الفاظ ئې استعمال كړى دى دپاره چه په دې خبره باندې دلالت اوشى چه ابن عيينه رحمه الله به اخرى عمركښې استمرار سره د((ابن عباس عن ميمونة)) په طريق باندې روايت كولو. په دې تقديرباندې به دا روايت مسانيد حضرت ميمونه ﷞ نه شى او د مخكښې روايت بنياد باندې دا مسانيد ابن عباس ﷞ نه به وى. امام بخاري رحمه الله ددوارو روايتونونه د ابونعيم روايت صحيح ګرځولې دې اوباقى حضراتو دا د مسانيد ميمونه ﷞ نه ګرځولوته مرجوح وئيلې دى.(³)

دامام بخاري رحمه الله د ابونعيم رحمه الله روايت ته د ترجيح وركولو وجه: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه اكثرروات مذكوره روايت دحضرت ابن عباس ﷞ نه دحضرت ميمونه ﷞ زياتى سره نقل كړې دې كوم چه امام بخاري رحمه الله د ابن عيينه رحمه الله د آخرى عمر روايت ګرځولوسره مرجوح وئيلې دې. امام بخاري رحمه الله د محدثينو حضراتو ددې قاعدې مطابق د ابونعيم رحمه الله روايت ته ترجيح وركړې ده چه من جمله مرجحات كښې يوقدم سماع هم دې. په دې وجه په شروع عمركښې دشيخ حافظه قوى وى نو ابن نعيم رحمه الله هم د ابن عيينه رحمه الله د پخوانو شاګردانو نه دې اودهغه نه ئې هغه وخت روايت اوريدلې دې كوم وخت چه دهغه حافظه قوى وه.(⁴)

(¹) السنن الكبرى كتاب الطهارة باب التطهر بالماء الذى خالطة طاهر لم يغلب عليه:۷/۱

(²) التوضيح: ۵۵۸/۴.

(³) شرح الكرماني:۱۱۷/۳عمدة القاري:۲۹۳/۳.

(⁴) فتح الباري:۴۸۳/۲.

علامه ابن ملقن، علامه انصاري، علامه کوراني، علامه قسطلاني، علامه عيني، او شيخ الاسلام زکريا انصاري رحمهم الله ليکلي دي چه دَامام بخاري رحمه الله په شان دارقطني رحمه الله هم دَ ابونعيم رحمه الله روايت ته ترجيح ورکړې ده اودا ئي په مسانيد ابن عباس رضي الله عنهما کښې شمير کړې دې.[1] «وليس الأمر كما قالوا،سيأتي إن شاءالله». دغه شان علامه عيني رحمه الله دَ محدث اسماعيلي په حواله سره ليکلي دي چه هغه هم روايت دَ مسانيد ابن عباس رضي الله عنهما نه کيدوته ترجيح ورکړې ده. [2]حالانکه معامله ددې برعکس ده لکه چه وړاندې به راشي.

لامع الدراري کښې نقل يوه توجيه: لامع الدراري کښې ابونعيم رحمه الله دَ روايت دَ تصحيح په سلسله کښې حضرت گنگوهي رحمه الله طرف ته منسوب کولوسره دا توجيه ليکلې شوې ده چه اکثر روايات (کورنومعاملاتو او طهارت سره متعلق) دَحضرت ميمونه رضي الله عنها نه نقل دي. په دې وجه بعض حضرات دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه پس دَحضرت ميمونه رضي الله عنها واسطه زياتوي دا اضافه ځکه صحيح نه ده چه دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت په حضرت ميمونه رضي الله عنها باندې منحصر نه دې. لهذا دې خيال کولوسره دَهغې واسطه زياتول صحيح نه ده. دَدې دَپاره دا ضروري نه ده چه ذکرشوې روايت هم دَميمونه رضي الله عنها نه مروي وي حالانکه ابن عباس رضي الله عنهما دَ نورو ازواج مطهرات نه او نورو ډيرو صحابه کرامو رضي الله عنهم نه هم روايت کوي ممکن ده چه دا روايت هم دَهغوی نه علاوه دَ بل چانه وي.[3]

په دې توجيه باندې يونظر: دَحضرت گنگوهي رحمه الله طرف ته دا توجيه منسوب کول قابل تامل ده کيدې شي دَنقل اوتعبير څه فرق شوې وي. ځکه چه دَ امام بخاري رحمه الله مقصد صرف دَابونعيم رحمه الله روايت ته ترجيح ورکول دي دَ نورو حضراتو دَ روايت تغليط مقصودنه دې. دې نه علاوه په دې باره کښې محدثينو حضراتو زيربحث حديث دَ مسانيد ميمونه رضي الله عنها په حيثيت سره نقل کړې دې ددې ټولو طرف ته بلادليل اضافه کولو دَپاره صرف نسبت صحيح نه دې. والله اعلم بالصواب.

ترجيح امام بخاري رحمه الله اودَ نورو محدثينو رائې: دَامام بخاري رحمه الله نه علاوه نورو محدثينو اوشراح حديث زيربحث حديث دَ مسانيد ميمونه رضي الله عنها نه ګرځولې دې اوهغه شارحين دَدې يوڅو وجوهات هم بيانوي.

دَ ترجيح رومبې وجه: دَ مذکوره روايت مسانيد دَحضرت ميمونه رضي الله عنها نه دکيدو دَ ترجيح رومبې وجه داده چه سفيان بن عيينه رحمه الله نه په آخري عمرکښې دَحضرت ميمونه رضي الله عنها په واسطه سره روايت نقل کونکي په شميرکښې ډيرزيات دي اوهغوی ته دَ ابن عيينه رحمه الله طول صحبت هم حاصل دې.[4]

---

[1]) التوضيح: ٥٥٨/٤ الكوثرالجاري: ٤١١/١ إرشاد الساري: ٤٩٢/١ عمدة القاري: ٢٩٧/٣ تحفة الباري: ٢٢١/١.

[2]) عمدة القاري: ٢٩٧/٣.

[3]) لامع الدراري: ٢٠٨/١-٢٠٧ الكنز المتواري: ١٩٤/٣-١٩٣.

[4]) فتح الباري: ٤٨٣/٢. قال الحافظ أبوبكر محمد بن موسى الحازمي الهمداني: "الوجه الأول (أي من وجوه الترجيح) كثرة العدد في أحد الجانبين، وهي مؤثرة في باب الرواية، لأنها تقرب مما يوجب العلم وهو التواتر"..- الوجه الحادي عشر: (أي من وجوه الترجيح): أن يكون أحدالراويين أكثر ملازمة لشيخه، فإن المحدث قد ينشط تارةً فيسوق الحديث على وجهه، وقد يتكاسل في الأوقات فيقتصر على البعض، أو يرويه مرسلاً إلى غيرذلك من الأسباب". (الأعتبار في الناسخ والمنسوخ في الحديث: ١٣١، ١٣٧/١).

دويمه وجه دترجيح: حافظ ابن حجر، علامه عينى علامه قسطلانى اوعلامه كورانى رحمهم الله دَ محدث اسماعيلى رحمه الله نه يو بله دترجيح وجه هم نقل كړې ده. چنانچه دا حضرات فرمائى: ((ورجحها الإسماعيلي من جهة أخرى من حيث المعنى وهى كون ابن عباس لايطلع على النبى صلى الله عليه وسلم فى حالة اغتساله مع ميمونة، فيدل على أنه أخذه عنها))[1]

يعنى محدث اسماعيلى رحمه الله وغيره دَدې حديث مسانيد دَحضرت ميمونه رضى الله عنها نه دَكيدو يو معنوى وجه دترجيح هم بيان كړې ده هغه دا چه حضرت ابن عباس رضى الله عنهما پخپله خود حضورپاك حضرت ميمونه رضى الله عنها سره دَ غسل كولو كيفيت باندې خبريدې نه شى لهذا هغه به هم دَحضرت ميمونه رضى الله عنها نه اوريدو سره نقل كړې وى.

دريمه وجه دَ ترجيح: اكثرمحدثين دَ سفيان بن عيينه رحمه الله روايت دَحضرت ابن عباس رضى الله عنهما نه دَحضرت ميمونه رضى الله عنها په واسطه سره نقل كوى. چنانچه امام مسلم، امام نسائى، امام ابن ماجه، امام ترمذى رحمهم الله[2]امام شافعى،امام احمدبن حنبل،امام طحاوى،ابن ابى شيبه،حميدى، ابوعوانه، طبرانى، بيهقى او بزار رحمهم الله وغيره دا هم دَ ميمونه رضى الله عنها نه نقل كړې دي.[3] سفيان بن عيينه رحمه الله وائى چه اميرالمؤمنين فى الحديث امام شعبه رحمه الله ته دَدې حديث موصول كيدل (يعنى دَحضرت ميمونه رضى الله عنها نه روايت كيدل) خوښ وو.[4]

دَ ابن عيينه رحمه الله دَ اكثرشاګردانو روايت: محدث اسماعيلى رحمه الله په خپل صحيح كښې دَابن عيينه رحمه الله دَ هغه ټولو شاګردانو تذكره كړې ده چه دَ هغه نه مذكوره روايت دَحضرت ميمونه اضافه سره نقل كوى. دَهغوى په شاګردانو كښې مقدمى، ابوبكر بن ابى شيبه، عثمان بن ابى شيبه، عباس نرسى، اسحاق طالقانى، ابوخيثمه، سريج بن يونس، ابن منميع ، مخزومى، عبدالجبار، ابن بزاز،

---

[1]فتح البارى لابن رجب الحنبلى:١٣٣/١ فتح البارى للعسقلانى:٤٨٣/٢ إرشادالسارى:٤٩٢/١ الكوثرالجارى:٤١١/١.

[2] الحديث أخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الحيض، باب القدر المستحب من الماء فى غسل الجنابة وغسل الرجل والمرأة فى إناء واحد فى حالة واحدة، غسل أحدهما بفضل الآخر، رقم:٣٢٢، وأخرجه الترمذى فى سننه فى أبواب الطهارة، باب ماجاء فى وضوء الرجل والمرأة من إناء واحد، رقم: ٦٢، وأخرجه النسائى فى سننه فى كتاب الطهارة، باب ذكر اغتسال الرجل والمرأة من نسائه من إناء واحد رقم:٢٣٧، وأخرجه ابن ماجه فى سننه كتاب الطهارة وسننها، باب الرجل والمرأة يغتسلان من إناء واحد رقم:٣٧٧، انظرجامع الأصول، النوع الثامن فى اجتماع الرجل والمرأة على الإناء الواحد رقم:٥٠٤١ وانظر كذلك تحفة الأشراف رقم:٥٣٨٠.

[3] انظر مسندالشافعى (بترتيب السندى) الباب السابع فى أحكام الغسل:٣٩/١ رقم:١٠٨ ومسند الإمام أحمدبن حنبل:٣٨١/٤٤ رقم:٢٦٧٩٧ وشرح معانى الآثار للطحاوى، كتاب الطهارة باب س،ر بنى آدم:٢٥/١ رقم:٨٩ ومصنف ابن أبى شيبة، كتاب الطهارة باب فى الرجل والمرأة يغتسلان بماء واحد:٣٥٥/١ رقم:٣٧ ومسندالحميدى: ١٤٨/١ رقم:٣٠٩ والجمع بين الصحيحين للحميدى:٦٥/٢ رقم:١٠٦٣ ومسندأبى عوانة كتاب الطهارة باب الإجابة للرجل أن يغتسل بفضل ماء المرأة والاغتسال معها فى إناء واحد:٢٣٩/١ رقم:٨١٠-٨٠٩ والمعجم الكبير للطبرانى:٤٢٥/٢٣ وسنن الكبرى للبيهقى كتاب الطهارة باب فى فضل الجنب:١/١٨٨ ومسند البزار:١٣/٣: رقم:٥٢٦١، انظر كذلك هدى السارى:٢٥/١ تغليق التعليق:١٥٣/٢-١٥٢.

[4] مسندالحميدى:١٤٨/١ رقم:٣٠٩.

ابوهمام، ابومسوى انصارى، ابن وكيع، احمسى او ابن مهدى رحمهم الله وغيره مذكوره روايت دَ حضرت ميمونه رضي الله عنها نه نقل كړې دي.(١)

دَامام دارقطنى رحمه الله رائې: امام دارقطنى رحمه الله په خپل علل كښې ليكلې دى چه ابن عيينه رحمه الله مذكوره روايت دَ عمرو نه نقل كړې دې اودائى دَمسانيد حضرت ميمونه رضي الله عنها نه ګرځولې دې اودَدې تذكره ئې نه ده كړې چه دَ ابن عيينه رحمه الله دَ شاګردانونه دَهغوى په نقل كښې اختلاف پيداشوې دې.

(بس صرف دَحضرت ميمونه رضي الله عنها نه ئې روايت ذكر كړې دې)(٢)

دَ ابن رجب الحنبلي رائې: ابن رجب حنبلى رحمه الله تيره شوې دَ ترجيح وجه ذكركولونه پس دَامام بخارى رحمه الله دَ ابونعيم رحمه الله روايت ته ترجيح وركول وهم ګرځولې دې.(٣)

دَ دارقطنى رحمه الله دَ ترجيح وضاحت: داخبره اول راغلې ده چه دَ امام بخارى رحمه الله په شان دارقطنى رحمه الله هم دَ ابونعيم رحمه الله روايت ته ترجيح وركړې ده. اكثرشراح حديث دَهغوى طرف ته هم دغه منسوب كړې دى. دَ شراح داخبره قابل تامل ده ځكه چه امام دارقطنى رحمه الله دَ ابونعيم رحمه الله روايت ته ترجيح نه ده وركړې بلكه هغوى ليكلى دى ابن عيينه رحمه الله دَ عمرو نه دغه مذكوره روايت نقل كړې دې اوهغه دَ حضرت ميمونه رضي الله عنها نه روايت كوى. هغه دَ ابن عيينه رحمه الله دَ شاګردانودَاختلاف ذكرنه دې كړې البته دائى وئيلى دي چه ابن جريج رحمه الله دَ ابن عيينه رحمه الله مخالفت كړې دې اودَ عمرو بن دينار نه ئې روايت كړې دې هغه دَجابربن زيد رحمه الله نه هغوى دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم دَحضرت ميمونه رضي الله عنها نه پاتې شوې اوبوسره غسل كولو.

دَ ابن جريج والا روايت امام مسلم رحمه الله په خپل سندسره نقل كړې دې ليكن په هغې كښې عمرو بن دينار رحمه الله دَ جابربن زيد رحمه الله طرف ته نسبت كولو كښې متردد دې. لهذا په دې وجه دې ته دَ ا بن عيينه رحمه الله په روايت باندې ترجيح نه شي وركولې. كه چرې دَهغه حديث محفوظ اومنلې شي نوبيا هم دواړو (ابن عيينه رحمه الله او ابن جريج رحمه الله) دَ روايت په الفاظوكښې فرق دې. دَ ابن عيينه رحمه الله په روايت كښې دى چه حضورپاك او حضرت ميمونه رضي الله عنها به په يولوښى سره غسل كولو خودَ ابن جريج رحمه الله په روايت كښې دَ حضورپاك دَ حضرت ميمونه رضي الله عنها نه پاتې شوو اوبوسره دَ غسل كولوتذكره ده لهذا دواړه جدا جدا احاديث دى.(٤)

دَ حديث نه مستنبط شوى احكام: ① دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَ سړى اوښځې په يولوښى سره غسل كول جائزدى.(٥)

② حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلې دى چه دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَ امام بخارى رحمه الله په نيز عن فلان او إن فلاناً نه روايت يوشان نه دې.(١)

---

(١) فتح البارى لابن رجب الحنبلى:١٤٧/١.
(٢) العلل للدارقطنى، حديث أم المؤمنين ميمونة عن النبى صلى الله عليه وسلم:٢٥٩/١٥ رقم:٤٠٠٨، فتح البارى لابن رجب الحنبلى:١٤٧/١.س
(٣) فتح البارى لابن رجب الحنبلى:١٤٧/١.
(٤) العلل للدارقطنى، ٢٥٩/١٥ رقم:٤٠٠٨، فتح البارى لابن رجب الحنبلى:١٤٧/١.
(٥) عمدة القارى:٢٩٧/٣.

۴- باب: مَنْ أَفَاضَ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثاً

په سرباندې درې ځل اوبه بيهول[1]

ماقبل سره مناسبت: دَدې باب سابقه باب سره مناسبت بالکل واضح اوښکاره دې چه په دې کښې دَغسل او دَ هغې دَ هيئت بيان وو اودلته هم دَغسل اودَهغې هيئت بيانولې شی.[2]

دَ ترجمة الباب مقصد: پخوانوشراح حديث دَدې باب څه غرض نه دې بيان کړې البته زمونږ دَ اکابرينونه بعض حضراتو په دې باندې کلام فرمائيلې دې.

دَ شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله رائې: دَ شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله رائې داده چه امام بخاری رحمه الله دلته دَ يواهم اختلافی مسئلې طرف ته شاره فرمائيلې چه غسل کښې "دلك" فرض دې که نه؟ دَ مالکيه په نيزفرض دې او دَ جمهورو په نيز فرض نه دې. امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې لفظ "أفاض" لوستلوسره دَ جمهورو تائيدکړې دې. چنانچه شيخ الحديث رحمه الله فرمائی «لايبعد عند هذا العبد الضعيف: أن غرض الترجمة الإشارة إلى أن الدلك ليس بفرض، بل يكفی إسالة الماء خلافاً لمن أوجبه»[3]

يعنی دَ بنده ضعيف په نيز غرض دَ ترجمې دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چه په غسل کښې دلك فرض نه دې بلکه اوبه بهيول کافی دی په خلاف دَهغه خلقو چه دا واجب گرخوی.

شيخ الاسلام علامه شبيراحمدعثمانی رحمه الله رائې: شيخ الاسلام علامه شبيراحمدعثمانی رحمه الله دَدې باب دَغرض او مقصد باره کښې ليکلی دی چه داباب هم دَغسل په هيئت باندې مشتمل دې اودلته په غسل کښې درې ځل په سرباندې اوبو بهيولوذکردې. کوم چه دَ تکرار بالکل آخری حددې. دَ ترجمه مقصد دَ دريو شمير ثابتول دی يا صرف دَ استيعاب ثابتول مقصددې په کوم سره چه څه شك پاتې نه شی. غالباً دَامام بخاری رحمه الله مقصد دَ دريو شمير ثابتول نه دی بلکه استيعاب او دَ تکرار آخری حدبيانول دی.[4]

دَ تثليث في الغسل حکم: دَ حنفيه شافعيه اوحنابله په نيزپه غسل کښې تثليث مسنون اومستحب دې.[5] دَ عام مالکيه رائې داده چه تثليث مستحب نه دې. په کومواحاديثوکښې چه راغلی دی حضورپاك په خپل سرمبارك باندې درې ځل اوبه اچولی دی يانی چاته دَ دريوځلو اوبواچولوتلقين کړې دې نودَدې مقصدتکرارنه دې بلکه استيعاب دې. چونکه په يوځل اوبو اچولوسره سر پوره نه

---

[1] فتح الباری:۴۸۳/۲. ابن عبدالبر رحمه الله په دې خبره باندې اجماع نقل کړې ده چه دَجمهورو په نيز عن فلان او إن فلاناً دواړه برابر دی. په دې باره کښې دَنور تفصيل دپاره اوګورئی: علوم الحديث لابن الصلاح، النوع الحادی عشر، ص: ۷۲-۶۲ النکت علی کتاب ابن الصلاح لابن حجر العسقلانی النوع الحادی عشر:۶۰۳/۲-۵۹۰ النکت علی مقدمة ابن الصلاح للزرکشی النوع الحادی عشر ص: ۱۷۹-۱۷۰.

[2] عمدة القاري:۳/۲۹۷.

[3] الأبواب والتراجم لصحيح البخاری: ص:۶۰ الکنز المتواری:۱۹۴/۳.

[4] فضل الباری:۴۳۰/۲ تثليث فی الغسل سره متعلق څه بحث کتاب الغسل باب الوضوء قبل الغسل په رومبی حديث کښې ثلاث غرف لاندې تيرشوې دې.

[5] بدائع الصنائع:۲۶۹/۱ البحرالرائق:۹۳/۱ المنهاج:۲۳۵/۴-۲۳۴ المجموع:۱۸۵/۲ المغنی:۱۳۸/۱.

لميديرى په دې وجه حضورپاك درې ځل نبى او ګس طرف او په مينځ كښې دَ اوبو اچولو حكم فرمائيلې دې. چنانچه دَعلامه قرطبى قاضى عياض اوابن عربى رحمهم الله وغيره هم دغه قول دې.(۱)
شافعيه كښې ابوالحسن ماوردى رحمه الله دَ تثليث في الغسل قائل نه دې. (۲)اوعلامه ابوالحسن سندهى رحمه الله هم دَ استيعاب قائل دې دَ تثليث قائل نه دې.(۳)
علامه نووى رحمه الله ماوردى رحمه الله منفردګرځولوسره فرمائيلى دى چه دَ هغوى داقول ضعيف اومتروك دې.(۴) ابن ملقن رحمه الله فرمائى چه دادَ ماوردى رحمه الله تفردنه دې بلكه شرح الفروع كښې هم دغه خبره ابوعلى السنجى هم وئيلې ده.(۵)
علامه خليل مالكى رحمه الله فرمائى په سركښې تثليث دې په باقى بدن كښې نشته دې. لهذا باقى بدن لوندول كافى دى البته په سرباندې درې ځل اوبه اچول مستحب دى. دَابوبركات علامه درديرمالكى رحمه الله هم دغه مذهب دې. (۶)
دَ امام بخارى رحمه الله خيال: امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې «من أفاض على رأسه ثلاثاً» فرمائيلى دى «على بدنه» نه دى فرمائيلى. په دې سره دومره خو معلوميږى چه هغه په دې مسئله كښې دَ جمهورو هم خيال نه دې تثليث مستحب نه منى. اوس دَ امام بخارى رحمه الله په رائې كښې دوه احتمالات دى يا خودامام بخارى رحمه الله رجحان دَ علامه خليل مالكى دَ رائې طرف ته ګنړل پكاردى لكه چه هغه دَ تثليث رأس قائل دې اوتثليث في الغسل قائل نه دې. هم دَدې امام بخارى رحمه الله هم قائل دې. ليكن دَدې دا مطلب نه دې چه هغوى دَ علامه خليل مالكى رحمه الله متابعت كړې دې ځكه چه علامه خليل رحمه الله خودَ ډير روستو وخت سړې دې او امام بخارى رحمه الله دَ هغه نه دَ ډير وړاندې وخت سړې دې. يا داسې وئيلې كيدې شى چه امام بخارى رحمه الله «من أفاض» وئيلوسره دې خبرې طرف ته اشاره كړې ده چه په احاديثوكښې داكوم درې درې ځل دَ اوبواچول راغلى دى دا څه متعين صورت نه دې بلكه مقصود سرلوندول دى. كه دَ چا سر په رومبى ځل اوبه اچولوسره لوندشى نودادَهغه دَپاره كافى دى اوكه چاته دَ دې نه دَ زيات ضرورت پيښ شى نوهغه دې دَخپل سر لوندولودَپاره درې ځل يادَدې نه زياتې اوبه هم اچولې شى.
خلاصه دا چه كه چرې امام بخارى رحمه الله دَ استحباب تثليث فى الغسل قائل نه دې نودَ استحباب تثليث غسل رأس قائل دې. «كما هو رأي الخليل المالكي رحمه الله». ابن التين رحمه الله دَعلماؤنه نقل كړى دى چه دَدې حديث نه مراد يا خو تكرار فى الطهارة دې يادا تماميت دَ طهارت دَ پاره دې ځكه چه استيعاب دَ غسل دَپاره يوځل وينځل نه كافى كيږى. بعض حضراتو فرمائيلى دى چه تثليث مستحب دې البته په څومره سره چه اسباغ اوشى هغه جائزدى. (۷)

(۱) أوجزالمسالك:۴۹۹/۱عارضة الأحوذى:۱۵۸/۱-۱۵۷إكمال إكمال المعلم:۹۳/۱ شرح الزرقانى:۹۱/۱.
(۲) المنهاج للنووى:۲۳۵/۴ التوضيح لابن الملقن :۵۶۱/۴.
(۳) حاشية السندى على صحيح البخارى:۵۷/۱ حاشية السندى على النسائى:۱۳۶/۱.
(۴) المجموع شرح المهذب:۱۸۵/۲.
(۵) التوضيح: ۵۲۱/۴عمدة القارى:۲۹۹/۳.
(۶) الشرح الصغير مع الصاوى:۱۷۲/۱حاشية الدسوقى:۲۲۵/۱ جواهر الإكليل:۲۳/۱.
(۷) التوضيح لابن ملقن:۵۶۱/۴عمدة القارى:۲۹۹/۳.

ابن بطال رحمه الله فرمائی «والعدد فی ذلک مستحب عند العلماء، وما أسبغ وعمّ ذلک أجزأ» [1] یعنی په دې حواله سره عدد خودَعلماؤ په نیزمستحب دې البته په څومره سره چه هم تعمیم او اسباغ حاصله شی هغه جائزدی.

الحديث الأول

۲۵۴ - حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ صُرَدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي جُبَيْرُ بْنُ مُطْعِمٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَمَّا أَنَا فَأُفِيضُ عَلَى رَأْسِي ثَلَاثًا، وَأَشَارَ بِيَدَيْهِ كِلْتَيْهِمَا» [حديث باب] [2]

ترجمه: مونږ ته بیان کړو حدیث ابونعیم، اوونیل مونږ ته زهیر، هغوی دَ ابواسحاق نه اوهغوی اوونیل ماته سلیمان بن صرد بیان اوکړو ماته جبیر بن مطعم رضی الله عنه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو زه خو (په غسل کښې) په خپل سرباندې درې لپې (اوبه) بهیوم او رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ دواړو لاسونو په اشاره کولوسره اوخودل.

تراجم رجال

ابونعیم: دا مشهور محدث ابونعیم الفضل بن دکین الملائی الکوفی رحمه الله دې. دَدوی حالات کتاب الإیمان باب فضل من استبرألدینه دَ رومبی حدیث لاندې تیرشوی دی. [3]

زُهیر: دا زُهیر (تصغیرسره) بن معاویه بن حُدیج بن الرُحَیل بن زهیر بن خیثمه جعفی رحمه الله دې. دَدوی مفصل احوال کتاب الإیمان باب الصلاة من الإیمان دَ رومبی روایت په ذیل کښې تیرشوی دی. [4]

ابواسحاق: دا ابواسحاق عمرو بن عبدالله بن عبید سبعی کوفی رحمه الله دې. دَدوی تفصیلی حالات کتاب الایمان باب الصلاة من الایمان دَ رومبی حدیث لاندې تیرشوی دی. [5]

سلیمان بن صُرَد رضی الله عنه: دا سلیمان بن صرد (بضم المهملة وفتح الراء) [6] بن الجون بن ابی الجون بن منقذ بن ربیعة بن اصرم بن حرام بن حَبَشِیة (وقیل: أو حُبْشِیَة) بن سلول بن کعب بن عمرو بن ربیعة الخزاعی الکوفی رضی الله عنه دی. ابومطرف دَهغوی کنیت دې. [6]

---

[1] شرح ابن بطال: ۳۸٤/۱ عمدة القاري: ۲۹۹/۳ التوضیح: ٥٦۱/٤.

[2] الحدیث أخرجه مسلم فی صحیحه فی کتاب الحیض، باب استحباب إفاضة الماء علی الرأس وغیره ثلاثاً رقم: ۳۲۷ وأبوداؤد فی سننه فی کتاب الطهارة باب فی الغسل من الجنابة رقم: ۲۳۹ والنسائی فی سننه فی کتاب الطهارة باب ذکر مایکفی الجنب من إفاضة الماء علی رأسه رقم: ۲٥۱ وأیضاً فی کتاب الغسل والتیمم باب مایکفی الجنب من إفاضة الماء علی رأسه رقم: ٤۲٥ انظرجامع الأصول رقم: ٥۳۲۷ وانظر کذلک تحفة الأشراف رقم: ۳۱۸۶.

[3] کشف الباری: ۶۷۳/۲-۶۶۹.

[4] کشف الباری: ۳۷۰/۲-۳۶۷.

[5] کشف الباری: ۳۷٥/۲-۳۷۰.

[6] تقریب التهذیب ص: ۲٥۲ رقم الترجمة: ۲٥۷٤ فتح الباری: ٤۸٤/۲.

شرف صحابيت: دا صحابى رسول ﷺ دي.[٣] علامه ذهبى رحمه الله دي په صغار صحابه كښې شميرلي دي.[٤] ليكن علامه عسقلانى، عينى او قسطلانى رحمهم الله دي فاضل صحابه كرامو كښې شميرلي دي.[٥]

شيوخ حديث: سليمان بن صرد رضي الله عنه دَحضرت رسول اكرم ﷺ نه نيغ په نيغه او ابى بن كعب، على بن ابى طالب، جبير بن مطعم، حسن بن على رضي الله عنهم نه دَ حديث روايت كوى.[٦]

تلامذه: دَهغوى نه روايت نقل كونكوكښې ابواسحاق سبيعى، تميم بن سلمه، شقير العبدى، شمر، ضبثم الضبى، عبدالله بن يسار جهنى، عدى بن ثابت، ابوالضحى، مسلم بن صبيح، يحيى بن يعمر، ابوحنيفه والد عبدالاكرم بن ابى حنيفه او ابوعبدالله رحمهم الله وغيره شامل دى.[٧]

دَ ژوند حالات: دَ اسلام راوړلونه مخكښې دَ جاهليت په زمانه كښې دَ هغوى نوم يسار وو كله چه ئې اسلام قبول كړو اودَ حضورپاك په صحبت كښې شامل شو نو حضورپاك دَ هغوى نوم دَ يسار نه بدل كړو او سليمان ئې كيخودو.[٨]

هغوى رضي الله عنه دَ خپل قوم دَ اوچتې درجې معزز كسانو نه وو.[٩] حضورپاك چه كله دَدې دنيا نه تشريف يوړو نوحضرت سليمان رضي الله عنه دَ نورو مسلمانانوسره كوفه ته تشريف يوړو.[١٠] دَخطيب بغدادى وغيره په قول هغوى رضي الله عنه په بنوخزاعه كښې اوسيدلو. دې نه علاوه هغوى رضي الله عنه دَ مدائن او بغداد هم سفر اوكړو.[١١] ابن عبدالبر رحمه الله وغيره فرمائى «كان رضى الله عنه خيراً فاضلاً، له دين وعبادة»[١٢] يعنى هغوى رضي الله عنه بهترين فاضل متدين او عبادت گذار سړې وو. هغوى رضي الله عنه حضرت على رضي الله عنه سره په جنگ صفين وغيره كښې هم شريك شوې.[١٣]

---

[١] تهذيب الكمال: ١١/٤٥٥-٤٥٤ طبقات ابن سعد: ٤/٢٩٢ التاريخ الكبير: ٤/١ رقم الترجمه: ١٧٥٢ الجرح والتعديل ٤/١٢٠ تاريخ بغداد: ١/٢١٥ معرفة الصحابة: ٢/٤٦١ تاريخ الإسلام: ٢/٤١٢ سير أعلام النبلاء: ٣/٢٩٤ تهذيب التقريب: ٤/٢٠٠ الإصابة: ٢/٧٥

[٢] طبقات ابن سعد: ٤/٢٩٢ تاريخ بغداد: ١/٢١٥

[٣] معرفة الصحابة: ٢/٤٦١ الإصابة: ٢/٧٦ تاريخ الإسلام: ٢/٤١٢ سير أعلام النبلا: ٣/٢٩٤.

[٤] تاريخ الإسلام: ٢/٤١٢.

[٥] فتح البارى: ٢/٤٨٤ عمدة القارى: ٣/٢٩٧ إرشاد السارى: ١/٤٩٣.

[٦] الإصابة فى تمييز الصحابة: ٢/٧٦ تاريخ الإسلام: ٢/٤١٢ تهذيب الكمال: ١١/٤٥٥ سير أعلام النبلاء: ٣/٣٩٤ تهذيب التهذيب: ٤/٢٠٠

[٧] معرفة الصحابة: ٢/٤٦١ الإصابة: ٢/٧٦ تهذيب الكمال: ٤٥٦-١١/٤٥٥ الجرح والتعديل: ٤/١٢٠.

[٨] تاريخ بغداد: ١/٢١٥ الإصابة فى تمييز الصحابة: ٢/٧٦ تهذيب الكمال: ١١/٤٥٦-٤٥٥ تهذيب التقريب: ٤/٢٠٠.

[٩] الاستيعاب فى أسماء الأصحاب على هامش الإصابة: ٢/٦٤ تاريخ الإسلام: ٢/٤١٣ تاريخ بغداد: ١/٢١٥

[١٠] طبقات ابن سعد: ٤/٢٩٢ تهذيب الكمال: ١١/٤٥٦ الاستيعاب: ٦٤-٢/٦٣.

[١١] تاريخ بغداد: ١/٢١٥ الاستيعاب فى أسماء الأصحاب على هامش الإصابة: ٢/٦٣ تهذيب الكمال: ١١/٤٥٦.

[١٢] الاستيعاب فى أسماء الأصحاب على هامش الإصابة: ٢/٦٣ تهذيب الكمال: ١١/٤٥٦ تهذيب التهذيب: ٤/٢٠٠.

[١٣] طبقات ابن سعد: ٤/٢٩٢ تهذيب التهذيب: ٤/٢٠١ الاستيعاب: ٢/٦٤ الإصابة: ٢/٧٦ معرفة الصحابة: ٢/٤٦١ تهذيب الكمال: ١١/٤٥٦.

وفات: هغوى رضي الله عنه ۶۵ هجرى دَ ربيع الاول آخرى ورځوكښې دَ "عين ورده" په مقام باندې شهيد كړې شو. هغه وخت دَهغوى رضي الله عنه عمر ۹۳ كاله وو.(۱) ابن حبان كتاب الثقات كښې ليكلى دى چه هغوى دَ عين ورده په مقام دَ رمضان المبارك په مياشت ۶۷ هجرى كښې شهيد كړې شو.(۲)ليكن دا خبره صحيح نه ده. حافظ ابن حجر رحمه الله وغيره ليكلى دى چه "والأول أصح وأكثر" يعنى ۶۵ هجرى كښې دَ هغوى وفات اكثر مؤرخينو نقل كړې دې اوهم دغه قول اصح دې.(۳)

دَ حضرت سليمان بن صرد رضي الله عنه سره متعلق دَ تاريخى رواياتو جائزه: دَ تاريخ په كتابونوكښې په عام توګه هرقسم روايات سندونوسره جمع كولې شى. تنقيح اوتحقيق نه شى كولې. دَدې رواياتو تنقيح او تحقيق دَ فن دَماهرينو په ذمه وى. بغيرتنقيح اوتحقيق په دې رواياتوباندې قبوليت اوعدم قبوليت حكم لګول صحيح نه دى. چنانچه طبرى رحمه الله په تاريخ الأمم والملوك المعروف بتاريخ طبرى مقدمه كښې ليكلى دى چه ما په دې كتاب كښې دَ سلف سره متعلق چه كوم اخبار (روايات) نقل كړى دى كه چرې قارى دا ناخوښه اوګرځوى يا سامع دا په طعن اوتشنيع باندې محمول كړى په دې وجه چه دَدې رواياتو صحيح توجيه هم نه شى كيدې اونه دَدې رواياتوحقيقت سره څه تعلق دې نوهغه حضرات دې په دې خبره پوهه شى چه دا (ناخوښه او دَ طعن اوتشنيع والا روايات) زمونږ دَ طرف نه نه دى بلكه دادَ بعض ناقلينودَ طرف نه دى مونږ خودَ دغه ناقلينو بيان كړې شوى روايات (دَهغوى سندسره) نقل كړى دى.(۴)حضرت سليمان بن صرد رضي الله عنه په حواله سره هم دَ تاريخ كتابونه خاص كر

(۱) تاريخ بغداد:۲۱۵/۱ طبقات ابن سعد: ۲۹۳/۴-۲۹۲ تاريخ الإسلام:۱۳/۲ ۴الإصابة:۷۶/۲ الاستيعاب: ۶۴/۲تهذيب الكمال: ۴۵۶/۱۱ سير الأعلام النبلاء: ۳۹۵/۳ معرفة الصحابة:۴۶۱/۲.

(۲) كتاب الثقات:۳۳۰/۱ رقم الترجمة: ۵۲۹ تهذيب الكمال:۴۵۷/۱۱ تهذيب التهذيب:۲۰۱/۴.

(۳) تهذيب الكمال:۴۵۷/۱۱ تهذيب التهذيب:۲۰۱/۴.

(۴) اوګورئى تاريخ الأمم والملوك بتاريخ طبرى، خطبة الكتاب ۱۱/۱.

دكتور خالد علال كبير "مدرسة الكذابين فى رواية التاريخ الاسلامي وتدوينه" ۶۸/۱-۶۷ كښې دَعلامه طبرى رحمه الله دَدې طرزعمل متعلق ليكلى دى چه زما په نيز هغوى دا (يعنى تحقيق اوتمحيص نه بغير صرف دَ سندسره روايات ذكركولوسره) يوناقص كاركړى دې اودغه تولو رواياتوهغه پخپله ذمه وار دې كوم چه هغه په خپل تاريخ كښې مدون كړى دى. هغوى عمداً دَ دروغژنو راويانو په كثرت سره روايات نقل كړى دى او په هغې باندې ئې سكوت يعنى خاموشى اختياركړه. دا ډيره خطرناكه معامله ده چه روستو دَ راتلونكو ډيرو نسلو دپاره دَ ګمراهئى سبب جوړ شوې دوى (يعنى علامه طبرى رحمه الله) له پكاروو چه هغودى دَ دغه دروغژنو راويانوبغيرد څه ضرورت نه تذكره نه كوله يائى په هغوى باندې نقد كولې اودَ دغه رواياتو جانچ پړتال ئى كولې. صرف دهغوى په اسانيدباندې اكتفا كولوسره ئى سكوت نه وې اختياركړې.

ډاكټرصاحب نور ليكلى چه (دَ رواياتو جانچ پړتال او نقدكول په دې وجه ضرورى وو) ځكه چه دَهغوى كتاب (تاريخ طبرى) مطالعه كونكوكښې غالب اكثريت دَهغه خلقو دې په چاكښې چه دومره علمى صلاحيت نه وى چه هغوى په دغه رواياتو باندې دَ سند اومتن په اعتبارسره نقد اوكړې شى نوځه به هغوى دَ دې نه استفاده كونكى، حديث تاريخ او نورو علوموكښې متبحركيدلې نوبيا داخبره فيصله شوې وه چه هغوى دَ نقد اوتمحيص عمل سرته رسولې.

ډاكټرصاحب نور ليكى چه دا معامله ددې نه هم نوره سخته كړې دې خبرې چه دَ طبرى نه پس راتلونكى اكثر مؤرخينو دَ قرون ثلاثه باره كښې دهغوى نه په كثرت سره روايات نقل كړى دى او اكثر ئى بغيرد سند نه نقل كړى دى. لكه ابن جوزى په منتظم كښې، ابن الاثير الكامل كښې او ابن

تاريخ طبری[1] دابن اثير جزری "الكامل"[1] اودَدي دواړو نه نقل شوي دَ ابن كثير "البداية والنهاية"[2]. وغيره[3] كښې چه كوم روايات ذكر دی دَهغې څه حصه په كتب رجال كښې هم نقل كړې شوې ده.[4]

كثير البدايه كښې كړی دی. او دغه شان بغيردَ سند نه نقل كولو سره دَ ثقه او دروغژنو راويانو روايات ګډود شو. اكثر وختونوكښې تاريخ طبری طرف ته مراجعت كولونه بغير په دې كښې تميز مستحيل كيږی. په دې وجه د فن دماهرينو دَ اقوالو په رڼاكښې حضرت سليمان بن صرد رضي الله عنه سره متعلق دَ تاريخی رواياتو جائزه اخستل ضروری دی.

[1]) اوګورئی تاريخ الطبری: ۳/۲۷۷، ۳۹۰، ۴۲۰-۴۰۵، ۳۹۷-۳۹۱ صرف دَ اهل علم دَ پاره په توګه دَ نمونې دَ ابومخنف خانه ساز دَ يوخط تذكره كوو كوم چه هغه دَ سليمان بن صرد رضي الله عنه طرف ته منسوب كړې دې. طبری ۳/۲۷۷ اوابن الاثير: ۳/۲۸۵ بغيردَ څه نقد او تمحيص نه نی هغه نقل كړې دې د خط الفاظ دادی: "للحسين بن علی من سليمان بن صرد والمسيب بن نجبة، ورفاعة بن شداد، وحبيب بن مظاهر، وشيعته من المؤمنين والمسلمين من أهل الكوفة: سلامٌ عليك. فإنا نحمدإليک الله الذی لاإله إلا هو. أما بعد. فالحمدلله الذی قصم عدوّک الجبّار العنيد الذی انتزی علي هذه الأمة فابتزّها، وغصبها فيئها، وتأمر عليها بغير رضاً منها، ثم قتل خيارها، واستبقي شرارها وجعل مال الله دُولةً بين جبا برتها وأغنيائها، فبعداً له كما بعدَتْ ثمود! إنه ليس علينا إمام فأقبل، لعلّ الله أن يجمعنا بک علي الحق". اه.داخانه ساز خط اولولئی او دَ لږ شان وخت دَپاره غور اوفكر اوكړئی آيا يوصحابی دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم بل صحابی دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته داسې ناروا بې هوده اوظالمانه اندازسره متهم كولې شی. كوم چه نه صرف دَ نقل خلاف دې بلكه دعقل هم.

ضرورت ددې امر دې چه دا لاتدينی امور رِو بعمل راوړلوسره دَ تاريخ اسلام تدوين جديد اوكړې شی: ① اعتدال سره دَ دغه ټولو مؤرخينو دَ كتابونونه په ثقه او دروغژنو راويانو په روايتونوكښې تميز اوكړې شی چا چه په خپلو كتابونوكښې دواړه قسمه رواياتوته ځائې وركړې دې. لكه خليفه بن خيام، محمدبن سعد، زبير بن بكار، موسی بن عقبه، وهب بن منبه، طبری او ابن اثير وغيره. ② داخبره هم په ذهن كښې ساتل پكاردی چه علماء رجال ومحدثين عظام دَ نقد تحقيق اوتمحيص نه پس دَ احاديثو په ذخيره كښې موجود په سوونو نه بلكه په زرګونو لكهونو احاديثونه صحيح اوسقيم او ضعيف او موضوع وغيره تعيين كړی دې خوزمونږ تاريخی ورثه ددې نه لمن رانېكلې ده.

③ ضرورت ددې امر دې چه دَتاريخی كتابونو په ټولو قواعدو اوضوابطوپه رڼاكښې دَ سند اومتن په اعتبار سره نقد اوتمحيص او تحقيق اوكړې شی كوم چه محدثين علماء رجال بيان كړی دی.

④ په خلقوكښې ددې خبرې شعور پيداكړې شی چه دَتاريخ فلانكې فلانكې راوی او روايت قابل اعتبارنه دې د هغې نه ډډه اوكړی او په صحيح او ثقه رواياتو باندې اكتفاء اوكړې شی.

⑤ په دې خبره كښې هم تفريق ضروری دې چه مؤلف اوصاحب دَ تاريخ پخپله خو ثقه دې مګر هغه په واقعاتو او نقل دَ رواياتوكښې په دروغژنو راويانو اعتماد كړې دې. لكه څنګه دَ مؤرخ طبری حال دې. نو په دې صورت كښې به دهغه صرف د ثقه راويانو والا روايتونه مقبول وی. دَ دروغژنو راويانو روايتونه به مردود ګرځولې شی.

⑥ اوكه چرې مؤلف پخپله كذاب وی نو بيا دَهغه په كتاب كښې به موجوددَ ثقه خلقو روايات هم غيرمعتبروی.

⑦ اصل اوضابطه دَ دروغژنو راويانودَ روايتونو عدم قبوليت دې خوكه دَهغوی روايات دَ قرآن سنت او اجماع دَ امت مخالف نه وی نوځ ثقه راويانو تائيد او نور قرائن اومرجحاتو په موجودګئی كښې به دهغې دَ قبلولو ګنجائش وی.

⑧ دَ تاريخ په مطالعه كولوسره داخبره هم واضحه شوې ده چه دَ دغه دروغژنو راويانو تعلق دَمختلف ګمراه فرقو اوعلمی حلقوسره دې چاچه دَ خپلو نظرياتو او عملی مزعوماتو دَ تائيد او ترويج او

چه حضرت سليمان بن صرد رضي الله عنه دَهغه خلقو نه وو چه حضرت حسين رضي الله عنه ئې كوفه ته دَ رابللو دَپاره خطونه ليكلي وو دَهغوی په تشريف راوړلوباندې ئې هغوی ځان له پريخودل دَهغوی دَامداد نه شاته شو. دَهغوی په شهادت باندې خپيمانه شو نو يولښكر جوړلوسره ئې دَ بدله اخستلو دَپاره عبيدالله ابن زياد سره جنګ اوكړو وغيره وغيره.

دَ تاريخ دَ كتابونودا ټول روايات كوم چه دَ سليمان بن صرد په حواله سره دي په هيڅ قسم باندې من اوعن نه شي منلې كيدې. لهذا چه كله دَدې قسم رواياتو دَ حقيقت پيژندګلودپاره دَ تاريخ كتابونو او بيا دَ كتب رجال طرف ته مراجعت اوكړې شو نوداخبره واضحه شوه چه په دې كښې اكثر روايات دَ ابومخنف لوط بن يحيى دَ ځان نه جوړكړې دي.

ابومخنف دَ جرح اوتعديل په تله كښې: لوط بن يحيى ابومخنف باره كښې ائمه دَ جرح اوتعديل اقوال اوګورئې: علامه ذهبي رحمه الله اوعلامه ابن حجر رحمه الله وائي "أخباري، تالف، لايوثق به"(٥) ابوحاتم وغيره هغه ته متروك الحديث وئيلي دي. يحيى بن معين رحمه الله فرمائي: "ليس بثقة"، "ليس بشيء".(٦) عقيلي رحمه الله ضعفاء كښې تذكره كړې ده.(٧)ابوعبيدآجري وائي چه ما دَ امام ابوداؤد رحمه الله نه دَ ابومخنف باره كښې پوښتنه اوكړه نوهغه خپل لاسونه اوڅنډل اوونې فرمائيل چه آيا څوك دَدې باره كښې هم پوښتنه كوي يعنى هغه دَ دې قابل نه دې چه دَهغه باره كښې پوښتنه اوكړې شي.(٨)

ابن عراق كناني رحمه الله فرمائي "كذاب تالف"(٩) ابن عدي رحمه الله فرمائي: "شيعي محترق، صاحب أخبارهم".(١٠) بعض خوتردې پورې ليكلي دي امامي شيعه وو.(١١) ابن جوزي رحمه الله هم ورته كذاب وئيلې دې. (١٢)

ابومخنف دَ شيعه مؤرخينو په نظركښې: شيعه مؤرخين خاص كر دَ كتب رجال مصنفين، محسن امين، شرف الدين، آغا بزرګ طهراني، عباس قمي، محمد مهدي طباطبائي، خوئي، خاقاني، نجاشي، حلي او طوسي وغيره دَ ده تذكره په خپلو كتابونوكښې دَ شيعه مؤرخ په توګه كړې ده. بلكه

دنياوي مفاداتودَحاصلولودپاره په رسول الله صلى الله عليه وسلم اوپه صحابه كرامو رضي الله عنهم باندې ډير زيات دروغ وئيلي دي. دَنور تفصيل دپاره اوګورئې "مدرسة الكذابين في رواية التاريخ الإسلامي وتدونيه" والله اعلم بالصواب

(١) الكامل في التاريخ:٣/٣٨٥، ٤٩٠-٣٨٦، ٣/١٢-٣.

(٢) ٢/٢٥٥-٢٥٨

(٣) تاريخ بغداد: ٢١٦-١/٢١٥.

(٤) الاستيعاب: ٢/٦٤ الإصابة:٢/٧٦ تهذيب الكمال:١١/٤٥٦ سيرأعلام النبلاء:٣/٢٩٥ طبقات ابن سعد:-٤/٢٩٢ ٢٩٣ كتاب الثقات:١/٣٣٠.

(٥) لسان الميزان:٥/٥٦٧ ميزان الاعتدال:٣/٤١٩.

(٦) الضعفاء الكبير:٤/١٨لسان الميزان:٥/٥٦٨.

(٧) حواله سابقه دَ نور تفصيل دپاره اوګورئې: سيرأعلام النبلاء:٧/٣٠٢ الضعفاء والمتروكين، ص:٣٣٣ ميزان الاعتدال:٣/٤٢٠ المغني في الضعفاء: ٢/٢٣٤.

(٨) لسان الميزان:٥/٥٦٨.

(٩) تنزيه الشريعة:١/٩٨.

(١٠) الكامل في ضعفاء الرجال:٦/٩٣لسان الميزان:٥/٥٦٨.

(١١) الأعلام لخير الدين الزركلي:٥/٢٤٥.

(١٢) الموضوعات:ص:٤٠٦.

دَ ده شميرنى په لويو اواكابر شيعه مؤرخينوكښې كړې دى. (١)دې نه علاوه صاحب دَ "الفوائد الرجاليه" طباطبائى خوتردې پورې ليكلى دى چه (ابومخنف) په شيعه كيدوكښې دَ چا شك نشته دې لكه چه دَ اصحاب معاجم يوجماعت دَدې تصريح كړې ده. (٢)

په مشاجرات صحابه باندې دَ ځان نه جوړشوې كتابونو تصنيف: دا ابومخنف هغه بدبوئى داره شيعه مؤرخ دې چا چه په خيرالقرون كښې پيښيدونكى ټول اهم واقعات، سقيفه بنوساعد كښې بيعت ابوبكر ﷺ، شورىٰ (خلافت سره متعلق دَحضرت عمر ﷺ قائم كړې شوې شورىٰ)، مقتل عثمان ﷺ، مقتل على ﷺ، جنګ جمل وصفين، مقتل حسين ﷺ، وفات معاويه ﷺ او ولايت يزيد، مقتل عبدالله بن الزبير ﷺ او سليمان بن صرد ﷺ اودَ عين ورده په نوم سره مستقل دَ ځان نه كتابونه ليكلى دى. (٣)

مشهور مستشرق اې بل "دائره معاف اسلاميه" كښې دَدې خبرې تصريح كړې ده چه ابومخنف په قرن اول كښې ښكاره كيدونكى واقعاتوپه تاريخ كښې ٣٢ رسالې ليكلى دې دكوم اكثر حصه چه طبرى نقل كړې ده البته دَ ابومخنف كوم كتابونه چه موږ ته رسيدلى دى هغه دَ متاخرين (شيعه) وضع كړې شوى دى. (٤)

---

(١) أعيان الشيعة: ص:١٢٧، أعلام الشيعة:١٦/١ لاكنى والألقاب: ١٤٨/١ فهرست أسماء مصنفى الشيعة للنجاشى ص:٢٢٥-٢٢٤ الفهرست للطوسى:٢٠/٢ الفوائد الرجالية لبحر العلوم: ٣٧٩/١-٣٧٥ الكنى والألقاب ١٦٩/١ المراجعات:٢١/٢ حلية الأبرار: ١٤٦/٤رجال الطوسى:٤٥٩/١ رجال النجاشى:٣٢١/١ معجم الأبرار:١٤٦/٤ رجال الخاقانى:١٧٧/١ معجم رجال الحديث ١٣٨/١١-١٣٦ الاحتجاج للطبرسى:٤٥٦/١ الذريعة:٢٩٤/٦خلاصة الأقوال:٣٨٩/١ نقدالرجال:١٤١/٧-١٤٠.

(٢) الفوائد الرجالية:٣٧٩/١.

(٣) فوات الوفيات لمحمد بن شاكر، ص:٢٢٥، الأعلام للزركلى:٢٤٥/٥ الفهرست لابن النديم ص:١٠٦-١٠٥، معجم الأدباء: ٢٧٠/٦ معجم المؤلفين:١٥٧/٨.

(٤)الأعلام للزركلى:٢٤٥/٥ابومخنف باره كښې مشهور مستشرق جوليئس والهاوزن (J.Welhausen) په خپل شهره آفاق كتاب (The Arab Kingdom and its Fall) كښې ليكلى دى تركومې چه دَ شيعه ګانو دتاريخ تعلق كوفې سره پاتې دې ابومخنف دَهغې مستند ترين ماخذ پاتې دې اودهغه حالات اوواقعات كه هرڅومره اورده ولې نه وى طبرى عموماً دَ ابومخنف نه علاوه په بل چا باندې اعتماد نه كوى. نور ليكي د توابون د خبرونو راوى هم ابومخنف دې هغه خاص كر دَ حميد بن مسلم ازدى نه روايت كړې دې دا سړې د سيدنا حسين ﷺ په قتل كښې شريك وو. روستو دهغه د ټولو نه بهادر حاميانو كښې شو. (عهد اموى كښې سياسى مذهبى احزاب، از: پروفيسر ډاكټر على محسن صديقي (كراچي يونيورسټى) باب اول ص:١٢، ٧١ قرطاس كراچي يونيورسټى ط:١٤٢٧ هجرى٢٠٠٧م) دكتور عبدالمعطى امين قلعجى الضعفاء الكبير تعليقات كښې ليكلى دى چه مستشرقين ابومخنف ته ډير اهميت وركړې دې. اودَهغه كتابونه ئې لاس په لاس اخستى دى او په هغې باندې تحقيق كولوسره چهاپ كړل. دې د پاره چه دَ هغې په ذريعه هغه زموږ تاريخى او ادبى ورثه متهم كولو خپلوكوششونود پاره څه لار اولټوى اودَ شريعت اسلامى مصدر ثانى يعنى د نصوص سنت په نقل كولوكښې كوم ثقاهت او اعتماد موندلې شى هغې ته نقصان اورسولې شى، دابومخنف اكثر مؤلفات جرمنى اوهالينډ كښې چهاپ كړې شوى دى. (تعليقات الدكتور عبدالمعطى امين قلعجي على الضعفاء الكبير:١٩/٤).

عباس قمی شیعي په الکنیی والالقاب کښې دَ ابومخنف باره کښې لیکلی دی: "کان أبومخنف من أعاظم مؤرخي الشيعة، ومع اشتهار تشيعه اعتمد عليه علماء السنة في النقل عنه كالطبري وابن الأثير وغيرهما" (۱) یعنی ابومخنف دَ لویو شیعه مؤرخینونه وو، دَهغه مشهور شیعه کیدو نه باوجود علماء دَ اهل سنت نه طبری او ابن اثیر وغیره دَ هغه نه روایات نقل کولو کښې په هغه باندې اعتماد کړې دې.

دَ ابن کثیر رحمه الله وضاحت: حافظ ابن کثیر رحمه الله دَ طبری وغیره نه دَ ابومخنف روایات نقل کولو نه پس په لیکلو باندې مجبورشوې: "وللشيعة والرافضة في صفة مصرع الحسين كذب كثير وأخبار باطلة، وفيما ذكرنا كفاية، وفي بعض ما أوردناه نظر، لولا أن ابن جرير وغيره من الحفاظ والأئمة ذكروه ما سقته، وأكثره من رواية أبي مخنف لوط بن يحيى، وقد كان شيعياً وهو ضعيف الحديث عند الأئمة، لكنه أخباري حافظ عنده من هذه الأشياء ماليس عند غيره. ولهذا يترامى عليه كثير من المصنفين في هذا الشأن". (۲)

یعنی اهل تشیع او رافضیانو دَ شهادت حسین رضی الله عنه سره متعلق ډیرزیات دروغ ونیل او بې بنیاده خبرې دی. مونږ چه کوم ذکر کړل په هغې کښې کفایت دې اوزمونږ ذکرکړې شوې بعض څیزونه قابل اشکال دی. که چرې ابن جریر او طبری وغیره په شان ائمه حفاظ دا نه ذکرکولی نومونږ به هم دا روایات نه راوړل.اودا اکثر دَ ابومخنف روایتونه دی چه یقیناً شیعه دې اودَ ائمه حدیث په نیز ضعیف دې لیکن اخباری (صحافی) او حافظ دې. اوهغه سره په دې حواله باندې داسې څیزونه دی کوم چه نورو سره نشته دې. لهذا روستنو اکثرمصنفینو (دَدې روایاتو) باره کښې دَابومخنف نه په نقل کولوباندې اکتفاء کړې ده.

دَ ابن عدی رحمه الله صراحت: ابن عدی رحمه الله صراحت کړې دې چه دَ ابومخنف هیڅ یو روایت دَ اعتبارقابل نه دې ټول بدبودار او بې هوده روایتونه دی او هیڅ لړې خبره نه ده چه بدبخت به دَ سلف صالحین سپکاوې کوی. چنانچه فرمائی: "حدث بأخبار من تقدم من السلف الصالحين ولا يبعد منه أن يتناولهم وهو شاعي (شيعي) محترق صاحب أخبارهم وإنما وصفته لا يستغني عن ذكر حديثه، فإني لا أعلم له من الأحاديث المسندة ما أذكره، وإنما له من الأخبار المكروهة الذي لا أستحب ذكره" (۳)

یعنی ابومخنف دَمتقدمین سلف صالحین باره کښې خبرونه نقل کوی اودَ هغه نه لرې نه ده چه هغه دَدوی سپکاوې کوی، دا بدبودار او شیعه دَهغوی مؤرخ دې. ما څکه دَهغه ذکرکړې دې چه دَهغه دَاحادیثو دَ ذکرنه استغناء نشته. زما په علم کښې دَهغه هیڅ داسې صحیح روایت نشته کوم چه زه ذکرکړم، البته دَهغه هغه ناخوښه بدبوداره روایتونه دی کوم چه زه ذکرکول نه خوښوم.

دَ بحث خلاصه: په دې ټولو تصریحاتوسره دا خبره بالکل دنمر په شان ښکاره اوواضحه شوې ده چه ابومخنف یوبدبوداره شیعه امامی مؤرخ دې. چه په اتفاق سره دَټولو ائمه حدیث اورجال په نیز یوناقابل اعتبار او دروغژن سړې دې. بلکه دَابن عدی رحمه الله په قول دا سړې دَ سلف صالحین واقعات ذکرکولوسره دَهغوی سپکاوې کوی. چنانچه کومو تاریخ دانانوچه خپلو اسنادوسره خاص کر طبری او ابن اثیر وغیره چه بغیردَ څه تنقیح اوتحقیق دا قسم بدبوداره شیعه او امامي او دروغژن سړی بې

---

(۱) الكنى والالقاب: ۱۶۹/۱.

(۲) البداية والنهاية: ۲۰۹/۸.

(۳) الكامل في ضعفاء الرجال: ۹۳/۶.

بنیاده روایتونه په خپلو کتابونوکښې په کثرت سره نقل کړی دی. ضرورت ددې خبرې دې چه حضرات صحابه کرام ﷺ سره متعلق یوداسې روایت مخې ته راشي په کوم کښې چه اشارتاً کنایتاً یا په هرقسم طریقه سره دهغوی په شان کښې د گستاخئی یا تنقیص اړخ راوځي نوهغه په پټوسترگو نقل کول یا په هغې باندې په ړندو سترگو اعتماد کولو په ځائې دهغې تنقیح اوتحقیق کول پکاردی. دې دپاره چه دابومخنف غوندې بدبخت شیعه مؤرخ په صحابه کرامو ﷺ باندې دختو اچولو منحوس نامبارك او نامسعودغلطې منصوبې کښې ناکام او نامراد شی.(١)

---

(١) اسلامي تاریخ اوددې راویانومتعلق یوڅو علمي او فکری امورو رعایت ډیر ضروری دی. دې دپاره چه دتاریخ د مطالعه دوران کښې د دغه غلطیانونه ځان اوساتلې شی کوم چه اهل زیغ اوضلال اود جاده مستقیم نه د گمراه خلقو خاصه دد. چنانچه دا خبره دې واضحه وی چه کله یوقوم اوقبیله پارټې او جماعت حکومت ختم کړې شی او دویم قوم اوجماعت په اقتدار باندې قابض کیږي نودخپلو وړاندینو حکمرانانو ټول ښه خویونه اومحاسن اوتعمیری کارونه هم په خامیانو بدو او تخریب سره تعبیرکولودپاره پوره حکومتی مشینری یوځائې کوی اوزور لگوی. په اسلامي تاریخ باندې نظر اچولوسره معلومیږي چه دحضرت حسن ﷺ حضرت امیرمعاویه ﷺ سره دمصالحت نه پس تقریباً د ۱۳۲ هجری پورې دبنو امیه حکومت وو. ددې نه پس ۱۳۲ هجری په موافقت د ۷۴۹ء د بنوعباس یوسړی ابوالعباس سفاح د بنو امیه حکومت ختمولوسره د بنو عباس حکومت قائم کړو اواخیره هم بالکل ښکاره ده چه دخاندانی اوقبائلي تعصباتو لاندې داخلق د بنو امیه سخت خلاف وو. لکه چه روستو راتلونکی حکومت د مخکښنی حکومت خلاف وی.
ددې فطری او نفسیاتی ضابطه لاندې تاریخ اسلام د تدوین په زمانه کښې هم دغه شان صورت حال مخې ته شو. چنانچه په دویمه صدئې هجرئی کښې د بنوعباس په دورکښې عموماً د تاریخ دتدوین شروع اوشوه نو مؤرخینو په عام توگه تاریخي واقعات مرتب کولوکښې پورتنی نظریات په ذهن کښې اوساتل. او بعض مؤرخینو د خپل دور حکمرانانو د خوشحالولودپاره اود امراء رضامندی مخې ته ساتلو سره دهغوی په نظرونوکښې خپل مقام پیداکولو په خاطر په خپلو تصانیفوکښې مذکوره طریقه اختیارکړه اودغه شان هغوی خپل معاشی اوتمدنی حالات هم مستحکم کړل.
دنیزدې زمانې یو مشهور مؤرخ علامه شبلی نعمانی ﷫ خپل تصنیف "الانتقاد علی التمدن الإسلامي" کښې داسلامی تاریخ د تدوین یوبهترین جائزه پیش کړې ده هغه فرمائی: د اسلامي تاریخ مؤرخینو عموماً د بنو عباس په دورکښې پیدا شوی دی اودا خبره معلومه ده چه دعباسیانو په دورکښې د بنو امیه محاسن ذکرکولوپه یوسړی کښې استطاعت نه وو ځکه چه که چا دبنو امیه د ښه خوبو یوڅیز اتفاقاً صادرکیدلو نود هغې وینا کونکی به په قسماقسم سزا گانو سره تنگولی شو اود سپکاوی نه علاوه به نامواقق انجام سره هم مخ کولې کیدې شو. د تاریخ په دفترکښې ددې ډیر مثالونه موجوددی. (بحواله سیرت حضرت امیر معاویه ﷺ ۲/۲۲-۱۲)
ددې نه علاوه تاریخي واقعات نقل کونکی راویانو نظریات اومذهبی رحجانات هم ددغه واقعاتو دبیانولودپاره اختیارکړې شوې تعبیرکښې مرکزی کردار اداکړو. خصوصاً چه کله د دغه روایت بالمعنی هم عام اجازت وو. چنانچه رافضی اوخارجی راویانو د واقعاتو حقائق هیرولوسره دخپل خان نه روایات جوړکړل اوډیرزیات اعتراضات او مطاعن ئې راپیدا کړل.
داخبره دې هم واضحه وی چه علماء کرامو صراحت کړې دې چه کوم روایت او حدیث هم درایت اودعقل خلاف وی یا د اصول شریعت مناقض وی نو خبرښئی چه دغه روایت موضوع دې اوددې د راویانو هیڅ اعتبارنشته. دغه شان چه کوم روایت د حس او مشاهده خلاف وی یا د قرآن اوسنت متواتره او اجماع قطعی مبائن وی نوهغه روایت هم د قبلولو قابل نه دې. (فتح المغیث شرح الفیة الحدیث، الموضوع: ۱/۲۵۰-۲۴۹).

جبیربن معطم رضی الله عنه: دادَ رسول الله ﷺ صحابی حضرت جبیر (دَ جیم په ضمه هاء فتحه یا سکون او آخره کښې راء سره لوستلې شي) (۱)بن مطعم (دَ عین کسره سره باب دَ ا فعال "الاطعام" نه دَ اسم فاعل صیغه ده)(۲)
بن عدی بن نوفل بن عبدمناف بن قصی بن کلاب ابن مرة بن کعب بن لؤی بن غالب، نوفلی، قرشی، مدنی رضی الله عنه دي. أبومحمد، ابوعدی او ابوسعید دَدوی کنیت دي.(۳) دَدوی دَ مور نوم ام جمیل یا ام حبیب بنت سعید بن عبدالله بن ابی قیس دي. دَ دي تعلق بنوعامر بن لؤی سره دي. (۴) ابونعیم په "معرفة الصحابة" کښې دَحضرت جبیر رضی الله عنه دَ مور نوم اونسب داسې نقل کړې دي: ام جمیل یا ام حبیب بنت شعبة ابن عبدالله بن ابی قیس بن عبدود بن نصر بن مالك بن حسل. (۵)علامه مزی رحمه الله هم دا اختیار کړې دي. البته هغوی ام جمیل او ام حبیب نه دَ ام جمیل تعیین کړې دي. (۶)

علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله لیکلی دی چه دَاحادیثو اوروایاتو په وضع کونکوکښې بعض هغه خلق دی چاچه دَصحابه کرامو حضراتو او دَ دین دَ امامانو بدنی او عیبونه بیانولودپاره اودنورو مذموم اغراض اومقاصدو دَتکمیل دپاره روایات وضع کړی. دَهغوی دا عمل یا دَ عناددَ وجې نه دې یادَ تعصب اوفساد دَ وجې نه، نودَغه خلقو دَ روایاتوهیڅ اعتبارنشته دې تر کومې چه دَهغوی یوسند معتمدنه موندلې شي. یا په سلف صالحین کښې چا په هغې باندې اعتمادکړې وی. (الأجوبة الفاضلة للأسئلة العشرة الكاملة، تحت الجواب عن السوال الأول ص:۲۹)
علامه نووی رحمه الله قاضی عیاض رحمه الله اوعلامه مازری رحمه الله په حواله سره فرمائیلی چه مونږ له صحابه کرامو حضراتو سره دَ ښه گمان ساتلو او دَهربدخصلت دَهغوی نه دَ نفی حکم راکړې شوې دې. لهذا که دَهغوی باره کښې په یوروایت کښې اعتراض وی اودَهغې دَ صحیح تاویل گنجائش نه وی نو په داسې صورت کښې به مونږ ددې روایت دَ راویانوطرف ته دَ دروغونسبت کوو.دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم طرف ته به دَ څه غلط امر انتساب نه شی کولې (المنهاج، المعروف بشرح النووي، کتاب الجهاد باب حکم الفي: ۱۲/۲۹۶).
علامه عبدالعزیز فرهاروی رحمه الله لیکلی دی که چرې دَ صحابه کرامونه (دَ بشریت په تقاضا) سره یوه داسې خبره اوشی چه دَهغوی دِ شان سره برابره نه وی نودَدې باره کښې دَاهل سنت والجماعت مذهب دادې چه ترکومې ممکن وی دَهغې څه مناسب تاویل دې اوکړې شی اوکه چرې مناسب تاویل ممکن نه وی نودغه روایت ردکولوسره سکوت اختیارول واجب دی اوطعن خو به بالیقین ترك کولې شي. څکه چه الله تعالی صحابه کرامو سره دَ مغفرت او جنت وعده کړې ده. (الناهیة عن طعن معاویة، ص: ۶۶).

(۱) شرح الکرمانی:۳/۱۱۷عمدة القاري:۳/۲۹۷إرشاد الساری:۱/۴۹۳.
(۲) تهذیب الأسماء واللغات:۱/۱۴۶شرح الکرمانی:۳/۱۱۷ عمدة القاري:۳/۲۹۷.
(۳) الاستیعاب:۱/۲۳۱الإصابة:۱/۲۲۵ معرفة الصحابة:۱/۴۳۱التاریخ الکبیر:۲/۲۲۳المعجم الکبیر:۲/۱۲ تهذیب الأسماء:۱/۱۴۶ تاریخ الإسلام:۲/۳۰۰البدایة والنهایة:۸/۴۹ الجرح والتعدیل:۲/۴۴۵ الثقات:۳/۵۰ تهذیب التهذیب:۲/۶۳ إکمال تهذیب الکمال:۳/۱۶۹.
(۴) الاستیعاب:۱/۲۳۱الإصابة:۱/۲۲۵.
(۵) معرفة الصحابة:۱/۴۳۱.
(۶) تهذیب الکمال:۴/۵۰۷.

شیوخ حدیث: هغوی ﷛ دَ حضوراقدس ﷺ نه نیغ په نیغه روایت دَ حدیث کوی. (۱)

تلامذه: دَهغوی ﷛ نه دَ حدیث روایت کونکوکښې ابراهیم بن عبدالرحمن بن عوف، سعیدبن مسیب، سلیمان بن صرد، ابوسروعه عقبه بن الحارث ﷠ ، عبدالله بن باباه المخزومی، عبدالله بن ابی سلیمان، عبدالرحمن بن أذینه، علی بن رباح اللخمی، محمدطلحه بن یزید بن رکانه، یحیی بن عبدالرحمن بن حاطب، ابوسلمه بن عبدالرحمن بن عوف، عبدالرحمن بن ازهر او دَهغوی ځامن محمدبن جبیر بن مطعم او نافع بن جبیر بن مطعم رحمهم الله شامل دی. (۲)

دَ روایاتو شمیر: حضرت جبیر بن مطعم ﷛ دَ رسول الله ﷺ نه ۶۰ احادیث نقل کړی دی. په دې کښې ۶ بخاری اومسلم دواړو نقل کړی دی. درې داسې دی کوم چه صرف امام بخاری ﷫ نقل کړی دی. او امام مسلم ﷫ دَ یو روایت نقل کولوکښې منفردې دې. (۳)

دَ ژوند حالات: هغوی ﷛ شریف اومطاع سړې وو. دَ هغوی ﷛ شمیر دَ خپلې زمانې دَ قریشو شیوخوکښې کیدلو. (۴) مصعب زبیری وائی چه جبیر بن مطعم ﷛ حلیم او دَ قریشو دَ سردارانونه وو اوخلقو به دَهغوی نه دَ نسب باره کښې استفاده کوله. (۵)

ابن اسحاق دَ یعقوب بن عتبه نه نقل کړی دی چه جبیربن مطعم ﷛ په قریشو کښې دَ قریشو او ټولو اهل عرب انساب دَ ټولو نه زیات پیژندونکې وو هغه به فرمائیل چه ما دَ انساب علم دَ حضرت ابوبکر ﷛ نه حاصل کړې دې او حضرت ابوبکر ﷛ دَ ټولو نه زیات دَ نسبونو علم لرونکې وو. (۱)

دَ زبیر بن بکار په روایت کښې دی چه کله دَحضرت عمر بن خطاب ﷛ په خدمت کښې دَ نعمان بن منذر توره راوړې شوه نوهغوی جبیر بن مطعم ﷛ ته اوفرمائیل (جبیر بن مطعم دَ قریشو دَ نسب دَعلماؤ نه وو) چه تاسو به دَنعمان بن منذر کوم طرف ته نسب کولو؟ نو جبیر بن مطعم ﷛ په جواب کښې اوونیل دَ قنص ابن معدطرف ته به مو نسب کولو. (۶)

حضرت عمر ﷛ دَ نعمان بن منذر توره حضرت جبیر بن مطعم ﷛ ته ورکړې وه. (۷)

دَ اسلام قبلول: حضرت جبیر بن مطعم ﷛ کله اسلام راوړلې؟ په دې باره کښې مختلف اقوال نقل کړې شوی دی. ① رومبې قول دادې چه هغوی ﷛ دَ فتح مکه په موقع باندې اسلام راوړې دې په دې وجه بعض حضراتو دهغوی شمیر په مؤلفة القلوب کښې کړې دې. دَ چا اسلام چه ښکلې شوې وو

---

(۱) تهذیب الکمال: ۵۰۶/٤ تهذیب التهذیب: ٦٤/٢

(۲) تهذیب الکمال: ۵۰۷/٤ سیرأعلام النبلاء: ۹۶/۳-۹۵ الإصابة: ۲۲۶/۱ معرفة الصحابة: ٤۳۱/۱ تهذیب التهذیب: ٦٤/٢

(۳) تهذیب الأسماء واللغات: ۱٤٦/۱ شرح الکرمانی: ۱۱۷/۳ عمدة القاری: ۲۹۷/۳.

(٤) سیرأعلام النبلاء: ۹۵/۳.

(۵) الاستیعاب: ۲۳۰/۱ البدایة والنهایة: ٤۹/۸ أعلام النبلاء: ۹۷/۳.

(٦) تهذیب الکمال: ۵۰۸/٤ الاستیعاب: ۲۳۰/۱ سیرأعلام النبلاء: ۹۷/۳.

(۷) سیرأعلام النبلاء: ۹۷/۳ تهذیب الکمال: ۵۰۹/٤-۵۰۸.

(۸) تهذیب الکمال: ۵۰۹/٤ سیرأعلام النبلاء: ۹۷/۳.

يعنى پوخ اوكامل ايمان ئې وو. دا قول ضعيف دې چه اكثرو حضراتو په قيل سره نقل كړې دې.(١) ② دويم قول دادې چه هغوى ﷺ دَ فتح مكه نه وړاندې اسلام راوړې وو. (٢) ③ دريم قول دادې چه هغوى ﷺ دَ خيبر دَ واقعه نه مخكښې ايمان راوړلې وو.(٣) ④ څلورم قول دادې چه هغوى ﷺ دَ صلح حديبيه او فتح مكه په مينځ كښې اسلام راوړې.(٤) ⑤ پنځم قول دادې چه هغوى دَ فتح خيبر په كال اسلام راوړې.(٥)

راجح قول: پنځم قول راجح او اصح دې ځكه چه په څلورم اوپنځم قول كښې څه تضاد نشته دې ځكه چه ددواړو مقصد هم يو دې. هغه داسې چه څلورم قول دادې چه هغوى ﷺ دَ صلح حديبيه او فتح مكه په مينځ كښې اسلام قبول كړې او پنځم قول دادې چه دَفتح خيبر والاپه كال ئې اسلام قبول كړې. اودَفتح خيبر واقعه دَ صلح حديبيه او فتح مكه په مينځ كښې پيښه شوې ده. لهذا دَ پنځم قول په رڼاكښې دَ څلورم قول نتيجه هم هغه راوځى چه هغوى ﷺ دَخيبر والاپه كال اسلام قبول كړې وو. دويمه وجه دَ ترجيح دَپنځم قول داده چه ابن كثير ﷫ البداية والنهاية كښې دَ دې دَ اصح كيدو تصريح فرمائيلې ده.(٦) والله اعلم بالصواب.

دَأسارئ بدر واقعه: حضرت جبيربن مطعم ﷺ دَ اسلام راوړلونه مخكښې دَ حضورپاك په خدمت كښې دَ بدر دَ قيديانو دَ فديه په سلسله كښې راغلى وو. دا واقعه پخپله هم دَهغوى نه روايت ده. چنانچه حضرت جبير بن مطعم ﷺ وائى: ما حضورپاك صحابه كرام ﷺ ته دَ ماښام يا دَ ماسخوتن مونځ وركولوسره اوليدلو. دَ حضورپاك دَقراءت آواز دَ جمات نه باهر راتللو. ما چه واؤريده نو حضورپاك دا آيت تلاوت كولو ﴿اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ﴾ (٧)حضرت جبير ﷺ وائى لكه چه دې آيت زما په زړه باندې پرتې دَ كفر پردې لرې كړې. يو روايت كښې دى «فأخذنى من قراءته كالكرب»(٨) يعنى دَ رسول الله ﷺ قراءت زه بې آرامه كړم او په ما ئې څه چل اوكړو. بعض رواياتو كښې سورت طور اودَې دَ شروع آيات ﴿وَالطُّوْرِ ۙ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ۙ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ۙ﴾(٩)دَ لوستلو تذكره راغلې ده.(١٠)

---

(١) الاستيعاب:١/٢٣١-٢٣٠ الإصابة١/٢٢٦ البداية والنهاية:٨/٤٩ سير أعلام النبلاء:٣/٩٥ تهذيب الكمال:٤/٥٠٦ إكمال تهذيب الكمال:٣/١٦٩ الثقات:٣/٥٠ تهذيب التهذيب:٢/٦٤

(٢) الإصابة:١/٢٢٦.

(٣) تهذيب الكمال:٤/٥٠٦ تهذيب الأسماء واللغات:١/١٦٩.

(٤) الإصابة:١/٢٢٦ معرفة الصحابة:١/٤٣١ إكمال تهذيب الكمال:٣/١٦٩.

(٥) الاستيعاب:١/٢٣٠ البداية والنهاية:٨/٤٩ تهذيب التهذيب:٢/٦٤

(٦) البداية والنهاية:٨/٤٩.

(٧) الطور:٧ بيشكه عذاب ستا دَ رب به كيږى.(ترجمه شيخ الهند ﷫)

(٨) سير أعلام النبلاء:٣/٩٦ المعجم الكبير للطبراني:٢/١١٦ رقم:١٤٩٨.

(٩) سورت طور:٢-١ قسم دې دَ طور اودَ ليكلى شوى كتاب په كولاؤ پاڼرو كښې.(ترجمه شيخ الهند ﷫)

(١٠) المعجم الكبير للطبراني:٢/١١٦-١١٥ رقم: ١٥٠١-١٤٩١.

په یو بل روایت کښې دَحضرت جبیر رضي الله عنه نه دا نقل دی چه ما حضورپاك نه دا آیت تلاوت کولوسره واوریدو ﴿ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ۝ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ۝ ﴾(۱)

حضرت جبیر رضي الله عنه وائي دَدې آیت په اوریدو سره نیزدې وه چه زما زړه الوتې وې. یعنی دَ آیت او رسول الله ﷺ دَ قراءت په تاثیرسره په زړه کښې یو دَ بې آرامئ کیفیت پیدا شو او نیزدې وه چه زړه مې دَ کفر څادر شلولې وې او بهر راوتلې وې. دَ بخاری شریف په روایت کښې دی ((وذلك أول ما وقر الإیمان في قلبي)) یعنی په رومبی ځل زما په زړه کښې اسلام په دې موقع داخل شوې وو.(۲)

حضرت جبیر رضي الله عنه وائي چه کله رسول الله ﷺ مونځ ورکولونه فارغ شو نوما دَ حضورپاك ته دَ أساری (قیدیانو) دَ بدر باره کښې درخواست اوکړو(چه دوی په فدیه اخستو سره خلاص کړی) حضورپاك ارشاد اوفرمائیلو که چرې ستا پلار ژوندې وې اوهغه ما سره دَدوی باره کښې خبره کړې وی نوما به دَهغه سفارش قبلولو. بعض روایاتوکښې دی چه حضورپاك اوفرمائیل که چرې ستا پلار ژوندې وې یا مطعم بن عدی ژوندې وې اوهغه ماسره دَ کفردَ گندگئی نه ډکو دې خلقو باره کښې خبره کړې وی نوما به دَ هغوی دَ خاطره دوی آزادول.

دَ مطعم بن عدی احسانات: حضوراکرم دَ هغه دَ پلار مطعم بن عدی باره کښې دَ دې خیالاتو اظهارځکه اوکړو چه دَ مطعم په حضورپاك باندې څه احسانات وو. هغه دَ نورو کفار قریشو په شان حضورپاك اودَهغوی صحابه کرامو ته تکلیفونه اوسزاگانې نه وې ورکړې. مطعم بن عدی دَ اشراف قریش نه وو اودَ نسب عالم هم وو.

حضورپاك ﷺ طائف کښې بنوثقیف ته دَ دین حنیف دعوت ورکولودَپاره تشریف یوړو اودَ اهل طائف شریر او بدمعاشانو هلکانو دَ لاسه زخمی شو واپس راغلو نوحضورپاك ته مطعم بن عدی پناه ورکړه او حضورپاك په تسلئ سره عمره اداکړه. دغه شان قریشو چه کله دَ حضورپاك اودَهغوی دَ صحابه کرامو سره مقاطعه او بائیکاټ اوکړو اوحضورپاك ئې په شعب ابی طالب کښې په پناه اخستو باندې مجبورکړو او په دې باره کښې ئې یوه معاهده اولیکله او په بیت الله کښې ئې زوړندکړه نومطعم بن عدی هم دَ هغه خلقو نه وو چه دا کاغذ ئې راکوز کړو او وئې شلولو اودَ مقاطعه دَ ختمولو اعلان ئې اوکړو په کوم سره چه هغه مقاطعه او بائیکاټ ختم شو.مطعم بن عدی دَ واقعه بدر نه اووه میاشتې وړاندې صفر ۲ هجری کښې دَ کفر اوشرك په حالت کښې انتقال شو. هغه وخت دَهغه عمر ۹۰ کاله نه زیات وو. په مکه مکرمه کښې په جحون نومې ځائې کښې دَ اهل مکه په قبرستان کښې خښ شو.(۳) ابوالحجاج مزی رحمه الله فرمائی دَ هجرت نه یوکال پس دَهغه انتقال شوې.(۴)

---

(۱) سورت طور:۳۶-۳۵آیا هغه جوړ شوي دې خپل په خپله هم هغه یاهم هغه دې جوړونکې یا هغه جوړکړل آسمانونه اوزمکې، هیڅوك نشته ولې هغوی یقین نه کوی.(ترجمه شیخ الهند رحمه الله).

(۲) رواه البخاری فی کتاب المغازی باب رقم:۴۰۲۳ وفی کتاب التفسیر، سورة الطور رقم:۴۸۵٤ ویتکرر ایضاً رقم:۷۶۵، ۳۰۵۰ الإصابة:۲۲۶/۱ البدایة والنهایة:۴۹/۸.

(۳)دَدې پوره واقعه دَتفصیلاتودَپاره اوگورئې: الاستیعاب:۲۳۱/۱-۲۳۰ الإصابة:۲۲۶/۱ البدایة والنهایة:۴۹/ المعجم الکبیر:۱۱۸/۲-۱۱٤ تهذیب الکمال: ۵۰۸/٤-۵۰۷ سیر أعلام النبلاء:۹۵،۹۸/۳.

(۴) تهذیب الکمال:۵۰۸/۴.

حضرت جبير بن معطم رضي الله عنه ته دا عزت هم حاصل دې چه هغوی دَ دريم خليفه شهيد مظلوم او شهيد قرآن حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه خښونکو کښې شامل وو او هم هغوی دَ حضرت عثمان رضي الله عنه جنازه کړې وه.([1])

عهدې او مناصب: ابواحمد عسکری رحمه الله وائی حضرت جبير رضي الله عنه په هغه خلقو کښې ووځوك چه به خلقو حکم جوړول. حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه او حضرت طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه په خپله څه مسئله کښې هغوی رضي الله عنه حکم جوړ کړې وو.([2])

خليفه بن خياط حضرت جبير رضي الله عنه دَ حضرت عمر رضي الله عنه دَ طرف نه دَ کوفه په گورنرانو کښې شمير کړې دې. حضرت عمر رضي الله عنه هغه دَحضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه نه اول دَ کوفې گورنر جوړ کړې وو.([3])

وفات: دَهغوی رضي الله عنه دَ وفات په کال کښې اختلاف دې. امام نووی رحمه الله ۵۴ هجری نقل کړې دې.([4])حافظ ابن حجر رحمه الله الاصابة کښې ۵۷، ۵۸ او ۵۹ هجری دريواړه "او" سره نقل کړی دی.([5]) ابواحمد عسکری رحمه الله ۵۶ هجری نقل کړې دې.([6])

ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه حضرت جبير بن مطعم رضي الله عنه په مدينه منوره کښې ۵۷هجری کښې وفات شوې او په قيل سره ئې نقل کړی دی چه دَحضرت معاويه رضي الله عنه دَ خلافت په دور کښې ۵۹هجری کښې انتقال شوې. ([7]) محمدبن سعد رحمه الله الطبقات الکبير کښې دغه پورتنې قول نقل کړې دې مګر دَ وفات کال ئې نه دې نقل کړې. ([8])

ابن حبان رحمه الله په قيل سره نقل کړې دې چه حضرت جبير رضي الله عنه او رافع بن خديج رضي الله عنه هم په يوه ورځ انتقال شوې وو او رافع بن خديج رضي الله عنه باره کښې ئې اوونيل چه دَهغه ۷۳ يا ۷۴ هجری کښې انتقال شوې وو.([9]) مدائنی رحمه الله وائی ۵۸هجری کښې وفات شوې.([10])

ابن کثير رحمه الله فرمائی مشهور دادی چه حضرت جبير ۵۸هجری کښې وفات شوې او قيل سره ۵۹هجری قول هم نقل کړې دې.([11])

علامه مزی رحمه الله او ابن حبان رحمه الله دَ وفات کال ۵۹هجری نقل کړې دې. هم دغه قول دَ خليفه بن خياط، هيثم بن عدی او ابن قتيبه هم دې.([1])

---

[1]) تهذيب الكمال: ٥٠٧/٤.
[2]) إكمال تهذيب الكمال: ١٦٩/٣ تهذيب التهذيب: ٦٤/٢
[3]) سير أعلام النبلاء: ٩٧/٣.
[4]) تهذيب الأسماء وللغات: ١٤٧/١.
[5]) الإصابة: ٢٢٦/١.
[6]) تهذيب التهذيب: ٦٤/٢ إكمال تهذيب الكمال: ١٦٩/٣.
[7]) الاستيعاب: ٢٣١/١.
[8]) إكمال تهذيب الكمال: ١٧٠/٣.
[9]) كتاب الثقات: ٥٠/٣ إكمال تهذيب الكمال: ١٧٠/٣.
[10]) تهذيب الكمال: ٥٠٩/٤ سير أعلام النبلاء: ٩٩/٣.
[11]) البداية والنهاية: ٤٩/٨.

شرح حديث

قوله: قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أما أنا فأفيض على رأسي ثلاثا: يعني حضرت جبير رضي الله عنه وائي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو زه خو په (غسل كښې په خپل سرباندې درې لپه (اوبه) بهيوم.

قوله: أمّا: لفظ أمّا دَهمزه فتحه او ميم په تشديدسره دَحروف شرط نه دې. كله دَتفصيل اوكله دَتاكيددَپاره استعماليږي. أمّا حرف شرط او فعل شرط په ځائې باندې وي. دې نه پس جواب شرط ذكر كيږي. دَ دواړو په مينځ كښې دَ ربط دَپاره په جواب شرط باندې فاء جزائيه لازميږي لكه "أماأنافلا أقول غيرالحق" په اصل كښې "مهمايكن من شيئ: فلا أقول غيرالحق" وو "مهمايكن من شيئ" حذف كولوسره أمّا دَهغې په ځائې جوړكړې شو. دَ أمّا تفصيليه مثال ﴿فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝ وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝﴾ (٢) كه چرې په كلام كښې تاكيد مقصودوى اودَ يوكار لا محال بيانول وى نو بيا أمّا تاكيدپه راوړلې شى لكه "أماخالدفشجاع" (٣)

فأفيض: أفيض دَهمزه ضمه سره باب دَ افعال نه الافاضة نه واحد متكلم صيغه ده. اوبوبهيولوته وائي. (٤)

دَ الإفاضة تحقيق كتاب الغسل باب الوضوء قبل الغسل دَ رومبى حديث لاندې "ثم يفيض الماء على جسده كله" لاندې تيرشوې دې.

دَ "أما" قسم سره متعلق يوبحث: علامه كرماني رحمه الله وغيره په دې موقع باندې يواعتراض نقل كړې دې چه ځوك اووائي "أمّا" خودَتفصيل بيانولودَپاره راوړلې شى نودَدې قسيم اومقابل چرته دې؟ (٥)

دَعلامه كرماني رحمه الله جواب: علامه كرماني رحمه الله دَ اعتراض كولونه پس دَدې په جواب كښې فرمائيلى دى چه "أمّا" هروخت دَقسيم تقاضا اوكړى دا ضرورى نه ده اوكه چرې مونږ دا اومنو چه "أمّا" دَپاره قسيم كيدل ضرورى دى نوبيا دلته قسيم محذوف دې. سياق په دې باندې دلالت كوى.

امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح كښې (جبير بن مطعم رضي الله عنه نه نقل كړى دى) "أن الصحابة تماروافي صفة الغسل عند رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال صلى الله عليه وسلم: "أما أنا فأفيض (أي) وأما غيري فلا يفيض أوفلا

---

(١) تهذيب الكمال:٤/٥٠٩ كتاب الثقات:٣/٥٠سير أعلام النبلاء:٣/٩٩تهذيب التهذيب:٢/٦٤تهذيب الأسماء واللغات:١/١٤٧.

(٢) الضحى:٩—١١ ترجمه: پس چه ځوك څه يتيم وى هغه مه رټه اوڅه چه غوارې هغه مه رټه او كوم چه احسان دې ستادَ رب پس بيان ئې كړه.

(٣) جامع الدروس العربية:٣/١٩٥إرشاد الساري:١/٤٩٣ شرح ابن عقيل:٤/٥٢شرح الرضى على الكافية:٤/٥٠٤ أوضح المسالك ألى ألفية ابن مالك:٤/٢١٠-٢٠٩مغنى اللبيب عن كتب الأعاريب:١/١١٨-١١٧.

(٤) شرح الكرماني:٣/١١٧فتح الباري:٢/٤٨٤عمدة القاري:٣/٢٩٨أرشاد الساري:١/٤٩٣تحفة الباري:١/٢٢١.

(٥) شرح الكرماني:٣/١١٧ عمدة القاري:٣/٢٩٨.

أعلم حاله كيف يعمل ونحوه....". (۱)يعني دَحضرات صحابه كرامو ﷺ په مينځ كښې دَحضورپاك په مجلس كښې دَ غسل دَ صفت باره كښې بحث اوشو. نوحضورپاك اوفرمائيل زه خو په غسل كښې په خپل سر باندې درې لپې اوبه بهيوم. (يعني) باقي پاتې شوه خبره زما نه علاوه خلقو، ياخوهغوى اوبه نه بهيوي يا ماته نه ده معلومه چه هغوى څنګه غسل كوى... تقديرى عبارت به داسې شى: مهمايكن من شئى فأنا أفيض ثلاثا أي ذلك حاصل على جميع التقديرات. (۲)

يعنى چه څه هم وى (كه هرڅواحتمال واخستې شى) زه په غسل كښې په خپل سرباندې درې لپې اوبه بهيوم. حافظ ابن حجر رحمه الله او شيخ الاسلام زكريا انصارى رحمه الله علامه قسطلانى رحمه الله اوعلامه كورانى رحمه الله دَ څه كمى زياتى سره دغه پورتنئ جواب نقل كړې دې. (۳)

دَعلامه عينى رحمه الله تحقيق: علامه عينى رحمه الله دَدې اعتراض په جواب كښې دَعلامه كرمانى رحمه الله وغيره ذكركړې شوې توجيه ردكړې ده چه دلته دَ أما قسيم محذوف دې كوم چه دَ صحيح مسلم په روايت كښې ذكر دې. دَ علامه عينى رحمه الله تحقيق په دې باره كښې دادې چه أمّا دلته په حديث كښې دَ تاكيدڅپاره دې نه چه دَتفصيل دَپاره، لهذا نه دَ قسيم څه ضرورت شته اونه دَ دې محذوف منلو څه حاجت شته. دَدې تفصيل دادې چه أمّا دَهمزه فتحه او ميم په تشديدسره حرف شرط دې. كله دَتفصيل اوكله دَتاكيد دَپاره راوړلې شى. دَ شرط دَپاره دَ استعماليدلو دليل دادې چه كوم ځائې دَ شرط دَپاره راځي هلته به دَدې نه پس فاء جزائيه لازمًا راځى لكه﴿فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ﴾ (۴) (په مثال كښې أمّا دَ شرط دَپاره دې په دې وجه دَ دې په جزا باندې فاء راوړلې شوې ده).

كله أمّا دَ تفصيل دَپاره راځى لكه ﴿أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ......وَأَمَّا الْغُلَامُ......وَأَمَّا الْجِدَارُ﴾ (۵).

(دې آياتونوكښې أمّا دَ تفصيل دَپاره دې) اوكله أمّا صرف دَ تاكيد دَپاره راځى علامه زمخشرى دا ذكر كړې دې هغه وائى چه دَ أمّا فائده په كلام كښې داده چه تاسو دادَ تاكيد دَپاره واخلئ لكه زيد ذاهب كښې كه چرې تاسو دَدې خبرې اراده كوئ چه زيد به لامحال ځى اوهم دَدې په اهتمام كښې لګيان دې اوداد هغه پوخ عزم او اراده ده نوتاسو دَ دغه تاكيد دَښكاره كولودپاره به أمّا راوړئ اوداسې به وايئ أمّا زيد فذاهب.

---

(۱) تمام الحديث ولفظه: عن جبير بن مطعم قال: تماروا في الغسل عند رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال بعض القوم: أما أنا، فإني أغسل رأسي كذا وكذا، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "أما أنا فإني أفيض على رأسي ثلاث أكف" الصحيح للإمام مسلم، كتاب الحيض، باب استحباب إفاضة الماء على الرأس وغيره ثلاثاً، رقم:۷٤۰ (۳۲۷)

(۲) شرح الكرماني:۱۱۷/۳عمدة القاري:۲۹۸/۳.

(۳) فتح الباري للعسقلاني:۴۸٤/۲تحفة الباري:۲۲۱/۱إرشادالساري:۴۹۳/۱الكوثر الجاري للكوراني:۴۱۲/۱.

(۴) البقرة:۲۶.ترجمه: نوچه كوم خلق مؤمنان دى هغوى يقينًا پيژنى چه دا مثال ټيك دې. (ترجمه: ازشيخ الهند رحمه الله).

(۵) الكهف:۸۰-۷۹ ترجمه: هغه چه كومه كشتئ وه نود يوڅو محتاجانو چه كوم محنت ئې كولو په درياب كښې..... اوهغه كوم هلك چه وو نودهغه مور پلار وو ايمان والا..... اوهغه كوم ديوال چه وو د دوو يتيمانو هلكانو وو. (ترجمه: از شيخ الهند رحمه الله)

دغه شان په حدیث باب کښې هم أما صرف دَتاکید دَپاره دې اومقصد هم دَ دې خبرې تاکید دې چه حضورپاك به په غسل کښې په سرمبارك باندې درې لپې اوبه اچولې لهذا دلته دَقسیم هیڅ حاجت نشته او نه دَدې خبرې ضرورت دې چه داسې اوونیلې شي چه دلته قسیم محذوف دې.(١)

په علامه کرماني رحمه الله او علامه ابن حجر رحمه الله دَعلامه عيني رحمه الله رد: علامه کرماني رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله وغیره أماتفصیلیه منلوسره دَمسلم شریف روایت دَدې دَپاره په توګه دَ قسیم محذوف ګنړلې وو نوعلامه عیني رحمه الله یو خودا اوخودل چه دلته أمّا دَ تاکید دَ پاره دې او دویم نې دااوخودل چه په مسلم شریف کښې دَ ابوالاحوص عن ابی اسحاق په طریق سره کوم روایت ذکردې چه «تماروافی الغسل عندالنبی صلی الله علیه وسلم فقال بعض القوم: أما أنا فأغسل رأسي بكذا وكذا....» بعض حضراتو علامه کرماني رحمه الله او ابن حجر رحمه الله وئیلی دی چه داحدیث دَباب دَ قسیم محذوف دې.

علامه عيني رحمه الله فرماني چه دَ مسلم شریف دا روایت دَ قسیم محذوف منلو هیڅ حاجت نشته دې ځکه چه دا ضروری ده چه هرکلام ته دهغې دَمقتضاء حال مطابق دَ هغې حق ورکړې شي. (یعنی هغه هم په هغه ځائې کیخودې شي او دَهغې تشریح هم دَهغې دَ مقام دَ مقتضٰی مطابق اوکړې شي) لهذا دَدې خبرې په رڼاکښې دَدې ځیز هیڅ حاجت او ضرورت نشته دې چه دَحدیث باب دَپاره دَمسلم شریف دَ روایت نه څه ځیز محذوف اومقدر اومنلې شي. (٢)

ثلاثا: دَ ثلاثًا نه "ثلاث أكف" (درې لپې) مراد دی. (٣)

دَمسلم شریف په روایت کښې "ثلاث أكف" تصریح ده. (٤)مطلب دا شو چه درې لپې، هره لپه په دواړو لاسونوسره ډك بهیول وی. (٥)

په دواړو لاسونو دَ لپې ډکولو دليل: هريولپه په دواړو لاسونو باندې دَ ډکولودلیل يوخو دَ امام احمد رحمه الله روایت دې. «فأخذ ملء كفي ثلاثاً، فأصب على رأسي»(٦) یعنی زه دواړه لاسونه ډك کړم درې ځل اوبه اخلم او په خپل سرباندې بهيوم. دَ امام احمد رحمه الله په دویم روایت کښې کوم چه دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه نقل دې «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصب بيديه على رأسه ثلاثاً» (٧)یعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپل لاس مبارك سره په خپل سر باندې درې ځل اوبه بهیولې. دَحضرت جابر رضي الله عنه په روایت کښې دی «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصب بيديه على رأسه ثلاثاً» (٨)یعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپلو دواړو لاسونو مبارکو سره په خپل سرباندې درې ځل اوبه بهیولې.

---

(١) عمدة القاري:٢٩٨/٣أرشاد الساري:٤٩٣/١.

(٢) عمدة القاري:٢٩٨/٣.

(٣) عمدة القاري:٢٩٨/٣الكوثر الجاري:٤١٢/١إرشادالساري: ٤٩٣/١.

(٤)الحديث رواه مسلم فى صحيحه كتاب الحيض باب استحباب إفاضة الماء على الرأس وغيره ثلاثا رقم :٣٢٧."ثلاث أكف"

(٥) عمدة القاري:٢٩٨/٣إرشادالسارى:٤٩٣/١ الكوثر الجاري:٤١٢/١ المنهاج للإمام النووي: ٢٣٤/٤.

(٦) مسندأحمد بن حنبل، مسند جبير بن مطعم رضى الله عنه: ٧٢٨/٥ رقم:١٦٨٧٠ عمدة القاري:٢٩٨/٣ فتح البارى لابن رجب الحنبلي:١٤٨/١.

(٧) مسند الإمام أحمد بن حنبل مسند أبى هريرة رضى الله عنه: ٧٧/٥رقم الحديث: ٧٤١٢.

(٨) مسندالإمام أحمد بن حنبل، مسند جابر بن عبدالله الأنصارى رضى الله عنه:٦٧/٣ رقم الحديث:١٤٤٨٣.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په حديث کښې ثلاثًا لفظ په دې خبره باندې دلالت کوي چه په صحابه کرامو کښې بعضو دا اووئيل «فإني أغسل رأسي كذا وكذا» نوهغوی دَ دريو خلو نه زياتې اوبه بهيول مراد اخستل (۱)

دَ رسول الله ﷺ نه سوال کونکی څوک وو؟ دَ حضورپاك نه په دې باره کښې سوال کونکی دَ وفد ثقيف خلق وو لکه چه دَمسلم شريف وغيره په روايت کښې دی «أن وفد ثقيف سألوا النبي صلى الله عليه وسلم..... فقال: أما أنا فأفرغ على رأسي ثلاثًا» (۲) يعنى دَ ثقيف وفد دَحضورپاك ﷺ نه په غسل کښې په سرباندې دَ اوبو بهيولو باره کښې سوال اوکړو نوحضورپاك ورته اوفرمائيل زه خو په خپل سرباندې درې خل اوبه بهيوم. دَطبراني په مرفوع روايت کښې دی «لم تفرغ على رأسك ثلاث مرات تدلك رأسك كل مرة» (۳) يعنى بيا تاسو په خپل سرباندې درې خل اوبه اوبيهونی او دَ هرخل اوبو بهيولوسره خپل سر مږئی.

دَ ثلاثًا نه تکرار مراد دې که استيعاب؟ حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلی دی چه په ثلاثًا کښې دوه احتماله دی ياخودَدې نه تکرار مراد دې يا په ټول بدن باندې اوبه بهيول مرا دی. ليکن هم دَدې باب په آخره کښې دَحضرت جابر رضي الله عنه دَ روايت نه مخکښې احتمال قوی کوی. (۴)

علامه عيني رحمه الله سابق کښې تيرشوی دَ مسند احمد او طبراني روايات ذکرکولونه پس فرمائي چه په دې احاديثو سره دَحافظ ابن حجر رحمه الله هغه قول ساقط کيږي چه ثلاثًا کښې دوه احتمال دی. (۵) ځکه چه دَدې احاديثونه معلوميږي چه مقصد په سرباندې اوبه بهيول دی په دې کښې دويم بل هيڅ احتمال نشته دې.

قوله ::وأشار بيديه: او حضورپاك په خپلو دواړو لاسونو سره اشاره کولو کښې لپې جوړول اوخودل. دادَ حضرت جبير رضي الله عنه کلام دې دَ أشار فاعل حضورپاك دې. (۶) په دې سره دَدې خبرې تائيد کيږي چه هر يولپه به ئې په دواړو لاسونو سره ډك بهيولو. (۷)

قوله ::كلتيهما: دَ اکثرو حضراتو په روايت کښې كلتيهما دې. دَ کشميهنی په روايت کښې كلاهما دې او ابن التين په روايت کښې كلتاهما نقل کړې دې. (۸)

(۱) فتح الباري:۲/۴۸۴.

(۲) صحيح مسلم كتاب الحيض باب أستحباب إفاضة الماء على رأس وغيره ثلاثًا رقم:۳۳۰ فتح الباري: ۲/۴۸۴ عمدة القاري: ۳/۲۹۹.

(۳) إتحاف الخيرة المهرة، كتاب الحيض:۱/۴۰۲ رقم ۳/۷۳۰ دارالوطن، الرياض الطبعة الأولى ۱۴۲۰هجری عمدة القاري: ۳/۲۹۹

(۴) فتح الباري:۲/۴۸۴.

(۵) عمدة القاري:۳/۲۹۹.

(۶) شرح الكرماني:۳/۱۱۷عمدة القاري:۳/۲۹۹ إرشاد الساري:۱/۴۹۳.

(۷) عمدة القاري:۳/۲۹۹.

(۸) شرح الكرماني:۳/۱۱۸-۱۱۷ فتح الباري:۲/۴۸۴ تحفة الباري:۱/۲۲۱ عمدة القاري:۳/۲۹۹ إرشادالساري:۱/۴۹۳ الكوثر الجاري:۱/۴۱۲ التوشيح:۱/۲۴۴,

دكلتيهما راوړلو وجه داده چه په يديه كښې بلعني تثنيه مؤنث دې. په دې وجه دتاكيد كلتاسره راوړلې شو دكوم حالت جرى ياء سره چه راغلې. دجمهورو نحويانو هم دغه مذهب دې.[1] دكشميهنى په روايت كښې كلاهما دې چونكه يدين لفظ مذكر دې په دې وجه دلفظ رعايت كولوسره كلا راوړلې شو.[2] دابن التين په روايت كښې كلتاهما دې يدين چونكه معنًا مؤنث دى نو په دې اعتبارسره كلتا راوړلې شوې دې.

دكلاهما او كلتيهما دَ مرفوع كيدو دوميې وجه: باقى پاتې شوه خبره دكشميهنى او ابن التين دَ روايت كلاهما او كلتاهما مرفوع راوړل، نودا دَ بنو حارث بنوخثعم بنو زيد بنوكنانه او بنو هجيم وغيره دَ مذهب مطابق دې. دَدې حضراتو په نيزدَ تثنيه اعراب په دريواړو حالتونو رفع نصب اوجر كښې الف سره راځى.[3]

لكه څنګه چه دَ شاعر په دې قول كښې دى:

إن أباها وأبا أباها   قد بلغا في المجد غايتاها [4]

ترجمه: بيشكه دَ هغه پلار اونيكه يقينًا دواړه په عزت كښې دَهغې انتهاء ته رسيدلى دى.

په دې شعر كښې دَ تثنيه غايتاها حالت نصبى الف سره راوړلې شوې دې.

دويمه وجه: دَكشميهنى او ابن التين په روايت كښې كلاهما اوكلتاهما دَمرفوع كيدو يوه بله وجه دا هم بيان كړې شوې ده چه كلاهما اوكلتاهما (على تقدير اللفظ والمعنى) ما قبل نه قطع كولوسره مستقل جمله اومنلې شى. دا مبتداء جوړولوسره خبر محذوف رااويستلې شى نو تقديرى عبارت به داسې شى: كلاهما يا كلتاهما مشاركها.[5]

فائده: صاحب مغني اللبيب ابن هشام انصارى رحمه الله وغيره كلاوكلتا دَ بحث په ذيل كښې دَدې خبرې وضاحت كړې دې چه كلا دَماقبل دپاره تاكيدهم جوړولې شى اودَماقبل نه منقطع كولوسره مبتداء هم جوړولې شى.[6]

---

[1] شرح الرضى على الكافية:١/٨٠-٧٩، ٧٤ شرح الأشمونى:١/٥٨ شرح ابن عقيل:١/٥٨ أوضح المسالك:١/٤٧ شرح قطرالندى ص:٦٥ شرح شذور الذهب ص:٥٢-٥١

[2] تحفة البارى:١/٢٢١ عمدة القارى:٣/٢٩٩ إرشادالسارى:١/٤٩٣ التوشيح:١/٢٤٤.

[3] شرح الأشمونى:١/٥٨ شرح ابن عقيل:١/٥٨ شرح شذور الذهب ص:٥٤ شرح الكرمانى:٣/١١٨ فتح البارى:٢/٤٨٤ تحفة البارى:١/٢٢١ إرشاد السارى:١/٤٩٣ الكوثر الجارى:١/٤١٢ التوضيح لابن الملقن:٤/٥٥٨.

[4] الرجز لؤبة فى ملحق ديوانه ص:١٦٨ وله أولأبى النجم فى الدرر:١/١٠٦ شرح التصريح:١/٦٥ شرح شواهدالمغنى:١/١٢٧، ٢/٥٨٥ المقاصدالنحوية:١/١٣٣، ٣/٦٣٦ وله أو لرجل من بنى الحارث فى خزانة الأدب:٧/٤٥٥، ٤٥٣، ٤/١٠٥ أسرار العربية:ص٤٦ الإنصاف ص:١٨أوضح المسالك:١/١٤٦، ١٤٤ تلخيص الشواهد ص:٥٨ رصف المبانى ص:٢٣٦، ٢٤ سرصناعة الاعراب:٢/٧٠٥ شرح الأشمونى:١/٢٩ شرح ابن عقيل ص:٣٣ شرح المفصل:١/٥٢ مغنى اللبيب:١/٣٨ همع الهوامع:١/٣٩.

[5] فتح البارى:٢/٤٨٤ التوشيح:١/٢٤٤.

[6] مغنى اللبيب:١/٤٠٤ جامع الدروس العربية:٢/١٦١.

دَحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت ښکاره دې چه ترجمة الباب کښې په سربانديې درې ځل اوبو بهيولوذکر دې او په حديث کښې فأفيض على رأسي ثلاثاً صراحت موجود دې په کوم سره چه ترجمه ثابتيږي.(۱)

علمي مناظره اومباحثه: دَمسلم شريف په روايت کښې ((تماروا في الغسل عند رسول الله صلى الله عليه وسلم)) الفاظ راغلي دی (۲)يعنې دَحضورپاك په مجلس کښې دَ حضرات صحابه کرام ﷺ په مينځ کښې دَ صفت غسل باره کښې مباحثه او مناظره اوشوه. چا اوونيل چه په دومره دومره اوبوسره غسل کوم اوچا په کښې اوونيل زه داسې غسل کوم. امام نووی ﷫ دَدې په ذيل کښې ليکلی دی: ((فيه جواز المناظرة والمباحثة في العلم، وفيه جواز مناظرة المفضولين بحضرة الفاضل، ومناظرة الأصحاب بحضرة إمامهم وكبيرهم))(۳) يعنې دَ دې حديث نه په علمي مسائلوکښې مناظره او مباحثه جواز معلوميږي اوداهم معلوميږي چه دَ ائمه اکابر او په مرتبه کښې داوچتو خلقو دَ مجلس په موجودګئی کښې کشران شاګردان اودهغوی ملګری خپل مينځ کښې علمي مناظره او مباحثه کولې شي.

دَمناظره دَ فن ضرورت اواهميت: دَ احقاق حق او دَ ابطال دَ باطل کولودپاره دَ غيرمسلم او اسلام دَ دښمنانو بې بنياده اعتراضونو جوابونه اودَ بې ځايه شکونواوشبهاتو دَ ختمولودپاره اکثر دَمناظره ضرورت پيښيږي. دَ مناظره دَ فن مقصد هم دَ حق دفاع اوقيام اودَ باطل جواب او نړول دی. دا پخواني اوعالمانه طريقه ده دې سره مناسبت لرونکی أصحاب علم باندې دَحق دَ معرفت لارې آسانيږي. مناظره نه صرف شرعاً محمود ده بلکه مطلوب هم ده.

په افکار اونظريات کښې اضافه اودَمعاملاتو دکثرت دَ وجې نه ورځ په ورځ دَترقئ دَ وجې نه په علمي مسائلوکښې زياتوالې کيږي. بيا دَ طبيعتونو او ذهنونو دَ فرق دَ فطری قانون لاندې دَمختلفو فکرونو او رائې ګانو مرکز جوړيدل يوه کيدونکې خبره ده. په داسې حالاتوکښې چه په مختلفو فرقوکښې بحث مباحثه وی نو ضروری دی چه داسې قانون جوړشی دَ کوم په ذريعه چه په مردود کيدو او مقبول کيدو کښې فرق اوکړې شي.(۴)

علامه ابن خلدون ﷫ په مقدمه کښې ليکلې دی چه دَ دې علم په تعارف کښې وئيلې شي چه دا علم دَ استدلال قواعد يعنې دَ داسې تعريفونو او آدابو دَ پيژندلو نوم دې په کوم سره چه دَ يورائې او نظريه حفاظت يا ماتيدل يعنې تائيد او ترديد کار اخستلې شی که دَ دې تعلق دَ فقه سره وی اويا بل يوفن سره وی.(۵)

---

(۱) عمدة القاري:۲۹۷/۳ فضل الباري:۴۳۱/۲.

(۲) الحديث رواه مسلم في صحيحه، كتاب الحيض، باب استحباب إفاضة الماء على الرأس وغيره ثلاثاً رقم: ۷۴۰ (۳۲۷).

(۳) المنهاج للنووي: ۲۳۴/۴.

(۴) كشف الظنون عن أسامي الكتب والفنون ص:۳۹-۳۸.

(۵) مقدمة ابن خلدون ص:۵۷۹دارالفكر بيروت.

علماؤ لیکلی دی چه مناظره هغې ته وائی چه دَحق دَ واضح کولو په جذبه سره داسې بحث مباحثه کول چه هر فریق خپل موقف صحیح اودَ بل موقف غلط ثابتولو کوشش اوکړی.[1]

دَمناظره مشروعیت: قرآن کریم کښې دَالله تعالی ارشاد مبارک دې ﴿ أُدْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ﴾ [2].

دَدې آیت مبارك په تفسیر کښې علامه ابن کثیر رحمه الله لیکلی: «أي من احتاج منهم الى مناظرة وجدال، فليكن بالوجه الحسن برفق ولين، واحسن خطاب» [3] یعنی کوم دَحق داعی ته چه دَ بحث اومباحثه ضرورت پیښ شی نوهغه له پکاردی چه هغه دې دا فریضه په ښه طریقه نرمئی او ښکلی خطاب سره سر ته اورسوی.

دَحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چه حضورپاك ﷺ فرمائیلی دی «جاهدوا المشركين بأموالكم وأنفسكم وألسنتكم» [4]

علامه ابن حزم رحمه الله فرمائی چه داحدیث دَ صحت آخر ته رسیدلې دې په دې کښې مناظره دَ جانی اومالی جهاد په شان واجب گرځولې شوې ده. [5]

پخپله حضورپاك دَ مکې کافرانوسره اودَ نجران نصاراؤ سره مناظره کړې ده دکومې نه پس چه دَ سورت آل عمران دَ شروع آیاتونه نازل شو.

علامه ابن عبدالبر رحمه الله په جامع بیان العلم وفضله کښې باب إتيان المناظرة والمجادلة وإقامة الحجة په عنوان سره باب قائم کړې دې. په کوم کښې چه په قرآن اوحدیث دَ صحابه رضی الله عنهم اواسلافو نه دَ مناظره دَ جواز دلائل او واقعات نقل کړی دی. په دې موضوع باندې دَ تفصیل دَپاره دَهغې مطالعه به فائده مند وی. [6]

دَ امام ابوحنیفه رحمه الله دَ یو رافضی سره مناظره: چونکه دَ مناظره سره متعلق بحث شروع دې په دې وجه په دې مناسبت سره حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله یورافضی سره یو زړه راښکونکې مناظرانه خبرې اترې پیش خدمت دی:

په کوفه کښې یو رافضی سړې اوسیدلو چه دَحضرت عثمان رضی الله عنه په شان کښې به ئې گستاخی کوله اوهغوی ته به کافر اویهودی وئیلو (العیاذ بالله) امام ابوحنیفه رحمه الله ته دَدې خبر اورسیدو نوهغه له لاړو او ورته ئې اووئیل ما ستا دَ لور دَپاره دَ یوسړی دَ نکاح پیغام راوړې دې. هغه سړې حافظ قرآن دې تولە شپه به مانخه کښې دَ قرآن پاك تلاوت کوی دَ الله تعالی دَ ویرې نه ډیر زیات ژړی لیکن هغه

---

[1]) شرح رسالة آداب البحث، قلمی ص:٥ الرسالة الولدية فی آداب البحث والمناظرة ص:٧ آداب البحث ص:٣.

[2]) سورة النحل:١٢٥ ترجمه: ښه ده دَ خپل رب په لار باندې پخې خبرې زده کولوسره نصیحت اوږولوسره په ښه شان سره او الزام دې ورکړی هغوی ته څنګه چه بهتر وی. (ترجمه شیخ الهند رحمه الله ص

[3]) تفسير القرآن العظيم المعروف بتفسير ابن كثير، سورة النحل تحت (رقم الايه:١٢٥): ٧٨/٤.

[4]) مسندالإمام أحمدبن حنبل، مسندأنس بن مالک رضی الله عنه. رقم الحديث:١٢٢٦٨ وقال محققه الشيخ شعيب الأرنؤوط فی تعليقه على هذا الحديث: إسناده صحيح على شرط مسلم، رجاله ثقات رجال الشيخين غير حماد بن سلمة، فمن رجال مسلم .

[5]) الإحكام فی أصول الأحكام:٢٩/١.

[6]) جامع بيان العلم وفضله:٩٧٣/٢-٩٥٢.

یهودی دی. رافضی په جواب کښې اوونیل چه تاسو څه خبره کونی؟ آیا زه دَخپلې لور واده یهودی سره اوکړم؟ امام ابوحنیفه رحمه الله اوفرمائیل بیا رسول الله ﷺ دَ یوې نه بلکه دَ خپلو دوو لونړو واده حضرت عثمان غنی رضی الله عنه سره ولې کړې وو؟ دې اوریدو سره هغه رافضی خبردار شو او توبه ئې اوکړه اودَخپل دې ګنده عادت نه منع شو.[۱]

دویمه واقعه: یوه ورځ امام ابوحنیفه رحمه الله په جمات کښې ناست وو چه دَ رافضیانو یو عالم راغلو کوم ته چه به شیطان طاق وئیلې شو. هغه امام اعظم رحمه الله ته اوونیل دَ جناب رسول الله ﷺ نه دَ ټولو نه زیات طاقتور څوك وو؟ امام ابوحنیفه رحمه الله اوفرمائیل مونږ حضرت علی رضی الله عنه ته دَ ټولوزیات طاقتور وایو اوتاسو حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته دَ ټولو نه زیات طاقتور وایئ. شیطان طاق اوونیل نه، تاسو برعکس اووئیل. امام ابوحنیفه رحمه الله اوونیل چه مونږ وایو چه حضرت علی رضی الله عنه طاقتور وو. هغه ته علم وو چه دَ رسول الله ﷺ نه پس خلافت دَحضرت ابوبکر رضی الله عنه حق وو نوهغه خلافت حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته حواله کړو. لیکن تاسو وایئ چه حق دَحضرت علی رضی الله عنه وو لیکن حضرت ابوبکر رضی الله عنه دَ طاقت په زور باندې خلافت واخستو، نو اوس وایه طاقتور څوك شو؟ دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په دې جواب اوریدو سره حیران پاتې شو.[۲]

دَحدیث باب نه مستنبط شوې احکام اومسائل: دَحدیث باب نه دا لاندینی احکام اومسائل مستنبط کړې شوی دی:

① ددې حدیث نه دا مستنبط کړې شوی دی چه په غسل کښې تثلیث مسنون دې. دَ پوره بدن وینځل په اجماع سره فرض دی.[۳]

② دَ شافعیه په نیزپه سرباندې درې ځل اوبه بهیول مستحب دی او په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې.[۴]

③ ددې حدیث نه معلومه شوه چه لپه به دَ دواړو لاسونونه ډکولې شی.[۵]

④ دَ حدیث په ظاهرسره دَهغه خلقو تردیدکیږی چه دَ دریو نه زیات لپې استعمالوی. او حضورپاك اوخودل چه هغوی درې لپې اوبه بهیوی هم په دې کښې زمونږ دپاره اسوه حسنه ده.[۶]

⑤ ددې حدیث په سند کښې روایت الاقران اودَ صحابی دَ صحابی نه روایت موندلې شی.[۷]

⑥ ددې حدیث نه دا هم معلومیږی چه حضورپاك به په غسل کښې زیاتې اوبه نه بهیولې بلکه دَ اعتدال نه به ئې کار اخستلو اودومره اوبه به ئې استعمالولې چه دَ حدث اکبردَ ختمولودپاره به کافی کیدلې. البته دغسل نظافت (تبرید) وغیره کښې زیاتې اوبه هم استعمالولې شی.[۱]

---

[۱]) أبوحنیفه حیاته وعصره آراءه وفقهه، صفات أبی حنیفة ص: ۵۵.

[۲]) الخیرات الحسان لابن حجر الهیثمی (المتوفی: ۹۷٤هجری) الفصل الثانی والعشرون والثالث والعشرون فی عظیم ذکائه وأجوبته المسکتة عن الأسئلة المبهمة ص: ۱۰٤-۱۰۳ تعلیق: الشیخ محمدعاشق الهی البرنی، دار أرقم، بیروت ، لبنان.

[۳]) عمدة القاری:۲۹۹/۳.

[۴]) عمدة القاری:۲۹۹/۳ شرح الکرمانی:۱۱۸/۳ التوضیح: ٥٦٠/٤.

[۵]) التوضیح: ٥٦١/٤عمدة القاری:۲۹۸/۳الکوثر الجاری:۱/٤۱۲أرشاد الساری:۴۹۳/۱.

[۶]) التوضیح: ٥٦١/٤.

[۷]) عمدة القاری:۲۹۸/۳ فتح الباری:٤۸٤/۲.

؟؟[حديث باب (دويم حديث)] [۲۵۲/۲۵۳] ([1])

ترجمه: مونږ ته محمدبن بشاربيان اوكړو وئى وئيل مونږ ته غندر (محمدبن جعفر) اووئيل هغه وائى مونږ ته شعبه اووئيل هغوى ته مخول بن راشد هغوى ته محمدبن على (الباقر) هغوى دَحضرت جابر به عبدالله رضي الله عنه نه نقل كړى، حضرت جابر رضي الله عنه اوفرمائيل چه نبى كريم ﷺ به (په غسل جنابت كښې) په خپل سر باندې درې ځل اوبه بهيولې.

تراجم رجال

محمدبن بشار: دا مشهور امام حديث محمدبن بشار بن عثمان عبدى بصرى رحمه الله دې. ابوبكردَدوى كنيت دې اوبُندار دَ دوى لقب دې. دَ دوى تفصيلى حالات كتاب العلم باب ماكان النبى صلى الله عليه وسلم يتخولهم بالموعظة والعلم كى لاينفروا دَ دويم حديث لاندې بيان كړې شوى دى.([3])

غُندَر: دا ابوعبدالله بن محمد جعفر هذلى رحمه الله دې. دَغندر په لقب سره مشهوردې. دَدوى احوال كتاب الايمان باب ظلم دون ظلم دَ رومبى حديث لاندې تيرشوى دى.([4])

شعبة: دا امير المؤمنين فى الحديث شعبه بن الحجاج بن الورد، عتكى، واسطى بصرى رحمه الله دې. دَدوى مختصر حالات كتاب الايمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده دَرومبى حديث لاندې تيرشوى دى.([5])

مخوَل بن راشد: دا مخول بن راشد بن ابى المجالدالكوفى، الحناط، النهدى دې. نهدى ورته ځكه وائى چه دادَ بنونهد آزاد كړې شوې غلام دې.([6]) دَ مجاهد بن راشد رور اودَمخول بن ابراهيم نيكه دې.([7])

دَ مخول تلفظ: مخول دوه شان لوستلې شى. مُخَوَّل، دَ ميم ضمه او دَ واؤد تشديد سره دَ محمد په وزن باندې لوستلې شي. مِخْوَل: دَ ميم كسره سره مِخنَف او مِنبَر په وزن باندې لوستلې شى.([8])دَميم په ضمه سره دَ ابن عساكر رحمه الله روايت دې او دَ ميم په كسره سره دَ اكثر حضراتو روايت دې خودَابوذر نه دواړه

---

[1]) الشرح الميسر لصحيح البخاري:۳۲۸/۱.

[2]) الحديث أخرجه النسائى فى سننه فى كتاب الغسل والتيمم، باب: مايكفى الجنب من إفاضة الماء على رأسه، رقم:۴۲۶ وأخرجه أحمد فى مسنده، مسند جابربن عبدالله الأنصارى:۲۳/۵رقم:۱۴۲۳۸، ۲۰۱/۵ رقم:۱۵۰۳۸، كلاهما من طريق شعبة عن مخول بن راشد، عن محمد بن على أبى جعفر عن جابر بن عبدالله رضى الله عنهما وأخرجه مسلم من طريق عبدالوهاب عن جعفر عن أبيه عن جابر بن عبدالله رضى الله عنهما قال: كان النبى صلى الله عليه وسلم إذا اغتسل من جنابة صبّ على رأسه ثلاث حفنات من ماء..... إلخ، كتاب الحيض، باب استحباب إفاضة الماء على الرأس وغيره ثلاثاً: ۲۵۹/۱ رقم:۳۲۹، انظر جامع الأصول:۲۹۴/۷-۲۹۳ رقم:۵۳۲۵.

[3]) كشف البارى:۲۶۱/۳-۲۵۸.

[4]) كشف البارى:۲۵۱/۲-۲۵۰.

[5]) كشف البارى:۶۷۸/۱

[6]) التاريخ الكبير:۲۹/۸تهذيب الكمال:۳۴۸/۲۷ الطبقات الكبير:۳۵۲/۶ الثقات:۵۱۵/۷تاريخ الإسلام: ۱۳۹/۴ تقريب التهذيب:۱۶۸/۲الجرح والتعديل:۴۵۶/۸تهذيب التهذيب:۷۹/۱ الكاشف:۲۵۰/۲إكمال تهذيب الكمال :۱۱۶/۱۱.

[7]) تهذيب الكمال:۲۵۰/۲تقريب التهذيب:۱۶۷/۲.

[8]) تقريب التهذيب:۱۶۷/۲ فتح البارى:۴۸۵/۲عمدة القارى:۲۹۹/۳تحفة البارى:۲۲۲-۲۲۱.

«بضم میم وبکسرها» نقل دی.([1]) اوپه کتب رجال کښې اکثر مُخَوّل په وزن دَ محمد «دَ میم ضمه سره» ضبط کړې شوې دې. ([2])

شیوخ: هغوی دَ ابوجعفر بن علی بن حسین، مسلم البطین او ابوسعید مدنی رحمهم الله نه روایت نقل کوی.([3])

تلامذه: دَهغوی نه دَحدیث روایت کونکوکښې جعفر الاحمر، سفیان ثوری، شریك ابن عبدالله، شعبه بن حجاج او ابوعوانه رحمهم الله شامل دی. ([4])

دَ ائمه جرح وتعدیل اقوال: ابن ابی حاتم په خپل سند سره نقل کړی دی چه عبدالملك میمونی وائی چه ماد امام احمدبن حنبل رحمه الله نه دَ مخول بن راشد باره کښې پوښتنه اوکړه هغوی اوفرمائیل «ما علمت إلا خیرا»([5])یعنی زه دَهغه باره کښې دَخیر نه علاوه هیڅ نه پیژنم.ابوحاتم رحمه الله فرمائی«یکتب حدیثه» ([6])ابن حبان رحمه الله کتاب الثقات کښې دَهغوی تذکره کړې ده.([7]) ابن سعد رحمه الله فرمائی «کان ثقة إن شاءالله» ([8])امام نسائی،ابن معین، عجلی،ابن شاهین،دارقطنی،ابن عمار،یعقوب بن سفیان، ابن حجراوعلامه ذهبی رحمهم الله دَ هغوی توثیق کړې دې. ([9])

تنبیه: دَمخول بن راشد باره کښې دَ ټولو ائمه جرح والتعدیل نه هم توثیقی کلمات نقل دی. البته امام ابوداؤد رحمه الله نه یوَ روایت کښې دَهغه شیعی کیدل نقل کړې شوی دی.([10])لیکن ښکاره خبره ده چه صرف شیعی کیدل دَهغه دَمطعون او مردود کیدو دَپاره کافی نه دی ځکه چه دا دَ زیات نه زیات بدعت دې اودَ هغه بدعتی حدیث مردود ګڼرلې شی. څوك چه داعیه وی اودَخپل مذهب په ترویج کښې احادیث روایت کوی.([11]) خو دلته دَهغوی باره کښې داسې هیڅ څه خبره نقل نه ده. بل په صحیح بخاری کښې دَهغوی نه یو روایت نقل دې دَ کوم چه متابعت هم کړې شوې دې. ([1])

---

[1]) فتح الباری:۴۸۵/۲ عمدة القاری:۲۹۹/۳تحفة الباری: ۲۲۲-۲۲۱إرشاد الساری:۴۹۳/۱.

[2]) الکاشف:ص:۲۵۰.

[3])تهذیب الکمال:۳۴۸/۲۷تهذیب التهذیب:۷۹/۱۰التاریخ الکبیر:۲۹/۸تاریخ الإسلام۱۳۹/۴ الجرح والتعدی ۴۵۶/۸: الکاشف:ص:۲۵۰.

[4])تهذیب الکمال:۳۴۸/۲۷تهذیب التهذیب:۷۹/۱۰التاریخ الکبیر:۲۹/۸تاریخ الإسلام۱۳۹/۴ الجرح والتعدیل ۴۵۶/۸: الکاشف:ص:۲۵۰.

[5]) الجرح والتعدیل:۴۵۶/۸تهذیب الکمال:۳۴۹/۲۷.

[6]) الجرح والتعدیل: ۴۵۶/۸تهذیب الکمال:۳۴۹/۲۷تهذیب التهذیب: ۷۹/۱۰.

[7]) کتاب الثقات: ۵۱۵/۷تهذیب الکمال:۳۴۹/۲۷.

[8]) الطبقات الکبری:۳۵۲/۶تهذیب التهذیب:۷۹/۱۰.

[9]) تهذیب الکمال:۳۴۹/۲۷تهذیب التهذیب:۷۹/۱۰ تاریخ الإسلام۱۳۹/۴ إکمال تهذیب الکمال: ۱۱۷-۱۱۸/۱۱تقریب التهذیب: ۱۶۷/۲ الکاشف:ص:۲/۲۵۰.

[10]) تهذیب التهذیب:۷۹/۱۰تقریب التهذیب: ۱۶۷/۲.

[11]) قال ابن حبان فی ترجمة جعفر بن سلیمان الجرشی: "لیس بین أهل الحدیث من أئمتنا خلاف أن الصدوق المتقن إذا کان فیه بدعة ولم یکن یدعو إلیها أن الا حتجاج بأخباره جائز. فإذا دعا إلی بدعته سقط الاحتجاج بأخباره". (کتاب الثقات:۱۴۱/۶-۱۴۰) وقال أبوعمر الشهرزوری (المتوفی:۶۴۳هجری) "وقال قوم: تقبل روایته

وفات: دَمخول بن راشد انتقال ۴۰ هجری نه پس دَابوجعفر منصور په ابتدائی دور حکومت کښې اوشو.[2]

محمدبن علی: دا محمدبن علی بن حسین بن علی بن ابی طالب، القرشی، الهاشمی دې. ابوجعفر دَهغوی کنیت دې اودَ باقر په لقب سره مشهور دې.[3] دَدوی تفصیلی حالات **کتاب الوضوء، باب من لم یرالوضوء إلا من المخرجین القبل والدبر** لاندې اوګورئی.[4]

جابر بن عبدالله رضی الله عنه: دا مشهور صحابی رسول ﷺ حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه بن عمرو بن حرام بن ثعلبه بن کعب بن غنمك بن کعب بن سلمة بن سعد بن علی بن اسد بن سارده ابن تزید بن جشم بن الخزرج، انصاری، خزرجی، سملی مدنیٓ دې. ابوعبدالله ابوعبدالرحمن او ابومحمد دَدوی کنیت دې.[5] دَ دوی حالات **کتاب الوضوء، باب من لم یرالوضوء إلا من المخرجین القبل والدبر** لاندې اوګورئی.[6]

شرح حدیث: **کان النبی صلی الله علیه وسلم یفرغ علی رأسه ثلاثاً** یعنی نبی کریم ﷺ به (په غسل جنابت کښې) په خپل سرباندې درې لپې اوبه بهیولې.

قوله: **یُفْرِغُ:** یفرغ دَ یاء په ضمه سره باب افعال الإفراغ نه مضارع معروف واحد مذکر غائب صیغه ده.[7] بهیولو ته وائی مراد دلته اوبه بهیول دی لکه «**أفرغت الإناء إفراغاً: إذا قلبت مافیه من الماء او "أفرغت الدلاء: أرقتها"**» هغه وخت وئیلې شی کله چه ته په لوښی کښې موجود اوبه بهیوې.[8] "**الإفراغة**" مفرد دې یوځل اوبه بهیولوته وائی دَدې جمع "إفراغات" راځی.[9]

قوله: **ثلاثاً:** "**أي ثلاث غرفات**" یعنی درې لپې اوبه به ئې په خپل سرباندې بهیولې.[10]

إذا لم یکن داعیة، ولا تقبل إذ کان داعیة إلی بدعته، وهذا مذهب الکثیر أو الأکثر من العلماء "...... وهذا المذهب الثالث أعدلها وأولاها، والأول بعید مباعدٌ للشائع عن أئمة الحدیث. فإن کتبهم طافحة بالروایة عن المبتدعةغیر الدعاة، وفی "الصحیحین" کثیر من أحادیثهم فی الشواهد والأصول". (معرفة أنواع علم الحدیث ص:۲۳۲-۲۳۰) قال ابن حجر رحمه الله: "الأکثر علی قبول غیر الداعیة، إلا إن روی ما یقوی بدعته فیرد علی المذهب المختار". (النزهة: ۱۳۸-۱۳۷) انظر للمزید والتفصیل: البحر المحیط: ۲۷۲/۴-۲۷۱ الإحسان بترتیب صحیح ابن حبان: ۸۹/۱ الکفایة ص: ۱۹۵، ۲۰۱ إکمال المعلم: ۱۲۵/۱ کشف الأسرار: ۴۶/۲ الإفتراح فی بیان الاصطلاح ص: ۴۴۴-۴۴۲ التقیید ص: ۱۵۰ معرفة الرجال ص:۳۲ تدریب الراوی: ۳۲۹/۱-۳۲۸.

[1] تهذیب التهذیب: ۷۹/۱۰.

[2] تهذیب الکمال: ۳۴۹/۲۷تهذیب التهذیب: ۷۹/۱۲۰کتاب الثقات: ۵۱۵/۷ تقریب التهذیب: ۶۷/۲تاریخ الإسلام: ۱۳۹/۴

[3] تهذیب الکمال:۱۴۲/۲۶-۱۳۶تهذیب التهذیب:۳۵۲/۹-۳۵۰الطبقات الکبری:۳۲۴/۵-۳۲۰.

[4] کشف الباری کتاب الوضوء باب من لم یرالوضوء إلا من المخرجین القبل والدبر.

[5] تهذیب الکمال:۴۴۴/۴ تهذیب التهذیب:۴۲۳/۲-۴۲۱ طبقات ابن سعد:۵۷۴/۳.

[6] کشف الباری: کتاب الوضوء، باب من لم یرالوضوء إلا من المخرجین القبل والدبر.

[7] فتح الباری:۴۸۵/۲عمدة القاری: ۳۰۰/۳إرشادالساری:۴۹۴/۱.

[8] النهایة: ۳۶۳/۲الصحاح ص:۸۰۸ جامع الأصول: ۲۹۴/۷.

[9] النهایة: ۳۶۳/۲ جامع الأصول: ۲۹۴/۷.

[10] فتح الباری:۴۸۵/۲عمدة القاری: ۳۰۰/۳إرشادالساری:۴۹۴/۱.

امام اسماعیلی په روایت کښې دا الفاظ هم نقل کړي دي: «قال شعبة: أظنه من غسل الجنابة» ([1])شعبه وائی چه زما خیال دې چه دا «درې لپې اوبه بهیول» دَ غسل جنابت باره کښې دي. امام احمد رحمه الله په خپل مسند کښې شعبه عن مخول په طریق سره دَ حضرت جابر رضی الله عنه نه هم دغه روایت نقل کړې دې. په کوم کښې چه دَ شعبه دغه پورتنې مذکوره قول هم دې. هم په دغه روایت کښې دی لکه چه پخپله دَ حدیث باب په وړاندې روایت کښې هم راځي: «فقال رجل من بني هاشم: إن شعري كثير، فقال جابر: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم أكثر شعر منك وأطيب» ([2]) یعنی دَ بنو هاشم یو سړی اوونیل زما وینښته خو زیات دي (زما دَپاره درې لپې اوبه کافی نه دي) نوحضرت جابر رضی الله عنه اوفرمائیل رسول الله صلی الله علیه وسلم ستا نه دَ زیاتو (گڼو) وینښتو والا اوتانه زیات پاك (نظافت والا) وو (هغوی صلی الله علیه وسلم له به درې لپې کافی کیدل.

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی: «كان النبي صلى الله عليه وسلم يفرغ، هذا التركيب مما يدل على استمرار العادة في ذلك». ([3])یعنی دَ حدیث الفاظ «كان النبي صلى الله عليه وسلم يفرغ» په دې خبره باندې دلالت کوی چه درې لپې اوبه بهیول دَ حضورپاك دائمی عادت وو.

دَمخول بن راشد رحمه الله دَ مذکوره روایت سره متعلق یووضاحت: دَ مخول بن راشد رحمه الله په بخاری شریف کښې هم دغه یو روایت دې دې نه علاوه بل یوروایت دَهغوی نه بخاری شریف کښې نه دې نقل. ([4])

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی «وليس له في البخاري غير حديث واحد، توبع عليه عنده» ([5])یعنی بخاری کښې دَ مخول بن راشد صرف هم دغه یو روایت دې. اودَهغوی په نیز دَدې متابعت کړې شوې دې. دَمخول بن راشد روایت امام نسائی «أخبرنا محمد بن عبد الأعلى قال: حدثنا خالد عن شعبة عن مخول عن أبي جعفر محمد بن علي بن حسين، عن جابر» په سلسله سند سره نقل کړې دې. ([6])

متابع اوشواهد: دَ دوی نه علاوه احمدبن علی التمیمی په مسند ابویعلی الموصلی کښې دَ زهیر په طریق سره هغوی ابن عیینه نه هغوی دَجعفر نه اوهغه دَخپل پلار نه، دَهغوی پلار دَحضرت جابر رضی الله عنه نه نقل کوی: «أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يغرف على رأسه ثلاثاً، يعني في الغسل». ([7]) هم دې سند سره امام حمیدی رحمه الله دَ سفیان په طریق سره دا روایت په خپل مسند کښې هم نقل کړې دې. ([8])

---

[1]) تحفة الباري: ۲۲۲/۱ فتح الباري: ۴۸۵/۲ عمدة القاري: ۳۰۰/۳ إرشادالساري: ۴۹۴/۱.

[2]) مسندأحمد مسند جابر بن عبدالله رضی الله عنه: ۲۳۲/۵ رقم: ۱۴۲۳۷.

[3]) شرح الكرماني: ۱۱۸/۳.

[4]) عمدة القاري: ۳۰۰/۳ إرشادالساري: ۴۹۴/۱ التوضيح: ۵۶۰/۴ فتح الباري: ۴۸۵/۲.

[5]) تهذيب التهذيب: ۷۹/۱۰.

[6]) سنن النسائي، كتاب الغسل والتيمم، باب مايكفي الجنب من إفاضة الماء على رأسه، رقم الحديث ۴۲۶، مسندالإمام أحمد بن حنبل، مسند جابر بن عبدالله الأنصاري رضی الله عنه: ۲۳/۵ رقم الحديث: ۱۴۲۳۸، ۲۰۱-۲۰۲/۵ رقم الحديث: ۱۵۳۰۸.

[7]) مسند أبي يعلى الموصلي، مسند جابر بن عبدالله رضی الله عنه: ۳۸۵/۲ رقم: ۱۸۴۶.

[8]) أخرجه الحميدي في مسنده في أحاديث جابربن عبدالله رضی الله عنه: ۵۳۲/۲ رقم: ۱۲۶۴.

خو امام احمد رحمه الله یوخائی دَ یحیی په طریق سره او دویم خائی کښې دَعبدالوهاب ثقفی په طریق سره [۱] او ابن ماجه رحمه الله حفص بن غیاث په طریق سره نقل کړې دې [۲] اودا درېواړه دَ جعفر بن محمدبن علی نه هم په دې سندسره نقل کوی.امام بخاری رحمه الله پخپله هم په دې باب کښې دَدې نه په وړاندې روایت کښې هم دغه مضمون دَ ابونعیم په طریق سره دَ ابوجعفر نه نقل کړې دې اوهغه دَحضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه نقل کوی. [۳] نولکه چه دا ټول روایتونه دَ مخول بن راشد دَ حدیث باب دَ روایت متابعات،او شواهد نه دی.

دَحدیث ترجمة الباب سره مناسبت: دَحدیث ترجمة الباب سره مناسبت ښکاره دې چه په ترجمه کښې په سرباندې درې لپې اوبه بهیولو ذکر دې او په حدیث کښې «کان النبی صلی الله علیه وسلم یفرغ علی رأسه ثلاثاً» صراحت موجود دې په کوم سره چه بغیرد څه اخفا نه ترجمه ثابتیږی. [۴]

مایستفادمن الحدیث دَ سابقه روایت لاندې بیان کړې شوی دی.

الحدیث الثالث

۲۵۶ - حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْمَرُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَامٍ، حَدَّثَنِي أَبُو جَعْفَرٍ، قَالَ: قَالَ لِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَأَتَانِي ابْنُ عَمِّكَ يُعَرِّضُ بِالْحَسَنِ بْنِ مُحَمَّدِ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ. قَالَ: كَيْفَ الْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ؟ فَقُلْتُ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذُ ثَلاَثَةَ أَكُفٍّ وَيُفِيضُهَا عَلَى رَأْسِهِ، ثُمَّ يُفِيضُ عَلَى سَائِرِ جَسَدِهِ» فَقَالَ لِي الْحَسَنُ إِنِّي رَجُلٌ كَثِيرُ الشَّعَرِ، فَقُلْتُ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرَ مِنْكَ شَعَرًا» [حدیث ۲۵۳] [۵]

ترجمه: مونږ ته ابونعیم بیان اوکړو وئی وئیل مونږ ته معمر بن یحیی بن سام ،اووئیل ماته ابوجعفر (باقر) بیان اوکړو ماته جابر رضی الله عنه هغوی اوفرمائیل ماله ستا دَ تره خوئی راغلو دَهغه اشاره حسن بن محمد بن حنفیه طرف ته وه هغه تپوس اوکړو چه دَ جنابت دَ غسل څه طریقه ده؟ ما اووئیل نبی کریم صلی الله علیه وسلم به درې لپې اوبه اخستلې او هغه به ئې په خپل سرباندې بهیولې. بیابه ئې په خپل ټول بدن باندې اوبه بهیولې. حسن په دې باندې اووئیل زه خود ډیرو ویښتو والاسړې یم ما جواب ورکړو چه دَنبی کریم صلی الله علیه وسلم ویښته تانه زیات وو.

تراجم رجال

---

[۱] مسند أحمد، مسند جابربن عبدالله رضی الله عنه: ۷۷/۵رقم الحدیث: ۱٤٤۸۳، ۲۲۳/۵ رقم: ۱۵۱۱۸.

[۲] سنن ابن ماجه، أبواب التیمم، باب فی الغسل من الجنابة، رقم: ۵۷۷.

[۳] صحیح البخاری کتاب الغسل باب من أفاض علی رأسه ثلاثاً رقم:۲۵۶.

[۴] عمدة القاری:۲۹۹/۳.

[۵] الحدیث أخرجه مسلم فی صحیحه کتاب الحیض باب استحباب إفاضة الماء علی الرأس وغیره ثلاثاً: ۲۵۹/۱ رقم:۳۲۹ والنسائی فی أبواب الغسل والتیمم، باب مایکفی الجنب من إفاضة الماء علی رأسه رقم:٤٦٦ انظر جامع الأصول: ۲۹٤/۷-۲۹۳ رقم: ۵۳۲۵.

ابونُعیم: دامشهور محدث ابونعیم الفضل بن دکین عمرو بن حماد الملائی الکوفی الاحول دی دکین دَ دوی دَپلار لقب دې اودَهغه نوم عمرو بن حماد دې. [1] دَدوی تفصیلی احوال «کتاب الایمان باب: فضل من استبرألدینه» دَ رومبی روایت په ذیل کښې راغلی دی. [2]

معمر بن یحیی بن سام: دا معمر بن یحیی بن سام موسیٰ ضبی کوفی دې. [3]

دَمعمر تلفظ: معمر په دوه شان لوستلې کیږی "معْمَر" دَمیم فتحه اودَمیم ثانی تخفیف سره او "مُعَمَّر" دَمیم ضمه اوعین فتحه اومیم ثانی تشدید سره هم لوستلې کیږی. [4]

حافظ عبدالغنی بن سعید ازدی اوعلامه ذهبی رحمهما الله دَمیم په ضمه او میم ثانی په تشدید سره نقل کړې دې [5] هم دا علامه ذهبی رحمه الله صحیح ګرځولی دی. [6] مُعَمَّر په وزن دَمحمد هم دغه دَ قابسی روایت دې اوهم په دې باندې حاکم جزم کړې دې. [7] ابن ماکولا په مختلف فیه کښې ذکرکړې دې [8] لیکن امام بخاری رحمه الله پخپله التاریخ الکبیر کښې دَمیم فتحه اومیم ثانی تخفیف سره نقل کړې دې [9] لکه څنګه چه ابن ماکولا وغیره هم دَدې صراحت کړې دې. [10] هم دغه دَاکثرو حضراتو روایت دې [11] علامه مزی رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله هم دَمیم فتحه او تخفیف سره نقل کړې دې. [12]

کله کله دَ دوی نسبت دَ پلار په ځائې دَنیکه طرف ته هم کیږی اومعمر بن سام ورته وئیلی شی. [13]

شیوخ حدیث: هغوی دَ حدیث سماع دَخپل رور ابان بن یحیی بن سام، ابوجعفر محمد ابن علی بن الحسین او فاطمه بنت علی بن ابی طالب نه کړې ده. [14]

تلامذه: دَهغوی نه دَحدیث سماع کونکوکښې ابو أسامه حماد بن أسامه، ابو نُعیم الفضل بن دکین او وکیع بن الجراح رحمهم الله شامل دی. [15]

---

[1] تهذیب الکمال: ۱۹/۲۳ سیر أعلام النبلاء: ۱۴۲/۱۰.
[2] کشف الباری: ۶۶۹/۲-۶۷۳ص
[3] التاریخ الکبیر: ۳۷۷/۷ الثقات لابن حبان: ۴۸۵/۷ الجرح والتعدیل: ۲۹۴/۸ تاریخ الإسلام: ۱۴۳/۴ الکاشف: ۲۸۳/۲ تهذیب الکمال: ۳۲۳/۲۸ تقریب التهذیب: ۲۰۳/۲ خلاصة الخزرجی ص: ۳۸۴.
[4] المؤتلف والمختلف للأزدی: ۶۳۱/۲.
[5] المؤتلف والمختلف للأزدی: ۶۳۱/۲ الکاشف: ۲۸۳/۲.
[6] توضیح المشتبه: ۲۴۰/۵.
[7] فتح الباری: ۴۸۵/۲ عمدة القاری: ۳۰۰/۳ إرشادالساری: ۴۹۴/۱.
[8] الإکمال لابن ماکولا: ۲۷۰/۷.
[9] التاریخ الکبیر: ۳۷۷/۷.
[10] الإکمال: ۲۷۰/۷ المؤتلف والمختلف للإزدی: ۶۳۳/۲ توضیح المشتبه: ۲۴۰/۵.
[11] فتح الباری: ۴۸۵/۲ عمدة القاری: ۳۰۰/۳ إرشادالساری: ۴۹۴/۱.
[12] تهذیب الکمال: ۳۲۳/۲۸ تقریب التهذیب: ۲۰۳/۲.
[13] تهذیب الکمال: ۳۲۳/۲۸ تهذیب التهذیب: ۲۴۹/۱۰ تقریب التهذیب: ۲۰۲/۲.
[14] تهذیب التهذیب: ۲۴۹/۱۰ تهذیب الکمال: ۳۲۳/۲۸ الثقات: ۴۸۵/۷ الجرح والتعدیل: ۲۹۴/۸.
[15] التاریخ الکبیر: ۳۷۷/۷-۳۷۸ الجرح والتعدیل: ۲۹۴/۸ تاریخ الإسلام: ۱۴۲/۴ تهذیب الکمال: ۳۲۳/۲۸.

دَهغوی باره کښې دَ ائمه جرح والتعديل اقوال: ابن حبان رحمه الله په کتاب الثقات کښې دَهغوی تذکره کړې ده.[1]

دَ ابوزرعه رحمه الله نه دَ معمر بن يحيى بن سام رحمه الله باره کښې تپوس اوکړې شو نوهغوی اوفرمائيل «**كوفي ثقة**»[2] علامه ذهبی رحمه الله الکاشف کښې فرمائيلي وثق.[3]

يعقوب بن سفيان رحمه الله او ابن معين رحمه الله فرمائيلی دی ثقة.[4] آجري دَ امام ابوداؤد رحمه الله نه نقل کړی دی چه هغوی اوفرمائيل «لابأس به» لکه چه امام ابوداؤد هغه خوښ نه کړو.[5] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلی مقبول.[6]

تنبيه: دَحافظ صاحب رحمه الله هغه ته صرف مقبول وئيل پخپله غيرمقبول دی. ځکه چه حافظ صاحب رحمه الله دَ امام ابوداؤد رحمه الله رائې قابل التفات نه ګڼړی. هم دغه وجه ده چه هغوی دَ فتح الباري په مقدمه کښې دَمعمر بن يحيى باره کښې څه خبرې اترې نه دی کړی.[7] حافظ ابن حجر رحمه الله هغه دَ طبقه سادسه په راويانو کښې شمير کړې دی.[8]

دويمه تنبيه: حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينی رحمه الله فرمائی: «**ليس له في البخاري إلا هذا الحديث**»[9] يعنی بخاری شريف کښې دَهغوی صرف دَ حديث باب والاروايت دی. حافظ ابن حجر رحمه الله په تهذيب التهذيب کښې فرمائيلی«**أخرجه متابعة**»[10] امام بخاری رحمه الله دا هم (دَ مخول بن راشد دَ روايت دَپاره) په توګه دَ متابع نقل کړی دی.

ابوجعفر: دا محمدبن علی بن حسين بن علی بن ابی طالب قرشی هاشمی دی. ابوجعفر دَدوی کنيت دی اوباقردَ دوی لقب دی.[11] دَدوی حالات **كتاب الوضوء باب من لم ير الوضوء إلا من المخرجين القبل والدبر** لاندې تير شوی دی.[12]

جابر رضي الله عنه: دا مشهور صحابی رسول صلى الله عليه وسلم حضرت جابر بن عبدالله انصاری رضي الله عنهما دی. قدمرآنفًا.

---

[1]) التاريخ الكبير: ٣٧٨/٧-٣٧٧ الجرح والتعديل:٢٩٤/٨ تاريخ الإسلام: ١٤٢/٤ تهذيب الكمال:٣٢٣/٢٨.

[2]) الجرح والتعديل: ٢٩٤/٨تهذيب الكمال: ٣٢٤/٢٨ تهذيب التهذيب: ٢٤٩/١٠تاريخ الإسلام: ١٤٢/٤.

[3]) الكاشف:٢٨٣/٢.

[4]) تعليقات تهذيب الكمال: ٣٢٤/٢٨.

[5]) تهذيب التهذيب: ٢٤٩/١٠تعليقات تهذيب الكمال: ٣٢٤/٢٨.

[6]) تقريب التهذيب:٢٠٣/٢ تعليقات تهذيب الكمال:٣٢٤/٢٨.

[7]) قال الشيخ محمدعوامه حفظه الله فی تعليقاته على الكاشف:٢٨٣/٢ مانصه: فهو ثقة إن شاء الله. فقول الحافظ فی التقريب:٦٨١٤: مقبول غير مقبول. بل إنه نفسه لم يلتفت إلى رأى أبی داؤد فی الرجل، ولذالم يترجمه فی مقدمة الفتح. (انتهى).

[8]) تقريب التهذيب: ٢٠٣/٢.

[9]) فتح الباري:٤٨٥/٢عمدة القاري:٣٠٠/٣.

[10]) تهذيب التهذيب: ٢٤٩/١٠ فتح الباري: ٤٨٥/٢ عمدة القاري: ٣٠٠/٣.

[11]) دَنورتفصيل دَپاره اوګورئ: تهذيب الكمال: ١٤٢/٢٦-١٣٦تهذيب التهذيب: ٣٥٢/١٠-٣٥٠ الطبقات الكبرى :٣٢٤/٥-٣٢٠.

[12]) صحيح بخاری كتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء إلا من المخرجين القبل والدبر.

الحسن بن محمدبن الحنيفة: دا حسن بن محمد بن علی بن ابی طالب قرشي هاشمي مدني دي.[2] دهغوی پلار محمدبن علی ابن الحنفيه په نوم سره معروف دي ابومحمد دهغه کنيت دي.[3] خليفه بن خياط وغيره وائي دهغوی د والده نوم جمال بنت قيس بن مخرمه بن المطلب بن عبدمناف دی.[4]

ابن الحنيفة: حنفيه دحضرت علي رضي الله عنه دويمه بي بي ده چاسره چه هغوی دحضرت فاطمه رضي الله عنها د وفات نه پس نکاح کړې. دهغې نه محمد پيدا شو چه دخپلې مور په نسبت سره محمد بن الحنفيه په نوم سره مشهور شو.[5]

شيوخ حديث: دي د حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه سلمه بن الاکوع رضي الله عنه عبدالله بن عباس رضي الله عنهما عبيدالله بن ابي رافع رضي الله عنه ابوسعيد خدري رضي الله عنه ابو هريرة رضي الله عنه ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها نه علاوه دخپل پلار محمدابن الحنفيه رحمه الله اوبنت عبدالله بن جعفر نه دحديث روايت کوی.[6]

تلامذه: دهغوی نه د حديث روايت کونکوکښې ابان بن صالح، سعيد بن المرزبان، ابو سعد البقال، سلمه بن اسلم جهنی، عاصم بن عمر بن قتاده، عبدالواحد بن أيمن، عثمان بن ابراهيم بن محمدبن حاطب جمحی، عمرو بن دينار، قيس بن مسلم، محمدبن خليفه اسدی، محمدبن عبدالله بن قيس بن مخرمه، مسلم بن شهاب زهری، منذر ثوری، موسیٰ بن عبيده ربذی او هلال بن خباب رحمهم الله شامل دی.[7]

د ژوند حالات او د ائمه اقوال: حسن بن محمد ابن الحنفيه رحمه الله د بنوهاشم د ښه خوئی، هوښيار پوهه اوعقلمندو خلقونه وو.[8]

يحيی ابن معين رحمه الله فرمائی چه حسن رحمه الله د تابعين مدينه اومحدثين اهل مدينه نه وو.[9] هغوی ته په صورت سيرت اوکردارکښې په خپل رور ابوهاشم عبدالله باندې اوچتوالې حاصل وو.[10] اسلم

---

[1]) صحيح بخاری کتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء إلا من المخرجين القبل والدبر.

[2]) البداية والنهاية: ۱۵۱/۹ تهذيب تاريخ دمشق الکبير المعروف بتاريخ ابن عساکر: ۲۴۸/۴ تاريخ الإسلام:۱۳۲/۳التاريخ الکبير:۳۰۵/۲ سيرأعلام النبلاء: ۱۳۰/۴طبقات ابن سعد: ۳۲۸/۵کتاب الثقات: ۱۳۲/۴ تهذيب الکمال: ۳۱۶/۶ تهذب التهذيب: ۳۲۰/۲خلاصه الخزرجی ص:۸۱الجرح والتعديل: ۳۹/۳تقريب التهذيب ص: ۱۶۴الکاشف: ۳۲۹/۱.

[3]) تهذيب الکمال: ۳۱۷/۶ تهذيب التهذيب :۳۲۰ /۲ طبقات ابن سعد: ۳۲۸/۵.

[4]) تهذيب الکمال: ۳۱۸/۶تاريخ الإسلام: ۱۳۳/۳طبقات ابن سعد: ۳۲۸/۵.

[5]) فتح الباری: ۴۸۵/۲إرشاد الساری: ۴۹۴/۱ الکنز المتواری: ۱۹۵/۳.

[6]) تهذيب الکمال: ۳۱۷/۶تهذيب التهذيب: ۳۲۰/۲ تهذيب الأسماء واللغات: ۱۶۰/۱ تاريخ ابن عساکر: ۲۴۸/۴.

[7]) تهذيب الکمال: ۳۱۷/۶تهذيب التهذيب: ۳۲۰/۲ تهذيب الأسماء واللغات: ۱۶۰/۱ تاريخ ابن عساکر: ۲۴۸/۴ تاريخ الإسلام: ۱۳۲/۳ کتاب الثقات: ۱۲۲/۴خلاصه الخزرجی ص: ۸۱

[8]) طبقات ابن سعد:۳۲۸/۵تاريخ ابن عساکر: ۲۴۹/۴البداية والنهاية: ۱۵۱/۹.

[9]) تاريخ ابن عساکر:۲۴۹/۴.

[10]) طبقات ابن سعد:۳۲۸/۵ تهذيب الکمال: ۳۱۷/۶تهذيب التهذيب: ۳۲۰/۲.

وائي چه په خلقوكښې دَهغوى شمير معتمد ترين شخصيات كښې كيدلو.(۱) حافظ ابن كثير رحمه الله فرمائي چه په خلقوكښې اختلافي مسائل فقه اوتفسير په علم كښې هغوى ته يو لوړ مقام حاصل وو.(۲) حضرت حسن بن محمد رحمه الله خپل شاته هيڅ اولاد نه وو پريخودې.(۳)

حلم او بردباري: هغوى به فرمائيل چه دَ ټولو نه بهترين څادر دَ حلم اوبردبارئي دې. په الله تعالى باندې قسم دا ستاسو دَپاره دَ يمنى څادر نه بهتردې. كه چرې په تاسوكښې حلم اوبردبارى نه وى نو په تكلف سره حليم اوبردبار جوړشه.(۴)

دَالله تعالى محبت: دَالله تعالى دَ محبت په حواله سره به حضرت حسن بن محمد رحمه الله فرمائيل چه دَ چا سره محبت وى هغه دَ هغه نافرماني نه كوى بيا هغوى دا اشعار اولوستل:

تعصي الإله وأنت تُظهر حبّه عارٌ عليك إذا فعلت شنيعٌ

لوكان حبّك صادقاً لأطعته إن المحب لمن أحب مطيعٌ(۵)

① ته دَ خپل معبود نافرماني كوې او هغه سره دَمحبت اظهاركوې. (يعنى دَهغه دَمحبت دعويدارئې) كه چرې ته داسې كوې نودا دَ شرم سبب او دَ نفرت قابل خبره ده.

② كه چرې ستا محبت ربښتوني وې نوتابه دَهغه فرمانبردارى (اطاعت) كولو ځكه چه محب دَ خپل محبوب فرمانبردار او تابعدار وى.

نور فرمائي:

ماضرّمن كانت الفردوس منزله ماكان في العيش من بؤس واقتار

تراه يمشي حزيناً جائعاً شعثاً إلى المساجد يسعى بين اطمار(۶)

① په ژوند كښې موجود بدحالى اودَ رزق تنگى هغه سرى ته هيڅ ضرر اونقصان نه شى رسولې دَ چا ځائي چه جنت الفردوس وى.

② ته به هغه ته گورې اې مخاطب چه خفه اوږې پريشان حال په زړو خيرنو كپړو كښې اودَ نادارئې اوغريبئي په حالت كښې دَ جماتونو طرف ته ځي. مسعر وائي چه حسن بن محمد دَ حضورپاك ﷺ دَ ارشاد ((ليس منا)) تفسير ((ليس مثلنا)) سره كولو.(۷)

علامه ذهبى رحمه الله فرمائي چه حسن رحمه الله دَ علماء اهل بيت نه وو دَهغوى دَ فضيلت باره كښې دَعمرو بن دينار دا قول كافي دې: ((مارأيت أحداً أعلم بما اختلف فيه الناس من الحسن بن محمد، ماكان زهريكم إلا غلاماً من غلمانه)) (۸) يعنى ما دَخلقو اختلافي مسائلو كښې دَ حسن بن محمد رحمه الله نه لوئي څوك عالم نه دې ليدلې. ستاسو زهرى رحمه الله خودَهغوى په خدمت كښې اوسيدونكو څوانانونه يو وو.

---

(۱) تاريخ ابن عساكر: ۲۴۹/۴ تهذيب الكمال: ۳۱۹/۶.

(۲) البداية والنهاية: ۱۵۱/۹.

(۳) طبقات ابن سعد: ۳۲۸/۵ تهذيب الكمال: ۳۱۸/۶.

(۴) تاريخ ابن عساكر: ۲۴۹/۴ تهذيب الكمال: ۳۲۰/۶.

(۵) تاريخ عساكر: ۲۴۹/۴ تهذيب الكمال: ۳۲۰/۶.

(۶) تهذيب الكمال: ۳۲۱/۶ تاريخ ابن عساكر: ۲۴۹/۴.

(۷) تاريخ الإسلام: ۱۳۳/۳ تهذيب الكمال: ۳۱۹/۶.

(۸) سير أعلام النبلاء: ۱۳۰/۴ تهذيب التهذيب: ۳۲۰/۲ تاريخ الإسلام: ۱۳۳/۳-۱۳۲.

دَحضرات شیخین دفاع اومدح: امام دارقطني رحمه الله دَ حضرت حسن بن محمد رحمه الله نه نقل کړي دي چه هغوی اهل کوفه مخاطب کولو سره اوفرمائیل «يا أهل الكوفة! اتقوا الله ولا تقولوا في أبي بكر وعمر ماليساله بأهل، إن أبابكر كان مع رسول الله (صلى الله عليه وسلم) في الغار ثاني اثنين وإن عمر أعز الله به الدين» [۱]
یعنی اې اهل کوفه! تاسو دَالله تعالی نه اوویرېږئ اودَ حضرت ابوبکر اوحضرت عمر رضي الله عنهما باره کښې داسې خبره مه کوئ چه دَهغوی شان سره نه ښائي، بیشکه ابوبکر رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دَ غار ثور دَ دوو نه یو وو اوبیشکه حضرت عمر رضي الله عنه په ذریعه الله تعالی دین اسلام ته عزت او لوړمقام ورکړو.
ابن حبان رحمه الله وائي چه حسن بن محمد رحمه الله به فرمائیل «من خلع أبابكر وعمر فقد خلع السنة» [۲] یعنی کوم سړی چه ابوبکر اوعمر (رضي الله عنهما) دَ اتباع نه مخ واړولو نوهغه دَ سنت نه مخ واړولو.
دَ روافض باره کښې دَحضرت حسن رحمه الله ارشاد: محمدبن طلحه یامي رحمه الله وائي چه حسن بن محمد رحمه الله فرمائیلي: «منهم شيعة متمنية ينقمون المعصية على أهلها ويعملون بها، اتخذوا أهل البيت من العرب إماماً، وقلدوهم دينهم، يوالون على حبهم، ويعادون على بغضهم، جفاة للقرآن أتباع للكهان، يرجون الدولة في بعث يكون قبل قيام الساعة، حرفوا كتاب الله وارتشوا في الحكم وسعوا في الأرض فساداً» [۳]
یعنی دَخلقو نه (دَ شیعه ګانو) امیدونه کونکې یوه ډله ده چه په ګناهګارانوباندې دَهغوی دَ ګناه په وجه کدح کوي یعنی عیب لګوي او پخپله دَهغې ارتکاب کوي. په عربوکښې ئې اهل بیت خپل امام اوګرځولو او په دین کښې دَهغوی دَ تابعدارئې دعویدار دي. اهل بیتو سره دَ محبت په وجه خلقو سره محبت او هغوی سره دَ بغض دَ وجې نه خلقو سره دَ بغض اظهار کوي. (داخلق) دَ قرآن دښمنان دي دَ کاهنانو (جادوګرو) تابعدار دي. دَ قیامت دَ راتلونه وړاندې دَ حکومت دَ قیام خواهش مند دي. هغوی په کتاب الله کښې تحریف اوکړو په فیصلوکښې رشوت واخستو او په زمکه کښې فساد خورکړو.
دَائمه توثیقي اقوال: امام احمد رحمه الله فرمائي «مدني، تابعي، ثقة» [۴] حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائیل «ثقة فقيه» [۵] امام نووي رحمه الله تهذیب الأسماء واللغات کښې فرمائي: «اتفقوا على توثيقه» [۶] یعنی ائمه دَهغوی په توثیق باندې اتفاق کړي دي.
دَ ارجاء قول اودَهغې حقیقت: دَحسن بن محمد رحمه الله دَ ارجاء طرف ته نسبت کړې شوې دې بلکه مصعب زبیري، مغیره بن مقسم، عثمان بن ابراهیم حاطبي، ابن سعد، ایوب سختیاني، امام عجلي

---

[۱] تاریخ ابن عساکر: ۲۴۰/۴ تهذیب الکمال: ۳۱۹/۶.
[۲] کتاب الثقات: ۱۲۲/۴ خلاصة الخزرجي، ص: ۸۱ تهذیب الکمال: ۳۱۹/۶ کښې دَ السُّنَّة په ځائې السَّنَة راغلې دې دا تصحیف دې.
[۳] تاریخ الإسلام: ۱۳۴/۳.
[۴] تاریخ ابن عساکر: ۲۴۹/۴ تاریخ الإسلام: ۱۳۴/۳.
[۵] تقریب التهذیب ص: ۱۶۴.
[۶] تهذیب الأسماء واللغات: ۱۶۰/۱.

رحمهم الله وغيره ونيلي دي «أول من تكلم في الارجاء الحسن بن محمد بن الحنفية»[1] يعني دَ ټولو نه اول دَ ارجاء باره کښې خبره کونکې حسن بن محمد بن الحنفيه دې.
عثمان بن ابراهيم بن حاطب وائي چه زه په هغه ورځ (په کومه ورځ چه حسن بن محمدبن حنفيه دَ ارجاء باره کښې خبره اوکړه) خپل تره سره دَهغه په حلقه کښې موجود ووم په هغه مجلس کښې جُخْدَب هم وو.[2] اوهغه سره څه نور خلق هم وو. هغه خلقو دحضرت علي حضرت عثمان حضرت طلحه او حضرت زبير رضي الله عنهم باره کښې خبرې شروع کړې. دَهغوی خبرې زياتې شوې اوحسن بن محمد رحمه الله خاموش ناست وو. بيا حسن بن محمد رحمه الله خبرې شروع کړې وئې فرمائيل: «قد سمعت مقالتكم ولم أرشيئاً أمثل من أن يرجأ علي وعثمان وطلحة والزبير فلا يتولوا ولا يتبرأ منهم»[3] يعني ما ستاسو خبرې اترې واؤريدې چه دَدې نه زيات هيڅ څيز نه وينم چه دَ علي عثمان طلحه اوزبير رضي الله عنهم معامله مؤخر کړې شي. نه دې هغوی سره دَ موالات (دوستئي) اظهار اوکړې شي اونه دَ براءت.
دَ هغوی پلار محمدبن الحنفيه ته چه کله دَدې قول پته اولګيدله نوهغه دَ حسن بنه رټنه اوکړه اووئې فرمائيل ولې ته به دَ خپل نيکه حضرت علي رضي الله عنه سره هم دَمحبت اظهار نه کوې؟[4] هم دَدې ارجاء باره کښې هغوی څه رساله هم ليکلې وه.[5]
دَ حسن بن محمد رحمه الله طرف ته دَ منسوب شوې ارجاء مطلب: علامه ذهبي رحمه الله فرمائي چه دَ کوم ارجاء قول حسن بن محمد کړې دې دَهغې مطلب دادې چه دَحضرت عثمان رضي الله عنه اوحضرت علي رضي الله عنه معامله دې الله تعالى ته حواله کړې شي هغه چه څه غواړي دَدوی باره کښې فيصله اوکړي.[6]
دَ حافظ ابن حجر رحمه الله وضاحت: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي: «المراد بالإرجاء الذي تكلم الحسن بن محمد فيه غير الإرجاء الذي يعيبه أهل السنة المتعلق بالإيمان»[7]
يعني دَ حسن بن محمد رحمه الله دَ ارجاء باره کښې دَ قول نه مراد هغه ارجاء نه ده دَ کوم تعلق چه دَ ايمان سره دې اوکوم چه اهل سنت معيوب ګڼړي.
دَ حافظ ابن حجر رحمه الله تحقيق: په دې سلسله کښې حافظ ابن حجر رحمه الله دَ نور تحقيق کولو سره فرمائي چه ما دَ حسن بن محمد رحمه الله کتاب لوستلې په هغې کښې دَ تقوىٰ دَ وصيت اودَ وعظ باره کښې يو اوږد کلام وو. دَ هغې په آخره کښې ليکلې شوې وو چه مونږ دَحضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما سره دَ دوستئي اظهار کوو. اودَ هغوی دواړو باره کښې کوشش کوو (چه څوک دَهغوی باره کښې غلطه خبره اونه کړي) ځکه چه دَامت دَدې دواړو باره کښې څه جنګ جګړه نه ده شوې او امت ته

---

[1] تهذيب التهذيب: ٣٢٠/٢ تهذيب الكمال: ٣١٨/٦ طبقات ابن سعد: ٣٢٨/٥ البداية والنهاية: ١٥١/٩ تاريخ ابن عساكر: ٢٤٩/٤ تاريخ الإسلام: ١٣٣/٣.
[2] ابن عساكر: ٢٤٩/٤ تاريخ الإسلام: ١٣٣/٣ کښې جحدب اوجندب نقل دی.
[3] تهذيب الكمال: ٣٢١/٦ تاريخ الإسلام: ١٣٣/٣ تاريخ ابن عساكر: ٢٤٩/٤.
[4] بداية والنهاية: ١٥١/٩ تاريخ الإسلام: ١٣٣/٣ تاريخ ابن عساكر: ٢٤٩/٤.
[5] ريخ الإسلام: ١٣٣/٣ تاريخ ابن عساكر: ٢٥٠/٤ تهذيب الكمال: ٣٢٢/٦.
[6] ريخ الإسلام: ١٣٣/٣.
[7] ذيب التهذيب: ٣٢١/٢.

دَهغوی په معامله کښې هیڅ شك نشته. البته دَهغوی نه پس کوم خلق چه په فتنه کښې اخته کړې شو دَهغوی معامله مؤخر کوو اودَ هغوی معامله دَ الله تعالي په حواله کوو.(۱)

حافظ صاحب فرمائي چه دَ حسن بن محمد رحمه الله دَ دغه مذکوره کلام مطلب دا دې چه هغه دَ مسلمانانو دَدې دواړو جماعتونو باره کښې دَ خطاء او صواب آخري فیصله نه کوي دَ چا په مینځ کښې چه دَ فتنه په زمانه کښې جګړه اوشوه. بلکه هغوی دَ دوی معامله دَ الله تعالي په حواله کوله دې نه معلومه شوه چه دَهغوی مراد دَ ارجاء نه هغه نه دې دَ کوم تعلق چه دَایمان سره دې لهذا دَدې قول په وجه هغوی ته څه عیب اوخامي نه کیږي.(۲)

دَ مذکوره ارجاء نه رجوع: دې نه علاوه دَحسن بن محمد رحمه الله نه دَ ارجاء دَدې قول (دَ کوم وضاحت چه وړاندې اوکړې شو) نه رجوع هم ثابته ده. چنانچه عطاء بن سائب دَ زاذان اومیسره رحمهما الله نه نقل کړې دی چه هغوی دواړو دحضرت حسن په خدمت کښې حاضر شو اودې دواړو هغه په ارجاء باندې دَهغه په لیکلې شوی کتاب باندې ملامت کړو نوحضرت حسن بن محمد رحمه الله اوفرمائیل «لوددت أني مت ولم أكتبه»(۳) افسوس چه زه مړشوې وې خو چه دا مې نه وې لیکلې.

دَ سابقه تصریحاتو نه یوخودهغوی طرف ته منسوب دَ ارجاء دَ قول حقیقت معلوم شو اودَهغې نه دَ هغوی رجوع هم ثابته شوه. لهذا دَ ارجاء دَ قول دَ وجې نه په هغوی باندې عیب لګول صحیح نه دی.

وفات: دَهغوی دَ وفات په کال کښې اختلاف دې. ابویعقوب اسحاق بن ابراهیم بن عبدالرحمن هروی او ابوعبید القاسم بن سلام وغیره رحمهم الله نه ۹۵ هجری نقل دې.(۴)

خلیفه بن خیاط او محمدبن عمرو اقدی وائي چه دَحضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په دور خلافت کښې انتقال شوې.(۵) خلیفه بن خیاط طبقات کښې فرمائیلی چه ۹۹ یا ۱۰۰ هجری کښې انتقال شوې. اودَ خلیفه بن خیاط نه په تاریخ کښې ۱۰۱ هجری قول هم نقل دې.(۶) هم دا علامه مزی دَ ابن عساکر نه هم نقل کړې دې.(۷)

په اقوالوکښې تطبیق: په طبقات کښې ذکر شوې ۹۹ یا ۱۰۰ هجری اودَعمر بن عبدالعزیز رحمه الله دَ دور خلافت والا قول کښې هیڅ تعارض نشته دې ځکه چه ۹۹ او ۱۰۰ هجری هم دَ عمر بن عبدالعزیز رحمه الله دور خلافت دې. اودَ ۱۰۱ هجری والا قول مزی اوابن عساکر دواړو وهم دې دَ یویل نه نقل کونکی راروان دی.(۸)

شرح حدیث

(۱) ذیب التهذیب: ۳۲۱/۲ تاریخ الإسلام: ۱۳۳/۳.

(۲) ذیب التهذیب: ۳۲۱/۲.

(۳) ریخ الإسلام: ۱۳۳/۳ تاریخ ابن عساکر: ۲۵۰/٤ تهذیب الکمال: ۳۲۲/٦.

(۴) تاریخ الإسلام: ۱۳٤/۳ طبقات ابن سعد: ۳۲۸/۵ تهذیب الکمال: ۳۲۲/٦ الکاشف: ۳۳۰/۱ خلاصة الخزرجي ص: ۸۱

(۵) تاریخ الإسلام: ۱۳٤/۳ طبقات ابن سعد: ۳۲۸/۵ البدایة والنهایة: ۱۵۱/۹.

(۶) سیر أعلام النبلاء: ۱۳۰/٤ تهذیب التهذیب: ۳۲۱/۲-۳۲۰ تاریخ ابن عساکر: ۲۵۰/٤ تهذیب الکمال: ۳۲۲/٦ تهذیب الأسماء واللغات: ۱٦۰/۱ تقریب التهذیب ص: ۱٦٤.

(۷) تاریخ ابن عساکر: ۲۵۰/٤ تهذیب الکمال: ۳۲۲/٦.

(۸) تعلیقات تهذیب الکمال: ۳۲۳/٦-۳۲۲.

قوله:: قال: قال لي جابر: وأتاني ابن عمك: ابوجعفر رحمه الله وائی چه ماته جابر رضی الله عنه اوفرمائیل ماله ستاد تره خوئی راغلو. حضرت جابر رضی الله عنه چه دا کوم ابوجعفر رحمه الله ته اوفرمائیل «أتاني ابن عمك» نودا ئی دمجاز او تسامح په توګه فرمائیلی دی. ځکه چه دحضرت جابر رضی الله عنه مراد «ابن عمك» نه حسن بن محمد بن حنفیه دې چه په حقیقت کښې د هغه د تره خوئی نه دې بلکه دهغوی پلار زین العابدین علی بن حسین د تره خوئی وو. د دواړو د نسب سلسله داسې ده : ابوجعفر الباقر محمدبن علي بن حسين بن ابي طالب اوحسن بن محمدبن (الحنفيه) على بن ابى طالب، الغرض ابن عمك وئيل د مجاز اوتسامح په توګه دي. (١)

يعرّض بالحسن بن محمدبن الحنفية: دهغوی ارشاد د حسن بن محمد بن حنفیه طرف ته وو. «يعرّض بالحسن» دا الفاظ د راوی حدیث حضرت ابوجعفر المعروف باقر رحمه الله دی اود يعرّض فاعل حضرت جابر رضی الله عنه دي.(٢) د «يعرّض بالحسن» دا جمله «قال لي جابر» نه حال جوړيږي. (٣)يعنى ابو جعفر رحمه الله وائی چه ماته حضرت جابر رضی الله عنه اوفرمائیل په داسې حال کښې چه دهغه أرشاره محمدبن حنفيه طرف ته وه.

د تعريض لغوى معنى: په لغت کښې تعريض خلاف التصريح يعنى مبهم خبرې ته وائي. (٤)

دتعريض اصطلاحى معنى اوتعريف: علامه جرجانی رحمه الله د تعريض تعريف په دې الفاظو کښې کړې دې: «التعريض في الكلام ما يفهم به السامع مراده من غير تصريح» (٥)يعنى تعريض فى الكلام دادې چه اوريدونکې بغيرد تصريح د متكلم مراد باندې پوهه شي. علامه زمخشرى رحمه الله ليكلى دى «التعريض: أن تذكره شيئاتدل به على شيء لم تذكره» (٦) يعنى تعريض دادې چه متكلم يو څيز ذکر کړې چه په داسې شي باندې دلالت اوکړی د کوم ذکر چه هغه نه وی کړې.

شراح حديث علامه كرمانى، علامه عينى، علامه قسطلانى اوعلامه انصارى رحمهم الله د تعريض اصطلاحى تعريف په دې الفاظوسره کړې دې: «عبارة عن كناية تكون مسوقة لأجل موصوف غير مذكور» (٧)يعنى په اصطلاح کښې تعريض داسې کنايه نه عبارت دې کوم چه د يوموصوف غيرمذكور دپاره راوړلې شوې وی.

---

(١) شرح الكرماني:٣/١١٨فتح البارى:٢/٤٨٥ عمدة القارى:٣/٣٠٠ إرشادالسارى: ١/٤٩٤تحفة البارى : ١/٢٢٢الكوثر الجارى:١/٤١٣.

(٢) لامع مع الكنز المتوارى:٣/١٩٥.

(٣) عمدة القارى:٣/٣٠٠.

(٤) النهاية لابن الأثير:٢/١٨٦ الصحاح للجوهرى: ص:٦٩٢لسان العرب: ٩/١٤٩ شرح الكرمانى: ٣/١١٨عمدة القارى:٣/٣٠٠.

(٥) كتاب التعريفات ص:٤٥.

(٦) تفسير الكشاف: ١/٣١١عمدة القارى:٣/٣٠٠.

(٧) عمدة القارى:٣/٣٠٠إرشادالسارى:١/٤٩٤تحفة البارى: ١/٢٢٢.

صاحب کشاف اصطلاحات الفنون کښې فرمائي چه تعریض دَ تصریح په وزن باندې دې. دَ اهل بیان په نیز تعریض وائی لفظ په معنی موضوع لَه کښې استعمالول دَ غیر موضوع لَه طرف ته اشاره کولوسره.([1])

دَتعریض قسمونه: علامه سبکی رحمه الله فرمائی دَ تعریض دوه قسمونه دی.

دومبې قسم: ((قسم یراد به معناه الحقیقی ویشار به إلی المعنی الآخر المقصود)) یوقسم دادې چه دَ لفظ نه دَ هغې حقیقی معنی مراد واخستې شی اودې په ذریعه یوبلې معنی مقصودی طرف ته اشاره هم اوکړې شی لکه چه دَ الله تعالی ارشاد دې ﴿وَمَالِيَ لَآ أَعْبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي﴾ ([2])ماسره کوم یوعذر دې چه زه دَهغه عبادت اونه کړم چاچه زه پیداکړې یم. په دې سره دَدې خبرې طرف ته اشاره ده چه اې زما دَ قوم خلقو تاسو سره کوم یو عذر دې چه تاسو دَهغه عبادت نه کوئی چاچه تاسو پیداکړی یئی دَدې دلیل دَدې وراندیننی جمله ﴿وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ ([3])ده.

دویم قسم: ((قسم لایراد، بل یضرب مثلاً للمعنی الذي هو مقصود التعریض))([4]) دویم قسم هغه دې په کوم کښې چه حقیقی معنی مراد نه اخستلې کیږی بلکه دَ تعریض نه چه کومه معنی مقصودوی دَهغې دَپاره مثال بیانولې شی لکه دَحضرت ابراهیم علیه السلام قول ﴿ بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا ﴾ ([5])ونی فرمائیل چه نه بلکه دَدوی دې مشر کړی دی. دلته دَ ابراهیم علیه السلام مقصود حقیقی معنی نه ده بلکه دَتعریض سره معنی مقصود (عاجز اله نه شی جوړیدې) دَپاره دا قول په توګه دَ مثال پیش کړې دې لکه څنګه چه دَدوی مشر عاجز دې هم هغه شان دَ دغه نور هم.

دَعلامه سیوطی رحمه الله قول: علامه سیوطی رحمه الله فرمائی چه دَ تعریض یوصورت دا هم دې چه ((أن یخاطب واحد ویراد غیره)) یومخاطب کولوسره دویم مراد واخستې شی.([6])

دَ تعریض دَ تسمیه وجه: تعریض ته تعریض څکه وائی چه په دې کښې کلام یوطرف ته مائل کولې شی او په دې سره اشاره بل طرف ته کولې شی لکه چه ((نظر إلیه بعرض وجهه)) هغه وخت وئیلې شی چه کله دَ کتونکی مخ یوطرف ته وی او ګوری بل طرف ته.([7])

په حدیث کښې کوم یوتعریض مراددې: په حدیث کښې دَتعریض دویم قسم مراد دې په کوم کښې چه حقیقی معنی مراد نه شی اخستې نودلته هم دَ حضرت جابر رضی الله عنه دَ ارشاد ((ابن عمك)) نه حقیقی معنی مراد نه ده بلکه مجازی اوتسامح مراد دې. کمامر.

قوله: : قال: کیف الغسل من الجنابة؟: هغوی (حسن بن محمد بن حنفیه) تپوس اوکړو چه دَ جنابت غسل څنګه کول پکاردی؟ دَ سابقه باب دویم حدیث کښې هم دَ غسل باره کښې سوال وو

---

[1]) موسوعة کشاف اصطلاحات الفنون والعلوم: ۴۹۲/۱.س
[2]) سورت یسین: ۲۲.
[3]) سورت یسین: ۲۲ اوتاسو له هم دَهغه طرف ته واپس تلل دی.
[4]) کشاف اصطلاحات الفنون والعلوم/۴۸۲ الإتقان في علوم القرآن: ۹۶/۲.
[5]) سورت الانبیاء: ۶۳
[6]) الإتقان النوع الرابع والخمسون فی کنایاته وتعریضه: ۹۶/۲.
[7]) الإتقان للسیوطی: ۹۶/۲.

اودلته هم دي. آيا دا دواړه هم يوه واقعه ده يا جدا جدا واقعات دي؟ په دواړو كښې سوال دَ غسل دكيفيت باره كښې وو كه دكميت باره كښې؟ په دې باره كښې دَ حديث شراح كښې اختلاف دې.

دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله دواړه روايات جدا جدا واقعات ګرځولي دي اوفرمائيلي دي چه په ړومبي روايت كښې سوال دَ كميت ماء باره كښې وو او په دې روايت كښې دَ غسل دكيفيت باره كښې دې. حافظ صاحب دَدې وضاحت داسې كړې دې چه په حديث باب كښې دَ حضرت جابر رضي الله عنه ارشاد «أتاني» نه معلوميږي چه دلته حسن بن محمد بن حنفيه سوال دَ ابوجعفر رحمه الله په غيرموجودګئ كښې وو اودا سوال په حديث سابق كښې دَ ابوجعفر رحمه الله دَ سوال نه علاوه دې. ځكه چه هلته سوال په غسل كښې دَ اوبودكميت (مقدار) باره كښې وو لكه چه دَ حضرت جابر رضي الله عنه په جواب كښې «يكفيك صاع» نه مشعر دې او دلته په حديث باب كښې سوال دَ كيفيت غسل باره كښې دې كوم چه دَ سائل الفاظ «كيف الغسل» نه ظاهر دې. په دواړو روايتونوكښې حضرت جابر رضي الله عنه سره جګړه كونكې حسن بن محمدبن حنفيه دې لهذا هغه دَ حضرت جابر رضي الله عنه جواب كميت (يوصاع) باره كښې دا اووئيل چه «مايكفيني» اودَ دغه نه كافي كيدو علت او وجه ئې اونه خودله. اودَ كيفيت سره متعلق سوال په جواب «ثلاثة أكف» باره كښې اووئيل چه «إني كثيرالشعر» يعني زما دَپاره درې لپې كافي دي ماته دَ دريو نه دَ زياتو ضرورت نه پيښيږي. دَ زيات ضرورت پيښيدو علت ئې دَ ويښتو زياتوالې اوخودلو. نو دَدې په جواب كښې حضرت جابر دَ تنبيه په توګه اوفرمائيل چه دَ رسول الله ويښته تانه زيات ګڼړ او پاك وو دَهغوي دَپاره به درې لپې كافي كيدل.[1]

دَعلامه عيني رحمه الله رائې: علامه عيني رحمه الله دَ حافظ رحمه الله داخبره رد كړې ده چه دَ باب سابق روايت اوحديث باب دوه جدا جدا واقعات دي او په ړومبي روايت كښې سوال دَ كميت باره كښې اودويم كښې دَ كيفيت باره كښې وو. هغه فرمائي چه حافظ رحمه الله ته په حديث باب كښې مصرح لفظ «كيف» سره اشتباه شوې ده حالانكه دواړه روايتونه هم يوه واقعه ده او په دواړو كښې سوال دَ غسل جنابت دَ كيفيت سره متعلق دې. البته په حديث باب كښې دَ لفظ «كيف» صراحت دې او باب سابق په روايت كښې دا دَ اختصار دَ وجې نه حذف كړې شوې دې. مګر مقصود په دې كښې هم كيفيت معلومول وو اولفظ «كيف» په حالت باندې دلالت كوي.[2] علامه عيني رحمه الله نور فرمائي چه په دواړو روايتونوكښې دَ سوال جواب كميت (مقدار) بنائي ځكه چه دَ سابق باب روايت كښې دَ سوال په جواب كښې

«يكفيك صاع» اوحديث باب كښې دَ سوال په جواب كښې «ثلاثة أكف» اوفرمائيل اودا دواړه الفاظ په كميت ماء باندې دلالت كوي.[3]

دَ علامه عيني رحمه الله په توجيه باندې اشكال: دَعلامه عيني رحمه الله په ذكرشوي پورتني توجيه باندې دا اعتراض كيدې شي چه تاسو ځنګه وئيلې شئ چه په دواړو روايتونوكښې سوال دَ حالت غسل باره

[1]) فتح الباري:۲/٤۸٦-٤۸۵.

[2]) عمدة القاري:۳/۲۰۱.

[3]) عمدة القاري:۳/۲۰۱.

كښې دي او جواب دوارو خايونوکښې دَ كميت باره كښې دي. (نودغه شان خو به په سوال اوجواب كښې مطابقت هم رانه شي).

دَ اشكال جواب: علامه عينى رحمه الله دَدې اعتراض دا جواب وركړې دې چه حالت هم كيفيت ته وائى دَ غسل يوحقيقت دې او يوحالت. دَ غسل حقيقت دادې چه په ټول بدن باندې اوبه اوبهيولې شي او حالت دادې چه په غسل كښې يوصاع يا درې لپې اوبه استعمال كړې شي. په رواياتوكښې سوال دَ حقيقت غسل باره كښې نه دې بلكه دَ غسل دَ حالت باره كښې وو په دې وجه په دواړو ځايونوباندې «كم»په ذريعه جواب وو.باقى پاتې شوه خبره دَ مطابقت نوكم اوكيف سره دَدې چه دواړه جدا جدا شئيونه دى مګر په عرض كيدو كښې دواړه متحد دى. په دې توګه چه دَ دواړو شمير په مقولات تسعه كښې كيږى كوم چه دَ اعراض دَ قبيل نه دې. دَ كوم مقابل چه حقيقت (جوهر) وى خودلته نه دَحقيقت متعلق سوال دې اونه جواب. ځكه چه دَ رسول الله ﷺ بعثت دَ حقائق دَ بيانولودَپاره نه وو شوې بلكه دَ احكامو دَ بيان دَپاره شوې وو اواحكام دَ حقيقت دَ عوارضو نه دى. كه هغه دَ كيف دَ قبيل نه وى اوكه دَكم. نو په دې حيثيت سره (چه دَ كم اوكيف دواړو تعلق دَ عوارض سره دې) په سوال اوجواب كښې مطابقت كيږى.([1])

دَ شيخ الحديث مولانازكريا رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث مولانا محمد زكريا كاندهلوى نورالله مرقده دَ حافظ ابن حجر رحمه الله دَدې خبرې ترديدكوى چه دا دواړه دوه واقعې دى هغه فرمائى چه زما په نيز دَ دوو واقعو هيڅ وجه ښكاره نه ده ځكه چه هم هغه حسن بن محمد بن ا لحنفيه دې اوهم هغه حضرت جابر رضي الله عنه لهذا صرف دومره خبره ده چه هلته مقدرا بيانول وو هغه ئې بيان كړو اودلته كيفيت مقصود وو هغه ئې ذكركړو.([2])

قوله: :فقلت: كان النبي ﷺ يأخذ ثلاثة أكف: ما اووئيل نبى كريم ﷺ به درې لپې اوبه اخستلې. دكريمه په روايت كښې ثلاثة أكف تاء سره اودَ باقى حضراتو روايت ثلاث أكف بغير دَ تاء مروى دې.([3])

أكف جمع ده دَ كف، كف دَ لاس (يعنى دَ ګوتو سره دَ لاس دننه حصه (تلى) ته وائى). ([4])دَ اهل لغت په نيز كف مؤنث دې وئيلى شى «هذه كف واحدة».([5])

يواشكال: دلته په دې باندې اشكال كيدې شى چه دَ عدد اومعدود دَ قاعدې مطابق دَ دريو نه واخله تر نهو پورې كه چرې تميز مذكر وى نوعدد به مؤنث راوړلې شى اوكه چرې تميز مؤنث وى نوعدد به مذكر راوړلې شى. ([6])لهذا دَ دې قاعدې په رڼا كښې كله چه تميز (أكف) مؤنث دې نوعدد (ثلاث) بغيرتاء راوړل پكاروو. خو په روايت كښې ثلاثة تاء سره دې.

---

[1]) عمدة القارى:۳/۲۰۱.

[2]) تقرير بخارى:۲/۸۱ الكنز المتوارى:۳/۱۹۶ الأبواب والتراجم ص: ۶۰

[3]) فتح البارى:۲/۴۸۶ عمدة القارى:۳/۲۰۱ تحفة البارى: ۱/۲۲۲ إرشاد السارى:۱/۴۹۴ التوشيح: ۱/۲۴۴.

[4]) لسان العرب:۱۲/۱۲۴ القاموس الوحيد: ۲/۱۴۱۵.

[5]) لسان العرب:۱۲/۱۲۴ الصحاح للجوهرى ص: ۹۱۷.

[6]) شرح الأشمونى:۳/۳۱۴.

دَ اشكال جواب: دَدې يو جواب خو دادې چه ثلاثة تاء سره دَ كريمه روايت دې دَباقي حضراتو په روايت كښې ثلاث بغير دَ تاء دې لهذا دا اعتراض وارد كيدې نه شي.

دَ علامه كرماني جواب: باقي پاتې شوه خبره دَ كريمه په روايت كښې ثلاثة تاء سره نو علامه كرماني رحمه الله دَ دې دوه جوابونه وركړى دى: ① دلته دَ كف نه قدر كف يا كوم څه چه په دې كښې ځائى كيدې شي يعني اوبه مراد دي او هغه مذكر دې. ② يا دكف نه مراد عضو يعني اندام دې هغه هم مذكر دې نو اوس دَ ثلاثة عدد مؤنث راوړل صحيح كيږي.(۱)

دَ علامه عيني رحمه الله رائې: علامه عيني رحمه الله دَ علامه كرماني رحمه الله اولنئى رائې محل نظر او دويمه صحيح ګرځولې ده. علامه عيني رحمه الله فرماني چه بهتر دا ده چه داسې اووئيلې شي چه دَ كف استعمال مذكر او مؤنث دواړه شان سره كيږي. لهذا په دې اعتبار سره عدد تاء سره او بغير دَ تاء هم راوړل صحيح دى. (هم دغه وجه ده چه په روايت كښې دواړه شان وارد دى).(۲)

دَ ثلاثة اكف مطلب: ثلاثة أكف مطلب دا شو چه حضورپاك به دَ دريو څلونه هريوځل په دواړو لاسونو سره لپه ډكولو سره اوبه اچولې. ځكه چه لفظ كف جنس دې دَ يو او دوو دواړو احتمال لري. خو هم دَدې باب رومبى حديث كښې ((أشار بيديه)) دې په كوم كښې چه دَ دواړو لاسونو قيد ذكر دې. لهذا ثلاثة أكف مطلق په دغه مقيد باندې محمول كولې شي.(۳)

دَ اسحاق بن راهويه روايت كښې ذكر شوې ((وبسط يديه)) نه هم دَدې تائيد كيږي كوم چه حسن بن صالح جعفر بن محمد نه هغه دَ خپل پلار نه نقل كړې دې.(۴) دَدې تفصيلي بحث هم دَدې باب حديث سابق الفاظ ثلاثا لاندې تيرشوې دې.

قوله:: ويفيضها على رأسه دَ كشميهني او اصيلي په روايت كښې فيفيضها واؤ په ځائې فاء سره دې او دَ على رأسه الفاظ دَ ابوذر په روايت كښې ساقط شوى دى او په يوه نسخه كښې على دَ حرف جر نه بغير صرف رأسه نصب سره مروى دې.(۵)

قوله:: ثم يفيض على سائر جسده بيا به رسول الله ﷺ په خپل باقي (پوره) بدن باندې اوبه بهيولې. دلته دَ يفيض مفعول الماء محذوف دې. په دې باندې دا اشكال كيدې شي چه ماقبل ثلاثة أكف باندې دَ عطف دَ وجې نه دلته هم ثلاثة أكف مفعول محذوف ولې نه شي منلې كيدې؟

---

(۱) شرح الكرماني: ۱۱۹/۳ قال ابن منظور: فأما قول الأعشى: أرى رجلاً منهم أسفاً كأنما يضمّ إلى كشحيه كفاً مخضباً، فإنه أراد الساعد فذكر وقيل: إنما أراد العضو. (لسان العرب: ۱۲/۱۲٤).

(۲) عمدة القاري: ۳۰۱/۳ فتح الباري: ۲۲۲/۱ إرشاد الساري: ٤۹٤/۱.

(۳) شرح الكرماني: ۱۱۹/۳ فتح الباري: ٤۸٦/۲ عمدة القاري ۳۰۱/۳ إرشاد الساري: ٤۹٤/۱ تحفة الباري: ۲۲۲/۱.

(٤) فتح الباري: ٤۸٦/۲ عمدة القاري: ۳۰۱/۳ إرشاد الساري: ٤۹٤/۱.

(۵) إرشاد الساري: ٤۹٤/۱ تحفة الباري: ۲۲۲/۱ عمدة القاري: ۳۰۱/۳.

شراح حديث دَدې جواب دا ورکړې دې چه په عام توګه عادتًا درې لپې اوبه دَ باقي ټول بدن دَپاره ناکافي دی په دې وجه دَ يفيض مفعول الماء محذوف راویستلې شی.[۱]

قوله: :فقال لي الحسن: إني رجل كثير الشعر: په دې باندې حسن رحمه الله ماته اووئيل زه دَ ډيرو ويښتو والا سړې يم. دَ حسن نه مراد حسن بن محمد بن الحنفيه دې.[۲] «إني رجل كثير الشعر» مطلب دا شو چه زما ويښته ډير زيات دی زما دَپاره درې لپې اوبه ناکافي دی.[۳]

قوله: :فقلت: كان النبي ﷺ أكثر منك شعراً: (حضرت جابر رضي الله عنه فرمائي چه) ما په جواب کښې اووئيل دَ نبی کريم ﷺ ويښته تا نه زيات وو. يعنې دَ حضورپاك ويښته مبارك ستادَ ويښتونه زيات وو اوهغوی ﷺ ته به دومره مقدار کافي کيدلې لهذا چه کوم مقدار دَحضورپاك دَپاره کافي کيدلو په هغې باندې زياتوالې غلو اوتکلف دې اودَ لوئی خوښولو خبره ده. ممکن ده چه دَ شيطان دَ وسوسې اچولوسره داسې شوې وی نو دَهغې طرف ته دَ خيال کولو ضرورت نشته.[۴]

دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت: دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت ښکاره دې چه په ترجمه کښې په سر باندې دَ دريو لپو اوبو بهيولو ذکر دې او په حديث کښې «كان النبي صلى الله عليه وسلم يأخذ ثلاثة أكف ويفيضها على رأسه» کښې درې لپې اوبه په سرباندې دَ بهيولو صراحت دې. په کوم سره چه بغيردَ څه اخفاء نه ترجمه ثابتيږی.

دَ حديث نه مستنبط شوی امور: دَدې حديث نه دا لاندينی امور مستنبط کيږی:

① په سرباندې درې لپې اوبو اچولو باندې اکتفاء کول پکاردی سره دَدې چه ويښته هر څومره زيات وی.[۵]

② په باقي بدن باندې دَ اوبو بهيولو نه وراندې په سرباندې درې لپې اوبه اچول مستحب دی.[۶]

③ په ديني امورو کښې دَ علماء نه په سوال کولو باندې ترغيب ورکړې شوې دې.[۷]

④ که چرې دَ مسئلې علم وی نو دَهغې جواب ورکول ضروري دی.[۸]

⑤ دَدې خبرې طرف ته اشاره ده چه دَنبی کريم ﷺ عادت دَ دريو لپو اوبو استعمالولو وو.[۹]

---

[۱] شرح الکرمانی:۱۱۹/۱تحفة الباري: ۲۲۲/۱عمدة القاري: ۳۰۱/۳.
[۲] إرشادالساري:۴۹۴/۱.
[۳] شرح الکرمانی: ۱۱۹/۳عمدة القاري:۳۰۱/۳.
[۴] فتح الباري:۴۸۶/۲عمدة القاري:۳۰۱/۳إرشادالساري: ۴۹۴/۱.
[۵] عمدة القاري: ۳۰۱/۳شرح ابن بطال: ۳۸۴/۱.
[۶] شرح الکرمانی:۱۱۹/۳عمدة القاري:۳۰۱/۳ شرح ابن بطال: ۳۸۴/۱.
[۷] عمدة القاري: ۳۰۱/۳.
[۸] عمدة القاري: ۳۰۱/۳.
[۹] عمدة القاري: ۳۰۱/۳.

۵-باب: اَلْغُسْلُ مَرَّةً وَاحِدَةً

هم يوځل لامبل

دَ ترجمة الباب مقصد: علامه عينى رحمه الله او شيخ الاسلام علامه زكريا انصارى رحمه الله په نيز دَامام بخارى رحمه الله ترجمه نه مقصود په غسل كښې دَ بدن يو ځل وينځلو حكم بيانول دى.[۱]

دَعلامه عثمانى رحمه الله رائې: علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله داخودل غوارى چه باب سابق كښې دَ كوم غسل ذكر اوشو هغه درجه كمال او استيعاب دې. كه چرې دَ وخت او اوبو كمې وى نوصرف يو ځل اوبه اچول هم كافى كيدې شى اودَ فرض دَادا كولودَپاره هم دغه كافى دى.[۲]

دَعلامه كشميرى رحمه الله او حضرت شاه ولى الله رحمه الله رائې: علامه شاه انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه دې باب كښې امام بخارى رحمه الله په غسل كښې دَ بدن يوځل وينځلو ذكركړې دې لكه چه ترجمه دَ بيان دَ جواز دَپاره ده. «وهوجائز عندنا أيضًا» اودا زمونږ دَ احنافو په نيز هم جائز دى.[۳] هم دغه خبره شاه ولى الله رحمه الله هم فرمائيلې ده چه «هوجائز ثابت».[۴]

دَ شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائى چه اقرب او ظاهر هم دادى چه مصنف ابن ابى شيبه رحمه الله په اكثرو رواياتوكښې تثليث فى الغسل وارد شوې دې نو امام بخارى رحمه الله په دې خبره باندې تنبيه فرمائى چه تثليث واجب نه دې بلكه څنګه چه په اودس كښې درجه دَ فرض مرة مرة (يعنى يوځل وينځل) دى دغه شان په غسل كښې هم فرض يوځل وينځل دى او په دې باندې اقتصار جائزدې.[۵] (باقى پاتې شوه خبره دَ تثليث والاروایاتو نوهغه په استيعاب باندې محمول دى).

دَ امام ابوداؤد رحمه الله دَ يوروايت طرف ته اشاره: بعض حضرات فرمائى چه امام ابوداؤد رحمه الله دَ عبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت نقل كړې دې چه په شروع كښې مونځونه پنځوس او دَ جنابت غسل اووه ځل فرض شوې وو. رسول الله صلى الله عليه وسلم الله تعالى ته دَتخفيف درخواست كولو تردې چه مونځونه پنځه پاتې شو او غسل دَ جنابت يو ځل پاتې شو.[۶]

---

[۱] عمدة القارى:۳/۲۰۱،تحفة البارى: ۲۲۲/۱.

[۲] فضل البارى:۴۳۱/۲.

[۳] انوار البارى:۱۹۷/۹،فيض البارى:۴۵۵/۱.

[۴] شرح تراجم أبواب البخارى ص:۱۸.

[۵] الكنز المتوارى: ۱۹۶/۳،تقرير بخارى: ۸۱/۲

[۶] الحديث أخرجه أبوداؤد فى سننه قال: حدثنا قتيبة بن سعيد: حدثنا أيوب بن جابر عن عبدالله بن عُصْم، عن عبدالله بن عمر قال: "كانت الصلاة خمسين والغسل من الجنابة سبع مرار وغسل البول من الثوب سبع مرار، فلم يزل رسول الله صلى الله عليه وسلم يسأل حتى جعلت الصلاة خمساً والغسل مِّن الجنابة مرة وغسل البول من الثوب مرة" (كتاب الطهارة، باب فى الغسل من الجنابة، رقم الحديث ۲۴۷).

ممکن ده چه دامام بخاری رحمه الله دې حديث طرف ته اشاره مقصودوی چه د اووه ځل حکم منسوخ دې. دا د اسلام په شروع کښې حکم وو. اوس يوځل غسل کول هم کافی دی.[1] چونکه دا حديث على شرط البخاری نه وو په دې وجه امام بخاری رحمه الله په بخاری شريف کښې دا ذکرنه کړو.

الحديث الأول

۲۵۷- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الوَاحِدِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الجَعْدِ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَتْ مَيْمُونَةُ: «وَضَعْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاءً لِلْغُسْلِ، فَغَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا، ثُمَّ أَفْرَغَ عَلَى شِمَالِهِ، فَغَسَلَ مَذَاكِيرَهُ، ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ بِالأَرْضِ، ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ، وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ، ثُمَّ أَفَاضَ عَلَى جَسَدِهِ، ثُمَّ تَحَوَّلَ مِنْ مَكَانِهِ فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ» [حديث باب: ر: ۲۴۶] [2]

ترجمه: مونږ ته موسىٰ (بن اسماعيل) بيان اوکړو اووئيل مونږ ته عبدالواحد (بن زياد) هغه داعمش نه، هغه د سالم بن ابی الجعد نه، هغه د کريب نه هغه د ابن عباس رضی الله عنهما نه هغه اووئيل چه ام المؤمنين حضرت ميمونه رضی الله عنها اوفرمائيل چه ما د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د غسل دپاره اوبه کيخودلې نوحضورپاك (اول) خپل لاسونه دوه ځل يا درې ځل اووينځل بيا حضورپاك په خپل ګس لاس باندې اوبه واچولې اوخپل شرمګاه ئې اووينځلو بيائې خپل (ګس) لاس په زمکه راښکلو بيائې غرغرې اوکړې او پوزه کښې اوبه واچولې اوخپل مخ او دواړه لاسونه ئې اووينځل. بيائې خپل (باقی) ټول بدن باندې اوبه اوبهيولې، بيا حضورپاك خپل ځائی (چرته چه ئې غسل کولو) نه اخوا شو اوخپلې دواړه خپې ئې اووينځلې.

---

[1] تقرير بخاری: ۸۱/۲

[2] الحديث أخرجه البخاری فی صحيحه أيضًا فی كتاب الغسل، باب الوضوء قبل الغسل، رقم الحديث: ۲۴۹، وأخرجه أيضًا فی الكتاب نفسه، فی باب المضمضة والاستنشاق فی الجنابة، رقم: ۲۵۹ بنحوه، وفيه أيضاً، باب مسح اليد بالتراب لتكون أنقى، رقم: ۲۶۰، وفيه أيضاً باب تفريق الوضوء والغسل، رقم: ۲۶۵، بنحوه مختصراً، وفيه أيضاً، باب من أفرغ بيمينه على شماله فی الغسل رقم: ۲۶۶، بنحوه، وفيه أيضاً باب من توضأ فی الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد غسل مواضع الوضوء منه مرة أخرى رقم: ۲۷۴بنحوه، وفيه أيضاً باب نفض اليدين من الغسل عن الجنابة رقم: ۲۷۶، وفيه أيضاً فی باب التستر فی الغسل عند الناس رقم: ۲۸۱، مختصراً نحوه وفيه أيضاً، باب الغسل بالصاع ونحوه رقم: ۲۵۳ وأخرجه مسلم فی صحيحه فی كتاب الحيض باب تستر المغتسل بثوب ونحوه رقم: ۷۶۴مختصراً، وفيه أيضاً باب صفة غسل الجنابة رقم: ۷۲۲ وأخرجه أبوداؤد فی سننه مطولاً فی كتاب الطهارة باب فی الغسل من الجنابة رقم: ۲۴۵ وأخرجه الترمذی فی جامعه فی كتاب الطهارة باب ماجاء فی الغسل من الجنابة بنحوه مختصراً، وقال هذا حديث حسن صحيح رقم: ۱۰۳ وأخرجه النسائی فی سننه فی كتاب الطهارة باب غسل الرجلين فی غير المكان الذی يغتسل فيه رقم: ۲۵۳ وأيضاً فی كتاب الغسل والتيمم باب إزالة الجنب الأذى عنه قبل إفاضة الماء عليه بنحوه، مختصراً رقم:۴۱۸ وأيضاً فی الكتاب نفسه، باب مسح اليد بالأرض بعد غسل الفرج: ۴۱۹ وفيه أيضاً باب الاستتار عندالغسل، مختصراً رقم: ۴۰۶ وفيه أيضاً باب الغسل مرة واحدة رقم: ۴۲۸ وأخرجه ابن ماجه فی سننه فی كتاب الطهارة وسننها، باب المنديل بعد الوضوء وبعدالغسل مختصراً رقم: ۴۶۷ انظر جامع الأصول رقم: ۵۳۲۱ وتحفة الأشراف رقم: ۱۸۰۶۴.

تراجم رجال

موسى: دا ابوسلمه موسى بن اسماعيل تبوذكى بصرى رحمه الله دي. دَدوى حالات بدء الوحى، باب كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم څلورم حديث په ذيل كښې [1] او كتاب العلم باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد والرأس رومبى حديث په ذيل كښې بيان كړې شوى دى. [2]

عبدالواحد: دا عبدالواحد بن زياد عبدى بصرى رحمه الله دي. دَدوى حالات كتاب الإيمان باب الجهاد من الإيمان رومبى حديث لاندې تيرشوى دى. [3]

الاعمش: دا ابومحمد سليمان بن مهران اسد كوفى رحمه الله دي. اعمش دَدوى لقب دې. دَدوى احوال كتاب الإيمان باب ظلم دون ظلم دَ رومبى حديث لاندې تير شوى دى. [4]

سالم بن ابي الجعد: دا سالم بن ابى الجعد رافع اشجعى دي. [5] دَدوى حالات كتاب الوضوء باب التسمية على كل حال وعند الوقاع لاندې تيرشوى دى.

كُريب: دا كريب بن ابى مسلم قرشى رحمه الله دي دَدوى احوال كتاب الوضوء باب التخفيف في الوضوء لاندې تير شوى دى.

ابن عباس رضي الله عنهما: دادَ حضورپاك دَتره خوئى عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف دي. دَدوى حالات بدء الوحي باب كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم څلورم حديث په ذيل كښې [6] او كتاب الإيمان باب كفران العشير وكفر دون كفر [7] لاندې تيرشوى دى.

ميمونة رضي الله عنها: دادَ رسول الله ﷺ زوجه مطهره ام المؤمنين جضرت ميمونه بنت الحارث رضي الله عنها ده. دَدوى حالات كتاب العلم باب السمر في العلم دويم حديث لاندې تير شوى دى. [8]

شرح حديث: وضعت للنبي صلى الله عليه وسلم ماء للغسل فغسل يديه: حضرت ميمونه رضي الله عنها اوفرمائيل چه ما دَ نبى كريم ﷺ دَ غسل دَپاره اوبه كيخودې نواول حضورپاك خپل دواړه لاسونه اووينځل.

قوله : يديه: يديه تثنيه سره، دكشميهنى روايت دې خودَ حموى اومستملى وغيره روايت يده مفرد وارد شوې دې. [9]

قوله : مرتين أوثلاثاً: (حضورپاك خپل دواړه لاسونه) دوه يا درې ځل اووينځل.

---

[1] كشف البارى:١/٤٣٤-٤٣٣.

[2] كشف البارى:٣/٤٧٩-٤٧٧.

[3] كشف البارى:٢/٣٠٣-٣٠١.

[4] كشف البارى:٢/٢٥٣-٢٥١.

[5] تهذيب التهذيب: ٣/٤٣٢.

[6] كشف البارى: ١/٤٣٧-٤٣٥.

[7] كشف البارى: ٢/٢٠٥.

[8] كشف البارى:٢/٤٢٢-٤٢٠.

[9] فتح البارى:٢/٤٨٦ عمدة القارى: ٣/٣٠٢ تحفة البارى: ١/٢٢٢ إرشاد السارى:١/٤٩٥.

مرتين او ثلاثاً كښې شک دَ چاد طرف نه دې: دوه خل يا درې خل ئې اووينځل. په دې كښې شك دې داشك دَ چا دَ طرف نه دې. دَحضرت ميمونه رضي الله عنها دَ طرف نه يا دَ اعمش رحمه الله دَ طرف نه؟
علامه كرمانى رحمه الله دَ شك نسبت دَحضرت ميمونه رضي الله عنها طرف ته كړې دې هغه فرمائى «**شك من ميمونة**»[١]
شيخ الاسلام علامه زكريا انصارى رحمه الله او علامه قسطلانى رحمه الله دَ شك نسبت حضرت ميمونه رضي الله عنها اوحضرت اعمش رحمه الله دواړو طرف ته كړې دې. هغوى فرمائى «**الشك من الأعمش أومن ميمونة**» [٢] يعنى دَ اعمش رحمه الله طرف ته دې يادَحضرت ميمونه رضي الله عنها طرف ته دواړه احتماله كيدې شى.
دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله په دې خبره باندې جزم كړې دې چه دلته شك دَاعمش دَ طرف نه دې لكه څنګه چه عن قريب ابوعوانه دَ اعمش نه په روايت كښې راځى. علامه كرمانى رحمه الله شايد دَ ابوعوانه دَاعمش والاروايت هيركړې دې يا دَهغې طرف ته دَ دوى توجه نه ده تلې په دې وجه هغوى دَ شك نسبت دَ حضرت ميمونه رضي الله عنها طرف ته كړې دې.[٣]
دَعلامه عينى رحمه الله رائې: علامه عينى رحمه الله خو په دومره خبره كښې دَ حافظ صاحب رحمه الله تائيد كړې دې چه شك دَاعمش دَ طرف نه دې. البته هغه فرمائى چه دَ ابوعوانه دَاعمش نه روايت كوم چه «**باب من أفرغ بيمينه على شماله فى الغسل**» كښې ذكر دې دَهغې الفاظ «**فغسلهما مرة أومرتين**» نه معلوميږى چه شك په يو خل يا دوو خلو وينځلوكښې دې خو په حديث كښې «**مرتين أوثلاثاً**» نه معلوميږى چه شك په دوو يا درې خل وينځلوكښې دې.نولكه چه حافظ صاحب رحمه الله دَ ابوعوانه دَ روايت نه مطلقاً شك دَ اعمش دَ طرف نه كيدل ثابت كړى دى خو علامه عينى رحمه الله دَ اعمش دَ طرف نه شك خودلو نه علاوه په دواړو روايتونوكښې موضع شك هم تعيين كړې دې.[٤]
قوله: ثم أفرغ على شماله: بيا حضورپاك په خپل ګس لاس باندې اوبه واچولې. **شمال** دَ شين كسره سره دَ **يمين** ضد اونقيض (ګس) ته وائى. **أشمُل، شُمُل** او **شمائل** دَدې جمع راځى.[٥] دلته دَ شمال نه مراد ګس لاس دې. شمال دَ شين فتحه سره دَ جنوب ضد دې.[٦]
قوله: فغسل مذاكيره: بيائى خپل شرمګاهونه اووينځل. مذاكير جمع دَ ذكر ده اندام مخصوصه ته وائى. اودا جمع خلاف قياس ده. لكه چه دَدې جمع په ذريعه سره اهل عرب ذكر په معنى دَ اندام مخصوص اود هغه ذكر په مينځ كښې فرق كوى كوم ذكر (سړى) چه انثى په مقابله كښې راځى.[٧] چنانچه ذكر په معنى فحل جمع **ذكور، ذكران** او **ذكارة** وغيره (دَ **حجارة** په وزن راځى) دې.[١]

---

[١] شرح الكرمانى:١١٩/٣.
[٢] تحفة البارى: ٢٢٢/١ إرشاد السارى:٤٩٥/١.
[٣] فتح البارى:١٥٢/٢.
[٤] عمدة القارى:٣٠٢/٣.
[٥] لسان العرب:١٩٩/٧ الصحاح ص: ٥٦٣ شرح الكرمانى: ١١٩/٣.
[٦] شرح الكرمانى:١١٩/٣ القاموس الوحيد:٨٩٠/١
[٧] لسان العرب: ٥٠/٥ فتح البارى:٤٨٦/٢ عمدة القارى: ٣٠٢/٣.

بعض وئيلى دى چه دَ مذاكير واحد مذكار دې. (۲)امام اخفش وائى لكه چه ابن التين دَهغوى نه نقل كړې دى چه مذاكير جمع ده دَ كوم چه هيڅ واحد نشته دې لكه چه دَ ابابيل وغيره څه واحد نشته دې.(۳)

اعتراض: كه چرته څوك دا اووائى چه دَ ابابيل واحد خو أبول راځى لكه چه دَ عجاجيل واحد عجول راځى نو؟

جواب: علامه عينى رحمه الله فرمائى دَدې جواب دادې چه مذاكير هم دَ مذكار جمع ده البته اهل لسان دَدې استعمال ترك كړې دې.(۴) علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دَ مذاكير مفرد مذكار استعمال په اهل عربو كښې داسې متروك دې لكه چه شريعت منسوخه متروك دې.(۵)

دَمذاكير جمع راوړلوغرض: مذاكير جمع دَ ذكر په معنى دَ اندام مخصوصه خو يو وى نوبيا دا جمع ولې راوړلې شو؟ شراح حديث دَدې دا جواب وركړې دې لكه چه حافظ صاحب دَ ابن خروف نه نقل كړې دى چه په انسانى بدن كښې سره دَدې چه ذكر هم يو وى مگر دائى مذاكير جمع دَدې دَپاره راوړې دې چه په دې سره خصيتين وغيره وينځل هم بيانول وو نولكه چه ذكر اوخصيتين وغيره مجموع هر جزدَ وينځلو په حكم كښې په منزلهٔ دَ ذكر اوگرځولې شو او دې ته ئى دَ ذكر نوم وركړلو.(۶)

دَ علامه كورانى رحمه الله رائې: علامه كورانى رحمه الله فرمائى چه دَمذاكير هيڅ مفرد نه وى لكه چه امام اخفش رحمه الله وائى يادَدې مفرد ذكر په معنى دَ اندام مخصوصه اومنلې شى (لكه څنگه چه اهل لغت وائى)، بهرحال كوم تقدير هم چه واخستې شى خو په انسانى بدن كښې ذكر صرف هم يو اندام نه وائى. دلته په حديث كښې مذاكير ذكركولو سره خصيتين وغيره دَ وينځلو حكم بيانولو دَ وجې نه جمع راوړلې شوې دې دا دَ تغليب په توگه دې.(۷)

قوله: ثم مسح يده بالأرض: بيا رسول الله ﷺ خپل لاس په زمكه باندې اومږلو. په يده كښې يد مفرد دې.(۸)مراد ترې نه گس لاس دې. دَ دغه مږلو مقصد دَ نجاست اثرات كه چرې په لاس باندې وى نوهغه ختمول اولاس بنه پاكول دى. لكه چه امام بخارى رحمه الله وراندې ((باب مسح اليد بالتراب لتكون أنقى)) په عنوان سره باب قائم كړې دې.

قوله: ثم أفاض على جسده: بيا حضورپاك ﷺ په خپل (باقى) بدن باندې اوبه اوبهيولې.

---

(۱) لسان العرب: ۴۹/۵التوضيح: ۵۶۲/۴.
(۲) فتح البارى: ۴۸۶/۲.
(۳) لسان العرب: ۵۰/۵التوضيح: ۵۶۲/۴ شرح الكرمانى: ۱۱۹/۳.
(۴) عمدة القارى: ۳۰۲/۳.
(۵) شرح الكرمانى: ۱۲۰/۳.
(۶) فتح البارى: ۴۸۶/۲ شرح الكرمانى:۱۲۰/۳عمدة القارى: ۳۰۲/۳.
(۷) الكوثرالجارى: ۴۱۴/۱-۴۱۳.
(۸) إرشاد السارى:۴۹۵/۱.

دَحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دَحديث ترجمة الباب سره دَ مناسبت په سلسله کښې شراح حديث مختلف توجيهات بيان کړی دی:

دَعلامه ابن بطال رحمه الله توجيه: ابن بطال رحمه الله دَ حديث ذکرشوی پورتني الفاظ «ثم أفاض على جسده» موضوع ترجمه ګرځولې ده چه په دې کښې حضرت ميمونه رضي الله عنها په مطلق توګه باندې دَ اوبو بهيولو ذکر کړې دې دا نی څه عدد سره مقيد کړې نه دې نو دَ کم نه په کم عدد يعنی يو باندې محمول کولې شی.

چنانچه هغوی فرمائی «موضع الترجمة من الحديث في قوله: "ثم أفاض على جسده"، ولم يذكر مرة ولا مرتين، فيحمل على أقل ما يسمى غسلاً وهو مرة واحدة» [1] يعنی دَترجمه ثبوت دَ حديث الفاظ «ثم أفاض على جسده» سره کيږی څکه چه راوی دَ يو يا دوو ځل ذکر نه دې کړې، يعنی «ثم أفاض» نی يو عدد سره مقيد کړې نه دې نو دا کم نه کم چه کوم مقدار ته دَغسل نوم ورکولې شی په هغې باندې محمول کړې شي او هغه يو ځل دی. علامه کرمانی رحمه الله [2] علامه قسطلانی رحمه الله [3] او ابن ملقن رحمه الله دَ ابن بطال رحمه الله پورتنې ذکرشوې قول مناسبت ترجمه نقل کړې ده. [4] حافظ ابن حجر رحمه الله دَ ابن بطال رحمه الله دغه پورته ذکر شوې قول نقل کولو نه پس ليکلی دی چه اقل عدد هم يو ځل دې هم په دې به محمول کولې شی څکه چه اصل هم دغه دې چه په دې دې زياتوالې نه وی سره دَدې چه تکرار مراد اخستل دَ اصل خلاف دی. [5]

دَعلامه ابو الحسن سندی رحمه الله رائې: علامه ابو الحسن نور الدين محمد بن عبد الهادی السندی رحمه الله فرمائی چه دَ حديث ترجمة الباب سره مناسبت په دې توګه دې چه دَ حديث سياق په دې خبره باندې دلالت کوی چه دَحضرت ميمونه رضي الله عنها مقصود دَحضورپاك دَغسل کيفيت په مکمل توګه بيانول دی.

چنانچه «ثم أفاض» کښې متعدد وارې حضورپاك اوبه بهيولې وې نو حضرت ميمونه رضي الله عنها دَ بيان مقصود دَ تکميل په خاطر به دا ضرور ذکر فرمائيل لکه چه دَ لاس دَ وينځلو دَ شمير ذکر نی فرمائيلې دې. نو په يو داسې مقام باندې دَ ابو بهيولو دَ شمير ذکر نه کول دَدلته دَ لاس دَ وينځلو دَ شمير ذکر دې، ددې خبرې دليل دې چه دَ اوبو بهيولو تعداد هم يو ځل دې. [6]

دَ ابن بطال وغيره بيان کړې شوی تطبيق باندې نقد: دَدې نه پس علامه سندی رحمه الله دَعلامه ابن بطال رحمه الله وغيره بيان کړې شوی تطبيق باندې نقد کړې دې چه دَامام بخاری رحمه الله ترجمه خو داده چه دَ فرض دَ ادا کولو دَپاره يو ځل اوبه بهيول کافی دی. خو حضرت ميمونه رضي الله عنها دَ يو واقعه حکايت کوی دَ کوم نه چه دا نه معلوميږی چه دَدې څه کيفيت وو. آيا حضورپاك هم يو ځل اوبه بهيولې وې يا دَدې نه زيات؟ دا نه معلوميږی لهذا دې وينا کولو سره چه افاضه ماء يو عدد سره مقيد نه دې او اقل عدد هم يو دې او اصل دادې چه په دې باندې زياتوالې اونه شی. دَ دغه عدم ذکر عدد نه په عدم واقعه باندې استدلال نه شی کيدلې. [7]

---

[1] شرح ابن بطال: ۳۸۵/۱.

[2] شرح الکرمانی: ۱۲۰/۳.

[3] إرشاد الساری: ۴۹۵/۱.

[4] التوضيح: ۵۶۲/۴.

[5] فتح الباری: ۴۸۶/۲.

[6] صحيح البخاری: بحاشية السندی: ۵۷/۱.

[7] صحيح البخاری بحاشية السندی: ۵۷/۱.

دَعلامه انور شاه کشمیری رحمه الله رائې: حضرت علامه انور شاه کشمیری رحمه الله «ثم أفاض علی جسده» الفاظ موضع ترجمه گرځولې ده. البته هغوی فرمائی چه ماته دَمراجعت طرق نه پس په دې خبره کښې تردد اوشو چه آیا واقعی نبی کریم ﷺ په یوځل باندې اکتفا هم کړې وه که نه؟ زما خیال دې چه حضورپاك به په دې واقعه کښې هم دَ عادت مطابق هم درې ځل بدن مبارك وینځلې وی. که چرې په دې واقعه کښې هم تثلیث مراد وی نو بیا به ترجمه صرف دَ مسئله دَ بیان دپاره وی.(۱)

دَعلامه کورانی رحمه الله علامه عثمانی رحمه الله او شیخ الحدیث رحمه الله رائې: علامه کورانی رحمه الله (۲)علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله (۳)اوشیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا کاندهلوی رحمه الله (۴)دَ رائې حاصل دا دې چه موضع ترجمه «ثم أفاض علی جسده» ده، حضرت میمونه رضی الله عنها دَ لاسونو په وینځلوکښې دوه او درې عدد ذکرکړې دې لیکن دې نه علاوه په ټول بدن باندې دَ اوبو بهیولودَتعداد ذکر نه دې کړې. که چرې دلته دَعدد ذکروې نوخامخا به ئې نقل کړې وې لکه چه دَ لاسونو په وینځلوکښې ئې دَ عدد تذکره کړې ده. نولکه په دې مقام باندې دَ تعداد نه بیانول او سکوت اختیارول دَدې خبرې دلیل دې چه تکرار ئې واقعتاً نه دې کړې. دَ تکرار په موقع سکوت اختیارول دلیل اوحجت جوړیدې شی.

دَ علامه عینی رحمه الله وغیره رائې:علامه عینی رحمه الله (۵)علامه قسطلانی رحمه الله (۶)او علامه زکریا انصاری رحمه الله (۷)فرمائی چه دَ حدیث الفاظ «ثم أفاض» قلیل (یوځل) اوکثیر دواړو ته شامل دی. لهذا دَ قلیل په لحاظ سره دَترجمه مطابقت ښکاره دې او په دې سره ترجمه ثابتیږی.

فائده: علامه کرمانی علامه قسطلانی اوعلامه زکریا انصاری رحمهم الله دَ امام نووی رحمه الله نه نقل کړی دی چه دَ جنابت غسل کونکی له پکاردی چه هغه دَ استنجا نه پس دوباره محل دَ استنجا دَ جنابت دَغسل په نسبت باندې اووینځی که چرې هغه داسې اونه کړې نوممکن ده چه دَ غسل دوران کښې دَ هغې وینځل وریادنه شی نودَبعض بدن نه وینځلو دَ وجې نه به دَ هغه غسل نه کیږی. اوکه دَ غسل نه پس یاد شی نو شرمګاه له په لاس اوړلوسره به دَهغه اودس مات شی یا بیا دَ مس فرج نه دَ بچ کیدو دپاره به په لاس باندې کپړه وغیره تاوولو تکلف کول وی. (۸)

تنبیه: لیکن دلته دا یاد ساتنې چه دا ټول تفصیل دَ امام شافعی رحمه الله په نیز دې. دَ احنافو په نیز خو په غسل جنابت کښې صرف یوځل په شروع کښې نیت کافی دې هراندام وینځلو په وخت دَ دوباره نیت کولو څه ضرورت اوحاجت نشته دې. (۹)اودغه شان داستنجاء نه پس دَ شرمګاه دَ وینځلو حاجت هم

---

(۱) فیض الباری:۱/۴۵۵.

(۲) الکوثر الجاری: ۱/۴۱۴.

(۳) فضل الباری:۲/۴۳۲.

(۴) الکنزالمتواری: ۳/۱۹۶.

(۵) عمدة القاری: ۳/۳۰۲.

(۶) إرشادالساری: ۱/۴۹۵.

(۷) تحفة الباری: ۱/۲۲۲.

(۸) شرح الکرمانی: ۳/۱۲۰إرشادالساری: ۱/۴۹۵تحفة الباری:۱/۲۲۳.

(۹) الکوثرالجاری:۱/۴۱۴.

نشته دي يا كه چرته شرمګاه وينځل ئې هيرکړي وي نو دوران غسل يا دَغسل نه پس چه کله ياد شي نو وينځلې شي. په مس فرج سره دَ احنافو په نيز اودس نه ماتيږي كما مر في أبواب الوضوء.

دَ حديث نه مستنبط شوي امور: دَحديث باب نه شراح حديث دا لاندينې امور مستنبط کړي دي:

① دَ جنابت دَغسل نه وړاندې دَ لاسونو درې خل وينځل مستحب دي. [١]

② دَ جنابت دَغسل نه وړاندې په ګس لاس باندې استنجاء کول او ګس لاس په زمکه باندې مږل. [٢]

③ مضمضه او استنشاقا يعنې غرغرې اوپوزه کښې اوبه اچول. [٣]

④ دَ جنابت دَغسل نه وړاندې اودس کول البته په حديث باب کښې دَ سردَ مسح ذکر نشته دې. [٤]

⑤ «ثم أفاض على جسده» نه معلوميږي چه دلك په غسل کښې سنت دې واجب نه دې. [٥]

٦-باب: مَنْ بَدَأَ بِالْحِلَابِ أَوِ الطِّيبِ عِنْدَ الْغُسْلِ

حلاب (دَ پيئو لوښي) يا خوشبو سره غسل شروع کول

دَترجمة الباب مقصد: دَ امام بخاري رحمه الله دا ترجمة الباب په معرکة الآرا او مهمات تراجم کښې شميرکولې شي. قديم او حديث ائمه شراح حديث په نيز دَدې ترجمه مطابقت حديث الباب سره مشکل ګڼړلې شوې دې. شراح حديث اومشائخ دَدې مشکل حل کولو کوشش کړې دې. دَهغوی رائې په دې باره کښې مختلف دي. دَ دې ترجمه مقصد بيانولو کښې دَ ائمه شراح حديث درې فريق جوړشوي دي. يوفريق خودَ امام بخاري رحمه الله تغليط کوي، دويم فريق دَ امام بخاري رحمه الله دَترجمه دَ وجې نه روايت دَ غيرمشهور معنې طرف ته راګرځوي او دريم فريق روايت په خپل ځائې کيخودو سره دَ ترجمه داسې مناسب تاويل کول غواړي چه په هغې سره په روايت او ترجمه کښې مطابقت اوشي. [٦]

دَ فريق اول رائې: اول فريق چاچه دَامام بخاري رحمه الله تغليط کړې دې اودَهغوی طرف ته ئې دَ وهم نسبت کړې دې دَ دغه جماعت او فريق پيش امام اسماعيلي رحمه الله دې.

دَامام اسماعيلي رحمه الله رائې: چنانچه امام اسماعيلي رحمه الله په خپل مستخرج کښې فرمائي «رحم الله أبا عبدالله – يعني البخاري – من ذا الذي يسلم من الغلط، سبق إلى قلبه أن الحلاب طيب وأي معنى للطيب عند الاغتسال قبل الغسل، وإنما الحلاب إناء وهو ما يحلب فيه، يسمى حلابًا ومحلبًا، قال: وفي تأمل طرق هذا الحديث بيان ذلك» [٧]

ترجمه: الله تعالى دې په ابوعبدالله يعنې امام بخاري رحمه الله باندې رحم اوکړي، څوك دَغلطئ نه محفوظ پاتې کيدې شي، دَهغه په زړه کښې دا خيال ورکوز شو چه حلاب خوشبو ده، حالانکه دَغسل په وخت دَ غسل نه وړاندې دَ خوشبوئ څه معنى ده؟ کوم سړې چه دَ روايت په طرق باندې غور

---

[١] شرح الكرماني: ٣/١٢٠ تحفة الباري: ١/٢٢٣.
[٢] شرح الكرماني: ٣/١٢٠ تحفة الباري: ١/٢٢٣.
[٣] شرح الكرماني: ٣/١٢٠ تحفة الباري: ١/٢٢٣.
[٤] التوضيح لابن الملقن: ٤/٥٦٣.
[٥] التوضيح لابن الملقن: ٤/٥٦٣.
[٦] فتح الباري: ٢/٤٨٧ لامع الدراري: ٢/٢١٠-٢٠٩.
[٧] فتح الباري: ٢/٤٨٧ عمدة القاري: ٣/٣٠٣ لامع الدراري مع تعليقات الشيخ زكريا: ٢/٢١٠.

اوفکرکوی هغه ته به معلومه شی چه حلاب هغه لوښي (ظرف) دي په کوم کښې چه پيئ لښلې شی هغې ته حلاب اومحلب هم وئيلی شی.

دَ روايت دَ مختلف طرق وضاحت: امام اسماعيلی رحمه الله دَ طرق حديث طرف ته چه کومه اشاره فرمائی دَهغې وضاحت داسې دې چه دا روايت پخپله امام اسماعيلی رحمه الله په طريق دَ مکی بن ابراهيم حنظله نه نحوالحلاب په ځائې دَ «كان يغتسل بقدح» الفاظ سره نقل کړې دې اوهم په دې روايت کښې «كان يغسل يديه ثم يغسل وجهه ثم يقول بيده ثلاث غرف» اضافه هم نقل کړې ده.(١)

امام جوزقی په طريق حمدان السلمی ابوعاصم سره «اغتسل فأتى بحلاب فغسل شق رأسه الأيمن» الفاظ نقل کړی دی. (٢)په دې دواړو روايتونوکښې "اغتسل" او "يغتسل" په دې خبره باندې دلالت کوی چه دَحلاب نه مراد دَ اوبو لوښې دې نه چه خوشبوئی يا دَ خوشبوئی لوښې. (٣)

امام اسماعيلی رحمه الله په طريق دَ بندار ابوعاصم رحمه الله دا الفاظ نقل کړی دی: «كان إذا أن يغتسل من الجنابة، دعا بشئ، دون الحلاب، فأخذ بكفه، فبدأ بالشق الأيمن، ثم الأيسر، ثم أخذ بكفيه ماء، فأفرغ على رأسه» (٤)

که چرې په دې روايت کښې دَ ماء الفاظ نه وې نودا تطيب قبل الغسل باندې محمولې کولې کيدې شو ليکن دَ ماء الفاظ دَ حلاب اوبوپه لوښی باندې دلالت کوی.(٥)دَ ابن خزيمه رحمه الله او ابن حبان رحمه الله په روايت کښې دی «كان يغتسل من حلاب»(٦)خو ابوعوانه رحمه الله په خپل مسند کښې په طريق دَ يزيد بن سنان ابوعاصم نه نقل کړی دی: «كان يغتسل من حلاب، فيأخذ غرفة بكفيه، فيجعلها على شقه الأيمن، ثم الأيسر كذلك»(٧)په دې روايتونوکښې "يغتسل" او "غرفة" هم په دې خبره باندې دلالت کوی چه حلاب دَ اوبو يو لوښې دې.(٨)دَ ابن حبان رحمه الله او بيهقی رحمه الله په روايت کښې «ثم يصب على شق رأسه الأيمن» الفاظ راغلی دی.(٩)دَ خوشبو دَپاره په عربی کښې دَ "صب" تعريف نه استعماليږی دَ صب لفظ دَ اوبو په بهيولوباندې وئيلې شی. دَدې نه معلومه شوه چه دَ حلاب نه مراد دَ اوبو لوښې دې نه چه دَ

---

[١]) فتح الباری: ٤٨٨/٢عمدة القاری: ٣٠٣/٣لامع الدراری مع تعليقات الشيخ زكريا: ٢١٠/٢.

[٢]) فتح الباری: ٤٨٨/٢.

[٣]) فتح الباری: ٤٨٨/٢.

[٤]) فتح الباری: ٤٨٨/٢عمدة القاری: ٣٠٣/٣الكنزالمتواری:١٩٧/٣.

[٥]) فتح الباری: ٤٨٨/٢.

[٦]) أخرجه ابن خزيمة فی صحيحه كتاب الوضوء باب استحباب بدء المغتسل بإفاضة الماء على الميا من قبل المياسر: ١٢٢/١رقم الحديث: ٢٤٥وأخرجه ابن حبان فی صحيحه ولفظه: يغتسل فی حلاب، وهو صريح فيما نحن بصدده، كتاب الطهارة باب الغسل، ذكر وصف الغرفات الثلاث التی وصفناه للمغتسل من الجنابة: ٧٦٩/٣ رقم: ١١٩٧.

[٧]) أخرجه أبو عوانة فی مسنده، كتاب الطهارة باب صفة الأوانی التی كان يغتسل منها رسول الله صلى الله عليه وسلم من الجنابة..... ٢٣٨/١ رقم الحديث: ٨٥٣

[٨]) فتح الباری: ٤٨٩/٢عمدة القاری: ٣٠٣/٣الكنزالمتواری: ١٩٧/٣.

[٩]) أخرجه ابن حبان فی صحيحه كتاب الطهارة باب الغسل ذكر وصف الغرفات الثلاث التی وصفناه للمغتسل من الجنابة: ٦٩/٣رقم الحديث: ١١٩٧ والبيهقی فی السنن الكبرى، كتاب الطهارة باب استحباب البداية فيه بالشق الأيمن: ١/٢٨٤رقم: ٨٧٢.

خوشبوئي.[1] په دې ټولو طرق روايت باندې يونظر اوغور اوفکر کولوسره دا معلوميږي چه حلاب دَ اوبيو لوښې دې. امام بيهقي رحمه الله په السنن الکبرىٰ کښې دَ امام بخاري رحمه الله والا روايت دَمحمدبن عبدالله رحمه الله نه دَ روايت کولونه پس په واسطه دَ ابوعمرالاديب امام ابوبکر اسماعيلي نقل کړې دې: «الحلاب: الإناء وهو ما يحلب فيه، يسمّى حلاباً»[2] يعنى حلاب هغه لوښې دې په کوم کښې چه پيئى لوشلې شي هغې ته حلاب وائى.

دَامام خطابي رحمه الله رائې: امام خطابي رحمه الله هم دَ امام بخاري رحمه الله طرف ته دَ وهم نسبت کړې دې هغه فرمائي: «الحلاب: إناء يسع قدر حلبة ناقة وهوالمحلب، بكسر الميم»[3] يعنى حلاب هغه لوښې دې په کوم کښې چه دَ اوښې يوځل پيئولوشلو مقدار راځائى شي دَ ميم کسره سره دې ته محلب وائي.

نور فرمائي: «وقد تأوله البخاري على استعمال الطيب في الطهور، وأحسبه توهم أنه أريد به المحلب الذي يستعمل في غسل الأيدي، وليس الحلاب من الطيب في شيء، وإنما هو ما فسرت لك» [4] يعنى امام بخاري رحمه الله حلاب دَ طهارت حاصلولو په وخت دَ طيب (خوشبو) استعمال باندې محمول کړې دې. زما خيال دې چه هغه ته وهم شوې دې چه دَدې نه هغه محلب مراددې کوم چه دَ لاسونو دَ وينځلودَپاره استعمالولې شي حالانکه دَ حلاب خوشبوئي سره هيڅ تعلق نشته حلاب خو لوښې دې لکه څنګه چه مونږ دَهغې وضاحت کړې دې.

دَ حلاب په لوښي (ظرف) کيدو باندې دَ ابوفايدَ شعرنه استشهاد: اهل عرب حلاب لوښى (ظرف) دَ پاره استعمالوي. چنانچه امام خطابي رحمه الله دَ حلاب په ظرف کيدو باندې دَ مشهور شاعر ابوفايداسماعيل بن يسار نسائي دَدې شعر نه استشهاد پيش کړې دې:

صاح! هل رأيت أوسمعت براعٍ ردفي الضرع ما قري في "الحلاب" [5]

ترجمه: اې آواز کونکيه! تاچرته داسې ګډبه ليدلې دې يادې دَهغه باره کښې اوريدلى دى چه هغه حلاب يعنى لوښى کښې جمع شوى پيئى دَ اوښې غولانځې يعنى تينو کښې واپس کړې وى.

دَ ابن جوزي رحمه الله رائې: ابن جوزي رحمه الله هم دَ امام بخاري رحمه الله تغليط کړې دې هغه فرمائي: «وقد غلط جماعة في تفسيره، منهم البخاري، فإنه ظن الحلاب شيأ من الطيب......... وكأنه توهم أن الحلاب هوالمحلب الذي يستعمل في غسل الأيدي» [6] يعنى دَحلاب معنى بيانولوکښې دَ ائمه دَ يوجماعت نه غلطى شوې ده. دَهغوى نه امام بخاري رحمه الله هم دې. هغوى ګنړلې چه حلاب يوه خوشبوئي ده....... لکه چه هغوى ته دا وهم شوې دې چه دَحلاب نه هغه محلب (خوشبوئي) مراد ده چه دَ لاسونو دَ وينځلو دَپاره استعمالولې شي. (ابن جوزي رحمه الله هم حلاب دَ ظرف يعنى دَ پيئولشونکى لوښې ګرځولې دې). [7]

---

[1]) فتح الباري:۴۸۹/۲ عمدة القاري: ۳۰۳/۳.

[2]) السنن الكبرى: ۲۸۴/۱.

[3]) غريب الحديث: ۱۶۲/۱أعلام الحديث: ۳۰۲/۱.

[4]) شرح الكرماني: ۱۲۱/۳فتح الباري: ۴۸۷/۲الكنزالمتواري: ۱۹۷/۳.

[5]) أعلام الحديث: ۳۰۲/۱فتح الباري:۴۸۷/۲.

[6]) كشف المشكل من حديث الصحيحين لابن الجوزي: ۲۶۰/۴الكنزالمتواري: ۱۹۷/۳عمدة القاري: ۳۰۳/۳.

[7])كشف المشكل من حديث الصحيحين لابن الجوزي: ۲۶۰/۴التوضيح لابن الملقن: ۵۶۶/۴ ۱۹۷/۳غريب الحديث: ۲۳۳/۱.

دَ ابن قرقل رحمه الله رائې: ابن قرقل رحمه الله المطالع على الصحيح كښې دَ امام خطابي رحمه الله اتباع كولو سره حلاب په معنى دَ الطيب غير معروف گرځولې دې. هغه فرمائى: «الحلاب إناء وهو المحلب، وترجم البخاري عليه باب.... الطيب عند الغسل، يدل على أنه ضرب من الطيب، وهذا لا يعرف» (۱) يعنى حلاب لوښى دې او هغه محلب ته وائى. امام بخارى رحمه الله په دې باندې باب الطيب عندالغسل په عنوان سره باب قائم كړې دې چه په دې خبره باندې دلالت كوى چه حلاب دَ خوشبوئى يوقسم دې حالانكه دا غيرمعروف دې.

دَ ابن بطال رحمه الله رائې: علامه ابوالحسن ابن بطال رحمه الله دَ حلاب باره كښې دَعلامه خطابى رحمه الله قول نقل كولونه پس فرمائى چه زما گمان دې چه امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب كښې حلاب دَ خوشبوئى يوقسم شمير كړې دې. كه چرې داسې شوې وى نوامام بخارى رحمه الله ته وهم شوې دې حالانكه حلاب خوهغه لوښى دې په كوم كښې چه به دَ نبى كريم ﷺ خوشبوئى كيخودلې شوه كوم چه به حضورپاك دَ غسل په وخت استعمالوله.(۲)

دَ امام حميدى رحمه الله رائې: صاحب الجمع بين الصحيحين امام حميدى رحمه الله فرمائى چه امام مسلم رحمه الله حديث باب حديث فرق او حديث قدرالصاع سره يو ځائى جمع كړې دې لكه چه هغه دَدې نه لوښى مراد اخستې دې. اوامام بخارى رحمه الله دَدې حديث دَپاره «باب من بدأ بالحلاب أو الطيب» ترجمه قائم كړې ده او صرف هم دغه حديث ئى ذكر كړې دې. په دې وجه كيدې شى چه دَ چا داگمان وى چه امام بخارى رحمه الله دَدې نه خوشبوئى مراد اخستې ده.(۳)حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام حميدى رحمه الله دا يواحتمال اوگرځولو چه امام بخارى رحمه الله دَ حلاب نه خوشبوئى مراد اخستې وى يعنى دَدې خبرې هم احتمال دې چه دَ حلاب نه امام بخارى رحمه الله مراد خوشبوئى نه علاوه څه بل څه څيز وى ليكن هغوى دَدې صراحت نه دې كړې چه هغه څه څيزدې.(۴) امام قرطبى رحمه الله هم دَ حلاب نه خوشبوئى مراد اخستل وهم گرځولې دې.(۵)

دَامام نووى رحمه الله رائې: علامه نووى رحمه الله په شرح مسلم كښې ليكلى دى چه حلاب دَ حاء كسره اوتخفيف دَ لام سره دَ پينولشلو لوښى ته وائى. هم دې ته محلب (په كسره دَ ميم) وئيلې شى. هم دغه مشهور صحيح او معروف دې په روايت كښې. (۶)

دَ علامه ابوالحسن سندى رحمه الله قول: علامه ابوالحسن سندى رحمه الله فرمائى چه دَ امام بخارى رحمه الله دَ ظاهرى صنيع نه دا معلوميږى چه هغه دَ حلاب نه دَ خوشبوئى يوقسم مراد اخستې دې. نور فرمائى چه صحيح خبره داده چه حلاب دَ غسل دَ اوبو يولوښى دې. شراح حديث دَ امام بخارى رحمه الله كلام په دې خبره باندې دَ منطبق كولو دير كوشش اوكړو ليكن څه چه هغوى اوليكل هغه ټول تكلف دې. ځكه چه دَ امام بخارى رحمه الله كلام پخپله دَدې نه انكارى دې.(۷)

---

(۱) التوضيح لابن الملقن: ۵۶۶/۴.
(۲) شرح ابن بطال: ۳۸۵/۱شرح الكرمانى: ۱۲۱/۳.
(۳) تفسير غريب ما فى الصحيحين للحميدى: ۲۴۳/۱فتح البارى:۴۸۷/۲الكنز المتوارى: ۱۹۸/۳.
(۴) فتح البارى: ۴۸۷/۲.
(۵) فتح البارى: ۴۸۸/۲الكنزالمتوارى: ۱۹۸/۳.
(۶) المنهاج للنووى: ۲۲۳/۳.
(۷) حاشية السندى على صحيح البخارى:۵۷/۱.

دَ فريق ثاني موقف: دَ دويم جماعت پيش رو علامه ازهرى رحمه الله دي هغه وائي چه خلقو ته دَ روايت دَ لفظ په پوهيدلو كښې وهم شوې دې. هغه دا دَ حاء په كسره اوتخفيف دَ لام سره (حلاب) دَ پيښو لشلو لوښې گنړلې دې. حالانكه دا لفظ دَ جيم ضمه اوتشديد دَ لام سره جُلّاب وو چه په اصل كښې دَ فارسى ژبې لفظ دې دَ گلاب اوبه (عرق گلاب عطرگلاب) ته وئيلى شى روستو په عربى ژبه كښې استعماليدلو.([1])

دَعلامه ازهرى رحمه الله نه هم دا خبره امام خطابى رحمه الله او ابوعبيد هروى رحمه الله هم نقل كړې ده ليكن هغوى په دې باندې دَ ازهرى رحمه الله تائيدنه دې كړې.([2])

دَ قاضى عياض رحمه الله قول: قاضى عياض رحمه الله فرمائى چه بعض حضراتو دَ صحيحين نه علاوه دَ الجلاب لفظ نقل كړې دې دَ كوم نه چه دَ ازهرى رحمه الله دَذكر كړې شوى قول طرف ته اشاره كيږى.([3])

دَعلامه ازهرى رحمه الله په قول باندې دَ محقق علماء رَد: محققين علماؤ كښې ابوعبيد هروى، امام قرطبى اوعلامه نووى رحمهم الله دَ علامه ازهرى رحمه الله دَ قول ترديدكړې دې او دائى تصحيف گرځولې دې. محققين علماؤ دَ علامه ازهرى رحمه الله دَ قول روايت اومعنى دواړو لحاظوسره ترديدكړې دې چنانچه دَ شراح يوجماعت فرمائى چه په مشهور اومعروف روايت كښې هم لفظ حلاب حاء مهمله اوتخفيف دَ لام سره راغلې دې.([4])

دَعلامه ابن اثير رحمه الله په علامه ازهرى رحمه الله باندې نقد: علامه ابن اثير رحمه الله په لحاظ دَ معنى ازهرى رحمه الله باندې نقد كړې دې هغه فرمائى چه ممكن ده امام بخارى رحمه الله جلاب مراد اخستل وى او هم دَدې په مناسبت سره ئې ترجمه قائم كړې وى ليكن بخارى شريف كښې جلاب دَ جيم په ځائى حلاب حاء مهمله سره نقل دې اوداخبره زياته مناسب ده ځكه چه دَ غسل كونكى دَ پاره دَ خوشبو استعمال دَ غسل كولونه پس زيات مناسب دى په نسبت دَ اول نه. ځكه چه غسل كونكې خوشبوئى لگولوسره غسل كوى نوپه اوبوسره به هغه خوشبوئى اووينځلې شى اوختمه به شى.([5])

دَ علامه قرطبى رحمه الله تحقيق: علامه قرطبى رحمه الله فرمائى چه حلاب په كسره دَحاء مهمله سره صحيح دې اودا جلاب په ضمه دَ جيم اوتشديد دَ لام گنړل وهم دې. ([6])هغوى نور فرمائى چه جلاب دَ جيم ضمه اوتشديد دَ لام سره په فارسئى ژبه كښې دَ مشروب نوم دې نه چه ماء الورد (عرق گلاب). دَ گلاب اوبوته فارسى كښې دَجيم ضمه او لام تخفيف سره جُلَاب وائى جلاب په اصل كښې گلاب وو گل گلاب ته او آب اوبو ته وائى اوفارسى كښې قاعده ده چه مضاف اليه په مضاف باندې اوصفت په موصوف باندې مقدم ساتلې شى. چنانچه هم دغه لفظ كله عربى ژبې ته راغلو نوگاف په جيم سره بدل كړې شوجلاب ورته اووئيلې شو.([7])

---

[1])التوضيح لابن الملقن: ٥٦٦/٤فتح البارى: ٤٨٧/٢عمدة القارى:٣٠٣/٣ المنهاج: ٢٢٣/٣شرح الكرمانى : ١٢١/٣النهاية لابن الأثير :٤١٢/١.

[2]) التوضيح لابن الملقن: ٥٦٦/٤كشف المشكل لابن الجوزى: ٢٦٠/٤.

[3]) مشارق الأنوار على صحاح الآثار: ١٩٤/١فتح البارى: ٤٨٧/٢الكنزالمتوارى:١٩٨/٣.

[4]) فتح البارى: ٤٨٧/٢المنهاج: ٢٢٣/٣عمدة القارى:٣٠٣/٣.

[5]) النهاية لابن الأثير: ٤١٢/١فتح البارى: ٤٨٧/٢.

[6]) فتح البارى: ٤٨٨/٢ الكنزالمتوارى: ١٩٨/٣.

[7]) عمدة القارى: ٣٠٣/٣شرح أبى داؤد للعينى:٥٣٩/١.

دَ دریم فریق موقف: دَدې فریق پیش رو محب طبری دې هغه فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې معروف خوشبوئی مراد نه ده اخستې بلکه تطیب یعنی که په بدن باندې خیرې وغیره وی نوهغه ختمول ئی مراد اخستې دی. اودَ حلاب نه ئی دَ غسل لوښې مراد اخستې دې چه دغسل دپاره د اول نه په هغې کښې اوبه کیخودې شی. علامه طبری رحمه الله نور لیکی چه دَترجمة الباب الفاظ أو لطیب کښې أو نه واؤ مراد دې بعض روایاتو نه هم دغه ثابت دی لکه چه امام حمیدی رحمه الله ذکر کړی دی. دَ امام طبری رحمه الله دَ قول حاصل دادې چه امام بخاری رحمه الله په دې ترجمه سره داخودل غواړی چه اول په لوښی کښې دَ غسل دَپاره اوبه کیخودې شی بیا دَغسل نه وړاندې بدن دَ نجاست وغیره نه پاکولوسره تطیب حاصل کړې شی. په حدیث باب کښې په سرباندې دَ اوبو بهیولو نه دَ شروع ذکر دې ځکه چه دَ سر ویښته زیات خیرن وی په نسبت دَ باقی بدن.(١)

دَ بعض حضراتو رائې: بعض حضرات وائې چه امام بخاری رحمه الله په دې ترجمه سره دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه او حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها دَ یوروایت طرف ته اشاره کوی چه حضورپاك په غسل جنابت کښې خطمی سره په سر وینځلو اکتفاکوله او په سرباندې به ئی اوبه نه بهیولې.(٢)

نولکه چه امام بخاری رحمه الله دا فرمائی چه حدیث باب په دې خبره باندې دلالت کوی چه حضورپاك به په غسل جنابت کښې اوبه استعمالولې اودَحدیث باب نه دا نه ثابتیږی چه حضورپاك دَ غسل جنابت نه وړاندې دَ بدن دَ صفا کولو دَپاره دَ سدر وغیره په شان څه څیز نه استعمالولو. دَ اکثرو روایاتونه هم دَدې تائید کیږی. ترجمة الباب کښې أوالطیب کښې لفظ أو په دې خبره باندې دلالت کوی چه طیب دَ حلاب یوقسم دې لهذا دا به په غیرحلاب باندې محمول کولې شی. معترضینو ته ځکه اشکال شوې چه هغوی طیب دَ حلاب دَ جنس نه ګنړلې دې خودَ حلاب نه دلته لوښې نه بلکه اوبه مراد دی نولکه چه داسې ده حال ونیلو سره ئی مجازاً اسم المحل مراد اخستې دې.(٣)

شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه دَ بعض حضراتو دَ دې توجیه مطلب دا شو چه امام بخاری رحمه الله په دې سره دَ خطمی والا روایاتو باندې رد کولوسره په اوبوسره شروع کول ثابت کړی دی نو لکه چه امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې دوه څیزونه حلاب (اوبه) او په طیب سره دَ شروع کولو ذکر کړې وو اودَ روایت نه دَ یویعنې اوبوسره دَ شروع کولو ذکر ثابت کړې دې. هم دغه اصول په تراجم کښې یوکم څلویښتم اصل دې.(٤)

---

(١) فتح الباری: ٤٨٨/٢عمدة القاری:٣٠٣/٣ الکنزالمتواری:١٩٨/٣.

(٢) الحدیث أخرجه أبوداؤد فی سننه، عن عائشة – رضی الله عنها – کتاب الطهارة، باب فی الجنب یغسل رأسه بالخطمی رقم: ٢٥٦انظر جامع الأصول النوع الأول فی کیفیة الغسل: ٣٠٣/٧رقم: ٥٣٤٤ وأخرجه عنها البیهقی فی السنن الکبری، کتاب الطهارة باب غسل الجنب رأسه: ٢٨١/١رقم:٨٦٤ وأخرجه البیهقی أیضاً فی المعجم الکبیر عن ابن مسعود – رضی الله عنه - :٢٥٤/٩ رقم:٩٢٥٧وأخرجه ابن أبی شیبة فی مصنفه عن ابن مسعود – رضی الله عنه – کتاب الطهارة باب فی الرجل یغسل رأسه بالخطمی ثم یغسل جسده رقم: ٧٧٦، ٧٧٩، ٧٨١، ٧٨٢.

(٣) فتح الباری: ٤٨٨/٢.

(٤) الکنزالمتواری:١٩٨/٣الأبواب والتراجم ص:٦٠ قال شیخ الحدیث رحمه الله: [الأصل] التاسع والثلثون: ما قالوا فی النوع المذکور یعنی إذا ذکر جزئین فی الترجمة ولم یذکر الحدیث إلا لواحد منهما أن الإمام البخاری یشیر بذلک إلی أن أحد الجزئین ثابت والثانی لا یثبت، فکأن البخاری رد علیه بالترجمة وأنکره، جزم بذلک الکرمانی

قاضی عیاض ؒ ارشاد: قاضی عیاض ؒ اوفرمائیل چه حلاب اومحلب دَ میم کسره سره هغه لوښی ته وائی په کوم کښې چه دَ اوښې دَ پیئو په اندازه څه څیز راخائی شی. په ترجمه کښې دَ حلاب نه دَغیر طیب مراد کیدو دلیل دَ طیب دَ او په ذریعه په حلاب باندې عطف کیدل دی. دَدې عطف په ذریعه امام بخاری ؒ پخپله حلاب دَ طیب یوقسم گرځولې دې. دې سره دَامام اسماعیلی ؒ دَ قول هم تردید کیږی چه دَ امام بخاری ؒ نه غلطی شوې ده هغه حلاب خوشبوئی گنړلې ده. کله چه امام بخاری ؒ دَ دواړو په یوبل باندې عطف کړې دې نو بیا هغه ولې حلاب خوشبوئی اوگنړله؟[1]

دَعلامه عینی ؒ ، ابن بطال ؒ او کرمانی ؒ توجیه: علامه عینی علامه ابن بطال اوعلامه کرمانی رحمهم الله دَ توجیه خلاصه داده چه داسې وینا کول صحیح نه دی چه امام بخاری ؒ دَ حلاب نه دَ خوشبوئی څه قسم مراد اخستې دې. دَ او الطیب الفاظ پخپله دَدې تردید کوی. علامه عینی ؒ لیکلی دی چه دَحلاب نه دَ اوبو ساتلو لوښې مراد دې. خو علامه ابن بطال ؒ او علامه کرمانی ؒ دَ حلاب نه هغه لوښې مراد اخستې دې په کوم کښې چه خوشبوئی وی.[2]

یواعتراض: معترض وائی که چرې دَ حلاب نه لوښې مراد واخستې شی نوبیا به ترجمة الباب کښې دوه څیزونه لوښې او طیب ذکر وی لیکن په حدیث کښې صرف حلاب یعنی دَ لوښی ذکر دې دَ طیب څه ذکر نشته دې نولکه چه دَترجمة الباب یو جز ثابت شو او بل نه؟[3]

دَ اعتراض جواب: علامه کرمانی ؒ اوعینی ؒ دَدې دا جواب ورکړې دې چه امام بخاری ؒ دَ دوو څیزونو نه دَ یو دَپاره ترجمة الباب قائم کړې دې په داسې توگه چه دَ حلاب او طیب په مینځ کښې لفظ دَ او راوړلې دې نه چه لفظ دَ واؤ او دَ دواړو نه یو یعنی حلاب ئې ثابت کړې دې. خکه چه دَ امام بخاری ؒ عادت دې چه هغه اکثر په ترجمه کښې څه څیز ذکر کوی مگر دَ څه وجې نه دَهغې متعلق څه حدیث نه ذکر کوی. البته دَ اوبو په لوښې او خوشبوئی کښې خپل مینځ کښې مناسبت دادې چه دَ دواړو وقوع دَ غسل په شروع کښې کیږی.[4]

علامه انصاری ؒ علامه قسطلانی ؒ او شیخ عبدالحق محدث دهلوی ؒ هم دَ علامه عینی ؒ اتباع کښې هم دغه توجیه اختیارکړې ده.[5]

دَ علامه کرمانی ؒ دَ توجیه مطلب دا شو چه کله دَ ظرف طیب دَ طلب نه شروع کول هم صحیح دی اوکله دَ نفس طیب دَ طلب کولو نه هم شروع کول صحیح دَی. خودَ حدیث الباب نه دَ ترجمه رومبې جز ثابتیږی دویم نه ثابتیږی. دَ ابن بطال ؒ دَ قول نه دَدې تائید کیږی خکه چه په حدیث کښې دَ غسل په وخت دَ حضورپاك په اتباع کښې دَ خوشبوئی دَ استعمالولو ترغیب موجود دې.[6]

فی باب غسل المنی وفرکه. (الأبواب والتراجم، الفصل الثالث فی بیان التراجم، عدم الذکر لأحد جزئی الترجمة إشارة إلی عدم الثبوت، ص: ۱۲).

[1] فتح الباری: ۴۸۷/۲عمدة القاری:۳۰۳/۳.

[2] عمدة القاری:۳۰۳/۳شرح ابن بطال: ۳۸۵/۱شرح الکرمانی: ۱۲۱/۳.

[3] شرح الکرمانی: ۱۲۱/۳عمدة القاری: ۳۰۴/۳-۳۰۳.

[4] شرح الکرمانی:۱۲۱/۳عمدة القاری: ۳۰۴/۳-۳۰۳.

[5] إرشاد الساری:۴۹۶/۱الکنزامتواری:۲۰۰/۳-۱۹۹تحفة الباری: ۲۲۳/۱.

[6] شرح الکرمانی: ۱۲۱/۳الکنزالمتواری: ۱۹۸/۳شرح ابن بطال: ۳۸۶/۱-۳۸۵.

علامه عینی رحمه الله دَ علامه کرمانی رحمه الله دا توجیه نقل کولونه پس لیکلی دی چه دَامام اسماعیلی مکی بن ابراهیم حنظله په طریق سره په دې روایت کښې بحلاب په ځائی کان یغتسل بقدح الفاظ سره دَدې تردید کیږی. (۱)

دَعلامه کرمانی رحمه الله په توجیه باندې دَ حافظ صاحب رحمه الله رد: دَعلامه کرمانی رحمه الله رائې نقل کولونه پس حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی په حدیث کښې ذکر شوې فأخذ بکفه الفاظو سره لکه چه دې حضراتو ګڼړلی دی چه حضورپاك ﷺ دَ لوښی نه په خپلو لاسونو کښې خوشبوئی اخستې ده او بنی اوګس طرف ته ئې لګولې ده لکه چه په حدیث کښې دَ حضورپاك دَغسل بیان نه دې بلکه دَخوشبوئی لګولو تذکره ده. حافظ صاحب رحمه الله فرمائی چه دَامام بخاری رحمه الله دَ روایت الباب ظاهر ته په کتلوسره دا یوه ښه توجیه ده لیکن څوك چه دَ روایت په نورو طرق باندې تامل کوی هغه دې توجیه ته ترجیح نه شی ورکولې ځکه چه دَ محدث اسماعیلی رحمه الله وغیره دَ روایت نه واضح کیږی چه صفت مذکوره دَ غسل دې دَ خوشبو لګولو نه دې. دَ محدث اسماعیلی دَ مکی بن ابراهیم والا طریق الفاظ دَعلامه عینی رحمه الله دَ قول په ذیل کښې اوس پورته تیر شو چه هغوی دَ حلاب په ځائی کان یغتسل بقدح نقل کړی دی(۲)خو امام جوزقی دَ حمدان سلمی عن ابی عاصم په طریق سره «اغتسل فأتی بحلاب فغسل شق رأسه الأیمن» الفاظ نقل کړی دی. (۳)پس په دې طریق کښې موجود "اغتسل" او "غسل" دَ الفاظونه معلومیږی چه هغه دَ اوبولوښې وو دَ خوشبوئی لوښې نه وو. دغه شان دَ محدث اسماعیلی رحمه الله یو بل روایت چه په طریق دَ بندار عن ابی عاصم الفاظ دادی: «کان إذا أراد أن یغتسل من الجنابة، دعا بشئ دون الحلاب، فأخذ بکفه، فبدأ بالشق الأیمن، ثم الأیسر، ثم أخذ بکفیه ماء، فأفرغ علی رأسه» (۴)که چرې په دې روایت کښې دَماء الفاظ نه وې نوممکن وه چه دا به تطیب قبل الغسل باندې محمول کولې شو لیکن دَ ماء دَ الفاظونه معلومیږی چه داسې کول صحیح نه دی، دغه شان امام ابوعوانه رحمه الله په خپل صحیح کښې دَ یزید بن سنان عن ابی عاصم په طریق سره روایت نقل کړې دې چه: «کان یغتسل من حلاب فیأخذ غرفة بکفیه فیجعلها علی شقه الأیمن، ثم الأیسر»(۵)

په دې روایت کښې هم یغتسل او غرفة الفاظ دَ اوبو په لوښی کیدو باندې دلالت کوی. دَ ابن حبان رحمه الله او بیهقی په روایت کښې «ثم یصب علی شق رأسه الأیمن» الفاظ دی. (۶)خوشبوئی لګولو ته صب یعنی بهیولوسره نه شی تعبیر کولې. حاصل دا شو چه دا ټول روایت مذکوره کښې دَ حلاب نه دَ خوشبوئی لوښې مراد کیدلو توجیه مستبعد جوړوی. (۷)

---

(۱) عمدة القاری:۳/۳۰٤.

(۲) فتح الباری: ۲/٤۸۸عمدة القاری: ۳/۳۰۳الکنزالمتواری: ۳/۱۹۹.

(۳) فتح الباری: ۲/٤۸۸.

(٤) فتح الباری: ۲/٤۸۸عمدة القاری: ۳/۳۰۳الکنزالمتواری: ۳/۱۹۷.

(۵) مسند أبی عوانة کتاب الطهارة باب صفة الأوانی التی کان یغتسل منها رسول الله ﷺ من الجنابة: ۱/۲٤۸رقم ۸۵٤.

(۶) صحیح ابن حبان کتاب الطهارة باب الغسل ذکر وصف الغرفات الثلاث التی وصفناه من الجنابة: ۳/۶۹رقم ۱۱۹۷السنن الکبری کتاب الطهارة باب استحباب البدایة فیه بالشق الأیمن: ۱/۲۸٤ رقم: ۸۷۲.

(۷) فتح الباری:۲/٤۸۹-٤۸۸.

دَامام ابونعيم رحمه الله رائې: امام ابونعيم اصفهاني رحمه الله په "المسند المستخرج على صحيح الامام مسلم" كښې دا روايت نقل كولو نه پس ليكلي دي: «الحلاب الذي يحلب فيه اللبن، أي بذلك القدر كان يغتسل» [1] يعنى حلاب دَ پيئولوشلو لوښى ته وئيلى شى حضورپاك به په دې قسم لوښى كښې اوبه اخستلې غسل به ئې كولو.

دَ ابن رجب حنبلي رحمه الله قول: ابن رجب حنبلي رحمه الله دَ حلاب نه لوښې مراد اخستې دې هغه فرمائي چه حضورپاك به دَ داسې لوښې په يومُد اوبوسره غسل كولو په كوم كښې چه دَ څاروو پيئي لوشلې شى هم دغه معنى نحوالصاع دَ روايت دې. دَدې تائيد دَ دې حديث دَ دغه بعض طرق نه كيږي. چه كله قاسم دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه پوښتنه اوكړه چه دَ جنابت په غسل كښې څومره اوبه كافي كيږي؟ دَ قاسم سوال دَ غسل دَ اوبو دَ مقدار باره كښې وو نه چه دَغسل په وخت دَ طيب دَ استعمال متعلق. [2]
دَ حلاب نه مراد دَ لوښى كيدو نور تائيد دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَدې روايت نه هم كيږي چه حضورپاك ته يو حلاب يعنى لوښې پيش كړې شو په كوم كښې چه پيئى وونو حضورپاك دهغې نه اوڅكل. [3]

ابن رجب الحنبلي رحمه الله دَ جلاب والاتوجيه تصحيف او په حديث باندې نه پوهيدونكو غلطى گرځولې ده او نور ئى فرمائيلى دى كوموخلقو چه حلاب حاء سره دَ خوشبوئى لوښې مراد اخستې دې دَهغې څه اصل نشته دې. [4]

امام ابوبكر عبدالعزيز بن جعفر الفقيه كتاب الشافي كښې په طريق دَ ابوعاصم الضحاك بن مخلد حنظله نه هغوى دَ قاسم نه هغوى دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه نقل كړى دى چه نبى كريم ﷺ په اندازه دَ حلاب يولړښى سره غسل كولو. دَ حديث راوى وائى چه ابوعاصم په خپل لاس سره اشاره كولو سره مقدار اوخودلو اوهغه دَ يوې كوزې په اندازه وو په كوم كښې چه اته رطل اوبه راتلې شوې. [5]

فائده: علامه عثمانى رحمه الله فرمائي چه اته رطل والا روايت نه دَ صاع دَ مقدار په سلسله كښې دَ احنافودَ مذهب باره كښې اشاره ملاويږي. [6]

دَعلامه ادريس كاندهلوى رحمه الله رائې: علامه ادريس كاندهلوى رحمه الله دَ شراح ذكركړې شوى مختلف توجيهات نقل كولونه پس فرمائي چه په دې باب كښې تول معنى جوړيدې شى دَحديث باب زيات مناسب رومبې معنى معلوميږي چه دَحلاب نه دَ لوښى معنى مراد واخستې شى اومطلب دادې چه حضورپاك دَپاره به كله دَ اوبولوښې راغوښتې شو اوبغيردَ څه خوشبوئى لگولونه به ئى په بدن باندې اوبه بهيولې اوغسل به ئى كولو اوداَ حضورپاك اكثر عادت وو اوكله به ئې دَ غسل نه وړاندې خوشبو طلب كوله اودَ غسل نه اول به ئى دا استعمالوله اوبيابه ئى غسل كولو. [7]

---

[1] كتاب الطهارة باب فى الاغتسال من الجنابة: ۳۶۹/۱رقم الحديث: ۷۱۶.
[2] فتح البارى لابن رجب الحنبلى: ۱۵٤/۱.
[3] فتح البارى لابن رجب الحنبلى: ۱۵٤/۱.
[4] فتح البارى لابن رجب الحنبلى: ۱۵۵/۱.
[5] فتح البارى لابن رجب الحنبلى: ۱۵۵/۱فتح الملهم:۱٤۹/۳.
[6] فتح الملهم:۱٤۹/۳.
[7] الأبواب والتراجم لمولانا إدريس الكاندهلوى ص:۲۶۲.

دَ علامه عثمانی رحمه الله توجیه: علامه شبیراحمد عثمانی رحمه الله فرمانی چه زه داګنړم په دې باب کښې یوه بله اشاره هم کیدې شی هغه دا چه راتلونکې یو باب من تطیب ثم اغتسل راروان دې یعنی دَ غسل نه وړاندې خوشبو لګول، اوس چه دې خائی کښې دَحلاب نه هم هغه لوښې مراد واخستې شی. لکه چه امام بخاری رحمه الله دا وینا کول غواړی چه اول حلاب یعنی دَ اوبو لوښې واخلی (یعنی غسل اوکړی) دې نه پس خوشبوئی استعمال کړی لکه چه وړاندې باب راوړی. دَدواړو ذکرئې اوکړو چه خلق اکثر دَ لوښود کمی دَ وجې نه هم په دې سره غسل کوی.(۱)

دَحضرت شاه ولی الله رحمه الله رائې: حضرت شاه ولی الله رحمه الله شرح ابواب تراجم بخاری کښې لیکلی دی: «له معنیان، (الأول): الحلاب بمعنى المحلوب في المذور، أي المخرج من عصارة وكان العرب يستعملون الطيب قبل ذلك وميل المؤلف إلى هذا المعنى بقرينة انضمام قوله: أو الطيب، إليه، (والثاني): أن يكون الحلاب بمعنى الآنية التي يحلب فيها لبن الإبل، وحديث الباب أخرجه البعض بهذا المعنى أيضاً، فيكون معنى قوله: دعا بشيء نحو الحلاب، أي: أن يقرب إليه ذلك الأناء المملوء من الماء ليغتسل منه، وقال بعضهم: الجلاب بالجيم بمعنى ماء الورد، والعرب يستعملون الطيب وماء الورد قبل الاغتسال ويبقى منه أثره في أبدانهم بعد الاغتسال أيضاً، وهو أيضاً محتمل الكتاب»(۲)

یعنی دَ حلاب دوه معنې دی: اول دا چه حلاب هغه پیئو او محلوب ته وائی کوم چه دَ تخمونو نه ویستلې شی اودَعربو خلق دَ تخمونو نه ویستلې شوې محلوب دَ غسل نه وړاندې دَ خوشبوئی په توګه په خپل بدن باندې مږلو. دَامام بخاری رحمه الله خیال هم دې معنې طرف ته معلومیږی ځکه چه هغوی حلاب طیب سره ملاؤ ذکر کړې دې. او دویمه معنی دَ لوښی ده یعنی دَ حلاب نه هغه لوښې مراد دې په کوم کښې چه به خلقو دَ اوښې پیئی لښل، بعض حضراتو دَحدیث باب په دې معنی کښې هم تخریج کړې دې دې وخت کښې به دَ دعابشئ نحوالحلاب معنی دا شی چه دَ حلاب په شان دَ اوبو نه ډک شوې لوښې رانیزدې کړی دې دَپاره چه دَهغې نه غسل اوکړی. خو بعض حضراتو جلاب په جیم په معنی ماء الورد عرق ګلاب مراد اخستې دې. عرب حضراتو به دَ غسل نه وړاندې خوشبوئی او عرق ګلاب استعمالول اودَدې اثربه دَهغوی په بدنونو باندې دَ غسل نه پس هم باقی پاتې کیدو. دَدې معنی هم په کتاب کښې احتمال شته.

شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله دَ حضرت شاه ولی الله رحمه الله قول نقل کولونه پس لیکی چه حاصل دادې چه دَ شیخ المشائخ په نیز ترجمه اوحدیث یعنی دَ حلاب نه عصارة البذور تخمونه نچوړشوې محلوب مراد دې سره دَدې چه هغوی نور هم احتمالات ذکرکړی دی.(۳)

دَ شیخ الهند رحمه الله توجیه: حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمانی چه حلاب نه مراد هم لوښې دې اوقاعده ده چه په لوښی کښې دَ پیئو بوئی او غوړوالې راځی نوامام بخاری رحمه الله دا وئیل غواړی که دَغسل په اوبوکښې دا قسم څه بوئی او اثر راشی نو په غسل کولوکښې څه بدیئت نشته دې. په کوم لوښی کښې چه دَ غوړوالی اثرات پاتې کیږی که په هغې کښې اوبه راډکې کړې شی او غسل اوکړی نو په غسل او وینښتو کښې نرمی راځی اودَ خیری وغیره دَ ختمیدو دَ وجې نه د بدن تنقیه صفائی کیږی.(۴)

---

(۱) فضل الباری:۲/۴۳۳.

(۲) شرح تراجم أبواب البخاري: ص: ۱۸الأبواب والتراجم ص: ۶۰.

(۳) الكنز المتواري: ۳/ ۲۰۰الأبواب والتراجيم ص: ۶۰

(۴) فضل الباري:۲/۴۳۳.

دَعلامه کشمیری رحمه الله رائې: علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه حلاب دَ معروف لوښی نوم دې بعض خلقو داد جلاب تصحیف گرځولې دې اوبعض خلق دَدې نه حبُ المحلب مراد اخلی نودا زیاتې اود حد نه تجاوز دې. په دې وجه امام بخاری رحمه الله دا روایت په مختلف مواضع کښې ذکرکړې دې. په هرځائی کښې دَ تصحیف یا مصنف تغلیط کول ډیره لرې خبره ده. دَ حلاب لفظ په حدیث کښې په صراحت سره راغلې دې. شراح دَ حلاب اوطیب په مینځ کښې جمع مشکل گڼړلې ده. خود امام بخاری رحمه الله مقصد خودا معلومیږی چه غسل حلاب یعنی د پینو لښلو په لوښی سره هم کیدې شی. اوکه دَ پینو لښلو والا په لوښی کښې اوبه واخستې شی نو په هغې کښې دَ پینو رنګ او بوئی هم راتلې شی که په اوبو کښې دَ دغه څیزونو ظهور وی نوبیاهم څه حرج نشته دې. څکه چه که په اوبو کښې بل څه پاك څیز ملاؤشی نوهغه هم پاك پاتې کیږی. دا دَ نور صراحت سره په راتلونکی باب من تطیب ثم اغتسل وبقی أثر الطیب کښې ښائی. په أوالطیب سره دلته دې خبرې طرف ته اشاره اوکړې شوه که دَغسل نه وړاندې خوشبوئی اولګوله اودَ غسل نه پس هم دَهغې اثرباقی پاتې شو نوهغه صحیح دی. په دې باب کښې خوشبوئی او په وړاندې باب کښې په خوشبوئی کښې فرق دادې چه په راتلونکی باب کښې دَ خوشبوئی تعلق دَ غسل سره نه دې بلکه هلته دَخوشبوئی استعمال دَ تازګئی دَ حاصلولو دَپاره دې چه دَ محرك کیدو دَ وجې نه دَ جماع په معامله کښې فائده مند دې. دَ غسل نه وړاندې دَ خوشبوئی استعمال په بعض ښاریوکښې عام دې. خلق اول خوشبوئی لګوی بیا غسل کوی ولې زمونږ په ښاریوکښې دَ غسل نه پس خوشبوئی لګولې شی.(١)

حضرت شاه صاحب رحمه الله نور لیکی چه دلته امام بخاري رحمه الله دَ حلاب مسئله مستقلاً بیانول غواړی په دې وجه دَهغې دَپاره ئې حدیث هم ذکر کړې دې. اودَ طیب مسئله ئې تبعاً ذکر کړې ده په دې وجه ئې دَ دې دَپاره دَ حدیث ذکر کول ضروری اونه ګڼړل. چونکه دَ اثر دَ باقی پاتې کیدو په لحاظ سره دَ دواړو حکم هم یو دې په دې وجه په ترجمه کښې دَ دواړو په یوځائی ذ کر کولوکښې هیڅ مضائقه نشته دې.(٢)حضرت شیخ الهند مولانا زکریا رحمه الله دَحضرت کشمیری رحمه الله توجیه نقل کولونه پس لیکلې دی حسنٌ جداً (بهترین توجیه) ده مګر دَ بدأ لفظ په ترجمه او حدیث کښې مشکل ښکاری څکه چه دَ مذکوره توجیه سره څه خصوصی حیثیت نه معلومیږی.(٣)

دَحضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله دَ اشکال په جواب کښې دا وئیلې شی چه پخپله په ترجمه اوحدیث کښې هم بدأ لفظ سره حقیقی هدایت مقصودنه دې بلکه صرف قبلیت ئې په داسې درجه کښې اوخودلو چه دَ دغه شئ طاهر مخالط بماء الغسل اثرات باقی پاتې دَ غسل په صحت باندې هیڅ اثر نه پریوځی.(٤)

دَ حضرت ګنګوهی رحمه الله توجیه: حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه باب من بدأ بالحلاب أوالطیب مقصد دادې چه دَ خوشبوئی استعمال ضروری نه دې سره دَدې چه دَ حضورپاك نه قبل الغسل دَدې استعمال ثابت دې اوهغه داسې چه دَ خوشبوئی اثر دَ غسل په ذریعه سره دَ بدن باقی پاتې اطرافو ته

---

(١) فیض الباری:١/٤٥٥.
(٢) فیض الباری:١/٤٥٦-٤٥٥.
(٣) الکنزالمتواری: ٣/٢٠٠.
(٤) حاشیهٔ أنوار الباری:٩/١٩٩.

خور شی. نور فرمائی چه دَدې ترجمه حاصل دادې چه په دې باب کښې ابتداء بالحلاب جواز بیانولې شی سره دَدې چه دَدې نه وړاندې خوشبوئی نه وی لګولې شوې اودا بیانولې شی چه ابتداء بالطیب اوعدم ابتداء بالطیب دواړه جائز دی. کله چه په حدیث باب کښې دحضورپاك ابتداء بالحلب کول خودلی شوی دی نودَ خوشبوئی دَ ترك جواز معلوم شو او ابتداء بالطیب واجب نه دی سره دَدې چه دَ روایت باب نه علاوه دَ نورو روایاتو په رنړاکښې جائز دی. (۱)

دَ مولانامحمدحسن مکی توجیه: شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا لیکلی دی چه دَ مولانا محمدحسن مکی په تقریر کښې دی چه حضورپاك به کله دَ غسل کولو اراده فرمائیله نو سرمبارك به ئې په داسې خطمی سره وینځلو چه دَ طیب نه علاوه په یوڅیز یعنی اوبوسره به مخلوط وو بیا به ئې دَدې نه پس په غسل مبارك کښې دوباره سرمبارك نه وینځلو. بلکه په دې باندې به ئې اکتفاء کوله اوکله به رسول الله بغیردَ خطمی نه غسل کولو نو سرمبارك به ئې باقی بدن سره وینځلو. نودَ امام بخاری مقصد او غرض په دې باب کښې دَدې دوو ذکر شوو غسلونونه یوبیانول دی چنانچه په ترجمه کښې بدأ بالحلاب سره دَغسل دویم قسم طرف او أو الطیب سره دَ رومبې قسم دَ غسل طرف ته اشاره ده.(۲)

دَ مولانامکی دویمه توجیه: دَمولانا محمدحسن مکی په یویل تقریرکښې دا توجیه بیان کړې شوې ده چه ابتداء بالطیب چونکه په خلقوکښې معروف اومحقق ده په دې وجه دَدې دپاره حدیث رانوړلې شو او په کوم کښې چه خفا وه یعنی ابتداء بالحلاب نودائی ثابته کړه چه ابتداء بالحلاب هم جائز ده لازم نه ده اودَ ابتداء بالحلاب معنی دا ده چه حضورپاك به دَ دې غسل شروع دَ استنجاء نه نه کوله (بلکه دَ اول نه به ئې استنجاء وه). (۳)

دَحافظ صاحب خوښه کړې شوې توجیه: حافظ ابن حجر «أحسن الأجوبة عندي» ګرځولو سره دَ بعض علماؤ نه یوه توجیه نقل کړې ده ، حافظ صاحب لیکلی دی: "مادَ بعض حضرات علماؤ دَ کومو نومونه چه دې وخت کښې یاد نه دی دا توجیه اوریدلې چه په ترجمة الباب کښې دَ طیب نه حدیث عائشه طرف ته اشاره کول مقصود دی چه (أنها كانت تُطيب النبي صلى الله عليه وسلم عند الإحرام) (۴)یعنی حضرت عائشه به دَ احرام په وخت کښې نبی ته خوشبوئی لګوله، غسل چونکه دَ سنن احرام نه دې په دې وجه لکه چه خوشبوئی دَ غسل په وخت ثابته شوه، نوامام بخاری دلته دَدې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه دَ نبی کریم عادت مستمره دَ غسل په وخت دَ خوشبوئی لګولو نه وو". (۵)

دَحافظ صاحب دَ نقل کړې شوی توجیه تائید او تقویت: حافظ صاحب دَدې توجیه دَ نقل کولونه پس لیکلی دی چه دَدې توجیه تائیداوتقویت دَدې خبرې نه هم کیږی چه دَ اووه ابواب نه پس

---

۱) لامع الدراری مع الکنزالمتواری:۳/۲۰۱-۱۹۷.

۲) الکنزالمتواری:۳/۲۰۱.

۳) الکنزالمتواری:۳/۲۰۱.

۴) الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب الغسل، باب إذا جامع ثم عاد، ومن دار علی نسائه فی غسل واحد، رقم: ۲۶۷وفی باب من تطیب ثم اغتسل وبقی أثر الطیب، رقم: ۲۷۰.

۵) فتح الباری:۲/۴۸۹الکنزالمتواری: ۳/۱۹۹الأبواب والتراجم ص:۶۰.

امام بخاري رحمه الله باب من تطيب ثم اغتسل وبقي أثر الطيب قائم کولوسره دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها روايت ذکرکړو چه «أنا طيبتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم، ثم طاف في نسائه، ثم أصبح محرمًا». (١) يعنى ما رسول الله ﷺ له خوشبوئي اولګوله بيا هغوی په خپلو ازواج مطهرات کښې اوګرځيدو (صحبت ئې اوکړو او غسل ئې اوکړو) بيائې احرام اوتړلو. دې نه پس په يوروايت کښې دی «كأني أنظر إلى وبيص الطيب في مفرقه صلى الله عليه وسلم وهو محرم». (٢) لکه چه ما به دَ حضورپاك په سر مبارك کښې دَ خوشبوبرق ليدلو اوهغوی به دَ احرام په حالت کښې وو. دَدې باب نه دَ وړاندې په يوروايت کښې امام بخاري رحمه الله نقل کړی دی «ثم يصبح محرماً ينضخ طيباً». (٣) بيا به نبی کريم ﷺ داسې احرام تړلو چه په هغوی باندې به دَ خوشبوئي اثرباقي پاتې وو. نو «ثم طاف على نسائه» سره دَ خوشبوئي لګولو نه پس غسل کول مستنبط کيږي. ځکه چه دَ حديث دا الفاظ دَ جماع نه کنايه دی او په دې سره غسل لازم کيږي. دَدې نه معلومه شوه چه حضورپاك دَ خوشبوئي لګولونه پس غسل کړې اودَ غسل نه پس هم دَ خوشبوئي اثرباقي پاتې وو، ځکه چه حضورپاك به خوشبوئي خوښوله او په کثرت سره به ئې استعمالوله. (٤)

دَ حافظ صاحب رحمه الله په نيز دَترجمه مطلب: حافظ صاحب رحمه الله نور ليکی چه دَدې تفصيل نه پس په ترجمة الباب کښې «من بدأ بالحلاب» سره دَ غسل دَ اوبو لوښي مراددې کوم چه حضورپاك دَ غسل په غرض سره راغوښتې وو او «من بدأ بالطيب» مطلب دادې چه حضورپاك دَ غسل اراده کولو وخت کښې دَخوشبوئي استعمال فرمائيلې. نو ترجمه دغه دواړو امورو ته شامل ده. بيا په حديث باب سره دَ نبی کريم ﷺ بداءت غسل باندې هميشه والې ثابت شو اودَ غسل نه پس دَ خوشبوئي استعمال دَ حضورپاك عادت معروفه وواودَ غسل نه وړاندې دَ خوشبوئي استعمال دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دَ روايت نه معلوم شوی دی. (٥)

دَحافظ صاحب رحمه الله په امام اسماعيلي رحمه الله او ابن الاثير رحمه الله باندې نقد: حافظ صاحب رحمه الله اوفرمائيل چه دَدې توجيه نه معلومه شوه چه دَامام اسماعيلي رحمه الله دا وينا قابل اعتراض ده چه دَغسل نه وړاندې خوشبوئي لګول بې معنې دی. دغه شان دَ ابن الاثير رحمه الله خبره هم دَ نيولوقابل ده چه دَخوشبوئي استعمال دَغسل نه وړاندې په نسبت دَ روستو کښې زيات موزون اومناسب دی. بل دَدې دواړو حضراتو نه علاوه دَ نورو علماؤ أقوال هم قابل دَ مواخذې دی. مونږ دَهغې دَ وضوح او ظهور په رڼاکښې هغې سره څه تعارض اونه کړو. (٦)

---

(١) رقم الحديث: ٢٧٠.

(٢) الحديث أخرجه البخاري في كتاب الغسل باب من تطيبَ ثم اغتسل وبقي أثر الطيب رقم: ٢٧١والحديث يتكرر في البخاري. انظر رقم: ١٥٣٨، ٥٩١٨، ٥٩٢٣.

(٣) الحديث أخرجه البخاري في كتاب الغسل باب أذا جامع ثم عاد، ومن دار على نسائه في غسل واحد، رقم: ٢٦٧.

(٤) فتح الباري: ٤٨٩/٢.

(٥) فتح الباري: ٤٨٩/٢.

(٦) فتح الباري:٤٨٩/٢.

دَعلامه كوراني رحمه الله توجيه: علامه احمدبن اسماعيل كوراني حنفي رحمه الله «وأحسن ما يجاب به عن البخاري»، نه ليكلي دى چه په ترجمه كښې دَ حلاب نه لوښي مراد دي اوطيب په حلاب باندې امام بخاري رحمه الله دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها روايت دَ خوشبوئي لګولو نه پس حضورپاك دَخپلو ازواج دوره اوكړه طرف ته دَ اشاره كولو دَپاره عطف كړې دې. لهذا كه چرې دَ حلاب نه پس دَ "أو" لفظ وى نومطلب به داشي چه امام بخاري رحمه الله داخبره ښائي چه دَ غسل شروع دَ اوبو او خوشبوئي دواړو نه كيدې شي. په دې باره كښې حديث وارد شوې دې اوكه چرې دَ حلاب نه پس دَ "أو" په ځائي "واؤ" اومنلې شي نوچونكه واؤ دَ ترتيب دَپاره نه دې بلكه دَ مطلق جمع دَپاره راځي په دې وجه دَاوبو اوخوشبوئي نه چه په كوم سره هم شروع اوكړې شي صحيح ده. او په روايت كښې «فأخذ بكفيه» الفاظ دَ اوبو اخستلو په اراده كښې صريح دى نوداګمان ځنګه كيدې شي چه امام بخاري رحمه الله ته وهم شوې دې اوهغوى دَ حلاب نه خوشبوئي مراد اخستې ده.[1]

دَ شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله ذكركړې شوې يوه توجيه: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائيلى دى چه يوڅو ترجمې داسې دى چه تراوسه پورې حل شوى نه دى. هم دَ هغې نه يو باب دا هم دې دَ كوم دَ ثابت كولو دَپاره چه دَ امام بخاري رحمه الله مداحينو پوره زور لګولې دې اوكوم خلق چه اعتراض كونكى دى دَهغوى اعتراض دې چه ګوره امام بخاري رحمه الله ته عربي هم نه ورځي دَ حلاب معنى ئې طيب ګڼړلو سره په باب كښې دَ طيب لفظ زيات كړې ليكن دا دواړه فريق په افراط اوتفريط كښې اخته دى. دَدې نه بهتر داده چه اعتدال اوساتلې شي او توجيه اوكړې شي. چنانچه بعض خلقو توجيه كړې ده چه په سرې كښې فى حد ذاته خوشبوئي وى مګر دَ خولې او خيرى دَ وجې نه بدبوئي پيداكيږى. نوكله چه سرې مرلو سره لامبيږى نودَ خيرى او خولې بدبوئي به ختمه شي اوذاتي خوشبوئي به پيداشي. اوس به دَ دلك نه پس حلاب سره غسل كوى نو حلاب اوطيب به دواړه مومي. يوه توجيه داده چه بعض رواياتو كښې دى چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم به دَ خطمي په ذريعه سره غسل كولو نو په دې كښې طيب وى نودَدې روايت طرف ته اشاره ده.[2]

دَ بحث خلاصه: دَدې بحث خلاصه داده چه دَدې باب اوترجمه په سلسله كښې خونه دَامام بخاري رحمه الله تغليط صحيح دې اونه حلاب جلاب ګرځولو تصحيف كول البته كه مناسب توجيه اختياركړې شي. دَ شراح حديث تقريباً ټول توجيهات نقل كړې شوى دى. خو په دې كښې دوه توجيهات مناسب اواقرب معلوميږى يوه خوهغه كومه چه علامه عيني رحمه الله او اكثر شراح ذكركړې ده چه امام بخاري رحمه الله په ترجمه كښې دوه څيزونه ذكر كړى دى او روايت ئې دَ يو باره كښې راوړې دې. دَ باقي دويم څيز متعلق امام بخاري رحمه الله نفي كړې ده يا نه؟ شراح حديث يعنى علامه عيني رحمه الله اوكرماني رحمه الله وغيره سره دَدې چه دَ نفي لفظ نه دې ذكركړې ليكن نتيجه هم دَ نفي راوځي. او دويمه توجيه هغه ده چه حافظ ابن حجر رحمه الله وغيره ذكر كړې ده چه په ترجمه كښې دويم جز ذكر كولوسره دَ هغه بعض رواياتو طرف ته اشاره كړې شوې ده دَ كوم نه چه هغه ثابتيږى. والله اعلم بالصواب.

---

[1]) الكوثر الجاري: ۴۱۵/۱.
[2]) حاشية تقرير بخاري:۸۳/۲.

الحديث الأول

۲۵۸- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ حَنْظَلَةَ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ [ص: ۲۵]: كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ، دَعَا بِشَيْءٍ نَحْوَ الْحِلَابِ، فَأَخَذَ بِكَفِّهِ، فَبَدَأَ بِشِقِّ رَأْسِهِ الْأَيْمَنِ، ثُمَّ الْأَيْسَرِ، فَقَالَ بِهِمَا عَلَى وَسَطِ رَأْسِهِ» [حديث باب ۲۵۵] (۱)

ترجمه: مونږ ته محمدبن مثنى بيان اوكړو وئى وييل چه اووئيل مونږ ته ابوعاصم هغه دَ حنظله بن ابى سفيان نه هغوى دَ قاسم بن محمد نه اوهغوى دحضرت عائشه صديقه ﷺ نه نقل كړل هغه فرمائى چه كله به نبى كريم ﷺ دَ غسل كولو اراده كوله نودَ حلاب په شان يوڅيز (لوښى) به ئى راغوښتلو بيابه ئى په خپلو دواړو لاسونو باندې (دَ اوبو) لپى نه اخستل اودَ سر دَ ښى طرف نه به ئى شروع كوله بيا به ئى (لپه واخستو) په ګس طرف به ئى اچولو، بيا (لپه اخستوسره) دَ خپل سر (مينځنې حصه)باندې بهيولې.

تراجم رجال

محمدبن المثنى: (۲)دا مشهور محدث حافظ محمدبن المثنى بن عبيد بن قيس بن دينار عنبرى بصرى دې. دَ زَمن په لقب سره مشهوردې اصل شهرت دَ دوى په نوم اوكنيت سره دى. (۳)

شيوخ حديث: دَ دوى په شيوخ او اساتذه حديث كښې ابواسحاق ابراهيم بن أسحاق طالقانى، احمدبن سعيد دارمى، ازهر بن سعد السمان، اسحاق بن يوسف الازرق، اسماعيل بن عليه، بشر بن عمر زهرانى، حجاج بن منهال، حسين بن حسن بصرى، حفص بن غياث، ابوالنعمان عجلى، حماد بن سهل، روح بن عباده، سفيان بن عيينه، ابوعاصم ضحاك بن مخلد، عبدالله بن حمران، عبدالاعلى بن عبدالاعلى، عبدالرحمن بن مهدى، عثمان بن عثمان غطفانى، عثمان بن عمر بن فارس، عفان بن مسلم، كثير بن هشام، محمدبن جعفر غندر، محمدبن جهضم، محمدبن عبدالله انصارى، محمدبن عرعره، معاذ بن معاذ، معاذ ابن هشام مكى بن ابراهيم، وكيع بن الجراح، يحيى بن حماد شيبانى، يحيى بن سعيد القطان، يزيد بن هارون، يونس بن بكير، ابوبكر الحنفى، ابوداؤد طيالسى، ابوعامر العقدى، ابومعاويه الضرير او ابوالوليد طيالسى وغيره محدثين عظام رحمهم الله شامل دى. (۴)

---

(۱) الحديث أخرجه مسلم فى صحيحه كتاب الحيض باب صفة غسل الجنابة رقم: ۷۲۵وأبوداؤد فى سننه كتاب الطهارة باب فى الغسل من الجنابة رقم: ۲۴۰ والنسائى فى سننه كتاب الغسل والتيمم باب استبراء البشرة فى الغسل من الجنابة رقم: ۴۲۴ انظر جامع الأصول. النوع الأول فى كيفية الغسل: ۲۸۴/۷-۲۸۲ تحت رقم: ۵۳۱۹ راجع تحفة الأشراف: ۲۶۵/۱۲رقم: ۱۷۴۴۷.

(۲) دَدوى مختصر حالات كشف البارى كتاب الإيمان باب حلاوة الإيمان: ۲۵/۲ كښې تيرشوى دى.

(۳)تهذيب الكمال: ۳۵۹/۲۶رقم الترجمة: ۵۵۷۹تقريب التهذيب: ۱۲۹/۲ رقم: ۶۲۸۳ تهذيب التهذيب: ۴۲۵/۹رقم : ۶۹۶ميزان الاعتدال:۲۴/۴رقم: ۸۱۱۵ سيرأعلام النبلاء: ۱۲۳/۱۲رقم: ۴۲. إكمال ابن ماكولا: ۳۲۷/۱۰رقم: ۴۲۷۷تذكرة الحفاظ: ۵۱۲/۲رقم: ۵۲۷كتاب الثقات لابن حبان: ۱۱۱/۹الجرح والتعديل :۱۰۹/۸ رقم:۴۰۹/ ۱۳۷۱۶ الكاشف: ۲۱۴/۲رقم:۵۱۳۴تاريخ بغداد: ۵۱/۴رقم:۱۶۸۷.

(۴) اوګورئى تهذيب الكمال:۳۶۲/۲۶-۳۵۹تهذيب التهذيب: ۴۲۶/۹-۴۲۵سيرأعلام النبلاء: ۱۲۳/۱۲.

تلامذه: دَدوى تلامذه او روايت كونكوكښې اصحاب اصول سته امام بخارى، مسلم، ابوداؤد، ترمذى، نسائى، ابن ماجه، ابويعلى احمدبن على موصلى، بقي بن مخلد اندلسى، جعفر بن محمدفريابى، حسين بن اسماعيل محاملى، ابوعروبه حرانى، زكريا بن يحيى ساجى، زكريا بن يحيى السجزى، ابو زرعه، ابوحاتم، محمدبن يحيى ذيلى، ابن ابى الدنيا، ابوالحسين سمنانى، عبدالرحمن بن يوسف بن خراش، قاسم بن زكريا المطرز، محمدبن اسحاق خزيمه، محمد بن صالح النرسى، محمدبن هارون رويانى، يحيى بن محمدبن صاعد او ابوبكر بن ابى داؤد وغيره رحمهم الله شامل دى.[1]

جلالت شان اوداَئمه توثيقى اقوال: محمدبن مثنى رحمه الله اومشهور محدث بُندار هم په يو كال يعنى ۱٦۷هجرى كښې پيداشوى.[2] دَ محمد بن مثنى شمير دَ محدثينو په طبقه عاشره كښې دې.[3]
ابن معين رحمه الله فرمائيلى **ثقة**.[4]
ابوسعيد هروى رحمه الله وائى چه ما دَ امام ذهلى نه دَهغوى باره كښې تپوس اوكړو نوهغوى اوفرمائيل **حجة**.[5] علامه ذهبى رحمه الله فرمائى **ثقة ورع**.[6] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى **ثقة ثبت**.[7] ابوحاتم رحمه الله فرمائى **صالح الحديث صدوق**.[8] مسلمه بن قاسم رحمه الله فرمائى **ثقة مشهور من الحفاظ**.[9]
ابوعروبه رحمه الله وائى چه ما په بصره كښې ابوموسىٰ اويحيىٰ بن حكيم نه زيات څوك په حديث كښې اثبت (پوخ) نه دې ليدلې.[10] عبدالرحمن بن يوسف بن خراش رحمه الله فرمائى **كان من الأثبات**.[11] يعنى محمدبن مثنى دَ حديث په پخو راويانوكښې وو. ابن حبان په كتاب الثقات كښې دَ هغوى تذكره كړې ده اوفرمائيلى دى چه دې صاحب كتاب وو او دَ خپل كتاب نه په كتلوسره به ئې احاديث بيانول.[12]
ابن شاهين هم په كتاب الثقات كښې تذكره كړې ده.[13]
خطيب بغدادى رحمه الله په خپل تاريخ كښې ليكلى دى «**كان ثقة ثبتاً، احتج سائر الأئمة بحديثه**».[14] خطيب رحمه الله نور فرمائى «**كان صدوقاً ورعاً عاقلاً فاضلاً**».[1] يعنى ابوموسىٰ صدوق پرهيزګار عاقل او فاضل وو.

---

[1] تهذيب الكمال: ۳٦۲/۲٦تهذيب التهذيب: ٤۲٦/۹سير أعلام النبلاء: ۱۲٤/۱۲.
[2] كتاب الثقات لابن حبان: ۱۱۱/۹تاريخ بغداد: ٥۱/٤تهذيب الكمال: ۳٦٤/۲٦.
[3] تقريب التهذيب: ۱۲۹/۲الثقات لابن حبان: ۱۱۱/۹.
[4] الجرح والتعديل: ۱۱۰/۸تهذيب الكمال: ۳٦۲/۲٦تهذيب التهذيب: ٤۲٦/۹ميزان الاعتدال: ۲٤/٤.
[5] تهذيب التهذيب: ٤۲٦/۹سير أعلام النبلاء: ۱۲٤/۱۲تهذيب الكمال: ۳٦۲/۲٦تاريخ بغداد: ٥۲/٤.
[6] الكاشف: ۲۱٤/۲.
[7] تقريب التهذيب: ۱۲۹/۲.
[8] الجرح والتعديل: ۱۱۰/۸تهذيب الكمال: ۳٦۳/۲٦تهذيب التهذيب: ٤۲٦/۹.
[9] إكمال تهذيب الكمال لابن ماكولا: ۳۳۰/۱.
[10] تاريخ بغداد: ٥۳/٤تهذيب الكمال: ۳٦۳/۲٦تذكرة الحفاظ: ٥۱۲/۲سير أعلام النبلاء: ۱۲٤/۱۲.
[11] تاريخ بغداد: ٥۳/٤تهذيب الكمال: ۳٦٤/۲٦-۳٦۳ميزان الاعتدال: ۲٤/٤تهذيب التهذيب: ٤۲۷/۹.
[12] كتاب الثقات: ۱۱۱/۹.
[13] إكمال ابن ماكولا: ۳۳۰/۱۰تهذيب التهذيب: ٤۲۷/۹.
[14] تاريخ بغدادى: ٥۱/٤تهذيب الكمال: ۳٦٤/۲٦.

وو. عبدالرحمن سلمی رحمہ اللہ وائی چه ما دَ امام دارقطنی رحمہ اللہ نه دَ محمدبن مثنٰی باره کښې تپوس اوکړو نوهغوی اوفرمائیل «أحد المحدثين الثقات» [۲]یعنی دَ ثقه محدثینونه دې. نور فرمائی چه په بندار باندې ابوموسٰی ته تقدیم حاصل دې ځکه چه هغه زیات تجربه کار اودَ پخو اسانیدو والا دې. [۳]ابن ماکولا وغیره صاحب الزهرة نه نقل کړی دی چه امام بخاری رحمہ اللہ دَ محمدبن مثنٰی نه یوسل درې احادیث او امام مسلم رحمہ اللہ ۷۷۲ احادیث روایت کړی دی. [۴]

وفات: مشهور محدث بُندار اومحمد بن مثنٰی هم په یوکال کښې وفات شوی دی. بعض حضراتو دَ ابوموسٰی دَ وفات کال ۲۵۰او ۲۵۱ هجری نقل کړې دې. [۵]لیکن دا صحیح نه دې. ابونصر کلاباذی وائی چه محمدبن مثنٰی دَ بندار دَ انتقال نه څلورمیاشتې پس وفات شوې. [۶] علامه مزی رحمہ اللہ لیکلی دی چه محمدبن مثنٰی دَ بندار دَ انتقال نه پس لس کم سل ورځې ژوندې وو بیا وفات شو. راجح خبره داده چه محمدبن مثنٰی په بصره کښې ذی قعده ۲۵۲هجری کښې وفات شوې هم دغه قول دَ ابن حبان رحمہ اللہ ابراهیم بن محمدکندی، ابوالقاسم علامه ذهبی اوحافظ ابن حجر رحمهم الله نه نقل دې. [۷]

ابوعاصم: دا امام ابوعاصم النبیل ضحاك بن مخلد بن ضحاك بن مسلم شیبانی بصری رحمہ اللہ دې. دَدوی تفصیلی احوال کتاب العلم باب ماجاء في العلم وقوله تعالى: ﴿ وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴾ کښې تیرشوی دی. [۸]

حافظ ابن حجررحمہ اللہ اوعلامه عینی رحمہ اللہ لیکلی دی چه امام ابوعاصم دَ امام بخاری رحمہ اللہ په کبار شیوخ کښې دې او امام بخاری رحمہ اللہ په خپل صحیح کښې دَ هغوی نه په کثرت سره روایت کوی. البته حدیث باب په سندکښې یوه واسطه (دَمحمدبن مثنٰی) خپل اودَ هغه په مینځ کښې راوړلې دې. [۹]

حنظلة[۱۰]دادَ مکې مکرمې مشهور محدث حنظله بن ابی سفیان بن عبدالرحمن بن صفوان بن امیه بن خلف بن وهب بن حذافه ابن جمحی مکی قرشی رحمہ اللہ دې. [۱۱] دا دَ عمرو بن ابی سفیان او

---

[۱]) تاریخ بغدادي: ٥٢/٤تهذيب الكمال: ٣٦٤/٢٦.

[۲]) إكمال ابن ماكولا: ٣٢٩/١٠تهذيب التهذيب: ٤٢٧/٩.

[۳]) إكمال ابن ماكولا: ٣٢٩/١٠تهذيب التهذيب: ٤٢٧/٩.

[۴]) إكمال ابن ماكولا: ٣٣٠/١٠تهذيب التهذيب: ٤٢٧/٩.

[۵]) تهذيب الكمال: ٣٦٥/٢٦تهذيب التهذيب: ٤٢٧/٩.

[۶]) تهذيب الكمال: ٣٦٥/٢٦.

[۷]) كتاب الثقات: ١١١/٩تهذيب الكمال: ٣٦٥/٢٦تاريخ بغداد: ٥٣/٤سيرأعلام النبلاء: ١٢٥/١٢تذكرة الحفاظ: ٥١٢/٢الكاشف: ٢١٤/٢تهذيب التهذيب: ٤٢٧/٩الكامل لابن اثير: ١٨٨/٦.

[۸]) كشف الباري: ١٥٤/٣-١٥٢.

[۹]) فتح الباري: ٤٨٩/٢عمدة القاري: ٣٠٤/٣.

[۱۰])ددوی مختصر حالات كشف الباري، ٦٢٦/١كتاب الإيمان وقول النبي ﷺ"بني الإسلام على خمس"لاندې تير شوی دی.

[۱۱]) الطبقات الكبرىٰ لابن سعد: ٤٩٣/٥تهذيب الكمال: ٤٤٤/٧-٤٤٣رقم الترجمة: ١٥٦تهذيب التهذيب: ٦١/٣-٦٠رقم: ١١٠سيرأعلام النبلاء: ٣٣٦/٦ رقم: ١٣٩ تذكرة الحفاظ: ١٧٦/١رقم: ١٧٤التاريخ الكبير: ٤٤/٣رقم: ١٧٠الجرح والتعديل: ٢٦٠/٣رقم: ١٠٧١ميزان الاعتدال: ٦٢٠/١رقم: ٢٢٧٠الكاشف: ٣٥٨/١رقم: ١٢٧٦مقدمة الفتح: ٥٦٣/١

عبدالرحمن بن ابی سفیان رور دې.(۱) دَدوی دَ مور نوم اونسب حفصه بنت عمرو بن ابی عقرب دې.(۲)

اساتذه حدیث: حنظله بن ابی سفیان رحمه الله چه دَ کومو ائمه کبار اومحدثین عظام نه دَحدیث علم حاصل کړې دې په هغوی کښې سالم بن عبدالله بن عمر، سعید بن میناء، طاؤس بن کیسان، عبدالله بن عروة بن الزبیر، عبدالرحمن بن سابط جمحی، عبدالعزیز بن عبدالله عمری، عروة بن محمد سعدی، عطاء بن ابی رباح، عکرمه بن خالد مخزومی، عون بن عبدالله بن عتبه بن مسعود، قاسم بن محمد بن ابی بکر صدیق، مجاهدبن جَبر،، نافع مولی ابن عمر اودَ هغه دوه رونړه عبدالرحمن بن ابی سفیان او عمرو بن ابی سفیان رحمهم الله شامل دی.(۳)

تلامذه: دَهغوی نه حدیث نقل کونکوکښې اسحاق بن سلیمان رازی، جعفر بن عون عمری، حماد بن عیسٰی جهنی، حماد بن مسعدہ، سعیدبن خثیم هلالی، سفیان ثوری، ابوعاصم النبیل، عبدالله بن الحارث مخزومی، عبدالله بن داؤد واسطی، عبدالله بن مبارک، عبدالله بن نمیر، عبدالله بن وهب، عبیدالله بن موسٰی، عنبه بن عبدالواحد قرشی، مخلد بن یزید حرانی، مکی بن ابراهیم بلخی، وکیع بن الجراح، الولید بن عقبه شیبانی، الولیدبن مسلم اویحیٰی بن سعید القطان رحمهم الله شامل دی.(۴)

دَ ائمه جرح وتعدیل توثیقی کلمات: امام ابوداؤد ابوزرعه نسائی یحیی بن سعید رحمهم الله فرمائی ثقة.(۵) علامه ذهبی رحمه الله سیرأعلام النبلاء کښې فرمائی «کان من أئمة الحدیث بمکة»(۶) یعنی حنظله رحمه الله دَ مکې دَ ائمه حدیث نه وو.

دَ ابن عدی رحمه الله جرح: ابن عدی رحمه الله الکامل في الضعفاء کښې دَ دوی تذکره کړې ده اودَ ائمه نه ئې دَهغوی توثیق هم نقل کړې دې. البته دَهغوی یو روایت نقل کولوسره هغه ئې منکرکړې دې اووائی چه دَدې حدیث متن غیرمحفوظ دې. البته دائی هم ونیلی دی چه دا روایت دَ حنظله نه نقل نه دې بلکه ابوقتاده عبدالله بن واقد حرانی ته وهم شوې دې هغوی دَ ذې نسبت حنظله ته کړې دې خکه چه حنظله په عام توګه مستقیم اوصالح احادیث نقل کوی اوکله چه هغه دَیوثقه نه روایت کوی نومستقیم الحدیث وی.(۷)

دَعلامه ذهبی رحمه الله په ابن عدی باندې نقد: علامه ذهبی رحمه الله دَ ابن عدی په ضعفاء کښې تذکره کولو باندې مذمت کړې او په میزان الاعتدال کښې فرمائی «ذکره ابن عدي وإلا لما کنت أذکره» یعنی ابن

---

(۱) تهذیب الکمال: ۷/٤٤٤.

(۲) الطبقات الکبری: ۵/٤۹۳.

(۳) تهذیب الکمال: ۷/٤٤٤تهذیب التهذیب: ۳/۶۱-۶۰.

(۴) تهذیب الکمال: ۷/٤٤۵-٤٤٤سیر أعلام النبلاء: ۶/۳۳۷تهذیب التهذیب: ۳/۶۱.

(۵) تهذیب الکمال: ۳/۶۱الجرح والتعدیل: ۳/۲۶۰.

(۶) سیرأعلام النبلاء: ۶/۳۳۷.

(۷) الکامل فی الضعفاء: ۲/٤۲۱-٤۲۰رقم۵۳۷/۱۶۸.

عدي ضعفاء كښې ذكركړې دي كه چرې هغه داسې نه وې كړې نوما به هم دَهغه تذكره نه كوله ‹خكه چه هغه ثقه دى›.(١)

سيرأعلام النبلاء كښې علامه ذهبى رحمه الله په ابن عدي باندې تنقيد كولوسره ليكي چه ابن عدي په الكامل كښې دَهغوى تذكره كولوسره خپل خان په پريشانتې كښې اچولې دې. هغه دَ دوى هيڅ عيب نه دې بيان كړې په اصل كښې دَهغه دا بې خايه سختى ده.(٢)

دَ ابن عدي ذكركړې شوې حديث: ابن عدي دَ خپل شيخ احمد بن عبدالله بن سابور په سندسره حنظله بن ابى سفيان عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت نقل كړې دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمانيلى دى «اغسلو قتلاكم» دا حديث نقل كولو نه پس ابن عدي وئيلى چه مونږ داحديث دَ خپل شيخ ابن سابور نه علاوه دَ بل چانه نه دې ليكلې.(٣)

دَ حديث صحيح محمل: علامه ذهبى رحمه الله سيرأعلام النبلاء كښې دَدې روايت نقل كولونه پس ليكلى دى چه «ورواته ثقات» يعنى دَدې راويان ثقه دى ‹كه چرې متن صحيح اومنلې شى نوبيا› به دا په مقتول باندې محمول وى كوم چه دَ جنګ دَ ميدان نه علاوه اووژلې شى. دې نه علاوه علامه ذهبى رحمه الله نور ليكلى دى كيدې شي ‹دَمتن› دا غلطى دَ ابن عدي دَ شيخ يا شيخ الشيخ دَ طرف نه وى خكه چه ثقه راوى هم كله دَ وهم ښكار كيږى.(٤)

محشى سيرأعلام النبلاء په ابن عدي باندې دَ علامه ذهبى په راګيرولوباندې ليكلى دى چه مؤلف ‹علامه ذهبى› باندې دَ ‹ابن عدي› دا رانيول دَ احاديثو متون او په هغې باندې دَ نقد په حواله سره دَهغه دَ سعت اطلاع او بصيرت نافذه واضح كوى. اودَ علامه ذهبى دَ داسې راګيرولو ډيرزيات مثالونه په تراجم كښې خواره دي اوډيرزيات محدثين دَدې نه غافل دى. حالانكه ټول صحابه كرام رضي الله عنهم خاص كر حضرت عائشه رضي الله عنها متون حديث باندې به دَ نقد اهتمام كولو كه چرې هغه متن دَ حديث قرآن كريم يا حس سليم يادَهغوى دَعقلى دلائلو خلاف ومبائن وى چه اسلام اودَهغې اصول اوكليات كښې راګيرشوى وى. هغه متون احاديث دَ كوم دَ اسانيد رجال سره دَدې چه ثقه اوعادل دى په هغوى باندې دَنقد او ګرفت په حواله سره دَ امام زركشى تاليف مستدركات عائشة رضي الله عنها يوه بهترينه نمونه ده. ‹تعليقات سيرأعلام النبلاء: ٣٣٨/٢›.علامه ذهبى رحمه الله په تذكرة الحفاظ كښې دَهغوى تذكره الحافظ الثبت او الكاشف كښې من الاثبات په الفاظوسره كړې ده.(٥)

عبدالله بن احمدبن حنبل رحمه الله دَخپل پلار نه نقل كړى دى هغوى فرمائى چه كله به امام وكيع رحمه الله دَ حنظله رحمه الله حديث نقل كولو نو «حدثنا حنظلة بن أبى سفيان» نه پس به ئى فرمائيل «كان ثقة ثقة».(٦)

يحيى بن معين رحمه الله فرمائى: حنظلة بن أبى سفيان ثقة.(١) امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى: ثقة ثقة. (٢)ابن ابى مريم رحمه الله دَ ابن معين رحمه الله نه نقل كړى دى هغه فرمائى ثقة حجة.(٣) يعقوب بن شيبه رحمه الله فرمائى

---

١) ميزان الاعتدال: ٦٢٠/١ رقم: ٢٣٧٠.

٢) سيرأعلام النبلاء: ٣٣٧/٦.

٣) الكامل: ٤٢١/٢.

٤) سيرأعلام النبلاء: ٣٣٨/٦-٣٣٧

٥) تذكرة الحفاظ: ١٧٦/١ الكاشف: ٣٥٨/١.

٦) الجرح والتعديل: ٢٦٠/٣ تهذيب الكمال: ٤٤٥/٧.

كان ثقة. (۴)ابن سعد رحمه الله فرمائی کان ثقة.(۵) ابن حبان رحمه الله ثقات کښې تذکره کړې ده.(۶) حافظ ابن حجر رحمه الله هم دَهغوی توثیق کړې دې. (۷)امام ترمذی رحمه الله فرمائی ((ثقة وثقه یحی بن سعید القطان))(۸)، علامه ذهبی رحمه الله فرمائی ((لحنظلة إذا لله بإجماع))(۹) حنظله رحمه الله په اجماع سره ثقه دې.

وفات: امام احمدبن حنبل رحمه الله دَ یحیٰی بن سعید رحمه الله نه نقل کړی دی چه حنظله بن ابی سفیان رحمه الله ۱۵۱هجری پورې ژوندې وو. (۱۰)امام بخاری رحمه الله دَ یحیٰی بن سعید رحمه الله نه نقل کړی دی چه حنظله بن ابی سفیان رحمه الله ۱۵۱هجری کښې وفات شوې. (۱۱)هم دغه قول (۱۵۱هجری کښې دَ وفات) دَ ابن سعد، خلیفه بن خیاط، ابن حبان، ابن زبر، حافظ ابن حجر اوعلامه ذهبی رحمهم الله وغیره نه هم نقل دې. (۱۲)رحمه الله رحمةً واسعةً.

القاسم: دا مشهور محدث وفقیه قاسم بن محمد بن ابی بکرالصدیق عبدالله بن عثمان بن عامربن عمرو بن کعب بن سعد بن تمیم بن مره، قرشی تیمی مدنی رحمه الله دې.(۱۳)
دَ هغوی مور ام ولد وه هغې ته به سوده وئیلې شوه. (۱۴)ابومحمد دَهغوی کنیت دې ابو عبدالرحمن هم ورته وئیلې شو.(۱۵)

ولادت: علامه ذهبی رحمه الله په سیرأعلام النبلاء کښې دَ قاسم بن محمد رحمه الله ولادت دَحضرت علی رضی الله عنه په دور خلافت کښې کیدل نقل کړی دی. او په تاریخ الإسلام کښې دَحضرت عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کښې پیدا کیدل لیکلی دی. (۱۶)

---

۱) سیرأعلام النبلاء: ۳۳۷/۶الجرح والتعدیل: ۲۶۰/۳.
۲) تهذیب ا لتهذیب: ۶۱/۳تذکرة الحفاظ: ۱۷۶/۱.
۳) تذکرة الحفاظ: ۱۷۶/۱ تهذیب الکمال: ٤٤٥/۷.
٤) مقدمة الفتح: ۵۶۳/۱تهذیب التهذیب: ۶۱/۳.
۵) الطبقات: ٤۹۳/۵.
۶) تهذیب التهذیب: ۶۱/۳
۷) مقدمة الفتح : ۵۶۳/۱تعلیقات تهذیب الکمال: ٤٤۶/۷.
۸) سنن الترمذی کتاب الدعوات باب ماجاء فی رفع الأیدی عندالدعاء تحت رقم الحدیث: ۳۳۸۶.
۹) میزان الاعتدال: ۶۲۰/۱.
۱۰) تهذیب الکمال: ٤٤۷/۷.
۱۱) تهذیب التهذیب: ۶۱/۳التاریخ الکبیر: ٤٥/۳-٤٤.
۱۲) الطبقات الکبری:٤۹۳/۵حاشیة تهذیب الکمال: ٤٤۷/۷الکاشف: ۳۵۸/۱سیرأعلام النبلاء: ۳۳۸/۶.
۱۳) تاریخ الإسلام: ۳۲۸/۳-۳۲۷رقم الترجمة: ۱٤۳۲ الطبقات الکبری: ۱۸۷/۵تهذیب الکمال: ٤۲۷/۲۳ رقم: ٤۸۱۹التاریخ الکبیر:۱۵۷/۷رقم: ۷۰۵سیرأعلام النبلاء:۵۳/۵رقم: ۱۸ تهذیب التهذیب: ۳۳۳/۸رقم: ۶۰۱ تذکرة الحفاظ: ۹۶/۱رقم: ۸۸حلیة الأولیاء: ۱۸۳/۲رقم: ۱۷۲کتاب الثقات: ۳۰۲/۵الجرح والتعدیل: ۱۵۸/۷رقم: ۶۷۰ تقریب التهذیب : ۳۳/۲رقم:۵۵۰۶ الکاشف:۱۳۰/۲ رقم الترجمة: ٤٥۲۸.
۱٤) الطبقات الکبری: ۱۸۷/۵تهذیب الکمال: ٤۳۰/۲۳.
۱۵) تاریخ الإسلام:۳۲۸/۳الطبقات: ۱۹٤/۵الثقات: ۳۰۲/۵تهذیب الکمال:٤۲۷/۲۳تهذیب التهذیب: ۳۳۳/۸.
۱۶) سیرأعلام النبلاء: ٥٤/۵تاریخ الإسلام: ۳۲۸/۳.

دَ حضرت عائشه رضي الله عنها په پالنه کښې: امام بخاري رحمه الله فرمائي چه دَهغوی والد محمدبن ابی بکر دَ حضرت عثمان رضي الله عنه نه پس تقریبًا ۳۶ هجری کښې قتل کړې شو نو قاسم یتیم شو او دَحضرت عائشه رضي الله عنها په پالنه کښې راغلو. (۱)
حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه فرمائي چه ما دَ حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په اولاد کښې دَ ده په شان سوادَ قاسم نه بل څوك نه دې ليدلې. (۲)
شیوخ حدیث اوکسب علم: حضرت قاسم بن محمد رحمه الله یتیم کیدوسره دَ حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها په پالنه کښې راغلو او دَ یوې اوږدې مودې پورې دَهغې په صحبت کښې پاتې شو. دَهغې نه ئې حدیث علم په کثرت سره حاصل کړو او په دینی مسائلو کښې ئې تفقه پیدا کړه. (۳)
علامه واقدی رحمه الله په خپل سندسره دَحضرت قاسم رحمه الله نه نقل کړي دي هغوی فرمائي چه حضرت عائشه رضي الله عنها حضرت ابوبکر رضي الله عنه حضرت عمر رضي الله عنه اوحضرت عثمان رضي الله عنه دَخلافت په زمانه کښې به ئې فتویٰ ورکوله اودا سلسله دَ هغوی دَ وفات پورې روانه وه. حضرت قاسم رحمه الله وائي چه زه به دَ خپل ماشوموالي دَ حرکتونو سره دَ هغوی په صحبت کښې لازمي ناست ووم او زه به دَ علم سمندر حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوحضرت ابوهریره رضي الله عنه په مجلس کښې کیناستلم. ددوی نه علاوه به دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما په مجلس کښې هم کیناستم اودَ ابن عمر رضي الله عنهما په نیزورع، په کثرت دَعلم اودَ کومو څیزونو چه به علم نه وو دهغې په جواب کښې توقف کیدلو. (۴)هغوی رحمه الله دَ حدیث علم دَحضرت عائشه رضي الله عنها ابن عمر ابن عباس خپلې نیا اسماء بنت عمیس، ابوهریره، فاطمه بنت قیس، رافع بن خدیج، عبدالله بن خباب، عبدالله بن عمرو، معاویه رضي الله عنهم اسلم مولی عمر بن الخطاب صالح بن خوات بن جبیر، عبدالله بن جعفر بن ابی طالب، عبدالله بن زبیر، عبدالله بن عبدالله بن عمر اودَ خپل تره ځونی عبدالله بن عبدالرحمن بن ابوبکر صدیق، عبدالله بن عمرو بن العاص اوعبدبن جاریه دَ دوو ځامنونه حاصل کړې(۵) دَدوی دَخپل پلار محمد او نیکه حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه نه روایت منقطع دې. (۶)

تلامذه: دَحضرت قاسم رحمه الله نه دَ محدثینو یوکښر شمیر استفاده کړې ده. دَهغوی رحمه الله نه دَحدیث علم حاصلونکوکښې اسامه بن زید لیثی، افلح بن حمید، انس بن سیرین، ایوب سختیانی، جعفر بن محمد الصادق، حمید الطویل، حنظله بن ابی سفیان، سالم بن عبدالله بن عمر، عامر شعبی، ابوالزناد عبدالله ابن ذکوان، عبدالله بن عون، عبدالرحمن بن القاسم بن محمد، عیسیٰ بن میمون واسطی، مالك بن دینار، محمدبن مسلم شهاب زهری، محمدبن منکدر، نافع مولی ابن عمر، یحیی بن سعید انصاری، ابوبکربن محمدبن عمرو بن حزم اوابوعثمان رحمهم الله وغیره شامل دی. (۷)

---

(۱) تهذیب الکمال: ۴۳۰/۲۳ تهذیب التهذیب: ۳۳۴/۸.
(۲) سیرأعلام النبلاء: ۵۵/۵ تهذیب الکمال: ۴۳۰/۲۳.
(۳) سیرأعلام النبلاء: ۵۴/۵ تذکرة الحفاظ: ۹۷/۱ تاریخ الإسلام: ۵۵/۵.
(۴) تهذیب الکمال: ۴۳۱/۲۳-۴۳۰ سیرأعلام النبلاء: ۵۵/۵.
(۵) تهذیب الکمال: ۴۲۸/۲۳-۴۲۷ تهذیب التهذیب: ۳۳۳/۸ سیرأعلام النبلاء: ۵۴/۵ تاریخ الإسلام: ۳۲۸/۳.
(۶) سیرأعلام النبلاء: ۵۴/۵ تعلیقات الکاشف: ۱۳۰/۲.
(۷) تهذیب الکمال: ۴۳۰/۲۳-۴۲۸ تهذیب التهذیب: ۳۳۴/۸-۳۳۳ سیرأعلام النبلاء: ۵۴/۵.

دَ ائمه توثيقي كلمات او جلالت شان: حضرت قاسم بن محمد رحمه الله دَ فقهاء مدينه نه وو. امام ابونعيم اصفهاني رحمه الله حلية الأولياء كښې دَهغوى تذكره په دې الفاظوسره كړې ده: قاسم بن محمدبن ابى بكر فقيه پرهيزګار شفيق متواضع دَ صديق فرزند، دَښكلې حسب والا دَ غامض احكامو په خودلو كښې فائق اودَ ښكلې اخلاقو طرف ته سبقت كونكې وو.(١)

ابن عيينه رحمه الله فرمائي «كان من أفضل أهل زمانه» (٢)يعنى دَ خپلې زمانې دَ ټولو نه دَ غوره خلقو نه وو. ابوالزناد رحمه الله فرمائي چه ما دَ قاسم رحمه الله نه لوئي هيڅوك دَ سنت عالم نه دې ليدلې او څوك ترهغه وخته پورې لوئي سړې نه شي شميرلې تركومې چه هغه ته دَ سنت علم نه وى. (٣)يحيى بن سعيد رحمه الله فرمائي چه مونږ (په خپله زمانه كښې) په مدينه كښې څوك نه دې ليدلې چه مونږ هغه ته په قاسم رحمه الله باندې فضيلت وركړو.(٤)

محمدبن سعيد رحمه الله دَ محمدبن عمر رحمه الله نه نقل كړى دى هغوى فرمائي: «كان ثقة، وكان رفيعاً عالياً فقيهاً إماماً كثير الحديث، ورعاً» (٥)يعنى قاسم بن محمد رحمه الله ثقه، دَ اوچتې مرتبې والافقيه امام كثيرالحديث او پرهيزكار وو. ابن حبان رحمه الله اوفرمائيل چه قاسم بن محمد رحمه الله دَ لويوتابعينو اوعلم، ادب، عقل او فقه كښې دَخپلې زمانې دَ غوره او بهترينو خلقونه وو اوډيرې كمې خبرې به ئې كولې.(٦)

علامه دهبى رحمه الله په تاريخ الإسلام كښې فرمائيلى: «كان فقيهاً، إماماً، مجتهداً، ورعاً، عابداً، ثقة، حجة» (٧)اوسير أعلام النبلاء كښې فرمائي: «الإمام القدوة، الحافظ الحجة، عالم وقته بالمدينة مع سالم وعكرمة» (٨) يعنى حضرت قاسم بن محمد رحمه الله فقيه، امام، مجتهد، پرهيزګار، عبادت ګذار، ثقه، قدوه پيشوا، حافظ حجت او سالم، عكرمه سره په خپله زمانه كښې دَمدينې لوئي عالم وو.

سفيان بن عيينه رحمه الله فرمائي چه دَحضرت عائشه رضي الله عنها دَحديث دَ ټولو نه زيات علم لرونكي درې كسان دى: ①قاسم بن محمد ②عروه بن زبير او ③ عمره بنت عبدالرحمن.(٩) امام بخارى رحمه الله دَ على بن مدينې رحمه الله نه نقل كړى دى چه دَ قاسم بن محمد رحمه الله دوه سوه احاديث دى.(١٠)

دَامام بخارى رحمه الله دَ روايت عجيبه انداز: امام بخارى رحمه الله په خپل صحيح كښې دَ حضرت قاسم رحمه الله خوئي عبدالرحمن په واسطه دَ سفيان حديث نقل كولو كښې يوعجيبه انداز اختيارولوسره فرمائيلى

---

(١) حلية الأولياء: ١٨٣/٢.

(٢) التاريخ الكبير: ١٥٧/٧الجرح والتعديل: ١٥٨/٧.

(٣) حلية الأولياء: ١٨٤/٢التاريخ الكبير: ١٥٧/٧ تاريخ الإسلام: ٣٢٨/٣سير أعلام النبلاء: ٥٦/٥.

(٤) تاريخ الإسلام: ٣٢٨/٣حلية الأولياء: ١٨٤/٢تهذيب الكمال: ٤٣١/٢٣.

(٥) الطبقات الكبرى: ١٩٤/٥تذكرة الحفاظ: ٩٧/١سير أعلام النبلاء: ٥٥/٥.

(٦) كتاب الثقات لابن حبان: ٣٠٢/٥.

(٧) تاريخ الإسلام: ٣٢٨/٣.

(٨) سير أعلام النبلاء: ٥٤/٥-٥٣.

(٩) الجرح والتعديل: ١٥٩/٧تاريخ الإسلام: ٣٢٨/٣.

(١٠) تهذيب الكمال: ٤٣٠/٢٣سير أعلام النبلاء: ٥٤/٥.

دی: ((حدثنا عبدالرحمن بن القاسم وكان أفضل أهل زمانه، أنه سمع أباه وكان أفضل أهل زمانه)) [1] مونږ ته حديث بيان كړو عبدالرحمن بن قاسم اوهغه دَ خپلې زمانې دَ غوره خلقونه وو، هغوی دَ خپل پلار قاسم نه واوريده او هغه دَ خپلې زمانې دَ غوره خلقو نه وو.

دَمدينې په فقهاؤكښې شمير: ابوالزناد رحمه الله اوفرمائيل په اهل مدينه كښې اووه لونی خلق دی (يعنی فقهاء) كله چه په څه مسئله كښې اختلاف كيږی نو په هغوی كښې دَ يوقول اخستې شی په هغوی كښې يوقاسم رحمه الله دی.[2] يحيی بن قطان رحمه الله فرمائيلی چه دَ مدينې فقهاء لس دی بيا په هغوی كښې دَ قاسم رحمه الله نوم واخستو.[3] عبدالله بن وهب رحمه الله امام مالك رحمه الله دَ قاسم بن محمد رحمه الله تذكره اوكړه اووئې فرمائيل چه هغه دَ دې امت دَ فقهاؤ نه وو.[4]

دَ ابن سيرين رحمه الله دَ قاسم رحمه الله حالات معلومولو سره اقتداء كول: امام مالك رحمه الله اوفرمائيل چه كله ابن سيرين رحمه الله بيمار شو او حج له نه شو تللې نو حج له تلونكو خلقو ته به ئې وئيل چه هغوی دې دَ قاسم بن محمد رحمه الله سيرت، لباس وغيره جائزه واخلی اورادې شی. خلق به واپس راغلل اود قاسم بن محمد رحمه الله (حالات اومعمولات) به ئې بيان كړل نوابن سيرين رحمه الله به دَ قاسم بن محمد رحمه الله اقتداء كوله.[5]

خيار التابعين: احمدبن عبدالله عجلی رحمه الله فرمائی((كان من خيار التابعين وفقهائهم)) يويل ځائی كښې فرمائيلی:((مدنی، تابعی، ثقة، نزه، رجل، صالح))[6] مصعب بن عبدالله بن زبير رحمه الله فرمائی ((القاسم بن محمد من خيار التابعين))[7]

تواضع اوعلمی معاملاتوكښې حزم او احتياط: يونس بن بكير رحمه الله وائی چه مونږ ته ابن اسحاق رحمه الله بيان اوكړو چه يو باندچی قاسم بن محمد رحمه الله له راغلو او تپوس ئې اوكړو چه تاسو دَ زيات علم والا ئی كه سالم؟ قاسم بن محمد رحمه الله په جواب كښې اوفرمائيل سبحان الله په مونږ كښې به هريو دَخپل علم مطابق تاته جواب دركړی. يعنی ته چه كومه خبره معلومول غواړې دَهغې باره كښې سوال اوكړه. هغه بيا تپوس اوكړو چه په تاسو كښې اعلم څوك دی؟ هغوی په جواب كښې اووئيل سبحان الله هغه بيا سوال اوكړو نوهغوی په جواب كښې اوفرمائيل هغه يعنی سالم. څه چه څه تپوس كوی نود هغه نه اوكړه. دې وړنا كولوسره دَخپل ځائی نه پاسيدو.

ابن اسحاق رحمه الله وائی چه هغوی داخبره ناخوښه كړه چه دا اووائی چه زه دَ زيات علم والايم ځكه چه دا به هم خپل تعريف اوتزكيه وه اودائی هم ناخوښه كړه چه سالم ته اعلم اووائی ځكه چه دا غلط بيانی وه.

---

[1] كتاب الحج باب الطيب بعد رمی الجمار والحق قبل الإفاضة رقم: ۱۷۵۴.

[2] تاريخ الإسلام: ۳۲۸/۳.

[3] تاريخ الإسلام : ۳۲۸/۳.

[4] تهذيب الكمال: ۴۳۳/۲۳ تهذيب التهذيب: ۳۳۴/۸.

[5] سير أعلام النبلاء: ۵۷/۵ تهذيب الكمال:۴۳۳/۲۳.

[6] تهذيب التهذيب: ۳۳۵/۸ سير أعلام النبلاء: ۵۷/۵.

[7] تهذيب الكمال: ۴۳۳/۲۳ تهذيب التهذيب: ۳۳۵/۸.

ابن اسحاق رحمه الله وائی قاسم رحمه الله دَ سالم رحمه الله نه دَ زیات علم والا وو. (۱)ایوب رحمه الله وائی چه یحیٰی دَ قاسم رحمه الله نه څه تپوس کولوسره واوریدو په جواب کښې به قاسم رحمه الله کله لاأدري اوکله لاأعلم فرمائیل. یحیٰی چه کله نور تپوسونه کول شروع کړه نوونې فرمائیل په الله قسم، ته چه څه زمونږ نه پوښتنه کوې مونږ په هغې کښې دَ هرې خبرې علم نه لرو.(۲)

حماد بن زید دَ عبیدالله نه نقل کړی دی چه حضرت قاسم بن محمد رحمه الله به دَ قرآن پاك تفسیر نه کولو. (یعنی احتیاط به ئې کولو).(۳) ابوالزناد رحمه الله وائی چه حضرت قاسم رحمه الله صرف ظاهری څیزونو سره متعلق دَ سوال جواب ورکولو.(۴)

ابن عون رحمه الله وائی حضرت قاسم رحمه الله دَ چا دَ سوال دَ جواب باره کښې څه اوونیل اودَ هغې نه پس ئې اوفرمائیل چه دا زما رائې ده زه دا نه وایم چه هم دغه حق دی. (۵)

تقدیر سره متعلق خبرو اترو کولونه ممانعت او په قدریه باندې لعن کول: عمران بن عبدالله رحمه الله وائی چه بعض خلقو دَتقدیر باره کښې خبرې کولې حضرت قاسم رحمه الله هغوی ته اوفرمائیل چه کوم څیز الله تعالی نه دې بیان کړې تاسو دَهغې باره کښې خبرې اترې مه کوئې.(۶) ابن عمار رحمه الله وائی چه ما قاسم رحمه الله او سالم رحمه الله په قدریه باندې په لعن کولوسره اوریدلی دی.(۷)

دَ احادیثو په املاء کښې په کثرت سره احتیاط: عبدالله بن العلاء رحمه الله وائی حضرت قاسم رحمه الله نه مې عرض اوکړو چه هغوی دې یوڅو احادیث په املاء کولوسره اولیکی. نوهغوی اوونیل دَ حضرت عمر رضي الله عنه په دورکښې احادیث ډیر زیات شوی وو(یعنی خلقو به بغیردَ احتیاط نه دَ هرې خبرې نسبت دَ رسول الله ﷺ طرف ته کولو) حضرت عمر رضي الله عنه خلقو ته دَ الله تعالی واسطه ورکړه چه هغوی دې خپل لیکلې شوی احادیث هغوی له راوړی. خلقو چه به کله خپل لیکلې شوی احادیث هغوی له راوړل نوهغوی دَ دې دَ سوزلوحکم ورکړو او وئې فرمائیل چه دا دَ اهل کتابو دَ کوروالی په شان کوروالې دې. عبدالله وائی چه قاسم رحمه الله دَ هغې ورځ نه پس زه دَ احادیثو دَ لیکلو نه منع کړم. (۸)

یحیٰی بن سعید رحمه الله وائی چه حضرت قاسم رحمه الله اودَ هغوی منکرو به دَ ماسخوتن نه پس یوبل ته احادیث اورول. (۹)عبدالرحمن ابن ابی الموال وائی چه حضرت قاسم بن محمد رحمه الله به سحر دَ کورنه جمات ته تشریف راوړلو او دوه رکعته نفل کولوسره به بیا دَخلقو په مینځ کښې کیناستلو نوخلقو به دَ هغوی نه (علمی) سوالونه کول.(۱۰)

---

(۱) سیرأعلام النبلاء: ٥/٥٦حلیة الأولیاء: ٢/١٨٤.

(۲) تاریخ الإسلام: ٣/٣٢٩حلیة الأولیاء: ٢/١٨٤.

(۳) الطبقات الکبریٰ: ٥/١٨٧تاریخ الإسلام: ٣/٣٢٩.

(۴) تاریخ الإسلام: ٣/٣٢٩ الطبقات الکبریٰ: ٥/١٨٧.

(۵) الطبقات الکبریٰ: ٥/١٨٧تاریخ الإسلام: ٣/٣٢٩.

(۶) الطبقات الکبریٰ: ٥/١٨٨.

(۷) تاریخ الإسلام: ٣/٣٢٩الطبقات الکبریٰ: ٥/١٨٨.

(۸) سیرأعلام النبلاء: ٥/٥٩تاریخ الإسلام: ٣/٣٢٩.

(۹) الطبقات الکبریٰ: ٥/١٨٨.

(۱۰) الطبقات الکبریٰ: ٥/١٨٩تاریخ الإسلام: ٣/٣٢٩.

وصیت: افلح بن حمید رحمه الله وائي حضرت قاسم رحمه الله خپل وصیت لیکلووخت کښې اوفرمائیل چه داد قاسم بن محمد وصیت دې چه هغه ددې خبرې ګواهي ورکوي چه دالله تعالی نه سوا بل څوك معبود نشته دې.[1]

سلیمان بن عبدالرحمن وائي قاسم بن محمد رحمه الله (دمرګ په وخت) اوونیل: ماله زما په دې کپړو کښې کفن راکړئی په کوموکښې چه مونځ کوم یعنې قمیص لنګ او څادر. دهغوی خوئی اوونیل پلاره ته خو دوه کپړې هم نه خوښوې (یعنې چه نوې کفن واخستې شي)؟ په جواب کښې اوفرمائیل بچې، دحضرت ابوبکر رضي الله عنه هم دغه شان د دریو کپړو کفن وو اودمړی نه زیات ژوندی سړی د کپړو زیات محتاج وی".[2]خالد بن ابي بکر رحمه الله فرمائي چه قاسم بن محمد رحمه الله وصیت کړې وو چه د هغه په قبردې هیڅ تعمیر نه کوي.[3] یزید وائي چه زه د قاسم رحمه الله د انتقال په وخت موجود ووم هغه په قدیدکښې وفات شو او په مُشَلّل کښې دفن کړې شو. ددې دوارو ځایونو په مینځ کښې د دریو میلو برابر فاصله وه. دهغوی خوئی کټ په خپله اوږه باندې کیخودو او روان شو تردې چه مُشَلّل ته اورسیدو.[4]

وفات: د قاسم بن محمد رحمه الله د وفات په کال کښې اختلاف دې ډیر اقوال دي. چنانچه ضمره د رجاء بن جمیل ایلي نه نقل کړی دی چه د عمر بن عبدالعزیز د وفات نه پس د عبدالملك په دورکښې ۱۰۱هجری یا ۱۰۲هجری کښې وفات شوې.[5]دعبدالله بن عمر عمری رحمه الله ۱۰۵هجری نقل دې.[6]

خلیفه بن خیاط رحمه الله وائي چه ۱۰۶هجری اواخر یا د ۱۰۷هجری شروع کښې وفات شوې.[7]
حافظ ابن حجر رحمه الله تقریب التهذیب کښې ۱۰۶هجری قول صحیح ګرځولې دې.[8] هیثم بن عدی اویحیی بن بکیر نه ۱۰۷هجری روایت دې.[9] علامه ذهبی رحمه الله الکاشف کښې هم دغه اختیارکړې دې.[10]
واقدی، یحیی بن معین، علي بن مدیني، ابوعبید اوفلاس رحمهم الله نه ۱۰۸هجری قول روایت دې. واقدی ونیلی چه د ۷۰یا ۷۲کالو په عمر کښې وفات شوې. دغه وخت د قاسم بن محمد رحمه الله د سترګو نظر هم تلې وو.[11] (عمرالضریر رحمه الله ونیلی چه ۱۰۹هجری کښې وفات شوې.

---

[1]) الطبقات الکبری:۱۹۳/۵.
[2]) سیرأعلام النبلاء: ۶۰/۵الطبقات الکبری:۱۹۳/۵.
[3]) تاریخ الإسلام: ۳۳۰/۳سیرأعلام النبلاء: ۶۰/۵
[4]) الطبقات الکبری:۱۹٤/۵-۱۹۳.
[5]) الثقات لابن حبان: ۳۰۲/۵ التاریخ الکبیر: ۱۵۷/۷تهذیب الکمال: ٤۳۵/۲۳-٤۳٤تهذیب التهذیب: ۳۳۵/۸.
[6]) التاریخ الکبیر: ۱۵۷/۷سیرأعلام النبلاء:۵۸/۵تهذیب الکمال: ٤۳۵/۲۳تهذیب التهذیب: ۳۳۵/۸.
[7]) تاریخ الإسلام : ۳۳۰/۳سیرأعلام النبلاء:۵۸/۵ تهذیب التهذیب: ۳۳۵/۸ تذکرة الحفاظ: ۹۷/۱.
[8]) تقریب التهذیب:۲۳/۲.
[9]) سیرأعلام النبلاء: ۵۸/۵تهذیب الکمال: ٤۳۵/۲۳تاریخ الإسلام: ۳۳۰/۳.
[10]) الکاشف: ۱۳۰/۲.
[11]) تهذیب الکمال:٤۳۵/۲۳سیرأعلام النبلاء: ۵۸/۵تاریخ الإسلام: ۳۳۰/۳الطبقات لابن سعد: ۱۹٤/۵.

ابن سعد رحمه الله ۱۱۲ هجری نقل کړې دې.[۱] ابوالحسن ابن البراء د ابن مدینی نه یو قول د ۱۱۲ هجری هم نقل کړې دې.[۲] لیکن علامه ذهبی رحمه الله د ابن سعد قول شاذ ګرځولې دې.[۳] د نوح بن حبیب نه ۱۱۷ هجری قول مروی دې.[۴] دا دې هم په شاذ کیدو کښې هیڅ تامل نشته.[۵]

د قاسم بن محمد رحمه الله یوڅو قیمتی اقوال: حضرت قاسم بن محمد رحمه الله فرمائی: ① د الله تعالی د حق پیژندلو نه پس جاهل جوړیدو سره ژوند تیرول ډیر بهتردی د هغه سړی نه چه داسې خبره اوکړی د کومې چه هغه ته علم نه وی.[۶]

② د صحابه کرامو رضی الله عنهم اختلاف د امت د پاره رحمت دې.[۷]

③ د سړي خپل عزت کول دادی چه هغه دې د خپل علم د احاطه نه بهر څه خبره نه کوی.[۸]

④ بچې د هغه څیزونو باره کښې په قسم سره خبره مه کوه د کوم چه تا ته علم نه وی.[۹]

⑤ د نوی کپړو د مړی نه زیات ژوندی سړی محتاج وی.[۱۰]

عائشة رضي الله عنها: دا د حضورپاك د ټولو نه زیاته ګرانه بی بی ام المؤمنین طیبه طاهره اوصدیقه کائنات حضرت عائشه صدیقه بنت ابوبکر صدیق رضی الله عنهما ده. د دوی مختصر حالات د ژوند بدء الوحي د دریم حدیث لاندې تیر شوی دی.[۱۱]

شرح حدیث: کان اذا اغتسل من الجنابة: یعنی کله چه به حضورپاك د غسل جنابت اراده کوله اغتسل نه د غسل کولو اراده مراد ده.[۱۲] لکه د امام اسماعیلی رحمه الله په روایت «إذا أراد أن یغتسل» نه صراحت سره معلومه شوې ده.[۱۳]

دعا بشيء نحوالحلاب: یعنی حضورپاك به د حلاب په شان یوڅیز (لوښي) راغوښتلو. دعا په معنی د طلب دې. نحوالحلاب یعنی د حلاب په شان به ئې یو لوښي راغوښتلو.[۱۴]

---

[۱]) تهذیب الکمال: ۴۳۵/۲۳.
[۲]) تهذیب الکمال: ۴۳۵/۲۳ سیر أعلام النبلاء: ۵۸/۵ تهذیب التهذیب: ۳۳۵/۸.
[۳]) تهذیب الکمال: ۴۳۵/۲۳ سیر أعلام النبلاء ۵۸/۵.
[۴]) سیر أعلام النبلاء: ۵۸/۵ تاریخ الإسلام: ۳۳۰/۳.
[۵]) تهذیب الکمال: ۴۳۵/۲۳.
[۶]) الطبقات لابن سعد: ۱۸۸/۵ تهذیب الکمال: ۴۳۳/۲۳ تاریخ الإسلام: ۳۲۹/۳ سیر أعلام النبلاء: ۵۷/۵.
[۷]) الطبقات: ۱۸۹/۵ تهذیب الکمال: ۴۳۳/۲۳ تاریخ الإسلام: ۳۲۹/۳ سیر أعلام النبلاء: ۶۰/۵.
[۸]) تهذیب الکمال: ۴۳۴/۲۳ سیر أعلام النبلاء: ۵۷/۵.
[۹]) الطبقات لابن سعد: ۱۸۹/۵.
[۱۰]) تاریخ الإسلام: ۳۳۰/۳ الطبقات: ۱۹۳/۵.
[۱۱]) کشف الباري: ۲۹۵/۱-۲۹۱.
[۱۲]) فتح الباري: ۴۸۹/۲ عمدة القاري: ۳۰۴/۳ إرشاد الساري: ۴۹۶/۱.
[۱۳]) فتح الباري: ۴۸۹/۲ عمدة القاري: ۳۰۴/۳ الکنز المتواری: ۱۹۷/۳.
[۱۴]) عمدة القاري: ۳۰۴/۳ التوشیح: ۲۴۶/۱ إرشاد الساري: ۴۹۶/۱.

دَعلامه كشميرى رحمه الله تحقيق: نحوالحلاب باندې علامه كشميرى رحمه الله ليكلى دى چه دَ دويم طرق دَ روايت نه معلومه شوه چه حضورپاك بعينه په حلاب نومې لوښى كښې (هم) غسل اوكړو.[1]

په نورو طرق كښې دَ حلاب ذكر: ابوعوانه رحمه الله په خپل مسندكښې دَ ابوعاصم رحمه الله نه دَ يزيدبن سنان رحمه الله په واسطه نقل كړى دى: «**كان يغتسل من حلاب**»[2]ابن خزيمه رحمه الله په خپل صحيح كښې هم دغه الفاظ نقل كړى دى.[3]

حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله دَ كلام نه معلوميږى چه نحوالحلاب نه بلحاظ مقدار حلاب لكه چه لوښې مراد دې خكه چه ابوعوانه رحمه الله دَ ابوعاصم رحمه الله نه نقل كړى دى: «**وصفه أبوعاصم بأنه أقل من شبر فى شبر**»يعنى ابوعاصم رحمه الله دَ دې مقداردَيو لیشت اوږدوالى اويلنوالى نه كم ګرخولې دې.[4]

دَ ابن حبان رحمه الله په روايت كښې دى: «**أشار أبوعاصم بكفيه، حكاية حلق شبريه، يصف به دورة الأعلى**» يعنى ابوعاصم رحمه الله په دواړو ورغوو (تلو) سره اشاره اوكړه لكه دَ دواړو لاسونودَ ليشتونه ئى حلقه جوړه كړه دَ پورتنئى دائرې دور اوحلقه كيفيت ئى اوخودلو يعنى حلاب يا دَدې په شان لوښې به داسې وو.[5]

امام بيهقى رحمه الله سنن كبرىٰ كښې دَ حلاب دَ مقدار باره كښې نقل كړى دى: «**فإذا هو كقدر كوز يسع ثمانية أرطال**»[6]يعنى هغه لوښې (حلاب) په مثال دَ اندازې دَ كوزې وو په كوم كښې چه دَ اته رطل اوبو راتلو ګنجائش وو. دَ بيهقى رحمه الله دَ روايت نه معلومه شوه چه دَ حضوراكرم دَغسل په سلسله كښې نقل صاع مقدار هم دَ اتو رطل برابر وو، هم دغه دَ احنافو مذهب دې لكه چه دَ علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله په حواله سره ماقبل كښې تيرشوى دى.[7]

دَ غسل دَ اوبو دَ مقدار بيان: علامه عينى رحمه الله او ابن رجب حنبلى رحمه الله ليكلى دى چه دَ حديث باب په بعض طرق كښې راغلى دى: «**إنه سئل كم يكفى من غسل الجنابة؟ فحدث بهذا الحديث**»يعنى دَ حضرت قاسم رحمه الله نه تپوس اوكړې شو چه دَ جنابت دَ غسل دَپاره څومره اوبه كافى كيږى؟ هغوى په جواب كښې حديث باب بيان كړو لكه چه ابن رجب حنبلى رحمه الله فتح البارى كښې ليكلى دى اودَ علامه عينى رحمه الله په قول «**فأشار إلى القدح والحلاب**» يعنى هغوى دَ قدح او حلاب طرف ته اشاره اوكړه. بيا دې دواړو

---

[1] فيض البارى: ۴۵۶/۱.

[2] كتاب الطهارة باب صفة الأوانى التى كان يغتسل منها رسول الله صلى الله عليه وسلم من الجنابة: ۲۴۸/۱ رقم: ۸۵۳

[3] كتاب الوضوء باب استحباب بدء المغتسل بإفاضة الماء على الميا من قبل المياسر: ۱۲۲/۱رقم: ۲۴۵.

[4] مسندأبى عوانة،كتاب الطهارة باب صفة الأوانى التى كان يغتسل منها رسول الله صلى الله عليه وسلم من الجنابة: ۲۴۸/۱ رقم: ۸۵۳.

[5] رقم الحديث: ۱۱۹۷.

[6] كتاب الطهارة باب استحباب البداية فيه بالشق الأيمن: ۲۸۴/۱رقم: ۸۷۲.

[7] فتح الملهم: ۷۶/۳.

حضراتو اوفرمائیل چه دَدې نه معلومه شوه چه دلته دَ غسل دَ اوبو دَمقدار بیان دې نه چه دَ خوشبو.([1])

دَعلامه عینی رحمه الله تحقیق: علامه عینی رحمه الله نور فرمائی چه دَمعانی ذوق لرونکی حضرات پوهیږی چه دَ حلاب نه دلته امام بخاری رحمه الله صرف لوښې مراد اخستې دی نه چه څه بل څیز. شراح بغیردَ څه فائدې په دې باندې په کثرت سره کلام کړې دې حالانکه دَحدیث الفاظ زمونږ دَخبرې دلیل دی. ځکه چه په حدیث کښې نحوالحلاب الفاظ راغلی دی او نحو دلته دَ مثل په معنی کښې دی اومثل شئ دَهغې غیر وی. که چرې دلته بعینه دَ حلاب طلب کول وې نو بیا کیدې شی چه خبره دَ اشکال قابل وه. خو بعض الفاظ دعابانامثل الحلاب هم دی.([2])

په نحوالحلاب کښې تشبیه په کوم لحاظ سره ده؟: بعض حضراتو لیکلی دی چه نحوالحلاب کښې تشبیه په لحاظ دَکیفیت مافی الاناء هم کیدې شی چه څنګه دَ حلاب پیئو لشلو لوښې سره دَ حضورپاك غسل کول ثابت دی چه په هغه کښې اوبه اچول او غسل کول باوجود دَ پیئو دَ اثراتو ښکاره کیدو صحیح دې. دغه شان دَاورو اغړلو هغه لګن (لوښې) سره هم دَحضورپاك غسل کول ثابت دی په کوم کښې چه دَاورو اثرات موجود وو. چنانچه مسند احمد کښې ((باب فی حکم الماء متغیر بطاهر أجنبی عنه)) لاندې دَدې په ثبوت کښې دوه احادیث ذکر کړې شوی دې په کوم اندې چه په حاشیه کښې دَ الاحکام لاندې اولیکلې شو چه احادیث الباب نه جواز دَ طهارت دَ حکم دَداسې اوبو نه معلوم شو په کوم کښې چه یواجنبی پاك څیز ملاؤ شوې وی او په دې سره په اوبوکښې تغیر هم راغلې وی په دې شرط چه دغه بدلون معمولی وی او په دې سره اوبه دَ خپل حدود او وصف نه خارج نه شی اوهم دغه دَ مالکیه نه بغیر دَ باقی ائمه مجتهدین مذهب دې صرف مالکیه دَدې قائل نه دی چه داسې اوبه پخپله خو پاکې دی مګر مطهر (پاکونکې) نه دی.([3]) په دې توجیه سره دعا بحلاب او دعا بنحو حلاب دَدوارو غرض یوکیږی.([4])

دَ الحلاب وغیره لغوی تحقیق: دَ الحلاب لغت کښې حلب یحلب (باب نصر) نه مصدردې جمع حُلُبٌ راځی. دَ پیئو او پیئولشلو لوښی ته وائی ([5])مراد ترې نه هم لوښې دې.

علامه کرمانی رحمه الله دَ علامه جوهری رحمه الله په حواله سره لیکلی دی چه المَحْلَبُ دَ میم او لام فتحه سره یو بوټې او دوائی ده دَ کوم نه چه خوشبوئی تیاریږی او اَلحُلْبَةُ دَ حاء په ضمه سره معروف دانه ده یعنې میتهی چه دَ ترکارئی په توګه هم پخولې شی او دَ دوائی په توګه هم استعمالولې شی. (دَدې جمع حُلَب راځی)([6])

---

[1] عمدة القاری:۳/۳۰۵-۳۰٤ فتح الباری: ١/١٥٤.

[2] عمدة القاری: ۳/۳۰۵.

[3] الفتح الربانی مع بلوغ الأمانی: ١/٢١٤-٢١٣.

[4] أنوار الباری: ۹/۱۹۹-۱۸۹.

[5] لسان العرب: ۳/۲۷۸،۲۷۵القاموسالوحید کامل ص: ۳۶۶.

[6] لسان العرب: ۳/۲۸۰لغات کشوری ص: ۱۵۷فیروزاللغات ص: ۲۷٤.

اَلْحُلَّب دَ حاء په ضمه اوتشديد لام سره يوقسم بوټي دي كوم چه طبيبان عمومًا په دوائي كښې استعمالوى. ابوزيد اصمعي اووئيل چه حُلب په زمكه باندې كوړ اوږ خوړ شوي يو خيلئي ته وائي كوم چه مات كړي شي نودهغې نه دَ پيئو په شان څه څيز راوځي. سقاءُ حُلَبيّ دَدې نه دې يعني حُلبي مشكيزه كومه چه په دې بوټي باندې رنګ كړې شوى وى.(۱) ابن منظور افريقي دَ امام ابوحنيفه رحمه الله او ابوزياد نه هم دَ حُلب وضاحت نقل كړې دې.(۲)

حَبُّ الْمَحْلَب فارسى كښې پيوند مريم او هندى كښې ګميوني، كبيلا، كبلي، دانه په شان سركابلي، ډير خوشبودار (تخم ته وائي) دا تخم اكثر په خوشبياتو كښې ملاووهى اودَدې نه تيل هم جوړوى.(۳) هم دَدې نه جوړې شوې خوشبوئي ته عربى كښې دې طرف ته منسوب كولوسره اَلْمَحْلِبِيَّةُ وئيلى شي.(۴)

قوله: :فأخذ بكفيه فبدأ بشق رأسه الأيمن ثم الأيسر: بيابه حضورپاك خپل لاس (دواړه لاسونه) سره لپي دَكول اودَ سر په ښى طرف نه به ئې شروع كوله بيابه ئې په ګسه حصه باندې اچولې.

بكفه په عام نسخوكښې مفرد مروى دې خو دَ كشميهني په روايت كښې بكفيه تثنيه سره نقل شوې دې. (۵)امام مسلم رحمه الله او ابوداؤد رحمه الله هم دَ حلاب والا روايت كښې كفيه هم تثنيه نقل كړې ده. (۶)فقال بهما كښې تثنيه ضمير هم دَ كفيه تثنيه كيدو په صحت باندې دلالت كوى.(۷)

دَ رواياتو نه دَ دريمه لپه اخستلو ثبوت: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلى دى چه امام مسلم رحمه الله په حديث حلاب كښې لفظ الأيسر نه پس ثم أخذ بكفيه الفاظ زياتي نقل كړى دى دَ كوم نه چه دَحضورپاك دَ دريمې لپې اخستلو طرف ته اشاره كيږى لكه چه دَابوعوانه دَ روايت نه دَدې ضراحت كيږى.(۸)

قوله: :فقال بهما على رأسه: يعنى حضورپاك په خپلو دواړو لاسونو سره په خپل سر مبارك باندې اوبه واچولې. دَ فقال بهما مطلب دلته داذې چه حضورپاك دَ خپلو دواړو لاسونو اوبه په خپل سرباندې راواړولې يعنى وئې بهيولې. دلته دَ قول په فعل باندې اطلاق كړې شوې دې يعنى قال (قول) وئيلو سره بهيول (فعل) مراد اخستې شوې دې.(۹)

۱) شرح الكرماني:۱۲۱/۳الصحاح ص: ۲۵٤.

۲) لسان العرب:۲۸۰/۳.

۳) خزائن الأدوية: ۱۵/٤بحواله انوارالباري:۲۰٤/۹.

٤) لسان العرب: ۲۸۰/۳.

۵) فتح الباري:٤۸۹/۲عمدة القاري:۳۰۵/۳إرشادالساري: ٤۹٦/۱.

٦) صحيح مسلم كتاب الحيض باب صفة غسل الجنابة رقم الحديث: ۷۲۵سنن أبي داؤد كتاب الطهارة باب في الغسل من الجنابة رقم الحديث: ۲٤۰.

۷) عمدة القاري:۳۰۵/۳إرشادالساري:٤۹٦/۱.

۸) فتح الباري:٤۸۹/۲.

۹) عمدة القاري:۳۰۵/۳تحفة الباري:۲۲۳/۱.

په غير كلام باندې دَ قول اطلاق: علامه ابن الاثير رحمه الله ليكلي دي چه ابن منظور افريقي رحمه الله او علامه عيني رحمه الله هم نقل كړي دي چه په عربو كښې ډيره توسع ده چه هغوى دَ قول په ذريعه دَ ټولو افعالو تعبير كوى او په غير كلام باندې هم دَدې اطلاق كوى. چنانچه دَ لاس نه دَ نيولو دَپاره **قال بيده** وائى او په خپو تګ ته **قال برجله** وائى او په سترګوسره دَ اشاره كولو دَپاره **قالت له العينان** وائى لكه چه شاعر وائى: **قالت له العينان سمعاً وطاعة**

يعنى سترګو هغه ته اشاره اوكړه او لسان حال ته نى اووئيل چه ستا هره خبره به اورو او اطاعت به كوو.

په لاسونوسره اوبه بهيول او لامبلو دَپاره به وائى **قال بالماء على يده** اودَ كپړې اوچتولودَپاره به **قال بثوبه** وائى **قال** دَهغوى په ټولو معانو باندې اطلاق په توګه دَ مجاز او توسع كيږى. (۱)

دَقال په معانى كثيره كښې استعمال: غرض **قال** معانى كثيره دَپاره راځى مثلاً **قال** په معنى **أقبل، مال، استراح، ذهب، غلب، أحبّ، حكم** وغيره، علامه عيني رحمه الله فرمائى چه ما په خاص توګه اهل مصر اوليدل چه هغوى **قال** په خپلو ډيرو محاوراتوكښې استعمالوى. چنانچه په همسا سره دَ وهلودَپاره وائى **أخذ العصا وقال به** او دَ لباس اغوستلو دَپاره وائى **أخذ ثوبه وقال به عليه**. كلام عرب تتبع كونكي **قال** دَهغوى په مختلفو معانو كښې دَ استعمال نه به واقف وى. (۲)

دَ قال په نورو معانو كښې دَ استعمال ثبوت دَ الفاظ حديث نه: حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عيني رحمه الله دَ قال نورو معانو كښې استعمال دَ احاديثونه هم ثابت كړې دي. چنانچه علامه عيني رحمه الله فرمائى چه په يوحديث كښې رفع ثوب دَپاره "**قال بثوبه**" الفاظ راغلى دى. (۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله بخارى شريف كښې ائينده راتلونكي **باب المضمضة والاستنشاق فى الجنابة** كښې دَ حضرت ميمونه رضي الله عنها دَ روايت الفاظ «**قال بيده الأرض**» لاندې ليكلي دى چه دا «**من قبيل إطلاق القول على الفعل**» دې ځكه چه هم دَدې **كتاب الغسل** ا تلسم نمبر باب: **نفض اليدين من الغسل عن الجنابة** كښې هم دَ حضرت ميمونه رضي الله عنها په روايت كښې «**فقال بيده الأرض**» په ځائى «**فضرب بيده الأرض**» الفاظ مروى دى. دَ كومې نه چه معلوميږى چه دَدې قال نه ضرب فعل مراد دې. (۴) دغه شان حديث **لا حسد إلا فى اثنتين** كښې دَ قرآن كريم تلاوت كونكى باره كښې فرمائى «**لو أوتيت مثل ما أوتي هذا لفعلت مثل ما يفعل**» يعنى «لتلوت مثل ما يتلو هم دَ دې قبيل نه دې» (۵)

---

۱) النهاية: ۵۰۲/۲ لسان العرب: ۳۵۴/۱۱ عمدة القاري: ۳۰۵/۳.

۲) عمدة القاري: ۳۰۵/۳ النهاية: ۵۰۲/۲.

۳) الحديث أخرجه أحمد فى مسنده، مسند أبى هريرة رضى الله عنه: ۲۱۶/۱۵ رقم: ۹۳۶۶ وأخرج ابن ابى شيبة فى مصنفه فيما نحن بصدده عن ابن سيرين فى كتاب الصلاة [باب] أن يمسح جبهته رقم: ۴۷۵۶. عمدة القاري: ۳۰۵/۳.

۴) رقم الروايتين: ۲۵۹، ۲۷۶.

۵) والحديث أخرجه البخاري فى صحيحه إلا أنه قال: ؟ليتنى" مكان "لو" و "عملت" مكان "فعلت" والمعنى واحد كتاب فضائل القرآن باب اغتباط صاحب القرآن رقم: ۵۰۲۶ ويتكرر أيضًا برقم: ۷۲۳۲، ۷۵۲۸. فتح البارى: ۴۹۰/۲.

قوله: :على رأسه: دَ بعض حضراتو په روايت كښې لفظ وسط اضافه ده. چنانچه ابوذر، ابوالوقت، اصيلي او ابن عساكر روايت كښې «على وسط رأسه» الفاظ دى.[1]

دَ لفظ وسط تحقيق: په حاشيه بخارى شريف كښې دَ حل اللغات لاندې ليكلي شوى دى چه وَسَط (په فتح دَ سين) هغه څيزته وائى كوم چه په مينځ كښې وى او وَسْط (په سكون دَ سين) پخپله مينځ ته وائى.[2]

علامه جوهرى رحمه الله فرمائى: «جلستُ وسْطَ القوم بالتسكين، لأنه ظرف، وجلستُ في وسَط الدار بالتحريك، لأنه إسمٌ، وكل موضع صَلَحَ فيه "بَيْنَ" فهو وسْط، وإن لم يصلح فيه "بَيْنَ" فهو وسَط بالتحريك وربما سكّن وليس بالوجه»[3] په رومبى مثال كښې وسْط (په سكون دَ سين) ظرف او په دويم مثال كښې وسَط (په فتح دَ سين) اسم دې. او هرهغه ځائى چرته چه دَ "بين" راتلل صحيح وى نوهغه وسْط (په سكون) سره دې او چرته چه بين راتلل صحيح نه دى نوهغه وسَط (په فتح) دې او كله دا بغيرد څه وجې نه هم ساكن استعمالولې شى.

ابن اثير رحمه الله ليكلى دى «الوسْط بالسكون، يقال فيما كان متفرّق الأجزاء غيرَ متصل، كالنّاس، والدوابّ وغير ذلك».[4] يعنى هرهغه څيز چه غيرمتصل او متفرق الاجزا وى نودهغې دَ پاره لفظ وسْط (په سكون) استعمالولې شي لكه الناس الدواب وغيره.

علامه عينى رحمه الله دَدې ډير مثالونه وركړى دى مثلاً لفظ قلاده (هار) متفرق الاجزا دې نودَدې دَپاره ونيلى شى «انظر هذه الياقوتة وَسْط القلادة» دغه شان لفظ حلقه اوقوم هم متفرق الاجزا دى نوونيلى شى «لا تقعد وَسْط الحلقة ووَسْط القوم» اوكه چرې هغه څيز متصل الاجزا او غير متفرق وى نودهغې دَپاره وَسَط (په فتح سره) استعمالولې شى لكه الدار، الرأس وغيره، لهذا دَ رأس يعنى سرپاره كښې ونيلى شي «احتجم وَسَط رأسه» اودَ دار باره كښې وائى «قعد وَسَط الدار».[5]

وَسْط او وَسَط يوشان معنې والا دى: امام فراء رحمه الله وائى چه ما دَ يونس نه واوريده چه وَسْط او وَسَط دواړه دَ يو شان معنې دى اوبعض كوفيانو هم يوګرخولى دى. نور وائي دا دواړه په توګه دَظرف او اسم هم استعمالولې شى.[6] علامه ابن اثير رحمه الله نقل كړى دى چه دا دواړه دَ يوبل په ځائى راځى لكه چه هم دغه خبره ډيره مناسب ده.[7]

---

[1] إرشادالساري: ۴۹۶/۱ تحفة الباري: ۲۲۳/۱.
[2] ص: ۴۰ قديمى كتب خانه كراچى.
[3] النهاية: ۸۴۷/۲
[4] الصحاح للجوهرى ص: ۱۱۳۸ فتح البارى: ۴۸۹/۲.
[5] عمدة القاري: ۳۰۵/۳.
[6] عمدة القاري: ۳۰۵/۳.
[7] النهاية: ۸۴۸/۲.

په حدیث کښې وَسَط په فتح دَسین دې: اکثر شراح په زیر بحث حدیث کښې لفظ وَسَط مفتوح السین گرځولې دې. (۱)ځکه چه راس غیرمتفرق او متصل الاجزا دې. ابن ملقن رحمه الله داقول دَ ابن التین رحمه الله طرف ته منسوب کړې دې اودَې دَ مفتوح کیدو وجه ئې اسم کیدل گرځولې دی.(۲)

دَحدیث نه مستنبط شوې امور: دَحدیث باب نه دا امورمستنبط کیږی①دَغسل کونکی دَپاره مستحب دی چه هغه دې دَ اول نه دَغسل والا دَ اوبو لوښې تیار اوساتی دې دَ پاره چه دې سره غسل اوکړی.(۳)

② پاکی حاصلولو کښې دَ ښی طرف نه شروع کول مستحب دی. ابن خزیمه رحمه الله په خپل صحیح کښې «التیامن فی التطهر» په استحباب باندې دې الفاظو سره ئې ترجمه قائم کړې ده. «باب استحباب بدء المغتسل بإفاضة الماء علی المیامن قبل المیاسر» (۴)امام بیهقی رحمه الله«باب استحباب البدایة فیه بالشق الأیمن»په الفاظو سره ترجمه قائم کړې ده.(۵)

③ دَ سر ښې حصه او بیا گس طرف اوبیا دَ سر په مینځ اوبه بهیول مستحب دی.(۶)

④ دَحدیث الفاظ «کان النبی صلی الله علیه وسلم» په دې خبره باندې دلالت کوی چه حضورپاک ﷺ په دې عمل باندې همیشه والې فرمائیلې دې.(۷)

⑤ دَدې حدیث نه معلومه شوه چه حضورپاک ﷺ په سرباندې په درې لپې اوبو بهیولو باندې اکتفا اوکړه او هغه کافی کیږی.(۸) ابن حبان رحمه الله په دَې مناسبت سره «ذکر وصف الغرفات الثلاث التی وصفناه للمغتسل من الجنابة» ترجمه قائم کړې دې.(۹)

⑥ دَغسل په وخت خوشبوئی استعمالول.(۱۰)

۷-باب: اَلْمَضْمَضَةِ وَالْاِسْتِنْشَاقِ فِی الْجَنَابَةِ

په غسل جنابت کښې غرغره کول او پوزه کښې اوبه اچول

دَ ترجمه مقصد: په غسل جنابت کښې مضمضه او استنشاق باره کښې اختلاف دې. امام بخاری رحمه الله دا مسئله بیانوی. چنانچه امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه مضمضه

(۱) فتح الباری: ۴۸۹/۲ عمدة القاری: ۳۰۵/۳ إرشاد الساری: ۴۹۶/۱.
(۲) التوضیح لشرح الجامع الصحیح: ۵۶۷/۴.
(۳) عمدة القاری:۳۰۵/۳.
(۴) صحیح ابن خزیمه: ۱۲۲/۱.
(۵) السنن الکبری: ۱۸۴/۱.
(۶) عمدة القاری:۳۰۵/۳.
(۷) عمدة القاری:۳۰۵/۳.
(۸) فتح الباری:۴۸۹/۲.
(۹) صحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان: ۵۶۹/۳.
(۱۰) شرح ابن بطال: ۳۸۶/۱ الشرح المیسر للصابونی: ۳۲۹/۱.

اواستنشاق په غسل جنابت کښې واجب دی خوددَ امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نيز سنت دی.(۱)

دَ مذاهب نور تفصيل به دَ حديث لاندې راځي. (إن شاء الله تعالى).

دَ علامه ابن بطال رحمه الله رائې: علامه ابن بطال ليکلي دی چه مضمضه او استنشاق په غسل جنابت کښې سنت دی ځکه چه دا دواړه دَ اودس اجزا دی اودَ علماؤ په دې خبره باندې اجماع ده چه دَ غسل جنابت نه وړاندې اودس کول واجب نه دې اوکله چه اودس کول واجب نه دی نودَدې اجزاء او توابع يعنى مضمضه اواستنشاق به هم واجب نه وى او په حديث باب کښې حضرت ميمونه رضي الله عنها دَ حضورپاك په غسل کښې چه دَ کومې مضمضه او استنشاق نقل کړې دې هغه سنت دې. ځکه چه حضورپاك به ټولو عباداتو کښې کمال او افضل باندې عمل لازمى ګرځولو.(۲) علامه کرمانى رحمه الله هم دَ ابن ملقن رحمه الله اوعلامه ابن بطال رحمه الله رائې نقل کړې ده.(۳)

دَ حافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلى دى چه علامه ابن بطال رحمه الله وغيره دَ حديث باب نه په غسل جنابت کښې دَعدم وجوب مضمضه اواستنشاق استنباط کړې دې. ځکه چه دَدې نه پس راتلونکې «باب: مسح اليد بالتراب لتكون أنقى» کښې دَحضرت ميمونه رضي الله عنها روايت کښې دى چه حضورپاك دَ مونځ والااودس اوفرمانيلو. دې نه معلومه شوه چه په حديث باب کښې هم مضمضه او استنشاق هم داودس والا وو او په دې خبره باندې اجماع شوې ده چه په غسل جنابت کښې اودس واجب نه دې او مضمضه اواستنشاق توابع دَ اودس نه دی. کله چه اودس په غسل کښې ساقط شو نودَدې توابع هم ساقط شو او په حديث باب کښې دَ حضورپاك مضمضه اواستنشاق په فضل اوکمال باندې محمول دې.(۴)

دشاه ولى الله رحمه الله اوګنګوهى رحمه الله توجيه: شاه ولى الله رحمه الله فرمائى «يعنى إنهما مطلوبان في الشرع، إمّا على سبيل الوجوب وإمّا على وجه السنة»(۵) امام بخارى رحمه الله داخودل غوارى چه مضمضه او استنشاق په شريعت کښې مطلوب دی يا خوعلى سبيل الوجوب او يا على سبيل السنة.ګنګوهى رحمه الله فرمائى: «إنهما ثابتان بالسنة، فمن آخذ بوجوبهما ومن ذاهب إلى سنيتهما»(۶) دامام بخارى رحمه الله مقصد داخودل دی چه دا دواړه دَ سنت نه ثابت دی بعض ورته واجب وائې او بعض دَ سنتو قائل دی.

دَعلامه عينى رحمه الله وغيره توجيه: علامه عينى رحمه الله اوعلامه قسطلانى رحمه الله وغيره ليکلى دى چه دَامام بخارى رحمه الله مقصد دَدې باب نه په غسل جنابت کښې دَ مضمضه او استنشاق دَ حکم بيان کول

(۱) أوجز المسالك: ۵۰۳/۱، مختصر اختلاف العلماء: ۱۳۵/۱.
(۲) شرح ابن بطال: ۳۸۶/۱.
(۳) شرح الكرمانى: ۳/۱۲۲-۱۲۳ التوضيح: ۵۶۸/٤.
(۴) فتح البارى: ۴۹۰/۲.
(۵) شرح تراجم أبواب البخارى ص: ۱۸.
(۶) لامع الدرارى مع الكنز المتوارى: ۲۰۱/۳ الأبواب والتراجم ص: ۶۰

دی چه آیا دا واجب دی که سنت؟ (۱)دشیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله رائې هم دغه ده چه دا یومختلف فیها مسئله ده په دې وجه نی مستقل باب قائم کړې دې.(۲)

دعلامه عینی رحمه الله په حافظ ابن حجر رحمه الله وغیره باندې رد: علامه عینی رحمه الله وغیره فرمائی د حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن بطال وغیره د قول نه استدلال صحیح نه دې ځکه چه حدیث باب مستقل حدیث دې. په دې کښې د مضمضه او استنشاق صراحت دې. د راتلونکی باب حدیث سره د دې هیڅ تعلق نشته دې.

بیا حضورپاک کله هم دا دواړه نه دی ترک کړی کوم چه د مواظبت دلیل دې او په مواظبت سره وجوب ثابتیږی اود مواظبت دلیل دحضورپاک ﷺ نه ددې ترک نه نقل کیدل دی. باقی پاتې شوه خبره د اودس د سقوط نود اودس قصدی سقوط د اودس ضمنی سقوط ته مستلزم نه دې. بهرحال یوخوددې ترک نقل نه دې.

اودویم نص یعنی ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ هم ددې په وجوب باندې دلالت کوی.(۳)

د ابن بطال د اجماع ددعویٰ حیثیت: حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله وغیره لیکلی دی چه ابن بطال رحمه الله کومه د اجماع دعویٰ کړې ده او حافظ ابن حجر رحمه الله دا بغیرد څه نقد نقل کولو نه سکوت اختیارکړې دې هغه محل نظر دې ځکه چه د ابوثور او داؤد ظاهری په دې باره کښې اختلاف دې چه هغوی په غسل کښې اودس واجب ګرځولې دې. بعض حضرات وائی که چرې هغه عمل موجب د جنابت کیدو سره موجب حدث هم وی نو بیا په غسل کښې اودس کول واجب دی.(۴)

دامام احمد رحمه الله په یوروایت کښې دی چه په غسل کښې ضمنًا د اودس نیت به کافی نه وی بلکه د غسل نه وړاندې یا روستو په مستقل توګه اودس کول ضروری دی اود امام شافعی رحمه الله د دوو اقوالونه هم یوهم دغه شان دې. (۵)د داؤد ظاهری ابوثور امام احمد او امام شافعی رحمهم الله په یو روایت کښې د ابن بطال رحمه الله د نقل کړې شوې اجماع خلاف دې. په دې وجه د حافظ ابن حجر رحمه الله دا د استدلال په توګه باندې پیش کول صحیح نه دی. حالانکه حافظ صاحب رحمه الله «باب الوضوء قبل الغسل» لاندې پخپله د داؤد ظاهری او ابوثور د اختلاف د وجې نه د ابن بطال دعویٰ د اجماع مردود ګرځولې ده.(۶)

د امام بخاری رحمه الله رجحان: مضمضه او استنشاق فی الغسل د امام بخاری رحمه الله په نیز څه حیثیت دې؟ آیا هغه دې ته سنت وائی که واجب؟ د دې وضاحت کولوسره شیخ الاسلام علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله فرمائی:

---

۱) عمدة القاری: ۳۰۵/۳ ارشادالساری: ۴۹۶/۱.
۲) تقریربخاری: ۸۳/۲ سراج القاری: ۱۹۷/۲.
۳) عمدة القاری: ۳۰۶/۳ حاشیة السندی علی الصحیح: ۵۷/۱.
۴) الکنزالمتواری: ۲۰۲/۳ حاشیة التوضیح: ۵۶۸/٤.
۵) المغنی لابن قدامة: ۱۳۹/۱ الکنزالمتواری: ۲۰۲/۳.
۶) فتح الباری: ۴۷۶/۲.

دَ امام بخاري رحمه الله صرف مضمضه او استنشاق دپاره دا ترجمه قائم كول دَهغوی په دې رحجان باندې دلالت كوی چه په غسل جنابت كښې دَ مضمضه او استنشاق كوم حيثيت دې هغه په اودس كښې نه دې. دَ امام بخاري رحمه الله ددې رحجان ثبوت دَهغه دَ قائم كړې شوې تراجم نه ملاويږی. كتاب الغسل كښې دَ ټولو نه اول ئې دا ترجمه قائم كړه چه دَ غسل شروع دَ اودس نه كول پكاردی.

په دې ترجمه كښې حرم رسول ﷺ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها روايت بيان كړو چه كله به حضورپاك دَ جنابت غسل فرمائيلو نو په شروع كښې به ئې خپل دواړه لاسونه وينځل «ثم يتوضأ كما يتوضأ للصلاة» بيابه ئې اودس كولو لكه څنګه چه به ئې دَ مانځه دَ پاره اودس كولو او په اودس كښې مضمضه او استنشاق شامل كيدل ښكاره دی. اوس امام بخاري رحمه الله ددې نه پس «باب المضمضة والاستنشاق في الجنابة» خان له قائم كړو. كه چرې په غسل جنابت كښې هم دَ مضمضه اواستنشاق حيثيت دَهغوی په نيز هم هغه دې كوم چه په اودس كښې دې نودَ جدا ترجمه قائم كول ضروری نه وو. په اودس كښې ددې حيثيت دَ سنت او غسل كښې دا دواړه څيزونه واجب اومستقلاً مطلوب دی. (١)

الحديث الأول

٢٥٩ - حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، قَالَ: حَدَّثَنِي سَالِمٌ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنَا مَيْمُونَةُ قَالَتْ: «صَبَبْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُسْلًا، فَأَفْرَغَ بِيَمِينِهِ عَلَى يَسَارِهِ فَغَسَلَهُمَا، ثُمَّ غَسَلَ فَرْجَهُ، ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ الأَرْضَ فَمَسَحَهَا بِالتُّرَابِ، ثُمَّ غَسَلَهَا، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ، وَأَفَاضَ عَلَى رَأْسِهِ، ثُمَّ تَنَحَّى، فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ، ثُمَّ أُتِيَ بِمِنْدِيلٍ فَلَمْ يَنْفُضْ بِهَا» [حديث باب ر: ٢٤٦] (٢)

---

(١) فضل الباري: ٢/٤٣٤-٤٣٣.

(٢) الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی نفس الكتاب باب الوضوء قبل الغسل رقم الحديث: ٢٤٩ وفی باب الغسل مرة رقم الحديث: ٢٥٧ وفی باب الغسل بالصاع ونحوه رقم الحديث: ٢٥٣ وفی باب مسح اليد بالتراب لتكون أنقى رقم الحديث: ٢٦٠ وفی باب تفريق الوضوء والغسل بنحوه مختصراً رقم الحديث: ٢٦٥ وفی باب من توضأ فی الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد مواضع الوضوء منه مرة أخرى رقم الحديث ٢٧٤ وفی باب نفض اليدين من الغسل عن الجنابة رقم الحديث: ٢٧٦ وفی باب التستر فی الغسل عندالناس بنحوه مختصراً رقم الحديث: ٢٨١ وأخرجه مسلم فی صحيحه فی كتاب الحيض باب صفة غسل الجنابة رقم الحديث: ٧٢٢ وأبوداؤد فی سننه فی كتاب الطهارة باب فی الغسل من الجنابة رقم الحديث: ٢٤٥ والترمذی فی سننه فی كتاب الطهارة باب ماجاء فی الغسل من الجنابة بنحوه مختصراً وقال: هذا حديث حسن صحيح، رقم الحديث: ١٠٣ والنسائی فی سننه فی كتاب الطهارة باب غسل الرجلين فی غير المكان الذی يغتسل فيه رقم الحديث: ٢٥٢ وأيضاً فی كتاب الغسل والتيمم باب إزالة الجنب الأذى عنه قبل إفاضة الماء عليه بنحوه مختصراً رقم الحديث: ٤١٨ وأيضاً فی باب مسح اليد بالأرض بعد غسل الفرج رقم الحديث: ٤١٩ وأيضاً فی باب الاستتار عند الغسل رقم الحديث: ٤٠٨ وأخرجه ابن ماجه فی سننه فی كتاب الطهارة باب المنديل بعد الوضوء رقم الحديث: ٤٦٧ راجع جامع الأصول رقم: ٥٣٢١ وتحفة الأشراف: رقم: ١٨٠٦٤.

ترجمه: مونږ ته عمر بن حفص بن غياث بيان اوکړو، اوونيل مونږ ته زما پلار، مونږ ته اعمش ونيل ماته سالم بن ابى الجعد، هغه د کريب نه هغه د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړى هغه اوونيل چه مونږ ته حضرت ميمونه رضي الله عنها بيان کړو چه ما د حضور اکرم ﷺ دپاره دغسل اوبه (په پولوښي) کېښې واچولې نو حضورپاك په خپل ښى لاس سره په ګس لاس باندې اوبه واچولې او دواړه لاسونه ئى اووينځل. بيا حضورپاك خپل شرمګاه اووينځل بياخپل لاس په زمکه باندې اووهلو او دائى په خاوره باندې اومږلو بيائى (اوبوسره) اووينځلو بيائى غرغرې اوکړې بيائى پوزه کښې اوبه واچولې بيائى خپل مخ مبارك اووينځلو او په سرباندې اوبه اوبهيولې. بيا حضورپاك دهغه ځائى نه اخوا شو اوخپلې دواړه خپې ئى اووينځلې. بيا دحضورپاك په خدمت کښې رومال راوړلې شو نوحضورپاك (په دې رومال سره د خپل اودس اندامونه) اوچ نه کړل.

تراجم رجال

عمر بن حفص بن غياث:

نوم او د نسب سلسله: داعمر بن حفص بن غياث (د غين کسره سره) بن طلق ابن معاويه نخعى کوفى دې. ابوحفص د دوى کنيت دې.[1]

اساتذه حديث: هغوى دحديث روايت دخپل پلار حفص بن غياث، سُکَين بن مکير عجلى، عبدالله بن ادريس، عبدالله بن خراش حوشبى، عَثّام بن على عامرى او ابوبکر بن عياش رحمهم الله نه کوى.[2] عمر بن حفص په عام توګه د خپل پلار حفص بن غياث نه روايت نقل کوى. ائمه حديث هم د ده نه هم د ده د پلار په واسطه روايات نقل کړى دى.[3]

تلامذه: امام بخارى رحمه الله او امام مسلم رحمه الله خوبغيرد څه واسطه د هغوى نه روايت نقل کوى. خوامام ابوداؤد رحمه الله امام ترمذى رحمه الله اوامام نسائى رحمه الله په واسطه د محمدبن ابى الحسين سمنانى د عمر بن حفص نه روايت کوى.[4]

د دې نه علاوه د عمر بن حفص رحمه الله د حديث روايت نقل کونکوکښې ابوشيبه ابراهيم بن ابى بکر ابن ابى شيبه، ابراهيم بن يعقوب جوزجانى، احمد بن ابراهيم دورقى، احمدبن يوسف سُلَمى، اسماعيل بن عبدالله اصبهانى، سليمان بن عبدالجبار بغدادى، عباس بن ابى طالب، ابواسامه عبدالله بن اسامه کلبى، عبدالله بن عبدالرحمن دارمى، ابوزرعه عبيدالله بن عبدالکريم رازى، ابوحاتم محمدبن ادريس رازى، محمدبن حسين مَتينى، محمد بن ابى الحسين سمنانى، محمد بن عثمان بن کرامه، محمدبن على بن ميمون رقى، محمدبن ابى غالب قُميسى، محمدبن يحيى بن فارس

[1] الطبقات الكبرى: ٤١٣/٦التاريخ الكبير: ١٥٠/٦رقم الترجمة:١٩٤٤الجرح والتعديل:١٢٦/٦ رقم الترجمة: ٥٤٤الثقات لابن سعد: ٤٤٥/٨تهذيب الكمال:٣٠٥/٢١-٣٠٤ رقم الترجمة: ٤٢١٧سيرأعلام النبلاء: ٦٣٩/١٠رقم الترجمة: ٢٢٣تاريخ الإسلام: ١٠٦/٦ رقم الترجمة: ٦٣٤٩تهذيب التهذيب: ٤٣٥/٧رقم الترجمة:٧١٣تقريب التهذيب: ٧١٤/١رقم الترجمة: ٤٨٩٦الكاشف: ٥٦/٢ رقم: ٤٠٣٨تحرير تقريب التهذيب: ٦٩/٣رقم الترجمة٤٨٨.

[2] تهذيب الكمال: ٣٠٥/٢١تهذيب التهذيب: ٤٣٥/٧تاريخ الإسلام: ١٠٦/٦.

[3] سيرأعلام النبلاء: ٤٣٩/١٠تاريخ الإسلام: ١٠٦/٦.

[4] تهذيب التهذيب: ٤٣٥/٧ سيرأعلام النبلاء: ٦٣٩/١تاريخ الإسلام:١٠٦/٦.

ذُهلی، محمدبن یحیی بن کثیر حرانی، موسی بن سعید دندانی، هارون بن عبدالله الحمال اویعقوب بن سفیان رحمهم الله شامل دی. [1]

دَ ائمه جرح والتعدیل توثیقی اقوال: امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی "ثقة" [2] امام عجلی رحمه الله او ابوزرعه رحمه الله فرمائی "ثقة". [3] ابن شاهین په کتاب الثقات کښې نقل کړی دی چه امام احمد رحمه الله فرمائی "صدوق". [4] امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی چه زه عُمر بن حفص رحمه الله (نه دَ روایت په غرض دَ هغه کورته لاړم) لیکن ماته دَهغه نه دَ روایت موقع ملاؤنه شوه. [5] علامه ذهبی رحمه الله فرمائی "کان من العلماء الأثبات". [6]

دَ ابن حبان رحمه الله مبهم جرح: ابن حبان رحمه الله په کتاب الثقات کښې تذکره کړې ده اومبهم جرح کولو سره ئې لیکلی دی ((ربما أخطاء)) [7] حافظ ابن حجرعسقلانی رحمه الله تهذیب التهذیب [8] کښې دَ ابن حبان رحمه الله ((ربما أخطاء)) بغیردَ تبصرې نه نقل کولونه پس دَ نورو علماؤ توثیقی اقوال نقل کړی دی خو په تقریب التهذیب کښې لیکلی دی ((ثقة ربما وهم)). [9]

دَ ابن حبان رحمه الله او ابن حجررحمه الله دَ قول حقیقت: دَحافظ ابن حجر رحمه الله دا کلام ((ربما وهم)) دَ ابن حبان رحمه الله قول ((ربما أخطاء)) نه ماخوذ دې. دَ ابن حبان رحمه الله اوحافظ صاحب رحمه الله دَدې مبهم جرح هیڅ اعتبار نشته دې. دَ شیخین امام بخاری او امام مسلم رحمهم الله دَهغه نه روایت کول پخپله دَهغوی توثیقی دلیل دې. او امام ابوحاتم رحمه الله او ابوزرعه رحمه الله غوندې ائمه متشددین دَهغوی مطلقًا توثیق کړی دې لهذا هم مطلقًا توثیق معتمد اومعتبردې نه چه دَابن حبان او حافظ صاحب مبهم جرح (ګنې دَ انبیاء کرام علیهم السلام نه علاوه کوم یو نفس بشر دې چه دَ خطا او وهم نه خالی دې). [10]

وفات: ابن سعد رحمه الله لیکلی دی چه عمر بن حفص رحمه الله په کوفه کښې دَ ابواسحاق معتصم بالله دَ خلافت په زمانه کښې ربیع الاول ۲۲۲هجری کښې انتقال شوې. [11] رحمه الله رحمةً واسعةً.

دَ امام بخاری رحمه الله ابن حبان رحمه الله علامه ذهبی رحمه الله اوحافظ ابن حجررحمه الله نه هم دَ وفات کال ۲۲۲هجری نقل دې. [1]

---

[1]) تهذیب الکمال: ۲۱/۳۰۶-۳۰۵تهذیب ا لتهذیب: ۷/٤۳۵.

[2]) الجرح والتعدیل: ۶/۱۲۶سیرأعلام النبلاء: ۱۰/۶۳۹

[3]) تهذیب التهذیب: ۷/٤۳۵حاشیه تهذیب الکمال: ۲۱/۳۰۶.

[4]) تهذیب التهذیب: ۷/٤۳۵ تعلیقات تهذیب الکمال: ۲۱/۳۰۶.

[5]) تاریخ الإسلام: ۶/۱۰۶تهذیب الکمال:۲۱/۳۰۶.

[6]) سیرأعلام النبلاء: ۱۰/۶۳۹

[7]) کتاب الثقات: ۸/٤٤۵.

[8]) تهذیب التهذیب: ۷/٤۳۵.

[9]) تقریب التهذیب:۱/۷۱٤.

[10]) تعلیقات الکاشف: ۲/۵۷تحریر تقریب التهذیب: ۲/۶۹.

[11]) الطبقات الکبری: ۶/٤۱۳.

حدثنا ابي حفص بن غياث:

نوم اوډ نسب سلسله: هغوی د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله خصوصی شاګرد او د امام بخاری رحمه الله معتمدترین استاذ حفص بن غیاث بن طلق بن معاویه بن مالك بن الحارث بن ثعلبه بن عامر بن ربیعه بن عامر بن جشم بن وهیل بن سعد بن مالك بن النخع نخعی کوفی رحمه الله دی.([1]) د هغوی کنیت ابوعمر دی.([2]) حفص بن غیاث د هشام بن عبدالملك د خلافت په زمانه کښې ۱۱۷هجری کښې پیدا شوې.([4])

تحصیل علوم وشیوخ حدیث: هغوی چه د کومو محدثینو کرامو نه د حدیث علم حاصل کړې په هغوی کښې اسماعیل بن ابی خالد، اسماعیل بن سُمَیع، اشعث بن سوار، اشعث حُدانی، اشعث حُمرانی، برد بن سنان شامی، ابوبرده یزید بن عبدالله اشعری، جعفر بن محمدبن علی الصادق، حجاج بن ارطاة، خالد الحذاء، سعد بن طارق اشجعی، سفیان ثوری، سلیمان الاعمش، سلیمان ابن جریج تیمی، عاصم الاحول، ابوشیبه عبدالرحمن کوفی، عبدالعزیز بن عمر بن سعد بن کدام، عبدالعزیز بن عمر بن عبدالعزیز، عبیدالله بن عمر، ابوعمیس مسعودی، ابو عنبس نخعی، علاء بن خالد، علاء بن مسیب، مجاهدبن سعید، محمدبن ابی یحیی، موسی بن عمیر عنبری، میمون وراق، هشام بن عروه، یحیی بن سعید انصاری، مصعب بن سلیم، ابواسحاق شیبانی او ابو خالد دالانی رحمهم الله شامل دی.([5])

تلامذه: د حفص بن غیاث رحمه الله نه د حدیث روایت کونکوکښې ابراهیم بن مهدی، احمدبن ابراهیم دورقی، احمدبن حنبل، اسحاق بن راهویه، ابومعمر اسماعیل هُذلی، ابوبکر اسماعیل اُبلی، امیه بن قاسم حسن عرفه، داؤد بن رُشید، ابوخیثمه، سفیان، وکیع بن جراح، ابوسائب، سهل رازی، سهل عسکری، صدقه بن فضل مروزی، ابوسعید اشج، ابوبکر بن ابی شیبه، عفان بن مسلم، ابوالشعثاء، علی بن خشرم، علی بن مدینی، علی بن میمون، عمربن حفص بن غیاث، ابوداؤد حفری، عمران بن میسره، غنام بن حفص بن غیاث، ابونعیم فضل بن دکین، قتیبه بن سعید، محمد بن آدم، محمد بن صباح بزار، ابوکریب، محمد بن مثنی، ابویحیی ثقفی مروزی، ابوهشام رفاعی،

---

[1]) التاریخ الکبیر: ۱۵۰/۶الثقات: ۴۴۵/۸ الکاشف: ۵۷/۲تاریخ الإسلام: ۱۰۶/۶تهذیب التهذیب: ۴۳۵/۷ تقریب التهذیب: ۷۱۴/۱.

[2]) تهذیب الکمال: ۵۶/۷رقم الترجمة: ۱۴۱۵تهذیب التهذیب: ۵۱۵/۲ تاریخ بغداد: ۱۵۸/۸رقم الترجمة: ۴۳۱۲وفیات الأعیان:۱۹۷/۲رقم الترجمة: ۲۰۲ التاریخ الکبیر: ۳۷۰/۲رقم الترجمة: ۲۸۰۴الطبقات الکبری: ۳۸۹/۶الجرح والتعدیل: ۱۹۹/۳رقم الترجمة: ۸۰۴ کتاب الثقات: ۲۰۰/۶العلل الواردة فی الأحادیث النبویة للدارقطنی: ۲۸۸/۱الکامل لابن الأثیر: ۳۷۰/۵تاریخ الإسلام: ۲۲۶/۵رقم الترجمة: ۴۹۱۱تذکرة الحفاظ: ۲۹۷/۱رقم الترجمة:۲۷۹الکاشف: ۲۴۳/۱رقم الترجمة: ۱۱۶۵ سیر أعلام النبلاء: ۲۲/۹ رقم الترجمة: ۶تقریب التهذیب: ۲۲۹/۳۱ رقم الترجمة: ۱۴۳۶تحریر تقریب التهذیب: ۳۰۵/۱ رقم الترجمة:۱۴۲۳مقدمة فتح الباری:۵۶۱/۱.

[3]) کتاب الثقات: ۲۰۰/۶الطبقات الکبری: ۳۹۰/۶التاریخ الکبیر: ۳۷۰/۶.

[4]) الطبقات الکبری:۳۹۰/۶وفیات الأعیان: ۲۰۱/۲ تاریخ بغداد:۱۹۶/۸.

[5]) تهذیب الکمال: ۵۸/۷-۵۶تهذیب التهذیب: ۴۱۵/۲تاریخ بغداد: ۱۸۵/۸.

هناد بن سری، یحیی بن سعید القطان، یحیی بن معین، یحیی بن یحیی نیسابوری او یعقوب بن ابراهیم دورقی رحمهم الله شامل دی.[1]

دَ ائمه جرح اوتعدیل اقوال او دَ ژوند حالات: اسحاق بن منصور رحمه الله اواحمد بن سعد بن ابی مریم رحمه الله یحیی بن معین رحمه الله نه نقل کړی دی هغه فرمائی «حفص بن غیاث ثقة».[2]

ابومسلم صالح رحمه الله دَ خپل والد احمد بن عبدالله عجلی رحمه الله نه نقل کړی دی هغه فرمائی «حفص بن غیاث ثقة، مأمونٌ فقیهٌ» دَامام وکیع رحمه الله نه چه به کله دَ یوڅیزباره کښې تپوس کولې شو نوهغوی به فرمائیل چه لاړشئی زمونږ دَ قاضی صاحب نه معلوم کړئ. هغوی نور فرمائی «کان سخیاً أوشیئاً عفیفاً مسلماً».[3]

ابن ابی حاتم عبدالرحمن رحمه الله وائی چه ما دَخپل پلار نه دَ حفص بن غیاث رحمه الله او ابوخالد الاحمر رحمه الله باره کښې پوښتنه اوکړه نوهغوی اوفرمائیل حفص دَ خالد په نسبت احفظ اواتقن دې.[4] ابن حبان رحمه الله په کتاب الثقات کښې دَهغوی تذکره کړې ده.[5]

علی ابن مدینی رحمه الله وائی چه یحیی بن معین رحمه الله فرمائی «حفص ثبت» ما ونیل هغه ته وهم کیږی. ابن معین رحمه الله اوفرمائیل دَهغه کتاب صحیح دې. کله چه زه کوفې ته راغلم نو حزام حفص او ابن ابی زائده غوندې مې څوك اونه لیدل. دا خلق اصحاب حدیث وو. ابن مدینی رحمه الله اوونیل کله چه حفص رحمه الله خپل کتابونه رااوویستل نوهغه هم هغه شان وو لکه چه یحیی رحمه الله فرمائیلی وو او په هغې کښې اخبار او الفاظ (حدیث) وو څنګه چه یحیی فرمائیلی وو.[6]

علی ابن مدینی رحمه الله وائی چه ما یحیی بن سعید القطان رحمه الله داسې فرمائیلوسره واؤریدو: حفص بن غیاث دَ اعمش رحمه الله په شاګردانوکښې دَ ټولو نه زیات اوثق وو. ابن مدینی رحمه الله وائی چه ما دَ یحیی رحمه الله خبره اونه منله خوچه زه کله کوفې ته راغلم نوعمر بن حفص رحمه الله ماته دَخپل والد صاحب کتاب اوخودلو په کوم کښې چه دَاعمش رحمه الله روایات وو نوما یحیی بن سعید ته دَ رحمت دعا اوکړه. عمر ونیل کتاب زما دَ پلار ګوري او دعا یحیی ته کوي؟ ابن مدینی رحمه الله وائی چه ما اوونیل چه ما دَ یحیی بن سعید نه اوریدلی وو چه حفص دَ اعمش په اصحاب کښې دَ ټولو نه زیات اوثق دې. ماته دَهغې یقین هغه وخت پورې نه وو شوې ترکومې چه ما دَهغه کتاب نه وو کتلې.[7]

یحیی بن معین نه تپوس اوکړې شو چه ابن ادریس او حفص بن غیاث کښې کوم یو ډیر احفظ دې؟ نوهغه اوفرمائیل ادریس حافظ دې اوحفص بن غیاث صاحب حدیث دې هغه ته دَ حدیث پیژندګلو ده.[8]

---

[1] تهذیب الکمال: ۵۹/۷-۵۸تهذیب التهذیب: ۴۱۶/۶-۴۱۵تاریخ الإسلام: ۲۲۶/۵.

[2] تاریخ بغداد: ۱۹۳/۸الجرح والتعدیل: ۲۰۰/۳تهذیب التهذیب: ۶۰/۷.

[3] تاریخ بغداد: ۱۹۳، ۱۶۴/۸ تهذیب الکمال: ۶۰/۷تهذیب التهذیب: ۴۱۶/۲تاریخ الإسلام: ۲۲۶/۵.

[4] الجرح والتعدیل: ۲۰۰/۳تهذیب الکمال:۶۱/۷.

[5] کتاب الثقات: ۲۰۰/۶.

[6] تاریخ بغداد: ۱۹۳/۸تهذیب الکمال:۶۲/۷-۶۱.

[7] تاریخ بغداد: ۱۹۳/۸تهذیب التهذیب: ۴۱۶/۲ تهذیب الکمال: ۶۱/۷-۶۰.

[8] تاریخ بغداد: ۱۹٤/۸سیرأعلام النبلاء: ۲۳/۹.

ابن خراش رحمه الله فرمائي «هوأي: حفص أثبت من عبدالواحد بن زياد» (١) امام نسائي رحمه الله فرمائي «حفص بن غياث ثقة» (٢) علامه ذهبي رحمه الله فرمائي «الإمام الحافظ العلامة القاضي أبوعمر الحنفي الكوفي قاضي الكوفة ومحدثها» (٣) علامه عيني رحمه الله فرمائي «ثقة فقيه عفيف حافظ» (٤) خطيب بغدادي رحمه الله فرمائي «كان حفص كثير الحديث، حافظاً له، ثبتاً فيه وكان أيضاً مقدماً عند المشايخ الذين سمع منهم الحديث» (٥)
يعقوب ابن شيبه رحمه الله فرمائي «حفص ثقة ثبت إذا حدث من كتابه ويتقى بعض حفظه» (٦) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي «ثقة فقيه، تغير حفظه قليلاً في الآخر» (٧) ابن سعد رحمه الله فرمائي «كان ثقة مأموناً ثبتاً إلا أنه كان يدلس» (٨)

حافظ ابن حجر رحمه الله دَ فتح الباري په مقدمه كښې فرمائي: «حفص بن غياث من الائمه الأثبات أجمعوا على توثيقه والاحتجاج به، إلا أنه في الآخر ساء حفظه، فمن سمع من كتابه أصح ممن سمع من حفظه..... اعتمد البخاري على حفص هذا في حديث الأعمش، لأنه كان يميز بين ما صرح به الأعمش بالسماع وبين ما دلسه، نبه على ذلك أبوالفضل بن طاهر وهو كما قال». (٩)
يعنى حفص بن غياث رحمه الله دَ ائمه اثبات نه دي. دَهغوى توثيق اودَ هغوى دَ روايت نه په احتجاج باندې دَ ائمه اجماع ده . البته په آخرى عمر كښې په حافظه كښې څه فرق راغلې وو. دَهغوى دَحفظ په مقابله كښې دَ كتاب نه اوريدلې شوې روايت زيات صحيح دې. نور ئې اوفرمائيل امام بخاري رحمه الله دَ اعمش دَ حديث په سلسله كښې په حفص باندې زيات اعتماد كولو. يعنې تركومې چه دَهغه نه دَاعمش حديث ملاويدلو نودَ نورو نه به ئې روايت نه كولو. دَ ابوالفضل بن طاهر مطابق حفص به دَ اعمش تدليس كړې شوې روايات اودَ سماع دَ صراحت والا رواياتو كښې فرق ساتلو. حافظ صاحب فرمائي «وهو كما قال (أي: أبوالفضل بن طاهر) » بهرحال حفص بن غياث رحمه الله دَ ائمه جرح وتعديل دَ تصريحاتو مطابق دَ ثقات او اثبات نه دې. (١٠) اودَ ائمه جرح وتعديل دَهغوى په توثيق باندې اتفاق دې. كمامر.
دَ امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله دَ شاګردئې شرف: حفص بن غياث رحمه الله ته دَ امام صاحب رحمه الله نه شرف تلمذ حاصل دې. هغوى دَ امام اعظم رحمه الله په ممتاز كبار اصحاب اوشركاء تدوين فقه كښې وو. دَ

---

(١) تاريخ بغداد: ١٩٤/٨ تهذيب الكمال: ٦٢/٧ تاريخ الإسلام: ٢٢٦/٥.
(٢) تهذيب الكمامل: ٦٢/٧ سير أعلام النبلاء: ٢٥/٩ تهذيب التهذيب: ٤١٦/٢.
(٣) سير أعلام النبلاء: ٢٢/٩.
(٤) عمدة القاري: ٣٠٦/٣.
(٥) تاريخ بغداد: ١٩٠/٨ الجواهر المضية: ٢٢٣/١.
(٦) تاريخ بغداد: ١٩٤/٨ الكاشف: ٣٤٣/١ تهذيب الكمال: ٦٠/٧.
(٧) تقريب التهذيب: ٩٢٢/١.
(٨) الطبقات: ٣٩٠/٦.
(٩) مقدمه فتح الباري: ٥٦١/١ تحرير تقريب التهذيب: ٣٠٥/١.
(١٠) تعليقات تهذيب الكمال: ٦٩/٧.

امام ابویوسف رحمه الله سره ورته هم دَ شاګردئی سعادت حاصل دي. امام ابوحنیفه رحمه الله چه کوم شاګردان وِجه دَ سرور او دافع حزن اوغم فرمائیلي وو دَحفص بن غیاث رحمه الله شمیر هم په هغوی کښې کیدو.(۱)

دَ قضاء عهده: هغوی په کوفه کښې دیارلس کاله او بغدادکښې دَ قضاء متولی اودَ قضاء په عهده باندې پاتې دې. احمدبن کامل رحمه الله وائی چه هارون الرشید هغه په بغدادکښې دَ شرقیه قاضی مقررکړو بیا دَهغه ځائی نه معزول کولوسره ئې دَ کوفې قاضی جوړکړو.(۲) عبیدبن صباح رحمه الله وائی چه حفص بن غیاث رحمه الله ۱۷۷ هجری دَ شپیتوکالو په عمر کښې قاضی مقررشو.(۳)

حمید بن ربیع رحمه الله وائی هارون الرشید دَ قضاء عهده حواله کولودَپاره عبدالله بن ادریس حفص بن غیاث اووکیع بن الجراح دریواړه راؤغوښتل. ابن ادریس خو دربارته په رسیدو باندې دَ السلام علیکم نه پس خپل ځان داسې راګذار کړو لکه چه هغه مفلوج وی. خلیفه اووئیل دا ضعیف بوډا بوڅئی داد کار نه دې. وکیع خپله ګوته په سترګه باندې کیخودو سره اووئیل (دَ توریه په توګه دا ګوته مراد اخستلو سره) اووئیل په الله تعالی قسم امیر المؤمنین ما دَ یو کال نه په دې سره څه نه دی لیدلی. خلیفه هغه معزور ګنړلو سره واپس کړو اوحفص بن غیاث رحمه الله څه عذر اونه کړې شو او قاضی جوړکړې شو.(۴)

دَ ابوبکر بن ابی شیبه رحمه الله په روایت کښې دی چه حفص بن غیاث اوفرمائیل چه ما دَ قضاء عهده هغه وخته پورې اختیارنه کړه ترکومې پورې چه زما دَ پاره مردار خوراک حلال نه شو.(۵) یوځل ئې اوفرمائیل چه که دَ قرضونو بوج اودَبال بچ ذمه واری نه وه نو دَقضاء عهده به مې نه وه قبوله کړې.(۶)

ابراهیم بن مهدی رحمه الله وائی چه کوم وخت حفص بن غیاث دَ شرقیه بغداد قاضی وو نویوسړې چه دهغوی نه ئې دَ قضاء مسائلو پوښتنه کوله، حفص رحمه الله اوفرمائیل کیدې شی ته دَ قاضی جوړیدو خواهش مند ئې نو واؤره چه سړې دې په خپله سترګه کښې ګوته ورکړې اودې باسی دادَ هغه دپاره ددې نه بهتر ده چه هغه قاضی جوړشی.(۷)

دَ ابن ابی لیلی فیصلو سره مشابهت: هغوی دَخپل استاذ امام ابویوسف رحمه الله دَ مشورې نه بغیردَ قضاء عهده قبوله کړې وه. چه هغوی ته معلومه شوه نودا خیال ئې اوکړو چه دادَ بوج کاردَهغوی دَپاره قابل تحمل نه وی اودهغه دَ قضاء عهده قبلول هم په هغوی باندې مشکل شي. چنانچه بشر ابن الولید وائی چه امام ابویوسف رحمه الله ماته اوحسن بن زیاد ته اوفرمائیل چه دَهغه دَ فیصلو تتبع کونې. کله چه مونږ دَ هغې تفصیلات دَ امام ابویوسف رحمه الله مخې ته کیخودل نوهغوی په دې کښې نظر کولوسره اوفرمائیل داخودَ قاضی ابن ابی لیلی فیصلوسره ملاویږی بیائی اوفرمائیل دَ شروط او سجلات هم تتبع کونئی. مونږ هغه هم اوکړه نو په هغې باندې هم نظر اچولوسره اوفرمائیل حفص بن

---

(۱) مناقب الإمام أبی حنیفة للذهبی: ص:۲۸، الجواهر المضیة: ۱/۲۲۲-۲۲۱الفوائد البهیة ص: ۶۸
(۲) تاریخ بغداد: ۱۸۶، ۸/۱۸۹، تهذیب الکمال: ۵۹، ۷/۶۴ سیرأعلام النبلاء: ۹/۳۰.
(۳) تاریخ بغداد: ۸/۱۹۶تهذیب الکمال: ۷/۶۹
(۴) تاریخ بغداد: ۸/۱۸۶وفیات الأعیان: ۲/۱۹۸الجواهر المضیة: ۱/۲۲۲.
(۵) تاریخ بغداد: ۶/۱۹۸وفیات الأعیان: ۲/۲۰۰تاریخ الإسلام: ۵/۲۲۷.
(۶) تاریخ بغداد: ۸/۱۸۶وفیات الأعیان:۶/۱۹۸تهذیب الکمال: ۷/۶٤.
(۷) تاریخ بغداد: ۸/۱۸۶تاریخ الإسلام: ۵/۲۲۷سیرأعلام النبلاء:۹/۲۶۳.

غياث رحمه الله دَهغه خلقو نه دي چاته چه دَ قيام ليل په بركت سره دَ الله تعالى حفاظت او خيال ساتل حاصل دى. (١)

خطيب بغدادى رحمه الله فرمائي چه كله حفص بن غياث رحمه الله قاضي جوړكړې شو نوامام ابويوسف رحمه الله خپلو ملگروته اووئيل چه راشئ دَ حفص نوادر راجمع كړئ. بيا چه كوم وخت دَ هغه فيصلې امام ابويوسف رحمه الله ته وړاندې كړې شوې نو اصحاب ابويوسف دهغوى نه د حفص دَ نوادر باره كښې تپوس اوكړو. نوهغوى اوفرمائيل تاسوته دې خير وى حفص خودَ الله تعالى دَ توفيق لاندې روان دې. يوروايت كښې دى امام ابويوسف رحمه الله اوفرمائيل الله تعالى دَ تهجد په بركت سره حفص ته خپل توفيق وركړې دې.(٢)

دَ قضاء حق ئې اداكړو: هاشم رفاعى وائي حفص بن غياث رحمه الله يوخل په شرقيه كښې ناست وو دَ خلقو مسئلې حل كولې چه دَ خليفه پيغام راغلو نوهغوى قاصد ته اوفرمائيل چه دَدې خلقو دَ خصوماتو نه فارغ كيدو سره به دَ امير المؤمنين په خدمت كښې حاضرېږم ځكه چه زه هم دَ دوى دَ مسئلو دَ حل كولو اجرت او مزدورى اخلم اودَ هغه وخته پورې دَ خپل مجلس نه نه پاسيدو تركومې چه دَ خصوم نه فارغ كيدو سره لاړنه شو.(٣)

غنام بن حفص وائي يو خل زما پلار بيمارشو او پنځلس ورځې په بيمارئ كښې تيرې شوې اوعدالت ته لاړ نه شو، دَ مياشتې په پوره كيدو باندې وظيفه ملاؤشوه نوماته ئې سل درهم راكړه وئې فرمائيل لاړشه گورنر ته ئې وركړه. دادَ هغه پنځلسو ورځو وظيفه ده په كوم كښې چه ماته دَ مسلمانانو په مينځ كښې دَ فيصلې كولوموقع ملاؤنه شوه او په دې زما هيڅ حق نشته.(٤)

عمر بن حفص وائي چه كله زما دَ پلار آخرى وخت رانيزدې شو او په هغه بې هوشي راغله نو زه دَهغه سر ته كيناستم او په ژړا شوم. هغه په هوش كښې راغلو نو تپوس ئې اوكړو چه ولې ژاړې؟

ما وئيل چه ستاسو دَ جدائئ په خيال سره اوستاسو دَ قاضي جوړيدو په معامله سره نوهغوى اوفرمائيل مه ژاړه ځكه چه ما تول عمر دېر پاك ژوند تير كړې دې (يعنى كله ما حرام نه دى خوړلى) هيڅ كله مى دَمدعى اومدعى عليه په مينځ كښې په عدل اوانصاف كولو كښې دَ مداهنت نه كار نه دې اخستې. (٥)

وكيع بن الجراح رحمه الله اوفرمائيل چه نن اهل كوفه په خير اوعافيت كښې دى دَهغوى امير داؤد بن عيسى او قاضي حفص بن غياث اومحتسب حفص الدورقى دې. (٦)ابوجعفر مسندى رحمه الله وائي چه حفص بن غياث رحمه الله دَ عربو په سخيانو خلقو كښې وو اوهغوى به فرمائيل څوك چه زمونږ پيش كړې شوې خوراك نه كوى مونږ هغوى سره خبرې نه كوو. (٧)

(١) الجواهر المضية: ٢٢٢/١تاريخ بغداد: ١٨٩/٨.
(٢) تاريخ بغداد: ١٨٩/٨ الجواهر المضية: ٢٢٣/١سير أعلام النبلاء: ٣٠/٩.
(٣) تاريخ بغداد: ١٨٧/٨وفيات الأعيان: ١٩٨/٢.
(٤) تاريخ بغداد: ١٨٧/٨وفيات الأعيان: ١٩٨/٢تاريخ الإسلام: ٢٢٧/٥.
(٥) تاريخ بغداد: ١٨٧/٨وفيات الأعيان: ١٩٨/٢تاريخ الإسلام: ٢٢٧/٥.
(٦) تاريخ بغداد: ١٩٠/٨سير أعلام النبلاء: ٢٦/٩تهذيب الكمال: ٦٥/٧
(٧) تاريخ بغداد:١٩٠/٨ تاريخ الإسلام: ٢٢٧/٥تهذيب الكمال: ٦٥/٧

حفص بن غياث رحمه الله وائي كوم وخت چه مونږ بغداد ته راغلو نومونږ سره اصحاب حديث راغلل نوابن ادريس به هغوى ته وئيل چه تاسو شعر اوعربى لازمى اونيسئ. حفص وائى ما ابن ادريس ته اووئيل چه ته دالله تعالى نه نه ويريږې؟ دا خلق د رسول الله ﷺ د آثار او احاديثو طالبان دى اوته دوى ته د شعر اوعربى زده كولو وائى. كه بيا دې داسې اووئيل نو زه به تاسره ډير خراب مخ شم.([1])

حفص بن غياث رحمه الله په قضاء كښې د علم اوديانت هغه كردار پيش كړو چه امام ابويوسف رحمه الله غوندې قاضى القضاة په هغه باندې د اطمينان اظهاراوكړو (كما مر) او حفص د وفات نه پس په خپل خان باندې نهه سوه درهم قرضه پريخوده. ([2])هغه واقعي د قضاء حق اداكړو هم دغه وجه ده چه په هغه وخت كښې به په عام توگه دا وئيلې كيدل چه حفص آخرى قاضى وو او په هغه باندې قضاء ختمه شوې ده.(يعنى اوس د هغوى په شان د عادلانه قضا توقع پاتې نه شوه). ([3])

وفات: دهغوى د وفات د كال باره كښې درې اقوال دى. حافظ ابن حجر رحمه الله په تقريب التهذيب كښې ۱۹۴ يا ۱۹۵ هجرى نقل كړې دې.([4]) او ابن حبان رحمه الله كتاب الثقات كښې ۱۰ ذى الحجه ۱۹۵ يا ۱۹۶هجرى د وفات كال گرځولې دې. ([5])۱۹۵هجرى د ابوسائب مسلم بن جناده قول دې.([6]) او ۱۹۶ هجرى د عمرو بن علي اومحمد بن مثنى وغيره قول دې.([7])احمدبن عبدالجبار عطاردى، ابن نمير، ابوسعيد اشج، خليفه بن خياط، ابن ابى الدنيا، عبيدبن صباح، ابوبشر او ابن خلكان وغيره وئيلى دى چه حفص بن غياث رحمه الله ۱۹۴ هجرى كښې ددې دنيا نه تلې دې. ([8])ابن سعد ليكلى دى د حفص بن غياث رحمه الله انتقال ۱۰ ذى الحجه ۱۹۴هجرى باندې د محمد بن هارون په دور خلافت كښې شوې دې.([9]) ابوبشر هارون رحمه الله وائى چه دابن ادريس د انتقال په وخت حفص بن غياث رحمه الله فالج كښې راگيرشو بيا ۱۹۴هجرى پورې په كور كښې (بيمار) پاتې شو او ۱۰ يعنى ذى الحجه ۱۹۴هجرى كښې وفات شو اوامير كوفه فضل بن عباس دهغوى جنازه اوكړه.([10]) علامه مزى رحمه الله علامه ذهبى رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله ۱۹۴هجرى د وفات قول صحيح گرځولې دې.([11]) رحمه الله ورحمةً واسعةً.

---

[1]) تاريخ بغداد: ۱۶۸/۸تاريخ الإسلام:۲۲۷/۵.

[2]) وفيات الأعيان: ۲۰۰/۲ تهذيب الكمال: ۶٤/۷تهذيب التهذيب: ٤۱۷/۲سيرأعلام النبلاء: ۲۶/۹ تاريخ الإسلام: ۲۲۷/۵.

[3]) تهذيب الكمال: ۶٤/۷تاريخ الإسلام: ۲۲۷/۵تهذيب التهذيب: ٤۱۷/۲سيرأعلام النبلاء: ۲۶/۹.

[4]) تقريب التهذيب: ۲۲۹/۱.

[5]) كتاب الثقات:۲۰۰/۶.

[6]) تاريخ بغداد: ۱۹۶/۸تاريخ الإسلام: ۲۲۸/۵تهذيب الكمال: ۶۹/۷سيرأعلام النبلاء: ۳٤/۹.

[7]) تاريخ بغداد: ۱۹۶/۸وفيات الأعيان: ۲۱۰۱/۲تهذيب الكمال: ۶۹/۷.

[8])تاريخ بغداد: ۱۹۵-۱۹۶/۸تاريخ الإسلام: ۲۲۸/۵تهذيب الكمال: ۶۹/۷سيرأعلام النبلاء: ۳۳/۹ تهذيب التهذيب : ٤۱۸/۲ وفيات الأعيان: ۲۰۰/۲تذكرة الحفاظ: ۲۹۸/۱.

[9]) الطبقات الكبرى: ۳۹۰/۶.

[10]) تاريخ بغداد:۱۹۶/۸تهذيب الكمال: ۶۹/۷سيرأعلام النبلاء: ۳۳/۹.

[11]) تاريخ الإسلام: ۲۲۸/۵سيرأعلام النبلاء: ۳٤/۹تهذيب ا لكمال: ٤۱۷/۲تهذيب الكمال: ۶۹/۷.

باقی رواتِ حدیث اعمش سالم کریب ابن عباس اومیمونه رضی الله عنهم تراجم وړاندې تیر شوی دی.[۱]

شرح حدیث

قوله:: غُسْلاً: غُسْلاً په ضمه دَ غین دَغسل اوبوته وائی. [۲]دَ لفظ غسل لغوی تحقیق اودَ ائمه لغت مختلف اقوال کتاب الغسل په شروع کښې بیان کړې شوی دی.

قوله:: ثم قال بیده الأرض فمسحها بالتراب: بیا حضورپاك خپل لاس په زمکه باندې اووهلو او هغه ئې په خاوره پورې اومږلو. دَ ابن عساکر او ابوذر په روایت کښې على الأرض الفاظ دی یعنی دَ علی اضافه ده.[۳] قال بیده الأرض یا على الأرض مطلب دادې چه هغوی علیه السلام خپل لاس په زمکه باندې اووهلو "قال" دلته دَ "ضرب" په معنی کښې دې لکه چه هم دَدې کتاب ۱۸نمبرباب نفض الیدین من الغسل عن الجنابة کښې دَ حضرت میمونه رضی الله عنها هم دغه روایت دې او په دې کښې «نفض الیدین من الغسل عن الجنابة» کښې دَحضرت میمونه رضی الله عنها هم دغه روایت دې او په هغې کښې «فضرب بیده الأرض» الفاظ دی. تفصیل په سابق باب کښې تیرشوې دې.

قوله:: ثم تمضمض واستنشق: بیا حضورپاك غرغرې اوکړې او پوزه کښې اوبه واچولې. دَ ابوذر اصیلی او ابن عساکر په روایت کښې تمضمض په ځائې مضمض الفاظ دی. [۴]دَ مضمضه اواستنشاق سره متعلق بحثونه په کتاب الوضوء کښې راغلی دی. دلته صرف په غسل کښې دَدې دواړوسره متعلق دَ ائمه کرامو مذاهب او مختصراً دَ حنفیه دلیل جواب ذکر کول مقصود دی.

په غسل جنابت کښې مضمضه او استنشاق حیثیت: دَ احنافو په نیز په غسل جنابت کښې مضمضه او استنشاق یعنی خله او پوزه کښې اوبه اچول واجب دی. [۵]

دَ امام شافعی رحمه الله په نیز په اودس او غسل دواړو کښې غرغرې کول او پوزه کښې اوبه اچول سنت دی. هم دغه قول دَ حسن بصری، امام زهری، حکم بن عتبه، قتاده، ربیعه، یحیی بن سعیدانصاری، امام اوزاعی، لیث بن سعد رحمهم الله او په یو روایت کښې دَعطاء رحمه الله نه هم نقل دې [۶]، دَ امام مالك رحمه الله هم دغه مذهب دې.[۱]

---

[۱]) دَ اعمش رحمه الله دَپاره اوګورئی: کشف الباری: ۲۵۱/۲دَ سالم احوال صحیح البخاری کتاب الوضوء باب التسمیة على کل حال وعند الوقاع لاندې اوګورئی. دَ کریب رحمه الله حالات کتاب الوضوء باب التخفیف فی الوضوء په ذیل کښې اوګورئی. دَ ابن عباس رضی الله عنه حالاتودَپاره کشف الباری: ۴۳۵/۱ ۲۰۵/۲ اودَ حضرت میمونه رضی الله عنها دَ حالاتو دَپاره کشف الباری: ۴۲۰/۴.

[۲]) شرح الکرمانی: ۱۲۲/۳ التوضیح: ۵۶۹/۴ فتح الباری: ۴۹۰/۲عمدة القاری: ۳۰۶/۳إرشاد الساری: ۴۹۷/۱الکوثر الجاری: ۴۱۶/۱التوشیح: ۴۴۶/۱تحفة الباری: ۲۲۳/۱.

[۳]) إرشادالساری: ۴۹۷/۱تحفة الباری: ۲۲۳/۱.

[۴]) إرشاد الساری: ۴۹۷/۱تحفة الباری: ۲۲۴/۱-۲۲۳.

[۵]) البحرالرائق: ۸۷/۱-۸۶الهدایه: ۴۲/۱-۴۱البنایة: ۳۱۶/۱، ۳۱۱بدائع الصنائع: ۲۶۷/۱تبیین الحقائق مع حاشیة الشبلی: ۶۰/۱-۵۹.

[۶]) المجموع شرح المهذب: ۳۶۳/۱-۳۶۲، ۱۹۷/۲شرح النووی: ۱۰۲/۳البنایة: ۳۱۱/۱السعایة: ۲۷۵/۱.

دَ امام احمد رحمه الله يو روايت دَ امام شافعي رحمه الله په شان دې يعنې په اودس اوغسل دواړو كښې سنت دي خو دَ مشهور روايت مطابق مضمضه اواستنشاق په اودس اوغسل دواړو كښې واجب دي. هم دغه دَ ابن ابي ليلى حماد او امام اسحاق رحمهم الله مذهب دې. يو روايت دَ عطاء رحمه الله او ابن شهاب زهري رحمه الله نه هم دغه شان نقل دې. دَ امام احمد رحمه الله نه په يو دريم روايت كښې دانقل دى چه استنشاق په اودس او غسل دواړو كښې واجب دې نه چه مضمضه. دَ ابوثور، ابوعبيد، داؤدظاهري او ابن منذر رحمهم الله هم دغه مذهب دې.([2])

دَ بدن دَاندامونوقسمونه: دَ احنافو په استدلال باندې دَ پوهيدلودَپاره داخبره په ذهن كښې اوساتئ چه دَ بدن دَاندامونو درې قسمونه دى: ① هغه اعضاء كوم چه من كل الوجوه دَ بدن داخل حصه دى. ② هغه اعضاء كوم چه من كل الوجوه دَ بدن خارج حصه دى. ③ بعض اعضاء هغه دى چه من وجه دَ بدن داخل حصه او من وجه ظاهر دَ بدن حصه دى. لكه پوزه او خله. لهذا دَ قسم اول نه په غسل كښې وينځل ضروري دى او نه په اودس كښې. دَ دويم قسم نه اعضاء ثلاثه په اودس كښې وينځل اودَ سر مسح كول ضروري دى او په غسل كښې دَ ټولو وينځل ضروري دى. دَ دريم قسم دوه حيثيتونه دى نودهريو په اعتبارسره احناف وائي چه په غسل كښې دَدې وينځل ضروري دى نه چه په اودس كښې.([3])

دَ احنافو مستدل: دَغسل باره كښې دَ احنافو يو استدلال خو دَ قرآن مجيد آيت ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ ([4])(يعنې كه تاسو په حالت دَ جنابت كښې ئى نو ښه په مبالغه سره پاكى حاصله كړئى) نه دې. چنانچه ملك العلماء علامه كاساني رحمه الله فرمائي چه په اودس كښې دَ قرآني نص په رڼاكښې دَ مخ دَ وينځلو حكم وركړې شوې دې. دَ كوم نه مراد چه ظاهري مخ دې. لهذا دَ خلې او پوزې دننه حصه په دې كښې داخل نه ده په خلاف دَ جنابت چه په دې كښې دَ قرآني نص په رڼا كښې ښه په مبالغه سره دَ بدن پاكولو حكم وركړې شوې دې اودَ بدن اطلاق په ظاهري اوباطني دواړو حصو باندې كيږي. لهذا تركومې پورې چه ممكن وى دَ بدن ظاهري اوباطني حصې وينځل ضروري دى. هم دغه وجه ده چه مضمضه او استنشاق په غسل جنابت كښې واجب دى. ځكه چه دَ خلې او پوزې دننه حصې ته بغيرد څه حرج نه اوبه رسول ممكن دى. ([5])

دَ مراتب تعيين: حضرت مولانا انورشاه كشميري رحمه الله فرمائي چه دَمضمضه اواستنشاق ثبوت خو دَحضورپاك په غسل كښې بلاريب دې البته دَمراتب تعيين دَ باب اجتهاد نه دې. زمونږ يعنې دَ احنافو په نظركښې دواړه په غسل كښې واجب دى ځكه چه شارع عليه السلام په نسبت دَ وړې پليتئ دَ جنابت باره كښې زيات تاكيد فرمائيلې دې. جنبي ئى دَ قرآن دَ قراءت نه منع كړو بې اودسه ئى نه دې منع كړې، جنبي ئى دَ دخول اوقيام دَ جمات نه منع كړو بې اودس ئى نه دې منع كړې. دَدې نه معلومه شوه چه په نسبت دَ وړې پليتئ دَ جنابت رسيدل باطني بدن ته زيات دى لهذا مونږ مضمضه

---

[1]) حاشية الدسوقي: ۲۲٤/۱الاستذكار: ۱٦۲/۱-۱٦۱المنتقىٰ: ۱/۳۹۷.

[2]) المغنيٰ لابن قدامة: ۸۳/۱الإنصاف للمرداوي: ۱۵۲/۱البناية: ۳۱۱/۱السعاية: ۲۷۵/۱.

[3]) السعاية: ۲۷۷/۱.

[4]) سورت المائدة: ٦

[5]) بدايع الصنائع: ۲٦۷/۱.

اواستنشاق په غسل كښې فرض واجب اوګرځول. البته دَ فرض نه فرض ظني مراد دي او دَ خبر واحد نه ثابتيږي. فرض قطعي دَ قرآن نه ثابتيږي.(١)

دَ حديث پاك نه استدلال: دَ ابوداؤد ترمذي او ابن ماجه په روايت كښې دي چه حضورپاك فرمائي: «إن تحت كل شعرة جنابة، فاغسلوا الشعر وانقوا البشرة»(٢) يعني بيشكه دَ هر ويښته نه لاندې جنابت وي نو تاسو ويښته وينځئ او څرمن پاكوئ.

علامه عيني رحمه الله فرمائي چه دَ حنفيه استدلال «تحت كل شعر جنابة» نه دې په پوزه كښې چونكه ويښته وي لهذا دَ هغې وينځل ضروري دي او خله په ظاهري بدن كښې داخل ده لهذا دَ خطابي اعتراض په ځائې نه دې چه دَ بشره نه دَ حنفيه استدلال صحيح نه دې.(٣)

علامه عبدالحئ لكهنوي رحمه الله فرمائي چه كله په دې حديث سره دَ استنشاق وجوب ثابت شو نو دَ مضمضه وجوب به هم ثابت شي ځكه چه په حنفيه او شوافع كښې څوك هم دَدې په مينځ كښې دَ فصل قائل نه دې.(٤)

دَ فريق مخالف دَ دليل خلاصه: باقي پاتې شوه خبره دَ قائلين عدم وجوب دَ قول نو دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها په روايت كښې «عشر من الفطرة»(٥) كښې استنشاق اومضمضه هم شمير كړې شوې ده. او دَ عمار بن ياسر رضي الله عنه په روايت كښې دي «من الفطرة المضمضة والاستنشاق والسواك»(٦) او دَ فطرت نه مراد سنت دي لكه څنګه چه علامه خطابي رحمه الله دَ اكثرو علماؤ نه نقل كړې دي اوعلامه نووي رحمه الله دَدې تصويب كړې دې. لهذا مضمضه اواستنشاق كول هم سنت دي نه چه واجب.(٧)

دَ صاحب دَ هدايه جواب: يوجواب خودادې لكه چه صاحب دَهدايه وئيلي دا روايت دَ حدث اصغر په حالت باندې محمول دې. دَهغه احاديثو په رڼا كښې كوم چه دَ مضمضه اواستنشاق په غسل جنابت كښې وجوب بيان كړې شوې دي.(٨)

دَ صاحب دَ فتح القدير جواب: دويم جواب دادې چه مونږ دا نه منو چه دَ فطرت نه مراد سنت دې ځكه چه دَفطرت ډيرې معنې راځي. دين اسلام ته هم فطرت وئيلې شوې دې لكه دَ بخاري شريف

---

(١) فيض الباري: ٤٥٦/١.

(٢) الحديث أخرجه أبوداؤد في سننه، كتاب الطهارة باب في الغسل من الجنابة رقم: ٢٤٨ وابن ماجه في سننه كتاب الطهارة باب تحت كل شعرة جنابة رقم: ٥٩٧.

(٣) البناية شرح الهداية: ٣١٥/١.

(٤) السعاية: ٢٧٧/١.

(٥) الحديث أخرجه مسلم في صحيحه، كتاب الطهارة، باب خصال الفطرة رقم: ٦٠٤ وأبوداؤد في سننه كتاب الطهارة، باب السواك من الفطرة رقم: ٥٣ والترمذي في سننه، أبواب الأدب، باب ماجاء في تقليم الأظفار رقم: ٢٧٥٧ وابن ماجه في سننه أبواب الطهارة باب الفطرة رقم: ٢٩٣.

(٦) الحديث أخرجه أبوداؤد في سننه كتاب الطهارة باب السواك من الفطرة رقم: ٥٤ وابن ماجه في سننه أبواب الطهارة باب الفطرة رقم الحديث: ٢٩٤.

(٧) السعاية: ٢٧٦/١.

(٨) الهداية كتاب الطهارات فصل في الغسل: ٤٤/١.

روايت «كل مولود يولد على الفطرة» (١) كښې دى. دغه شان اختراع ابداع او سنت ته هم فطرت وئيلې شي پس په حديث كښې دَ سنت نه دين مراد دې لهذا په دې سره به دَ وجوب استنشاق اومضمضه نفي نه كيږي، ځكه چه دين اعم دې واجب او سنت دواړو ته شامل دې دادَ صاحب فتح القدير جواب دې. (٢)

دَسنت نه اصطلاحي سنت مرادنه دې: علامه عبدالحئ لكهنوى رحمه الله فرمائي كه چرې مونږ دَعلامه خطابي او نووى خبره اومنو اوفطرت دَ سنت په معنى كښې واخلو نوبياهم زمونږ په استدلال باندې په دې سره څه فرق نه پريوځي. ځكه چه دَدې نه اصطلاحي سنت مراد نه دې لكه څنګه چه امام شافعي رحمه الله اراده كړې ده.بلكه دَدې نه دَانبياء عليهم السلام سنت اودَهغوى طريقه مسلوكه مراد ده. (٣)

دَ رواياتونه تائيد: دَدې تائيد دَحكيم ترمذى دَ نوادرالأصول روايت اودَ بزار دَ مرفوع روايت نه كيږي چه «خمس من سنن المرسلين الحياء والحلم والحجامة والسواك والتعطر» (٤) يعنى پنځه څيزونه دَ مرسلين دَ سنت نه دى: حياء، حلم، حجامه، مسواك او خوشبوئى لګول.

دَترمذى په روايت كښې دى «أربع من سنن المرسلين الحياء، والتعطر، والسواك والنكاح» (٥) يعنى څلور څيزونه دَ رسولانودَ سنتو نه دى. حياء، خوشبوئى لګول، مسواك او نكاح.

الزامي جواب: دغه شان دَامام شافعي رحمه الله په نيز ختان او استنجاء بالماء فرض دى. اودَدې په استدلال كښې پيش كړې شوى رواياتوكښې هغه څيزونه هم شميركړې شوى دى. كوم جواب چه دَدې دواړو دَ فرض كيدو باره كښې وى هم هغه جواب زمونږ هم مضمضه او استنشاق واجب كيدو باره كښې وى. (٦)

قوله: ثم تنحي فغسل قدميه: بيا حضورپاك دَهغه ځائي نه اخوا شواوخپلې دواړه خپې اووينځلې. دَ تنحئ مطلب شراح دا بيان كړې دې چه بيا دَ حضورپاك دَ غسل والا دَ ځائي نه اخواكيدلو سره بل ځائي ته شو. (٧) علامه كرمانى رحمه الله ليكلى دى چه خپې وينځل روستوكول دَ جواز دَ بيان دَ پاره وو. (٨)

---

(١) كتاب الجنائز باب إذا أسلم الصبى فمات هل يصلى عليه؟ وهل يعرض على الصبى الإسلام؟ رقم:١٣٥٨ويتكرر أيضاً رقم: ١٣٥٩، ١٣٨٥، ٤٧٧٥، ٦٥٩٩.

(٢) السعاية: ١٧٦/١فتح القدير: ٥١/١.

(٣) السعاية: ٢٧٦/١.

(٤) الأصل الخامس والستون والمائة فى سنن المرسلين: ١٥٤/٢الأحاد والمثانى: ٢٧٣ جدمليح بن عبدالله الأنصارى رقم الحديث: ٢٢٠٨ (٢٢٣/٤) كشف الأستار كتاب الصلوة باب السواك: ٢٤٤/١رقم:٥٠٠.

(٥) أطراف مسند الإمام أحمد بن حنبل مسند أبى أيوب الأنصارى: ٥٩/٦رقم: ٧٧٣٨وأخرجه الترمذى فى سننه أبواب النكاح باب ماجاء فى فضل التزويج والحث عليه رقم: ١٠٨٠ مسندالشاميين مسند مكحول الشامى مكحول عن ابن خباب: ٣٧٤/٤رقم: ٣٥٩٠.

(٦) البناية: ٣١٧/١السعاية: ٢٧٤/١چونكه دا مسئله په كتاب الوضوء كښې تيره شوې ده په دې وجه دَ اختصار نه ئې كار اخستې دې. دَنور تفصيل دَپاره اوګورئى اعلاء السنن: ١٣٥/١-١٣٠ البناية: ٣١١-٣١٦/١السعاية: ٢٧٧/١-٢٧٤.

(٧) فتح البارى: ٤٩٠/٢عمدة القارى: ٣٠٦/٣إرشادالسارى: ٣٩٧/١.

(٨) شرح الكرمانى: ١٢٢/٣.

قوله: ثم أتي بمنديل: بیا دَ حضورپاك په خدمت کښې یو روما راوړلې شو.

دَ لفظ منديل تحقيق: منديل (په کسره دَمیم) په وزن دَ مفعيل. نَدلَ يَندلُ ندلاً دَ باب سمع نه یا خو النَّدل (په معنى دَ الوسخ یعنی خیری) نه ماخوذ دې ځکه چه په منديل سره اوساخ لرې کولې شی. یا الّندل په معنى تناول کولو نه ماخوذ دې چه منديل سره په بدن باندې موجود اوبه صفا او اوچې کړې شي.[1] رومبې معنى علامه کرمانی رحمه الله علامه عینی رحمه الله اودویمه ابن فارس رحمه الله علامه کورانی رحمه الله اختیار کړې ده.[2]

دَ ابن منظور افريقي رحمه الله رائې: ابن منظورافريقي رحمه الله فرمانی «المِنْدِيلُ والمَنْدِيلُ نادر والمِنْدَلُ كله: الذي يُتَمَسَّح به» یعنی مَنْدِيل، مِنْدِيل او مِنْدَل درویواړه استعمالیږی البته مَنْدِيل په فتح دَمیم نادرالاستعمال دې. دَدې ټولو اطلاق دَ اوچولو څیز (تولیه) باندې کیږی.[3]

بعض حضرات وائی چه مِنْدِيل په وزن دَ فِعْلِيل هم مستعمل دې اودادَ مندل نه ماخوذ دې. علامه زکریا انصاری رحمه الله هم دا اختیارکړې دې.[4] هم دَدې نه تندّل او تمندل هم راځی یعنی په دې تقدیر باندې دا رباعی دې خو امام کسائی رحمه الله دَدې ماده اشتقاق انکارکړې دې. «كذا قال أبو عبيد»[5]

علامه ابن منظور افريقي رحمه الله اوعلامه جوهري رحمه الله لیکلی دی چه «تندّلتُ بالمِنْدِيل او تمندلتُ أي: تمسحت به أثر الوضوء أو الطهور» دواړه شان مستعمل دې یعنی ما په رومال سره دَ اودس یادَ پاکوالی اوبه اوچې کړې.[6]

فلم ينفض بها: یعنی حضورپاك په دغه رومال سره خپل دَ اودس اندامونه اوچ نه کړل.

د ينفض وضاحت: نَفَضَ يَنْفُضُ (نصر ينصر) نَفْضاً، څنډل، اخوا کول ختمول او غورزولوته وائی. کپړې نچوړ کولوسره څنډل او ونه خوزولو سره میوه اوپاڼې غورزولوته وئیلې شی. «نَفَضْتُ الثَّوْبَ وَالشَّجَرَ وغيره أنفضه نَفْضاً: إذا حركته لينتفض»[7] هم دَدې نه مِنفَض په معنى دَ مِنسَف (صافی اوچاڼ) هم راځی.[8]

علامه عینی رحمه الله په حواله دَ جوهري النفض په معنى النشف یعنی اوچول نقل کړی دی.[9] او علامه کرمانی رحمه الله په حواله دَ جوهري المِنْفَض په معنى المِلْفَف تولیه رومال یا کپړه کوم سره چه اوبه اوچې کړې شی په معنى کښې نقل کړې دې.[10]

---

[1] لسان العرب: ۹۳/۱٤الصحاح ص: ۱۰۳۱المنهاج: ۲۲۳/۳-۲۲۲.
[2] شرح الكرماني: ۱۲۲/۳ عمدة القاري: ۳/۳۰۶المنهاج: ۲۲٤/۳ الكوثرالجاري: ۱/۴۱۶.
[3] لسان العرب: ۹۳/۱٤.
[4] تحفته الباري: ۲۲٤/۱.
[5] لسان العرب: ۹۳/۱٤الصحاح ص:۱۰۳۱عمدة القاري: ۳۰۶/۳لسان العرب: ۱۹۳/۱۳.
[6] لسان العرب: ۹۳/۱٤الصحاح ص: ۱۰۳۱.
[7] لسان العرب: ۲۳۹/۱٤الصحاح ص: ۱۰۵۹.
[8] لسان العرب: ۲۳۹/۱٤الصحاح ص: ۱۰۵۹.
[9] عمدة القاري: ۳۰۷/۳.

فلم ينفض بها كښې ضمير مؤنث راوړلو وجه: "فلم ينفض بها" كښې بها دَمؤنث ضمير دَدې دَپاره راوړلو چه منديل نه «خرقة مخصوصة» يعني رومال يا كپړې هغه ټكړه په كوم سره چه بدن اوچولې شي، مراد دې اوهغه مؤنث دې. ([1]) لكه څنګه چه دَعائشه رضي الله عنها روايت كښې دي: «كان لرسول صلى الله عليه وسلم خرقة ينشف بها بعد الوضوء» حضورپاك سره دَ كپړې يوه ټكړه وه په كوم سره چه حضورپاك دَ خپل دَ اودس اندامونه يا بدن اوچولو. ([2])

دكريمه په روايت كښې دى چه ابوعبدالله يعني امام بخاري رحمه الله فرمائي: «يعني لم يتمسح» ([3])فلم ينفض بها نه دَ راوى مراد دادې چه حضورپاك دَ رومال په ذريعه بدن اوچ نه كړو.

په توليه وغيره سره دَ طهارت اندامونه نه اوچولوحكمت: علامه قسطلاني رحمه الله ليكلى دى: «لأنه أثرعبادة، فكان تركه أولى» ([5])يعني حضورپاك په رومال سره دَ اودس لوندوالې ځكه اوچ نه كړو چه دا دَ عبادت اثر دې نودَدې ترك كول اولى دى. دَشوافع نه ابوحامد يعني امام غزالى رحمه الله هم دغه قول دې چه دادَ عبادت اثر دې دا به دَ اثر شهادت (وينې وغيره) په شان په ځاني ساتلې شي. ([6])

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى «وتركه صلى الله عليه وسلم للمنديل فإنّه أراد إبقاء بركة الماء والتواضع» ([7])يعني حضورپاك دَ اوبوبركت باقى ساتلو دَپاره اودَ تواضع په توګه منديل ترك كړو. امام ترمذي رحمه الله فرمائي: «ومن كرهه إنما كرهه من قبل أنه قيل: إن الوضوء يوزن» ([8])چاهم چه دَ اودس نه پس رومال استعمالول ناخوښه كړه هغه ئې په دې وجه ناخوښه كړه چه دَاودس دَ اوبو (اعمال نامه كښې) وزن

---

[1]) شرح الكرماني: ١٢٢/٣.

[2]) فتح الباري: ٤٩٠/٢عمدة القاري: ٣٠٧/٣إرشاد الساري: ٣٩٧/١.

[3]) الحديث رواه الترمذى فى سننه، أبواب الطهارة باب ماجاء فى المنديل بعد الوضوء رقم: ٣٥وقال: حديث عائشة ليس بالقائم، ولا يصح عن النبى صلى الله عليه وسلم فى هذا الباب شيء، وأبومعاذ يقولون هو "سليمان بن أرقم" وهو ضعيف عندأهل الحديث، انتهى ماقال، وقال محقق سنن الترمذى الشيخ أحمد محمدشاكر: إسناد المؤلف هذا فيه، سفيان بن وكيع بن ا لجراح، وهو فى نفسه ثقة صادق، إلا أن ورّاقة أفسد عليه حديثه، فأدخل عليه ماليس منه ونصح بتغيره فلم يقبل، فضعف حديثه باختلاط بما ليس منه، ولكن لم ينفرد برواية هذا الحديث فقد رواه الحاكم فى المستدرك: ١٥٤/١ من طريق محمدبن عبدالله عبدالحكم عن ابن الوهب ورواه البيهقى:١٨٥/١عن الحاكم وغيره من طريق ابن عبدالحكم وقد ضعف الترمذى هذا الحديث من أجل سليمان بن أرقم، فإنه ضعيف ولكن الترمذى لم يجزم بأن أبا معاذ هو سليمان بن أرقم بل قال: "يقولون"، والبيهقى تبع الترمذى فى ذلك غير أنه جزم بأنه سليمان" وأما الحاكم فقال: أبومعاذ هذا هوالفضيل بن ميسرة، بصرى، روى عنه يحيى بن سعيد وأثنى عليه، وأقره الذهبى على ذلك فلم يتعقبه فيه، وبذلك يكون إسناد الحديث صحيحاً، انتهى ماقال، (حاشية سنن الترمذى:٧٥/١).

[4]) فتح الباري: ٤٩٠/٢إرشادالساري:٣٩٧/١شرح الكرماني:١٢٢/٣.

[5]) إرشادالساري:٤٩٧/١.

[6]) شرح ابن العربى على سنن الترمذى: ٦٩/١

[7]) شرح ابن بطال : ٣٨۶/١.

[8]) أبواب الطهارة باب ماجاء فى المنديل بعدالوضوء: ٧٧/١رقم: ٥٤.

کولې شي. ابن شهاب زهري رحمه الله فرمائي: «إنما أكره المنديل بعد الوضوء لأن الوضوء يوزن» [1] يعني زه د اودس نه پس رومال په دې وجه ناخوښه کوم خکه چه د اودس (اوبه) وزن کولې شي. امام ترمذي رحمه الله اوفرمائيل چه د سعيدبن مسيب نه هم دغه شان مروي دی.[2]

د سعيدبن مسيب رحمه الله روايت: ابن عساکر رحمه الله تاريخ دمشق کښې د حضرت سعيدبن مسيب روايت خپل سندسره مرفوعًا هم نقل کړې دې چنانچه هغوی فرمائي: «**أخبرنا على الصواب أبوالحسن الفرضي، نا عبدالعزيز بن أحمد، أنا أبو محمد بن أبي نصر، أنا علي بن شعيب، أنا أبو عبدالملك أحمد بن إبراهيم القرشي، نا سليمان بن عبدالرحمن، نا ناشب بن عمرو الشيباني الدمشقي، نا مقاتل بن حيان، عن سعيد بن المسيب، عن أبي هريرة رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "من توضأ فمسح بثوب نظيف فلا بأس به، ومن لم يفعل فهو أفضل، لأن الوضوء يوزن (وفي رواية: لون) يوم القيامة مع سائر الأعمال"**».[3] يعني چاچه اودس اوکړو او په پاکه کپړه باندې ئې هغه اوچ کړو نو په دې کښې هيڅ حرج نشته دې اوچاچه داسې اونه کړه نو دا افضل دې خکه چه د قيامت په ورځ به نورو ټولو اعمالوسره د اودس وزن کولې شي.

تنبيه: ليکن دا خبره دې واضح وی چه د ابن عساکر رحمه الله دواړه مرفوع روايتونه ناشب بن عمرو شيباني نه مروي دی او په ناشب بن عمرو باندې ائمه کلام کړې دې. چنانچه دارقطني هغه ضعيف ګرخولو سره فرمائيلی دی «**ناشب ضعيف**»[4] امام بخاري رحمه الله فرمائي «**ناشب بن عمرو الشيباني منكر الحديث**»[5] غرض د ابن عساکر رحمه الله د رفع والا روايتونه د ناشب بن عمرو د وجې نه ضعف نه خالي نه دی.

د ابن العربي رحمه الله رائې: ابن العربي مالکي رحمه الله فرمائي چه په دوو وجوهاتو باندې د پاکئ اوبوته د عبادت اثر وئيل صحيح نه دی. اول وجه داده چه اودس پخپله عبادت دې د عبادت اثرنه دی. دويمه وجه داده چه اثر عبادت شهيد کښې غسل نه ساقط کوی هغې ته په يوه اندازه باندې بقاء حاصل ده. د شهيد غسل خو خکه ساقط کيږی چه کافرانو هغه په توره سره پاك کړې وی. نور فرمائي چه دامام ترمذي رحمه الله دا وينا چه تمسح بالمنديل ناخوښه کولو وجه د اودس د اوبو وزن کيدل دی نودا يو ضعيف خبره ده خکه چه د اودس د اوبو وزن کول د هغې مسح نه منع کوی (هغه به بهرحال تللې شی که هغه په اندامونو باندې اوچې شوې وی يا په توليه کښې جذب شوې وی).[6]

د بعض حضراتو توجيه: بعض حضراتو ليکلی چه د عبادت د اثر وزن خو به په آخرت کښې وی د هغه خائې ميزان اوتله خود دنيا د تلې په شان نه ده اونه هغه په دنيا کښې محسوس کولې شي. بلکه هغه

---

[1] أبواب الطهارة باب ماجاء فى المنديل بعد الوضوء: ۷۷/۱رقم: ۵٤.

[2] حواله سابق.

[3] تاريخ مدينة دمشق،[ذكر من اسمه] ناشب بن عمرو، أبو عمرو الشيباني، الجزء الحادي والستون: ۳۸۰/۶۱ رقم الترجمة: ۷۸۱۲، جمع الجوامع، قسم الأقوال، حرف الميم: ۱۳۷/۷، رقم الحديث: ۲۱۷۱۲كنزالعمال كتاب الطهارة قسم الأقوال، آداب متفرقة من الإكمال: ۱۳۰/۹ رقم الحديث: ۲۶۳٤.

[4] سنن الدارقطني مع التعليق المغني باب وجوب وضع الجبهة والأنف: ۳٤۸/۱ المغني فى الضعفاء: ٤٤۹/۲ تراجم رجال الدارقطني فى سننه الذين لم يترجم لهم فى التقريب ولا فى رجال الحاكم: ٤۵۹/۱رقم الترجمة: ۱۱۹۰.

[5] ميزان الاعتدال: ۲۳۹/٤رقم الترجمة: ۸۹۸۶لسان الميزان: ۱۵۸/۷رقم الترجمة: ۸۸/٤

[6] شرح ابن العربي على سنن الترمذي: ۷۰/۱.

خودَ هغه امور غيبيه نه دی لکه چه خودلې شوی دی. هسې په هغې باندې ايمان راوړل ضروری دی يعنی دا يقين ضروری دې چه وزن به کيږی.(١)

دَعلامه کرمانی وغيره توجيه: علامه کرمانی رحمه الله وغيره امام تيمی نه نقل کړی دی: ..في الحديث دليل على أنه صلى الله عليه وسلم كان ينشف ولولا ذلك لم يأته بالمنديل، وإنما رده لأنه يمكن أنه كان وسخاً أو نحوه .. دَ امام بخاری رحمه الله حديث باب په دې خبره باندې دلالت کوی چه حضورپاک به دَ بدن اندامونه اوچول. که چرې داسې نه وې نو دَ حضورپاك په خدمت کښې به منديل نه شو پيش کولې. باقی پاتې شوه خبره دَ رد کولو نو ممکن دی چه حضورپاك دَمنديل په خيرنوالی يا بل څه وجه سره رد کړې وی.

(٢)قسطلانی رحمه الله هم دغه توجيه دَ ابن التين رحمه الله نه هم نقل کړې ده.(٣)

دَحضورپاک منديل رد کول: مسلم شريف کښې دَحضرت ميمونه رضي الله عنها په روايت کښې دی ..ثم أتيته بالمنديل فرده..(٤) بيا ما دَحضورپاك په خدمت کښې منديل پيش کړو نو هغوی ﷺ رد کړو.

دَمنديل ردکولووجه: شراح حديث دَدې مختلف وجوهات بيان کړی دی. قاضی عياض رحمه الله اوعلامه شبيراحمد عثمانی رحمه الله ليکلی دی چه حضورپاك ﷺ منديل ځکه رد کړو چه ترك کول ئې افضل دی (قاله العثماني) يا داچه حضورپاك ته دَ مونځ تادی وه يائې تواضعاً ترك کړو يا مترفين (دَعيش پرست خلقو) په مخالفت کښې ردکړو. يا داچه دَ گرمئې وخت وو او دَ اوبو لوندوالې پکار وو يا دَ اوبو برکت باقی ساتلو دَپاره ئې ردکړو. يا په هغه کپړه باندې حرير (ريښم) وغيره ليکلی وو يا دَدې ويرې نه ردکړه چه چرته عادت نه شی.(٥)

دَبعض حضراتوقول: بعض حضراتو ليکلی دی چه ترك تنشيف هغه وخت افضل دې کله چه دَ يخنئی کيدو يا نجاست سره دَ لگيدو ويره نه وی کنی دَدې پريخودل به مسنون نه وی. اذرعی وئيلی دی چه کله دَاودس کولونه پس په داسې ځائې تيريدل کيږی چرته چه دَ هوا لگيدلو دَ وجې نه په نجاست سره دَ گنده کيدو ويره وی يا دَ اوبو يخوالې ډير محسوس کيږی يا دَ بيمارئې زياتيدو ويره وی يا دَ زخم خرابيدو ويره وی وغيره نو بيابه تنشيف سنت اومتاکد شی.(٦)

دَحافظ عبدالغنی مقدسی رحمه الله عجيبه معمول: په علماء سلف کښې عبادت پرهيزگاری سنن او مستحبات اوآدابو رعايت به ئې ښه په اهتمام سره کولو. هم په دغه علماء سلف کښې حافظ عبدالغنی بن عبدالواحد مقدسی حنبلی رحمه الله به دَتهجدو ډير اهتمام کولو. دَ شپې په آخری حصې کښې چه کله هوا يخه شی او په موسم کښې يخوالې پيداشی نودَهغوی معمول ووچه هغوی به دَ تهجدو هر دوه رکعته په تازه اودس سره کول. هره شپه به ئې تقريباً اووه ځل يا اته ځل تازه اودس کولو اوفرمائيل به ئې چه ماته ترهغه وخته پورې په مانځه کښې خوند نه راځی ترکومې چه اندامونه دَ اودس لامده نه وی. چنانچه علامه ابوالفرج عبدالرحمن بن شهاب الدين بغدادی حنبلی رحمه الله او علامه شمس الدين

---

(١) إكمال إكمال المعلم: ٧٧/١حاشية الترمذی للشيخ أحمدمحمد شاكر: ٧٧/١.
(٢) شرح الكرمانی: ١٢٢/٣فتح الملهم: ٧٦/٣.
(٣) إرشادالساری: ٤٩٧.
(٤) كتاب الحيض باب صفة غسل الجنابة رقم: ٧٢٢.
(٥) إكمال إكمال المعلم: ٩٢/٢فتح الملهم: ٧٦/٢البحر الرائق: ٩٧/١-٩٦.
(٦) الموسوعة الفقهية: ٦٨/١٤

ذهبی رحمه الله دَ ابوالحسن علی بن ابراهیم بن نجا رحمه الله نه دَ حافظ عبدالغنی رحمه الله دا عمل دَهغوی دَ نورو معمولاتو سره نقل کړې دې. ابن نجا رحمه الله فرمائی حافظ عبدالغنی رحمه الله به بغیردَ فائدې خپل یو ساعت نه ضائع کولو. دَ سحر مونځ ادا کولوسره دَ قرآن کریم دور اوتلقین به ئی کولو اکثر وختونوکښې به ئی دَ احادیثو تلقین هم کولو. راوی وائی چه مونږ دیرزیات احادیث دَهغوی دَ تلقین دَ وجې نه حفظ کړې وو. بیا به هغوی اودس کولو اودَ ماسپښین نه څه لږ وړاندې پورې فاتحه او معوذتین سره به ئی درې سوه رکعته نفل اداکول. بیابه ئی قیلوله کوله او بیداریدو سره به ئی دَ ماسپښین مونځ اداکولو او ترماښامه به دَ احادیثو اورولو یا لیکلوکښې مشغول وو. که چرې روژه به ئی وه نو(دَ ماښام نه پس) به ئی افطاری کولو اوکه چرې روژه به نه وو نوبیابه ئی دَماښام نه واخله تر ماسخوتن پورې په نوافل کښې مشغول اوسیدو. دَماسخوتن مونځ کولونه پس تر نیمې شپې پورې یا دَهغې نه پس به اوده کیدو. بیا به بیدار شو اودس به ئی اوکړو اودَڅه وخته پورې به ئی دَ تهجدو مونځ کولو. بیابه ئی تازه اودس کولو او په تواضع او انکسارئی سره مونځ کولو. دَ سحر نه دَ لږشان وخت نه وړاندې پورې به دَهغوی دغه معمول وو. دَ شپې په تهجدو کښې اوه یا اته (یادَ دې نه زیات) ځل تازه اودس کولو اوفرمائیل به ئی «ما تطیب لی الصلاة إلا ما دامت أعضائی رطبة» یعنی ماته ترهغه وخته پورې په مونځ کښې خوند نه حاصلیږی ترکومې چه زما اندامونه دَ اودس په اوبو سره لامده نه وی.دې نه پس به ئی دَ سحردَ مانځه پورې لږشان آرام کولو. دادَهغوی رحمه الله عام معمول وو.(¹) دَتحدید بالنعمت په توګه ښایم چه ترکومې پورې صحت وو "الماء یوزن" دَ وجې نه مونږ هم مخ لاس نه اوچولو لیکن اوس ضعف دې اوبه نه شې برداشت کیدې په دې وجه په تنشیف باندې عمل دې.

تنشیف بعدالغسل باره کښې دَ فقهاؤ مذهب: تنشیف بعدالغسل باره کښې دَ حضرات صحابه کرام رضي الله عنهم اوفقهاء کرامو اختلاف دې او مختلف اقوال روایت شوي دی. تنشیف په اودس او غسل دواړو کښې مباح دې. دادَ حضرت انس بن مالک رضي الله عنه او سفیان ثوری رحمه الله قول دې.(²)

ابن منذر رحمه الله هم دغه قول دَحضرت عثمان بن عفان، حسین بن علي رضي الله عنهم او بشر بن ابی مسعود، حسن بصری، ابن سیرین، علقمه، مسروق، ضحاک او اسحاق رحمهم الله نه هم نقل کړې دی.(³)

تنشیف په دواړو کښې مکروه دې. دادَ ابن عمر، ابن ابی لیلی، سعیدبن المسیب، ابراهیم نخعی، مجاهد او ابوالعالیه رحمهم الله قول دې.(⁴)

حسن بن صالح او عبدالرحمن بن مهدی رحمهما اللهنه هم کراهت نقل دې.(⁵) ابن عباس رضي الله عنهما نه په اودس کښې کراهت او غسل کښې عدم کراهت نقل دې.(⁶) حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه دَ تنشیف نه منع کړې ده.(¹)

(¹) کتاب الذیل علی طبقات الحنابلة لأبی الفرج عبدالرحمن الحنبلی: ۱۲/۲تاریخ الإسلام تحت ترجمة عبدالغنی بن عبدالواحد بن علی: ۵۳۹/۱۲رقم الترجمة: ۲۲۷۹۷سیرأعلام النبلاء تحت ترجمة عبدالغنی: ۴۵۳/۲-۴۵۲ رقم الترجمة: ۲۳۵ تذکرة الحفاظ تحت ترجمة عبدالغنی: ۱۳۷۶/۴ط: ۱۷رقم الترجمة: ۱۱۱۲.

(²) شرح النووی: ۲۲۲/۳.

(³) الموسوعة الفقهیة: ۶۶/۱۴المغنی لابن قدامة: ۹۵/۱ فتح الباری لابن رجب الحنبلی: ۱۸۳/۱المجموع: ۴۶۲/۱.

(⁴) شرح النووی: ۲۲۲/۳الموسوعة الفقهیة: ۶۷/۱۴

(⁵) فتح الباری لابن رجب :۱۸۳/۱المغنی لابن قدامة: ۹۵/۱.

(⁶) شرح النووی: ۲۲۲/۳فتح الباری لابن رجب الحنبلی: ۱۸۳/۱ الموسوعة الفقهیة: ۶۶/۱۴المجموع: ۴۶۲/۱.

تنشيف سره متعلق دَ شوافع پنځه اقوال: امام نووی رحمه الله شرح مسلم كښې دَحضرت ميمونه رضي الله عنها روايت «ثم أتيته بمنديل فرده» په ذيل كښې تنشيف بعدالغسل باره كښې فرمائي چه په دې باره كښې زمونږ اصحاب شوافع كښې اختلاف دې اودَدوى نه پنځه اقوال نقل دى. ① دَ مشهور قول مطابق ترك تنشيف مستحب دې البته تنشيف ته مكروه نه وائي. ② تنشيف مكروه دې. ③ تنشيف مباح دې يعنى كول اونه كول دواړه برابردى. هم دا مونږ (شوافع) اختيارکړى دى ځكه چه منع دَتنشيف يا دَاستحباب قول دَ واضح دليل محتاج دې. ④ تنشيف مستحب دې ځكه چه دادَ اوساخ نه دَ بچ كيدو سبب دې. ⑤ په ګرمئى كښې تنشيف مكروه دې او يخنئى كښې مباح دې.[2]

دَ شوافع په نيز راجح قول: ليكن امام نووى رحمه الله المجموع كښې ړومبى قول ته ترجيح وركولوسره ليكى چه جمهور اهل عراق قاضى حسين وغيره هم دا حتمى ګرځولى دى. او امام الحرمين دَائمه نه هم دا نقل كړى دى. خوداقوالو په ترجيح باندې اختيار لرونكو متاخرينونه امام رافعى وغيره دې ته ترجيح وركړې ده. اودَ دريم قول باره كښې فرمائى چه دا دَ ابوعلى طبرى او قاضى ابوالطيب قول دې.[3] امام نووى رحمه الله نور ليكى چه محاملى دَ عدم حرمت په تنشيف باندې اجماع نقل كړې ده البته خلاف په كراهت كښې دې.[4]

دَ حنابله اقوال: دَامام احمدبن حنبل رحمه الله نه په دې باره كښې دوه اقوال نقل دى: ① دَ غسل اندامونه اوچولو كښې هيڅ حرج نشته يعنى مباح دى. ② مكروه دى.

خلال دَ كراهت والا روايت نه انكاركړې دې. ابن قدامه رحمه الله ليكلى دى چه ړومبې قول يعنى تنشيف مباح كيدل اصح دى ځكه چه اصل اباحت دې. دَحضرت ميمونه رضي الله عنها په روايت كښې دَ حضورپاك ترك منديل په كراهت باندې دلالت نه كوى ځكه چه حضورپاك به كله مباح كارونه ترك كول لكه چه كله به ئې مباح كاركولو.[5]

دَ حنابله په نيز راجح قول: علامه ابوالحسن مرداوى رحمه الله «الإنصاف فى معرفة الراجح من الخلاف على مذهب الإمام المبجل أحمد بن حنبل» كښې دَ تنشيف مباح كيدلو باره كښې «الرعاية الكبرى» په حواله سره «هوالمذهب» او «هي أصح» نقل كړې دې خو «تجريد العناية» نه دَدې قول اظهر كيدل نقل كولو نه پس فرمائى چه صاحب دَ تجريد دَدې شارح ابن عبيدان اوصاحب مجمع البحرين دا صحيح ګرځولې دې او "الوجيز" "المنور" "المنتخب" كښې او ابن رزين وغيره هم دَدې جزم كړې دې.[6]

دَ مالكيه مذهب: علامه عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله المدونة الكبرىٰ كښې دَ امام مالك رحمه الله دَتنشيف اباحت نقل كړې دې. ابن عبدالبر رحمه الله علامه دردير مالكى رحمه الله اوعلامه دسوقى مالكى رحمه الله وغيره دَ امام مالك رحمه الله هم دَ اباحت مذهب نقل كړې دې.[7]

---

[1] المغنى لابن قدامة: ۹۵/۱الموسوعة الفقهية: ۶۸/۱۴
[2] شرح النووى: ۲۲۲/۳.
[3] المجموع شرح المهذب: ۴۶۲/۱-۴۶۱.
[4] المجموع: ۴۶۲/۱.
[5] المغنى لابن قدامة: ۹۵/۱فتح البارى لابن رجب الحنبلى: ۱۸۳/۱الموسوعة الفقهية: ۶۶/۱۴ المجموع: ۴۶۲/۱.
[6] الإنصاف: ۱۶۶/۱.
[7] المدونة الكبرىٰ: ۱۷/۱فتح المسالك: ۴۲۱/۱حاشية الدسوقى: ۱۷۳/۱الموسوعة الفقهية: ۶۶/۱۴

تنشيف بعدالغسل باره کښې دَ احنافو اقوال: تنشیف بعدالغسل باره کښې حنفیه نه څلور اقوال نقل دی: ①استحباب ② اباحت ③ کراهت ④ دَ اودس نه پس مکروه او دَغسل نه پس جائز.
استحباب تنشيف: چنانچه صاحب دَ منیه لیکلی دی چه دَغسل نه پس بدن په تولیه سره اوچول مستحب دی. دَ منیه شرح حلبیی کبیری کښې دی «استحباب تنشیف» دَ حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها دَ روایت په بنیاد باندې دی په کوم کښې چه هغوی اوفرمائیل چه نبی کریم ﷺ سره دَ کپړې یوه ټکړه وه په کومې سره چه به حضورپاك دَ اودس نه پس تنشیف کولو. روایت کړې دی دا ترمذی رحمه الله اودا ضعیف دې خو په فضائل کښې په ضعیف حدیث باندې عمل کول جائزدی.[1]
علامه خلیل احمدسهارنپوری رحمه الله بذل کښې هم دا اختیار کړی دی او لیکلي دی چه دَتعدد طرق دَ وجې نه دَ ترمذی روایت ته قوت حاصل دې.[2] شیخ الحدیث مولاتازکریا رحمه الله هم دَ صاحب بذل په حواله سره هم دَاستحباب قول نقل کړې دې.[3]
اباحت تنشيف: صاحب فتاوی تاتار خانیه لیکلی دی چه دَمتوضی اومغتسل دَپاره دَ بدن په تولیه سره اوچولو کښې هیڅ حرج نشته دې یعنی مباح دی. بعضو دا مکروه ګڼړلی دی اوبعض صرف دادَ متوضی دَپاره مکروه ګڼړی نه چه دَ مغتسل دَپاره. صحیح خبره هم دغه ده کومه چه مونږ کړې ده (یعنی اباحت) لیکن مناسب دادی چه په تنشیف کښې مبالغه او استقصیٰ اونه کړی دې دَپاره چه دَ اودس اثر په اندامونو باندې پاتې شي.[4]
صاحب درمختار علامه حصکفی رحمه الله دا په آدابو کښې شمیرکړی دی اوعلامه شامی رحمه الله په دې باندې دَ صاحب منیه دَ استحباب والاقول نقل کولوسره لیکلی دی چه په حلیه کښې دی چه صاحب دَ منیه نه علاوه چاهم دَ استحباب قول نه دې ذکر کړې. دې نه پس نې دَ تاتارخانیه والا قول نقل کولوسره خزانة الإکمل اوخلاصه په حواله سره دَتنشیف باره کښې "لابأس" یعنی اباحت نقل کړې دی.[5] صاحب بحرابن نجیم رحمه الله دَ سراج الدرایه په حواله سره "لابأس" یعنی اباحت نقل کولونه پس لیکلی دی چه صاحب دَ منیه نه علاوه چاهم دَاستحباب صراحت نه دې کړې.[6] علامه عثمانی رحمه الله فتح الملهم کښې دَمختلف اقوال نقل کولونه پس په آخره کښې صاحب بحر پورتنې ذکر کړې شوې قول نقل کړې دی.[7] صاحب دَ سعایه علامه لکهنوی رحمه الله هم دَ صاحب بحروالا قول نقل کړې دې.[8] علامه کشمیری رحمه الله فیض الباري کښې تنشیف عدم سنت کیدل نقل کړی دی او العرف الشذي کښې دَهغوی نه دَ اباحت تنشیف معتمدعلیه کیدل نقل دی.[9]

---

[1] الحلبی الکبیری: ص: ٤٥.
[2] بذل المجهود: ٢/٢٦۶.
[3] الکنزالمتواری: ٣/٢٠٣.
[4] الفتاوی التاتارخانیة: ١/٢٢٩.
[5] ردالمحتار مع الدرالمختار: ١/٩٧.
[6] البحرالرائق: ١/٩٧.
[7] فتح الملهم: ٣/٧۶.
[8] السعایة: ١/٢٩٩.
[9] فیض الباری: ١/٤٥۶العرف الشذی: ١/٩٧.

دَتنیشف اباحت معتمدعلیه دی: علامه یوسف بنوری رحمه الله دَاباحت قول معتمد علیه گرځولې دې.[1]

علامه عینی رحمه الله باب الوضوء قبل الغسل په ذیل کښې دَ حضرت میمونه رضی الله عنها دَ روایت په حواله سره دَ تنشیف کراهت نقل کولونه پس بیا په جواز او اباحت تنشیف باندې دلالت کونکی متعدد (ضعیف) روایاتو استقصیٰ کړې ده دکوم نه چه تنشیف بعد الغسل اباحت معلومیږی.[2]

دحضرت گنگوهی رحمه الله رائې: مولانا یحیی کاندهلوی رحمه الله دَحضرت علامه گنگوهی رحمه الله نه الکوکب الدري کښې نقل کړې دې چه زمونږ په نیز دکلام خلاصه داده چه دَ حضورپاك په تولیه سره دَ بدن اوچول دَ جواز دَ بیانولو دَ پاره وو که هغه په جدا کپړه سره وو یا په هغې سره کومه چه حضورپاك اغوستې وه.[3]

په استحباب اومکروه تنزیهی کښې فرق: بیا دلته حضرت گنگوهی رحمه الله دلته دَ یواهم امر وضاحت کړې دې چه دَ حضورپاك کوم یوعمل ته دَ مستحب درجه ورکول پکاردی او کوم یو ته دَمکروه تنزیهی دکوم ترك کول چه اولی دی، چنانچه هغوی فرمائی:

«والتقصی عنه بأنّ الذي فعله النبی صلی الله علیه وسلم مرة أو مرتین، إما أن یکون بعد العلم بکونه محظوراً، أو فعله لئلا یعد محظوراً، فهو علی ترك الأولی وبیان الجواز، وإما أن یکون فعله تحصیلاً للمثوبة والحُسنی، وإنما ترکه شفقة علی الأمة وخوفاً من أن تتأکد السنیة، أو تصل إلی حد الوجوب فیتشققوا، فهو مستحب، فترك الفعل ههنا مع رغبته إلیه بخلاف الأول، فإنّ الترك ثمة مرغوب فیه والفعل لعارض البیان، وهذا التمیز موقوف علی استقراء تام وتصفح وافر»

یعنی چه کوم فعل دَ حضورپاك نه یو خل یا دوه خل صادر شوې وی اودَهغې کول دَ هغه فعل دَ محظور کیدودَ علم نه پس شوې وی یا په دې غرض حضورپاك هغه کار کړې وی چه خلق هغه شرعًا محظور اونه گنړی نودَ حضور پاك دا فعل به جواز دَ بیانولودَپاره وی دَ کوم ترك کول چه اولی دی اوکه چرې هغه کار حضورپاك دَ ثواب دَ حاصلولودَپاره کړې دې اوبیا حضورپاك صلی الله علیه وسلم هغه کار دَدې ویرې نه ترك کړې دې چه هسې نه امت په مشقت او تکلیف کښې پرینوځی. یائی په دې ویره ترك کړو چه دحضورپاك په بار بار کولو سره هغه کار سنت مؤکده یا دَ وجوب حد ته اونه رسی په کوم سره چه امت په مشقت کښې اخته شي نودَ حضورپاك دا عمل به مستحب وی. ځکه چه دلته ترك دَ فعل مرغوب وو اوعمل خو صرف دَ جواز دَ بیانولودَپاره وو. په دې دواړو قسمونوکښې فرق استقراء تام او تصفح وافر باندې موقوف دې.

دَ حنفیه په نیز راجح قول: دَ کلام خلاصه داده چه دَ حنفیه په نیز تنشیف مباح دې. استحباب صرف دَ صاحب منیه قول دې لکه چه ابن نجیم رحمه الله وغیره په حواله سره معلوم شو. علامه شامی رحمه الله «کتاب الحظر والإباحة فصل فی اللبس» کښې لیکلی دی چه متاخرینو دَتعامل مسلمین دَ وجې نه تنشیف بعدالوضوء غیر مکروه گرځولې دې[4] علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چه دَ تنشیف بعد الغسل باره کښې دواړه قسم روایات دی. کله دَعدم ضرورت دَ اظهاردَپاره نه استعمالول او انکار هم

---

[1] معارف السنن: ۲۰۳/۱.
[2] عمدة القاری: ۲۸۹/۳-۲۸۸.
[3] الکوکب الدری: ۷۶/۱.
[4] حاشیة ابن عابدین: ۲۵۲/۵.

دَ نبی کریم ﷺ نه ثابت دي اوکله دَ بيان جوازدپاره دَ حضورپاك نه استعمال هم ثابت دي. چنانچه دي ته چا دَ تمندل متعلق مستحب وئيلی، چامکروه.محقق قول دادې چه نه مستحب دی نه مکروه مباح دی دَ کولو اونه کولو دوارو اختيار دي [1]

دَحديث ترجمة الباب سره مناسبت:دحديث ترجمة الباب سره مناسبت ښکاره دې چه په ترجمه کښې دَمضمضه او استنشاق تذکره ده او په حديث کښې «ثم تمضمض واستنشق» نه ددې ثبوت کيږی. [2]

دَ حديث نه مستنبط شوی امور: دَ حديث باب نه دا لاندې ذکر شوی امور مستنبط کيږی:

① په غسل جنابت کښې دَ مضمضه او استنشاق تاکيد. (كما مر تحت ترجمة الباب)

② دَ ښځې دَ خاونددپاره دَ غسل اوبه کيخودل اودَ ښځې نه خدمت اخستل (كما علم من قوله: صبت للنبي صلى الله عليه وسلم غسلاً) [3]

③ دَغسل نه پس دَ غسل اندامونه توليه وغيره سره نه اوچول (دل عليه قوله: "فلم ينفض بها").

④ دَ تنشيف بعدالغسل جواز او اباحت (كما مر تحت مذاهب الفقهاء)

⑤ په فعل باندې دَ قول اطلاق کول (كما أطلق في قوله: "ثم قال بيده الأرض"). ددې نه علاوه نور مستنبط شوی امور دَ سابقه ابواب په ذيل کښې تير شوی دی. والله أعلم بالصواب.

٨-باب: مَسْحِ الْيَدِ بِالتُّرَابِ لِيَكُونَ أَنْقَى

(دَ غسل جنابت نه وړاندې) په خاوره باندې لاس مږل دې دپاره چه ښه صفا شی

دَترجمة الباب مقصد: علامه عينی رحمه الله ليکلی دی چه دامام بخاری رحمه الله غرض دَ دې ترجمه نه دَ غسل جنابت کونکی دَ استنجاء نه پس په خاوره پورې لاس مږلوسره دَ ښه صفا کولو دَ حکم بيان کول دی. [4]علامه ادريس کاندهلوی رحمه الله په الأبواب والتراجم کښې ليکی چه دَ استنجاء نه پس لاس په خاوره پورې مږل دی دپاره چه ښه صفا شی دا مستحب امر دې. [5]

دَحضرت گنگوهی رحمه الله تحقيق انيق: دَجنابت غسل کونکې دَ غسل نه وړاندې چه استنجاء کوی اودَ اودس نه فارغ شی نودَهغه دَ لاس نه تر څه وخته پورې بدبوئی راځی. دا چه دَ سړی په لاس باندې کومه بدبوئی پاتې کيږی په دې کښې اختلاف دې چه دا بدبوئی څه څيز دې؟ اودَدې حقيقت څه دې؟ آيا په دې سره لاس پاکيږی که نه؟

چنانچه حضرت سهارنپوری رحمه الله دَحضرت مولانا يحيیٰ کاندهلوی رحمه الله په واسطه سره دَ حضرت رشيد احمد گنگوهی رحمه الله نه نقل کړی دی چه فقهاء حنفيه كثرالله تعالى جمعهم وشكر سعيهم اقوال

---

[1] فضل الباری: ٢/٤٣٤.

[2] عمدة القاری: ٣/٢٨٨.

[3] عمدة القاری: ٣/٣٠٦.

[4] عمدة القاری: ٣/٣٠٧.

[5] الأبواب والتراجم ص: ٢٦٢.

مختلف دی.بعض حضرات وائی که دَ نجاست ظاهری آثار ختم شوی وی نولاس به پاك وی سره دَدې چه دَ دې بدبوئی باقی پاتې وی. خو بعض نور حضرات وائی چه ترهغه وخته پورې به پاکوالي نه حاصليږی ترکومې چه دَ دغه نجاست اثر مکمل ختم نه شی سوا دَهغه معمولی بوئی چه دَهغې ختميدل گران دی.(۱)

په دې مسئله کښې دَ فقهاؤ اختلاف دَ دغه بدبوئی په حقيقت کښې په اختلاف باندې مبنی دې چه آيا دا بدبوئی دَهغه نجاست دَ اجزاء صغار ده دَ کوم پيژندگلو چه دَهغې دَ کموالی دَ وجې نه نه کيږی يا دَهغه هوا دَ وجې نه ده چه دَ هغه نجاست سره لگيدلې راغلې ده.؟

چنانچه بعض حضراتو وئيلی چه دا اجزاء لطيفه غير مرئيه دی لهذا لاس په خاوره سره وينځل ضروری دی خکه چه دا ازاله دَ نجاست دَ قبيل نه دې اودَدې ختمول ضروری دی. خو يوه ډله دا وائی چه دا بدبوئی هغه هوا ده چه لاس پورې دَ اوبو اودَ نجاست دَ اتصال په وخت لگيدلې وه اودَ نجاست په اتصال سره مکيف بکيفية النجاسة شو نوهغه هوا اوبه جوړيدو سره لاس پورې اولگيده. هم دغه وجه ده چه دَ لاس په اوچيدوسره هغه بدبوئی خې. لهذا دَدې حضراتو په نيز دَدې ازاله ضروری نه ده لاس بغيردَ ازاله هم پاك دې. باقی ترکومې چه خبره دَ اجزاء صغيره لطيفه غير مرئيه ده نو شريعت دَدې هيڅ اعتبار نه دې کړې دَدې وجود هم دَ عدم په حکم کښې دې لکه چه دَ يو لوند پرتوگ والاهوا خارج شی يا دَ گندگئی دَ خائی نه ککره کيدو سره راتلونکې هوا سره په اتفاق لمدې کپړې نه پليتيږی. که فرض کړه دَ دغه اجزاء لطيفه غير مرئيه په شريعت کښې څه اعتبار وې نو په لازمی توگه به هغه لمدې کپړې پليتيدې (حالانکه دَ دې هيڅوك هم قائل نه دی) باقی پاتې شوه دَ هوا دَ خارج کيدو سره انتقاض طهارت نوهغه دَ پليتئی اجزاء ته متضمن کيدو دَ وجې نه نه بلکه دَ تصريح نص دَ وجې نه دی.(۲)

دَ شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث مولانا زکريا کاندهلوی رحمه الله دَحضرت گنگوهی رحمه الله دغه مذکوره تحقيق نقل کولونه پس ليکی چه امام بخاری رحمه الله په دې ترجمه سره په مذکوره اختلاف باندې تنبيه فرمائی اودې خبرې له ئې ترجيح ورکړې ده چه دَ حضورپاك په خاوره باندې دَ لاس مږلو غرض تطهير نه دې بلکه په غرض دَ تنظيف (صفائی) وو لکه چه په ترجمه کښې لفظ أنقیٰ دلالت کوی. لهذا امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې لفظ أنقی راوړلو سره دَهغه خلقو تائيد کوی دَ چا په نيز چه دَ دغه بدبوئی ازاله واجب نه ده بلکه صرف اولی ده.(۳)

په خاوره پورې لاس مږل مورث فقر نه دې: بعض علماؤ ليکلی دی چه په عواموکښې مشهوره ده چه په خاوره باندې لاس مږل مورث فقر دې ممکن ده چه امام بخاری رحمه الله په دې خبره سره دَ هغه خلقو

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: "ويشترط إزالة الرائحة عنها وعن المخرج" ونقل العلامه الشامي: "وقال بعضهم: لا يشترط بل يستعمل حتى يغلب على ظنه أنه قد طهر" (الدرالمختار مع ردالمحتار كتاب الطهارة باب الأنجاس. مطلب فى الفرق بين الاستبراء والاستنقاء والاستنجاء: ۲۵۳/۱).

(۲) بذل المجهود: ۳۱۲/۱-۳۱۱الكنزالمتوارى: ۲۰۴/۳-۲۰۳الأبواب والتراجم ص:۶۱تقرير بخارى: ۸۳/۱سراج القارى: ۱۹۹/۲.

(۳) الأبواب والتراجم ص: ۶۱الكنزالمتوارى: ۲۰۴/۳تقرير بخارى: ۸۳/۱سراج القارى:۱۹۹/۲.

تردید فرمائی چه دا یوه بې اصل خبره ده ځکه چه په حدیث کښې د حضورپاك په خاوره باندې لاس مږل ثابت دی. (۱)

په خاوره باندې د لاس مږلوکښې هندوانو سره د تشبه هیڅ اعتبارنشته: د مولانا محمدحسن مکی رحمه الله په تقریرکښې دی چه (بعض خلقو ونیلی) خاورو سره لاس مږل خو ثابت دی لیکن په دې زمانه کښې هندوانوسره د مشابهت د وجې نه ترك اولی دې. حضرت گنگوهی رحمه الله اوفرمائیل چه د دې تشبیه هیڅ اعتبارنشته (لهذا د دې کول به اولی وی). (۲)

امام بخاری رحمه الله دغه مذکوره ترجمه ولې قائم کړه؟ ترجمه مسح الید بالتراب خود باب سابق حدیث میمونه رضي الله عنها نه معلومه شوې وه. هم دغه وجه ده چه علامه بطال رحمه الله ((باب المضمضة والاستنشاق من الجنابة)) کښې د حضرت میمونه رضي الله عنها روایت نقل کولونه پس لیکلی دی ((وترجم له(أي: الإمام البخاري): باب مسح الید بالتراب لیکون أنقی)) اودوباره د دې باب عنوان لګولوسره ئې د دې وضاحت اونه کړو بلکه صرف "ترجم له" په جمله باندې ئې اکتفاء اوکړه. (۳)خودا ترجمه د سابقه باب د حدیث نه معلومه شوه نوبیا د دې تکرار څه فائده؟

د علامه کرمانی رحمه الله وغیره جواب: علامه کرمانی، علامه قسطلانی او شیخ الاسلام زکریا انصاری رحمهم الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله غرض د دې امورو یعنی تکرار ابواب حدیث نه د شیوخ او استخراج او استنباط کښې د اختلاف طرف ته اشاره کول دی. مثلاً د امام بخاری رحمه الله شیخ عمر بن حفص رحمه الله حدیث میمونه رضي الله عنها په غسل جنابت کښې د مضمضه اواستنشاق په ذیل کښې روایت کړې دې. خود امام بخاری رحمه الله دویم شیخ محدث حمیدی رحمه الله هم دغه حدیث میمونه رضي الله عنها د مسح الید بالتراب لاندې ذکرکړې دې. چنانچه امام بخاری رحمه الله په تکرار ترجمه سره د دواړو روایاتو جدا جدا سیاق او د شیوخ جدا جدا استنباط طرف ته هم اشاره اوکړه او دواړو روایتونوته ئې په یو بل سره تقویت اوتائیدهم حاصل کړو. (۴)

د علامه عینی رحمه الله جواب: علامه عینی رحمه الله د علامه کرمانی رحمه الله مذکوره جواب نقل کولونه پس لیکی چه دلته د دې یوه بله فائده هم ده چه په ړومبی باب کښې ((دلك الید علی التراب)) لاس په خاوره باندې وهلو او مږلو ذکر وو او په دې باب کښې ((دلك الید علی الحائط)) د لاس په دیوال باندې د مږلو بیان دې او په دې دواړو کښې فرق دې. (۵)

د علامه کورانی رحمه الله توجیه اوپه علامه کرمانی وغیره باندې رد: علامه کورانی رحمه الله د علامه کرمانی رحمه الله وغیره توجیه نقل کولوسره په هغې باندې رد کولوسره فرمائی: ((هذا کلامه ولیس بشیء)) یعنی د دې خلقو د دې توجیه هیڅ حیثیت نشته ځکه چه امام بخاری رحمه الله حدیث ((إنما الأعمال بالنیات)) په خپل

---

(۱) حاشیة البذل: ۱/۳۱۱ الدر المنضود: ۱/۱۵۰.

(۲) الکنز المتواری: ۳/۲۰۳ الأبواب والتراجم ص: ۶۱

(۳) شرح ابن بطال: ۱/۳۸۶.

(۴) شرح الکرمانی: ۳/۱۲۴-۱۲۳ إرشاد الساری: ۱/۴۹۸ تحفة الباری: ۱/۲۲۴.

(۵) عمدة القاری: ۳/۳۰۷.

صحيح کښې په اووه مختلف مقاماتو کښې نقل کړې دې.(۱) دَدې باره کښې خودا توجيه ممکن نه ده چه دا اووئيلې شي چه امام بخاري رحمه الله داحديث په اووه مختلف ابواب کښې دَ شيوخ په اختلاف استخراج او استنباط طرف ته اشاره کولودَ پاره ذکر کړې دې. بلکه پخپله دَامام بخاري رحمه الله غرض استنباط احکام دی. په دې وجه ټول ابواب ئې دَ څه نه څه حکم بيانولودپاره قائم کړې دې او بيا په هغې دَ حديث نه استدلال کوی اودَ امام بخاري رحمه الله دا عادت دې چه هغه په ادنی مناسبت سره هم استدلال کوی.چنانچه دلته ئې دَ مسح اليد بالتراب باب قائم کړو اوهغه حديث ئې راوړلو په کوم کښې چه په ديوال باندې دَ لاس وهلو اومږلو ذکر دې اودَدې نه وړاندې مضمضه او استنشاق باب قائم کړو او په هغې کښې هغه حديث راوړو په کوم کښې چه په خاوره باندې دَ لاس وهلو صراحت دې او په دواړو روايتونوکښې فرق دادې چه په حديث باب کښې دَ اودس تذکره ده خوسابقه باب روايت دَدې نه خالی دې.(۲)

دَ ترجمة الباب دَ الفاظو وضاحت:

مسح اليد: يعنی دَ جنابت غسل کونکی په خاوره باندې لاس مږل. (۳)

قوله: :ليکون: دَابن عساکر او اصيلی په روايت کښې لتکون الفاظ دی.(۴) أي: اليد.(۵) يعنی دَ يد مؤنث کيدو دَ وجې نه ئې تکون راوړلې.

قوله: :أنقى: أنقیٰ نقاوة نه ماخوذ دې دَ کوم معنی چه نظافت ده. (۶)

أنقى صيغه اسم تفضيل ده په عام طور باندې درې قسمه استعماليږی. اضافت ، من او لام سره. شراح حديث ليکلې دی چه دلته دا من سره مستعمل دې اوهغه محذوف دې. يعنی أنقى من غير الممسوحة، غير ممسوحه نه دَ وړاندې مقابله کښې زيات ښه او صفا شی.(۷)

دَ لتکون والا روايت باندې اعتراض: دَابن عساکر او اصيلی په روايت کښې يکون په ځائی باندې تکون الفاظ راغلی دی نو په دې باندې دا اعتراض کيدې شی چه دَ دې په اسم اوخبرکښې مطابقت

---

(۱) الحديث أخرجه البخاري في كتاب بدء الوحي، باب كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم..... رقم:۱، وكتاب الإيمان باب ماجاء: أن الأعمال بالنية والحسبة رقم:۵٤ وكتااب العتق باب الخطاء والنسيان في العتاقة والطلاق ونحوه، ولا عتاقة إلا لوجه الله تعالى رقم: ۲۵۲۹وفي كتاب مناقب الأنصار، باب هجرة النبي صلى الله عليه وسلم وأصحابه إلى المدينة رقم: ۳۸۹۸وفي كتاب النكاح باب من هاجر أو عمل خيراً لتزويج امرأة فله مانوی رقم: ۵۹۷وفي كتاب الأيمان والنذور باب النية في الأيمان رقم: ٦٦٨۹وفي كتاب الحيل باب في ترك الحيل وأن لكل امرئ مانوی في الأيمان وغيرها رقم: ٦۹۵۳

(۲) الكوثرالجاري: ۱/٤۱۸-٤۱۷.

(۳) إرشادالساري: ۱/٤۹۸عمدة القاري:۳/۳۰۷.

(۴) أرشادالساري: ۱/٤۹۸.

(۵) شرح الكرماني: ۳/۱۲۳.

(٦) لسان العرب: ۱٤/۲۷۳.

(۷) شرح الكرماني: ۳/۱۲۳عمدة القاري: ۳/۳۰۷إرشادالساري: ۱/٤۹۸فتح الباري: ۲/۳۹۱٤.

نشته. حالانکه په دې کښې مطابقت ضروری دې ځکه چه په تکون کښې هی ضمیر کوم چه لفظ ید طرف ته راجع دې هغه دَدې اسم دې او أنقی دَدې خبر دې اوهغه مذکردې.

جواب: دَدې اعتراض علامه کرمانی رحمه الله او علامه عینی رحمه الله دا جواب ورکړې دې چه اسم تفضیل کله من سره راشی یعنی بغیردَ الف لام واضافت وی نودَدې په ټولو احوالوکښې مفرد مذکر راوړل ضروری دی.(۱) لهذا عدم مطابقت والاخبره غلطه ده.(۲)

دَعلامه برماوی په علامه کرمانی اوعینی باندې نقد: علامه برماوی رحمه الله دَعلامه کرمانی رحمه الله اوعلامه عینی رحمه الله دَ کلام په تعاقب کولوسره فرمائیلی چه که دَدې حضراتو په نیز دَ فعل ناقص اسم لفظ ید طرف ته راګرځیدونکې ضمیر یعنی هي دې نوبیابه دَدې حضراتو خبره صحیح وی خوظاهر دادی چه فعل ناقص (یکون) اسم دلته لفظ مسح طرف راګرځیدونکې ضمیر هو مذکردې نو په دواړو کښې مطابقت موندلې شی. (۳)

لکه چه علامه برماوی رحمه الله دَ ابن عساکر او اصیلی نه علاوه دَ باقی حضراتو روایت ته ترجیح ورکړې ده په کوم کښې چه یکون راغلې دې. خو په بنیادی توګه دا اعتراض غلط دې ځکه چه اسم تفضیل کله من سره مستعمل وی نوبیا دَهغې مفرد مذکر راوړل واجب او ضروری دی. کمامر.

الحديث الأول

۲۶۰- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ الْحُمَيْدِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ، فَغَسَلَ فَرْجَهُ بِيَدِهِ، ثُمَّ دَلَكَ بِهَا الْحَائِطَ، ثُمَّ غَسَلَهَا، ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ غَسَلَ رِجْلَيْهِ» [حديث باب :ر: ۲۴۶](۴)

---

(۱) قال الشيخ مصطفى الغلايينى فى "جامع الدروس العربية":۱۴۷/۱تحت "أحوال إسم التفضيل "مانصه: "إذا تجرد (إسم تفضيل) من "أل ، و "الإضافة" فلا بد من إفراده وتذكيره فى جميع الأحوال، وأن تتصل به. "من" الجارة جارة للمفضل عليه. تقول: خالد أفضل من سعيد، وفاطمة أفضل من سعاد، وهذان أفضل من هذا، وهاتان أفضل من هاتين، والمجاهدون أفضل من القاعدين والمتعلمات أفضل من الجاهلات. وقد تكون من مقدرة، كقوله تعالى ﴿ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴾ [الأعلى:۱۷] أى خير من الحياة الدنيا وأبقى منها وقد اجتمع إثباتها وحذفها فى قوله سبحانه: ﴿أَنَا أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا﴾ [الكهف: ۳۴]أى: أعزمنك". انتهى.

(۲) شرح الكرمانى: ۱۲۳/۳عمدة القارى: ۳۰۷/۳إرشادالسارى: ۴۹۸/۱.

(۳) إرشادالسارى:۴۹۸/۱.

(۴) الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى نفس الكتاب باب الوضوء قبل الغسل رقم الحديث: ۲۴۹وفى باب الغسل مرة رقم الحديث: ۲۵۷وفى باب الغسل بالصاع ونحوه رقم الحديث: ۲۵۳وفى باب المضمضة والاستنشاق فى الجنابة رقم الحديث ۲۶۵وفى باب من توضأفى الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد مواضع الوضوء منه مرة أخرىٰ رقم الحديث ۲۷۴ وفى باب نفض اليدين من الغسل عن الجنابة رقم الحديث: ۲۷۶ وفى باب التستر فى الغسل عندالناس بنحوه مختصراً رقم الحديث: ۲۸۱ وأخرجه مسلم فى صحيحه فى باب الحيض، باب صفة غسل الجنابة رقم الحديث: ۷۲۲وأبوداؤد فى سننه فى كتاب الطهارة باب فى الغسل من الجنابة رقم الحديث: ۲۴۵ والترمذى فى

ترجمه: مونږ ته حمیدی بیان اوکړو اووئیل مونږ ته سفیان بن عیینه، اووئیل مونږ ته سلیمان بن مهران اعمش، هغه د سالم بن ابی الجعد نه، هغه د کریب نه هغه د ابن عباس رضی الله عنهما نه هغه وائی چه حضرت میمونه رضی الله عنها فرمائی چه نبی اکرم ﷺ کله د جنابت دغسل اراده اوکړه نو(د تولو نه اول) نی خپل (کس) لاس سره خپل شرمګاه اووینځل بیا نی دغه لاس په دیوال باندې اومږلو بیا نی دا (اوبوسره) اووینځلو بیا ئی اودس یعنی چاراندام اوکړو د مانځه والا اودس په شان بیا چه کله د غسل نه فارغ شو نوخپلې دواړه خپې ئی اووینځلې.

تراجم رجال

الحمیدي: دادَ امام بخاری رحمه الله استاذ دَامام شافعی رحمه الله معاصر هم سبق اوشاګرد ابوبکر عبدالله بن الزبیر بن عیسی بن عبیدالله بن اسامه بن عبدالله بن حمید بن الحارث بن اسد بن عبدالعزی قرشی، اسدی حُمیدی مکی رحمه الله دې. (۱)دَدوی مختصر حالات بدء الوحی، باب کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه دَ رومبی حدیث په ذیل کښې (۲)او تفصیلی احوال کتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا لاندې بیان کړې شوی دی.(۳)

سفیان: دا مشهور محدث ابو محمد سفیان بن عیینه ابن ابی عمران هلالی کوفی دې. دَدوی ډیر مختصر حالات بدء الوحی باب کیف کان الوحی الرسول صلی الله علیه وسلم (۴)او تفصیلی حالات کتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا لاندې تیر شوی دی. (۵)باقی رجال حدیث اعمش سالم بن ابی الجعد کریب ابن عباس رضی الله عنهما اوام المؤمنین حضرت میمونه رضی الله عنها احوال وړاندې بیان شوی دی. (۶)

شرح حدیث

قوله: : فغسل فرجه: نو دَ ټولو نه اول حضورپاك خپل شرمګاه اووینځلو.

سننه فی کتاب الطهارة باب ماجاء فی الغسل من الجنابة بنحوه مختصراً، وقال: هذا حدیث حسن صحیح رقم الحدیث: ۱۰۳والنسائی فی سننه فی کتاب الطهارة باب غسل الرجلین فی غیر المکان الذی یغتسل فیه رقم الحدیث: ۲۵۲ وأیضاً فی کتاب الغسل والتیمم باب إزالة الجنب الأذی عنه قبل إفاضة الماء علیه بنحوه مختصراً، رقم الحدیث: ۴۱۸وأیضاً فی باب مسح الید بالأرض بعد غسل الفرج رقم الحدیث: ۴۱۹وأیضاً فی باب الاستتار عندالغسل رقم الحدیث: ۴۰۸وأخرجه ابن ماجه فی سننه فی کتاب الطهارة باب المندیل بعدالوضوء رقم الحدیث۴۶۷راجع جامع الأصول رقم: ۵۳۲۱وتحفة الأشراف رقم: ۱۸۰۶۴.

[۱] تهذیب الکمال: ۵۱۲/۱۴.

[۲] کشف الباری: ۲۳۸/۱-۲۳۷.

[۳] کشف الباری: ۱۰۲/۳-۹۹.

[۴] کشف الباری: ۲۳۸/۱.

[۵] کشف الباری: ۱۰۶/۳-۱۰۲.

[۶] دَ اعمش دَ حالاتودَپاره اوګورئی کشف الباری: ۲۵۱/۲ سالم بن ابی الجعد دَ احوال دَپاره کتاب الوضوء باب التسمیة علی کل حال وعند الوقاع. ابن عباس رضی الله عنهما دَپاره اوګورئی کشف الباری: ۴۳۵/۱، ۲۰۵/۲، حضرت میمونه رضی الله عنها دَ احوالو دَپاره اوګورئی کشف البَاری: ۴۲۰/۴.

فاءدَتفصيل دَپاره ده كه دَتعقيب؟: علامه كرماني رحمه الله اوفرمائيل چه فغسل كښې فاء دَ پاره دَتعقيب نه ده چه دَ دلک يد، اودس او غسل دَ شرمګاه وينځلونه وړاندېوالې لازم راشي بلكه دلته فاء دَ تفصيل دَپاره ده. «اغتسل من الجنابة» كښې چه كوم اجمال وو دَهغې تفصيل ئې بيان كړې دې اودَ اجمال نه پس تفصيل راوړلې شي.(۱)

علامه قسطلاني رحمه الله، شيخ الاسلام زكريا انصاري رحمه الله او علامه كرماني رحمه الله هم فاء تفصيله ګرځولې ده.(۲)

فاء دَ تفسير دَپاره: حافظ ابن حجر رحمه الله دَ فاء عدم تعقيب دَپاره كيدو باندې علامه كرماني رحمه الله سره متفق دې البته حافظ صاحب رحمه الله او علامه سيوطي رحمه الله فاء تفسيريه ګرځولې ده. (۳)حافظ صاحب رحمه الله نور ليكي چه په دې حديث كښې په ترتيب باندې دلالت كونكې حرف "ثم" راوړلې شوې دې چه دَ غسل جنابت په ترتيب باندې دلالت كوي.(۴)

دَعلامه عيني رحمه الله په نيزفاء تعقيبيه عاطفه ده: علامه عيني رحمه الله په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې نقدكولوسره ليكلي دي چه بعض خلقو دلته فاء تفسيريه ګرځولې ده نودا دَ علامه كرماني رحمه الله دَ كلام نه ماخوذ دې. بيا علامه عيني رحمه الله فاء تعقيبيه ګرځولو سره اوفرمائيل چه كوم سړې دَ عربي اسرار نه واقف وي او په ژور نظر سره غور كوي نوهغه به وائي چه دلته فاء عاطفه ده چه دَترتيب دَپاره ده اودَ حديث معنی به داسې شي چه حضوراكرم دَخپل غسل ترتيب داسې بيان كړو چه اول ئې شرمګاه اووينځلو «بيائې لاس په خاوره باندې اومږلو او په اوبو سره ئې اووينځلو» اوبيائې اودس يعني چاراندام اوكړو. دې نه پس علامه عيني رحمه الله اوفرمائيل چه دلته دَ فاء دَ ترتيب دَپاره كيدل دا دَعاطفه كيدو نه نه خارج كوي.(۵)علامه قسطلاني رحمه الله دَعلامه عيني رحمه الله قول چه فاء عاطفه دَپاره دَترتيب ده مطلب دا بيان كړې دې چه فاء دَ عطف دَپاره ده. دَهغه ترتيب دَبيانولو دَپاره ده چه په ترتيب باندې دلالت كونكې حرف ثم نه مستفاد دې. (۶)

واضحه او بې دوړو خبره: ليكن ډيره واضحه او بې غباره خبره هم هغه ده كومه چه علامه كرماني رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله وغيره دَ اكثر شراح حديث نه نقل ده. البته دَ علامه عيني رحمه الله توجيه دَ صفا كولو دَپاره داسې وئيلې كيدې شي «اغتسل من الجنابة» معنی «أراد الاغتسال» يا «شرع في الاغتسال» دَپاره لازمي لكه چه شراح حديث دَ حديث دَ نورو طرق «إذا اغتسل من الجنابة» نه هم دغه معنی مراد اخستې ده. اوس چه فاء دَ تعقيب دَپاره اومنلې شي نوبيابه خبره بالكل واضحه شي چه حضورپاك كله دَ غسل جنابت اراده اوفرمائيله يا غسل جنابت ئې شروع كړو نودَهغې ترتيب داسې وو چه دَ ټولو نه اول ئې شرمګاه اووينځل بيا ئې په خاوره باندې لاس اومږلو. والله اعلم بالصواب.

---

(۱) شرح الكرماني: ۱۲۳/۳.

(۲) إرشاد الساري: ۴۹۸/۱ تحفة الباري: ۲۲۴/۱ الكوثر الجاري: ۴۱۷/۱.

(۳) فتح الباري: ۴۹۱/۲ التوشيح: ۲۴۶/۱.

(۴) فتح الباري: ۴۹۱/۲.

(۵) عمدة القاري: ۳۰۸/۳-۳۰۷.

(۶) إرشاد الساري: ۴۹۸/۱.

دَحديث ميمونه k نه دَمنی او فرج دَ رطوبت په ناپاکوالی باندې استدلال: ابن العربی مالکی رحمه الله دَ حضرت میمونه رضي الله عنها دَ روایت په ذیل کښې (۱۳) احکام ذکرکړی دی. په الرابعة کښې اولیکل چه دا دَ امام شافعی رحمه الله دَ منی پاکوالی اودَ ښځې دَ فرج دَ رطوبت دَ پاکوالی په قول باندې رد دې. ځکه که چرې دا پاك وې نو حضورپاك به دَ غسل شروع دَ وینځلو نه نه کوله یا به ئې دا دَ باقی ټول بدن په تطهیر کښې داخل کړې وې. (۱)

دَ حافظ صاحب په ابن العربی باندې رد: حافظ ابن حجر رحمه الله دَ ابن العربی دا استدلال بعید ګرځولو سره فرمائی چه غسل ازاله نجاست باندې مقصور نه دې یعنی دَ غسل دَپاره نجاست ضروری نه دې (اکثر وختونوکښې دَ نجاست دَازاله نه علاوه دَ نورو مقاصدو تنظیف، تنشیط او تبرید وغیره دَپاره هم غسل کولې شی). (۲)

دَ فرج رطوبت او دَمنی طهارت او نجاست: دَحنفیه نه دَ صاحبین رحمهما الله په نیزدَ فرج رطوبت نجس دې البته دَامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز طاهر دې. (۳) اومنی دَ حنفیه په نیز په اتفاق سره نجس ده.

دعلامه عینی رحمه الله په حافظ صاحب باندې نقد: علامه عینی رحمه الله دَ حافظ ابن حجر رحمه الله دَ ابن العربی مالکی قول بعید ګرځولو باندې نقد کولوسره فرمائیلی دی چه هغه دَ ابن العربی قول ته بعید وئیلی دې حالانکه دَ هغه دا وینا پخپله بعید ده. ځکه چه منی او رطوبت فرج په نجاست باندې استدلال کونکو صرف دَحضرت میمونه رضي الله عنها په روایت باندې اکتفانه ده کړې، اول مونږ دا مسئله دَ استقصیٰ دلائل سره بیان کړې ده. (۴)

رطوبت فرج سره متعلق نور بحث هم دَ کتاب الغسل آخرې باب: غسل ما یصیب من رطوبة فرج المرأة کښې راځی. خودَ منی اورطوبت فرج سره متعلق بحث کتاب الوضوء باب غسل المنی وفرکه وغسل ما یصیب من المرأة کښې تیر شوې دې.

تنبیه: دَ ابن العربي استدلال دَدې حدیث نه صحیح دې که نه؟ داخبره په واقع کښې دَ تامل قابل ده. ځکه چه دَ غسل دَپاره ناپاکی ضروری نه ده لیکن په عام توګه باندې په داسې مواقع کښې چه کوم غسل کیږی هغه هم دَ نجاست دَ وجې نه کیږی خودَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَمنی په ازاله باندې داسې اهتمام دَدې دَناپاکه کیدو طرف ته اشاره ده. بهر حال ابن العربی دَ منی په ناپاکوالی باندې استدلال کړې دې او امام بخاری رحمه الله په حدیث باب کښې "دلك" په نظافت باندې محمول کړې دې.

قوله: ثم دلك بها الحائط: بیا حضورپاك خپل (ګس لاس) په دیوال پورې اومږلو. امام بخاری رحمه الله دَحضرت میمونه رضي الله عنها دا روایت په خپل صحیح کښې دَ الفاظو دَ اختلاف سره په نهه ځایونوکښې راوړلې دې. اودَ صحاح سته باقی ائمه حضراتو هم دَدې روایت تخریج کړې دې. دَحدیث باب نه علاوه امام بخاری وغیره صراحت کړې دې چه حضورپاك په خپل ښی لاس باندې په ګس لاس اوبه اوبهیولې او په ګس لاس باندې ئې خپل شرمګاه اووینځلو بعض روایتونو کښې دی چه بیا حضورپاك خپل ګس لاس په دیوال باندې اومږلو اوبعض روایتونوکښې په زمکه یا خاوره باندې دَ

---

(۱) شرح الترمذی لابن العربی: ۱/۱۵۶-۱۵۵.

(۲) فتح الباری: ۲/۴۷۸.

(۳) تعلیقات البذل: ۲/۲۵۷.

(۴) عمدة القاری: ۳/۲۸۸.

مړلو ذکر دي. دَ بخاری په یو روایت کښې دَ دوو یا دریو وارو مړلو ذکر دې خودَ امام مسلم رحمه الله او نسائی په روایت کښې «فدلکها دلکاً شدیداً» الفاظ راغلی دی اودَ ابوداؤد اونسائی په روایت کښې په خاوره سره دَ مړلو نه پس په اوبو سره دَ وینځلو ذکر هم دې.(۱) ابن رجب حنبلی رحمه الله فتح الباری کښې دَدې ټول طرق حدیث تخریج کړې دې. (۲)

حضورپاک ﷺ په دیوال یا خاوره باندې لاس ولې اومړلو؟: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی «فمسحها بالتراب، یدل أنه کان فیها أذی، وإلا فلولم یکن فیها أذی، لاکتفی بصب الماء وحده علیها، کما فعل غیرمرة» (۳)

دَ نبی کریم ﷺ په خاوره پورې لاس راښکل او مړل په دې خبره باندې دلالت کوی چه دَ حضورپاک په لاس پورې څه نجاست لګیدلې وو ګنی حضورپاك به صرف په اوبو سره وینځلو باندې اکتفا کوله لکه چه څو واره ئی داسې کړی دی.

دَ حافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چه په دې حدیث سره دانه متعین کیږی چه حضورپاك علیه السلام دَ نجاست دَ ختمولو دَپاره داسې کړی وی بلکه دَدې خبرې احتمال دې چه دا یوځل وینځل هم دَ تنظیف وی چه په عدم اکتفاء بمرة باندې دلالت کوی او په زمکه باندې لاس مړل دَ صفائی دَ مبالغه دَپاره وو لکه چه امام بخاری رحمه الله فرمائیلی دی. (۴)

دَ شیخ الحدیث رحمه الله ابن بطال رحمه الله باندې نقد: حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله دَ ابن بطال رحمه الله کلام نقل کولوسره په هغه باندې نقد کولوسره فرمائی: «وأنت خبیر عما فیه» یعنی دَ ابن بطال کلام سره به دَ نبی کریم ﷺ فضلات مبارکه نجس کیدل لازم راشی چه دَ تحقیق خلاف دی. (۵)

دَ حضرت ګنګوهی رحمه الله تحقیق: حضرت ګنګوهی رحمه الله «دلك الید بالحائط والأرض» باندې فرمائیلی چه لاس په خاوره باندې مړل او راښکلو سره وینځل په تنظیف کښې دَ مبالغه دَپاره وو: چه دَ ازاله عین نجاست نه پس که غوړوالې یا بوئی وغیره اثر پاتې شی نوهغه دې لرې کړې شی دې دَپاره چه په دغه لاس باندې دَ بدن نور اندامونه وینځل خاص کر مضمضه او استنشاق کښې کراهت او کرکه باقی پاتې نه شی.(۶)

دَعلامه سهارنپوری رحمه الله تحقیق: علامه سهارنپوری رحمه الله فرمائیلی چه زما په نیز دَحضورپاك دا فعل یعنی خاورې پورې لاس مړل اوپه اوبوباندې وینځل دَامت دَتعلیم دَپاره وو چه یوامتی استنجاء اوکړی اودهغه لاس نجاست سره ککړشی یا دَ نجاست اثر په لاس باندې باقی پاتې شی نوهغه دې دغه شان دَاستنجاء نه پس په خاوره باندې مړلو سره لاس صفا کړی. په دې وجه دَ حضورپاك دَ فضلات باره کښې دَعلماو تحقیق دادې چه هغه طاهر اوپاك وو. نودا محال دی چه دَ حضورپاك په لاس مبارك

---

(۱) قدمر تخریج هذه الطرق کلها فی الباب السابق.
(۲) ۱۵۷/۱-۱۵۶.
(۳) شرح ابن بطال: ۳۸۶/۱.
(۴) فتح الباری: ۴۷۸/۲.
(۵) تعلیقات البذل: ۲۶۳/۲.
(۶) الکوکب الدری: ۱۴۰/۱-۱۳۹.

باندې دَ استنجاء نه پس دَ خرابې هوا څه اثر وی. بیشکه رسول الله ﷺ خو په دې دنیاکښې او دَدې خائې نه پرده کولو نه پس هم طیب او صفا ستره دې.(۱)

دَ حضور پاک دَ فضلات دَ پاکوالې مسئله: فضلات بول وبراز او وینې باره کښې دَ حضرت انبیاء کرام علیهم السلام او رسول الله ﷺ بدنونه مقدسه او اجسام مطهره دَ نورو عامو انسانانو په بدنونو او جسمونو باندې قیاس کول صحیح نه دی. ځکه چه الله تعالی په خپل ټول مخلوقات کښې بې شمیره داسې عجائبات پیداکړی دی په کوم باندې پوهیدل چه زمونږ دپاره ډیر ګران دی. دَ الله تعالی قدرت کامله ته اوګورئې چه هغه دَ مچې فضلات دَ شاتو په شان قیمتی نعمت کښې بدلوی اودَ یوچینجی دَ لعاب نه ریښم تخلیق کوی اودَ غریز چیلی (هوسئی) وینه دَهغې په نوم کښې جمع کولوسره دَهغې نه ښکلې خوشبوئې پیداکوی. بالکل هم دغه شان دغه قدیر ذات انبیاء کرام علیهم السلام خاص کر دَرسول الله ﷺ بدن مبارک ته داخصوصیت ورکړې دې چه غذا وغیره دَهغوی په طیب بدنونوکښې ورګډیدو نه پس نجس کیږی نه بلکه دَ هغې نه چه کوم فضلات بول وبراز او وینه وغیره جوړیږی هغه هم پاك اوطاهر وی. دا دَ رسول الله ﷺ دَ امتیازی خصوصیاتو نه دی. علامه سیوطی رحمه الله الخصائص الکبرې کښې دغه ټول امتیازی خصوصیات راجمع کړی دی او په هغې کښې ئې باقاعده یو عنوان "باب اختصاصه صلى الله عليه وسلم بطهارة دمه وبوله وغائطه" قائم کولوسره غطریف، طبرانی، ابونعیم، ابن حبان، دارقطنی، بزار، ابویعلی، ابن ابی خیثمه، بیهقی، حاکم اوامام بخاری رحمهم الله په حواله سره مختلف روایات نقل کړی دی کوم چه حضورپاك وینه او بول وبراز وغیره په طهارت باندې دلالت کوی.(۲)

دَ فضلات نبوی پاکوالې اومذاهب اربعه: علامه بنوری رحمه الله معارف السنن کښې لیکلی دی چه دَمذاهب اربعه علماؤ دَ فضلات انبیاء کرام علیهم السلام دَ پاکیدو تصریح کړې ده.(۳)

امام نووی رحمه الله المجموع شرح المهذب کښې په دې حواله سره دَ شوافع دوه قوله نقل کړی دی او فرمائی چه قاضی حسین رحمه الله ټول فضلات طاهر کیدل اصح ګرځولی دی.(۴)

علامه شامی رحمه الله لیکلی دی چه بعض ائمه شافعیه دَ حضورپاك بول او باقی ټولو فضلاتو دَ طهارت قول صحیح ګرځولی دې او امام ابوحنیفه رحمه الله هم دَدې قائل دې.(۵)ملاعلی قاری رحمه الله جمع الوسائل في شرح الشمائل باب ماجاء في تعطر رسول الله صلى الله عليه وسلم کښې دَټولو فضلاتو دَ طهارت قول نقل دې اودائې دَ حضورپاك دَ خصوصیاتو نه شمیر کړی دی.(۶)

---

(۱) بذل المجهود: ۳۱۱/۱.

(۲) الخصائص الکبری: ۲۵۳/۲-۲۵۲.

(۳) معارف السنن: ۹۸/۱.

(۴) المجموع: ۲۳٤/۱.

(۵) ردالمختار: ۲۳۳/۱.

(۶) جمع الوسائل: ۳۰۲/۲.

علامه عینی رحمه الله عمدة القاري كتاب الوضوء باب الماء الذي يغسل به شعر الإنسان كښې د بعض شوافع د فضلات نبی کریم ﷺ د نجس کولو په قول باندې راګیرونه کولوسره فرمائي چه دا د حضورپاك خصوصیت دې دا مسئله په عامو خلقو باندې قیاس کول د عقل نه لرې خبره ده.[1]

د فضلات په پاکوالی باندې تکاثر ادله: حافظ ابن حجر رحمه الله فتح الباري کښې ((كتاب الوضوء باب الماء الذي يغسل به شعر الإنسان)) لاندې فرمائي: ((وقد تكاثرت الأدلة على طهارة فضلاته وعد الأئمة ذلك في خصائصه فلا يلتفت إلى ما وقع في كتب كثير من الشافعية مما يخالف ذلك، فقد استقر الأمر بين أئمتهم على القول بالطهارة)).[2]

یعنی د حضورپاك د فضلاتو د پاکیدو دلائل د کثرت د حد پورې رسیدلی دی اوائمه کرامو دا د حضورپاك په خصوصیاتو کښې شمیرکړې دی. لهذا د ډیرو شوافع په کتابونوکښې کوم چه د دې خلاف (د نجاست قول) موندلې شی هغه قابل د التفات نه دې. تحقیق دادې چه د هغوی په ائمه کښې معامله د طهارت په قول باندې راغلې ولاړه ده. د حضورپاك د فضلات په پاکوالی باندې دلائل اوتفصیلی بحث كتاب الوضوء باب الماء الذي يغسل به شعر الإنسان لاندې اوګورئی.

قوله: :ثم غسلها ثم توضأ وضوءه للصلاة: یعنی حضورپاك ګس لاس په دیوال باندې اومږلو بیانی دا اووینځلو بیانی د مونځ والا اودس په شان اودس اوکړو.

د حنابله په نیزمس فرج په غسل جنابت کښې غیرمؤثردې: امام احمد رحمه الله فرمائیلی چه د استنجاء نه پس به درې ځل د لاسونو وینځل کیږی لیکن دا د غسل جنابت نه علاوه د یویل غسل د اودس حکم دې ځکه چه په حدث اصغرسره کړې شوې اودس په مس فرج سره ماتیږی. په غسل جنابت کښې خو چه یوځل لاسونه درې ځل اووینځلې شی بیا شرمګاه اووینځی نو بیا د لاسونو دوباره د وینځلو ضرورت نشته دې. ځکه چه مس فرج په غسل جنابت کښې غیرمؤثردې یعنی ناقض وضوء نه دې. ځکه چه کله یو سړې د جنابت د غسل نیت اوکړو بسم الله ئې اووئیله او خپل دواړه لاسونه ئې درې ځل اووینځل نو یقیناً هغه د جنابت غسل شروع کړې دې. هم دغه وجه ده چه په غسل جنابت کښې د بدن وینځلوسره په دویم ځل شرمګاه وینځل ضروری نه دی بلکه د استنجاء کولو وخت کښې دې وینځلې وو نوهم هغه کافی دی.[3]

جعفر بن محمد رحمه الله د امام احمد رحمه الله نه نقل کړی دی که چرې جنبی د اوده کیدو نه وړاندې اودس اوکړو بیا د خوب نه بیدارشو غسل ئې اوکړو دوباره ئې اودس اونه کړو نو د هغه غسل صحیح شو. ابن رجب رحمه الله فرمائي چه کیدې شی د امام احمد بن حنبل رحمه الله مراد دادې چه د اودس اندامونه یوځل وینځل کافی دی په غسل جنابت کښې به دا په دویم ځل نه شی وینځلې. یا د امام احمد رحمه الله دامراد کیدې شی چه غسل جنابت به بغیرد اودس نه هم صحیح شی (که چرې اول ئې استنجاء کړې وی نو) دې سره حدث اصغر او اکبر دواړه به زائل شی.[4]

د جنابت په غسل کښې د حدث اصغر لاحق کیدو حکم: که چرې د جنابت په غسل کښې چاته حدث اصغر اولګی نود ابن سیرین رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نیز په دویم ځل به اودس کوی اود نوی سر نه به

---

[1] عمدة القاري: ۳/۵۲.
[2] فتح الباري: ۲/۳۶۲-۳۶۱.
[3] فتح الباري لابن رجب الحنبلی: ۱/۱۵۸.
[4] فتح الباري لابن رجب الحنبلی: ۱/۱۵۹-۱۵۸.

غسل كوى دي دپاره چه دَغسل سنت دَ كمال په درجه سره اداشي. دَ امام حسن رحمه الله او سفيان ثورى رحمه الله په نيز به دَدغه غسل تكميل كولې شي. البته كه دَ مونځ وغيره حاجت وى نو دوباره به اودس كولې شي.
ابن منذر رحمه الله عطاء رحمه الله او عمرو بن دينار رحمه الله هم دَدې په شان نقل كړى دى. (١)

دَ امام شافعى رحمه الله قول: امام شافعى رحمه الله «كتاب الأم، كتاب الطهارة باب من لمس المضمضة والاستنشاق فى غسل الجنابة» كښې فرمائى كه چرې جنبى اودس اوكړو بيائى غسل دَ جنابت شروع كړو او په دې دوران كښې هغه ته حدث لاحق شو نوهغه به دا غسل هم په دې حالت كښې پوره كوى البته روستو به دَ مانځه دَپاره اودس كوى.(٢)

دَعلامه شامى رحمه الله رائې: علامه شامى رحمه الله اوفرمائيل چه دَغسل دوران كښې حدث لاحق شى نودَ اودس راګرځول بهتردى ليكن ضرورى نه دى. (٣)

دَمالكيه رائې: دَ مالكيه په نيزچه دوران غسل حدث لاحق شو يا غسل كونكى خپل شرمګاه ته لاس اولګولو نو دوباره دَنوى سر نه دَغسل كولوضرورت نشته بلكه هم دَدغه غسل پوره والې به كوى خكه چه دَمعتمدقول مطابق دَهراندام پليتى دَهغې وينځلوسره ختميږى. دَهراندام دَ پليتنى ختمولو دَپاره كمال طهارت ضرورى نه دې. كه چرې دَ دغه غسل نه پس دَ مونځ اراده وى نوبيا دَ اودس اندامونه دَ اودس په نيت سره به يويوخل دوباره وينځل به ضرورى وى.(٤)

دَ غسل جنابت دوران كښې حدث لاحق كيدو باندې دَغسل دوباره كولوحكم: ابن رجب الحنبلى رحمه الله فرمائى په دې مسئله كښې اختلاف مناسب نه دې خكه چه دَغسل دوران كښې حدث لاحق كيدو سره دَ غسل دوباره كولوچه چاهم حكم وركړې دې هغه استحباباً دې دې دَپاره چه اودس دَغسل وړاندې واقع شى لكه چه امام احمدبن حنبل رحمه الله دَهغه حائضه باره كښې فرمائيلى دى كومې چه صرف په اوبوسره غسل اوكړو بيائى سدر اوموندلو نو هغې له پكاردى چه په اوبواوسدر سره دَ دغه غسل اعاده اوكړى دې دَپاره چه هغه على وجه الكمال دَ غسل والاشى.(٥)

خروج من الخلاف مستحب دې: علامه ابن نجيم رحمه الله دَ حديث ميمونه رضي الله عنها لاندې ليكلى دى چه شرمګاه (كه روستو وى اوكه مخكښې وى) دَ غسل نه اول وينځل مستحب دى. لكه څنګه چه اودس په باقى غسل باندې مقدم كول مستحب دى كه هغه ته حديث لاحق وى اوكه نه وى خكه چه دَ شرمګاه وينځل مقدم كول دَهغه دَ نجاست والا كيدو كښې منحصرنه دى بلكه كله دَنجاست دَ وجې نه اوكله دَدې دَپاره هم اول وينځل مستحب دى چه كه چرې اثناء غسل اووينځلې شي نو مس فرج سره دَ اودس دَ نقض دَ قائلينو په نيزبه طهارت منتقض شى. لكه چه قاضى عياض رحمه الله دَدې طرف ته اشاره فرمائيلې. او زمونږ په نيز خروج من الخلاف مستحب دې. لهذا دَ ائمه دَ دې اختلاف نه دَ بچ كيدو

---

(١) فتح البارى لابن رجب الحنبلى:١٥٩/١-١٥٨.
(٢) كتاب الأم موسوعة الإمام الشافعى: ١٦٧/١.
(٣) ردالمختار:١١٧/١.
(٤) حاشية الدسوقى على الشرح الكبير: ٢٣٠/١.
(٥) فتح البارى لابن رجب الحنبلى: ١٥٩/١.

دپاره به دَ شرمګاه وينځل مقدم کول مستحب وي.(۱) دَ خپو وينځلو روستو کول او وړاندې کول وغيره متعلق باقي مباحث وړاندې تير شوي دي.

دَحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دَحديث ترجمة الباب سره مناسبت او مطابقت «ثم دلك بها الحائط» الفاظونه ثابتيږي چه په ترجمه کښې لاس په خاوره باندې مږلو تذکره ده دې دپاره چه ښه صفاشي او په حديث کښې دَ حضرت ميمونه رضي الله عنها خودل چه حضورپاک شرمګاه وينځلونه پس خپل لاس په ديوال باندې اومږلو (په هغه زمانه کښې ديوال دَ خاورې کيدل ښکاره دي).(۲)

دَحديث باب نه مستنبط شوي امور: دَحديث باب نه علماء کرامو دا لاندينې امور مستنبط کړي دي:

① دَ استنجاء نه پس په ديوال يا خاوره (اشنان يا صابون) سره لاس راخکل او مږل او بيا په اوبوسره وينځل مستحب دي.(۳)

② که چرې اوبه په څه لوټه وغيره يا يولوښی کښې وي نو دَ شرمګاه وينځل دَ لاسونو په وينځلو باندې مقدم کول اولى دي. دې دپاره چه دَ اودس اندامونه وار په وار اووينځلې شي.(۴)

③ دَ ضرورت په وخت دَفرج (شرمګاه) تذکره کول جائز دي لکه چه دَ ضرورت په وخت دَ شرمګاه طرف ته کتل جائزدي. په وخت دَ ضرورت دَ فرج تذکره دَ فحش وينا کولونه مستثنى دي.(۵)

دَحديث نه مستنبط نور احکام او امور وړاندې تير شوي دي.(۶)

۹- باب: هَلْ يُدْخِلُ الْجُنُبُ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ قَبْلَ أَنْ يَغْسِلَهَا إِذَا لَمْ يَكُنْ عَلَى يَدِهِ قَذَرٌ غَيْرُ الْجَنَابَةِ

ايا جنبى سړې خپل لاس دوينځلونه وړاندې په لوښى کښې داخلولې شي، کوم وخت چه دهغه په لاس باندې دَ جنابت نه علاوه نوره څه ګندګى نه وى لګيدلې؟

دَترجمة الباب مقصد: په دې ترجمه کښې امام بخارى رحمه الله دَ جنابت او قذر الفاظ راوړلي دي. دَ قذر معنى دَ نجاست او ناپاکى اودا نجاست حسى او حقيقى دې. خو په جنابت کښې چه کوم نجاست دې هغه حکمي او معنوى دې. دَدې تمهيدنه پس دا اوګنړئ چه دَامام بخارى رحمه الله غرض اومقصد دَ ترجمې نه څه دې؟ په دې کښې مختلف اقوال دي چنانچه ابن بطال رحمه الله دَ مهلب رحمه الله نه نقل کړې دي چه دَامام بخارى رحمه الله مقصد دَترجمه نه دا خودل دي که دَ جنبى لاس نظيف وي نو دَهغه دپاره جائز دي چه خپل لاس دَ وينځلونه وړاندې دَ اوبو په لوښى کښې وهلې شي. (په دې سره به هغه اوبه ناپاکه

---

(۱) البحرالرائق: ۱/۹٤-۹۳.

(۲) عمدة القاري: ۳/۳۰۷.

(۳) فتح الباري: ۲/٤۷۸ عمدة القاري: ۳/۲۸۸ شرح النووي: ۳/۲۲۱.

(۴) فتح الباري: ۲/٤۷۹.

(۵) شرح ابن العربي على الترمذي: ۱/۱۵۵.

(۶) عمدة القاري: ۳/۳۰۷.

کیږی نه، ځکه چه دَ جنبی کیدوسره دَهغه اندامونه ناپاکه کیږی نه ،اودا ځکه چه جنابت نجاست حکمی اومعنوی دي حسی اوحقیقی نه دي، حضورپاک ﷺ فرمائیلی «المؤمن لاینجس» (١)یعنی مؤمن ناپاك نه وی(٢)داِبن رجب حنبلی هم دغه رائې ده.(٣)

علامه ابن ملقن رحمه الله علامه کرمانی رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله هم دغه پورته ذکرشوي توجیه ذکرکړي ده.(٤)

دَعلامه عینی رحمه الله په نیز دَامام بخاری رحمه الله غرض دَدې مسئله حکم بیانول دی.(٥) دَعلامه قسطلانی رحمه الله په نیز دَامام بخاری رحمه الله مقصد دَدې مسئلې جواز بیانول دی. (٦)په متاخرینوکښې دَ مولانا ادریس کاندهلوی رحمه الله هم دغه رائې ده.(٧)

دَحضرت شاه ولی الله رحمه الله او حضرت گنگوهی رحمه الله رائې: حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه دَامام بخاری رحمه الله غرض دَدې باب نه دَ جنبی په لاس باندې چه دَ جنابت نه علاوه نور نجاست نه وی لګیدلې نویفیرد وینځلو په لوښی کښې دَ لاس وهلو جواز بیانول دی، سره دَدې چه سنت دادی چه دَوینځلونه پس دې په لوښی کښې لاس وهی. (٨)حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی چه دَ امام بخاری رحمه الله مقصد جواز بیانول دی سره دَدې چه اولی هم دادې چه اول دې اووینځی.(٩)

دَعلامه کشمیری رحمه الله توجیه: علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی امام بخاری په دې ترجمة الباب کښې دَمنی دَ نجس کیدو صراحت کړي دې اودائی په قذر «نجاست» کښې شمیرکړي ده اوداخیره ئې اختیارکړي ده چه ماء مستعمل طاهر یعنی پاکې وی هم دَدې طرف ته جمهور ائمه تلی دی البته امام مالك رحمه الله فرمائیلی چه ماء مستعمل طاهر کیدوسره مطهر هم وی.(١٠)

دَ شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله رائې: دَحضرت شیخ الحدیث رحمه الله نه دَدې ترجمة الباب درې توجیهات نقل دی:

---

١) الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب الغسل باب عرق الجنب وأن المسلم لاینجس، رقم: ٢٨٣وباب الجنب یخرج ویمشي فی السوق رقم: ٢٥٨ ومسلم فی صحیحه کتاب الحیض باب الدلیل علی أن المسلم لاینجس رقم: ٣٧١وأبوداؤد فی سننه کتاب الطهارة باب فی الجنب یصافح رقم: ٢٣١ والترمذی فی جامعه أبواب الطهارة باب ماجاء فی مصافحة الجنب رقم: ١٢١ والنسائی فی سننه، کتاب الطهارة باب مماسة الجنب ومجالسته، رقم: ٢٦٩-٢٧٠ راجع جامع الأصول رقم: ٥٣٥٢.

٢) شرح ابن بطال: ٣٨٨/١.

٣) فتح الباری لابن رجب الحنبلی: ١٥٩/١.

٤) التوضیح: ٥٧٢/٤ شرح الکرمانی: ١٢٦/٣فتح الباری: ٤٩١/٢.

٥) عمدة القاری: ٣٠٨/٣.

٦) إرشادالساری: ٤٩٩/١.

٧) الأبواب والتراجم لمولانا إدریس الکاندهلوی ص: ٢٦٣.

٨) شرح تراجم أبواب البخاری ، ص١٨، الأبواب والتراجم ص:٦١الکنز المتواری: ٢٠٥/٣.

٩) الکنزالمتواری مع اللامع: ٢٠٤/٣الأبواب والتراجم ص:٦١.

١٠) فیض الباری: ٤٦٠/١.

① رومبې توجيه: كومه چه شيخ الحديث رحمه الله اوجه گرځولې ده هغه دا ده: «أن غرض المصنف بيان جواز إدخال اليد رداً على ما روي عن ابن عمر –رضي الله عنهما– أنه قال: من اغترف من ماء وهو جنب فما بقي فهو نجس و أخرجه ابن أبي شيبة»
امام بخاري رحمه الله په دې مسئله كښې لاس د وينځلو نه بغير په لوښي كښې د وهلو جواز بيانولو سره مصنف ابن ابى شيبه كښې روايت كړې شوې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په اثر باندې ردكوى په كوم كښې چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمائى چاچه د جنابت په حالت كښې د اوبو نه لپه ډك كړو نوباقى پاتې اوبه ناپاكه دى.(١)
② دويمه توجيه: داده كه د يو جنبى سړى په لاس باندې نجاست حقيقى (بول وبراز وغيره) لګيدلې وى او هغه په اوبو كښې لاس اووهى نودتولو په نيز هغه اوبه ناپاك كيږى اوكه چرې نجاست حقيقى نه وى لګيدلې اوصرف نجاست حكميه وى نوهغه اوبه به ناپاكه وى كه نه؟ په دې كښې اختلاف دى. د ظاهريه په نيز ناپاكه كيږى اود جمهور په نيز نه ناپاكه كيږى. نو امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب كښې لفظ هل راوړلوسره داختلاف طرف ته اشاره اوكړه. چونكه دامام بخاري رحمه الله ذكركړې شوې روايات د عدم غسل يد باره كښې صريح نه دى په دې وجه د لفظ هل په ذريعه سره ئې په دې اختلاف باندې تنبيه اوكړه. په عام توګه شراح او مشائخ لفظ هل سره څه تعارض نه دې كړې.(٢)
③ دريمه توجيه: داده چه د ترجمه نه دامام بخاري رحمه الله مقصد داخودل دى چه د لاس د داخلولو نه وړاندې د لاسونو وينځل ايجابى نه دى بلكه استحبابى دى.(٣)
د ترجمة الباب د الفاظو وضاحت: باب: باب تنوين سره مبتداء محذوف د هذا د پاره خبردې.(٤)
هل: امام بخاري رحمه الله په ترجمه كښې لفظ هل كوم چه په تردد باندې دلالت كوى ولې ذكر كړې دې؟
د شيخ الحديث رحمه الله جواب: شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله فرمائيلى چه شراح او مشائخ لفظ هل باره كښې تعرض نه دې كړې. چونكه امام بخاري رحمه الله كوم آثار او روايات ذكر كړى دى هغه په عدم غسل يد باره كښې صريح نه دى بلكه محتمل دى نو په دې باندې تنبيه كولو د پاره په ترجمه كښې لفظ هل ذكركړو.(٥)
د دې اعتراض درې جوابونه نور هم دى: ①رومبې جواب خودادې چه دا هل استفهاميه دې د تردد د پاره نه دې. د دې استفهام جواب په روايات الباب كښې معلوم شو چه او داخلولې شو ځكه چه په اكثرو رواياتو كښې د لاس وينځلو ذكر نشته دې. ② دويم جواب دادې چه امام بخاري رحمه الله په ترجمه كښې لفظ هل ځكه ذكركړو چه په دې باب كښې څلور روايات راوړلى دى په هغې كښې صرف په دويم حديث كښې د غسل تصريح ده او د باقى نه په ظاهره باندې عدم غسل معلوميږى. نولكه چه په

(١) الأبواب والتراجم ص:٦١الكنزالمتوارى: ٢٠٤/٣.
(٢) الأبواب والتراجم ص:٦١ الكنزالمتوارى: ٢٠٥/٣تقرير بخارى: ٨٤/٢سراج القارى: ٢٠١/٢–٢٠٠والأثر أخرجه ابن أبى شيبة فى مصنفه كتاب الطهارة باب فى الرجل يدخل يده فى الماء وهو جنب: ٥٠٥/١ رقم: ٧٩٧ولفظه: "من اغترف من ماء وهو جنب فما بقى منه نجس.
(٣) تقرير بخارى: ٨٤/٢سراج القارى:٢٠١/٢.
(٤) إرشادالسارى: ٤٩٩/١.
(٥) الكنزالمتوارى: ٢٠٥/٣الأبواب والتراجم ص٦١

روایاتوکښې اختلاف اوشو په دې اختلاف باندې تنبیه کولوډپاره ئې لفظ هل ذکرکړو. ③ دریم جواب دادې چه لفظ هل نه امام بخاری رحمه الله دَدې مسئله باره کښې دَتفصیل طرف ته اشاره کړې ده چه که چرې لاس نظیف وی په هغې باندې څه ګندګی او نجاست نه وی یا دَ نجاست شك ئې وی نو بغیر وینځلو دې لاس په اوبو کښې نه وهې. لهٰذا حدیث ثانی به په نجاست یا شبه دَ نجاست باندې محمول کولې شی اوډعدم تصریح غسل والا روایات به په نظافت ید یعنی دَ لاس په پاکوالی باندې محمول کولې شی.لیکن دا توجیه دَ تامل قابل ده ځکه چه امام بخاری رحمه الله پخپله په ترجمه کښې «إذا لم یکن علی یده قذر غیر الجنابة» قیدلګولې دې دکوم نه چه معلومیږی چه دَهغوی نظر په دې تفصیل باندې نه دې ګنی دا قید به ئې نه لګولو.

قوله::هل یدخل الجنب یده فی الإناء: الإناء نه مراد هغه لوښې دې په کوم کښې چه دَغسل اوبه کیخودې وی.(١)

قوله::قبل أن یغسلها، أی: خارج الإناء: یعنی دَغسل کونکی اوبودَ لوښی نه بهروینځلو نه بغیر لاس په هغه لوښی کښې داخلول.(٢)

قوله::إذا لم یکن علی یده قذر: قَذَرٌ په وزن دَ حَسَنٌ صیغه صفت مشبه دې دَ نظافت ضد خیرې ګندګی بول و براز او هرهغه څیز ته وائی کوم چه ناخوښه کړې شی او طبیعت چه دَ کوم نه کرکه خوری دَدې جمع أقذارٌ راځی.(٣)

په حدیث کښې دَ قذر نه څه مراد دی؟: اکثرشراح لیکلی دی چه دَ قَذَرٌ نه شيء مستکره من نجاسة وغیره مراددې. یعنی هرهغه څیز مراددې په کوم سره چه کرکه راشی اوکوم چه ناخوښه کړې شی که هغه پلیتی «بول وبراز اومنی وغیره» دَ قبیل نه وی یا دَغیر نجاست «خیری وغیره» دَ قبیل نه وی.(٤) دلته دَدې نه مراد نجاست حقیقی او حسی یعنی بول وبراز وغیره دی ځکه چه دَجنابت په مقابله کښې استعمال شوې دې کوم چه نجاست معنوی اوحکمی دې.(٥)

قوله::غیر الجنابة: په حدیث کښې دَ جنابت نه څه مراددې؟ په دې باره کښې دَ شراح حدیث په آراء کښې اختلاف دې.

دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دَ جنابت نه مراد حکم دَ جنابت دې ځکه چه دَدې په اثر کښې اختلاف دې اوهغه دَامام بخاری په قول قذر کښې داخل دې.(٦)

(١) فتح الباری: ٢/٤٩١،عمدة القاری: ٣/٣٠٨،إرشاد الساری: ١/٤٩٩.
(٢) فتح الباری: ٢/٤٩١،إرشادالساری: ١/٤٩٩.
(٣) لسان العرب: ١١/٣٧،الصحاح ص: ٨٤٣،النهایة: ٢/٤٢٧ شرح الکرمانی: ٣/١٢٤.
(٤) فتح الباری: ٢/٤٩١،عمدة القاری: ٣/٣٠٨ إرشادالساری:١/٤٩٩،تحفة الباری: ١/٢٢٥.
(٥) الکوثرالجاری: ١/٤١٨،تقریر بخاری: ٢/٨٤.
(٦) فتح الباری: ٢/٤٩١.

دَعلامه عيني رحمه الله رائې: علامه عيني رحمه الله ليکلي دي چه دَامام بخاري رحمه الله دَ صنيع نه معلوميږي چه جنابت نجس دې حالانکه داسې نه ده ځکه چه هم دَبخاري دَ روايت نه ثابت دې چه مؤمن نجس نه وی.(١)

په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې نقد: دَدې نه پس په دَ حافظ ابن حجر رحمه الله په توجيه باندې نقد کولوسره علامه عيني رحمه الله فرمائي چه جنابت په اصل کښې په قذر کښې داخل نه دې ځکه چه جنابت امر معنوي (نجاست معنوي اوحکمي) دې په حقيقت کښې دا په قذر سره نه شي تعبيرکولې (ځکه چه قذر خودَ نجاست حسي او حقيقي دَپاره استعمالولې شي) حافظ صاحب خودَ جنابت وضاحت "حکمًا" سره کړې دې. علامه عيني رحمه الله فرمائي که چرې دَهغه مراد حکم دَ جنابت نه اغتسال دې نودَدې دَ زير بحث مسئلې سره هيڅ تعلق نشته دې. که چرې دَدې نه نجاست مراد دې نوموني خودلې دی چه مؤمن نجس نه وی اوکه دَدې نه مراد مني ده نوهغه خوددوی دَ ګمان مطابق طاهر ده هغه په قذر کښې څنګه داخليږي؟ (٢)

تعليق: وَأَدْخَلَ ابْنُ عُمَرَ وَالْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ يَدَهُ فِي الطَّهُورِ وَلَمْ يَغْسِلْهَا، ثُمَّ تَوَضَّأَ. وَلَمْ يَرَ ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ عَبَّاسٍ بَأْسًا عَمَّا يَنْتَضِحُ مِنْ غُسْلِ الْجَنَابَةِ.

ترجمه: اوعبدالله بن عمر او براء بن عازب رضی الله عنهم دَلاس وينځلو نه بغير (دَغسل) په اوبوکښې لاس اووهلو اوبيائې اودس اوکړو.

تراجم رجال تعليق: **ابن عمر رضی الله عنه:** دادَ خليفه ثاني حضرت اميرالمؤمنين عمربن خطاب رضی الله عنه جليل القدر خوئې اودَ ام المؤمنين حضرت حفصه رضی الله عنها سکه رور عبدالله رضی الله عنه دې. دَهغوی دَ مور نوم زينب بن مظعون رضی الله عنها ده. دَهغوی رضی الله عنه حالات كتاب الإيمان باب الإيمان وقول النبي صلى الله عليه وسلم: (بني الإسلام على خمس) لاندې ليکلې شوی دی. (٣)

البراء بن عازب رضی الله عنه: دا مشهور صحابي حضرات براء بن عازب بن الحارث بن عدی انصاری حارثی اوسی رضی الله عنه دې. ابوعماره، ابوعمرو يا ابوالطفيل دَدوی کنيت دې. دَدوی احوال كتاب الإيمان باب: الصلاة من الإيمان لاندې بيان شوی دی.(٤)

تخريج تعليق: دَ اثر ابن عمر اتخريج: امام بخاري رحمه الله دَ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما مذکوره اثر دَترجمة الباب دَپاره په توګه دَتعليق ذکرکړې دې. حافظ ابن حجر رحمه الله (٥)علامه عيني رحمه الله (١)او علامه

---

(١) الحديث أخرجه البخاري في كتاب الغسل باب عرق الجنب وأن المسلم لاينجس. رقم: ٢٨٣وباب الجنب يخرج ويمشي في السوق رقم: ٢٨٥ ومسلم في صحيحه كتاب الحيض باب الدليل على أن المسلم لاينجس رقم: ٣٧١وأبوداؤد في سننه كتاب الطهارة باب في الجنب يصافح رقم: ٢٣١ والترمذي في جامعه أبواب الطهارة باب ماجاء في مصافحة الجنب رقم: ١٢١ والنسائي في سننه، كتاب الطهارة باب مماسة الجنب ومجالسته، رقم: ٢٦٩-٢٧٠ راجع جامع الأصول رقم: ٥٣٥٢.

(٢) عمدة القاري: ٣٠٨/٣.

(٣) كشف الباري: ١/٦٣٨-٦٣٧.

(٤) كشف الباري: ٢/٣٤٦-٣٤٥.

(٥) تغليق التعليق: ١٤٥/٢فتح الباري: ٤٩١/٢.

قسطلاني رحمه الله[۲] فرمائیلي دي چه امام سعید بن منصور په خپل سنن کښې دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما اثر دَمعنې په شان اثر موصولاً نقل کړې دې. [۳]
دَدې په شان دَمعنی اثر ابن ابی شیبه رحمه الله هم په مصنف کښې موصولاً ذکر کړې دې. [۴]
دَ اثر براء بن عازب رضي الله عنه تخریج: امام بخاري رحمه الله دَ براء بن عازب رضي الله عنه اثر دَ ترجمة الباب دَپاره په توګه دَ تعلیق نقل کړې دې. حافظ ابن حجر رحمه الله علامه عیني رحمه الله اوعلامه قسطلاني رحمه الله فرمائیلي چه دَ حضرت براء بن عازب رضي الله عنه اثر ابن ابی شیبه په مصنف کښې موصولاً نقل کړې دې. [۵]
غرض تعلیق: دَامام بخاري رحمه الله غرض دَدې تعلیق یعني حضرت ابن عمر او حضرت براء بن عازب رضي الله عنهم دَاثر نه ترجمه مؤیدکول دي. علامه عیني رحمه الله فرمائیلي په دې اثر اوترجمه کښې علي وجه الکمال مطابقت نه شي موندلې په داسې توګه چه ترجمه مقید ده چه په لاس باندې قذر نه وي ولې اثر مطلق دې په دې کښې داقید ذکر نه دې. [۶]
دَامام بخاري رحمه الله دقت نظر: دَ تراجم باره کښې دَ امام بخاري رحمه الله دقت نظر مشهور اومعروف دې. دَترجمه په منعقد کولو کښې دَهغوی یومخصوص انداز دې. چنانچه کله تَرجمه مقیدراوړي او روایت مطلق وي اومقصد هغه طرف ته اشاره کول وي چه په روایت کښې دَ ترجمه قید ملحوظ دې دَدې اطلاق مرادنه دې لکه څنګه چه شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله دَامام بخاري رحمه الله دا عادت مقدمه لامع او الأبواب والتراجیم کښې بیان کړې دې. دکوم وضاحت چه کشف الباري مقدمة الکتاب کښې راغلې دې. غرض دا چه زیر بحث ترجمه هم دَدغه قبیل نه ده مقصددې خبرې طرف ته اشاره کول دي چه په ترجمه کښې موجود «إذا لم یکن علی یده قذر» قید په اثر کښې ملحوظ دې.
شرح اثر: وأدخل ابن عمر والبراء بن عازب: علامه عیني رحمه الله لیکلي دي وأدخل کښې واؤ استفتاحیه یعني ابتدائیه دې په کوم سره چه دکلام شروع کیږي. [۷]

---

[۱] عمدة القاري:۳۰۸/۳.
[۲] إرشادالساري: ۴۹۹/۱.
[۳] قال الحافظ في تغليق التعليق (۱۵۴/۲) "أما أثرابن عمر، فقال سعيد بن منصور، حدثنا سفيان، ثناإبراهيم بن ميسرة، سمع طاوساً، يقول: رأيت ابن عمرو ابن عباس، إذا خرجا من الغائط، يلتقيان بتور فيه ماء، فيغسلان وجوههما، وأيديهما".
[۴] الأثر أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه، كتاب الطهارة باب في الرجل يكون في أرض الفلاة فيحدث: ۴۳/۲رقم: ۱۱۳۱ولفظه: "حدثنا ابن عيينة، عن إبراهيم بن ميسرة، عن طاوس قال: كلاهما رأيت: ابن عمرو ابن عباس، إذا خرجا من الغائط تلقيا بتور، فيغسلان وجوههما وأيديهما".
[۵] تغليق التعليق: ۱۴۵/۲فتح الباري: ۴۹۱/۲ عمدة القاري:۳۰۸/۳ إرشادالساري: ۴۹۹/۱، الأثر وصله ابن أبي شيبة في كتاب الطهارة باب في الرجل يخرج من المخرج فيدخل يده في الإناء: ۲۹/۲رقم الحديث: ۱۰۶۵ولفظه: "حدثنا ابن نمير، عن الأعمش، عن إسماعيل بن رجاء، عن أبيه عن البراء:أنه أدخل يده في المطهرة قبل أن يغسلها"، وقال الأعمش: "هذا حرف أستحسنه". انتهى.
[۶] عمدة القاري: ۳۰۸/۳.
[۷] عمدة القاري:۳۰۸/۳.

يدها: دَيده ضمير ابن عمر او براء بن عازب رضی الله عنهم دواړو طرف ته دې. په دې تاويل «أدخل كل واحد منهما يده» يعنی دې دواړو حضراتوخپل لاس په اوبوکښې اووهلو. دَ ابوالوقت په روايت کښې "يديهما" الفاظ راغلی دی په دې کښې دَ تاويل حاجت نشته دې.[1] علامه کرمانی رحمه الله اوعلامه برماوی رحمه الله فرمائی چه بعض نسخوکښې "يديهما"، "لم يغسلهما" او "توضأ" درېواړه تثنيه نقل دی.[2]

الطهور: لفظ طهور په دوه شان سره لوستلې کيږی دَ طاء په ضمه اوفتحه دواړه شان سره لوستل صحيح دی الطُّهور (په ضمه دَطاء) تطهيريعنی پاکوالی په معنی کښې راځی اوالطَّهور (په فتح دطاء) فَعُول په وزن باندې دمبالغه صيغه ده هرهغه صفا اوبوته وائی په کوم سره چه طهارت حاصل کړې شی.[3]

حديث کښې الطَّهور په فتح دَ طاء دې: علامه کرمانی رحمه الله اوشيخ الاسلام علامه زکريا انصاری رحمه الله وغيره فرمائی چه دلته الطَّهور دَمشهور لغت مطابق دَ طاء فتحه سره دې. هغه اوبوته وائی په کوم سره چه تطهير يعنی پاکی حاصله کړې شي.[4]

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلی چه مراد دَغسل دپاره تيارې کړې شوې اوبه دی.[5] خوعلامه عينی رحمه الله فرمائيلی دی مراد هغه اوبه دی په کوم سره چه په اودس اوغسل کښې پاکی حاصله کړې شی.[6]

قوله: ولم يغسلها ثم توضأ: يعنی دې دواړو حضراتو بغيردَ لاسونو وينځلو نه په اوبوکښې لاسونه اووهل بيائی اودس اوکړو.[7] نولکه چه امام بخاری رحمه الله ضمنًا اودس او دَ حدث اصغرمسئله بيان کړې ده.

دَ ابن عمر نه دَروايت کړې شوی اثاروپه خپل مينځ کښې تعارض: دَحضرت ابن عمر رضی الله عنهما يواثرخو هغه دې کوم چه امام بخاری رحمه الله په توګه دَتعليق راوړلې دې چه ابن عمر رضی الله عنهما لاسونه بغيردَ وينځلو په اوبوکښې وهلی دی خوهم دَهغوی نه يواثر په ابن ابی شيبه کښې دَ محمدبن فضيل عن أبي سنان ضرار عن محارب په طريق باندې نقل کړې دې په کوم کښې چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمائيلی دی «من اغترف من ماء وهو جنب، فما بقي منه نجس»[8] يعنی چاچه دَجنابت په حالت کښې دَ څه اوبو نه يولپه ډک کړو نودَهغې باقی پاتې اوبه به نجس (ناپاک) وی.

هم دغه شان امام عبدالرزاق رحمه الله په خپل مصنف کښې دَ نافع نه په واسطه ابن جريج دَحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دَغسل جنابت باره کښې نقل کړی دی چه هغوی به اول په خپلو دواړو لاسونو باندې اوبه

---

[1]) شرح الكرماني:۱۲٤/۳فتح الباري: ۴۹۱/۲عمدة القاري: ۳۰۸/۳.
[2]) شرح الكرماني: ۱۲٤/۳إرشادالساري: ٤۹۹/۱.
[3]) لسان العرب: ۲۱۰/۸النهاية: ۱۳۰/۲الصحاح ص: ٦٥٠مجمع بحار الأنوار: ٤۷۳/۳.
[4]) شرح الكرماني: ۱۲٤/۳تحفة الباري: ۲۲٥/۱إرشادالساري: ٤۹۹/۱.
[5]) فتح الباري: ٤۹۱/۲.
[6]) عمدة القاري: ۳۰۸/۳.
[7]) إرشادالساري: ٤۹۹/۱.
[8]) مصنف ابن أبي شيبه كتاب الطهارة باب في الرجل يدخل يده في الماء وهو جُنب: ۱۰٥/۱رقم: ۸۹۷

اړولې او وینځل به ئې بیا به ئې په خپل ښی لاس باندې لږه ډك كولوسره په خپل شرمګاه باندې اړولې بیابه ئې په خپل ګس لاس باندې دا وینځلو...(۱).
ددې آثارو په خپل مینځ کښې تعارض دې. دامام بخاری رحمه الله والا په اثرکښې دی چه ابن عمر رضی الله عنه لاس وینځلونه بغیر په اوبوکښې لاس اووهلو خود مصنف عبدالرزاق د روایت نه معلومه شوه چه د لاس وینځلونه پس ئې په اوبو کښې وهلې وو اود مصنف ابن ابی شیبه په روایت کښې هغه د جنبی د لاس وهلو نه باقی پاتې اوبه د نجس کیدو صراحت کړې دې.
په اثارو کښې تطبیق: شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله په دې خپل مینځ کښې متعارض آثاروکښې تطبیق کولوسره فرمائی:
«ولاتعارض بینهما عندي،لأن أثرابن أبي شيبة نص في الجنابة،وأثر البخاري ظاهر في الحدث الأصغر» (۲)
یعنی زما په نیز په دې آثاروکښې هیڅ تعارض نشته ځکه چه د ابن ابی شیبه روایت کړې شوې اثر د جنابت باره کښې صریح دې خود امام بخاری رحمه الله نقل کړې شوې اثر د حدث اصغر باره کښې ظاهر دې.
ابن رجب الحنبلی رحمه الله د امام بخاری رحمه الله د اثر باره کښې «هذا في الوضوء» وئیلو سره دې طرف ته اشاره کړې ده چه دا اثر د حدث اصغر سره متعلق دې اود ابن ابی شیبه والا اثر د جنابت سره متعلق دې.(۳)
رفع د تعارض: که چرې د اثر باب تعلق هم د حدث اکبرسره اومنلې شی او «ثم توضأ» نه مراد "ثم توضأ قبل الغسل" واخستلې شی لکه چه د مصنف عبدالرزاق د روایت نه معلومه شوه چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه جنابت په غسل کښې د لاس وینځلونه پس به بیا په اوبوکښې وهلو نو په دې صورت کښې به بیا د رفع تعارض ضرورت پیښیږی.
د علامه ابن بطال، ابن ملقن او عینی توجیه: چنانچه ابن بطال رحمه الله ابن ملقن رحمه الله او علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دابن ابی شیبه نقل کړې شوې اثر «فما بقي منه نجس» به په هغه صورت باندې محمول وی چه کله په اوبوکښې د لاس داخلونکی په لاس باندې څه نجاست (منی بول وبراز) وغیره لګیدلې وی.(۴)
د حافظ صاحب توجیه: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دابن عمر رضی الله عنه روایت شوې دا مختلف آثار په دوو مختلف حالتونوباندې محمول کوی اوداسې به وائی چه کوم وخت لاس نظیف وو اودهغوی یقین وو چه په هغې باندې څه نجاست نه دې لګیدلې نوهغه ئې بغیرد وینځلونه په اوبوکښې داخل کړو اوکله چه دا ګمان او یقین وی چه په لاس باندې څه نجاست لګیدلې وی نوهغه ئې اووینځلو او په

---

(۱) کتاب الطهارة باب اغتسال الجنب: ۱/۲۵۹-۲۵۸رقم: ۹۹ولفظه "عبدالرزاق عن ابن جريج قال: أخبرني نافع عن اغتسال عبدالله بن عمر من الجنابة قال: كان يفرغ على يديه فيغسلهما، ثم يغرف بيده اليمنى فيصبعلى فرجه فيغسله بيده الشمال..... الخ"
(۲) الكنز المتواری: ۳/۲۰۶-۲۰۵الأبواب والتراجم ص: ۶۱.
(۳) فتح الباری لابن رجب الحنبلی: ۱/۱۵۹.
(۴) شرح ابن بطال: ۱/۳۸۸التوضیح: ۴/۵۷۳ عمدة القاری: ۳/۲۰۸.

اوبوکښې ورداخل کړو او بغیرد وینځلوډ لاس اچونکی باره کښې اوفرمائیل چه د هغه باقی پاتې اوبه ناپاك دی.[1]

فائده: که چرې د ابن عمر رضی الله عنهما دغه مقصد اومطلب وو کوم چه شراح حدیث بیان کړې دې نودې نه دا نتیجه راوځی چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه منی نجس ګنړلو.

دحافظ صاحب دویمه توجیه: حافظ ابن حجر رحمه الله یوه بله توجیه هم ذکر کړې ده هغه دا چه په اوبوکښې د لاس داخلولو نه وړاندې د لاس وینځل په ندب باندې محمول دی (لکه چه د مصنف عبدالرزاق په روایت کښې دی) اوچرته چه وینځل پریخودی دی هغه د جواز په بیان باندې محمول دی (لکه چه د امام بخاری رحمه الله په ذکرکړې شوی اثرکښې دی).[2]

دعلامه عینی رحمه الله په حافظ صاحب باندې نقد: علامه عینی رحمه الله د حافظ صاحب رحمه الله په دې توجیه باندې نقد کولوسره فرمائی چه په دې توجیه سره په دغه مختلف آثاروکښې توفیق حاصل نه شوځکه چه که چرې په لاس باندې نجاست (منی، بول وبراز وغیره) لګیدلی وی نوبیا د بیان جواز دپاره د ترك غسل څه معنی؟ اوکه چرې لاس نظیف وی او په هغې باندې څه نجاست نه وی لګیدلې نوبیاهیڅ حرج نشته (یعنی وینځل اونه وینځل برابر وی).[3]

دماء مستعمل د طهارت اونجاست بحث: د جمهور ائمه اربعه مختار اومفتٰی به مسلك د استعمال شوو اوبو باره کښې دادې چه هغه پاکې دی لیکن غیر مطهر دی. البته امام مالك رحمه الله دماء مستعمل مطهرکیدو هم قائل دې.[4] د فقهاء حنفیه سره د دې چه مفتٰی به قول اود صحیح روایت مطابق د ماء مستعمل باره کښې هم هغه مسلك دې کوم چه د جمهورو دې.[5] لیکن د بعض فقهاء نه د دې نجاست قول هم نقل دې.[6]

خود نجاست والا روایت هم بې بنیاد اوبې دلیل نه دې دنورو دلائلونه علاوه یودلیل دحضرت ابن عمر رضی الله عنه هغه اثردې کوم چه ابن ابی شیبه په قوی سندسره روایت کړې دې اود هغې په حواله سره علامه عینی رحمه الله هم نقل کړی دی چه کوم سړې په حالت دجنابت کښې د اوبونه لپه ډکوی نوباقی اوبه به پلیتیږی.[7]

د نجاست والا قول د حنفیه تفردنه دې: د احنافو د فقهاؤ نه کوم ائمه حضراتو چه نجاست ماء مستعمل قول اختیارکړې دې هغه په دې کښې تفردنه دې. حضرت علامه انور شاه کشمیری رحمه الله

---

[1] فتح الباري: ۴۹۱/۲.

[2] فتح الباري: ۴۹۱/۲.

[3] عمدة القاري: ۳۰۸/۳.

[4] المجموع شرح المهذب: ۱۵۱/۱الشرح الکبیر للقزوینی: ۱۱/۱-۱۰حاشیة الدسوقی: ۷۱/۱-۷۰بدایة المجتهد: ۴۵۹/۱ المنتقٰی : ۳۱۳/۱-۳۱۲المغنی لابن قدامة: ۲۹/۱-۲۸.

[5] ردالمحتار: ۱۴۸/۱-۱۴۷البحرالرائق: ۱۷/۱-۱۶۹فتح القدیر مع الهدایة: ۷۸/۱-۷۴ انظرلتفصیل المذاهب: الموسوعة الفقهیة، تحت مادة میاه: ۳۶۳/۳۹-۳۵۹.

[6] ردالمحتار: ۱۴۸/۱-۱۴۷ البحرالرائق: ۱۷۴/۱-۱۶۹فتح القدیر مع الهدایة: ۷۸-۷۴.

[7] مرتخریج الأثر آنفاً، عمدة القاري: ۳۰۸/۳.

فرمائی چه فتاویٰ ابن تیمیه رحمه الله کښې دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله نه روایت نقل دې چه دَ جنبی په اوبو کښې لاس وهلوسره هغه اوبه نجس یعنی پلیتیږی.(۱)

دَ نجاست والا دَ قول بنیاد: دَدې نه پس حضرت کشمیری رحمه الله اوفرمائیل چه دا دواړه مسئلې (دَ ابن عمر رضی الله عنهما اثر اودَ امام احمد رحمه الله قول) دَ ماء مستعمل په نجاست باندې دلالت کوی لکه چه دا دواړه دَ نجاست ماء مستعمل دَپاره (دَ نورو دلائلونه علاوه) دَ یوبنیاد حیثیت لري. (۲)

دَ حضرت گنګوهی رحمه الله رائې: لامع الدراری کښې حضرت ګنګوهی رحمه الله نه نقل دی چه دَامام بخاری رحمه الله غرض دَدې آثار او احادیثونه دلته ماء مستعمل طهارت او طهوریت دواړه بیانول دی اودا غرض څکه ثابتیدې نه شی چه دَ جمهورو په نیز دَاوبو استعمال هغه وخت منلې شي کله چه هغې سره دَ څه قربت ادائیګی شوې وی. یا یوحدث زائل کړې شوی وی اودَ امام بخاری رحمه الله استدلال دلته په دې دواړو صورتونوکښې په عدم فرق باندې مبنی دې چه یواستعمال په غسل کښې دَ پلیتنی دَ لرې کولودَپاره کیږی او یو استعمال بغیردَ ازاله حدث هم وی. دغه شان امام بخاری رحمه الله په طاهر اوطهور کښې هم دَ فرق خیال نه دې ساتلې.(۳)

دَعلامه کشمیری رحمه الله رائې: علامه کشمیری رحمه الله اوفرمائیل چه دَامام بخاری رحمه الله غرض په دې احادیثوسره یوخو په اوبوکښې دَ لاس وهلونه وړاندې لاس وینځل ثابت کول دی اوداهم ثابتوی چه په وخت دَ ضرورت دَ لاس وینځلونه بغیرهم اوبوکښې لاس وهل او لپه ډکولې شی سره ددې چه شرعاً ددې نه بچ کیدل مطلوب دی او دې نه دَ امام بخاری رحمه الله غرض دَماء مستعمل طهارت ثابتول دی.(۴)

دَ امام بخاری رحمه الله اوجمهور په رائې کښې توافق: په دې توجیه سره دَ امام بخاری رحمه الله او جمهور ائمه رائې یوکیږی اودَ امام بخاری رحمه الله رائې دَ ائمه احنافو دَ رائې موافق کیږی. په دې وجه مذکوره توجیه زیاته مناسب او بهترده څکه چه په دې توجیه سره دَ امام بخاری رحمه الله په نیز هم دَ جمهورو په شان به ماء مستعمل طاهر ګنړلې کیږی. والله اعلم بالصواب.

دَتعلیق بخاری رحمه الله نه مستفاد حکم: امام بخاری رحمه الله دَتعلیق په توګه دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما او براء بن عازب رضی الله عنه چه کوم اثر ذکرکړې دې دَهغې نه شراح حدیث دَدې حکم استنباط کړې دې چه کله دَ یوجنبی په لاس باندې دَ نجاست حقیقی نه څه لګیدلې نه وی نوهغه خپل لاس دَ وینځلونه بغیر په اوبوکښې وهلې شی دادَهغه دَپاره جائزدی.(۵)امام عبدالرزاق صنعانی رحمه الله دَ معمر عن جابر په طریق سره او امام ابن ابی شیبه رحمه الله دَ سفیان ثوری عن جابر په طریق سره دَحضرت عامر شعبی رحمه الله نه روایت کړې دې: ((کان أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم یدخلون أیدیهم فی الإناء(۶) وهم جنب والنساء وهن

---

(۱) فیض الباری: ۴۶۰/۱ الأبواب والتراجم ص: ۶۱ وقد روی مثله ابن رجب الحنبلی فی فتح الباری: ۱۶۰/۱ وإن قال:"وهوقول شاذ

(۲) فیض الباری: ۴۶۰/۱.

(۳) لامع الدراری مع الکنزالمتواری: ۲۰۵/۳.

(۴) فیض الباری: ۴۶۰/۱.

(۵) عمدة القاری: ۳۰۹/۳ إرشادالساری: ۴۹۹/۱.

(۶) وفی مصنف عبدالرزاق لفظ "الماء" مکان "الإناء".

حيض، لايرون بذلك بأساً.(۱) يعني قبل أن يغسلوها» (۲)حضرت عامر شعبي رحمه الله فرمائي چه دَ رسول الله ﷺ صحابه كرامو رضي الله عنهم به دَ جنابت په حالت كښې اوښځې (صحابيات) په حالت دَحيض كښې بغيرد لاس وينخلونه په لوښى (اوبو) كښې لاس وهلو اوهغوى به په داسې كولوسره هيڅ حرج نه ګنړلو.
مصنف عبدالرزاق كښې دى چه په داسې كولوسره به هغه اوبه نه ناپاكه كيدې.حضرت عائشه بنت سعد رضي الله عنها فرمائي: «كان سعد يأمر جاريته فتناوله الطّهور من الجرّة، فتغمس يدها فيها، فيقال: إنها حائض! فيقول: إن حيضتها ليست في يدها»(۳)يعني حضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه به خپلې وينځې ته حكم وركولو نو هغې به په منګى كښې لاس وركولوسره اوبه وركولې، حضرت سعد رضي الله عنه ته اوونيلې شو چه هغه خوځائضه ده. هغوى اوفرمائيل دَ وينځې حيض دَهغې په لاس كښې نه دې. دَدې نه علاوه دَ سلف تابعينودَ يو جماعت نه دَدې جواز نقل دې. په كوموكښې چه ابن سيرين، عطاء، سالم، سعيدبن جبير او سعيد بن مسيب رحمهم الله وغيره شامل دى.(۴)
چنانچه هشام دَ ابن سيرين رحمه الله باره كښې نقل كړى دى چه هغه به دَ بيت الخلاء نه راوتلو بيابه ئې دَخپل لاس وينخلونه وړاندې په لوښى كښې وهلو.(۵)هم دغه خبره ابن سيرين رحمه الله دَ عبيده باره كښې نقل كړې ده.(۶)
اعمش رحمه الله وائى چه ما ابراهيم (نخعى) اوليدلو چه هغوى متيازې اوكړې بيادَ لاس وينځلونه وړاندې په لوښى كښې داخل كړو. (۷)حضرت شعبى رحمه الله دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل كړى دى هغوى فرمائي: «فأدخلهما في الماء وهو جنب قبل أن يغسلها، فلابأس»(۸)
كه چرې سړې په حالت دَ جنابت كښې وى اوهغه دَ لاس وينځلونه اول په اوبوكښې اووهلو نو په دې كښې هيڅ حرج نشته دې.سعيدبن مسيب رحمه الله فرمائي:«لابأس أن يغمس الجنب يده في الإناء قبل أن يغسلها» كه جنبى دَ لاس وينځلونه وړاندې دا په اوبوكښې اووهلو نو په دې كښې هيڅ حرج نشته دې.

قوله: : ولم ير ابن عمر وابن عباس بأساً بما ينتضح من غسل الجنابة:

يعني ابن عمر رضي الله عنهما او ابن عباس رضي الله عنهما هيڅ مضائقه اونه ګنړله په هغه اوبوسره غسل كښې په كوم كښې چه دَ غسل جنابت ځاڅكى پريوځى.

---

(۱) وفيه: "لايُفسدذلک عليهم" "لايرون بذلک بأساً".
(۲) مصنف عبدالرزاق كتاب الطهارة باب الماء يمسه الجنب أو يدخله: ۱/۹۲-۹۱رقم: ۳۱۰مصنف ابن أبي شيبة، كتاب الطهارة باب في الرجل يدخل يده في الماء وهو جنب: ۱/۵۰۶رقم:۹۰۱.
(۳) مصنف ابن أبي شيبة، كتاب الطهارة [باب] في الرجل يُدخل يده في الماء وهو جُنبٌ: ۱/۵۰۶رقم:۹۰۰.
(۴) التوضيح: ۵۷۳/٤عمدة القاري: ۳/۳۰۹شرح ابن بطال: ۱/۳۸۹-۳۸۸.
(۵) مصنف ابن أبي شيبة كتاب الطهارة [باب] في الرجل يخرج المخرج فيدخل يده في الإناء: ۲/۲۸رقم: ۱۰۶۰.
(۶) مصنف ابن أبي شيبة كتاب الطهارة [باب] في الرجل يخرج المخرج فيدخل يده في الإناء: ۲/۲۸رقم: ۱۰۵۹.
(۷) مصنف ابن أبي شيبة كتاب الطهارة [باب] في الرجل يخرج المخرج فيدخل يده في الإناء: ۲/۲۸رقم: ۱۰۶۱ وأخرجه ابن أبي شيبة مثله عن سعيد بن جبير رقم: ۱۰۶۲عن سالم رقم: ۱۰۶۳وعن ابراهيم رقم: ۱۰۶٤.
(۸) مصنف عبدالرزاق كتاب الطهارة باب الماء يمسه الجنب أو يدخله: ۱/۹۱ رقم: ۳۰۹.

دَ تخریج تعلیق: دَ حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہما وحضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما اثر کوم چه امام بخاری دَ ترجمة الباب دپاره په توګه دَتعلیق راوړلې دې. په دې کښې دَ حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ اثر په شان اثر عبدالرزاق صنعانی په مصنف کښې په واسطه دَ ابن جریج دَحضرت نافع نه (۱)او په واسطه دَ عبدالله بن عمر دَ نافع نه (۲) موصولاً نقل کړې دې.(۳)خو ابن ابی شیبه په خپل مصنف کښې دا په طریق عبدالله بن عمر، نافع نه موصولاً ذکر کړی دی.(۴)

دَ حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما اثر کوم چه امام بخاری رحمہ اللہ دَ تعلیق په توګه راوړلې دې هغه روایت بالمعنی دې. امام عبدالرزاق صنعانی رحمہ اللہ په خپل مصنف کښې سفیان عن العلاء ابن المسیب عن رجل عن إبراهیم په طریق سره دَ حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما نه نقل کړې دې چه دَ هغوی نه تپوس اوکړې شو دَهغه سړی باره کښې چه په اوبو سره غسل یا اودس کوی او په هغه اوبو کښې څاڅکی پریوځی (نودې څه حکم دې؟) ابراهیم رحمہ اللہ وائی چه حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما په دې کښې هیڅ حرج اونه ګنړلو. (۵)

امام ابن ابی شیبه هم دا روایت په خپل مصنف کښې حفص عن العلاء بن المسیب، عن حماد عن إبراهیم په طریق دَ حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما نه نقل کړی دی او په هغې کښې حضرت ابن عباس فرمائیلی "لابأس به" یعنی په دې کښې هیڅ حرج نشته دې.(۶)

ابن ملقن رحمہ اللہ او علامه عینی رحمہ اللہ دحضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما مذکوره اثر منقطع ګرځولوسره فرمائی: ((وهو منقطع فیما بین إبراهیم وابن عباس رضی الله عنهما)).(۷) یعنی په دې اثرکښې دَ ابراهیم رحمہ اللہ او ابن عباس رضی اللہ عنہما په مینځ کښې انقطاع ده.

شرح تعلیق: بما ینتضح من غسل الجنابة: په لغت کښې ینتضح دَ اوبو څاڅیدو او دَ څاڅکو الوتو اوپریوتو ته وائی. (۸)

---

(۱) کتاب الطهارة باب مایستنضح فی الإناء من الوضوء والغسل: ۹۲/۱رقم: ۳۱٤ولفظه: "عن ابن جُریج قال: قلت لنافع: أین کان ابن عمر یجعل إناءه الذی یتوضأفیه؟ قال: إلی جنبه. انتهی"

(۲) کتاب الطهارة باب قطر البول، ونضح الفرج إذا وجدبللاً: ۱۵۱/۱رقم: ۵۸۸ولفظه: "کان ابن عمر إذا توضأ لایغسل أثر البول ولکنه کان ینضح" اهـ وأخرجه مثله عن الثوری عن الحسن بن عبیدالله عن أبی الضحیٰ رقم: ۵۸۹وکذلک عن ابن عیینه عن الحسن بن عبید الله عن مسلم بن صبیح رقم: ۵۹۰.

(۳) تغلیق التعلیق: ۱۵۵/۱فتح الباری: ٤۹۱/۲عمدة القاری: ۳۰۹/۳ إرشادالساری: ٤۹۹/۱.

(٤) کتاب الطهارة [باب]من کان إذا توضأ نضح فرجه: ۲۰۲/۲رقم: ۱۷۸۶ولفظه: "کان ابن عمر إذا توضأ نضح فرجه. قال عبیدالله، وکان أبی یفعل ذلک" اهـ وعنه بمعناه عن وکیع عن ابن أبی ذئب عن مولی لابن أزهر. رقم: ۱۷۸۸.

(۵) کتاب الطهارة باب ما ینتضح فی الإناء من الوضوء والغسل :۹۱/۱رقم:۳۱۵ولفظه: "عن إبراهیم عن ابن عباس: أنه سئل عن رجل یغتسل أو یتوضأمن الماء وینتضح فیه، قال: فلم یربه بأساً" اهـ

(٦) کتاب الطهارة [باب] فی [الرجل] الجنب یغتسل وینضح من غُسله فی إنائه: ٤۸۲/۱رقم: ۷۸۹ انظر تغلیق التعلیق: ۱۵۵/۱فتح الباری: ٤۹۱/۲عمدة القاری: ۳۰۹/۳إرشادالساری: ٤۹۹/۱.

(۷) التوضیح: ۵۷٤/٤عمدة القاری: ۳۰۹/۳والظاهر أن إبراهیم هوالنخعی، لأن حماد لم یرو إلا عنه، راجع: تهذیب الکمال: ۲۷۰/۷رقم الترجمة: ۱٤۷۳والروایة منقطع لأنه لم یثبت لإبراهیم روایة عن ابن عباس رضی الله عنهما ولا لقاء هما" انظر ترجمة ابن عباس رضی اللہ عنہما فی تهذیب الکمال: ۱٥٤/۱٥رقم: ۳۳۵۸وترجمة إبراهیم النخعی فیه: ۱۰٤/۲رقم: ۱۸۱.

(۸) لسان العرب تحت مادة: نضح: ۱۷٤/۱٤ النهایة: ۷۵٤/۲الصحاح ص: ۱۰٤۷شرح الکرمانی: ۱۲٤/۳.

مطلب دادې چه ابن عباس رضي الله عنهما او ابن عمر رضي الله عنهما دَ غسل جنابت کونکی دَ بدن څاڅکی اوڅڅیدل او دَ غسل په اوبو کښې پریوتل خو په دې کښې هغوی هیڅ حرج نه ګڼړلو ځکه چه دَ دغه څاڅکو نه ځان ساتل ډیر سخت او په مشقت کښې اچونکي کاردې.[1]

دَ تعلیق غرض: دَدې اثرنه دَامام بخاري رحمه الله غرض دا ثابتول دی چه دَ غسل جنابت کونکی خپل تظیف دَلاس وینخلونه بغیر دَغسل په اوبوکښې لاس واچولو نو په دې سره دَ اوبو په اثر کښې هیڅ اثر نه پریوځي. امام بخاري رحمه الله خپله مدعیٰ داسې ثابته کړه چه کله دَغسل جنابت کونکی دَ بدن نه اوڅڅیدونکی څاڅکی په اوبو باندې هیڅ اثر نه شي غورزولې اودا نجس کولې نه شي. نودغه شان که چرته مغتسل دَ لاس وینځلو نه وړاندې لاس په اوبو کښې واچوی نو په دې سره به هم اوبه ناپاکه او نجس کیږي نه. ځکه چه دَغسل مکمل کیدونه وړاندې دَ سړی بدن جنب وی او جنابت نجاست حکمیه وی که چرې دَ مغتسل دَ بدن نه الوتونکی څاڅکو اوبه ناپاکه کولې نو په دغه اوبو سره به غسل کول منع کیدل خو چه په دې سره دغه حضرات صحابه کرام رضي الله عنهم په غسل کولوکښې څه حرج اونه ګڼړلو نوبیا که مغتسل چرته پاك لاس بغیردَ وینځلونه په اوبو کښې وهی نو په دې سره به هم په اوبو باندې څه اثر نه کیږي یعني نه به ناپاکه کیږي.[2] علامه عینی رحمه الله دَ ترجمه او اثر په مینځ کښې دا تطبیق تعسف ګرځولې دې.[3]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دَدې دا توجیه هم ممکن ده چه ابن عمر رضي الله عنهما اوحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په دې کښې حرج ځکه نه دې ګڼړلې ځکه چه دَدې نه بچ کیدل ډیر زیات ګران اودَ مشقت والاکار دې نو په دې وجه سره لګه چه هغه شرعاً معفو دی لکه څنګه چه ابن ابی شیبه رحمه الله دَ حضرت بصری رحمه الله نه نقل کړی دی هغه فرمائی: ((ومن يملك انتشار الماء، إنا لنرجو من رحمة الله ما هو أوسع من هذا)) یعنی دَ اوبو دَ (دغه) څاڅکو نه دَ بچ کیدو څوك طاقت لرلې شي مونږ خودالله تعالی دَ رحمت نه دَدې نه هم دَ زیات وسعت امیدلرو.[4]

علامه ابن بطال رحمه الله علامه ابن ملقن رحمه الله علامه ابن حجر رحمه الله علامه عینی رحمه الله اودَدوی نه نقل کولوسره محشی بخاری علامه سهارنپوری رحمه الله ((إنا لنرجو من رحمة الله ما هو أوسع من هذا)) دَ حسن بصری رحمه الله مقوله شمیر کړې ده.[5] حالانکه دَدې قول نسبت حسن بصری رحمه الله ته کول صحیح نه دی. ځکه چه دَ مصنف ابن ابی شیبه هغه نسخه کومه چه شیخ عبدالفتاح ابوغده رحمه الله یو قابل شاګرد محقق او محدث عصری شیخ محمدعوامه شامی رحمه الله تحقیق او تعلیق سره چهاپ شوې ده په دې کښې په صراحت سره ذکر دی چه ((ومن يملك انتشار الماء)) دَ حسن بصری رحمه الله قول دې او ((إنا لنرجو من رحمة ربنا ما هو أوسع من هذا)) دَ ابن سیرین رحمه الله قول دې.[6]

---

[1] إرشادالساري: ۴۹۹/۱ تحفة الباري: ۲۲۵/۱.

[2] فتح الباري: ۴۹۱/۲ عمدة القاري: ۳۰۹/۳.

[3] عمدة القاري: ۳۰۹/۳.

[4] فتح الباري: ۴۹۱/۲.

[5] شرح ابن بطال: ۲۸۹/۱ التوضيح: ۵۷۴/۴ فتح الباري: ۴۹۱/۲ عمدة القاري: ۳۰۹/۳ صحيح البخاري ص: ۴۰.

[6] كتاب الطهارة باب في الجنب يغتسل وينضح من غسله في إنائه: ۴۸۲/۱ رقم: ۷۹۶ راجع حاشية التوضيح: ۵۷۴/۴

دَحضرت ابن عمر رضی الله عنهما اوحضرت ابن عباس رضی الله عنهما په شان قول دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه ابن سيرين رحمه الله ابراهيم نخعي رحمه الله اوحسن بصری رحمه الله وغيره نه هم نقل دې لکه څنګه چه ابن التين رحمه الله وغيره ذکر کړې دې.[1]

ابن ابی شيبه رحمه الله په مصنف کښې دَدې ټولو حضراتو دَ آثارو تخريج کړې دې.[2] خو امام عبدالرزاق صنعانی رحمه الله په خپل مصنف کښې دَدوی نه علاوه عطاء بن ابی رباح رحمه الله او انس بن مالك رحمه الله نه دَ بخاری رحمه الله دَ تعليق په شان قول نقل کړې دې.[3]

احتياطی اړخ: معمر دَ جعفر بن برقان نه نقل کړی دی چه ميمون بن مهران رحمه الله به غسل کولووخت کښې لوښې په اوچت ځائی باندې کيخودلو دې دَ پاره چه په دې کښې دَ بدن دَغسل دَ اوبوڅاڅکی پرينوځی.[4]. ښکاره خبره ده چه دَهغوی دا عمل په انتهائی درجه احتياط باندې مبنی وو.

دَامام ابويوسف رحمه الله قول: علامه عينی رحمه الله فرمائيلی دی چه دَ بخاری رحمه الله تعليق سره نيزدې دَ امام ابويوسف رحمه الله هغه قول هم دې په کوم کښې چه هغوی دَهغه مونځ ګذارباره کښې اوفرمائيل په چا باندې چه دَ يودرهم نه زيات دَ متيازو څاڅکی پريوتی وی نو په دې سره به مونځ نه فاسد کيږی. بلکه هغه له پکار دی چه هغه دې لاړشی اوهغه متاثره ځائی دې اووينځی او واپس دې راشی په خپل مونځ دې بنا اوکړی.[5]

الحديث الأول

۲۴۸- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، أَخْبَرَنَا أَفْلَحُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ، تَخْتَلِفُ أَيْدِينَا فِيهِ» [حديث باب][6]

---

[1] شرح ابن بطال: ۲۸۹/۱التوضيح: ۵۷٤/٤عمدة القاری: ۳۰۹/۳فتح الباری لابن رجب الحنبلی: ۱۶۲/۱.

[2] مصنف ابن أبی شيبة كتاب الطهارة باب فی الجنب يغتسل وينضح من غسله فی إنائه: ٤٨٤/١-٤٨٢رقم: ۷۸۹إلی ۷۹۶.

[3] كتاب الطهارة باب ما ينتضح فی الإناء من الوضوء والغسل: ۹۳/۱-۹۲رقم: ۳۱۳-۳۱۲، ۳۱۶.

[4] كتاب الطهارة باب ما ينتضح فی الإناء من الوضوء والغسل: ۹۳/۱-۹۲رقم: ۳۱۷.

[5] عمدة القاری: ۳۰۹/۳.

[6] الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی كتاب الغسل باب غسل الرجل مع امرأته رقم الحديث: ۲۵۰ وفی باب تخليل الشعر حتی إذا ظن أنه قدأروی بشرته أفاض عليه رقم: ۲۷۳وفی كتاب الحيض باب مباشرة الحائض رقم: ۲۹۹وفی كتاب اللباس باب ما وطئ من التصاوير رقم: ۵۹۵۶ وفی كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة باب ما ذكر النبی صلی الله عليه وسلم وحضّ علی اتفاق أهل العلم وما اجتمع عليه الحرمان: مكة والمدينة وما كان بهما من مشاهد النبی صلی الله عليه وسلم والمهاجرين والأنصار ومصلی النبی صلی الله عليه وسلم والمنبر والمقبر رقم: ۷۳۳۹وأخرجه مسلم فی صحيحه فی كتاب الحيض فی باب القدر المستحب من الماء فی غسل الجنابة وغسل الرجل والمرأة فی إناء واحد فی حالة واحدة، وغسل أحدهما بفضل الآخر رقم: ۳۱۹وأبوداؤد فی الطهارة فی باب مقدار الماء الذی يجزئ به

ترجمه: مونږ ته عبدالله بن مسلمه بيان اوكړو چه وئي وئيل مونږ ته افلح هغه ذ قاسم بن محمد نه هغوی د حضرت عائشه رضي الله عنها نه نقل کړل چه حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل چه ما اونبی اکرم ﷺ «دواړو يوځائی» په يولوښي سره داسې غسل کولو چه زمونږ لاس به وار په وار په هغې کښې ورتللو.

تراجم رجال

عبدالله بن مسلمه: داد موطاامام مالك رحمه الله راوی عبدالله بن مسلمه بن قعنب قعنبی، حارثی، بصری رحمه الله دی. د دوی کنيت ابوعبدالرحمن دې اودوی جلالت شان او توثيق باندې ټول ائمه متفق دی. ددوی مختصر حالات كتاب الايمان باب من الدين الفرار من الفتن د رومبی حديث په ذيل کښې بيان کړې شوی دی.(۱)

قوله: **أفلح**: دا د صحيحين او سنن ابی داؤد او نسائی راوی افلح بن حميد بن نافع مدنی انصاری مجاری رحمه الله دی. (۲)ابوعبدالرحمن ددوی کنيت دې هم دغه معروف دی.(۳)
خوعلامه عبدالغنی مقدسی رحمه الله ابومحمد كنيت نقل کړې دی.(۴)علامه مزی رحمه الله علامه عبدالغنی مقدسی باندې نقد کولوسره فرمائی چه ابومحمد خود دوی نه پس د کوم راوی ترجمه چه ذکر کړې شوې ده دهغه كنيت دې اوهغه افلح بن سعيد انصاری رحمه الله دې د هغوی کنيت هم ابوعبدالرحمن دی.(۵) دوی ته ابن صفيرا هم وئيلې شی د صفون بن اوس د موالی نه دې.(۶)
شيوخ حديث: افلح بن حميد رحمه الله چه دكوم شيوخ او محدثين كرام نه احاديث مباركه روايت کړی دی په هغوی کښې دهغوی والد ماجد حميد بن نافع، سليمان بن عبدالرحمن بن جندب انصاری، عبدالرحمن بن قاسم بن محمد، قاسم بن محمد بن ابوبكرصديق او ابوبكر ابن محمد بن عمرو بن حزم رحمهم الله وغيره شامل دی.(۷)
تلامذه: دهغوی رحمه الله نه حديث مبارك نقل کونکوکښې اسحاق بن سليمان رازی، حاتم بن اسماعيل، حماد بن خالد الخياط، حماد بن زيد، خالد بن عبدالله واسطی، سفيان ثوری، عبدالله بن نمير،

الغسل رقم: ۲۳۸ والترمذی فی سننه فی كتاب اللباس ماجاء فی الجمة واتخاذ الشعر رقم: ۱۷۵۵. والنسائی فی الطهارة فی باب ذكر القدر الذی يكتفی به الرجل من الماء للغسل رقم: ۲۲۹ وأيضاً فيه. باب ذكر الدلالة على أنه لاوقت فی ذلك رقم: ۲۳۲ وأخرجه ابن ماجه فی سننه فی كتاب الطهارة باب الرجل والمرأة يغتسلان من إناء واحد رقم: ۳۷۶وانظر جامع الأصول فی أحاديث الرسول رقم: ۵۳۳۳.

(۱) كشف الباری: ۸۰/۲.

(۲) الإصابة: ۱۱۰/۱الطبقات: ۸۶/۵ كتاب الثقات لابن حبان: ۸۳/۶ الجرح والتعديل: ۲۵۰/۲. تهذيب الكمال: ۳۲۱/۲تاريخ الإسلام: ۳۹۷/۲ ميزان الاعتدال: ۲۷٤/۱ التاريخ الكبير: ۵۲/۲تهذيب التهذيب: ۳۶۷/۱.

(۳) تهذيب الكمال: ۳۲۱/۳ميزان الاعتدال: ۲۷٤/۱.

(۴) تهذيب التهذيب: ۳۶۷/۱تعليقات تهذيب الكمال: ۳۲۱/۳.

(۵) تعليقات تهذيب الكمال: ۳۲۱/۳.

(۶) تهذيب الكمال: ۳۲۱/۳تهذيب التهذيب: ۳۶۷/۱.

(۷) تهذيب الكمال: ۳۲۱/۳تهذيب التهذيب: ۳۶۷/۱الجرح والتعديل: ۲۵۰/۲.

عبدالله بن وهب، عبدالكبير بن عبدالحميد حنفي، عبدالملك بن عمرو عقدي، عثمان بن عمر بن فارس، عمر بن ايوب موصلي، ابونعيم فضل بن دكين، قاسم بن يزيد جرمي، محمدبن اسماعيل بن ابوفديك، محمدبن عمر واقدي، معافى بن عمران موصلي، وكيع بن الجراح، يحيى بن ازهر مصري، يحيى بن زكريا بن ابى زائده او ابوالقاسم بن ابوزناد رحمهم الله وغيره شامل دى. (١)
علامه مزي رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه عبدالله ابن مسلمه قعنبي رحمه الله دَهغوى هغه شاګرد دې چاچه دَ ټولونه په آخره كښې حديث روايت كړى دى يعنى قعنبي رحمه الله دَهغوى آخرى شاګرد دى. (٢)
دَ ائمه جرح اوتعديل توثيقى احوال: ابن حبان رحمه الله په ثقات كښې دَهغوى تذكره فرمائيلې ده. (٣) او امام بخارى رحمه الله التاريخ الكبير كښې دَ هغوى تذكره كړې ده. (٤)
عبدالله بن احمدبن حنبل رحمه الله وائى چه ما دَخپل پلار امام احمدبن حنبل رحمه الله نه دَافلح بن حميدباره كښې پوښتنه اوكړه نوهغوى اوفرمائيل صالح. (٥)
ابن ابى حاتم رحمه الله وائى چه ما دَخپل پلار امام ابوحاتم رحمه الله نه دَافلح بن حميدباره كښې تپوس اوكړو نو هغوى اوفرمائيل "ثقة لابأس به". (٦)
امام نسائى رحمه الله اوفرمائيل "ليس به بأس". (٧)
ابن سعد رحمه الله فرمائى "كان ثقة قليل الحديث". (٨)
ابواحمدبن عدى دَ يحيى بن محمدبن ساعد نه نقل كړى دى چه امام احمد رحمه الله دَ افلح بن حميد رحمه الله دَ روايت په دې الفاظو «لأهل العراق ذات عرق» سره منكر ګرخولو. (٩)
ابن عدى رحمه الله فرمائى چه دَافلح بن حميد رحمه الله نه ثقه خلق روايت كوى هغه زما په نيز صالح الحديث دې. زما اميد دې چه دَهغوى ټول احاديث مستقيم دى البته دَ مذكوره حديث ، معافى بن عمران تفرددې. (١٠)
ابن عدى رحمه الله نور فرمائى چه اما احمد رحمه الله دَ افلح بن حميد رحمه الله دَ مذكوره روايت صرف دا لفظ «ولأهل العراق ذات عرق» منكر ګرخولې دې خو دَ دې حديث باقى متن او سندباندې هيڅ كلام نه دې كړې اونه ئى دا منكر ګرخولى دى. (١١)

---

(١) تهذيب الكمال: ٣/٣٢٢-٣٢١تهذيب التهذيب: ١/٣٦٧الجرح والتعديل: ٢/٢٥٠.
(٢) تهذيب الكمال:: ٣/٣٢١تهذيب التهذيب: ١/٣٦٧.
(٣) كتاب الثقات: ٦/٨٣.
(٤) التاريخ الكبير: ٢/٥٢.
(٥) الجرح والتعديل: ٢/٢٥٠تهذيب الكمال: ٣/٣٢٢ تهذيب التهذيب: ١/٣٦٧.
(٦) الجرح والتعديل: ٢/٢٥٠تهذيب الكمال: ٣/٣٢٢ تهذيب التهذيب: ١/٣٦٧.
(٧) تهذيب الكمال: ٣/٣٢٢تهذيب التهذيب: ١/٣٦٧.
(٨) الطبقات الكبرى: ٥/٨٦حافظ ابن حجر رحمه الله قليل په ځائى كثير الحديث نقل كړې دې. تهذيب التهذيب: ١/٣٦٧.
(٩) تهذيب الكمال: ٣/٣٢٢تهذيب التهذيب: ١/٣٦٧ميزان الاعتدال:١/٢٧٤.
(١٠) تهذيب الكمال: ٣/٣٢٢تهذيب التهذيب: ١/٣٦٧.
(١١) تهذيب الكمال: ٣/٣٢٣تهذيب التهذيب: ١/٣٦٧. إليک نص الحديث: "وقّت رسول الله صلى الله عليه وسلم لأهل المدينة ذا الحليفة، ولأهل الشام ومصر الجحفة ولأهل اليمن يلملم ولأهل العراق ذات عرق."

معافی بن عمران رحمه الله ثقه راوی دې لکه څنګه چه پخپله دامام احمد رحمه الله نه روایت دې.(۱) اومعروف قاعده ده چه د ثقه زیاتوالی مقبول وی.(۲) په دې وجه دا الفاظ منکر ګرځولو په ځائی د ثقه د زیاتوالی په رنړاکښې به مقبول ګنړلې شی. چنانچه علامه ذهبی رحمه الله میزان الاعتدال کښې دابن عدی رحمه الله دمعافي بن عمران رحمه الله د تفرد والا قول نقل کولونه پس فرمائی: «هو صحیح غریب» یعنی مذکوره روایت صحیح غریب دې (۳)امام ابوداؤد رحمه الله دمعافی بن عمران په واسطه سره د حضرت عائشه رضي الله عنها نه دا زیادت نقل کړې دی.(۴) او امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې «باب: ذات عرق لأهل العراق» په الفاظوسره ترجمه قائمه کړه، د حضرت عمر رضي الله عنه نه د اهل عراق د پاره ذات عرق میقات مقررکول نقل کړی دی په کوم سره چه دمعافی بن عمران ددې زیادت تائید کیږی. (۵)

وفات: ابن حبان رحمه الله فرمائیل چه افلح بن حمید رحمه الله نابینا شوې وود ۸۰کالو په عمرکښې ۱۴۰هجری کښې وفات شوې وو.(۶)
حافظ ابن حجر رحمه الله وغیره د ابن حبان طرف ته منسوب کولوسره د وفات کال ۱۶۵هجری نقل کړې دې(۷)علامه واقدی رحمه الله فرمائی چه ۸۰کالو په عمرکښې ۱۵۸هجری کښې وفات شوې.(۸) اود ابن حبان رحمه الله والا ۱۵۸هجری قول ئې قیل سره نقل کړې دې. (۹)علامه مزی رحمه الله ۱۵۶هجری هم یوقول نقل کړې دې. (۱۰)

القاسم: دامشهور محدث وفقیه قاسم بن محمد بن ابوبکرصدیق رحمه الله دې. ددوی تفصیلی احوال باب من بدأ بالحلاب أو الطیب د رومبی حدیث په ذیل کښې بیان شوی دی.(۱۱)

عائشة رضي الله عنها: دا د حضورپاك د ټولو نه زیاته محبوبه زوجه محترمه ام المؤمنین طیبه طاهره اوصدیقه کائنات سیده عائشه صدیقه بنت سیدناحضرت صدیق اکبر رضي الله عنهما ده. دهغوی مختصرحالات بدء الوحی د دویم حدیث لاندې بیان کړې شوی دی.(۱۲)

شرح حدیث

---

(۱) تعلیقات تهذیب الکمال: ۳۲۲/۳.
(۲) دتفصیل دپاره اوګورئی النکت علی کتاب ابن الصلاح: ۲/۱ ۷۰-۶۷۶.
(۳) میزان الاعتدال: ۲۷٤/۱.
(۴) وقدأخرج أبوداؤد فی سننه بسنده عن المعافیٰ بن عمران عن أفلح، یعنی ابن حمید، عن القاسم بن محمد، عن عائشة: "أن رسول الله صلی الله علیه وسلم وقّتَ لأهل العراق ذات عرق" (کتاب المناسک باب فی المواقیت رقم الحدیث: ۱۷۳۹.)
(۵) کتاب الحج باب ذات عرق لأهل العراق رقم الحدیث: ۱۵۳۱.
(۶) کتاب الثقات: ۸۳/۶.
(۷) تهذیب التهذیب: ۳۶۷/۱تعلیقات تهذیب الکمال: ۳۲۳/۳.
(۸) تهذیب الکمال:۳۲۳/۳تهذیب التهذیب: ۳۶۷/۱.
(۹) کتاب الثقات: ۸۳/۶.
(۱۰) تهذیب الکمال: ۳۲۳/۳.
(۱۱) اوګورئی ص: ٤۳۹.
(۱۲) کشف الباری: ۲۹۱/۱.

قوله::كنت أغتسل أنا والنبي صلى الله عليه وسلم: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه ما او نبي كريم ﷺ به دواړو په يوځائي غسل كولو. لفظ النبي مرفوع او منصوب دواړه شان لوستلي كيدې شي.[1] دَمرفوع كيدو په صورت كښې به دَدې عطف دګلت په ضميرياندې مرفوع وي. دَ صحت عطف دَپاره أنا ضمير منفصل راوړلې شوې دې. دَ نصب په صورت كښې به مفعول وي او واؤ به دَ پاره دَ مصاحبت وي. [2]معنى به داشي چه ما به دَ نبي كريم په مصاحبت كښې غسل كولو[3] من إناءواحد يعنى مونږ دواړو به هم دَ يولوښي نه لپې ډكول. [4]

قوله::تختلف أيدينا فيه: يعنى زمونږ لاسونه به نمبر په نمبر په دغه لوښي كښې پريوتل. تختلف أيدينا فيه دا جمله محلاً منصوب ده ځكه چه دا "إناءواحد" نه حال واقعه كيږي. نحوي قاعده ده چه جمله معرفه نه پس واقع وي نو حال جوړيږي او نكره نه پس چه واقع شي نو صفت جوړيږي. خو لفظ إناء دلته موصوف كيدو دَ وجې نه معرفه دې په دې وجه دَ مابعد جمله به دَدې نه حال جوړيږي.[5]

دَ اختلاف ايدي نه مراد ادخال او اخراج دې يعنى كله به حضرت عائشه رضي الله عنها خپل لاس په لوښي كښې اچولو دَ لپې ډكولو دَپاره. كله چه به هغې خپل لاس بهر راويستلو نوحضورپاك به خپل لاس مبارك په لوښي كښې اچولو اوكله به دَدې برعكس كيدل.[6]

دَ حديث باب دَمختلف طرق وضاحت: دَحديث باب متن زهري عن عروة عن عائشة رضي الله عنها په طريق سره «باب غسل الرجل مع امرأته» په رومبي حديث كښې تيرشوي دى البته دَدې په آخره كښې «من قدح يقال له الفرق» اضافه ده او «تختلف أيدينا فيه» په دې كښې نقل نه دې.[7]

امام مسلم رحمه الله كتاب الحيض كښې افلح بن حميدعن القاسم بن محمد عن عائشة رضي الله عنها په طريق سره داحديث نقل كړې دې اودَدې په آخره كښې «من الجنابة» الفاظو زيادت نقل دې.[8]

امام مسلم رحمه الله معاذة عن عائشة رضي الله عنها په طريق سره دا روايت نقل كړې دې دَدې په آخره كښې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي «فيبادرني حتى أقول: دع لي، دع لي» يعنى حضورپاك به په اوبواخستلوكښې زما نه مخكښې والې كولو نومابه هغوى ته وئيل اول ما اخستو ته پريږده.

---

[1] شرح الكرماني: ۳/۱۲٤.
[2] عمدة القاري: ۳/۳۱۰إرشادالساري: ۱/٤۹۹.
[3] إرشادالساري: ۱/٤۹۹.
[4] إرشادالساري: ۱/٤۹۹.
[5] عمدة القاري: ۳/۳۱۰إرشادالساري:۱/٤۹۹.
[6] شرح الكرماني: ۳/۱۲٤فتح الباري: ۲/٤۹۲عمدة القاري: ۳/۳۱۰الكوثر الجاري: ۱/٤۱۸.
[7] رقم الحديث: ۲۵۰.
[8] باب القدر المستحب من الماء في غسل الجنابة وغسل الرجل والمرأة في إناء واحد في حالة واحدة وغسل أحدهما بفضل الآخر، رقم الحديث: ۷۳۱.

دَ امام نسائى رحمه الله په روايت كښې دى: «يبادرني وأبادره حتى يقول: دعي لي» (١)
يعنى حضورپاك به زمانه رومبې كيدلو كوشش كولو اومابه دَهغوى نه دَ وړاندې كيدلو كوشش كولو نوحضورپاك به ماته فرمائيل چه اول ما پرېږده چه اوبه واخلم.
"تلتقى" دَ راوى ادراج دې: ابوعوانه او ابن حبان رحمه الله حديث باب دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه «ابن وهب عن أفلح أنه سمع القاسم» په طريق سره نقل كړې دې په دې كښې «تختلف أيدينا فيه» نه پس "تلتقى" اضافه ده يعنى كله چه به مونږ نمبر په نمبر دَ اوبو اخستلودپاره په لوښى كښې لاس وركولو نوكله به په كښې زمونږ لاسونه جنګيدل.(٣)
واضحه دې وى چه دَ تلتقى الفاظ دَحديث حصه نه ده بلكه دَ راوى دَطرف نه ادراج دې لكه چه راوى دَ وتلتقى نه دَ تختلف أيدينا فيه تفسير او وضاحت كړې دې. چنانچه امام اسماعيلى هم دغه روايت افلح نه دَ اسحاق بن سليمان په واسطه سره نقل كړې دې په دې كښې «وتختلف أيدينا فيه» نه پس يعنى ونيلوسره "حتى تلتقى" الفاظ راوړلى دى يعنى زمونږ لاسونه به په خپل مينځ كښې جنګيدل.(٤)
هم دغه شان امام بيهقى رحمه الله حديث باب په خپل سندسره نقل كولونه پس فرمائى «رواه ابن وهب عن أفلح وزاد في الحديث "وتلتقى" وقال إسحاق بن سليمان الرازي عن أفلح يعني وتلتقي»(٥)
يعنى داحديث ابن وهب دَ افلح نه نقل كړې دې او په دې كښې ئى وتلتقى اضافه هم كړې ده. خو اسحاق بن سليمان رازى دَ افلح نه روايت كولوسره يعنى ونيلوسره وتلتقى الفاظ اضافه نقل كوى.
حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله په دې طرق دَحديث باندې بحث كولوسره ليكلى دى چه دَدې نه معلوميږى چه وتلتقى دَ راوى دَ طرف نه ادراج دې.(٦)
دَحديث باب ترجمة الباب سره مناسبت: دَحديث باب ترجمة الباب سره مناسبت په دې توګه دې چه په ترجمة الباب كښې راغلى دى چه دَ جنبى په لاس باندې تركومې پورې څه نجاست نه وى لګيدلى نوهغه دَ وينځلو نه اول دَ غسل دَاوبو په لوښى كښې وهلې شى. په دې باندې دَ حديث باب الفاظ «تختلف أيدينا فيه» دلالت كوى. ښكاره خبره ده چه اختلاف الأيدي خو په ادخال يعنى دَ لاسونو په لوښى كښې هم وهلوسره متحقق كيدې شى. دې نه معلوميږى چه دا عمل اوبه نه فاسد كوى. دادَ علامه

---

(١) باب القدر المستحب من الماء فى غسل الجنابة وغسل الرجل والمرأة فى إناء واحد فى حالة واحدة وغسل أحدهما بفضل الآخر، رقم الحديث: ٧٣٢.
(٢) كتاب الطهارة باب الرخصة فى ذلك رقم: ٢٤٠وكتاب الغسل والتيمم باب الرخصة فى ذلك، رقم: ٤١٤.
(٣) مسندأبى عوانة، كتاب الطهارة باب الإباحة للرجل أن يغتسل بفضل المرأة: ٣٢٩/١رقم: ٨١٢صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان، باب نواقض الوضوء، ذكر خبرفيه كالدليل على أن الملامسة للرجل من امرأته لايوجب الوضوء عليها رقم: ١١١١.
(٤) فتح البارى: ٤٩٢/٢عمدة القارى: ٣١٠/٣.
(٥) السنن الكبرى كتاب الطهارة باب الدليل على طهارة عرق الحائض والجنب رقم: ٨٨٥.
(٦) فتح البارى: ٤٩٢/٢عمدة القارى: ٣١٠/٣.

عينى رحمه الله توجيه ده.(۱) خو علامه قسطلانى رحمه الله بالكل هم دغه توجيه كولونه پس ليكى چه دَ اوبونه مفسدكيدل به هغه وخت وى كله چه دَغسل كونكى په لاس باندې په يقينى توګه څه پليتى نه وى لګيدلې.(۲)

دَعلامه كرمانى رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله توجيه: دا حضرات فرمائى چه كله دَ جنبى دَپاره دَ غسل دوران كښې دَ تماميت غسل په ذريعه دَ پليتئى دَ لرې كولونه وړاندې په لوښى كښې لاس داخلول اولپه دكول جائز دى لكه چه دَ حديث باب نه معلومه شوه نودَ غسل جنابت په شروع كښې هم داسې كول جائز دى. باقى پاتې شوه خبره دَ هغه احاديثو په كوم كښې چه په لوښى كښې دَ لاس داخلولو نه وړاندې دَ وينځلو حكم وارد شوې دې نوهغه دَ جنابت دَ وجې نه نه بلكه په دې وجه دې چه كيدې شى چه طهارت حاصلونكى په لاس باندې دَ نجاست يقينى ګمان وى.(۳)

يواعتراض: كه چرې څوك دا اووائى چه حديث باب مطلق دې خودَې نه پس چه دَ هشام رحمه الله كوم روايت دې په هغې كښې خودَ غسل جنابت نه وړاندې دَلاس وينځل ذكر دى نو په دواړو روايتونو كښې به څنګه موافقت كيږى؟ (۴)

دَعلامه كرمانى رحمه الله وغيره جواب: دَدې اعتراض جواب وركولوسره علامه كرمانى رحمه الله وغيره فرمائى چه دَ هشام حديث په ندب باندې محمول دې او حديث باب په جواز باندې، يا دا چه حديث باب مطلق دې او حديث هشام مقيددې. مطلق په مقيدباندې محمول كولوسره دواړو خايونوكښې به حكم لګولې كيږى. رسول الله صلى الله عليه وسلم به هميشه دَ غسل جنابت نه وړاندې لاسونه وينځل.(۵)

كه څوك دا اعتراض اوكړى چه په ترجمة الباب كښې خو «إذا لم يكن على يده قذر» سره مقيددې اوحديث باب مطلق دې لهذا په دواړو كښې مطابقت پاتې نه شو.(۶)

دَعلامه عينى رحمه الله جواب: علامه عينى رحمه الله دَدې اعتراض جواب وركولوسره فرمائى چه په ترجمة الباب كښې كوم قيد ذكر دې په حديث باب كښې به هم دَهغې رعايت ساتلې شى. په حديث باب كښې دَ ترجمة الباب والادَ قيد رعايت باندې قرينه داده چه چه دَ حضورپاك او سيده عائشه رضى الله عنها شان دَدې نه اوچت دې چه هغوى دې دَ وينځلونه وړاندې لاس په لوښى كښې داخل كړى اودَهغوى په لاس داسې يوشئ لګيدلې وى چه اوبه پليتې كړى. په دې باندې دَ ټولو نه زياته قوى قرينه دَحضرت هشام رحمه الله وړاندې راتلونكې روايت دې په كوم كښې چه په صراحت سره ذكر دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به دَ غسل جنابت نه وړاندې خپل لاس مبارك وينځل هم دغه په دې مقام باندې تحقيقى خبره ده خودَعلامه كرمانى رحمه الله يو ندب اوبل جواز باندې محمول كول دَتحقيق نه لرې خبره ده.(۷)

(۱) عمدة القارى: ۳۰۹/۳.
(۲) إرشادالسارى: ۵۰۰/۱.
(۳) شرح الكرمانى: ۱۲۶/۳-۱۲۵فتح البارى: ۴۹۲/۲.
(۴) شرح الكرمانى: ۱۲۶/۳فتح البارى:۴۹۳/۲إرشادالسارى: ۵۰۰/۱.
(۵) شرح الكرمانى: ۱۲۶/۳.
(۶) عمدة القارى: ۳۰۹/۳.
(۷) عمدة القارى: ۳۰۹/۳.

دَحدیث باب نه مستنبط شوی امور: دَحدیث باب نه دا امور مستنبط کړې شوی دی: ① دَدې حدیث نه معلومه شوه چه جنبی دَ غسل والالوبنی نه دَ اوبو لپه دَکولې شی او په باقی پاتې اوبو سره پاکوالې حاصلول جائزدی.[1]

دَ حافظ ابن حجر رحمه الله استنباط: حافظ صاحب رحمه الله فرمائی چه کله دَحدیث باب نه دا معلومه شوه چه دَ ماء قلیل نه لپه دَکولې شی او په دغه اوبو اوباقی پاتې اوبوسره پاکی حاصلول جائزدی. نوبیا داپه دې خبره باندې دلالت کوی چه دَ جنبی دَپاره په ماء دائم کښې غوپه لګولونهی دَ اوبودَ ګنده کیدونه دَ بچ کیدلودَپاره دی. په دې وجه سره نه دی چه دَ جنبی په غوپه لګولوسره هغه اوبه پلیتیږی خکه چه دَ جنبی په بدن او لاس کښې هیڅ فرق نشته دې. کله چه صرف په لاس داخلولوسره اوبه نه پلیتیږی نو بیاپه غوپه لګولوسره به هم نه پلیتیږی.[2]

دَعلامه عینی رحمه الله په حافظ صاحب باندې نقد: علامه عینی رحمه الله دَحافظ صاحب په دغه پورتنئی توجیه باندې نقد کولوسره فرمائی چه دَ بعض خلقو داکلام علی الاطلاق صحیح نه دې خکه چه که جنب په ماء دائم کښې غوپه اولګوله نوهغه اوبه به دَ دوو حال نه خالی نه وی یا خوبه هغه ماء کثیر وی یا قلیل. که چرې کثیر وی نوپه داسې توګه به هغه داسې لوئی تالاب وی دکوم دَ یوطرف اوبو ته چه په حرکت ورکولوسره بل طرف ته حرکت نه کیدلو نودَجنبی په داسې ماء دائم کثیر کښې غوپه لګول مفسد نه دی البته که اوبه لږې وی اوهغه دَ غدیر عظیم مقدار ته نه رسیږی نوبیا دَ جنبی په داسې ماء دائم قلیل کښې غوپه لګول مفسد للماء دی. باقی دا چه په دې سره به جنبی ته پاکوالې حاصلیږی که نه په دې کښې اختلاف دی.[3]

الحديث الثاني

۲۶۳ - حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ غَسَلَ يَدَهُ» [حديث باب][4]

---

[1]) عمدة القاری: ۳۱۰/۳.

[2]) فتح الباری: ۴۹۲/۲.

[3]) عمدة القاری: ۳۱۰/۳.

[4]) الحديث أخرجه البخاری أيضاً في كتاب الغسل باب الوضوء قبل الغسل رقم: ۲۴۸وأيضاً فی باب تخليل الشعر حتیٰ إذا ظن أنه قد أروی بشرته أفاض عليه رقم: ۲۷۲ومسلم فی صحيحه كتاب الحيض باب صفة الغسل من الجنابة رقم: ۳۱۶وأبوداؤد فی سننه فی كتاب الطهارة باب فی الغسل من الجنابة رقم: ۲۴۲وأخرجه الترمذی فی جامعه أبواب الطهارة باب ماجاء فی الغسل من الجنابة رقم: ۱۰۴ والنسائی فی سننه كتاب الطهارة ذكر وضوء

ترجمه: مونږ ته مسدد بيان اوكړو وئى وئيل چه اوونيل مونږ ته حماد هغه دَ هشام نه هغه دَخپل پلار عروه نه هغوى دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه نقل كړى دى چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى رسول الله ﷺ چه به كله دَ جنابت غسل كولو نو (اول) به ئى خپل لاس وينځلو.

تراجم رجال

حدثنا مسدد: دا مسدد بن مسرهد بن مسربل بن مرعبل بن ارندل بن سرندل بن غرندل بن ماسك بن مستورد اسدى دې. داهم وئيلى شي چه دَدوى نوم عبدالملك بن عبدالعزيز دې اومسدد ئى لقب دې. دَدوى مختصر حالات كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه او تفصيلى حالات كتاب العلم باب من خص بالعلم قوما دون قوم كراهية أن لايفهموا په ذيل كښې تيرشوى دى. [1]

حدثنا حماد: داحماد بن زيد بن درهم ازدى بصرى رحمه الله دې. په دې وجه امام بخارى رحمه الله دَ حماد بن سلمه نه روايت نه دې نقل كړې. [2] دَدوى حالات كتاب الإيمان باب ﴿وَإِنْ طَآئِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا﴾ فسماهم المؤمنين لاندې بيان كړې شوى دى. [3]

عن هشام: دادَجليل القدر تابعى عروه بن زبير خوئى ابوالمنذر هشام بن عروه اسدى مدنى دې. دَدوى مختصر حالات بدء الوحى لاندې اوتفصيلى حالات كتاب الإيمان لاندې ليكلې شوى دى. [4]

عن أبيه: دادَ هشام پلار حضرت عروه بن الزبير بن العوام رحمه الله دې. دَدوى احوال بدء الوحى دَ دويم حديث لاندې مختصراً او كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله لاندې تفصيلاً بيان شوى دى. [5]

عن عائشة: دا حرم نبوت ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه بنت صديق اكبر رضي الله عنهما ده. [6]

شرح حديث

قوله: كان رسول الله ﷺ إذا اغتسل من الجنابة غسل يده: رسول الله ﷺ چه به كله دَ جنابت غسل كولو نو (اول) به ئى خپل لاس وينځلو.

دَ سابقه حديث تفسير: علامه عينى رحمه الله ليكلى دى چه داحديث يعنى حديث هشام دَ سابقه حديث تفسيركوى. ځكه چه په وړاندې حديث كښې «اختلاف الأيدي في الإناء» تذكره وه چه دَ خپل ظاهر په اعتبارسره دوه شان احتمال لرى. «أيديهما» كښې يد نه پاك لاس هم مراد اخستې شى اوهغه لاس هم په كوم چه دَ جنابت نه علاوه څه نجاست لګيدلې وى په كوم سره چه اوبه ناپاكه كيدې شى. خود هشام

الجنب قبل الغسل رقم: ٢٤٨ راجع تحفة الأشراف مسند عائشة رقم: ١٧١٦٤ وكذلك جامع الأصول كيفية الغسل: ٥٣١٩

[1] كشف الباري: ٤/ ٥٩٠-٤٨٨.

[2] عمدة القاري: ٣/ ٣١١.

[3] كشف الباري: ٢/ ٢١٩.

[4] كشف الباري: ١/ ٢٩١، ٢/ ٤٣٦-٤٣٢.

[5] كشف الباري: ١/ ٢٩١، ٢/ ٤٣٦.

[6] دَهغوى رضي الله عنها حالات كشف الباري: ١/ ٢٩٥-٢٩١ بدء الوحى دَدويم حديث لاندې بيان شوى دى.

رحمه الله په حديث كښې دا صراحت دې چه حضورپاك به كله دَ جنابت دَ غسل اراده كوله نواول به ئې لاسونه وينځل اوبيابه ئې په لوښې كښې خپل لاس مبارك وهلو. ښكاره خبره ده چه دَ لاس وينځلو نه پس صرف جنابت حكمي دَ وجې نه هغه په لوښي كښې وهل مفسدللماء نه دې. دا ټول تفصيل هغه وخت دې كله چه سابقه حديث دَ نجاست ظاهري دَ نه لګيدو په يقين باندې محمول كړې شي اودَ حديث هشام ظاهر ښائي چه حضورپاك په لوښي كښې دَخپل لاس مبارك داخلولونه اول لاس مبارك وينځلې وو حضورپاك ته دَهغې دَ طهارت تيقن نه وو. (١)

دَ امام مهلب توجيه: امام مهلب رحمه الله دواړو احاديثوكښې دَ ظاهري تعارض ختمولودپاره دواړه راجمع كړل اودا توجيه ئې بيان كړه: «حمل البخاري أحاديث الباب التي لم يذكر فيها غسل اليدين قبل إدخالهما على حال تيقن لنظافة اليد وحديث هشام —يعني هذا— على ما إذا خشي أن يكون علق بها شيء» (٢)

يعني امام بخاري رحمه الله چه په كومواحاديثوكښې ادخال اليدفى الاناء نه وړاندې چه دَ لاسونو دَ وينځلو تذكره نه ده كړې هغه ئې دَ لاس دَ نظافت په يقيني حالت باندې محمول كړې اوحديث هشام رحمه الله يعني حديث باب ئې دَ نجاست وغيره څه شئ لګيدو دَ ويرې په وينځلو باندې محمول كړې دې. علامه قسطلاني رحمه الله هم دا توجيه اختيار كړې ده. (٣)

په طرق حديث باندې بحث: امام بخاري رحمه الله دا حديث دلته مختصر ذكركړې دې او امام ابوداؤد رحمه الله كتاب الطهارة باب في الغسل من الجنابة كښې مسدد او سليمان بن حرب دواړو طريق سره دَ حمابن زيد نه مفصلاً نقل كړې دې. دَ امام ابوداود رحمه الله دَ روايت الفاظ دادي:

«حدثنا سليمان بن حرب الواشحي، ح: وحدثنا مسدد قال: أخبرنا حماد عن هشام بن عروة عن أبيه عن عائشة قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا اغتسل من الجنابة — قال سليمان — يبدأ فيفرغ بيمينه وقال مسدد: غسل يديه، يصب الإناء على يده اليمنى، ثم اتفقا: فيغسل فرجه وقال مسدد: يفرغ على شماله — وربما كنت عن الفرج — ثم يتوضأ وضوءه للصلاة ثم يدخل يديه في الإناء فيخلل شعره، حتى إذا رأى أنه قد أصاب البشرة أو أنقى البشرة، أفرغ على رأسه ثلاثاً، فإذا فضل فضلة صبها عليه» (٤)

يعني حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه كله به رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ جنابت غسل كولو نو (په قول دَ سليمان) په خپل ښي لاس باندې به ئې اوبه اچولې، مسدد وائي خپل دواړه لاسونه به ئې وينځل، دَ لوښې (نه به ئې اوبه) په خپل ګس لاس باندې بهيولې، بيا سليمان اومسدد متفق كيدوسره نقل كوي چه حضورپاك به بيا خپل شرمګاه وينځلو، مسدد وائي چه په خپل ګس لاس باندې به ئې اوبه بهيولې، كيدې شي دَ دوی مراد داوی چه دَ شرمګاه وينځلودپاره به ئې په ګس لاس باندې اوبه بهيولې. بيا به حضورپاك دَ مانځه والا اودس په شان اودس كولو. بيابه ئې دواړه لاسونه په لوښې كښې ورداخلول اودَ خپلو ويښتو خلال په ئې كولو ترهغې پورې چه ورته به يقين اوشو چه څرمن لمده شوې ده يا څرمن ئې

---

(١) عمدة القاري: ٣١١/٣.

(٢) فتح الباري: ٤٩٣/٢-٤٩٢.

(٣) إرشادالساري: ٥٠٠/١.

(٤) كتاب الطهارة باب في الغسل من الجنابة رقم: ٢٤٢.

پاکه کړې ده. نو په خپل سر مبارك باندې به ئې درې ځل اوبه بهيولې بيا که به څه اوبه بچ شوې نوهغه به ئې په سرباندې بهيولې.

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلي دی چه دَامام داؤد رحمه الله په شان اسماعيلي رحمه الله هم په طرق متعدد دَ حماد بن زيد نه دا روايت نقل کړې دې ليکن پخپله امام بخاري رحمه الله په طريق دَ هشام نه دَ نورو مختلفو وجوهاتو سره دا شان روايت باب تخليل الشعر کښې نقل کړی دی.(١)

الحديث الثاني

٢٣٠- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَفْصٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ مِنْ جَنَابَةٍ» وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ مِثْلَهُ [حديث باب](٢)

ترجمه: مونږ ته بيان اوکړو ابوالوليد وئي وئيل مونږ ته بيان اوکړو شعبه هغوی دَ ابوبکر بن حفص نه هغوی دَعروه نه او هغوی دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها نه نقل کړی دی چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه ما او نبی کريم صلى الله عليه وسلم به (په يو خائې) په يو لوښی دَ جنابت غسل کولو.

او عبدالرحمن بن قاسم دَخپل پلار نه هغوی دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه هم داسې روايت بيان کړې دې.

تراجم رجال

حدثنا أبوالوليد: دا ابوالوليد هشام بن عبدالملك طيالسي باهلي بصري رحمه الله دې. دَدوی مختصر احوال کتاب الإيمان باب علامة الإيمان حب الأنصار لاندې او تفصيلي حالات کتاب العلم، باب إثم من كذب على النبي صلى الله عليه وسلم لاندې ليکلی شوی دی. (٣)

حدثنا شعبة: دا اميرالمؤمنين فی الحديث شعبه بن حجاج بن ورد عتکی بصری رحمه الله دې. ددوی مختصر حالات کتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده په ذيل کښې بيان کړې شوی دی (٤)

عن أبي بكر بن حفص: دا ابوبکر عبدالله بن حفص بن عمر بن سعد بن ابی وقاص قرشی زهری مدنی رحمه الله دې. (٥)

---

(١) فتح الباری: ٤٩٢/٢.

(٢) الحديث أخرجه البخاري أيضاً فی کتاب الغسل باب الوضوء قبل الغسل رقم: ٢٤٨ وأيضًا فی باب تخليل الشعر حتى إذا ظن أنه قد أروی بشرته أفاض عليه رقم: ٢٧٢ ومسلم فی صحيحه کتاب الحيض باب صفة الغسل من الجنابة رقم: ٣١٦ وأبوداؤد فی سننه فی کتاب الطهارة باب فی الغسل من الجنابة، رقم: ٢٤٢ وأخرجه الترمذی فی جامعه، أبواب الطهارة باب ماجاء فی الغسل من الجنابة رقم: ١٠٤ والنسائی فی سننه کتاب الطهارة ذکر وضوء الجنب قبل الغسل رقم: ٢٤٨ راجع تحفة الأشراف مسند عائشة رقم: ١٧١٦٤ وکذلک جامع الأصول کيفية الغسل رقم: ٥٣١٩.

(٣) کشف الباری: ٣٨/٢، ١٦١/٤-١٥٩.

(٤) کشف الباری: ٦٧٨/١

عروة عن عائشة: دَحضرت عروه رحمه الله او حضرت عائشه رضي الله عنها احوال هم وړاندې تیرشوی دی. [۲]

شرح حدیث

دَ حدیث دَ اکثر الفاظو شرح وړاندې تیره شوې ده.

قوله: من جنابة: دکشمیهنی په روایت کښې «من الجنابة» لفظ «الجنابة» الف لام سره معرفه وارد شوې دې. [۳] هم دغه دَ امام مسلم رحمه الله دَ روایت الفاظ دی چه هغوی دَ افلح بن حمید په سندسره روایت کړی دی. [۴]

دَ لفظ منْ سره متعلق بحث: په دې حدیث کښې لفظ من دوه ځل راغلې دې یو «من إناء واحد» کښې اوبل «من الجنابة» کښې ،دَ اول والا دَپاره به متعلق محذوف راویستلې شی نوتقدیری عبارت به داسې شی «آخذين الماء من إناء واحد» یعنی دَ یولوښی نه اوبه اخستلوسره. یا ړومبې ظرف مستقر وی او دویم لغو وی اودواړه حروف جاره یوفعل یعنی دَ اغتسل متعلق هم کولې شی څو چه کله دواړه دَمختلف معنودَپاره راغلل نو بیا هم دَ یوفعل متعلق کول جائز دی. چنانچه دلته ړومبې من صرف دَ شروع دَ پاره دې اودویم په معنی دَ لام تعلیل دې یعنی «لأجل الجنابة» چه ما اورسول الله صلی الله علیه وسلم به هم په یولوښی سره دَ جنابت غسل کولو. [۵]

قوله: عن عبدالرحمن بن القاسم عن أبيه عن عائشة مثله: یعنی عبدالرحمن بن قاسم دَخپل پلار نه هغوی دَ عائشه صدیقه رضي الله عنها نه هم دغه شان روایت بیان کړې دې.

تراجم رجال

---

[۱] دَ دوی حالات کتاب الغسل باب الغسل بالصاع ونحوه دَ ړومبی حدیث په ذیل کښې تیرشوی دی.

[۲] دَحضرت عروه رحمه الله مختصر حالات بدء الوحی دَ دویم حدیث لاندې کشف الباري: ۲۹۱/۱ اوتفصیلی حالات کتاب الإیمان باب أحب الذين إلى الله په ذیل کښې کشف الباري: ۴۳۶/۲ کښې اوګورئی. دَحضرت عائشه رضي الله عنها احوال بدء الوحی دَ دویم حدیث لاندې کشف الباري: ۲۹۵/۱-۲۹۱ کښې اوګورئی.

[۳] فتح الباري: ۴۹۳/۲ عمدة القاري: ۳۱۱/۳ إرشادالساري: ۵۰۰/۱.

[۴] کتاب الحيض باب القدر المستحب من الماء في غسل الجنابة وغسل الرجل والمرأة في إناء واحد في حالة واحدة وغسل أحدهما بفضل الآخر رقم الحديث: ۷۳۱.

[۵] شرح الکرماني: ۱۲۵/۳ عمدة القاري: ۳۱۱/۳.

عن عبدالرحمن بن القاسم: دا دَ خانواده صديقى چشم وچراغ مشهور فقيه اومحدث عبدالرحمن بن القاسم بن محمد بن ابى بكرصديق قرشى تيمى بكرى مدنى رحمه الله دي.(١) دَ هغوى كنيت ابو محمد دي(٢) ابن حبان رحمه الله دَدوى دَ مور نوم قريبه بنت عبدالرحمن بن ابى بكر صديق ليكلي دي.(٣) علامه مزى رحمه الله هم دَ ابن سعد او مصعب بن عبدالله زبيرى په حواله سره هم دغه نوم نقل كړي دي.(٤) خو علامه نووى رحمه الله اسماء بنت عبدالرحمن بن ابى بكر صديق رضي الله عنه ليكلي دي.(٥) هم دغه قول علامه مزى رحمه الله دَ خليفه بن خياط اوحاكم ابواحمد نه نقل كړي دي.(٦)

شيوخ حديث: دَهغوى په شيوخ حديث كښې دَهغوى پلار قاسم بن محمد، سالم بن عبدالله بن عمر، سعيد بن مسيب، عبدالله بن عامر بن ربيعه، عبدالله بن عبدالله بن عمر، محمدبن جعفر بن زبير، نافع مولى ابن عمر اواسلم مولى عمر بن خطاب رحمهم الله وغيره شامل دى. (٧)

دَهغوى نه روايت كونكى محدثين: دَهغوى نه حديث نقل كونكو يولوئى شمير دي. په هغوى كښې يو څو دادى: اسامه بن زيدليثى، ايوب سختيانى، دَ على بن مدينى نيكه جعفر بن نجيح، حجاج بن حجاج، حميدالطويل، سفيان ثورى، سفيان بن عيينه، سماك بن حرب، شعبه بن حجاج، عبدالله بن عمر عمرى، عبدالعزيز عبدالله ماجشون، عمرو بن حارث مصرى، ليث بن سعد، مالك بن انس، محمدبن عجلان، ابن شهاب زهرى، منصوربن زاذان، موسى بن عقبه، هشام بن عروه، يحيى بن سعيد انصارى، يزيد بن عبدالله بن الهادرحمهم الله اجمعين.(٨)

دَ ژوند حالات: حضرت عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله دَحضرت امير معاويه رضي الله عنه په دورخلافت كښې دَ ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها په ژوند مبارك كښې پيداشو. (٩) دَهغوى رحمه الله دَ حضرت جعفر صادق رحمه الله سره دَماما خورئى رشته ده. (١٠)

دَحضرت عبدالرحمن شمير دَخپلي زماني دَاهل مدينه په ساداتو كښې كيدلو. چنانچه ابن حبان رحمه الله فرمائى چه هغوى فقه علم ديانت فضيلت اودحديث په حفظ او اتقان كښې دَ اهل مدينه سادات (سردارانو) نه وو.(١١)

---

(١) دَ تفصيل دَپاره اوګورئى: تهذيب الكمال: ٤٣٧/١٧رقم الترجمة: ٣٩٣١التاريخ الكبير: ٣٣٩/٥رقم : ١٠٨٦الجرح والتعديل: ٣٣٩/٥رقم: ١٣٢٤كتاب الثقات: ٦٢/٧تهذيب الأسماء واللغات: ٣٠٣/١سيرأعلام النبلاء: ٥/٦تذكرة الحفاظ: ١٢٦/١تهذيب التهذيب: ٢٥٤/٦رقم: ٥٠١.

(٢) تهذيب الكمال: ٣٤٨/١٧تهذيب التهذيب: ٢٥٤/٦تذكرة الحفاظ: ١٢٦/١.

(٣) كتاب الثقات: ٦٢/٧.

(٤) تهذيب الكمال: ٣٤٩/١٧.

(٥) تهذيب الأسماء واللغات: ٣٠٣/١.

(٦) تهذيب الكمال: ٣٥٠/١٧.

(٧) تهذيب الكمال: ٣٤٨/١٧تهذيب ا لتهذيب: ٢٥٤/٦سيرأعلام النبلاء: ٥/٦الجرح والتعديل: ٣٣٩/٥.

(٨) تهذيب الكمال: ٣٤٩/١٧-٣٤٨سيرأعلام النبلاء: ٥/٦تهذيب التهذيب: ٢٥٤/٦تذكرة الحفاظ: ١٢٦/١.

(٩) سرأعلام النبلاء: ٥/٦تهذيب التهذيب الكمال: ٣٤٨/١٧تهذيب التهذيب: ٢٥٤/٦.

(١٠) سيرأعلام النبلاء: ٥/٦تذكرة الحفاظ: ١٢٦/١.

(١١) كتاب الثقات: ٦٢/٧.

مصعب بن زبير وائي چه هغوى رحمه الله دَ خپلې زمانې دَ بهترين اهل ايمان نه وو دَ اهل مشرق په نيزدَ هغوى لوئى مقام وو.[1]
ابن ابي حاتم په خپل سند سره دَعلي بن مديني نه نقل كړى دى هغه فرمائي چه ما دَ هشام بن عروه رحمه الله نه اوريدلي دي يا دا خبره دَهغوى نه ماته رسيدلې ده چه هغوى دَ عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله نه يوحديث نقل كړو كوم چه هغه دَ خپل پلار قاسم بن محمد رحمه الله نه اوريدلې وو نوعروه رحمه الله اوفرمائيل چه داحديث ما دَ داسې سړي نه اوريدلې دې چه دَ علم اوتقوى.نه ډك وو او هغه دَ داسې سړي نه روايت كوى چه دَعلم اوتقوى نه ډك دې. يعنى دَ عبدالرحمن نه چه دَخپل پلار قاسم نه روايت كوى.[2]
ابن عيينه رحمه الله فرمائي چه مونږ ته حديث بيان كړو عبدالرحمن بن قاسم اوهغه دَ خپلې زمانې دَټولو نه غوره سړې وو يائي دا اوفرمائيل چه په هغه ورځ دَهغوى نه په فضيلت كښې په مدينه كښې څوك هم نه وو.[3] يائي دا اوفرمائيل چه په مدينه منوره كښې دَعبدالرحمن بن قاسم نه زيات خوښ كړې شوې بل څوك نه وو.[4]
دَامام بخاري رحمه الله دَ روايت عجيبه انداز: امام بخاري رحمه الله چه به كله دَ عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله نه روايت كولو نودَ عام معمول نه به ئې اسلوب بدلولو سره داسې فرمائيل: «حدثنا عبدالرحمن بن القاسم، وكان أفضل أهل زمانه أنه سمع أباه، وكان أفضل أهل زمانه» [5]
هارون بن موسى فروى دَخپل پلار نه نقل كړى دى هغه فرمائي چه مونږ به دَمالك بن انس رحمه الله په مجلس كښې كيناستو اودَهغوى خوئى يحيى به تلو راتلو مګر مونږ سره به نه كيناستو. امام مالك بن انس رحمه الله به زمونږ طرف ته متوجه كيدوسره داسې خبرې اترې كولې لكه چه دَهغوى دَ خوئى هيڅ مقام نه وى. بيا به هغوى فرمائيل چه علم اومسندعلم داسې څيزدې چه دا په ميراث كښې چاته نه ملاويږي هيڅوك دَخپل پلار دَعلمي مجلس خليف رشيدنه شي جوړيدې سوادَ عبدالرحمن بن قاسم.[6]
دَائمه جرح اوتعديل توثيقي اقوال: ابوطالب وائي چه امام احمدبن حنبل رحمه الله اوفرمائيل چه عبدالرحمن ثقه دې ما تپوس اوكړو ثقه دې؟ نوهغوى په جواب كښې دوه ځل اوفرمائيل ثقة ثقة.[7]
امام احمدبن عبدالله عجلي رحمه الله امام ابوحاتم رحمه الله اوامام نسائي رحمه الله دَعبدالرحمن بن قاسم رحمه الله باره كښې فرمائي ثقة.[8]

---

[1]) تهذيب الكمال: ۳۵۰/۱۷تهذيب التهذيب: ۲۵٤/٦.
[2]) الجرح والتعديل: ۳٤۰/۵تهذيب التهذيب: ۲۵٤/٦.
[3]) تهذيب الكمال: ۳۵۰/۱۷تهذيب التهذيب: ۲۵٤/٦.
[4]) الجرح والتعديل: ۳٤۰/۵تهذيب الأسماء واللغات: ۳۰۳/۱.
[5]) كتاب الحج باب الطيب بعد رمى الجمار والحق قبل الإفاقة وتمامه رقم: ۱۷۵٤ التاريخ الكبير: ۳٤۰/۵.
[6]) تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۷.
[7]) الجرح والتعديل: ۳٤۰/۵تهذيب التهذيب: ۲۵٤/٦تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۷.
[8]) تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۷الجرح والتعديل: ۳٤۰/۵تهذيب التهذيب: ۲۵٤/٦.

حافظ ابن حجر رحمه الله دَ واقدی رحمه الله نه دَ عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله باره کښې نقل کړی دی «كان ورعاً، كثير الحديث» [1]

ابن طهمان رحمه الله دَ يحيى بن معين رحمه الله نه دَ عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله باره کښې نقل کړی دی چه هغوی فرمائی: «ثقة لايسأل عنه» ابن شاهين رحمه الله هم مذكوره قول نقل كړې دې. [2]

حافظ ابن حجر رحمه الله تقريب التهذيب کښې فرمائی «ثقة جليل» [3]، علامه ذهبی رحمه الله سير أعلام النبلاء کښې فرمائی «كان إماماً، حجة، ورعاً، فقيه النفس، كبير الشأن» [4] او تذكرة الحفاظ کښې فرمائی «الفقيه الحجة» [5] اوالكاشف کښې فرمائی «الفقيه ابن الفقيه» [6]

په جالت شان باندې دَائمه اتفاق: علامه نووی رحمه الله فرمائی «اتفقوا على جلالته وإمامته وفضيلته وصلاحه» يعنی ټول ائمه دَ عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله دَ جلالت شان امامت فضيلت اودَهغوی په بزرګئی باندې متفق دی. [7]

وفات: دَعبدالرحمن بن قاسم رحمه الله دَ وفات کال اومقام وفات باره کښې اختلاف دې. دَ وفات باره کښې دوه اقوال دی: ① محمد بن سعد، ابوعبيد قاسم بن سلام خليفه بن خياط ابن حبان علامه ذهبی اوحافظ ابن حجررحمهم الله نه ۱۲۶هجری کښې انتقال کيدل نقل دی. [8]

② عمرو بن علی هيثم بن عدی ابن نافع او يوقول دَ خليفه بن خياط دې چه ۱۳۱هجری کښې انتقال شوې دې. [9] علامه مزی رحمه الله دا قول وهم ګرځولې دې. [10]

دَعمرو بن علی رحمه الله نه روايت دې چه دهغوی رحمه الله انتقال دَ بنواميه آخری حكمران مروان بن محمد په زمانه کښې شوې اوهغه څلورکاله اولس مياشتې حكومت كولونه پس ۱۳۱هجری کښې وفات شوې وو ليکن دا قول هم دَوهم په شان کوم طرف ته چه علامه مزی رحمه الله اشاره کړې ده. دَمشهور اومعروف قول مطابق مروان دَ بوصير په علاقه کښې پنځه کاله لس مياشتې اولس ورځې حكومت كولونه پس ذی الحجه په آخرکښې ۱۳۱هجری کښې قتل کړې شوې وو. [11]

---

[1] تهذيب التهذيب: ۲۵۵/۶.

[2] تعليقات تهذيب الكمال: ۳۵۲/۱۷.

[3] تقريب التهذيب: ۵۸۷/۱.

[4] سير أعلام النبلاء: ۵/۶

[5] تذكرة الحفاظ:۱۲۶/۱.

[6] الكاشف: ۱۷۶/۲.

[7] تهذيب الأسماء واللغات: ۳۰۳/۱.

[8] تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۷الثقات: ۶۲/۷سير أعلام النبلاء: ۵/۶تذكرة الحفاظ: ۱۲۶/۱تقريب التهذيب: ۵۸۷/۱تهذيب التهذيب: ۲۵٤/۶تهذيب الأسماء واللغات: ۳۰۳/۱.

[9] تهذيب التهذيب: ۲۵۵/۶تهذيب الكمال: ۳۵۰/۱۷تهذيب الأسماء واللغات: ۳۰۳/۱.

[10] تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۷.

[11] تهذيب الكمال وتعليقات: ۳۵۱/۱۷-۳۵۰.

مقام وفات: دَ وفات دَمقام باره كښې څلور اقوال نقل دي: ①علامه نووي رحمه الله دَ ابن سعد نه دَ مقام وفات بيت المقدس نقل كړې دې.[1] ② علامه مزي رحمه الله دَ خليفه بن خياط رحمه الله نه دَ انتقال ځائې مدينه منوره نقل كړې ده.[2] هم دا ابن حبان رحمه الله اختيار كړې دې. [3]③حافظ ابن حجر رحمه الله دَعلامه واقدي رحمه الله په حواله سره دَ ابوالزناد نه نقل كړې دي چه عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله دَ وليد بن يزيد دَ ملاقات په غرض سره تللو چه دَ سفردوران كښې دَ شام په علاقه فدين كښې وفات شو. [4]④علامه ذهبي رحمه الله ليكلي دي چه وليد بن يزيد هغوى رحمه الله شام ته غوښتې وو نو يوې قافله سره دَ شام طرف ته په سفر كښې حوران په مقام باندې دَهغوى مرګ راغلو.[5]

قوله:: عن أبيه: دادَحضرت عبدالرحمن پلار مشهور فقيه ومحدث حضرت قاسم بن محمدبن ابى بكرصديق تيمى مدنى رحمه الله دې. دَدوى تفصيلي حالات«كتاب الغسل باب من بدأبالحلاب أو الطيب عندالغسل» رومبى حديث په ذيل كښې بيان شوى دى. [6]

قوله:: عن عبدالرحمن بن القاسم عن أبيه عن عائشة: مثله

دا مذكوره عبارت تعليق دې كه مسند روايت؟: دادَ امام بخاري دَ طرف نه تعليق دې كه مسند اومتصل روايت دې؟ علامه كرماني رحمه الله ليكلي دي سره دَدې چه دَتعليق احتمال لرى مګر داتعليق نه دې بلكه دا مسند او متصل روايت دې. دَدې عطف «دَدريم حديث په سندكښې ذكر» ابوبكر بن حفص باندې دې. نولكه چه ابوالوليد اووئيل چه مونږ ته حديث بيان كړو شعبه هغوى دَ عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله نه نقل كړې دې. [7]

دَ جمهور شراح حديث رائې: په شراح حديث كښې حافظ ابن حجر رحمه الله علامه عينى رحمه الله علامه قسطلاني رحمه الله دَدې خبرې وضاحت كولوسره اوفرمائيل چه سند تعليق ګنړل وهم دې بلكه مسند اومتصل روايت دې. دَعن عبدالرحمن عطف په عن ابى بكربن حفص باندې دې. امام شعبه رحمه الله په دوو سندونوسره دا روايت دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه نقل كړې دې. په يوسند كښې دَ هغوى شيخ ابوبكر بن حفص رحمه الله دې اوپه دويم سندكښې دَهغوى شيخ عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله دې. ابونعيم رحمه الله او امام بيهقى رحمه الله دَ ابوالوليد په طريق سره دَدواړو سندونو موصولاً تخريج كولونه پس فرمائى «أخرجه

---

[1] تهذيب الأسماء واللغات: ۳۰۳/۱.

[2] تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۷.

[3] كتاب الثقات: ۶۲/۷.

[4] تهذيب التهذيب: ۲۵۵/۶.

[5] سير أعلام النبلاء: ۶/۶-۵.

[6] اوګورئ ص: ۴۳۹.

[7] شرح الكرماني: ۱۲۵/۳.

«رواه البخاري (في الصحيح) عن أبي الوليد بالإسنادين جميعاً»[۱] يعنی امام بخاري رحمه الله دَ ابوالوليد په طريق سره دَدغه دواړوسندونو تخريج کړی دی.
ابومسعود وغيره په اطراف کښې هم دغه شان فرمائيلی دی.[۲]

مثله: مثله مرفوع او منصوب دواړه شان لوستل جائز دی. مطلب دادې چه شعبه دَ ابوبکر بن حفص نه دَ روايت په شان دا روايت هم دې هغوی دَ عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله نه نقل کړی دی.[۳]
امام اصيلي بمثله ابتداء کښې دَ باء موحده زياتی سره نقل کړی دی.[۴] دَ امام بيهقي رحمه الله روايت هم مثله په خائې بمثله راغلی دی.[۵]

الحديث الرابع

۲۴۳ - حَدَّثَنَا أَبُو الوَلِيدِ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَبْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالمَرْأَةُ مِنْ نِسَائِهِ يَغْتَسِلاَنِ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ» زَادَ مُسْلِمٌ، وَوَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، عَنْ شُعْبَةَ «مِنَ الجَنَابَةِ»

ترجمه: مونږ ته ابوالوليدبيان اوکړو وئی ونيل چه اووئيل مونږ ته شعبه هغوی دَ عبدالله بن عبدالله بن جبر نه هغوی اووئيل چه ما دَ حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه واوريده هغوئی فرمائی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اودهغوی دَ بيبيانونه يوه بی بی دواړو به په يوخائی يولوښی سره غسل کولو.مسلم بن ابراهيم او وهب بن جرير دَ شعبه نه په روايت کښې "من الجنابة" اضافه نقل کړی ده.

دَحديث تخريج: علامه ابن ملقن رحمه الله علامه عينی رحمه الله علامه قسطلانی رحمه الله ليکلی دی چه دا حديث دَامام بخاري رحمه الله دَ افراد نه دی.[۶] دَ امام بخاري رحمه الله نه علاوه نور ائمه حديث امام مسلم رحمه الله وغيره دَحضرت انس رضي الله عنه نه په دې باره کښې هيڅ يو روايت نه دی نقل کړی.[۷]

تراجم رواة أبوالوليد، شعبة: دَدې دواړو حضراتو احوال اول بيان کړی شوی دی.[۸]

---

[۱]) رواه البيهقي في السنن الكبرى، كتاب الطهارة باب في فضل الجنب: ۲۸۹/۱رقم الحديث: ۸۹۲ولفظه: "وأخبرنا أبوعبدالله، نا أبوبكر أحمد بن إسحاق، أنا أبوالمثنى، ثنا الوليد، ثنا شعبة، عن عبدالرحمن بن القاسم عن أبيه عن عائشة: بمثله رواه البخاري في الصحيح عن أبي الوليد بالإسنادين جميعا. فتح الباري ۴۹۳/۲إرشادالساري: ۵۰۰/۱.

[۲]) التوضيح: ۵۷۶/٤فتح الباري: ۴۹۳/۲عمدة القاري: ۳۱۱/۳.

[۳]) عمدة القاري: ۳۱۱/۳إرشادالساري: ۵۰۰/۱.

[۴]) عمدة القاري: ۳۱۱/۳إرشادالساري: ۵۰۰/۱.

[۵]) وقدمر تخريجه آنفاً.

[۶]) التوضيح لشرح الجامع الصحيح: ۵۷۷/٤عمدة القاري: ۳۱۲/۳إرشادالساري: ۵۰۱/۱.

[۷]) التوضيح: ۵۷۷/٤.

[۸]) دَابوالوليد حالات كشف الباري: ۳۸/۲كتاب الإيمان باب علامة الإيمان حب الأنصار په ذيل کښې او كشف الباري: ۱۵۹-۱۶۱/۴كتاب العلم باب إثم من كذب على النبي صلى الله عليه وسلم لاندې اوګورئی.
دَ امام شعبه حالات كشف الباري: ۶۸۷/۱ كتاب الإيمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده لاندې تير شوی دی.

عبدالله بن عبدالله بن جبر : داد صحيح بخاري مسلم ترمذی اونسائی راوی عبدالله بن عبدالله بن جبر يا جابر رحمه الله دی.[1]

أنس بن مالك: داد رسول الله ﷺ خادم خاص اومشهور صحابی حضرت انس بن مالك بن نضر بن ضمضم بن زيد بن حرام بن جندب بن عامر خزرجی انصاری رضي الله عنه دی.[2]

مسلم: داد امام بخاری رحمه الله شيخ مسلم بن ابراهيم القصاب ازدی فراهيدی بصری رحمه الله دی. شحام په نوم باندي هم مشهوردی.[3]

وهب: دا وهب بن جرير بن حازم بن زيد بن عبدالله ابن شجاع ازدی بصری رحمه الله دی. دَدوی كنيت ابوالعباس دی.[4]

دحديث شرح

قوله::كان النبي ﷺ والمرأة من نساءه يغتسلان من إناء واحد: يعني حضورپاك اودهغوی دَ بيبيانو نه يوه بی بی په يوځائی يولوښی سره غسل كولو. والمرأة مرفوع اومنصوب دواړه شان لوستل صحيح دی. دمرفوع لوستلو په صورت كښې دماقبل لفظ النبي باندې عطف وی اومنصوب لوستلو په صورت كښې به مفعول معه جوړيږی.[5]

قوله::زادمسلم ووهب بن جرير عن شعبة: من الجنابة: مسلم بن ابراهيم او وهب بن جرير دَامام شعبه نه "من الجنابة" اضافه نقل كړې ده.

دحديث باب تعليق: علامه كرمانی رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه ښكاره خبره ده چه داد امام بخاری رحمه الله دَ طرف نه دَحديث باب تعليق دی خكه چه دَوهب بن جرير رحمه الله دَ انتقال په وخت دَ امام بخاری رحمه الله عمر دولس كاله وو اوداهم ممكن دی چه امام بخاری رحمه الله دا روايت دهغوی نه اوريدلی وی. وهب بن جرير مسلم بن ابراهيم سره يوځائی كول او راوړل دَدې تائيدكوی. په دې صورت كښې دَ امام شعبه شيخ په سابقه سندكښې ذكرشوې عبدالله بن عبدالله بن جبر رحمه الله وی.[6]

---

[1] دَدوی مختصر حالات كشف الباري: ۳۹/۲كتاب الإيمان باب علامة الإيمان حب الأنصارړومبی حديث په ذيل كښې تيرشوی دی.

[2] دَهغوی رضي الله عنه حالات كشف الباري: ۵/۲-۴كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه ړومبی حديث لاندې بيان شوی دی.

[3] ددوی حالات كشف الباري: ۴۵۶/۲-۴۵۵كتاب الإيمان باب زيادة الإيمان ونقصانه دَ ړومبی روايت لاندې تيرشوی دی.

[4] تهذيب الكمال: ۱۲۱/۳دَدوی احوال كتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء إلا من المخرجين القبل والدبر وقول الله تعالى ﴿ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ ﴾ پنځم حديث لاندې تيرشوی دی.

[5] فتح الباري: ۴۹۳/۲إرشادالس [5] شرح الكرمانی: ۱۲۵/۳إرشادالساری: ۵۰۱/۱. هم دا علامه عينی رحمه الله هم ذكر كړې دی.عمدة القاري: ۲۱۲/۳.

اری: ۵۰۱/۱.

[6] شرح الكرمانی: ۱۲۵/۳إرشادالساری: ۵۰۱/۱. هم دا علامه عينی رحمه الله هم ذكر كړې دی.عمدة القاري: ۲۱۲/۳.

وهب: اصيلی او دَ ابوالوقت په روايت كښې دَوهب نه پس ابن جرير بن حازم اضافه ده ابونعيم وغيره هم دَدې جزم كړې دې. دَ ابوذر په روايت كښې دَ وهب په ځائې وهيب تصغيرسره راغلې دې.(١)

دَحافظ ابن حجر رحمه الله توجيه: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دَ ابوذر په روايت كښې چه كوم وهيب راغلې دې زما په خيال كښې هغه وهم دې. ځكه چه دَ تتبع كثير نه پس دَدې حديث وهب بن جرير نه كيدل موندلې شوی دی. «دَ لټون نه باوجود» مونږ دا وهيب بن خالد نه نه دې موندلې، دې نه علاوه وهيب بن جرير دَ امام شعبه نه روايت كونكونه دې خو وهيب دَ هغه اقران «دَ زمانې» نه دې.(٢)

دَعلامه عينی رحمه الله توجيه اوحافظ صاحب باندې نقد: علامه عينی رحمه الله وهيب دَكاتب غلطی ګرځولې ده او په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې نقد كولو فرمائی چه بعض خلقو دَ وهب په ځائې وهيب وهم ګرځولې دې اودَ دې په اثبات كښې ئې دا دليل وركړې دې چه وهب دَ شعبه نه روايت كوی او وهيب دَهغوی دَ زمانې دَ خلقو نه دې حالانكه دَ چا دَ زمانې دَ خلقو نه كيدل دَهغه نه په روايت كښې مانع نه دې. دا جدا خبره ده چه دلته روايت دَ وهب دې وهيب نه دې. (٣)علامه ابن ملقن رحمه الله ليكلی دی چه ابومسعود اوخلف په اطراف كښې مسلم بن ابراهيم دَ سند نه ساقط كولوسره صرف وهب باندې اتقصار كړې دې يعنی دا روايت ئې صرف دَ وهب نه نقل كړې دې.(٤)

دَ تعليق غرض: دَ امام بخاری رحمه الله غرض په دې تعليق سره په دې خبره باندې تنبيه كول دی چه څنګه ابوالوليد دَ امام شعبه نه په دې سندسره مذكوره روايت نقل كړې دې هم دغه شان مسلم بن ابراهيم او وهب بن جرير هم دَامام شعبه نه هم په دغه سندسره دا روايت نقل كړې دې اودَدې په آخره كښې من الجنابة الفاظو اضافه كړې ده.(٥)

دَمحدث اسماعيلی په روايت كښې من الجنابة اضافه نشته دې: محدث اسماعيلی رحمه الله دَ وهب بن جرير دَ روايت تخريج كړې دې ليكن په دې كښې دَ من الجنابة اضافه نشته دې. دَهغوی سند دادې «قال: أخبرني ابن ناجية، حدثنا زيد بن أحزم، حدثنا وهب بن جرير، حدثنا شعبة»(٦) امام اسماعيلی دَ ابن مهدی او بهز په طريق سره هم دا روايت من الجنابة دَ اضافه نه بغير تخريج كړې دې.(٧)

دَ احاديث باب ترجمه سره مناسبت: په دې حواله سره څه خبرې اترې دَ باب حديث اول اودويم لاندې تيرې شوی دی. اوس دلته نور پيش خدمت دی:

يواعتراض: كه چرته څوك دا اووائی چه سوا دَ حديث هشام نه باقی احاديث باب كښې په لوښی كښې دَ لاس داخلولونه وراندې دَ لاس دَ وينځلو څه ذكر نشته دې؟

دَابن بطال رحمه الله توجيه: علامه ابن بطال دَدې جواب وركولوسره فرمائی چه په حديث هشام او ترجمة الباب كښې مناسبت موجود دې او په دې سره دَترجمة الباب دَمعنی وضاحت هم كيږی. هغه داسې چه

---

(١) فتح الباری: ٤٩٣/٢عمدة القاری: ٣١٢/٣إرشادالساری: ٥٠١/١.

(٢) فتح الباری: ٤٩٤/٢-٤٩٣.

(٣) عمدة القاری: ٣١٢/٣.

(٤) التوضيح: ٥٧٧/٤.

(٥) فتح الباری: ٤٩٤/٢عمدة القاری: ٣١٢/٣.

(٦) التوضيح: ٥٧٧/٤عمدة القاری: ٣١٢/٣فتح الباری: ٤٩٤/٢.

(٧) التوضيح: ٥٧٧/٤عمدة القاری: ٣١٢/٣.

امام بخاري حديث هشام په کوم کښې چه په لوښي کښې دَ لاس داخلولونه وراندې دَ لاس دَ وينځلو ذکر دې دائې په دې خبره باندې محمول کړی دی چه کله په لاس باندې دَمني اونجاست دَ لګيدو ويره وی او نور روايات په کوم کښې چه دَلاس دَ وينځلو ذکر نشته دې هغه ئې دَ لاسونو په يقيني طهارت حالت باندې محمول کړي دي.[1]

دَ امام مهلب رحمه الله توجيه: ابن بطال رحمه الله دَ امام مهلب نه نقل کړی دی چه امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب کښې اوفرمائيل «هل يدخل الجنب يده في الإناء قبل أن يغسلها إذا لم يکن على يده قذر غير الجنابة» دې نه مراد دَهغه جنبي لاس دې چه دَمني وغيره تولو نجاساتونه پاك وی نوبيا دَ دغه جنبي دَپاره خپل لاس دَ وينځلونه وراندې په لوښي کښې داخلول جائزدی. دَدې دَپاره چه صرف دَ جنابت حکمي دَ وجې نه دَ سړي يو اندام نجس کيږي نه ځکه چه نبي کريم ﷺ فرمائي "مؤمن نجس نه وی".[2]

هم دا توجيه علامه کرماني رحمه الله او ابن ملقن رحمه الله دَ ابن بطال رحمه الله په حواله سره نقل کړې ده.[3]

دَابن منير اسکندراني توجيه: علامه ناصرالدين احمدبن محمد المعروف ابن المنير اسکندراني رحمه الله شارح بخاري ابن بطال رحمه الله توجيه بعيدګرځولې ده اودَ احاديث اوترجمة الباب په حواله سره ئې فرمائيلي چه دَ لاس وينځل به يا دَ حدث حکمي دَ وجې نه وی يادَ حدث عيني دَ وجې نه او په ترجمه کښې دا منلې شوی دی چه دلته خبرې اترې دَهغه سړي باره کښې دی دَ چا په لاس باندې چه دَ څه قسم قذر نجاست حقيقي نه وی لګيدلې نواوس دا احتمال باقي پاتې نه شوچه دَغسل کونکي په لاس باندې نجاست حکمي وی کوم چه په لوښي کښې دَ لاس داخلولونه مانع وی ليکن داخبره مسلم ده چه نجاست حکمي مانع نه دې ځکه چه دَ نجاست حکمي اثر په اوبوکښې ښکاره شوې وې نوبيادَ جنبي دَپاره دَ تکميل غسل نه وراندې به په لوښي کښې لاس داخلول جائزنه وو. ليکن اثناء غسل دخول يد جائز دې نومعلومه شوه چه په اوبوکښې لاس لګولو سره جنابت يعني نجاست حکمي اثر په دې کښې نه ظاهرېږي لهذا دَغسل په شروع کښې هم لاس په لوښي کښې داخلولوسره څه مانع نه دی لکه چه په دوران غسل کښې داسې کولوسره څه څيز مانع نه دې. په دې سره داخبره ثابته شوه چه دَجنبي دَ بدن نه دَ اوبوڅاڅکي پريوځي نوهغه پاك دی دَهغې دَغسل والا په لوښي کښې پريوتلوسره دَغسل اوبوته هيڅ نقصان نه رسيږي يعني هغه ناپاکه کيږي نه.[4]

دَ ابن ملقن رحمه الله توجيه: ابن ملقن رحمه الله پنځه توجيهات ذکر کړی دی.

رومبې اودويمه توجيه: يودَ ابن بطال رحمه الله او دويمه دَ ابن منير رحمه الله دغه دواړه تيرې شوې.

دريمه توجيه: ابن ملقن رحمه الله دريمه توجيه دا بيان کړې ده چه په حديث ثاني اوترجمه کښې مناسبت ښکاره دې باقي پاتې شوه خبره دَ حديث اول نوکه چرې حضورپاك اوحضرت عائشه رضي الله عنها اول لاسونه وينځلې وې نوحضرت عائشه رضي الله عنها به تختلف أيدينا فيه په ځائی باندې تختلف أيدينا منه فرمائيل يا دا چه

---

[1]) شرح ابن بطال: ۳۸۸/۱.

[2]) شرح ابن بطال: ۳۸۸/۱وقدمر تخريج الحديث.

[3]) شرح الکرماني: ۱۲۶/۳التوضيح: ٥۷۷/٤.

[4]) المتواري على تراجم أبواب البخاري ص: ۷۶.

هغوی چرته مختلف أیدینا فیه فرمائیلی وی اوکله ئی منه فرمائیلی اوباقی احادیث هم په دې باندې محمول دی.(۱)

څلورمه توجیه: څلورمه توجیه ئی دا بیان کړې ده چه په دې کښې دا احتمال هم دې چه کله امام بخاری رحمه الله اکثر احادیث هغه ذکر کړی دی په کوم کښې چه د لاس وینځل ذکر نه دی نودې نه معلومه شوه چه بغیرد لاسونو وینځلو نه هم په لوښی کښې لاس داخلول په غسل جنابت کښې جائز دی. ځکه چه که چرې داسې کول جائز نه وې نو بیا به په ټولو احادیثوکښې د وینځلو ذکر کولو.(۲)

پنځمه توجیه: پنځمه توجیه ئی داذکرکړې ده چه امام بخاری رحمه الله دخپل عادت مطابق په بعض طرق کښې د لاس وینځل ذکر کړی دی او باقی کښې معنی مقصودې مستنبط کیدونکې لفظ ترک کړو دې دپاره چه قاری د نور طرق حدیث په ذریعه د امام بخاری رحمه الله د مقصود استخراج اوکړې شی. چنانچه امام مسلم رحمه الله د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها نه نقل کړی دی چه رسول الله ﷺ به کله غسل شروع کولو نو په خپل ښی لاس باندې به ئی اوبه اچولوسره خپل دواړه لاسونه وینځل. دې روایت په آخره کښې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی «کنت أغتسل أنا وهو من أناء واحد» نودې نه معلومه شوه چه په کومو احادیثوکښې د لاس وینځل موجود نه دی هلته هم د لاسونو وینځل مراد دی لکه چه نورو طرق حدیث نه معلومیږی.(۳)

۱۰-باب: تَفْرِيقِ الْغُسْلِ وَالْوُضُوءِ

په غسل اواودس کښې فصل کول

د کشف الباری د متن دپاره منتخب نسخه (۴)مصری نسخه شرح الکرمانی فتح الباری عمدة القاری فتح الباری لابن رجب الحنبلی ارشاد الساری الکوثر الجاری او التوشیح کښې «باب: تفریق الغسل والوضوء» مقدم کړې شوې دې اودې وړاندینې باب «باب من أفرغ بیمینه علی شماله» روستوکړې شوې دې. خو په هندوستانی نسخه اصیلی او ابن عساکر روایت شرح ابن بطال التوضیح اوتحفة الباری کښې دې برعکس باب کښې "أفرغ بیمینه علی شماله" مقدم اومذکوره باب مؤخر کړې شوې دې. دلته په ترتیب کښې د کشف الباری د متن والانسخې رعایت ساتلې شوې دې.

ماقبل سره مناسبت: علامه عینی رحمه الله اوفرمائیل چه په دواړو ابوابو کښې مناسبت په دې حیثیت سره دې چه دواړه د یوفعل جائز په بیان باندې مشتمل دی. دې نه وړاندې «هل یدخل الجنب یده فی الإناء قبل أن یغسلها إذا لم یکن علی یده قذر غیر الجنابة» کښې چه کله لاس پاك وی نو بغیرد وینځلو نی د اوبو په لوښی کښې دداخلولو جواز بیان کړې شوې وو خو په دې باب کښې په غسل او اودس کښې د تفریق جواز بیانولې شی.(۵)

---

۱) التوضیح: ۵۷۸/٤.
۲) التوضیح لابن الملقن: ۵۷۹/٤.
۳) التوضیح: ۵۷۹/٤.
٤) دا نسخه د ډاکټر مصطفی دیب البغاء صاحب تحقیق او تخریج سره چهاپ شوې ده.
۵) عمدة القاری: ۳۱۳/۳.

دَترجمة الباب مقصد:

دَ شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث مولانا زكريا رحمه الله اوفرمائيل چه دَامام بخاري رحمه الله غرض دَدې ترجمه نه وجوب موالات في الوضوء والغسل باندې رد كول دى دَ ټولو شراح حديث كلام هم په دې باندې مبنى دې. (١)يعنى دَ امام بخاري رحمه الله مقصد ددې ترجمه نه دا ثابتول دى چه په اودس او غسل كښې وار په وار وينځل واجب نه دى بلكه دَ اول نه وينځلې شوې اندامونه دَ اوچيدونه پس هم باقى اندامونه اووينځلې شى او لامده كړې شى نو اودس اوغسل به صحيح شى. په دې تفريق سره به په اودس اوغسل باندې هيڅ فرق نه پريوځي.

دَعلامه كرمانى رحمه الله رائې: دَعلامه كرمانى رحمه الله رائې داده چه دَدې ترجمه په غرض كښې دوه احتمالات دى. يو دا چه عدم وجوب موالات بيانول دى اودويم دا چه په غسل كښې دَ اودس نه داخليدل بيانول دى. ترډې پورې چه كه چاته دواړه حدث لاحق شى نودهغه دَ طهارت دپاره به صرف غسل نه كافى كيږى. (٢)

دَدې دواړو احتمالاتو دَ ذكركولونه پس علامه كرمانى رحمه الله رومبې احتمال ظاهر ګرځولې دې. (٣)

دا مشهوره اختلافى مسئله ده چه په اودس اوغسل كښې موالات واجب دى كه نه؟ دَغسل مسئله خو امام بخاري رحمه الله اصالتاً ذكركړې ده او اودس ئې تبعاً ذكر كړې دې.

موالات في الوضوء: چنانچه په اودس كښې موالات ضرورى دى كه نه؟ دې كښې اختلاف دې. امام ابوحنيفه رحمه الله (٤)امام شافعى رحمه الله دَ قول جديد مطابق (٥)او په يوروايت كښې امام مالك رحمه الله (٦)او امام احمد رحمه الله فرمائى چه په اودس كښې موالات واجب نه بلكه سنت دى. (٧)

امام مالك رحمه الله اوامام احمد رحمه الله دَخپل مشهورقول مطابق چه دَدوى نه ډيرو كسانو نقل كړې دې دَموالات دَ وجوب قائل دى. (٨) دَ امام شافعى رحمه الله قول قديم هم دَ وجوب موالات دې. (٩) هم دغه سيدنا حضرت عمر رضي الله عنه حضرت قتاده رحمه الله او امام اوزاعى رحمه الله هم قول دې. (١٠)

دَ موالات وضاحت: په عاموحالاتوكښې كله چه مزاج او موسم معتدل وى نودَ يو اندام دَ اوچيدونه وړاندې دَ بل اندام وينځلو موالات وئيلې شى. چنانچه امام مالك رحمه الله فرمائى: «وان كان ترك ذلك ناسياً بنى على وضوءه، وان تطاول ذلك، قال: وان كان ترك ذلك عامداً استأنف الوضوء» كه څوك په قصد سره موالات ترك كړى نودهغه په ذمه دَ اودس استيناف او راګرځول واجب دى. كه چرې عمداً ئې ترك نه كړى بلكه

---

(١) الكنزالمتوارى: ٢٠٧/٣الأبواب والتراجم ص: ٦١حاشية اللامع: ٢٢١/٢.
(٢) شرح الكرمانى: ١٢٧/٣.
(٣) شرح الكرمانى: ١٢٧/٣.
(٤) ردالمحتار مع الدرالمختار: ٩٠/١بدائع الصنائع: ٢١١/١البحرالرائق: ٥٥/١.
(٥) المجموع شرح المهذب: ٤٥٣/١الشرح الكبير: ١٣١/١السراج الوهاج ص:١٩.
(٦) حاشية الدسوقى: ١٥٤/١.
(٧) الإنصاف: ١٣٩/١.
(٨) المدونة الكبرى: ١٥/١حاشية الدسوقى:١٥١/١المغنى لابن قدامة:٩٢/١الإنصاف: ١٣٩/١.
(٩) المجموع: ٤٥٣/١السراج الوهاج ص:١٩.
(١٠) الأوسط لابن منذر:٤٢٠/١.

هیرشی نو استیناف او راګرځول واجب نه دی صرف متروکه اندام به وینځی سره دَدې چه په دې کښې زیات وخت تیرشوی وی هم دغه قول دَ لیث بن سعد رحمه الله هم دی.(١)
دَ امام مالك رحمه الله په یوروایت کښې دی چه که چرې فصل یسیر وی نوهیڅ بدیت نشته دې اوکه فصل کثیروی نو بیا په دغه صورت کښې به راګرځول واجب وی.(٢)
دَ فصل یسیر اوکثیر حکم: علامه نووی رحمه الله لیکلی دی چه شیخ ابوحامد او محاملی په دې خبره باندې دَمسلمانانو اجماع نقل کړې ده چه دَ اودس دَ اندامونو په وینځلوکښې تفریق یسیر مضرنه دی.(٣)
دَتفریق کثیرباره کښې دَامام شافعی رحمه الله دوه اقوال دی. په دې کښې صحیح قول په کوم چه دَ ټول اصحاب شوافع اتفاق دې چه تفریق کثیر هم مضرنه دی. هم په دې باندې امام شافعی رحمه الله په قول جدید کښې نص فرمائیلې دې.(٤) هم دغه قول دَ سیدنا عمر رضی الله عنه ابن عمر رضی الله عنهما سعید بن مسیب عطاء طاؤس حسن بصری نخعی سفیان ثوری او ابن المنذر رحمهم الله او په یو روایت کښې دَ امام احمد رحمه الله هم قول دی.(٥)
فصل یسیر اوفصل کثیر څه څیزدې؟: دَ حنفیه او حنابله مذهب اودَ امام شافعی رحمه الله دَ قول صحیح او مشهور حاصل دادې چه دَزمان اومکان او متوضی په مزاج کښې اعتدال نه باوجود که چرې یوخائی اوچ شی نودا فصل طویل اوکثیردې اوکه چرې پخپله نه اوچیږی نودا فصل یسیردې.(٦)
که دَاودس کونکی دَمزاج ګرمی یا یخنی او په غیرمعتدل موسم کښې دَ خشك هوا چلیدو دَ وجې نه یواندام اوچ شی نودَدې اعتبارنشته دې.(٧)
بعض شافعیه حضرات وائی چه دَتفریق کثیر نه مراد طویل متفاحش دې.(٨)
دَ شوافع یو روایت داهم دې چه دَ یسیر اوکثیر دارومدار په عرف اوعادت باندې دې.(٩) هم دغه شان قول دَ ابن عقیل نه حنابله هم نقل کړې دې.(١٠)
علامه رافعی رحمه الله نقل کړی دی که چرې دومره وخت تیرشي په کوم کښې چه دوباره پوره طهارت حاصلیدې شی نودا فصل طویل دې ګنې یسیر اوقلیل دې.(١١)
دَ تفریق دَ مودې اعتبار دَ اودس دَ افعال نه دَ آخری فعل نه کولې شی تردې چه که چا مخ او لاسونه اووینځل بیا فصل واقع شی اودَ لاسونودَ اوچیدونه وړاندې دَ سرمسح اوکړه نودا فصل مضرنه دې

---

(١) المدونة الکبری: ١/١٥حاشیة الدسوقی:١/١٥١الاوسط:١/٤٢٠.
(٢) حاشیة الدسوقی:١/١٥١.
(٣) المجموع شرح المذهب: ١/٤٥٢.
(٤) المجموع : ١/٤٥٢.
(٥) المجموع: ١/٤٥٤.
(٦) ردالمحتار مع الدرالمختار:١/٩٠البحر الرائق:١/٥٥ بدائع الصنائع:١/٢١١المغنی:١/٩٤الإنصاف:١/١٤٠المجموع: ١/٤٥٣.
(٧) المجموع: ١/٤٥٣الشرح الکبیر:١/١٣٢.
(٨) المجموع: ١/٤٥٣.
(٩) المجموع شرح المهذب: ١/٤٥٣.
(١٠) المغنی لابن قدامة: ١/٩٤الإنصاف: ١/١٤٠.
(١١) الشرح الکبیر: ١/١٣٢المجموع: ١/٤٥٣.

سره دَدې چه مخ اوچ شوې وی. که چرې اندامونه ئی درې ځل اووینځل نودَ آخری ځل وینځلو به اعتبارکیږی.(١)

د قائلین وجوب دلائل

رومبې دلیل: قائلین وجوب موالات فی الوضوء یودلیل دادې چه ﴿فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ﴾(٢) کښې دَ الله تعالی مطلق حکم دَ اودس دَ تعجیل او وار په وار دَ اودس تقاضا کوی. هم دغه امر دَ تعجیل دَ تفریق دَپاره مانع دې.(٣)

دویم دلیل: دویم دلیل رسول الله ﷺ وار په وار اودس کړې بیانی ارشاد اوفرمائیلو «هذا وضوء لا یقبل الله الصلاة إلا به»(٤) یعنی الله تعالی دَ دغه وار په وار اودس کولونه بغیر مونځ نه قبلوی.(٥)

دریم دلیل: دریم دلیل دَ حضرت انس ﷺ نه روایت دې چه یوسړې دَ حضورپاك په خدمت کښې اودس کولوسره راغلو په داسې حالت کښې چه هغه په خپه کښې دَ یونوك برابر ځائی نه وو وینځلې. نوحضورپاك هغه سړی ته اوفرمائیل «ارجع فأحسن وضوءك»(٦) لاړه شه او اودس په ښه شان سره اوکړه. دَ ابوداؤد ﷺ په روایت کښې دی حضورپاك یوسړې په مونځ کولوباندې اولیدلو اودَهغه دَخپې څه حصه په اندازه دَ یودرهم اوچه پاتې شوې وه نو حضورپاك دغه سړی ته دَ اودس اومونځ دواړو راګرځولو حکم اوکړو.(٧)

دَحضرت عمر ﷺ اثر: دغه شان یواثردَحضرت عمر ﷺ نه هم نقل دې. چنانچه ابوسفیان دَ جابر نه نقل کړی دی هغه وائی: «رأي عمر بن الخطاب رضي الله عنه رجلاً یتوضأ فبقی فی رجله لمعة فقال: أعد الوضوء»(٨) یعنی حضرت عمر بن خطاب ﷺ یوسړې اولیدلو چه اودس ئی کولو (بیا چه کله هغه اودس اوکړو) نودَهغه دَ خپې څه حصه اوچه پاتې شوه اوهلته دَ اودس اوبه نه وې رسیدلې نوحضرت عمر ﷺ دغه سړی ته اوفرمائیل چه اودس راؤګرځوه یعنی دَ نوی سر نه دوباره اودس اوکړه.

---

(١) الشرح الکبیر: ١٣٢/١.

(٢) المائدة:٦

(٣) الحاوی الکبیر:١٦٥/١.

(٤) الحدیث رواه ابن ماجه فی سننه کتاب الطهارة باب ا لوضوء ثلاثا ثلاثاً رقم: ٤١٩ والبیهقی فی سننه کتاب الطهارة باب فضل التکرار فی الوضوء رقم: ٣٨٠-٣٧٩.

(٥) الحاوی الکبیر: ١٦٥/١.

(٦) رواه مسلم فی صحیحه فی کتاب الطهارة باب وجوب استیعاب جمیع أجزاء محل الطهارة رقم: ٢٤٣ وأبوداؤد فی سننه فی کتاب الطهارة باب تفریق الوضوء رقم: ١٧٣وقال أبوداؤد: هذا الحدیث لیس بمعروف عن جریر بن حازم ولم یزوه إلا ابن وهب وحخده وقد روی عن معقل بن عبیدالله الجزری عن أبی الزبیر عن عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم نحوه قال: ارجع فأحسن وضوءک. انظر جامع الأصول رقم: ٥١٥٦-٥١٥٥.

(٧) الحدیث رواه أبوداؤد فی سننه کتاب الطهارة باب تفریق الوضوء رقم: ١٧٤راجع جامع الأصول رقم: ٥١٥٧.

(٨) الأثر أخرجه البیهقی فی السنن الکبری فی کتاب الطهارة باب تفریق الوضوء: ١٣٦/١رقم الحدیث: ٣٩٥.

د قائلين عدم وجوب دلائل

رومبي دليل: دقائلين عدم وجوب موالات يودليل هم هغه دَ سورت مائده آيت ﴿ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ ﴾ [1] دي چه الله تعالى په خپل كتاب كښې (مطلقًا) دَ اودس دَ اندامونو دَ وينځلو حكم وركړې دې. نوچاچه دغه اندامونه اووينځل هغه په مامور به باندې عمل اوكړو كه په وينځلوكښې تفريق اوكړى اوكه يو بل پسې اووينځى. [2]

دويم دليل: دويم دليل دَابن عمر رضي الله عنهما اثر دې كوم چه امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې نقل كړې دې چه هغه خپلې خپې دَ اودس دَ اوچيدو نه پس اووينځلې.

دريم دليل: هم دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما اثر دې امام مالك رحمه الله اوامام شافعى رحمه الله نقل كړې دې. «أن عبدالله بن عمر بال في السوق، ثم توضأ، فغسل وجهه، ويديه، ومسح رأسه، ثم دُعِيَ لجنازة ليُصلّي عليها حين دخل المسجد، فمسح على خُفّه، ثم صلّى عليها» [3]

يعنى حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بازاركښې (دَ قضاحاجت دَپاره جوړشوى يوخانى) متيازې اوكړې هغه اودس اوكړو په كوم كښې چه مخ او لاسونه اووينځل او په سرئې مسح اوكړه، بيا هغه دَ يوې جنازې كولودَپاره راؤغوښتلې شو نوهغوى رضي الله عنهما جمات ته تشريف راوړو او په موزو باندې ئې مسح اوكړه او جنازه ئې اوكړه.

امام بيهقى رحمه الله دَ ابن عمر رضي الله عنهما هم دغه اثر نقل كړې دې او په دې كښې ئې دا صراحت كړې چه دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په موزو باندې مسح كولړ دَ اودس دَ اوچيدو نه پس وو. چنانچه دَ بيهقى دَ روايت الفاظ دادى: «فمسح على خفيه بعد ما جف وضوءه، وصلى» [4] يعنى حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دَ اودس دَ اوچيدونه پس په موزو باندې مسح اوكړه او مونځ ئې وركړو. دَ روايت نقل كولونه پس امام بيهقى رحمه الله فرمائى چه «هذا صحيح عن ابن عمر ومشهور عن قتيبة بهذا اللفظ» [5]

دَامام نووى رحمه الله دا دليل حسن كرځول: امام نووى رحمه الله دَ مذكوره روايت نقل كولونه پس ليكلى دى «هذا دليل حسن» خكه چه ابن عمر رضي الله عنهما داعمل دَ جنازې دَپاره دَ راتلونكو په مخكښې اوكړو او چاهم په دې باندې نكير اونه كړو. [6]

عقلى دليل: امام طحاوى رحمه الله دَ موالات په عدم وجوب باندې عقلى دليل وركولوسره فرمائى: «جفاف الوضوء ليس بحدث فلا ينقضه، كما أن جفاف سائر الأعضاء لا يبطل الطهارة» [7] اودس اوچيدل داحدث نه دې چه په دې سره اودس مات شى لكه دَ ټولو اندامونو دَ اودس اوچيدل چه طهارت نه باطل كوى.

---

[1] المائدة: ۶.
[2] الأوسط فى السنن والإجماع والخلاف: ۴۲۱/۱.
[3] أخرجه الإمام مالك فى الموطأ كتاب الطهارة باب ماجاء فى المسح على الخفين: ۳۷/۱-۳۶ رقم الحديث: ۴۳ والإمام الشافعى فى الأم، كتاب، الطهارة باب تقديم الوضوء ومتابعته رقم: ۴۲۳.
[4] السنن الكبرى كتاب الطهارة باب تفريق الوضوء رقم: ۳۹۷.
[5] السنن الكبرى كتاب الطهارة باب تفريق الوضوء رقم: ۳۹۷.
[6] المجموع: ۴۵۵/۱ الحاوى الكبير: ۱۶۵/۱ البحر الرائق: ۵۵/۱.
[7] مختصر اختلاف العلماء: ۱۵۳/۱ عمدة القارى: ۳۱۳/۳ فتح البارى: ۴۹۴/۲.

دَ قائلين وجوب دَ دلائلو جواب: دَ قائلين وجوب دَ دلائل جواب دَ رومبى دليل جواب دادې چه کله تفريق اوفصل فى الوضوء دَالله تعالى ارشاد ﴿ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ ﴾ کښې ورکړې شو دَ امر په امتثال سر مانع نه دې نو دا ضروری دی چه بيا دا آيت دَ عدم موالات دَ پاره هم مانع نه وی.(١)

دَ دويم دليل جواب: دويم دليل «هذاوضوءلايقبل الله الصلاة إلابه» باره کښې امام نووی رحمه الله فرمائيلى چه دا روايت دَ ابى بن کعب او ابن عمر رضي الله عنهم نه په سند ضعيف سره نقل دې. امام ابوبکرحازمى رحمه الله اوفرمائيل چه داحديث دَ يونه زيات صحابه کرامو نه په متعدد طرق سره نقل دې اوهغه ټول طرق ضعيف دى.... خلاصه دا چه دا حديث ضعيف دې اوقابل دَ احتجاج او استدلال نه دې.(٢)

په مواظبت سره وجوب نه ثابتيږي: دويمه خبره دا چه دَ رسول الله ﷺ په موالات باندې مواظبت اختيارول وجوب نه ثابتوى ځکه چه اکثر وختونوکښې دَ مواظبت بيان دَسنت دَپاره کيږى.(٣)

دَحضرت انس ﷺ دَ روايت جواب: دَحضرت انس رضي الله عنه دَ روايت جواب دادې چه «فأحسن وضوءك» نه په وجوب موالات باندې استدلال صحيح نه دې ځکه چه په دې کښې دَ استيناف حکم نه دې ورکړې شوې بلکه دَاتمام او احسان حکم دې. اوکه چرې دا اومنلې شى چه ددې نه اعاده او راګرځول مراد دى نو بياهم اتمام اواحسان خو دَهغه اوچ اندام په وينځلوسره حاصليږى. لهذا په دې حديث سره په وجوب اعاده باندې هيڅ دلالت نه کيږى البته دَاودس اندامونو وينځلوکښې دَتفريق جواز اوعدم وجوب موالات دَدې نه ثابتيږى.(٤)

دې نه علاوه پخپله دَ امام أبوداؤد «باب فى تفريق الوضوء» قائمول او دَدې په ذيل کښې داحديث راوړل دَ تفريق جواز او عدم موالات باره کښې زيات واضح دې.(٥) لهذا په دې حديث کښې امر دَ وجوب دَپاره نه دې بلکه دا استحبابى امر دې. دغه شان دَ امام ابوداؤد رحمه الله دَ خالد بن معدان دَ روايت باره کښې امام نووى رحمه الله فرمائيلى چه هغه ضعيف الاسناددې.(٦) خو امام بيهقى رحمه الله او ابن قطان رحمه الله دا مرسل ګرځولې دې.(٧)

بعض حضراتو دا روايت مرسل ګرځولو باندې رد هم کړې دې.(٨) ليکن علامه سهارنپورى رحمه الله فرمائيلى چه دَبخارى دَ مذهب مطابق دَامام بيهقى رحمه الله او ابن قطان رحمه الله دَ خالد بن معدان روايت مرسل ګرځول صحيح دى. ځکه چه خالد بن معدان دَ بعض صحابه کرامو نه عنعنه سره روايت کوى اودَهغوى سره ئى لقاء هم ثابته نه ده. لهذا په يقينى توګه سره دا نه شى وئيلې چه دادَ خالد دَ هغه بعض صحابه نه بالمشافهه روايت دې. دَدې احتمال دَ وجې نه دا موصول نه شى ګرځولې کيدې البته

---

(١) الحاوى الکبير: ١٦٥/١.

(٢) المجموع شرح المهذب: ٤٣٠، ٤٥٥/١. دَ حديث په طرق باندې دَ تفصيلى کلام دَپاره اوګورئى تلخيص الحبير، کتاب الطهارة: ٢٦٨/١-٢٦٦رقم: ٨١وانظر: السعاية: ١٥٩/١.

(٣) المبسوط: ١٧١/١.

(٤) بذل المجهود: ٢٦/٢.

(٥) بذل المجهود: ٢٦/٢.

(٦) المجموع شرح المهذب: ٤٥٥/١.

(٧) السنن الکبرى کتاب الطهارة باب تفريق الوضوء رقم: ٣٩٢ (١٣٥/١).

(٨) تلخيص الحبير: ٢٩٢/١-٢٩١.

که حدثني رجل من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم نې ونيلې وې نو بيا به حديث موصول وې خوداًامام مسلم رحمه الله او جمهورو په نيزدا روايت متصل دی.(۱)

په خبر واحد سره په کتاب الله باندې زياتې صحيح نه دې:(۲)

علامه لکهنوی رحمه الله فرمائي چه دا روايت خبرواحد دې په دې سره په کتاب الله باندې زياتې جائز نه دې ځکه چه الله تعالى مطلقاً دَغسل اومسح حکم ورکړې دې اوداني تفريق سره مقيدکړې نه دی. دَدې نه علاوه دَاعاده په حکم کښې دا احتمال هم دې چه هغه دَاکمال دپاره وی لکه چه بعض رواياتوکښې غيبت کونکوته دَ اودس اوموڼځ راګرځولو حکم ورکړې شوې دې.(۳)

داحديث دَ ضعف نه باوجود په استحباب باندې محمول کولې کيدې شی لکه ځنګه چه امام بيهقی رحمه الله دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما قول په استحباب باندې محمول کړې دې. (سعاي) يا دَدې دا تاويل هم ممکن دې چه دَ راګرځولو حکم دَ يوناقض دَ اودس په موجود کيدو سره وو نه چه صرف دَ اوچ ځائی دَ وجې نه.(۴)

دَ امام دارقطني رحمه الله په روايت کښې دی چه يوسړی ته رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: «ارجع فأتمم وضوءك ففعل»(۵) يعنې لاړشه اوخپل اودس مکمل کړه راشه نوهغه داسې اوکړل.

په دې حديث کښې دا أتمم وضوءك په دې خبره باندې دلالت کوی چه حضورپاك دَاودس دَ استيناف حکم ورنه کړو (۶)اونه ئې دَ تيرشوی وخت باره کښې پوښتنه اوکړه صرف دَهغه ځائی دَ وينځلو حکم ئې ورکړو کوم چه اوچ پاتې شوې وو.

دَحضرت عمر رضي الله عنه دَ اثر جوابات: علماء کرامو دَحضرت عمر رضي الله عنه دَ اثر مختلف جوابونه ورکړی دی:

دَ اعاده وضو حکم په تغليظ باندې محمول دې: دَحضرت عمر رضي الله عنه دَاثر جواب علامه لکهنوی رحمه الله صاحب کشاف نه دا نقل کړې دې چه «أنه محمول على التغليظ» يعنی دَحضرت عمر رضي الله عنه دَ اودس دَ اعاده حکم ورکول په تغليظ باندې محمول دې.(۷)

دَحافظ ابن حجر رحمه الله توجيه: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دَحضرت عمر رضي الله عنه ارشاد «أعد الوضوء» دَ اطلاق الکل وارادة الجزء دَ قبيل نه دې مراد دې نه صرف دَخپې اوچه حصه وينځل دی.(۸)

---

(۱) بذل المجهود: ۳۲/۲.

(۲) قال الإمام نظام الدين الشاشي رحمه الله: "وحكم الخاص من الكتاب وجوب العمل به لا محالة. فإن قابله خبر الواحد. أو القياس. فإن أمكن الجمع بينهما بدون تغيير في حكم الخاص. يعمل بهما. وإلا يعمل بالكتاب ويترك ما يقابله". (فصل في الخاص والعام ص:۱۱. وراجع للتفصيل والمزيد: مبادی علم الحديث وأصوله لمحقق العصر المحدث الشيخ شبير احمد العثمانی مع تعليقات الشيخ عبدالفتاح أبو غدة. ص: ۱۹۳-۱۶۱).

(۳) السعاية: ۱۶۱/۱.

(۴) بذل المجهود: ۳۲/۲.

(۵) سنن الدارقطني مع التعليق المغني كتاب الطهارة باب في فضل الوضوء واستيعاب جميع القدم في الوضوء بالماء: ۱۰۹/۱رقم:۶.

(۶) تلخيص الحبير كتاب الطهارة: ۲۹۱/۱رقم:۱۰۲التعليق المغني على سنن الدارقطني:۱۰۹/۱.

(۷) السعاية: ۱۶۱/۱.

(۸) السعاية: ۱۶۱/۱.

دَامام نووی رحمه الله توجیه: امام نووی رحمه الله فرمائي چه دَحضرت عمر رضي الله عنه دَ اودس اعاده امر استحباب یا جواز باندې محمول دې . (۱) واجب صرف دَ اوچې حصې وینځل دی ځکه چه عبید بن عمر لیثی رحمه الله دَ حضرت عمر رضي الله عنه نه داشان واقعه نقل کړې ده په کوم کښې چه حضرت عمر رضي الله عنه صرف دَچپو اوچه حصه وینځلو امر ورکولوسره فرمائیلی «اغسل ماترکت من قدمك» (۲)

افضلیت او سنیت موالات: دا ټول بحث خودَ وجوب اوعدم وجوب دې. په دې کښې موجود اختلاف سره دَ دلائلو بیان ګړې شوې دې. راجح دادی چه موالات فی الوضوء واجب نه دی لیکن دَموالات سنت او افضل کیدو کښې هیڅ اختلاف نشته. چنانچه امام ماوردی شافعی رحمه الله فرمائي چه په اودس کښې دَ تعجل حکم اودَ رسول الله ﷺ دَ حکم په رڼاکښې موالات فی الوضوء او اندامونه په کامل توګه سره وار په وار وینځل افضل دی.(۳)

امام شافعی رحمه الله فرمائي : «أحب أن يتابع الوضوء، ولا يفرقه: لأن رسول الله صلى الله عليه وسلم جاء به متتابعاً»(۴)

یعنی زه په اودس کښې متابعت اوعدم تفریق خوښوم ځکه چه رسول الله ﷺ وار په وار اودس فرمائیلې دې. اوکه چرې متوضی داسې اونه کړی نو خوښ عمل دادې چه هغه دې اودس بیا اوکړی، په تفریق کونکی باندې دَ استیناف ضروری کیدل ماته واضح نه دی. (۵)

موالات فی الغسل: په غسل کښې موالات واجب دی که نه په دې کښې هم اختلاف دې. ائمه ثلاثه امام اعظم امام ابوحنیفه رحمه الله (۶)امام شافعی رحمه الله (۷)اوامام احمدبن حنبل رحمه الله (۸)فرمائي چه په غسل کښې موالات واجب نه سنت دی هم دغه دَامام مالك رحمه الله هم یو قول دې.(۹)

ابن حامد او ابوالخطاب نه یو روایت او امام احمد بن حنبل رحمه الله نهَ وجوب موالات فی الغسل هم نقل کړې دې لیکن علامه مرداوی رحمه الله فرمائي چه عدم موالات هم دَامام احمد رحمه الله صحیح قول او مذهب دې او هم په دې دَ اکثر حنابله اتفاق دې.(۱۰)

دَ امام مالك رحمه الله دویم قول دادې چه دَ اودس په شان په غسل کښې هم موالات ضروری دی. (۱۱)امام ربیعه رحمه الله اوفرمائیل په غسل کښې تفریق دَ ناخوښه امورو نه دې او ترهغه وخته پورې دغه عمل ته غسل نه شی وئیلې کیدې ترکومې چه وار په وار دَ بدن اندامونه اونه وینځلې شی. باقی پاتې شوه

---

(۱) المجموع شرح المهذب: ۴۵۵/۱.

(۲) السنن الكبرى كتاب الطهارة باب تفريق الوضوء: ۱۳۶/۱رقم:۳۹۶.

(۳) الحاوی الكبير: ۱۶۴/۱كتاب الأم:۱۲۵/۱رقم: ۴۱۶.

(۴) كتاب الأم: ۱۲۵/۱رقم: ۴۱۶.

(۵) التوضيح: ۵۸۱/۴عمدة القاری: ۳۱۳/۳.

(۶) ردالمحتار: ۹۰/۱بدائع الصنائع: ۹۷/۱المبسوط: ۱۷۰/۱الأوسط فی السنن والإجماع والاختلاف: ۴۲۱/۱.

(۷) المجموع: ۴۵۳/۱الحاوی الكبير: ۱۶۶/۱كتاب الأم: ۱۲۷/۱.

(۸) المغنی لابن قدامة: ۱۴۰/۱الإنصاف للمرداوی: ۲۵۷/۱.۱۴۱.

(۹) المدونةالكبرى: ۱۵/۱شرح الكرمانی: ۱۲۷/۳.

(۱۰) الإنصاف لمرداوی: ۲۵۷/۱.

(۱۱) حاشية الدسوقی: ۲۱۹/۱.

خيره دَهغه سرى چه دَ سحرنه ترماښامه پورې په مينځمې موده كښې قصداً عمداً په غسل كښې تفريق كوى يعنى دَ بدن څه حصه ني سحر اووينځله بياوقفه كولوسره ني څه ماښام اووينځله نوداً غسل نه دې هم دغه دَامام مالك رحمه الله او امام ليث رحمه الله هم قول دې.([1])

ابن قاسم وائى كه چرې تفريق دَنسيان يعنى هيرې دَ وجې نه وى نوجائز دې. دَ امام مالك رحمه الله نه په يوقول كښې نقل دى چه په ممسوح كښې جواز دې نه چه په مغسول كښې. ابن ابى زيد وائى جواز دَ سر سره خاص دې. ابن مسلمه په مبسوط كښې وائى چه ممسوح كښې جواز دې ممسوح كه سر وى اوكه موزه.([2])

دائمه اربعه نه علاوه امام نخعى، سعيدبن مسيب، طاؤس، امام حسن، سفيان بن سعيد ثورى اومحمد بن عبدالله بن حكم رحمهم الله وغيره هم دَ عدم وجوب موالات فى الغسل قائل دى.([3])

دعدم وجوب موالات فى الغسل دلائل: قائلين عدم وجوب موالات فى الغسل يودليل خو دَ زير بحث باب حديث ميمونه رضي الله عنها دې دَ كوم نه چه امام بخارى رحمه الله تفريق فى الغسل باندې استدلال كړې دې. وجه دَ استدلال دَحديث ترجمه سره مطابقت اومناسبت په ذيل كښې راځى.

دويم دليل: دويم دليل دَ امام طبرانى رحمه الله روايت دې كوم چه جابر بن سيلان دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل كړې دې: «أن رجلاً جاء إلى النبى صلى الله عليه وسلم، فسأله عن الرجل يغتسل من الجنابة فيخطئ بعض جسده الماء، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يغسل ذلك المكان، ثم يصلى»([4])

يعنى يو سرې دَ رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو اودَهغه سرى باره كښې ني تپوس اوكړو چه غسل دَ جنابت اوكړى اودَهغه دَ بدن څه حصه په اوبو سره لمده نه شى (بلكه اوچه پاتې شوې وى) نو رسول الله ﷺ په جواب كښې ارشاد اوفرمائيلو "يغسل ذلك المكان ثم يصلى" يعنى دغه اوچ ځائى دې اووينځى بيا دې مونځ اوكړى.

ددې روايت ټول راويان ثقه دى. چنانچه حافظ نورالدين على بن ابى بكر هيثمى رحمه الله مجمع الزوائد كښې دَ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا روايت نقل كولونه پس فرمائيلى دى «رواه الطبرانى فى الكبير، ورجاله موثقون»([5])

دريم دليل: دَدې نه علاوه دَ علاء بن زياد په جيدسندسره مرسل روايت نقل كړې دې: «اغتسل رسول الله صلى الله عليه وسلم من جنابة، فخرج فأبصر لمعة عنكبه لم يصبها الماء، فأخذ بجمته فبلها به»([6])

---

[1]) المدونة الكبرى: ١٥/١الأوسط: ٤٢٠/١.

[2]) عمدة القارى: ٣١٣/٣التوضيح: ٥٨٢/٤.

[3]) الأوسط: ٤٢١/١شرح ابن بطال: ٣٨٩/١عمدة القارى: ٣١٣/٣.

[4]) المعجم الكبير مسندعبدالله بن مسعود رضي الله عنه: ٢٣١/١٠رقم الحديث: ١٠٥٦١.

[5]) كتاب الطهارة باب فيمن نسى بعض جسده ولم يغسله: ٢٠٩/١رقم: ١٤٨.

[6]) الحديث أخرجه عبدالرزاق فى مصنفه عن هشام بن حسان عن العلاء بن زياد، كتاب الطهارة باب الرجل يترك شيئًا من جسده فى غسل الجنابة: ٢٦٥/١رقم: ١٠١٥وأخرجه ابن أبى شيبة فى مصنفه عن إسحاق بن سويد العدوى عنه، كتاب الطهارة [باب] فى الرجل يتوضأ أو يغتسل فينسى اللمعة من جسده: ٣٧٥/١-٣٧٤رقم: ٤٤٧.وقال الشيخ المحقق الفاضل العلامة محمد عوامه حفظه الله:"هذا مرسل بإسناد جيد . (تعليقات مصنف ابن ابى شيبه: ٢٧٤/١).

یعنی رسول الله ﷺ دَ جنابت غسل اوکړو دَغسل نه پس حضورپاك په خپل اوږه مبارکه باندې څه حصه اوچه اولیدله نو په ویښتو باندې موجود اوبوسره ئې هغه لمده کړه.

دَعدم وجوب موالات باره کښې ابن رجب الحنبلي رحمه الله فتح الباري:[1] کښې علامه عبدالرزاق صنعاني رحمه الله مصنف: [2]کښې او علامه ابن ابی شیبه رحمه الله مصنف: [3]کښې مختلف روایات آثار صحابه اوتابعین نقل کړی دی چه په تفریق فی الغسل باندې صراحتاً دلالت کوی. چنانچه ابن وهب رحمه الله دَ یحیی بن ایوب نه هغوی دَ ابن حرمله نه نقل کړی دی چه یوسړی دَ سعیدبن مسیب رحمه الله په خدمت کښې راغلو اووئې وئیل: ((إنی اغتسلت الجنابة ونسیت أن اغسل رأسی، قال: فأمر رجلاً من أهل المجلس أن یقوم معه إلی المطهرة، فیصب علی رأسه دلواً من ماء))[4]

دغه سړی اووئیل چه ما دَ جنابت غسل اوکړو اوسرویندل مې هیرشوی دی، سعیدبن مسیب رحمه الله دَ اهل مجلس نه یو سړی ته حکم اوکړو چه ده سره دَ اوبولویښی (کوهی تالاب وغیره) طرف ته لاړشه اوده په سر باندې یوه ډولچه اوبه اوبهیوه.اعمش رحمه الله دَ ابراهیم نخعی رحمه الله نه نقل کړی دی چه هغوی فرمائی ((لابأس أن یفرق غسله من الجنابة)) یعنی په دې کښې هیڅ حرج نشته دې چه سړې په غسل جنابت کښې تفریق اوکړی.[5]

امام حسن رحمه الله او ابراهیم نخعی رحمه الله په دې خبره کښې هیڅ حرج نه ګنړلو چه جنبی خپل سر اووینځی اوبیا باقی بدن وینځل روستوکړی.[6]امام لیث رحمه الله دَامام طاؤس رحمه الله نه نقل کړی دی چه کوم سړې دَ جنابت غسل کوی اودَهغه دَبدن څه حصه اوچه پاتې شی نوهغه له پکاردی چه صرف هغه اوچ ځائی لوند کړی.[7]

دَموالات باره کښې دَ امام بخاري رحمه الله مسلک: دَامام بخاری رحمه الله رائې او مسلك په دې باره کښې دادې چه موالات نه په اودس کښې واجب دی اونه په غسل کښې. امام بخاری رحمه الله په دې مسئله کښې په مکمل توګه دَاحنافو اوشوافع هم خیال دې. هغوی رحمه الله په عدم موالات فی الوضوء باندې دَ ابن عمر رضي الله عنهما دَ اثرنه استدلال کړې دې او په عدم موالات فی الغسل باندې دَ حضرت میمونه رضي الله عنها دَ روایت نه استدلال کړې دې.[8]

تعلیق: وَيُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّهُ غَسَلَ قَدَمَيْهِ بَعْدَ مَا جَفَّ وَضُوؤُهُ.

---

[1] ۱٦٤/۱.

[2] ۲٦٥/۱-۲٦٤.

[3] ۳۷۸/۱-۳۷٤.

[4] المدونة الکبری: ۱٥/۱والقصة روی نحوها ابن أبی شیبة فی مصنفه، کتاب الطهارة باب فی الرجل یفرق غسله من الجنابة: ٤۷۹/۱رقم: ۷۷٤.

[5] مصنف ابی أبی شیبة کتاب الطهارة باب فی الرجل یفرق غسله من الجنابة: ٤۷۹/۱-٤۷۸رقم: ۷۷۲.

[6] الأوسط لابن المنذر: ٤۲۱/۱وقد مر تخریج أثر النخعی وأما أثر الحسن أخرجه ابن ابی شیبة فی مصنفه فی کتاب الطهارة باب فی الرجل یفرق غسله من الجنابة: ٤۷۹/۱رقم: ۷۷۳ولفظه: "أنه لایری بأساً أن یغسل الجنب رأسه قبل جسده، أو جسده قبل رأسه".

[7] أخرجه عبدالرزاق فی مصنفه فی کتاب الطهارة باب الرجل یترک شیئاً من جسده فی غسل الجنابة: ۲٦٥/۱رقم: ۱۰۱٦.

[8] عمدة القاری: ۳۱۲/۳.

ترجمه: او دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه نقل دی چه هغوی خپلې دواړه خپې دَ اودس اوبه دَ اوچیدونه پس اووینځلې.

دَتعلیق تخریج: امام بخاری رحمه الله دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دا اثر دلته په صیغه دَتمریض سره ذکرکړې دې. دا امام مالک رحمه الله په مؤطا کښې دَحضرت نافع رحمه الله نه موصولاً نقل کړې دی. دَ دې الفاظ دادی «أن عبدالله بن عمر بال في السوق، ثم توضأ فغسل وجهه، ويديه، ومسح رأسه، ثم دُعي لجنازة ليُصلي عليها حين دخل المسجد فمسح على خفيه، ثم صلى عليها»([1])

یعنی حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په بازارکښې وو، هلته نې متیازې اوکړې بیانې اودس اوکړو داسې چه مخ او لاسونه نې اووینځل او دَ سر مسح نې اوکړه، بیاچه کله هغوی په مسجد نبوی کښې داخل شو نو یوې جنازې دَ مونځ ورکولو دَ پاره راؤغوښتې شو (نو هغوی هلته) په خفین باندې مسح اوکړه او دَ جنازې مونځ نې ورکړو.

علامه سراج الدين ابوحفص عمر بن علي بن احمد شافعی المعروف بابن الملقن رحمه الله (المتوفی: ۸۰۴هجری) «البدر المنير في تخريج الأحاديث والآثار الواقعة في الشرح الكبير» کښې دا اثر دَ مؤطا امام مالک رحمه الله په حواله سره دَتخریج نه پس دا اصح الاسانید کرخولوسره فرمائی: «وهذا الإسناد لا يشتبه على أحد صحته، ويسمى هذا الإسناد: سلسلة الذهب، مالك عن نافع عن ابن عمر: بل هو أصح الأسانيد" مطلقاً على قول إمام هذا الفن —البخاري رحمه الله— هذا أصح الأسانيد"»([2])

یعنی دَدې سند صحت په چاباندې هم مشتبه نه دې مالک عن نافع عن ابن عمر سند ته سلسله الذهب وئیلی شی بلکه دا سند خودَ دې فن امام بخاری رحمه الله دَ قول مطابق مطلقاً أصح الأسانيد نه دې.

امام شافعی رحمه الله هم په کتاب الأم کښې مالک عن نافع عن ابن عمر په سندسره دا اثر موصولاً نقل کړې دې البته هغوی «ثم دعي لجنازة ليصلي عليها حين دخل المسجد» الفاظو په ځائې «ثم دعي لجنازة، فدخل المسجد ليصلي عليها» الفاظ نقل کړی دی او دَ دې په شروع کښې «بال في السوق» تذکره هم نه ده کړې باقی الفاظ هم هغه دی.([3])

امام بیهقی رحمه الله السنن الکبری کښې دا اثر په خپل سندسره دَ قتیبه بن سعید په واسطه دَ امام مالک رحمه الله نه موصولاً نقل کړې دې البته هغوی هم په شروع کښې «بال في السوق» الفاظ نه دی نقل کړی خو دَ فغسل يديه ووجهه نه پس «فمسح على خفيه» نه پس «وذراعيه ثلاثاً» او «فمسح على خفيه» نه پس «بعدما جف وضوءه» زیادت هم نقل کړې دې اودَ دې اثر نقل کولونه پس فرمائی «وهذا صحيح عن ابن عمر ومشهور عن قتيبة بهذا اللفظ»([4])

---

[1]) كتاب الطهارة باب ماجاء في المسح على الخفين: ۳۷/۱-۳۶رقم: ٤۳راجع جامع الأصول. رقم: ۵۲۷۱.

[2]) كتاب الطهارة باب الوضوء تحت الحديث: الثامن والخمسون: ۲٦۸/۲،ت:مصطفى أبوالغيط وعبدالله بن سليمان وياسر بن كمال، دارالهجرة للنشر والتوزيع، الرياض السعودية، الطبعة الأولى: ۱٤۲۵هجرى – ۲۰۰٤م.

[3]) كتاب الطهارة باب تقديم الوضوء ومتابعته: ۱۲۷/۱رقم: ٤۲۳انظر كذلك، مسندالشافعي، كتاب الوضوء: ۱٤/۱رقم: ۵۱دارالكتب العلمية.

[4]) كتاب الطهارة باب تفريق الوضوء: ۱۳٦/۱رقم: ۳۹۷.)

حافظ ابن حجر رحمه الله تغليق التعليق کښې دَامام بیهقي رحمه الله مذکوره روایت نقل کولوسره «فمايقال» الفاظوسره دَ قتیبه دَ امام مالك رحمه الله نه تفرد ګرځول ذکرکړې او فرمائیلي دي چه دا بعد ما جف وضوءه دَقتیبه تفرد نه دې ځکه چه امام شافعي رحمه الله دَهغوی متابعت کړې دې او امام بیهقي رحمه الله معرفة السنن والآثار کښې دَدې تخریج کړې دی.[1]

دَ تغليق التعليق محقق فتح الباري او کتاب الأم کښې مذکور اثر نقل کولوسره دَ امام شافعي رحمه الله متابعت ګرځولو سره لیکلي دي «والی متابعة الشافعی هذه أشار الحافظ فی الفتح».[2]

واضحه دې وی چه امام شافعي رحمه الله دَ قتیبه ابن سعید رحمه الله متابعت «بعد ما جف وضوءه» الفاظوکښې نه دې کړې یعني دَهغوی په روایت کښې دا الفاظ «بعد ما جف وضوءه» نشته دې. لهذا دَ حافظ ابن حجر رحمه الله قول «قد تابعه الشافعی» مطلب به دا شی چه قتیبه بن سعید رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله دَ امام مالك رحمه الله نه نفس روایت نقل کولو کښې متفق دی. هم دې ته دَ اصول حدیث په اصطلاح کښې متابعت وئیلی شي. (۳)قطع نظر دَدې نه چه امام شافعي رحمه الله متابعت په پوره الفاظ دَحدیث کښې دی یا بعض کښې. البته امام شافعي رحمه الله دَ قتیبه دَ دې تفرد تائید دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما مذکوره اثر نقل کولونه پس په دې الفاظوسره کړې دې: «ولعله قد جف وضوءه وقد یجف فی مأأقل مما بین السوق والمسجد»[4] یعني کیدې شی چه دَ ابن عمر رضي الله عنهما په خفین باندې مسح دَاودس دَ اوچوالی نه پس وی ځکه چه دَبازار نه دَ جمات پورې چه څومره فاصله ده دَهغې نه هم په کم وخت کښې دَ اودس اندامونه اوچیږي.

امام بیهقي معرفة السنن والآثار کښې دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما دا اثر په دې سند سره موصولاً نقل کړې دې: «أخبرنا أبوزکریا، وأبوسعید، وأبوبکر، قالوا: حدثنا أبو العباس قال: أخبرنا الربیع، قال: أخبرنا الشافعی، قال: أخبرنا مالك عن نافع عن ابن عمر.........»[5]

علامه عیني رحمه الله هم عمدة القاري کښې دَ امام بیهقي رحمه الله معرفة السنن والآثار والادَ روایت تخریج کړې دې. (۶)حافظ ابن حجر رحمه الله هم په صحیح سند سره دَ ابوالعباس محمدبن اسحاق بن ابراهیم ثقفي رحمه الله په واسطه سره دَ قتیبه بن سعید نه مذکوره اثر موصولاً روایت کیدل نقل کړی دی.(۷)

دا اثر امام ابواحمد بن محمد بن اسحاق نیشاپوری، کرابیسی، المعروف بالحاکم الکبیر (المتوفی ۳۷۸هجری) دَ قتیبه بن سعید په پورتني طریق سره «بعد ما جف وضوءه» الفاظ سره نقل کړې دي.(۸)

---

[1]) تغليق التعليق: ۱۵۷/۲.

[2]) تعليقات تغليق التعليق: ۱۵۷/۲.

[3]) معرفة أنواع علم الحديث ص: ۱۷۴-۱۷۳.

[4]) كتاب الأم كتاب الطهارة باب تقديم الوضوء ومتابعته: ۱۲۷/۱رقم: ۴۲۴.

[5]) كتاب الطهارة باب متابعة الوضوء: ۱۸۲/۱رقم: ۹۹.

[6]) عمدة القاري: ۳۱۳/۳.

[7]) تغليق التعليق: ۱۵۷/۲.

[8]) عوالي مالك رواية أبي أحمدالحاكم ضمن مجموعة من عوالي الإمام مالك: ۲۲۵/۱رقم:۲۴۸،ت: محمدالحاج الناصر، دارالعرب الإسلامي، الطبعة الثانية: ۱۹۹۸م.

تنبيه: ښکاره دې وي چه دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما دا اثرامام بخاري رحمه الله په يذكر صيغه مجهول سره دَ تعليق په توګه راوړلې دې. حالانکه دَتخريج تعليق نه داخبره معلومه شوه چه مذکوره اثر په صحيح سندسره موصولا نقل دې. هم دغه وجه ده چه علامه کرماني رحمه الله [١]اوعلامه عيني رحمه الله [٢]ليکلی دی چه که امام بخاري رحمه الله په دې اثرکښې دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما طرف ته دَمسح خفين په ځائې باندې دَغسل قدمين نسبت کړې دې. خو امام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله اوامام بيهقي رحمه الله په موصول رواياتوکښې مسح خفين وارد شوې دې نه چه غسل قدمين.[٣]

دَامام بخاري رحمه الله دَ صنيع توجيه: حافظ ابن حجر رحمه الله فتح الباري[٤] او تغليق التعليق[٥] کښې خوعلامه قسطلاني رحمه الله ارشادالساري[٦]کښې دَ امام بخاري رحمه الله دَدې صنيع دا توجيه کړې ده چه هغوی دا اثر دَ روايت بالمعنى په توګه سره بيان کړې دې. په دې وجه په جزم سره ذکر نه دې بلکه په صيغه دَتمريض ئې راوړې دې.علامه ابن رجب الحنبلي رحمه الله فتح الباري کښې دَ امام احمد رحمه الله په حواله سره فرمائې چه هغوی دَ ابن عمر رضي الله عنهما نه دا اثر نقل کړې دې په دې کښې غسل رجلين وارد شوې دې. چنانچه دَهغې الفاظ دادي: «عن ابن عمر: أنه توضأ، ثم غسل رجليه في مكان آخر»[٧]

فائده: دلته خويوه داخبره په ذهن کښې ساتئ چه امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب الجامع الصحيح کښې دَ ټولو احاديثو راجمع کولو التزام نه دې کړې هم دغه وجه ده چه ډير زيات صحيح احاديث په بخاري شريف کښې نشته دې چه نورو کتب صحاح کښې په کثرت سره نقل دی. چنانچه هم پخپله امام بخاري رحمه الله دَدې خبرې صراحت کړې دې چه هغوی په ويره دَ طوالت ډير صحيح روايت هم ترک کړې دی او په خپل صحيح کښې نه دی ذکر کړې.[٨]حافظ ابن حجر رحمه الله هم دَدې خبرې صراحت کړې دې چه امام بخاري رحمه الله ټول صحيح احاديث دَ ذکر کولو التزام نه دې کړې.[٩]

صحيح بخاري ته دَ اصح الكتب وئيلو وجه: بله داخبره په ذهن کښې ساتل دی چه دَ امام بخاري رحمه الله کتاب ته أصح الكتب بعد كتاب الله وئيلې شوې دی هغه په دې کښې موجود روايات مرفوعه مسنده دَ مجموعی حالت په اعتبارسره دی په جزئی توګه دَ هر يوحديث متعلق نه دې لګولې شوې. دَدې نه علاوه تراجم ابواب او آثار اوتعليقات چونکه اصل مضمون او مقصود په کتاب کښې داخل نه دی په دې وجه دَ اصحيت دا اطلاق په دې باندې نه دې شوې خودَ امام بخاري مقصد دَدې تعليقاتونه صرف په يوه مسئله باندې استشهاد او استيناس کيږی.[١٠]

---

[١]) شرح الكرماني: ١٢٦/٣.
[٢]) عمدة القاري:٣١٣/٣.
[٣]) الكنزالمتواري: ٢٠٨/٣.
[٤]) ٤٩٤/٢.
[٥]) ١٥٧/٢.
[٦]) ٥٠١/١.
[٧]) كتاب الطهارة باب تفريق الوضوء: ١٦٤/١ولم أجده في مسندأحمد.
[٨]) علوم الحديث لابن الصلاح ص: ٢٤.
[٩]) اختصار علوم الحديث مع الباعث الحثيث ص: ٢٥.
[١٠]) دَ نورو تفصيل دَپاره اوګورئ: معرفة أنواع علوم الحديث: ص: ٩٥،ت: الشيخ ماهر ياسين الفحل، دارالكتب العلمية، قواعد في علوم الحديث للعلامة المحقق المحدث الشيخ ظفر أحمد العثماني، الفصل الثاني في

په نقل اثار کښې دَامام بخاري رحمه الله درجه: دَدې تصريحاتو نه پس داسې ونيلې کيدې شي چه دَ امام بخاري رحمه الله تثبت دَصحابه کرامو آثار نقل کولو کښې دَهغه درجې نه دې کوم چه په احاديث دَ صحيح بخاري نقل کولو کښې دې. چنانچه دَ ابن عمر رضي الله عنهما زير بحث اثر سره دَ دې چه دَ يذکر صيغه تمريض سره ذکرکول يا دَ روايت بالمعنی دَ وجې نه دَهغه ذمه واری کمه شوه خو که په ژور نظرسره اوکتلې شي نودا معمولي خبره نه ده اودَدې په خلاف دَامام اعظم رحمه الله اودَ تلامذه او شرکاء تدوين فقه احاديث سره سره دَ صحابه کرامو آثار په ډير اهتمام سره تتبع کړې دې. دَ احنافو دَ کتابونو نه واقف يوطالب علم هم دَدې حقيقت نه انکارنه شي کولې.

دَ تعليق غرض: دَامام بخاري رحمه الله غرض په دې تعليق سره دَ تفريق في الوضوء جواز دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما په فعل او عمل سره مؤيد کول دې. (۱)

د تعليق شرح: وضوءه: دَ واؤ فتح سره هغه اوبوته وائی په کوم سرد چه اودس کړې شوې وی (مراد ترې نه په اندامونو باندې لګيدلې دَ اودس اوبه دی). (۲)

علامه قسطلانی رحمه الله دَ فرع اليونينيه په حواله سره دَ واؤ ضمه سره وُضوءه هم نقل کړې دې (دې نه به مراد دَ اودس عمل وی). (۳) تعليق سره متعلق اکثر مباحث بيان شوی دی البته دَ تخريج تعليق دَوران کښې دَ موصول رواياتونه داخبره مخې ته راغلې ده چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په خفين باندې مسح فرمائيلې وه. دې سره متعلق څه وضاحت پکار وو نو لاندې هغه بيانولې شي.

حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په خفين باندې مسح مسجد نبوی کښې دننه کړې وه که بهر؟ که چرې بهرنی کړې وه نو په دې کښې څه دَ اشکال خبره نشته دې که چرې دننه نی کړې وه نو دَ اوبو دَ نشت والی دَ وجې نه به نی جائز ګڼړلو سره کړې وی. باقي پاتې شوه خبره په جمات کښې دننه دَ اودس نو علامه ابوالوليد باجی رحمه الله په دې باره کښې دَ مالکيه اختلاف نقل کړې دې. دَ موسی بن معاويه دَ روايت مطابق ابن قاسم رحمه الله دا جائزګرځولې دی. خو امام سحنون رحمه الله دَ تلويث مسجد دَ وجې نه مکروه ګرځولې دی. (۴) ابن حبيب مالکی رحمه الله فرمائی چه په جمات کښې دننه اودس کول خو منع دی ليکن دَ جمات په صحن (چه دَشرعی جمات نه بهر وی) اودروازې سره نيزدې په کوم سره چه دَخلقو تګ راتګ نه متاثر کيږی اودس کول جائز دی. (۵)

په احنافو کښې صاحب دَ الدرالمختار په جمات کښې دننه اودس کول منهيات وضوءکښې شميرلی دی. او په جمات کښې دننه څه لوښی کښې (په داسې توګه چه څاڅکی بهر لاړنه شي) يا که دَاودس ځائی جوړشوې وی نو په هغې کښې اودس کول جائزدی. (۶)

بيان ما يتعلق بالتصحيح والتحسين من قواعد مهمة وأصول، ص: ۶۴-۶۳ هدی الساری للحافظ ابن حجر، ص: ۵۰۲-۵۰۱،ت: عبدالعزيز بن باز، قديمی کتب خانه، تدريب الراوی: ۱۳۳/۱دارطيبه، توضيح الأفکار لمعانی تنقيح الأفکار: ۱۳۲/۱،ت: صلاح محمد بن عويضه، دارالکتب العلمية، بيروت لبنان.

[۱]) فتح الباری: ۴۹۴/۲عمدة القاری: ۳۱۲/۳شرح الکرمانی: ۳/۱۲۷.

[۲]) شرح الکرمانی: ۱۲۶/۳فتح الباری: ۴۹۴/۲عمدة القاری: ۳۱۲/۳تحفة الباری: ۲۲۶/۱.

[۳]) إرشادالساری: ۵۰۱/۱.

[۴]) المنتقی شرح مؤطا مالک: ۳۶۳/۱أوجزالمسالک: ۴۴۸/۱.

[۵]) المنتقی: ۳۶۴/۱.

[۶]) الدرالمختار ص:۲۳ أوجزالمسالک: ۴۴۹/۱-۴۴۸.

شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله فرمائی په دې سره معلومه شوه چه په جمات کښې دننه صرف په خفین باندې مسح کول په کراهت کښې داخل نه دی (١)
چونکه امام مالک رحمه الله د مشهور قول مطابق د وجوب موالات فی الوضوء قائل دې (کمامر) او د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دا اثر د دې برعکس په جواز تفریق فی الوضوء باندې دلالت کوی. امام مالک رحمه الله دا په مؤطا کښې نقل کړی خو دی لیکن دا ئې د جواز تفریق فی الوضوء په سلسله کښې نه دې اخستې. چنانچه ابن قاسم رحمه الله وائی چه امام مالک رحمه الله د تاخیر مسح په باره کښې د ابن عمر رضی الله عنهما اثر نه دې اخستې (٢)
دا اثر چونکه په صحیح سند سره نقل دې په دې وجه مالکیه د دې مختلف تاویلات بیان کړی دی مګر هغه زیات قوی نه دی. شیخ الحدیث مولانازکریا د دغه توجیهاتو نقل کولو نه پس لیکلی دی ((وأنت خبیر بما فی هذه التوجیهات)). (٣)

الحديث الأول

٢٦٥ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَحْبُوبٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عن سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ كُرَيْبٍ، مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَتْ مَيْمُونَةُ: ((وَضَعْتُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاءً يَغْتَسِلُ بِهِ، فَأَفْرَغَ [ص: ٦٣] عَلَى يَدَيْهِ، فَغَسَلَهُمَا مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، ثُمَّ أَفْرَغَ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ، فَغَسَلَ مَذَاكِيرَهُ، ثُمَّ دَلَكَ يَدَهُ بِالْأَرْضِ، ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ، وَغَسَلَ رَأْسَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ أَفْرَغَ عَلَى جَسَدِهِ، ثُمَّ تَحَوَّلَ مِنْ مَقَامِهِ، فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ)) [حديث باب ١] (٤)

---

(١) أوجزالمسالک إلی مؤطا مالک: ٤٤٩/٢.
(٢) المنتقی: ٣٦٤/١أوجزالمسالک: ٤٤٩/١.
(٣) أوجزالمسالک إلی مؤطا مالک: ٤٤٩/٢.
(٤) الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی نفس الكتاب باب الوضوء قبل الغسل. رقم الحديث: ٢٤٩وفی باب الغسل مرة رقم الحديث: ٢٥٧ وفی باب الغسل بالصاع ونحوه. رقم الحديث: ٢٥٣وفی باب مسح اليد بالتراب لتكون أنقى رقم الحديث: ٢٦٠وفی باب المضمضة والاستنشاق فی الجنابة رقم الحديث: ٢٥٩وفی باب من توضأ فی الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد مواضع الوضوء منه مرة أخرى رقم الحديث: ٢٧٤ وفی باب نفض اليدين من الغسل عن الجنابة رقم الحديث: ٢٧٦وفی باب التستر فی الغسل عندالناس بنحوه مختصراً رقم الحديث: ٢٨١وأخرجه مسلم فی صحيحه فی كتاب الحيض باب صفة غسل الجنابة رقم الحديث: ٧٢٢وابوداؤد فی سننه فی كتاب الطهارة باب فی الغسل من الجنابة رقم الحديث: ٢٤٥والترمذی فی سننه فی كتاب الطهارة باب ماجاء فی الغسل من الجنابة بنحوه مختصراًو وقال: هذا حديث حسن صحيح رقم الحديث: ١٠٣والنسائی فی سننه فی كتاب الطهارة باب غسل الرجلين فی غيرمكانه الذی يغتسل فيه رقم الحديث: ٢٥٢وأيضاً فی كتاب الغسل والتيمم، باب إزالة الجنب الأذى عنه قبل إفاضة الماء عليه بنحوه مختصراً رقم الحديث: ٤١٨وأيضاً فی باب مسح اليد باالأرض بعد غسل الفرج رقم الحديث: ٤١٩وأيضاً فی باب الاستتار عندالغسل رقم الحديث: ٤٠٨ وأخرجه ابن ماجه فی سننه فی كتاب الطهارة باب المنديل بعدالوضوء رقم الحديث: ٤٦٧راجع جامع الأصول رقم: ٥٣٢١وتحفة الأشراف رقم: ١٨٠٦٤.

ترجمه: مونږ ته موسى بن اسماعيل بيان اوكړو وئې وئيل چه اووئيل مونږ ته ابوعوانه، اووئيل مونږ ته اعمش، هغوى د سالم بن ابى الجعدنه هغوي د ابن عباس رضی الله عنهما د غلام كريب نه هغوى د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه هغوى د ميمونه بنت حارث رضی الله عنها نه، هغه فرمائى چه ما د رسول الله ﷺ د (غسل د پاره) اوبه كيخودې دې د پاره چه رسول الله ﷺ په دې سره غسل اوكړى. حضورپاك (اول) په خپلو دواړو لاسونوباندې اوبه واچولې اوهغه ئې دوه ځل يا درې ځل اووينځل. بيا حضورپاك په خپل ښى لاس سره په كس لاس اوبه واچولې او (په كس لاس سره) ئې خپل شرمګاه اووينځلو. بيائى خپل لاس مبارك په زمكه باندې اومږلو بيا حضورپاك خله كښې اوبه واچولې او پوزه كښې اوبه واچولې. بيا مخ (مبارك) اووينځلو اوخپل دواړه لاسونه ئې اووينځل بيائى خپل سر مبارك درې ځل اووينځلو بيائى په خپل پوره بدن باندې اوبه اوبهيولې اوبيا د هغه ځائى نه اخوا شو اوخپلې دواړه خپې ئې اووينځلې.

تراجم رجال

حدثنا محمدبن محبوب: دامشهور محدث محمدبن محبوب، بنانى بصرى رحمه الله دې.[1]
علامه كرمانى رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله قيل سره نقل كړې دى چه محبوب د دوى لقب دې او نوم ئې حسن دې. حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلى دى چه بعض حضراتو د دوى ترجمه د محمد بن حسن شيبانى رحمه الله ترجمه سره ګډه وډه كړې ده د دې غلطئى سبب دادې چه د محمدبن حسن لقب محبوب دې او بعض رواياتوكښې حدثنا محمد بن الحسن راغلې دې نو دغه خلقو د محمد بن حسن لقب ګمان كولو سره د محمدبن محبوب ترجمه ئې د محمد بن حسن سره ګډه وډه كړې ده حالانكه صحيح خبره داده چه دواړه جدا جدا هستئى دى. محمد بن حسن، د محمدبن محبوب نه زيات مشهور هم دې او په عمركښې هم مشر دې.[2]

شيوخ حديث: هغوى رحمه الله چه د كومو محدثينو حضراتو نه حديث روايت كړې په هغوى كښې حرب بن ميمون، حفص بن غياث، حماد ابن زيد، حماد بن سلمه، سرار بن مُجشر، سلام بن ابى مطيع، عبدالعزيز بن مسلم، عبدالواحد بن زياد، محمدبن دينار، ابوحفص الابار او ابوعوانه رحمهم الله شامل دى.[3]

تلامذه: د هغوى رحمه الله نه د حديث پاك روايت كونكوكښې اصحاب كتب سته نه امام بخارى رحمه الله، امام ابوداؤد رحمه الله ابراهيم بن ابى الجُحَيم، احمد بن محمدمقدمى، احمد بن مهدى اصبهانى، احمدبن يوسف سلمى، احمد بن على ورّاق، عباس بن عبدالعظيم عنبرى، عبدالله بن احمد دورقى،

---

[1] التاريخ الكبير: ٢٤٥/١رقم الترجمة: ٧٧٥ كتاب الثقات: ٨٠/٩ الجرح والتعديل: ١١٨/٨رقم الترجمة ٤٤٠:،تهذيب الكمال: ٣٧٠/٢٦ رقم الترجمة: ٥٥٨٢تاريخ الإسلام: ١٣٩/٦رقم الترجمة: ٤٥٣ميزان الاعتدال: ٢٥/٤رقم الترجمة: ٨١١٩ الكاشف: ٧٥/٣رقم الترجمة: ٥١٩٨تهذيب التهذيب: ٤٢٩/٩رقم الترجمة: ٧٠٠تقريب التهذيب:١٢٩/٢أرقم الترجمة: ٦٢٨٦ ابوعبدالله د دوى كنيت دې حواله سابق إكمال تهذيب الكمال: ٣٣١/١.

[2] تهذيب التهذيب: ٤٦٩/٩رقم الترجمة: ٧٠٠حافظ ابن حجر رحمه الله د امام بخارى رحمه الله كتاب الاحكام كښې چه كله د محمد بن محبوب نه روايت نقل كوي نود محمدپه ځائې محبوب بن الحسن وئيلې ١هـ. د لتون نه باوجود په كتاب الاحكام كښې د دې نوم راوى نه دې ملاؤشوې. ١٢ ع م.

[3] تهذيب الكمال: ٣٧١/٢٦-٣٧٠ تهذيب التهذيب: ٤٢٩/٩.

عمرو بن منصور نسائي، عيسى بن شاذان، محمد بن يحيى ذهلي، محمدبن يونس كديمي، نصر بن داؤد خلنجي، يحيى بن مطرف اصبهاني، يعقوب بن سفيان او يعقوب بن شيبه رحمهم الله شامل دی.[۱]

دَدوی نه علاوه صاحبِ سنن امام نسائی دَ محمدبن محبوب رحمه الله نه عمرو بن منصور رحمه الله په واسطه روايت نقل كړي دي.[۲]

دَائمه جرح والتعديل اقوال: امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی چه ما يحيى بن معين رحمه الله دَ محمدبن محبوب رحمه الله تعريف كولوسره اوريدلي. ابن معين رحمه الله فرمائی «هوكيّس، صادق، كثيرالحديث».[۳]

يحيى بن معين رحمه الله فرمائی «كان محمدبن محبوب أكيس فى الحديث من مسدد، ومسدد كان خيراً منه».[۴] ابن محرز دَ يحيى بن معين نه نقل كړى دى چه هغوى فرمائيلى دى "ليس به بأس".[۵] ابن حبان رحمه الله په الثقات كښې دَدوى تذكره كړې ده.[۶] علامه ذهبى رحمه الله الكاشف [۷] كښې اوحافظ ابن حجر رحمه الله تقريب التهذيب كښې فرمائى ثقة.[۸]

وفات: دَمحمد بن محبوب رحمه الله دَ وفات دَ كال باره كښې دوه اقوال دی. ① بعض حضراتو ونيلى ۲۲۲هجرى كښې وفات شوې.[۹] ② ابن ابى عاصم، ابن قانع [۱۰] علامه كرمانى رحمه الله [۱۱] علامه قسطلانى رحمه الله [۱۲] علامه عينى رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله جزم سره فرمائيلى دى چه ۲۲۳هجرى كښې انتقال شوې.

علامه مزى رحمه الله اوعلامه ذهبى رحمه الله هم دغه قول دَ امام بخارى رحمه الله نه هم نقل كړې دې.[۱۳] حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه مغلطائى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله دَ ۲۲۳هجرى جزم نه دې فرمائيلې بلكه داسې ونيلى دى چه ۲۲۳هجرى سره نيزدې وفات شوې.[۱۴]

قال: حدثنا عبدالواحد: دا عبدالواحد بن زياد عبدى بصرى رحمه الله دې.[۱]

---

[۱] تهذيب الكمال: ۳۷۱/۲۶ تهذيب التهذيب: ۴۲۹/۹ تاريخ الإسلام: ۱۳۹/۶.
[۲] تهذيب الكمال: ۳۷۲/۲۶ تهذيب التهذيب: ۴۲۹/۹ تاريخ الإسلام: ۱۳۹/۶.
[۳] تهذيب الكمال: ۳۷۱/۲۶ تهذيب التهذيب: ۴۲۹/۹ تاريخ الإسلام: ۱۳۹/۶.
[۴] تهذيب الكمال: ۳۷۱/۲۶ تهذيب التهذيب: ۴۲۹/۹ ميزان الاعتدال: ۲۵/۴.
[۵] تعليقات تهذيب الكمال: ۳۷۱/۲۶.
[۶] كتاب الثقات: ۸۰/۹.
[۷] ۷۵/۳.
[۸] تقريب التهذيب: ۱۲۹/۲.
[۹] تهذيب الكمال: ۳۷۲/۲۶ تهذيب التهذيب: ۴۲۹/۹ تاريخ الإسلام: ۱۳۹/۶.
[۱۰] تهذيب الكمال: ۴۲۹/۹ إكمال تهذيب الكمال: ۳۳۱/۱. علامه ذهبى الكاشف: ۷۵/۳ تاريخ إسلام: ۱۳۹/۶.
[۱۱] إرشادالسارى: ۵۰۲/۱.
[۱۲] عمدة القارى: ۳۱۴/۳.
[۱۳] تهذيب الكمال: ۳۷۲/۲۶ تاريخ الإسلام: ۱۳۹/۶.
[۱۴] تهذيب التهذيب: ۴۲۹/۹ إكمال تهذيب الكمال: ۳۳۱/۱.

قال: حدثنا الأعمش: دا ابومحمد سليمان بن مهران اسدى كوفى رحمه الله دي چه دأعمش په لقب سره مشهوردي. (٢)

عن سالم بن أبي الجعد: دا مشهور محدث سالم بن ابى الجعد رافع اشجعى كوفى رحمه الله دي (٣)

عن كريب مولى ابن عباس: داكريب بن ابى مسلم قريشى، هاشمى، حجازى مولى ابن عباس رضي الله عنهما دي. ابورشدين ددوى كنيت دي. (٤)

عن ابن عباس: دا ترجمان القرآن صحابى جليل او د حضورپاك دتره خوئى عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف رضي الله عنهما دي. (٥) د هغوى رضي الله عنهما حالات بدء الوحى باب كيف كان بدء الوحى الى رسول الله صلى الله عليه وسلم او كتاب الايمان باب كفران العشير، وكفر بعد كفر كښې تيرشوى دى (٦)

قالت: ميمونة رضي الله عنها: دا حرم نبوى زوجه رسول ام المؤمنين حضرت ميمونه بنت الحارث رضي الله عنها ده. (٧) د هغوى رضي الله عنها احوال كتاب العلم باب السمر فى العلم لاندې بيان كړې شوى دى (٨)

شرح حديث

دحضرت ميمونه رضي الله عنها دا روايت امام بخارى رحمه الله كتاب الغسل كښې زير بحث باب نه علاوه په اووه نورو ابواب كښې دمختلف شيوخ حديث نه اختصار او تفصيل اود الفاظو فرق سره نقل كړې دې (٩)

باب الغسل مرة واحدة كښې د موسى بن اسماعيل رحمه الله په طريق سره ددې روايت پوره متن تير شوې دې البته په بعض الفاظو كښې اختلاف دې چه دير زر به بيان كړې شى د باقى شرح حديث سره مباحث د سابقه ابواب په ذيل كښې بيان شوى دى. فليراجع.

---

(١) تهذيب الكمال: ٤٥٢/١٨-٤٥٠.د دوى حالات كشف البارى كتاب الإيمان باب الجهاد من الإيمان : ٣٠١/٢ كښې تيرشوى دى.

(٢) تهذيب الكمال: ٩٢/١٢-٧٦ ددوى احوال كشف البارى كتاب الإيمان باب ظلم دون ظلم: ٢٥٣/٢-٢٥١ كښې بيان شوى دى.

(٣) تهذيب الكمال: ١٣٣/١٠-١٣٠ د دوى د ژوند حالات صحيح البخارى كتاب الوضوء باب التسمية على كل حال وعند الوقاع لاندې اوګورئى.

(٤) تهذيب الكمال: ١٧٤/٢٤-١٧٢ددوى حالات بخارى شريف كتاب الوضوء باب التخفيف فى الوضوء په ذيل كښې تيرشوى دى.

(٥) سير أعلام النبلاء: ٣٥٩/٣-٣٣١.

(٦) كشف البارى: ٤٣٧/١-٤٣٥. ٢٠٥/٢.

(٧) الإصابة: ١٢/٤-١١الطبقات الكبرى: ١٣٢٣/٨.

(٨) كشف البارى: ٤٢٢/٤-٤٢٠.

(٩) الحديث أخرجه الإمام البخارى رحمه الله عن محمد بن يوسف فى باب الوضوء قبل الغسل. وعن موسى بن إسماعيل فى باب الغسل مرة واحدة، وعن عمر بن حفص بن غياث فى باب المضمضة والاستنشاق فى الجنابة، وعن الحميدى فى باب مسح اليد بالتراب لتكون أنقى، وعن موسى بن إسماعيل فى باب من أفرغ بيمينه على شماله فى الغسل. وعن يوسف بن عيسى فى باب من توضأ فى الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد غسل مواضع الوضوء. منه مرة أخرى، وعن عبدان فى باب نفض اليدين من الغسل عن النجاسة وعنه فى باب التستر فى الغسل عندالناس.

د الفاظو اختلاف:

قوله:: وضعت لرسول الله صلى الله عليه وسلم: ابوذر، اصیلی او ابن عساکر په نسخو کښې لرسول الله په ځائې للنبی الفاظ روایت دی. (۱)

قوله:: ماء يغتسل به: باب الغسل مرة واحدة کښې دَموسی بن اسماعیل رحمه الله په روایت کښې دَ ماء يغتسل به په ځائې ماء للغسل الفاظ راغلی دی

قوله:: فأفرغ على يديه: دا الفاظ دَ موسی بن اسماعیل رحمه الله په روایت کښې نشته دي.

قوله:: فغسلهما مرتين: مرتين دَ بغير تکرار نه دي خودَ ابوذر اصیلی او ابن عساکر اودَ ابوالوقت په روایت کښې مرتين، مرتين تکرار سره راغلي دي. (۲)

دَ موسی بن اسماعیل رحمه الله په روایت کښې دَ هما ضمیر په ځائې دَ يديه تصریح ده.

قوله:: أو ثلاثا: دادَ راوی دَ طرف نه شك دي يعنی دوه ځل نی اووينځل که دري ځل نی اووينځل په دې کښې شك دي. (۳)

قوله:: ثم أفرغ بيمينه على شماله: دَ موسی بن اسماعیل رحمه الله په سابقه روایت کښې بيمينه الفاظ نشته دي.

قوله:: ثم دلك يده بالأرض: دَ موسی بن اسماعیل په روایت کښې دلك په ځائې باندې مسح ذکر دي

قوله:: ثم مضمض واستنشق: په سابقه روایت کښې مضمض په ځائې باندې تمضمض راغلې دي خودَ ابوذر ابوالوقت اصیلی اوابن عساکر په روایت کښې دلته هم دَ تمضمض الفاظ نقل دی (۴)

قوله:: ثم غسل وجهه ويديه وغسل رأسه ثلاثا: دَ ماقبل په روایت کښې ثم په ځائې باندې واؤ دي اودَ ابوذر اصیلی ابوالوقت او ابن عساکر په روایت کښې دلته هم وغسل ذکر دي (۵) او وغسل رأسه ثلاثا په ځائې باندې ثم أفاض على جسده الفاظ دی

په ثلاثا کښې موجود احتمالات په ثلاثا کښې دوه احتمالات دی. دَ ثلاثا قید چه دَ سابقه ټولو افعالو طرف ته راجع وي يعنی حضوراکرم صلی الله علیه وسلم ټول اندامونه دَاودس دري دري ځل اووينځل هم دا شوافع اختیار کړی دی (۶)

---

(۱) إرشادالساري: ۵۰۲/۱ تحفة الباري: ۲۲۶/۱.
(۲) إرشادالساري: ۵۰۲/۱.
(۳) إرشادالساري: ۵۰۲/۱.
(۴) إرشادالساري: ۵۰۲/۱ تحفة الباري: ۲۲۶/۱.
(۵) إرشادالساري: ۱/۵۰۲.
(۶) إرشادالساري: ۵۰۲/۱ شرح الكرماني: ۱۲۶/۳ تحفة الباري: ۲۲۶/۱.

دويم احتمال دادې چه دَثلاثاً قيد صرف دَ آخرى فعل غسل رأس طرف ته راجع وى هم دغه دَ احنافو قول دې ځکه چه دا اصول او قاعده ده «إن القيد المتعقب لجُمَل يعود على الأخيرة»[1] يعنى دَ څو جملونه پس راتلونکې قيد دَ آخرى طرف ته راګرځى.

قوله:: ثم أفرغ على جسده: سابقه روايت کښې أفرغ په ځائې أفاض راغلې دې.

قوله .: ثم تنحى من مقامه: دَ موسى بن اسماعيل رحمه الله په روايت کښې ثم تحول من مكانه الفاظ ذکر دى.

دَ لفظ مقام وضاحت: دَ لفظ مقام ميم فتح سره مكان القيام يعنى دَ اودريدو اوحصاريدو ځائې ته وائي. که چرې څوك دا اووائى چه دَدې نه خو دا مستفاد کيږى چه حضورپاك په ولاړه باندې غسل کړې وو. ([2])

علامه کرمانى رحمه الله او شيخ الاسلام زکريا انصارى رحمه الله فرمائى چه دَ لفظ مقام اصلى او حقيقى معنى په اعتبار سره په ولاړه باندې غسل کول معلوميږى ليکن دَدې نه دَ حضورپاك په ولاړه باندې په غسل کولو باندې استدلال صحيح نه دې ځکه چه په عرف کښې ددې استعمال مطلق مكان (ځائې) دپاره مشهور دې که هغه دَ اودريدو ځائې وى اوکه دَ ناستې. ([3])

دَحديث ترجمة الباب سره مطابقت: علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دَ حديث ترجمة الباب سره مطابقت په ترجمه کښې موجود تفريق فى الغسل نه په داسې توګه دې چه په حديث کښې راغلى دى چه حضورپا ك به په بدن مبارك باندې دَ اوبو بهيولونه پس دَ خپل ځائې نه اخوا شو (بيائى خپې مبارکې اووينځلې نو دَدې نه تفريق ثابت شو). ([4])

دَ شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله هم دغه رائې هغه فرمائى: «ثم تنحى من مقامه فغسل قدميه» دا عدم موالات فى الغسل شو خپې بهرراووېستې وينځلې نوموالات چرته باقى پاتې شو. ([5])

حضرت ګنګوهى رحمه الله هم دَ حديث ترجمه سره مطابقت په سلسله کښې «ثم تنحى من مقامه» نه استدلال اوکړو او وئى فرمائيل چه دَ يوځيز مطلق تخلل دَ وجوب موالات منافى دې. که چرې موالات واجب وې نوحضورپاك به دَ غسل دَ ځائې نه اخوا کيدلو نه وراندې خپې وينځلې بيابه ئې دَ خاورې وغيره لرې کولودپاره دوباره وينځلې يا به ئې په څه ځيز باندې مږلې او صفاکولې به ئې. ([6])

يواعتراض: علامه عينى رحمه الله وغيره فرمائى چه که چرې څوك دا اووائى چه حديث ميمونه رضي الله عنها کښې دَخپل ځائې نه اخواکيدل په تفريق فى الغسل باندې دلالت کوى نو په تفريق فى الوضوء باندې کوم يوځيز دلالت کوى؟

---

[1]) إرشادالسارى: ١/٥٠٢شرح الكرمانى: ١٢٦/٣.

[2]) شرح الكرمانى: ١٢٧/٣عمدة القارى:٣١٤/٣.

[3]) شرح الكرمانى: ١٢٧/٣تحفة البارى: ٢٢٦/١عمدة القارى: ٣١٤/٣.

[4]) عمدة القارى: ٣١٣/٣.

[5]) تقرير بخارى:٨٥-٢/٨٤.

[6]) لامع الدرارى: ٢٢٣/٢-٢٢٢الكنزالمتوارى مع اللامع: ٢٠٩/٣.

د اعتراض جواب: ددې جواب دادې چه په حديث ميمونه ﷺ کښې راغلی دی چه حضورپاك دخپو نه علاوه د اودس نور اندامونه وراندې وينځلې وو د خپو وينځلونه اول دغسل کافی وقفه پيښه شوه. داودس اندامونه سره ددې چه د غسل د وجې نه اوچ نه شو مګر تفريق ثابت شو او موالات باقی پاتې نه شو.پدې باندې په حديث کښې وارد لفظ ثم دلالت کوی په کوم سره چه مطلقاً تراخی معلومېږی. (١)

ايا حديث وضو او غسل په دواړو کښې په تفريق باندې دلالت کوی؟ بعض علماء وائی چه په ترجمه کښې خود اودس او غسل دواړو په مينځ کښې د فصل ذکر دې خوچه امام بخاری رحمه الله کوم حديث او اثر راوړلې دې په هغې سره خو صرف دومره ثابت دی چه په اودس کښې د موالات ضرورت نشته دې حالانکه دامام بخاری رحمه الله مقصود په دواړو کښې عدم موالات ثابت کول دی. (٢)

دحضرت شاه ولی الله رحمه الله رائې: حضرت شاه ولی الله رحمه الله اوفرمائيل چه کله د حديث باب سره تفريق فی الوضوء ثابت شو نوغسل به په اودس باندې قياس کولې شی ځکه چه په فی الجمله په دواړو کښې د ارکان او آداب په اعتبار سره هيڅ فرق نشته دې. دغه شان د ائمه نه هيڅوك هم په دواړو کښې د فصل قائل نه دی يعنی څوك چه موالات واجب ګڼړی هغوی په اودس اوغسل دواړو کښې ددې قائل دی اوڅوك چه د عدم وجوب قائل دی هغوی هم په دواړو کښې دعدم وجوب قول کوی. هم دغه وجه ده چه امام بخاری رحمه الله په ترجمه کښې اودس اوغسل دواړه يوځائې بيان کړی دی. حالانکه دحديث نه خو صرف هم تفريق فی الوضوء ثابتيږی نولکه چه امام بخاری رحمه الله غسل په اودس باندې قياس کړې دې. (٣)

دا استدلال مخدوش دې: ليکن دحضرت شاه صاحب رحمه الله دا استدلال په دوو وجوهاتو سره مخدوش دې. يو خو په دې وجه چه ددې استدلال بنياد په قياس باندې دې او امام بخاری رحمه الله د قياس قائل دې. داخبره په خپله قابل غور او محل نظر دې. دويم په دې وجه سره چه قائلين فصل موجود دی. امام احمد رحمه الله او امام نخعی رحمه الله وغيره په اودس اوغسل کښې فرق کوی لکه چه د مذاهب په بيان کښې تيرشوی دی لهذا په دې وجه هم دا استدلال مخدوش دې.

صحيح جواب: ددې صحيح جواب دادې لکه چه ځنګه علامه عينی رحمه الله لفظ ثم سره په تفريق فی الوضوء باندې استدلال کړې دې نولفظ ثم په حديث کښې اودس اوغسل دواړو کښې موجود دې. لهذا په دې سره به په دواړو کښې تفريق ثابت شی. ددې خبرې طرف ته اشاره کولوسره مولانا محمدحسن مکی رحمه الله په خپل تقرير کښې فرمائيلی چه په حديث کښې مطلقاً ثم تنحی لفظ راغلې دې په دې کښې دا نه دی خودلې شوی چه حضورپاك خپې مبارکې د جفاف نه وړاندې وينځلې دی که روستو. لهذا دا ممکن دی چه د حضورپاك دا وينځل د جفاف نه پس وی په دې توګه چه حضورپاك دخپو وينځل د غسل نه يوه يا دوه ګهنټې روسته کړې وی غرض په دې تقريرسره ترجمه ثابتيږی. (٤)

دحديث او اثر نه مستنبط شوې امور. ① په اودس کښې موالات واجب نه دی تفريق جائزدې ② په غسل کښې موالات واجب نه دی تفريق جائزدې ③روايت بالمعنی جائزدې.

---

(١) عمدة القاري: ٣١٣/٣فضل الباري: ٤٣٨/٢.

(٢) الكنزالمتواري: ٢٠٩/٣-٢٠٨حاشية اللامع: ٢٢٢/٢فضل الباري: ٤٣٨/٢.

(٣) شرح تراجم الأبواب البخاري: ص:١٨الأبواب والتراجم ص: ٦١الكنزالمتواري: ٢٠٩-٣/٢٠٨.

(٤) الكنزالمتواري: ٢٠٩/٣حاشية اللامع: ٢٢٣/٢.

۱۱-باب: مَنْ أَفْرَغَ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ فِي الْغُسْلِ

په غسل كښې په ښي لاس سره په كس باندې اوبه بهيول

ماقبل سره ربط اومناسبت: دَ وړاندې باب لاندې دا اخبره راغلې وه چه زير بحث باب په بعض نسخوكښې مقدم او بعض كښې مؤخردې علامه عيني رحمه الله فرمائي چه دَ ابن عساكر او اصيلي په روايت كښې دا باب دَ سابقه باب نه مقدم دې بهرحال په هرو دوو صورتونوكښې په دواړو كښې مناسبت ښكاره دې په دې توګه چه دَ دواړو تعلق اودس سره دې.[1]

دَترجمة الباب مقصد: علامه زكريا انصاري رحمه الله اوفرمائيل چه دَ دې باب مقصد دَ نبي كريم ﷺ په غسل كښې دَ اوبو بهيولوكيفيت بيانول دى.[2]

علامه ادريس كاندهلوى رحمه الله فرمائي چه دا باب دَهغه سړي په بيان كښې دې چه څوك دَ غسل په وخت كښې په ښي لاس په كس لاس باندې اوبه واچوي چاچه داسې اوكړه هغه دَ سنت اتباع اوكړه.[3]

دَ حضرت ګنګوهى رحمه الله رائې: حضرت مولانا يحيى كاندهلوى رحمه الله دَحضرت ګنګوهى رحمه الله نه نقل كړې دى چه هغه فرمائي «ردبذلك ما اشتهر أن الإفراغ باليمين على الشمال من صنيع النساء».[4]

يعني دَ امام بخارى رحمه الله په دې خبره سره رد كول دى په هغه خبره چه مشهوره شوې ده چه دَ ښي لاس په ګس باندې اوبه اچول دښځو عادت دې

دحضرت شيخ الحديث رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث مولانا زكريا كاندهلوى رحمه الله فرمائي چه زما په نيز اوجه خبره داده چه امام بخارى رحمه الله ددې ترجمه په ذريعه په يوه دقيق نكته باندې متنبه كول غواړي اوهغه دا چه په غسل كښې دوه څيزونه وى يو اوبه اوچول او بل اندامونه مږل بل داخبره هم معلومه ده چه افعال شريفه هم په ښي لاس سره پوره كولې شي نواوس امام بخارى رحمه الله فرمائي چه په دې كښې كوم افضل وى هغه به په ښي لاس سره كولې شي چونكه اوبه اچول دَ مږلو نه افضل دى په دې وجه دې په ښي لاس باندې اوبه واچولې شي او په ګس لاس دې اندامونه اومږلې شي.[5]

دَ حضرت شيخ الحديث رحمه الله دويمه توجيه: حضرت شيخ الحديث رحمه الله دويمه توجيه بيانولوسره فرمائي چه دا بعيد نه دى چه امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب سره «ترجمه صب الماء باليمنى على اليسرى» باندې تنبيه كړې وى خكه بعض روايات په ابوداؤد وغيره كښې دَحضرت عائشه رضي الله عنها په روايت كښې «يصب الإناء على يده اليمنى»[6]

او دَ حضرت ميمونه رضي الله عنها په روايت كښې «فأكفأ الإناء على يده اليمنى»[7] يعني لوښې په ښي لاس باندې راټيټول ذكرشوى دى

---

[1] الأبواب والتراجم ص: ۲۶۳.

[2] تحفة البارى: ۲۲۶/۱.

[3] الأبواب والتراجم ص: ۲۶۳.

[4] لامع الدرارى: ۲۲۱/۲-۲۲۰الأبواب والتراجم لصحيح البخارى ص: ۶۱.

[5] الأبواب والتراجم ص:۶۱الكنزالمتوارى: ۲۰۹/۳تعليقات اللامع: ۲۲۰/۲.

[6] الحديث أخرجه أبوداؤد فى سننه. كتاب الطهارة باب مقدار الماء الذى يجزئ به الغسل رقم الحديث: ۲۴۲.

[7] سنن أبي داؤد كتاب الطهارة باب مقدار الماء الذى يجزئ به الغسل رقم: ۲۵۴.

د علامه عثمانی رحمه الله رائې: د ترجمة الباب د مقصد باره کښې علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله فرمائی چه په دې باب کښې د ښی لاس د شرافت رعایت خودلې شوې دې. اوبه اچول او نجاست ختمول دوه جدا جدا کارونه دی. د نجاست ختمول یو معمولی کار دې کوم چه ګس لاس سره متعلق دې او اوبه په ښي لاس باندې اچولې شی. په استنجاء وغیره کښې د ښی لاس استعمال د دې د شرافت خلاف خبره ده.[1]

د بعض حضراتو رائې: بعض حضراتو لیکلی دی چه په دې موقع باندې د تیامن والاخیره منبځ ته راوړل په خائی اومحل نه دی اوکومو حضراتو چه د استنجاء او د ضرورت د صورت نه په اخوا دلته غلط او ګډوډ بحثونه کړی دی هغه ټول د بحث د موضوع نه لرې شوی دی اصل خبره داده چه د تیامن والاخیره د ترجمة الباب یا حدیث الباب سره هیڅ تعلق نه لرې او پخپله امام بخاری رحمه الله هم پخپله مستقل «باب التیمن فی الوضوء والغسل» راوړلې دې اودې نه وړاندې «باب النهی عن الاستنجاء بالیمین» او «باب لا یمسك ذکره بیمینه إذا بال» هم قائم کړی دی. په کوم سره چه د استنجاء په وخت افراغ بالیمین علی الشمال والاخیره ضمناً متعین شوې وه. اوس چونکه احوال اوصفات د غسل نبوی لاندې هم د دې زیاتی صراحت او وضاحت راځی نو دا مستقل باب قائم کولوسره ښائی او همیشه ګس لاس سره ښي لاس اول وینځلې شی اودغه شان د شرافت والا کارونه د ښی طرف نه شروع کول او هر خسیس کار د ګس طرف نه کول ټولې خبرې خو د اول نه فیصله شوی دی د کوم وجه چه داده شریعت یمین له په یسار یعنی ښی له په ګس باندې مطلقاً شرف او عزت ورکړې دې او هم په دې وجه نې ټول کارونه د خیر اونیکئی مقدم کړل او په دنیاوی اوخسیس امورو کښې یسار یعنی ګس مقدم ساتلې دې.[2] بهرحال د امام بخاری رحمه الله په تراجم کښې د دقیق رسی په وجه د شارحین بیان کړی توجیهات د امکان نه لرې نه دی البته د حدیثی ذوق په وجه یوه ترجیح اوجه ګرځولې کیدې شی لکه چه شیخ الحدیث رحمه الله په والأوجه سره هم دا صنیع اختیار کړې دی.

الحدیث الأول

۲۶۶- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الجَعْدِ، عَنْ كُرَيْبٍ، مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ بِنْتِ الحَارِثِ، قَالَتْ: «وَضَعْتُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُسْلًا وَسَتَرْتُهُ، فَصَبَّ عَلَى يَدِهِ، فَغَسَلَهَا مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ» - قَالَ سُلَيْمَانُ: لاَ أَدْرِي، أَذَكَرَ الثَّالِثَةَ أَمْ لاَ؟ - ثُمَّ أَفْرَغَ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ، فَغَسَلَ فَرْجَهُ، ثُمَّ دَلَكَ يَدَهُ بِالأَرْضِ أَوْ بِالحَائِطِ، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ، وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ، وَغَسَلَ رَأْسَهُ، ثُمَّ صَبَّ عَلَى جَسَدِهِ، ثُمَّ تَنَحَّى فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ، فَنَاوَلْتُهُ خِرْقَةً، فَقَالَ بِيَدِهِ هَكَذَا، وَلَمْ يُرِدْهَا" احدیث باب[3]

---

[1]) فضل الباری: ۴۳۹/۲.

[2]) أنوار الباری: ۲۲۵/۹.

[3]) الحدیث أخرجه البخاری أیضاً فی نفس الکتاب باب الوضوء قبل الغسل رقم الحدیث: ۲۴۹ وفی باب الغسل مرة رقم الحدیث: ۲۵۷ وفی باب الغسل بالصاع ونحوه رقم الحدیث: ۲۵۳ وفی باب مسح الید بالتراب لتکون أنقی

ترجمه: (ام المؤمنین) حضرت میمونه بنت الحارث ﷺ فرمانی چه ما د رسول الله ﷺ دپاره دغسل اوبه کیخودې او (په یوه کپړه سره) د حضورپاك دپاره پرده اوکړه (یا دغه د اوبو لوښي ئې پټ کړو) حضورپاك (اول) په خپل لاس باندې اوبه واچولې اوهغه ئې یو یا دوه ځل اووینځلو. سلیمان اعمش اوونیل چه زه نه پوهیږم (یعنی ماته یاد نه دی) چه سالم بن ابی الجعد د لاس دریم ځل وینځل بیان کړل که نه، بیا حضورپاك په خپل ښی لاس سره په ګس لاس باندې اوبه اوبهیولې او خپل شرمګاه ئې اووینځلو بیا خپل لاس مبارك په دیوال یا په زمکه باندې راښکلو بیائی خله کښې اوبه واچولې او په پوزه کښې اوبه واچولې اوبیائی خپل مخ او لاسونه اووینځل او خپل سر ئې اووینځلو. بیائی په خپل (ټول) بدن باندې اوبه اوبهیولې، بیا یوطرف ته شو او خپلې دواړه خپې ئې اووینځلې، نو ما حضورپاك ته د (اوچولو) دپاره یوه کپړه ورکړه نو حضورپاك په لاس سره اشاره اوکړه (اخواکړه زه نه اخلم) او هغه ئې وانخستله.

تراجم رجال

حدثنا موسى بن اسماعيل: دا ابوموسى بن اسماعيل تبوذكى بصرى رحمه الله دې.[1] د دوی مختصر حالات بدء الوحى باب كيف كان بدء الوحى إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم د څلورم حديث لاندې [2] او تفصيلي حالات كتاب العلم باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد والرأس د رومبى حديث لاندې تيرشوى دى.[3]

قال: حدثنا أبوعوانة: دا وضاح بن عبدالله يشكرى، واسطى رحمه الله دې ابوعوانه د دوی کنیت دې (د نوم په نسبت په خپل کنیت باندې زیات مشهوردې).[4]

رقم الحديث: ٢٦٠ وفى باب تفريق الوضوء والغسل بنحوه مختصراً رقم الحديث: ٢٦٥ وفى باب من توضأ فى الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد مواضع الوضوء منه مرة أخرى رقم الحديث: ٢٧٤ وفى باب نفض اليدين من الغسل عن الجنابة رقم الحديث: ٢٧٦ وفى باب التستر فى الغسل عندالناس بنحوه مختصراً رقم الحديث: ٢٨١ وأخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الحيض باب صفة غسل الجنابة رقم الحديث: ٧٢٢ وأبوداؤد فى سننه فى كتاب الطهارة باب فى الغسل من الجنابة رقم الحديث: ٢٤٥ والترمذى فى سننه فى كتاب الطهارة باب ماجاء فى الغسل من الجنابة بنحوه مختصراً وقال هذا حديث حسن صحيح رقم الحديث: ١٠٣ والنسائى فى سننه فى كتاب الطهارة باب غسل الرجلين فى غير المكان الذى يغتسل فيه رقم الحديث:٢٥٢وأيضاً فى كتاب الغسل والتيمم باب إزالة الجنب الأذىٰ عنه قبل إفاضة الماء عليه بنحوه مختصراً رقم الحديث: ٤١٨وأيضاً فى باب مسح اليد الأرض بعد غسل الفرج رقم الحديث: ٤١٩ وأيضاً فى باب الاستتار عندالغسل رقم الحديث: ٤٠٨وأخرجه ابن ماجه فى سننه فى كتاب الطهارة باب المنديل بعدالوضوء رقم الحديث ٤٦٧راجع جامع الأصول رقم: ٥٣٢١وتحفة الأشراف رقم: ١٨٠٦٤.

[1] تهذيب الكمال: ٢٩/٢٦-٢١ تقريب التهذيب:٢/٢٨٣.

[2] كشف البارى: ١/٤٣٤-٤٣٣.

[3] كشف البارى:٣/٤٧٩-٤٧٧.

[4] دتفصیل دپاره اوګورئی :تهذيب الكمال: ٣٠/٤٤١رقم الترجمة: ٦٦٨٨طبقات ابن سعد: ٧/٢٨٧الجرح والتعديل: ٩/٥١رقم الترجمة: ١٧٣كتاب الثقات: ٧/٥٦٢سيرأعلام النبلاء: ٨/٢١٧رقم الترجمة: ٣٩تذكرة الحفاظ: ١/٢٣٦رقم الترجمة: ٢٢٣ميزان الاعتدال: ٤/٣٣٤رقم الترجمة: ٩٣٥٠المغنى فى الضعفاء: ٢/٤٩٣رقم الترجمة:

دَ دوی مختصر حالات باب کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذیل کښې تیرشوی دی.
(۱)دلته دَهغوی مفصل تذکره وړاندې کیږی.

پیدائش: دَهغوی پیدائش لس کم سل یا سلمه هجری په مینځ کښې خودلې شوې دې.(۲) ابن حبان رحمه الله ۱۲۲هجری دَ پیدائش کال خودلې دې.(۳) په ظاهره دا قول صحیح نه دې ځکه چه دَ صحیح روایاتونه ثابته ده چه ابوعوانه ابن سیرین رحمه الله لیدلې دې خودَ ابن سیرین رحمه الله دَ ۱۲۲هجری نه کافی موده وړاندې انتقال شوې وو.(۴) بعض حضراتو ونیلی دی چه هغوی دَ جرجان نه قیدی جوړکړې شوې راوستلې شوې وو.(۵) هغوی دَ یزید بن عطاء بن یزید دَ موالی نه وو. (۶)بعض حضرات وائی چه دَ یزید دَ پلار عطاء بن یزید غلام وو.(۷) په دواړو اقوالوکښې تطبیق داسې دې چه عطاء بن یزید دَ خپل خوئی یزید دَپاره هغه اخستې وو.(۸) ابوعوانه رحمه الله دَحسن بصری رحمه الله او محمد بن سیرین رحمه الله زیارت کړې اوهغوی لیدلې وو.(۹)

شیوخ حدیث: دَهغوی رحمه الله په شیوخ حدیث کښې ابراهیم بن محمدبن منتشر، ابراهیم ابن مهاجر بجَلی، ابراهیم بن میسره طائفی، اسماعیل بن عبدالرحمن سدی، اسود بن قیس، اشعث بن ابی الشعثاء، ایوب سختیانی، بکیر بن اخنس، جابر بن یزید جعفی، ابوعثمان بصری، ابوبشر جعفر بن ابی وحشیه، حر بن مسکین، حصین بن عبدالرحمن، حکم بن عتیبه، خالد بن علقمه، داؤد بن عبدالله اودی، زیاد بن علاقه، زید بن جبیر، سعید بن مسروق ثوری، سلیمان اعمش، سماك بن حرب، سهیل بن ابی صالح، عاصم بن سلیمان الاحول، عاصم بن کلیب، عبدالرحمن ابن الاصبهانی، عبدالعزیز بن صهیب، عبدالملك بن عمیر، عثمان بن عبدالله بن موهب، عثمان بن مغیره ثقفی، عمر بن سلمه بن عبدالرحمن بن عوف، عمرو بن دینار، فراس بن یحیی همدانی، قتاده بن دعامه، محمدبن منکدر، مخول بن راشد، معاویه بن قره مزنی، مغیره بن مقسم ضَبی، منصور ابن زاذان، منصور بن معمر، موسی بن ابی عائشه، هلال الوزّان، یزید بن ابی زیاد، یعلی بن عطاء عامری، ابواسحاق شیبانی، ابوجعفر رازی، ابوحصین اسدی، ابو حمزه القصاب، ابوزبیرمکی، ابومالك اشجعی او ابویعفور عبدی رحمهم الله شامل دی.(۱۰)

۶۸۳۹التاریخ الکبیر: ۱۸۱/۸رقم الترجمة: ۲۶۲۸تاریخ بغداد: ۴۶۴/۱۳رقم الترجمة: ۷۳۳۰تاریخ الإسلام: ۶۵۱/۴رقم الترجمة: ۴۰۲الکاشف: ۲۲۴/۳رقم الترجمة: ۶۱۳۰تقریب التهذیب: ۲۸۲/۲رقم الحدیث: ۷۴۳۴.

(۱) کشف الباري: ۴۳۴/۱.

(۲) تهذیب التهذیب: ۱۱۸/۱۱.

(۳) الثقات: ۵۶۲/۷.

(۴) سیرأعلام النبلاء: ۲۱۷/۸.

(۵) تاریخ بغداد: ۴۶۴/۱۳تاریخ الإسلام: ۶۵۱/۴تهذیب الکمال: ۴۴۲/۳۰.

(۶) التاریخ الکبیر: ۱۸۱/۸طبقات ابن سعد:۲۸۷/۷ الجرح والتعدیل: ۵۱/۹.

(۷) تهذیب الکمال: ۴۴۲/۳۰.

(۸) تاریخ بغداد: ۴۶۵/۳.

(۹) التاریخ الکبیر: ۱۸۱/۸تاریخ بغداد: ۴۶۴/۱۳تاریخ الإسلام: ۶۵۱/۴.

(۱۰) تهذیب الکمال: ۴۴۴/۳۰-۴۴۲تهذیب التهذیب: ۱۱۷/۱۱-۱۱۶تاریخ بغداد: ۴۶۵/۱۳.

تلامذه: دٙهغوی رحمه الله نه دٙ حدیث مبارك روایت کونکوکښې ابراهیم بن حجاج نیلی، احمد بن اسحاق حضرمی، اسماعیل بن عُلیه، بشر بن معاذ عقدی، حامد بن عمر بکراوی، حبان بن هلال، حجاج ابن منهال، سعید بن منصور، سهیل بن بکار، شعبه بن حجاج (ومات قبله) شیبان بن فروخ، صالح بن عبدالله ترمذی، ابوهمام صلت بن محمد خارکی، عبدالرحمن بن عمرو بجلی، عبدالرحن بن مبارك عیشی، عبدالرحمن بن مهدی، عبیدالله بن عمر قواریری، عفان بن مسلم، علی بن حکم مروزی، عمرو بن عون واسطی، ابو نعیم فضل بن دکین، فضل بن مساور، قتیبه بن سعید بلخی، محمدبن ابی بکر مقدمی، محمد بن عبدالمطلب بن ابی الشوارب، محمدبن فضل بن عارم، محمد بن محبوب بُنانی، مسدد بن مسرهد، معقل بن مالك باهلی، ابوسلمه موسی بن اسماعیل، هیثم بن سهل تستری (وهو آخر من روی عنه) وکیع بن جراح، یحیی بن حماد شیبانی، ابوداؤد طیالسی، ابوربیع زهرانی، ابوکامل جحدری، ابوهشام مخزومی او ابوالولید طیالسی رحمهم الله وغیره شامل دی. (۱)

دٙ ائمه جرح والتعدیل اقوال: هشام بن عبیدالله دٙ عبدالله بن مبارك نه تپوس اوکړو «**من أروی الناس وأحسن الناس روایة عن المغیرة، أجریر؟**» یعنی آیا جریر دٙمغیره نه زیات او احسن روایت کونکونه دې؟ نوهغوی اوفرمائیل چه ابوعوانه.(۲)

احمدبن سنان وائی چه ما عبدالرحمن بن مهدی داسې فرمائیلوسره اوریدلې دې: «**کتاب أبي عوانة أثبت من حفظ هشیم**»(۳)

دٙ امام احمد بن حنبل رحمه الله نه تپوس اوکړې شو چه ابوعوانه أثبت دې که شریك؟ نوهغه اوفرمائیل چه که ابوعوانه رحمه الله دٙخپل کتاب نه حدیث بیان کړی نوهغه أثبت دې البته که هغه دٙ کتاب نه علاوه څه حدیث بیان کړی نوبعض وخت هغه ته وهم کیږی.(۴)مسدد وائی چه ما دٙ یحیی بن سعیدالقطان نه دافرمائیلو سره اوریدلې دی چه دٙ ابوعوانه حدیث دٙ سفیان او شعبه دٙ روایت سره ډیر زیات مشابه دې (۵)عفان فرمائی چه دٙ ابوعوانه رحمه الله دٙ کتاب والا روایت صحیح دې (په هغه باندې عجمیت غالب وو) هغه به دٙ اعراب او نقطو په کثرت سره اهتمام کولو. نور فرمائی «**کان ثبت وأبوعوانة أصح حدیثاً عندنا من هشیم**» (۶)یحیی بن معین رحمه الله فرمائی «**حدیث أبي عوانة جائز...... ثبت أبوعوانة**»(۷) یحیی بن معین رحمه الله نور فرمائی: «**أبوعوانة قریب من حماد..... کتبه صحیحة......وهو صدوق، ثقة، وهوأحب إلی من أبي الأحوص ومن جریر بن عبدالحمید، وهو(أي أبوعوانة) أحفظ من حماد**»(۸)

---

۱) تهذیب الکمال: ۴۴۴/۳۰ تهذیب التهذیب: ۱۱۷/۱۱ تاریخ بغداد: ۴۶۵/۱۳.
۲) الجرح والتعدیل: ۵۲/۹ تاریخ بغداد: ۴۶۸/۱۳ تهذیب الکمال: ۴۴۵/۳۰.
۳) تهذیب الکمال: ۴۴۶/۳۰ الجرح والتعدیل: ۵۲/۹ تاریخ الإسلام: ۶۵۱/۴
۴) تهذیب الکمال: ۴۴۶/۳۰ تاریخ بغداد: ۴۶۸/۱۳ تاریخ الإسلام: ۶۵۱/۴ الجرح والتعدیل: ۵۲/۹.
۵) الجرح والتعدیل: ۵۲/۹ تاریخ بغداد: ۴۶۶/۱۳ تاریخ الإسلام: ۶۵۱/۴ تهذیب الکمال: ۴۴۶/۳۰.
۶) الجرح والتعدیل: ۵۲/۹ تاریخ بغداد: ۴۶۸/۱۳ تاریخ الإسلام: ۶۵۱/۴ بعض حضراتو هشیم په ځائی شعبه نقل کړی دی هم هشیم صحیح دې تهذیب الکمال وحاشیة: ۴۴۶/۳ حاشیته تهذیب التهذیب: ۱۱۷/۱۱.
۷) تهذیب الکمال: ۴۴۷/۳۰ الجرح والتعدیل: ۵۳/۹-۵۲ تاریخ بغداد: ۴۶۹/۱۳.
۸) الجرح والتعدیل: ۵۳/۹ تهذیب الکمال: ۴۴۷/۳۰ تهذیب التهذیب: ۱۱۸/۱۱.

ابوزرعه رحمه الله فرمائي «بصري ثقة إذا حدث من كتابه»[1] امام احمد رحمه الله او يحيى بن معين رحمه الله فرمائي «كان أميناً ثقة»[2] عباس بن محمد دوري وائي چه يحيى بن معين رحمه الله اوفرمائيل چه ابوعوانه امي وو (ليكلې نه پيژندل) په بل چا باندې به ئې ليكل كول او (دَهغه ليكلې شوې) كتاب نه به ئې لوستل كول.[3]

احمدبن بشر بن ايوب طيالسي وائي چه چادَ يحيى بن معين رحمه الله نه دَ زائده او ابوعوانه باره كښې پوښتنه اوكړه چه په دوى كښې كوم يو أثبت دې؟ نوهغوى اوفرمائيل: «كلاهما ثبت، صدوقين» سائل دوباره سوال اوكړو نوهغوى هم هغه جواب وركړو. راوى وائي چه بيا ما اوكتل چه لكه يحيى بن معين رحمه الله دَ ابوعوانه طرف ته مائل شوې وو.[4] يحيى بن معين رحمه الله اوفرمائيل چه كله په ابوعوانه اوشريك كښې اختلاف پيداشي نودَ ابوعوانه قول معتبردې.[5]

حجاج بن محمد رحمه الله وائي چه امام شعبه رحمه الله ماته اوفرمائيل «الزم أباعوانة»[6] يعني ته ابوعوانه لازم اونيسه. ابوسهل رحمه الله وائي چه ما امام شعبه رحمه الله داسې فرمائيلو سره واؤريده چه كله ابوعوانه تاسو ته دَ ابوهريره رضي الله عنه روايت بيان كړي نودَهغې تصديق كوئي.[7] احمدبن زهير رحمه الله وائي چه ما يحيى بن معين رحمه الله فرمائيلو سره واؤريدو «أبوعوانة الوضاح ثقة»[8] جعفر ابن ابى عثمان رحمه الله وائي ما دَ يحيى بن معين رحمه الله نه داسې واؤريده چه فرمائيلې «كان أبوعوانة ثقة»[9]

محمدبن احمدبن يعقوب بن شيبه رحمه الله وائي چه زما نيكه (يعقوب بن شيبه) فرمائي: «أبوعوانة ثبت صحيح الكتاب وحفظه صالح»[10] عبدالرحمن بن يوسف بن خراش رحمه الله فرمائي «أبوعوانة صدوق في الحديث»[11] ابوحاتم رحمه الله فرمائي «ثقة وكتبه صحيحة» البته كه دَخپل حفظ په بنياد باندې روايت بيان كړي نوغلطي كوي او ابوعوانه دَ حماد بن سلمه نه احفظ دې.[12] امام عجلي رحمه الله فرمائي «أبوعوانة بصري ثقة»[13]

---

[1] تهذيب الكمال: ٤٤٧/٣، تهذيب التهذيب: ١١٨/١١الجرح والتعديل: ٥٣/٩.

[2] تهذيب الكمال: ٤٤٨/٣٠، تهذيب التهذيب: ١١٨/١١.

[3] الجرح والتعديل: ٥٣/٩تاريخ بغداد: ٤٦٦/١٣، سير أعلام النبلاء: ٢٢٠/٨تذكرة الحفاظ: ٢٣٧/١.

[4] تاريخ بغداد: ٤٦٧/١٣.

[5] تاريخ بغداد: ٤٦٧/١٣.

[6] تاريخ بغداد: ٤٦٨/١٣، سير أعلام النبلاء: ٢٢٠/٨تذكرة الحفاظ: ٢٣٧/١.

[7] تاريخ الإسلام: ٦٥١/٤تاريخ بغداد: ٤٦٦/١٣، تهذيب التهذيب: ١١٩/١١.

[8] تاريخ بغداد: ٤٦٨/١٣.

[9] تاريخ بغداد: ٤٦٩/١٣.

[10] تاريخ بغداد: ٤٦٩/١٣، تهذيب التهذيب: ١١٩/١١.

[11] تاريخ بغداد: ٤٦٩/١٣، تهذيب التهذيب: ١٢٠-١١٩/١١.

[12] تاريخ الإسلام: ٦٥١/٤تهذيب التهذيب: ١١٨/١١.

[13] تاريخ بغداد: ٤٦٩/١٣، تهذيب التهذيب: ١١٩/١١.

ابن عبدالبر رحمه الله فرمائي: «أجمعوا على أنه ثقة حجة فيما حدث من كتابه، وقال إذا حدث من حفظه ربما غلط»[1]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي ثقة ثبت.[2] علامه ذهبي رحمه الله ميزان الاعتدال كښې فرمائي: «مجمع على ثقته وكتابه متقن بالمرة»[3] علامه ذهبي رحمه الله په الكاشف كښې فرمائي «ثقة متقن لكتابه»[4]
علامه ذهبي رحمه الله المغني في الضعفاء كښې فرمائيلي دي: «ثقة حجة ولا سيما إذا حدث من كتابه»[5] علامه ذهبي رحمه الله سير أعلام النبلاء كښې فرمائي: «هو الإمام الحافظ الثبت محدث البصرة» [6] ابن سعد رحمه الله فرمائي «كان ثقة صدوقاً»[7] ابن حبان رحمه الله په كتاب الثقات كښې دَهغوي تذكره كړې ده.[8]
علامه ذهبي رحمه الله تذكرة الحفاظ كښې فرمائي «الحافظ أحد الثقات»[9]
علامه ذهبي رحمه الله دَ ډيرو ائمه جرح والتعديل اقوال نقل كولونه پس دَ ابوعوانه رحمه الله باره كښې دا فيصله كړې ده چه: «استقر الحال على أن أبا عوانة ثقة» نورئې اوفرمائيل چه ابوعوانه دَحماد بن زيد په شان متقن دې. بلكه دَ محدثينو په نيز ابوعوانه دَ اسرائيل او حماد بن سلمه نه زيات خوښ كړې شوې دې اودَ فليح ابن سليمان نه اوثق دې. اودَ ابوعوانه رحمه الله بعض وهمونه هم دى دَ كوم دَ تخريج نه چه شيخين (امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله) ډډه كړې ده.[10]
تنبيه: ابن عدى رحمه الله الكامل في الضعفاء كښې دَ سلام بن ابى مطيع رحمه الله په حالاتوكښې ليكلي دى چه دَ سفيان ثورى رحمه الله په مجلس كښې دَ ابوعوانه رحمه الله تذكره اوشوه نوهغوى دَ ابوعوانه رحمه الله باره كښې دَ ذاك العبد الفاظ اووئيل.[11]
عبدالله بن احمد دَخپل پلار امام احمد بن حنبل رحمه الله نه نقل كړى دى چه هغوى اوفرمائيل ابوعوانه رحمه الله يو كتاب جوړ كړې وو په كوم كښې چه دَ رسول الله ﷺ دَ صحابه كرامو (مزعومه) عيبونه درج كړې وو. سلام بن ابى مطيع دَهغه نه دغه كتاب اخستلو سره سوزولې وو.[12]
بعض حضراتو دَ سفيان ثورى رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله اقوال نقل كولونه پس ليكلى دى چه كيدې شى هم په دې وجه سفيان ثورى رحمه الله ابوعوانه نه خوښولو. او حيرانتيا په دې خبره باندې ده چه

---

[1] تهذيب التهذيب: ۱۲۰/۱۱.
[2] تقريب التهذيب: ۲۸۳/۲.
[3] ۳۳٤/٤.
[4] ۲۲٤/۳ رقم الترجمة: ۶۱۳۰
[5] ٤۹۳/۲.
[6] ۲۱۷/۸.
[7] الطبقات الكبرى: ۲۸۷/۷.
[8] ۵۶۲/۷.
[9] ۲۳۶/۱.
[10] سير أعلام النبلاء: ۲۲۱/۸.
[11] الكامل في ضعفاء الرجال: ۳۰۶/۳.
[12] كتاب العلل ومعرفة الرجال: ۳۵٤/۱.

علامه مزي رحمه الله علامه ذهبي رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله وغيره دَهغه دَ عقيدې متعلق هيڅ بحث نه دې کړې. [۱]

دَ سفيان ثوري رحمه الله او امام احمد رحمه الله وغيره دَ کلام حقيقت: دلته داخبره ياد ساتئی چه دَ سفيان ثوري رحمه الله ابوعوانه رحمه الله ته ذاك العبد وئيل دَ کلمات جرح نه نه دی اوکه چرې دا دَ جرح کلمه اومنلې هم شي نودا جرح مبهم ده. دَ کبار ائمه دَ توثيق په مقابله کښې دَدې هيڅ حيثيت نشته دې. باقي پاتې شوه خبره دَ امام احمد رحمه الله دا وينا وضع کتابا يعني ابوعوانه رحمه الله يوکتاب وضع کړې وو. په دې باره کښې رومبې خبره داده چه که چرې وضع نه مراد پخپله ليکل وی نودا دَحقيقت خلاف خبره ده ځکه چه ابوعوانه رحمه الله امې وو ليکلې نې نه شو کولې. (کمامر) اوکه دَدې نه مراد دَ بل چا ليکلې شوې کتاب وی نوصرف دَدې نوعيت دَ کتاب چا سره کيدل دَهغه عقيدې پورې مستلزم نه دې. بعض حضراتو وئيلی (که چرې دَ دغه کتاب نسبت ابوعوانه رحمه الله طرف صحيح هم اومنلې شي نوبياهم) دَدې نه مراد مشاجرات صحابه دی (نه چه مطلقاً عيوب). [۲]

بهرحال امام ابوعوانه رحمه الله ثقه راوی دې دَهغوی په ثقاهت باندې کبار ائمه جرح وتعديل اتفاق دې. پخپله هم دَ امام احمد رحمه الله نه دَ هغوی توثيق نقل دې. دَ دوی باره کښې هم هغه خبره فيصله کونکې ده کومه چه په تيرو کرښو کښې دَ علامه ذهبي رحمه الله نه نقل ده. والله اعلم بالصواب.

وفات: دَ ابوعوانه رحمه الله دَ وفات دَ کال باره کښې ائمه جرح وتعديل اومؤرخينونه دوه اقوال نقل دی:

① محمدبن عيسى، يعقوب بن سفيان، محمدبن محبوب، يحيى بن حماد، احمدبن حنبل، عبدالله بن ابوالاسود او علامه ذهبي رحمهم الله فرمائی چه دَ ابوعوانه رحمه الله په کال ۱۷۶هجری کښې انتقال شوې. [۳] امام بخاری رحمه الله دَ محمد بن محبوب نه دَ وفات ورځ اتوار مياشت ربيع الآخر نقل کړې دې. [۴] خو علامه مزي رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله، محمدبن محبوب رحمه الله نه ربيع الاول مياشت نقل کړې ده. [۵] ابن حبان رحمه الله هم دَ اتوار ورځ او ربيع الاول مياشت ذکر کړې ده. [۶] هم دغه دَعلامه ذهبي رحمه الله هم قول دې. [۷]

ابن حبان رحمه الله، محمد بن محبوب رحمه الله، يحيى بن حماد رحمه الله او علامه ذهبي رحمه الله فرمائی ابوعوانه په بصره کښې وفات شوې. [۸] خو ابن سعد رحمه الله دَ يحيى بن حماد نه نه نقل کړی دی ابوعوانه دَ هارون الرشيد په زمانه کښې چه کوم وخت دَ بصره ګورنر جعفر بن سليمان وو نو ۱۷۶هجری کښې وفات شوې. [۹]

---

[۱] الکاشف مع تعليقات الشيخ محمد عوامه: ۳۴۹/۲رقم: ۶۰۴۹.
[۲] تعليقات کتاب العلل ومعرفة الرجال: ۳۵۴/۱.
[۳] تاريخ بغداد: ۱۳/ ۴۷۰-۴۶۹التاريخ الکبير: ۱۸۱/۸طبقات ابن سعد: ۲۸۸/۷تهذيب التهذيب: ۱۱۸/۱۱تهذيب الکمال: ۴۴۸/۳۰ تاريخ الإسلام: ۶۵۱/۴الکاشف: ۲۲۴/۳سير أعلام النبلاء: ۲۲۱/۸تذکرة الحفاظ: ۲۳۷/۱.
[۴] التاريخ الکبير: ۱۸۱/۸.
[۵] تهذيب الکمال: ۴۴۸/۳۰ تهذيب التهذيب: ۱۱۸/۱۱.
[۶] کتاب الثقات: ۵۶۳/۷.
[۷] تاريخ الأسلام: ۶۵۱/۴سير أعلام النبلاء: ۲۲۱/۸تذکرة الحفاظ: ۲۳۷/۱.
[۸] کتاب الثقات: ۵۶۳/۷التاريخ الکبير: ۱۸۱/۸تاريخ الإسلام: ۶۵۱/۴سير أعلام النبلاء: ۲۲۱/۸تذکرة الحفاظ: ۲۳۷/۱.
[۹] الطبقات الکبرى: ۲۸۸/۷.

② احمدبن اسحاق بندار، ابوغالب علی بن محمد اوعلی بن مدینی رحمهم الله وغیره فرمائی چه ابوعوانه رحمه الله ۱۷۵هجری کښې وفات شوې دې.(۱)
حافظ ابن حجر رحمه الله تقریب التهذیب کښې لفظ "أو" سره ۱۷۵هجری ۱۷۶هجری دواړه نقل کړی دی.(۲)چونکه اکثر ائمه جرح وتعدیل او مؤرخینو ۱۷۶هجری نقل کړې دې په دې وجه هم دغه راجح معلومیږی. والله اعلم بالصواب.

قوله::حدثنا الأعمش: داد امام اعمش په لقب سره مشهور ابومحمد سلیمان بن مهران اسدی کوفی رحمه الله دې.(۳) دَدوی احوال کتاب العلم باب ظلم دون ظلم په ذیل کښې بیان کړې شوی دی.(۴)

قوله::عن سالم بن أبي الجعد: دا سالم بن ابی الجعد رافع اشجعی کوفی رحمه الله دې.(۵) دَ دوی حالات صحیح البخاري کتاب الوضوء باب التسمية على كل حال وعند الوقاع لاندې اوګورئی.

قوله::عن كريب مولى ابن عباس: دادَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما غلام ابو رشد ین کریب بن ابی مسلم قرشی هاشمی حجازی رحمه الله دې.(۶) دَ دوی دَ ژوند حالات صحیح البخاري کتاب الوضوء باب التخفيف في الوضوء کښې اوګورئی.

قوله::عن ابن عباس رضي الله عنهما: دا دَ حضورپاك دَ تره خوئی عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف رضي الله عنهما دې.(۷) دَدوی حالات «کتاب بدء الوحي، باب كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم» په څلورم حدیث کښې (۸)او«کتاب الإیمان باب کفران العشیر، وکفر بعدکفر» دَ ړومبی حدیث لاندې تیرشوی دی.(۹)

قوله::عن ميمونة بنت الحارث رضي الله عنها: دَ دوی رضي الله عنها احوال کتاب العلم باب السمر في العلم لاندې تیرشوی دی.(۱۰)

شرح حدیث:

قوله:: وضعت لرسول الله صلى الله عليه وسلم غسلاً: حضرت میمونه رضي الله عنها فرمائی چه ما دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم دَپاره دَ غسل اوبه کیخودې.

---

(۱) تاریخ بغداد: ۴۷۰/۱۳تهذیب التهذیب: ۱۱۸/۱۱.
(۲) ۲۸۳/۲.
(۳) تهذیب الکمال:۱۲/۹۲-۷۶.
(۴) کشف الباری: ۲۵۳/۲-۲۵۱.
(۵) تهذیب الکمال:۱۳۳/۱۰-۱۳۰.
(۶) تهذیب الکمال: ۱۷۴/۲۴-۱۷۲.
(۷) سیرأعلام النبلاء: ۳۵۹/۳-۳۳۱.
(۸) کشف الباری:۴۳۷/۱-۴۳۵.
(۹) کشف الباری:۲۰۶/۲-۲۰۵.
(۱۰) کشف الباری: ۴۲۲/٤-۴۲۰.

دَلفظ غسلاً وضاحت: که لفظ غسل چرته دَغين په ضمه سره وی نودَ غسل اوبوته وئيلی شی اوکه چرې دَ غين فتحه سره وی نومصدر به وی غسل کولوته وائي. اوکه چرې دَغين کسره سره وی نومراد هغه جرړې بوټی (صابون اشنان او بيره وغيره) دی کوم چه په اوبوکښې واچولې شی يا په بدن باندې اومرلې شی غسل اوکړی.([1])

سترته: حافظ ابن حجر رحمه الله دَ "وسترته" واؤ حاليه گرځولې دې.([2]) علامه عينی رحمه الله په حافظ صاحب باندې رد کولوسره ليکی چه واؤ حاليه گرځول صحيح نه دی دلته واؤ حاليه نه دې بلکه عاطفه دې اودَې عطف په وضعت باندې دې.([3])

دَ بثوب اضافه: ابن فضيل دَاعمش نه دَ بثوب زياتوالې او اضافه نقل کړې ده يعنی **سترته بثوب**.([4]) پخپله امام بخاری رحمه الله «**باب نفض اليدين من الغسل عن الجنابة**» کښې عبدان نه په واسطه دَ ابوحمزه عن الاعمش حضرت ميمونه رضي الله عنها نه «**سترته بثوب**» صراحت نقل کړې دې.([5])

دَ سترته ضمير مرجع: دَ **سترته** ضمير مفعول کښې دوه احتماله دی:

رومبې احتمال: يودا چه ضمير مفعول غسلاً طرف ته راجع وی لکه چه ظاهر دی اوشراح حديث هم دا احتمال اخستوسره دَ حديث شرح کړې ده. يعنی حضرت ميمونه رضي الله عنها فرمائي چه ما دَ نبی کريم ﷺ دَپاره دَ غسل اوبه کيخودې او دَ دغه اوبو (لوښی) په يوه کپړه پټ کړو (دې دَپاره چه دَ دوړو اوخاورې وغيره نه محفوظ پاتې شی) بيا چه کله حضورپاک دَغسل اراده اوکړه نودَ دغه اوبودَ لوښی نه ئی کپړه اخواکړه اوبه ئی ترې واخستې.([6])

دويم احتمال: دويم احتمال دادې چه سترته ضمير مفعول رسول الله ﷺ ته راجع وی يعنی ما په رسول الله ﷺ باندې په يوه کپړه سره پرده اوکړه. دَدې تائيد دَ امام بخاری رحمه الله «**باب التستر في الغسل عند الناس**» کښې سفيان عن الاعمش په طريق سره دَحضرت ميمونه رضي الله عنها دَ روايت نه کيږی په کوم کښې چه حضرت ميمونه رضي الله عنها په صراحت سره فرمائيلی دی: «**سترت النبي صلى الله عليه وسلم وهو يغتسل من الجنابة**»

قوله: فصب على يده: علامه کرمانی رحمه الله علامه زکرياانصاری رحمه الله اوعلامه قسطلانی رحمه الله وغيره فرمائي چه دَ فصب عطف «**فأراد رسول الله صلى الله عليه وسلم الغسل فكشف رأسه فأخذه**» محذوف باندې دې يعنی حضرت ميمونه رضي الله عنها فرمائي چه ما دَ رسول الله ﷺ دَپاره دَ غسل اوبه کيخودې اوهغه مې په يوه کپړه باندې پټې کړې نو حضورپاک دَ غسل په اراده سره تشريف راوړواودَ لوښی نه ئی کپړه اوچته کړه او اوبه ئی واخستې په خپل لاس باندې واچولې.([7])

[1]) شرح ا لکرمانی: ۱۲۸/۳عمدة القاری: ۳۱۵/۳إرشاد الساری: ۵۰۳/۱.
[2]) فتح الباری: ۴۵۹/۲.
[3]) عمدة القاری:۳۱۵/۳.
[4]) فتح الباری: ۴۵۹/۲ عمدة القاری: ۳۱۵/۳.
[5]) إرشادالساری: ۵۰۳/۱.
[6]) شرح الکرمانی:۱۲۸/۳عمدة القاری: ۳۱۵/۳إرشاد الساری: ۵۰۳/۱تحفة ا لباری: ۲۲۶/۱.
[7]) شرح الکرمانی: ۱۲۸/۳ تحفة الباری: ۲۲۶/۱إرشاد الساری: ۵۰۳/۱.

دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله علامه کرمانی رحمه الله وغیره دا رائې په قیل سره ذکرکولونه پس لیکی چه محذوف باندې هم عطف والااحتمال متعین نه دې بلکه په دې کښې دا احتمال هم دې چه فصب عطف وضعت باندې وی لکه څنګه چه دَ حدیث دَ الفاظو نه هم ښکاره ده. یعنی ما دَ حضورپاك دَ پاره دَ غسل اوبه کیخودې نو حضورپاك غسل شروع کړو اودا ممکن دې چه کپړې هم اول لرې کړې وی. دَحضرت میمونه رضی الله عنها اوبه کیخودو سره نی غسل شروع کړې وی او داوبو اخستلو معنی فصب کښې بعینه موجود ده. «ښکاره خبره ده چه اوبه اخستو سره هغه په لاسونو باندې وربهیول ممکن دی».(۱)

دَعلامه عینی رحمه الله په حافظ صاحب باندې رد: علامه عینی رحمه الله دَ علامه کرمانی رحمه الله توجیه اختیارولونه پس په حافظ صاحب باندې رد کولوسره لیکی چه دَبعض خلقو دَ فصب عطف په وضعت باندې ګرځول لکه چه دَ دغه خلقو دَ تصرف په شان دی چه دَ معنی تراکیب هیڅ ذوق صحیح نه لری. او صب ماء په وضع ماء باندې څنګه مرتب کولې شی کله چه په دې دواړو کښې نور افعال هم دی. بیا دَ صب تفسیر شرع سره کول هم صحیح نه دی. (۲) «ښکاره خبره ده چه دغسل شروع په لاسونو باندې اوبه بهیولوسره نه کیږی بلکه ددې نه وړاندې هم ډیر مراحل دی لکه چه علامه عینی رحمه الله ددې طرف ته اشاره کړې ده».(۳)

قوله: یده: شراح حدیث لیکلی دی چه په حدیث کښې لفظ ید سره دَدې چه مفرد دې مګر دې نه دواړه لاسونه مراد دی څکه چه په لفظ ید سره اسم جنس مراد دې لهذا دَدواړو لاسونو مراد اخستل صحیح دی. (۴)

قوله: قال سلیمان: دا دَ ابوعوانه رحمه الله وینا ده اودَ سلیمان نه مراد په سند کښې ذکر دَ ابوعوانه شیخ سلیمان بن مهران دې کوم چه دَ اعمش په لقب سره معروف دې.(۵)

قوله: لاأدري أذكر الثالثة أم لا: دَ أذکر فاعل سالم بن ابی الجعد دې. دَدې قول مطلب دادې چه ابوعوانه اووئیل چه سلیمان اعمش وائی چه ماته یاد نه دی چه زما شیخ سالم بن ابی الجعد «فغسلهما مرة أو مرتين» نه پس ثلاثاً لفظ ذکر کړو که نه؟(۶)

دَ امام اعمش په روایاتوکښې تعارض: دلته دَابوعوانه په روایت کښې امام اعمش «لا أدري أذكر الثالثة أم لا؟» وائی او باب الغسل مرة واحدة کښې دَعبدالواحدپه روایت کښې هغه دَخپل استاذ نه مرتین أوثلاثا شك سره نقل کړې دې. خو ابوعوانه اسفرائنی په خپل مستخرج کښې محمدبن فضیل عن الاعمش عن سالم بن ابی الجعد دا روایت نقل کړې دې. په دې کښې امام اعمش رحمه الله دَخپل استاذ شیخ سالم بن ابی الجعدنه بغیر دَ څه شك جزم سره «فصب على يديه ثلاثاً» الفاظ نقل کړی دی

---

(۱) فتح الباری: ۴۵۹/۲.
(۲) عمدة القاری: ۳۱۵/۳.
(۳) عمدة القاری: ۳۱۵/۳.
(۴) شرح الکرمانی: ۱۲۸/۳ عمدة القاری: ۵۱۳/۳ إرشادالساری: ۵۰۳/۱ تحفة الباری: ۲۲۶/۱.
(۵) شرح الکرمانی: ۱۲۸/۳ فتح الباری: ۴۵۹/۲ عمدة القاری: ۵۱۳/۳ إرشادالساری: ۵۰۳/۱ تحفة الباری: ۲۲۶/۱.
(۶) شرح الکرمانی: ۱۲۸/۳ فتح الباری: ۴۵۹/۲ عمدة القاری: ۵۱۳/۳.

نولکه دامام اعمش رحمه الله دا دواړه روایتونه خپل مینځ کښې متعارض دي په یوکښې ئې شك او بل کښې جزم فرمائیلې دې.[1]

داعمش په روایاتوکښې تطبیق: دامام اعمش رحمه الله په دې دواړو روایتونوکښې جمع او تطبیق صورت دادې چه د امام اعمش رحمه الله اول په دې خبره کښې شك وو چه دهغه شیخ ثلاثاً فرمائیلی دی که نه. چنانچه هغوی شك سره روایت بیان کړو. عبدالواحد او ابوعوانه دخپل شیخ امام اعمش نه دا روایت په شك سره نقل کړو روستو امام اعمش ته یاد شو چه دهغه شیخ سالم بن ابی الجعد رحمه الله د ثلاثاً الفاظ ذکر کړی وو نودهغه شك لرې شو اوهغوی ددې جزم اوفرمائیلو. چونکه د ابن فضیل د امام اعمش نه سماع د عبدالواحد او ابوعوانه نه متاخر ده په دې وجه محمدبن فضیل دامام اعمش نه جزم سره ((فصب علی یدیه ثلاثاً)) الفاظ نقل کړی دی.[2]

قوله: ثم أفرغ بیمینه علی شماله: بیا حضورپاك خپل ښی لاس سره په ګس لاس باندې اوبه اوبهیولې (واچولې).

امام بخاری رحمه الله هم دغه روایت ((باب نفض الیدین من الغسل عن الجنابة)) کښې د ابوحمزه عن الاعمش په طریق سره نقل کړې دې. دهغې الفاظ دادی: ((وصب علی یدیه فغسلهما، ثم صب بیمینه علی شماله)) یعنی حضورپاك په دواړو لاسونو باندې اوبه واچولې اوهغه ئې اووینځل، بیا په خپل ښی لاس سره په ګس لاس باندې اوبه اوبهیولې. حافظ ابن رجب حنبلی رحمه الله فرمائی چه په دې روایت سره واضحه شوه چه حضورپاك په لوښی کښې د ښی لاس داخلولونه وړاندې دواړه لاسونه وینځلې وو.[3]

دغه شان ((باب المضمضة والاستنشاق فی الجنابة)) کښې امام بخاری رحمه الله حفص بن غیاث عن أبیه عن الاعمش په طریق سره دحضرت میمونه رضی الله عنها نه نقل کړی دی: ((صببت للنبی صلی الله علیه وسلم غسلاً، فأفرغ بیمینه علی یساره فغسلهما ثم غسل فرجه)) ابن رجب حنبلی رحمه الله اولیکل چه ددې الفاظونه مراد دادې چه حضورپاك په ښی لاس باندې لوښې واخستلو او په خپل ګس لاس باندې اوبه واچولې او بیائې دواړه لاسونه اووینځل.[4]

---

[1] إرشاد الساری: ٥٠٣/١.

[2] فتح الباری: ٤٩٥/٢عمدة القاری: ٥١٣/٣إرشاد الساری: ٥٠٣/١تحفة الباری: ٢٢٦/١وأما روایة ابن فضیل عن الأعمش أخرجه أبوعوانة الإسفر لئینی فی مسنده (٢٥٠/١) فی کتاب الطهارة باب بیان دلک الشمال بالأرض بعد غسل الفرج وغسل الرجلین فی الوضوء بعد غسل الجسد بعد أن تنحی مقامه، والدلیل علی أباحة القیام من مقعده بین وضوءه وقعوده فی مکان اخر لإتمام وضوءه، والترغیب فی ترک المسح بالمندیل بعد الغسل، وبیان الابتداء بغسل یمینه علیه بشماله:[٨٦٤]حدثنا أحمد بن عبدالجبار قال: ثنا محمد بن فضیل عن الأعمش، عن سالم بن أبی الجعد عن کریب، عن ابن عباس، عن میمونة قالت: قربت لرسول الله صلی الله علیه وسلم غُسلاً من الجنابة وسترته بالثوب، قالت: فصب علی یدیه ثلاثاً من الإناء فغسل یدیه، ثم صب بیمینه عی شماله فغسل فرجه، ثم مسح یدیه بالأرض أو الحائط، ثم مضمض واستنشق وغسل وجهه وذراعیه، ثم أفاض الماء علی رأسه وعلی سائر جسده، ثم تنحی فغسل قدمیه، ثم ناولته المندیل ینشف وجعل ینفض عنه الماء. انتهی.

[3] فتح الباری لابن رجب الحنبلی: ١٦٧/١.

[4] فتح الباری لابن رجب الحنبلی: ١٦٧/١.

دَعلامه ابن بطال رائې: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائي: «هذا الحديث محمول عند البخاري على أنه كان في يده أوفي فرجه جنابة أوأذى فلذلك دلك يده بالأرض وغسلها قبل إدخالها في وضوئه»[1]
دَ امام بخاري رحمه الله په نيزحديث باب په دې خبره باندې محمول دې چه دَحضوراكرم په لاس يا شرمگاه باندې دَ جنابت څه ناپاکي لگيدلې وه هم په دې وجه باندې حضورپاك خپل لاس په زمكه باندې راښكلو اودَ اوبو په لوښي كښې دَ داخلولونه وړاندې ئې اووينځلو. دَ امام قسطلاني رحمه الله هم دغه رائې ده.[2]
دَامام خطابي رحمه الله توجيه: امام خطابي رحمه الله «أعلام الحديث في شرح صحيح البخاري» كښې ليكلي دي چه په استنجاء كښې خو په ښي لاس سره په گس لاس باندې اوبه اچولوسره په گس لاس باندې استنجاء كول هم دغه يوصورت دَ جواز دې. دَدې نه علاوه (بغيرضرورت) جائزنه دى. باقي پاتې شوه خبره دَ اطراف دَ وينځلو نو په دې صورت كښې به كتلې شي كه چرې لوښې دَ ارتې خلې والادې نوبيا به دا ښي طرف ته كيخودلوسره په ښي لاس باندې اوبه اخستلې شي اوبيابه دغه په گس لاس باندې اچولې شي. خو كه چرې لوښې دَ تنگې خلې والاوي يعني دَ لوټې په شان وي لكه دَ تنگې خلې والابوتل يا منگې وغيره وي نوبيابه دا گس طرف ته كيخودې شي او په ښي باندې به اوبه اچولې شي.[3]
دَ امام خطابي رحمه الله دا قول حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عيني رحمه الله دواړو نقل كړې دې.[4] هم دغه خبره ابن رجب حنبلي رحمه الله دَبعض فقهاء حنابله او شوافع وغيره نه نقل كړې ده دَدې په دليل كښې دَ امام طبراني رحمه الله دَ حضرت انس رضي الله عنه نه روايت ذكر كړې دې: «أنه أراهم الوضوء، فأخذركوة فوضعها عن يساره وصب على يده اليمنى منها ثلاثاً —وذكر بقية الوضوء— ثم قال: هكذا رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يتوضأ»[5]
هغوى بعض خلقو ته په اودس كولوسره اوخودل چه په داسې توگه چه دَ يوتنگې خلې والا لوښې (وړوكې ډولچه يا دَاوبو څكلو دَ خرمنې ډونگا وغيره) اخستلوسره خپل گس طرف ته كيخوده او په خپل ښي لاس باندې په دې سره درې ځل اوبه واچولې. دَ اودس مكمل كولوسره ئې اوفرمائيل چه ما رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې په اودس كولوسره ليدلې دې.
دَ شريعت يوه قاعده مستمره: علامه نووي رحمه الله "باب التيمن في الطهور وغيره" لاندې ليكلي دي چه په شريعت كښې دا قاعده مستمره ده چه كوم امور دَ باب تكريم او تشريف نه دي لكه كپړې پرتوگ اوموزه وغيره اچول، جمات ته داخليدل، مسواك كول، رانجه اچول، نوكونه پرې كول، بريت كټ كول، وينښته گمنځ كول، دَ ترخ وينښته ويستل، دَ سر وينښته خرول، دَ مانځه سلام گرځول، اعضاء طهارت وينځل، دَ بيت الخلاء نه راوتل، خوراك څښاك كول، لاس ملاوول دَ حجر اسود استلام كول وغيره اودَدې په شان نور كارونه كوم چه دَباب تكريم اوتشريف نه دي په دې ټولو كښې تيامن مستحب دې. باقي كومې خبرې چه دَدې ضد دي لكه بيت الخلاء ته داخليدل، دَ جمات نه وتل، پوزه

---

[1] شرح ابن بطال: ۳۸۹/۱.
[2] إرشادالساري: ۵۰۳/۱.
[3] أعلام الحديث: ۳۰۴/۱-۳۰۳.
[4] فتح الباري: ۴۹۵/۲عمدة القاري: ۳۱۴/۳.س
[5] فتح الباري لابن رجب الحنبلي: ۱۶۸/۱.

صفاكول، استنجاء كول، كپړې موزې او څپلئ وغيره ويستل، په دې ټولو كارونوكښې تياسر مستحب دې. دا ټول دَ ښى طرف ته شرافت او كرامت دَ وجې نه دى. (١)علامه عينى رحمه الله په عمدة القاري كښې دَ شيخ محى الدين رحمه الله په حواله سره هم دا قاعده نقل كړې ده.(٢) اوهم دغه خبره علامه محمد بن اسماعيل كحلانى رحمه الله هم ليكلې ده.(٣)

په مسلم شريف كښې دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې: «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يحب التيمن في شأنه كله، في نعليه وترجله وطهوره»(٤) يعنى حضورپاك قابل شرف اوتكريم امور لكه څپلئ اچول گمنز كول او پاكوالي حاصلولوكښې تيمن خوښولو. دَحضرت عائشه رضي الله عنها په دې روايت كښې "في شأنه كله" په ظاهره عام دې ليكن دَ شراح حديث دَ وضاحت نه معلوميږى چه په دې كښې هغه اعمال داخل دى كوم چه په يوځائى كول متعارف نه وى او هغه قابل تكريم كيدوسره سره مقصود هم وى. چنانچه علامه سندى رحمه الله دَ سنن ابن ماجه په حاشيه كښې فرمائى: «يحب التيمن، أي: الابتداء باليمين» أي فيما لم يعهد فيه المقارنة ويكون من باب التشريف»(٥)

ترجمه: رسول الله صلى الله عليه وسلم به په (اعمال) كښې دَ ښى طرف نه شروع كول خوښول يعنى په داسې اعمالوكښې كوم چه په يوځائى كول متعارف نه وى اوهغه قابل تكريم وى.

هغه اعمال چه پخپله مطلوب نه وى، بلكه دَ څه بنا په وجه دَهغې اجازت وركړې شوې وى نو په هغه اعمالوكښې تيامن نشته تياسر مستحب وى. علامه عينى رحمه الله فرمائى: «وما يستحب فيه التياسر ليس من الأفعال المقصودة، بل هي إما تروك وإما غير مقصودة»(٦) يعنى كوم اعمال چه دَ گس طرف نه شروع كول مستحب دى هغه افعال پخپله مقصود نه وى بلكه هغه خو يا دَ تروك دَ قبيل نه دى يا هغه پخپله غيرمقصوددى.باقى پاتې شوه خبره په حديث كښې دَ مذكوره تنعل ترجل او طهور نو علامه ابن امير حاج مالكى رحمه الله (متوفى ٧٣٧هجرى) په حديث كښې دَدې دريواړو ذكر علامتى گرځولې دې هغه فرمائى چه دَ انسان جائز اعمال ياخو به واجب وى يا مستحب يا مباح، په حديث كښې دَ طهور نه جنس واجبات طرف ته، ترجل نه جنس مندوبات طرف ته او تنعل نه جنس مباحات طرف ته اشاره ده يعنى واجبات مستحبات اومباحات ټولوكښې دَښى طرف نه شروع كول دَښى پاك په خوښواعمالوكښې داخل دى. (٧)

دَ شارح بخارى ابومحمد اندلسى رحمه الله قول: شارح بخارى علامه ابومحمدعبدالله بن ابى حمزه اندلسى رحمه الله (المتوفي ٦٩٩هجرى) دَ حضورپاك تياسرفى الاعمال باره كښې فرمائى: «كان على ذلك

---

(١) شرح النووى: ١٥٢/٣.
(٢) ٤٧/٣-٤۶.
(٣) سبل السلام: ٥١/١-٥٠.
(٤) الحديث أخرجه مسلم فى صحيحه واللفظ له فى كتاب الطهارة باب اليمين فى الطهور وغيره رقم الحديث: ٦١٧ والبخارى فى صحيحه كتاب الوضوء باب التيمن فى الوضوء والغسل رقم الحديث: ١٦٨.
(٥) حاشية الإمام السندى على سنن ابن ماجه، كتاب الطهارة باب التيمن فى الوضوء ص: ٢٢٧ تحت رقم الحديث: ٤٠١.
(٦) عمدة القارى كتاب الوضوء باب التيمن فى الوضوء والغسل: ٤٧/٣.
(٧) المدخل: ٢٨٠٩/٢.

الشأن فی جمیع المفروضات والمستحبات والمباحات»[۱] یعني حضورپاك به په ټولو مفروضاتو مستحباتو او مباحاتوکښې تیامن خوښولو.غرض په اعمالوکښې د استحباب تیامن دپاره دا امور موندلې کیدل ضروري دی. ① چه عمل قابل دتکریم اوتشریف وی. ② چه عمل پخپله مطلوب وی یا دعباداتو د قبیل نه وی. ③ چه هغه اعمال په یووخت د کس او بنی طرف نه پوره کول ممکن نه وی. [۲] والله اعلم بالصواب.

قوله: : ثم دلك یده بالأرض أوالحائط: راوی ته شك دې چه حضورپاك علیه السلام په زمکه باندې لاس راښکلو یا په دیوال پورې. [۳] بعض روایاتوکښې په زمکه باندې راښکل اوبعض کښې په دیوال پورې راښکل ذکر دی. (کمامر)

قوله: : ثم تمضمض: دادَ ابوذر ابوالوقت اصیلی اوابن عساکر رحمهم الله روایت دې. [۴] خوهم داصیلی په یو روایت کښې مضمض بغیر د تاء هم راغلې دې.

قوله: : استنشق وغسل وجهه ویده وغسل رأسه ثم صب علی جسده ثم

قوله: : تنحی: یعنی حضورپاك په پوزه کښې اوبه واچولې اومخ لاسونه او سر ئی اووینځلو بیاخپل (پوره) بدن باندې اوبه اوبهیولې اودَ غسل دَ ځائی نه اخوا شو. [۵]

قوله: : فغسل قدمیه: دادَ اکثرو حضراتو روایت دې خودَ ابوذر په روایت کښې فاء په ځائی "وَغسل قدمیه" راغلې دې. [۶]

قوله: : فناولته خرقه فقال بیده: هکذا: حضرت میمونه رضی الله عنها فرمائی چه مادَحضورپاك په خدمت کښې دکپړې ټکړه یعنی تولیه پیش کړه چه بدن مبارك اوچ کړی نو حضورپاك دَ لاس په اشاره سره منع اوکړه. دَدې خبرې تفصیل وړاندې تیر شوې دې چه دَ قول اطلاق په فعل باندې کیږی. [۷]

قوله: : ولم یُردْهَا: یردها دَ یا په ضمه سره دَ دال په سکون سره په اصل کښې أراد یرید إرادةً نه "یُرِیْدُهَا" وو دَ لم دَ وجې نه په حالت جزمی کښې دَ یاء په حذف کیدو سره "یُرِدْهَا" شوې دې. [۸]
بعض حضراتو ابن السکن وغیره دا دَ یاء په فتحه سره اودال په تشدید سره "یَرُدُّهَا" (ردکول) نقل کړی دی لکه څنګه چه صاحب دَ مطالع ذکرکړی دی لیکن صاحب دَمطالع اونور شراح حدیث فرمائیلی

---

[۱] بهجة النفوس وتحلیها بمعرفة مالها وما علیهاشرح مختصر صحیح البخاری، المسمی: جمع النهایة فی بدء الخیر والغایة، الحکمة فی أن النبی صلی الله علیه وسلم یحب التیمن: ۱۸۸/۱.
[۲] عمدة القاری: ۴۷/۳.
[۳] إرشادالساری: ۵۰۳/۱.
[۴] کمامر فی روایة الباب السابق، راجع: إرشادالساری: ۵۰۲/۱.
[۵] فتح الباری: ۴۹۵/۲ إرشادالساری: ۵۰۳/۱ تحفة الباری: ۲۲۶/۱.
[۶] فتح الباری: ۴۹۵/۲ عمدة القاری: ۳۱۵/۳ إرشادالساری: ۵۰۳/۱ تحفة الباری: ۲۲۶/۱.
[۷] شرح الکرمانی: ۱۲۸/۳ فتح الباری: ۴۹۵/۲ عمدة القاری: ۳۱۵/۳ إرشادالساری: ۵۰۳/۱.
[۸] فتح الباری: ۴۹۵/۲ إرشادالساری: ۵۰۳/۱ شرح الکرمانی: ۱۲۸/۳.

چه دا دَ اراده نه دې، رد نه نه دې. دَ رد والاروایت دَ ابن السکن وهم دې. خکه چه په دې سره په معنی کښې فساد پیداکیږی. "لم یردها" (اراده سره) صحیح دې. دَدې تائید دَامام احمدبن حنبل رحمه الله دَ عفان عن ابی عوانة په طریق سره هم په دې سند سره نقل کړې روایت نه کیږی. دکوم په آخره کښې چه دا الفاظ دی: «فقال هکذا وأشار بیده أن لا أریدها» [1] دَدې نور تائید دَ امام بخاری رحمه الله «باب نفض الیدین من الغسل عن الجنابة» کښې دَ ابوحمزه عن الاعمش روایت نه هم کیږی په کوم کښې چه حضرت میمونه رضی الله عنها فرمائی «فناولته ثوبا فلم یأخذه، فانطلق وهو ینفض یدیه» [2]

دَدې نه علاوه «باب من توضأ فی الجنابة، ثم غسل سائر جسده ولم یعد غسل مواضع الوضوء مرة أخری» کښې الفضل بن موسی عن الاعمش په طریق سره هم دغه روایت نقل دې په کوم کښې چه حضرت میمونه رضی الله عنها فرمائی: «فأتیته بخرقة فلم یردها، فجعل ینفض بیده» ابوحمزه عن الاعمش او الفضل بن موسی عن الاعمش په روایت کښې «فلم یأخذه او فلم یردها» نه پس «ینفض یدیه او فجعل ینفض بیده» ذکرکیدل هم دَدې خبرې واضحه دلیل دې چه مراد عدم اراده ده عدم رد نه دې. والله اعلم بالصواب.

دَحدیث ترجمة الباب سره مطابقت: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَحدیث ترجمة الباب سره مطابقت ښکاره دې. په داسې توګه چه په ترجمه کښې دَ غسل دروان کښې په ښی لاس سره په ګس لاس باندې دَاوبو اچولوذکر دې او په حدیث باب کښې فأفرغ بیمینه علی شماله صراحت راغلې دې. [3]

یواشکال: دلته په امام بخاری رحمه الله باندې دا اعتراض کیدې شی چه دعویٰ یعنی ترجمة الباب اعم دې چه په دې کښې په غسل کښې په ښی لاس سره په ګس لاس باندې دَ اوبو اچولو ذکر دې او دلیل یعنی حدیث خاص دې چه په دې کښې استنجاء کولوسره په ګس لاس سره په ښی لاس باندې اوبه اچول نقل دی. [4]

دَحافظ ابن حجر رحمه الله جواب: حافظ ابن حجر رحمه الله دَدې اعتراض دا جواب ورکړې دې چه شرمګاه وینځلو وخت کښې «إفراغ بالیمین علی الشمال» خودَحدیث نه ثابت دې دَدې نه علاوه په غسل وغیره کښې دَ حضورپاك دَعام عادت شریفه نه ثابت دی چه حضورپاك به په هرکارکښې تیامن خوښولو. کما تقدم. [5]

دَعلامه عینی رحمه الله توجیه: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دلته مراد «إفراغ الماء بیمینه علی شماله فی الاستنجاء فی الغسل» دې. [6]

یعنی إفراغ بالیمین علی الشمال په مطلقًا استنجاء کښې نه دې بلکه په هغه استنجاء کښې دې چه غسل جنابت سره متصل اول کولې شی لکه چه دغه هم په غسل جنابت کښې داخل دی. که چرې دَ علامه

[1] مسندأحمد بن حنبل، مسند میمونة رضی الله عنها: ٤٢٨/٤٤-٤٢٧ رقم الحدیث: ٢٦٨٥٦.

[2] عمدة القاری: ٣١٥/٣ فتح الباری: ٤٩٦/٢ إرشادالساری: ٥٠٣/١ التوشیح: ٢٤٨/١.

[3] عمدة القاری: ٣١٥/٣.

[4] فتح الباری: ٤٩٦/٢ الکوثرالجاری: ٤٢١/١.

[5] فتح الباری: ٤٩٥/٢.

[6] عمدة القاری: ٣١٤/٣.

عینی رحمه الله توجیه واخستلې شی نو بیابه دا اعتراض نه وارد کیدلو اونه به دَ هغه دَ جواب څه حاجت باقی پاتې کیدلو.

دَ بعض علماؤ جواب: بعض علماء حضراتو دَدې اعتراض دا جواب ورکړې دې چه امام بخاری رحمه الله په غسل فرج کښې الافراغ بالیمین علی الشمال نصاً ثابت کړې دې او باقی اندامونوکښې قیاساً یعنی باقی اعضاء به په غسل فرج باندې قیاس کولې شی لکه څنګه چه په غسل فرج کښې افراغ بالیمین علی الشمال دې دغه شان په باقی اعضاء کښې افراغ بالیمین علی الشمال نه کار اخستلې شی.([1])

دَ بعض حضراتو په توجیه باندې یونظر: دَ بعض حضراتو دا جواب دَهغه خلقو دَ مسلك او رائې مطابق خو صحیح کیدې شی چه امام بخاری رحمه الله په قائلین قیاس کښې شمیرکوی. لیکن کوم حضرات چه امام بخاری رحمه الله په قائلین قیاس کښې نه شمیری دَهغوی په نیز به دا نقریر کمزورې کیږی اوتحقیق هم دغه دې چه امام بخاری رحمه الله قیاس حجت نه منی نوبیا دَ ترجمه دَ اثبات دَپاره دَ قیاس آسره اخستل څه معنی لری؟

دَ حضرت شیخ الحدیث رحمه الله توجیه: حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه زما په نیز اوجه داده چه امام بخاری رحمه الله دَ تشحید اذهان په خاطر دَ روایت الباب دویم طریق طرف ته اشاره فرمائیلې ده. هم دغه روایت «باب المضمضة والاستنشاق فی الجنابة» کښې حفص بن غیاث په طریق سره تیر شوې دې. په هغې کښې «فأفرغ بیمینه علی یساره فغسلها ثم غسل فرجه» راغلې دې. دې نه معلومیږی چه لاس وینځلوسره هم حضورپاك په ښی لاس سره په کس باندې اوبه اچولې وې نودَ غسل فرج نه تیریدو سره دَ لاس وینځلو طرف ته افراغ بالیمین علی الیسار متعدی شو. دَ امام بخاری رحمه الله نظر چونکه په ټولو روایاتو باندې وی په دې وجه دَ تشحید اذهان په خاطر دا په غیر مظان کښې هم ذکرکوی.([2])

دَحضرت میمونه رضي الله عنها سابقه روایت طرف ته دَ اشاره والاجواب علامه کورانی رحمه الله هم ورکړې دې اودَ امام بخاری رحمه الله دَ عادت مطابق نی دا استدلال بالخفی کړخولې دې.([3])

فائده: علامه عینی رحمه الله لیکلی دی چه حدیث باب کوم چه دَ موسی بن اسماعیل په طریق سره دې دې نه وړاندې په باب الغسل مرة واحدة کښې تیر شوې دې خو هلته دَموسی بن اسماعیل شیخ عبدالواحد وو اودلته ابو عوانه دې اودَ بعض الفاظو فرق دې. چنانچه دلته دَ وضعت لرسول الله صلی الله علیه وسلم نه او هلته وضعت للنبی صلی الله علیه وسلم سره وو. دلته غسلاً دې اوهلته ماءللغسل وو. دلته دَدې نه پس سترته فصب علی یده لغسلها مرة أومرتین دې. هلته فغسل یده مرتین أوثلاثاً وو. دلته دَدې نه پس قال سلیمان: لا أدری أذکر الثالثة أم لا ثم أفرغ بیمینه علی شماله فغسل فرجه ثم دلك یده بالأرض أو بالحائط دې او هلته ثم أفرغ علی شماله فغسل مذاکیره ثم مسح یده بالأرض وو. دلته مضمض دې اوهلته تمضمض وو. دلته

---

[1]) الکوثرالجاری: ۱/۴۲۱.

[2]) حاشیة اللامع: ۲۲۱/۳الکنزالمتواری:۳/۲۱۰.

[3]) الکوثرالجاری:۱/۴۲۲.

ثم صب على جسده ثم تنحى فغسل قدميه دي او هلته ثم أفاض على جسده ثم تحول من مكانه فغسل قدميه وو. دلته فناولته خرقة فقال بيده هكذا، ولم يردها الفاظو اضافه ده. ([1])

امور مستنبطه: دَحديث باب نه دا امور مستنبط کړې شوی دی: ① دَغسل کولوپه وخت محارم دَکوم کتل چه جائز دی دَهغې نه هم پرده کولوسره غسل کول مستحب دی. ([2]) ② دَ ښځې دَ خاوند خدمت کول ([3]). ③ دَغسل دَپاره کیخودلې شوې اوبه پټول. ([4]) ④ دَلاس په زمکه یا دیوال باندې راښکل. ([5]) ⑤ تقدیم دَاستنجاء. ([6]) ⑥ تقدیم الوضوء علی الغسل. ([7]) ⑦ په لوښی کښې دَ لاس اچولو نه بغیر په لاس باندې اوبه اچول ([8]). ⑧ په ښی لاس باندې په گس اوبه اچول. ⑨ خپې وینځل روستوکول او په آخره کښې وینځل. ⑩ دَ غسل اندامونه په تولیه وغیره سره نه اوچول. ([9]) والله اعلم بالصواب.

<<<<<<<<<<<<

[1]) عمدة القاري: ۳/۳۱۵-۳۱٤.
[2]) الكوثرالجاري: ۱/٤۲۲.
[3]) تحفة الباري: ۱/۲۲۶الكوثرالجاري: ۱/٤۲۱
[4]) تحفة الباري: ۱/۲۲۶.
[5]) الكوثرالجاري: ۱/٤۲۱.
[6]) تحفة الباري: ۱/۲۲۶.
[7]) الكوثرالجاري: ۱/٤۲۱.
[8]) تحفة الباري: ۱/۲۲۶
[9]) تحفة الباري: ۱/۲۲۶.

مصادر ومراجع

»القران الكريم
»احکام اسلام عقل کی نظر میں للشیخ حکیم الأمة مولانا أشرف علی تھانوي رحمه الله، المتوفی سنة: ١٣٦٢ هجري، دار الاشاعت کراچی.
» الاستذكار الجامع لمذاهب فقهاء الأمصار وعلماء الأقطار فيما تضمنه الموطأ من معاني الرأي والآثار وشرح ذلك كله بالإيجاز والاختصار، للإمام الحافظ أبي عمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر بن عاصم النمري القرطبي المالكي رحمه الله، المتوفى سنة ٤٦٣ هجري، تحقيق: عبدالبر المهدي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢١ هجري-٢٠٠١ م
» الاستيعاب في أسماء الأصحاب (بهامش الإصابة)، للإمام الحافظ أبي عمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر المالكي رحمه الله، المتوفى سنة: ٤٦٣ هجري، دار الفكر، بيروت. ط: ١٤٠٩ هجري-١٩٨٩ م
»الاحتجاج، لأبي منصور علي بن أبي طالب الطبرسي الشيعي، تحقيق: محمد باقر الخراساني، طبع في مطبع النعمان، النجف الأشرف، حسن إبراهيم الكبتي، ط: ١٣٨٦ هجري.
» الآحاد والمثاني، للإمام أبي بكر أحمد بن عمرو بن ضحاك الشيباني (ابن أبي عاصم) المتوفى: ٢٨٧ هجري، تحقيق: الدكتور باسم فيصل أحمد الجوابرة، دار الراية، الرياض، الطبعة الأولى: ١٤١١ هجري-١٩٩١ م
» الأبواب والتراجم لصحيح البخاري، للشيخ العلامة المحدث محمد زكريا بن محمد يحيى الكاندهلوي رحمه الله، المتوفى سنة ١٤٠٢ هجري الموافق سنة ١٩٨٢، ايج، ايم، سعيد، كمبني كراچي.
» الأبواب والتراجم اردو شرح بخاري شريف، شيخ الحديث مولانا محمد إدريس الكاندهلوي رحمه الله المتوفى ١٣٩٤ هجري، كتب خانه جميلي، لاهور.
» الاجوبة الفاضلة للأسئلة العشرة الكاملة، للعلامة محمد عبدالحيى اللكنوي، رحمه الله، المتوفى: ١٣٠٤ هجري تعليق: الشيخ عبدالفتاح أبوغدة، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة السادسة: ١٤٢٦ هجري-٢٠٠٥ م
» الأدب المفرد للإمام أبي عبدالله محمد بن إسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة بن بردزبه البخاري رحمه الله، (١٩٤-٢٥٦ هجري) دار السلام، بيروت، دار البشائر الإسلامية، بيروت، الطبعة الثالثة: ١٤٠٩ هجري-١٩٨٩ الصدف ببلشرز، كراتشي.
» الأسماء المبهمة في الأنباء المحكمة، لأبي بكر أحمد بن علي بن ثابت الخطيب البغدادي رحمه الله، بتحقيق الدكتور عزالدين علي السيد، مكتبة الخانجي، القاهرة، الطبعة الثانية ١٤١٧ هجري -١٩٩٧ م

» الأعتبار في الناسخ والمنسوخ في الحديث، للإمام الحافظ أبي بكر محمد بن موسى الحازمي الهمداني، تحقيق: أحمد طنطاوي الجوهري، دار ابن حزم، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٢ هجري- ٢٠٠١ م

» الأعلام، لخير الدين الزركاني، دار العلم للملايين، بيروت، الطبعة الثامنة: ١٩٨٩ م

» الأنساب، للإمام أبي سعد عبد الكريم بن محمد ابن منصور التميمي السمعاني رحمه الله، المتوفى سنة ٥٦٢ هجري: تعليق: عبد الله عمر البارودي، ٥٦٢ هجري، دار الجنان، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٠٨ هجري-١٩٨٨ م دار الفكر للطباعة والنشر، بيروت.

» الأوسط في السنن والإجماع والاختلاف، للإمام أبي بكر محمد بن إبراهيم بن المنذر النيسابوري رحمه الله، المتوفى سنة: ٣١٩ هجري، تحقيق: الدكتور أبو حماد صغير أحمد بن محمد حنيف، دار طيبة، الرياض، ط: ١٤٠٥ هجري-١٩٨٥ م

» إتحاف الخيرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة للإمام احمد بن ابي بكر بن اسماعيل البوصيري رحمه الله المتوفى: ٨٤٠ هجري تحقيق: عادل بن سعد السيد محمود بن إسماعيل، مكتبة الرشيد، الرياض، الطبعة الأولى: ١٤١٩ هجري-١٩٩٨ م

» إتحاف السادة المتقين بشرح إحياء علوم الدين، للعلامة السيد محمد بن محمد الحسيني، الشهير بمرتضى الزبيدي المتوفى: ١٢٠٥ هجري-١٩٩٨ م

» إحياء علوم الدين للإمام أبي حامد محمد بن محمد الغزالي، المتوفى: ٥٠٥ هجري، تحقيق: أحمد عناية وأحمد زهوة، دار الكتاب العربي، بيروت.

» إختصار علوم الحديث مع الباعث الحثيث، للإمام الجليل الحافظ عماد الدين أبي الفداء إسماعيل بن كثير الدمشقي رحمه الله، المتوفى سنة: ٧٧٤ هجري، دار الكتب العلمية، بيروت.

» إرشاد الساري لشرح صحيح البخاري، للإمام شهاب الدين أبي العباس أحمد بن محمد الشافعي القسطلاني رحمه الله المتوفى ٩٢٣ هجري تحقيق: محمد عبد العزيز الخالدي، دار الكتب العلمية بيروت الطبعة الأولى: ١٤١٦ هجري-١٩٩٦ م/ المطبعة الكبري الأمرية ببولاق مصر الطبعة السابعة: ١٣٢٣ هجري

» إعلام السنن للمحدث الناقد ظفر أحمد العثماني رحمه الله المتوفى سنة ١٣٩٤ هجري إدارة القرآن والعلوم الإسلامية دار الفكر بيروت.

» إكمال المعلم بفوائد مسلم للإمام الحافظ أبي الفضل عياض بن موسى بن عياض اليحصبي رحمه الله المتوفى سنة ٥٤٤ هجري تحقيق: إسماعيل، دار الوفاء للطباعة والنشر والتوزيع ط: ١٤١٩ هجري-١٩٩٨ م/ دار الكتب العلمية بيروت

» إكمال تهذيب الكمال للعلامة علاء الدين مغلطاي ابن قليج بن عبد الله الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ٦٨٩ هجري - ٧٦٢ هجري، الفاروق الحديثة للطباعة والنشر القاهرة، الطبعة الأولى: ١٤٢٢ هجري-٢٠٠١ م

» إكمال إكمال المعلم شرح صحيح مسلم للإمام أبي عبدالله محمد بن خلفة الوشتاني الأبي المالكي المتوفى سنة ٨٢٧ هجري دار الكتب العلمية بيروت
» الباعث الحثيث شرح اختصار علوم الحديث، للإمام الجليل الحافظ عماد الدين أبي الفداء إسماعيل بن كثير الدمشقي رحمه الله، المتوفى سنة ٧٧٤ هجري ألفه أحمد محمد شاكر، دار الكتب العلمية، بيروت.
» البحر الرائق شرح كنز الدقائق للإمام العلامة الشيخ زين الدين بن إبراهيم بن محمد المعروف بابن نجيم المصري الحنفي المتوفى سنة ٩٧٠ هجري دار الكتب العلمية ط: ١٤١٨ هجري -١٩٩٧ م
» البحر المحيط في أصول الفقه، للإمام بدرالدين محمد بن بهادر بن عبدالله الزركشي، المتوفى: ٧٩٤ هجري، حررة: عمر سليمان الأشقر، منشورات وزارة الأوقاف، الكويت، الطبعة الأولى: ١٤٠٩ هجري -١٩٨٨ م
» البداية والنهاية للإمام الحافظ أبي الفداء إسماعيل بن كثير الدمشقي رحمه الله المتوفى سنة ٧٧٤ هجري توثيق: علي محمد معوض وعادل أحمد عبدالمعبود، الحواشي: للدكتور أحمد أبي ملحم والدكتور علي نجيب علوي والأستاذ فؤاد السيد والأستاذ مهدي ناصر الدين، دار الكتب العلمية بيروت الطبعة الثانية: ١٤٢٦ هجري -٢٠٠٥ م/ دار إحياء التراث العربي بيروت.
» البدر المنير في تخريج الأحاديث والآثار الواقعة في الشرح الكبير لابن الملقن، تحقيق: مصطفى أبو الغيط وعبدالله بن سليمان وياسر بن كمال، دار الهجرة، الرياض، الطبعة الأولى: ١٤٢٥ هجري -٢٠٠٤ م
» البناية شرح الهداية للإمام المحدث الفقيه محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن الحسين، المعروف ببدرالدين العيني الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٥ هجري دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٠ هجري -١٩٩٩ م
» التاج والإكليل (في فقه الإمام مالك) للإمام العلامة أبي عبدالله محمد بن يوسف بن أبي القاسم العبدري رحمه الله المتوفى سنة ٨٩٧ هجري دار الفكر بيروت
» التعليق الصبيح على مشكاة المصابيح للشيخ العلامة مولانا محمد إدريس الكاندهلوي رحمه الله المكتبة العثمانية لاهور باكستان.
» التعليق المغني على سنن الدارقطني، للمحدث العلامة أبي الطيب محمد شمس الحق العظيم آبادي، دار نشر الكتب الإسلامية (لاهور).
» التعليقات على سير أعلام النبلاء، للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي رحمه الله، المتوفى سنة: ٧٤٨ هجري، إشراف وتحقيق: الشيخ شعيب الأرناؤط مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الرابعة: ١٤٠٦ هجري -١٩٨٦ م

» التفسير الكبير/مفاتيح الغيب للإمام المفسر الكبير أبي عبدالله بن محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخرالدين الرازي رحمه الله المتوفى سنة ٦٠٦ دارالكتب العلمية بيروت

» التقييد لمعرفة رواة السنن والمسانيد، للإمام الحافظ أبي بكر محمدبن عبدالغني البغدادي، المعروف بأبن النقطة الحنبلي، المتوفى: ٦٢٩ هجري تحقيق كمال يوسف الحوت دارالكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٠٨ هجري.

» التقييد والإيضاح لما أغلق من كتاب ابن الصلاح، للحافظ أبي الفضل زين الدين عبدالرحيم بن الحسين العراقي، تحقيق: أسامة بن عبدالله خياط، دارالبشائرالإسلامية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٥ هجري المكتبة السلفية، المدينة المنورة، تحقيق: عبدالرحمن محمد عثمان، الطبعة الأولى ١٤٨٩ هجري–١٩٦٩ م

» التمهيد لما في الموطأ من المعاني والأسانيد، للإمام الحافظ عمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر المالكي رحمه الله، المتوفى سنة: ٤٦٣ هجري المكتبة التجارية، مكة المكرمة.

» التوشيح شرح الجامع الصحيح للإمام الحافظ أبي الفضل جلال الدين عبدالرحمن بن أبي بكر السيوطي رحمه الله المتوفى: ٩١١ هجري، تحقيق علاء إبراهيم الأزهري، دارالكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٠ هجري-٢٠٠٠ م

» التوضيح لشرح الجامع الصحيح، للإمام سراج الدين أبي حفص عمر بن علي بن أحمد الأنصاري الشافعي المعروف بأبن ملقن رحمه الله المتوفى سنة ٧٦٢ هجري–٨٠٤ هجري دار الفلاح للبحث العلمي وتحقيق التراث، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية دولة قطر، دار النوادر، دمشق، الطبعة الأولى: ١٤٢٩ هجري-٢٠٠٨ م

» الجامع لأحكام القرآن، للإمام العلامة أبي عبدالله محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي رحمه الله المتوفى سنة ٦٧١ هجري دارإحياء التراث العربي، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٢ هجري-٢٠٠٢ م

» الجرح والتعديل للإمام الحافظ شيخ الإسلام أبي محمد عبدالرحمن بن أبي حاتم محمد بن إدريس بن المنذر التيمي الحنظلي الرازي رحمه الله المتوفى سنة ٣٢٧ هجري تحقيق: مصطفى عبدالقادر عطا، دارالكتب العلمية، بيروت الطبعة الأولى ٣٢٧ هجري-٢٠٠١ م/مطبعة دائرة المعارف العثمانية بحيدرآباد دكن الهند.

» الجمع بين الصحيحين للإمام المحدث محمد بن فتوح الحميدي رحمه الله تحقيق: علي حسين البواب، دارابن حزم، بيروت

» الجواهر المضية في طبقات الحنفية، للإمام العلامة المحدث أبي محمد عبدالقادر ابن أبي الوفاء محمد بن محمد الحنفي المصري المتوفى: ٦٩٦ هجري مير محمد كتب خانه كراتشي.

» الجوهر النقي على السنن الكبري (للإمام البيهقي) للعلامة علاء الدين بن علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني رحمه الله المتوفى سنة ٧٤٥ هجري، مطبعة مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدرآباد، الدكن، ط: ١٣٤٤ هجري.
» الحاوي الكبير (في فقه الإمام الشافعي) للإمام الفقيه أبي الحسن علي بن محمد بن حبيب الماوردي البصري رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٠ هجري ويليه بهجة الحاوي، لابن الوردي، تحقيق: الدكتور محمود مطرجي وجماعة، دار الفكر، بيروت، ط: ١٤١٤ هجري - ١٩٩٤ م.
» الخادص الكبري المسمى ب "كفاية الطالب اللبيب في خصائص الحبيب" للشيخ الإمام الحافظ أبي الفضل جلال الدين عبد الرحمن أبي بكر السيوطي الشافعي رحمه الله المتوفى سنة: ٩١١ هجري دار الكتب العلمية، بيروت.
» الخيرات الحسان، للإمام ابن حجر المكي الهيتمي المتوفى: ٩٧٤ هجري تعليق: للشيخ المحدث مولانا عاشق إلهي البرني، دار أرقم، بيروت.
» الدر المختار شرح تنوير الأبصار وجامع البحار، للإمام العلامة الفقيه علاء الدين محمد بن علي بن محمد الحصكفي رحمه الله المتوفى سنة ١٠٨٨ هجري تحقيق: عبد المنعم خليل إبراهيم، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٣ هجري - ٢٠٠٢ م دار العالم الكتب، الرياض.
» الدر المنضود على سنن أبي داود، للشيخ محمد عاقل، مكتبة الشيخ كراتشي، الطبعة الجديدة: ١٤٢٩ هجري.
» الدر الفاخرة في الأمثال السائرة، لأبي عبد الله حمزة بن الحسن الأصفهاني، تحقيق: عبد المجيد قطامش، دار المعارف، الطبعة الثانية: ١٩٧٦ م
» الدرر الكامنة في أعيان المائة الثامنة، للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن حجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله، المتوفى سنة: ٨٥٢ هجري تحقيق: محمد عبد القادر عطا، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٩ هجري.
» الذريعة إلى تصانيف الشيعة، لآغا بزرك الطهراني، دار الأضواء، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٠٣ هجري.
» السراج الوهاج على متن المنهاج، للشيخ محمد الزهري الغمراوي، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الخامسة: ١٤٢٩ هجري - ٢٠٠٨ م
» السعاية في شرح ما في شرح الوقاية، للعلامة الفقيه المحدث محمد عبد الحيي اللكنوي رحمه الله، المتوفى: ١٣٠٤ هجري سهيل اكيدمي لاهور، الطبعة الأولى: ١٣٩٦ هجري - ١٩٧٦ م
» السنن الكبري للإمام أبي بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي، وفي ذيله الجوهر النقي للعلامة علاء الدين بن علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني رحمه الله المتوفى سنة ٧٤٥ هجري دار الكتب العلمية بيروت/ تحقيق: محمد عبد القادر عطا، الطبعة الثانية:

١٤٢٣ هجري-٢٠٠٣م/مطبعة مجلس دائرة المعارف النظامية، الكائنة في الهند ببلدة حيدرآباد، الدكن، الطبعة الأولى سنة: ١٣٤٤ هجري.
» السنن الكبرى للإمام أبي عبدالرحمن احمد بن شعيب النسائي رحمه الله المتوفى سنة ٣٠٣ هجري إدارة التاليفات الأشرفية ملتان
» السنة وكانتها التشريعي، للشيخ الدكتور مصطفى أحمد السباعي، دار السلام، الرياض، الطبعة الثانية: ١٤٢٧ هجري-٢٠٠٦م
» السيرة الحلبية (إنسان العيون في سيرة الأمين المأمون) لأبي الفرج نور الدين علي بن إبراهيم بن أحمد الحلبي الشافعي رحمه الله المتوفى: ١٠٤٤ هجري الدار الكتب العلمية، بيروت، ط: ٢٠٠٨م
» السيرة النبوية للإمام أبي محمد عبدالملك بن هشام المعافري رحمه الله المتوفى سنة ٢١٣ هجري المكتبة العلمية بيروت لبنان
» الشرح الصغير على أقرب المسالك إلى مذهب الإمام مالك، دار المعارف، مصر، ١٣٩٢ هجري.
» الشرح الكبير على أقرب المسالك إلى مذهب الإمام مالك، للإمام العلامة أبي البركات أحمد بن محمد بن أحمد العدوي، الشهير بالدردير رحمه الله، المتوفى سنة: ١٢٠١ هجري دار المعارف، مصر، ط: ١٣٩٢ هجري.
الشرح الكبير مع حاشية الدسوقي للإمام أبي البركات أحمد بن محمد العدوي الشهير بالدردير رحمه الله المتوفى سنة ١٢٠١ هجري دار الكتب العلمية بيروت الطبعة الثانية: ١٤٢٤ هجري-٢٠٠٣م
» الشرح الميسر لصحيح البخاري (الدرر واللآلي بشرح صحيح الإمام البخاري) للشيخ العلامة محمد علي الصابوني الطبعة الأولى: ١٤٣٣ هجري الموفق ٢٠١١م، المكتبة العصرية لبنان مع دار الأفق.
» الشمائل المحمدية والخصائل المصطفوية للإمام المحدث أبي عيسى بن سورة الترمذي، المتوفى: ٢٧٩ هجري ضبطه وصححه: محمد عبدالعزيز الخالدي، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٢٧ هجري-٢٠٠٦م
» الضعفاء والمتروكون، للإمام الحافظ أبي الحسن علي بن عمر الدارقطني البغدادي، المتوفى سنة: ٣٨٥ هجري، تحقيق: موفق بن عبدالله بن عبدالقادر، مكتبة المعارف الرياض، الطبعة الأولى: ١٤٠٤ هجري الموافق: ١٩٨٤م
» الضعفاء والمتروكون، للإمام الحافظ جمال الدين أبي الفرج عبدالرحمن بن علي بن محمد الجوزي رحمه الله، المتوفى سنة: ٥٩٧ هجري، دار الكتب العلمية، بيروت.
» الطبقات الكبرى للإمام محمد بن سعد بن منيع أبي عبدالله البصري الزهري رحمه الله المتوفى ٢٣٠ هجري دار صادر بيروت.
» العبر في خبر من غبر، للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي رحمه الله، المتوفى سنة: ٧٤٨ هجري، دار الكتب العلمية، بيروت.

» العرف الشذي شرح سنن الترمذي، الفقيه المحدث الشيخ محمد أنور شاه الكشميري ثم الديوبندي رحمه الله المتوفى ١٣٥٢هجري تحقيق: محمد شكت، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٨ هجري-٢٠٠٧م

» العزيز شرح الوجيز المعروف بشرح الكبير للإمام أبي القاسم عبد الكريم بن محمد بن عبد الكريم الرافعي القزويني الشافعي رحمه الله المتوفى ٦٢٣هجري تحقيق: علي محمد معوض وعادل أحمد عبد الموجود، دار الكتب العلمية بيروت لبنان، الطبعة الأولى: ١٤١٧ هجري-١٩٩٧م

» العقد الفريد، للإمام أحمد بن محمد بن عبد ربه الأندلسي، المتوفى: ٣٢٨ هجري تحقيق: الكتور مفيد محمد قميحة، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٠٤ هجري-١٩٨٣م

» العلل المتناهية، للإمام الحافظ جمال الدين أبي الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي رحمه الله المتوفى سنة: ٥٩٧ هجري ضبط: الشيخ خليل الميس، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٠٣ هجري-١٩٨٣م،

» العلل الواردة في الأحاديث النبوية للإمام الحافظ أبي الحسن علي بن عمر ابن أحمد بن مهدي الدار قطني رحمه الله المتوفى: ٣٨٥ هجري تحقيق: محمد بن صالح بن محمد الدباسي، دار طيبة، الرياض، الطبعة الثالثة: ١٤٢٤ هجري-٢٠٠٣م دار ابن الجوزية، الطبعة الأولى: ١٤١٤ هجري-١٩٩٤م

» العناية مع فتح القدير على هداية، للإمام العلامة محمد بن محمد البابرتي الحنفي، المتوفى: ٧٨٦ هجري تحقيق: الشيخ عبد الرازق غالب المهدي، المكتبة الرشيدية، كوئتة.

» الفائق في غريب الحديث والأثر، للإمام اللغة العلامة جار الله محمود بن عمر الزمخشري رحمه الله المتوفى سنة ٥٣٨ هجري تحقيق: علي محمد البجاوي و محمد أبو الفضل إبراهيم، دار المعرفة بيروت/دار الفكر، بيروت.

» الفتاوي الهندية المعروفة بفتاوي العالمكيرية، للعلامة الهمام الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند الأعلام دار الكتب العلمية بيروت.

» الفتاوي التاتارخانية، للشيخ فريد الدين عالم بن العلامة الإندريتي الدهلوي المتوفى: ٧٨٦ هجري تحقيق: الشيخ شبير أحمد القاسمي، مكتبة فاروقية، كوئتة، الطبعة الأولى: ١٤٣١ هجري-٢٠١٠م

» الفتح الرباني لترتيب مسند الإمام أحمد بن حنبل الشيباني ومعه كتاب بلوغ الأماني من أسرار الفتح الرباني، كلاهما للشيخ أحمد عبد الرحمن البناء الشهير بالساعاتي، دار الحديث، القاهرة، ودار إحياء التراث العربي، بيروت، الطبعة الثانية.

» الفروق اللغوية، للإمام الأريب اللغوي أبي هلال الحسن بن عبد الله بن سهل العسكري، المتوفى: ٤٠٠ هجري دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الرابعة: ١٤٢٧ هجري-٢٠٠٦م/دار العلم والثقافة، القاهرة.

» الفقه الإسلامي وأدلته للدكتور وهبة مصطفى الزهيلي دار الفكر بيروت إعادة الطبعة التاسعة :۱۴۲۷ هجري-۲۰۰۶م
» الفوائد البهية للشيخ المحقق المحدث أبي الحسنات محمد عبدالحي بن محمد عبدالحليم الأنصاري اللكنوي الهندي رحمه الله المتوفى سنة ۱۳۰۴هجري قديمي كتب خانه كراتشي
» الفهرست لأبي جعفر محمد بن الحسن الطوسي الشيعي، تحقيق: جواد القيومي، مؤسسة نشر الفقاهة ومؤسسة النشر الإسلامي، الطبعة الأولى: ۱۴۱۷ هجري
» القاموس الوحيد (الكامل)، لمولانا وحيد الزمان قاسمي كيرانوي رحمه الله، مراجعت مولانا عميد الزمان قاسمي كيرانوي، إدارة إسلاميات، لاهور اشاعت اول: ربيع الأول: ۱۴۲۲ هجري
» الكاشف في معرفة من له الرواية في الكتب الستة، للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن الذهبي الدمشقي رحمه الله المتوفى سنة ۷۴۸ هجري توثيق ومقابلة: صدقي جميل العطار، دار الفكر، بيروت، الطبعة الأولى: ۱۴۱۸ هجري-۱۹۹۷م/دار القبلة للثقافة الإسلامية جدة، تحقيق: الشيخ المحدث محمد عوامه، الطبعة الأولى: ۱۴۱۳ هجري-۱۹۹۲م مؤسسة علوم القرآن جدة
» الكافي الشاف في تخريج أحاديث الكشاف، للإمام الحافظ أحمد بن علي بن حجر العسقلاني رحمه الله، المتوفى سنة: ۸۵۲ هجري بهامش تفسير الكشاف، المسمى بالكشاف عن حقائق غوامض التنزيل وعيون الأقاويل في وجوه التأويل، للعلامة جار الله أبي القاسم محمود بن عمر الزمخشري، المتوفى سنة: ۵۳۸ هجري تحقيق: محمد عبدالسلام شاهين، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الرابعة: ۱۴۲۷ هجري-۲۰۰۶م/قديمي كتب خانه كراتشي، تحقيق: عبدالرزاق المهدي/نشر البلاغة، سوق القدس، قم، إيران.
» الكافي (في فقه الإمام أحمد بن حنبل)، لموفق الدين أبي محمد عبدالله بن أحمد بن محمد بن قدامة المقدسي الدمشقي رحمه الله المتوفى سنة: ۶۲۰ هجري دار هجر للطباعة والنشر.
» الكامل في التاريخ للإمام العلامة عمدة المؤرخين أبي الحسن علي بن أبي الكرم محمد بن محمد بن عبدالكريم بن عبدالواحد الشيباني، المعروف بابن الأثير الجزري، الملقب بعز الدين رحمه الله المتوفى سنة: ۶۳۰ هجري تحقيق: أبي الفداء عبدالله القاضي، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، الطبعة الرابعة: ۱۴۲۷ هجري-۲۰۰۶م
» الكامل في ضعفاء الرجال للإمام أبي أحمد عبدالله بن عدي الجرجاني رحمه الله المتوفى سنة ۳۶۵ هجري تحقيق: الدكتور سهيل زكار ويحيى مختار غزاوي، دار الفكر، بيروت، الطبعة الثالثة: ۱۴۰۹ هجري-۱۹۸۸م
» الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل وعيون الأقاويل في وجوه التأويل للعلامة جار الله أبي القاسم محمود بن عمر الزمخشري رحمه الله المتوفى سنة: ۵۳۸ هجري مكتبة العبيكان.
» الكفاية على هامش فتح القدير، قيل هي للعلامة محمود بن عبيدالله ابن تاج الشريعة مؤلف الوقاية رحمه الله، ۶۷۲ هجري تحقيق: الشيخ عبدالرزاق غالب المهدي، المكتبة الرشيدية كوئتة.

» الكفاية في علم الرواية، للإمام أبي أحمد بن علي بن ثابت المعروف بالخطيب البغدادي، المتوفى ٤٦٣ هجري تحقيق: محمد الحافظ التيجاني، مطبعة السعادة، مصر.
» الكنز المتواري في معادن لامع الدراري وصحيح البخاري، للشيخ العلامة المحدث محمد زكريا بن محمد يحيى الكاندهلوي، مؤسسة الخليل الإسلامي، فيصل آباد، ط: ١٤٢٠ هجري.
» الكنى والأسماء، للإمام الحافظ أبي بشر محمد بن أحمد بن حماد الدولابي رحمه الله، المتوفى سنة: ٣١٠ هجري بتحقيق أبي قتيبة نظر محمد الفاريابي، دار ابن حزم.
» الكنى والألقاب، لعباس القمي الشيعي، مكتبة يعسوب الدين، الإلكترونية.
» الكوثر الجاري إلى رياض أحاديث البخاري للإمام الجليل أحمد بن إسماعيل بن عثمان بن محمد الكوراني الشافعي ثم الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ٨٩٣ هجري تحقيق: أحمد عزو عناية، دار إحياء التراث العربي، بيروت، ط: ١٤٢٩ هجري-٢٠٠٨م.
» الكوكب الدري للإمام المحدث الشيخ رشيد أحمد الجنجوهي رحمه الله المتوفى سنة ١٣٢٣ هجري مع تعليقات المحدث محمد زكريا بن محمد يحيى الكاندهلوي رحمه الله، المتوفى سنة: ١٤٠٢ هجري إدارة القرآن والعلوم الإسلامية، كراتشي، ط: ١٤٠٧ هجري - ١٩٨٧م/مطبعة ندوة العلماء لكنو.
» المبسوط لشيخ الإسلام أبي بكر محمد بن أحمد بن أبي سهل السرخسي الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ٤٩٠ هجري تحقيق: أبي عبدالله محمد حسن محمد حسن الشافعي، دار الكتب العلمية، بيروت، ١٤٢١ هجري-٢٠٠١م.
» المجموع شرح المهذب للإمام العلامة الفقية الحافظ أبي زكريا محيي الدين بن شرف بن مري النووي الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ٦٧٦ هجري، ويليه فتح العزيز شرح الوجيز وهو الشرح الكبير للإمام أبي القاسم عبدالكريم بن محمد الرافعي، المتوفى: ٦٢٣ هجري تحقيق: محمد نجيب المطيعي، ادارة الطباعة المنيرية، دمشق/مكتبة الإرشاد، جدة المملكة العربية السعودية.
» المحكم والمحيط الأعظم للإمام اللغة أبي الحسن علي بن إسماعيل بن سيده المرسي المعروف بابن سيده رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٨ هجري دار الكتب العلمية بيروت.
» المحلى بالآثار للإمام المحدث أبي محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٦ هجري تحقيق: الدكتور عبدالغفار سليمان البنداري، دار الكتب العلمية بيروت لبنان ط: ١٤٠٨ هجري-١٩٨٨م.
» المخصص لإمام اللغة أبي الحسن علي بن إسماعيل بن سيده المرسي المعروف بابن سيده رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٨ هجري دار الكتب العلمية بيروت.
» المدخل للإمام أبي عبدالله محمد بن محمد بن محمد العبدري الفاسي، المعروف بابن أمير الحاج المالكي، المتوفى: ٧٣٧ هجري دار الفكر، بيروت.

» المدونة الكبرى، لإمام دار الهجرة مالك بن أنس الأصبحي رحمه الله، المتوفى سنة: ١٧٩ هجري مطبعة السعادة، بجوار محافظة مصر/دار صادر، بيروت/دار الكتب العلمية، بيروت.
» المراجعات، لشرف الدين، تحقيق: حسين الراضي، مكتبة يعسوب الدين، الإلكترونية.
» المستدرك على الصحيحين، للإمام الحافظ أبي عبد الله محمد بن عبد الله الحاكم النيسابوري رحمه الله المتوفى سنة: ٤٠٥ هجري تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، الطبعة الثانية: ١٤٢٢ هجري-٢٠٠٢م
» المسند المستخرج على صحيح الإمام مسلم، الحافظ أبي نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق الأصبهاني، المتوفى سنة: ٤٣٠ هجري تحقيق: محمد حسن إسماعيل الشافعي، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٧ هجري الموفق ١٩٩٦م
» المصنف لابن أبي شيبة للامام أبي بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة رحمه الله المتوفى سنة ٢٣٥ هجري، تحقيق: الشيخ المحقق المحدث محمد عوامه، إدارة القرآن والعلوم الإسلامية كراتشي، الطبعة الأولى: ١٤٢٧ هجري-٢٠٠٦م/شركة دار القبلة/مؤسسة علوم القرآن.
» المصنف لعبد الرزاق للإمام المحدث أبي بكر عبد الرزاق بن همام الصنعاني رحمه الله المتوفى سنة ٢١١ هجري تحقيق: الشيخ المحدث حبيب الرحمن الأعظمي، دار الكتب العلمية بيروت/ المكتب الإسلامي بيروت، والمجلس العلمي، كراتشي، هند، الطبعة الأولى: ١٣٩٠ هجري – ١٩٧٠م
» المعجم الأوسط، للإمام الحافظ أبي القاسم سليمان بن أحمد الطبراني رحمه الله، المتوفى سنة: ٣٦٠ هجري، دار الحرمين بالقاهرة.
» المعجم الكبير للإمام الحافظ أبي القاسم سليمان بن أحمد الطبراني رحمه الله المتوفى سنة ٣٦٠ هجري تحقيق: حمدي عبد المجيد السلفي دار إحياء التراث العربي، بيروت/مكتبة ابن تيمية قاهرة/ مكتبة العلوم والحكم.
» المغرب في ترتيب المعرب، للإمام اللغوي أبي الفتح ناصر الدين بن عبد السيد أبي المكارم بن علي بن المطرز برهان الدين الخوارزمي الحنفي الشهير بالمطرزي، (٥٣٨-٦١٠ هجري) تحقيق: محمود فاخوري وعبد الحميد مختار، إدارة دعوة الإسلام المدرسة اليوسفية البنورية، كراتشي.
» المغني في الضعفاء للإمام شمس الدين أبي عبد الله محمد بن أبي أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي الدمشقي رحمه الله المتوفى سنة: ٧٤٨ هجري تحقيق: أبي الزهراء حازم القاضي، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، الطبعة الأولى: ١٤١٨ هجري-١٩٩٧م
» المغني في الفقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني رحمه الله للإمام موفق الدين أبي محمد عبد الله بن احمد بن قدامة رحمه الله المتوفى: ٦٢٠ هجري دار الفكر بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٠٥ هجري-١٩٨٥م

» المقاصد النحوية في شرح شواهد شروح الألفية، لمحمود بن أحمد العيني، مطبوع مع خزانة الأدب، دار صادر.
» الملل والنحل، للشيخ محمد بن عبد الكريم الشهرستاني، تحقيق: أحمد فهمي محمد، الناشر: دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة السابعة: ٢٠٠٧م
» المنتقى شرح موطأ إمام مالك، للإمام القاضي أبي الوليد سليمان بن خلف بن سعد بن أيوب الباجي رحمه الله، المتوفى سنة: ٤٩٤ هجري تحقيق: محمد عبد القادر عطا، دار لكتب العلمية، بيروت لبنان، الطبعة الأولى: ١٤٢٠ هجري–١٩٩٩م
» المؤتلف والمختلف في أسماء نقلة الحديث وأسماء آباءهم وأجدادهم، للحافظ أبي محمد عبد الغني بن سعد الأزدي المصري، تحقيق: مثنى محمد حميد الشمري وقيس التميمي، دار الغرب الإسلامي، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٨ هجري–١٩٨٠م
» الموسوعة الفقهية، وزارة الأوقاف والشؤن الإسلامية، الكويت، الطبعة الرابعة: ١٤١٤ هجري – ١٩٨٥م
» الموطأ للإمام مالك بن أنس الأصبحي رحمه الله برواية يحيى بن يحيى الليثي رحمه الله المتوفى سنة ١٧٩ هجري دار الكتب العلمية بيروت /دار إحيا التراث العربي بيروت ط: ١٤٠٦ هجري– ١٩٨٥م
» الناهية عن طعن أمير المؤمنين معاوية، للشيخ عبد العزيز الفرهاروي، غراس، للنشر والتوزيع، بيروت.
» النكت على مقدمة ابن الصلاح، للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن حجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله، المتوفى سنة: ٨٥٢ هجري، تحقيق: الدكتور ربيع بن هادي عمير، دار الراية، الرياض، الطبعة الثانية: ١٤٠٨ هجري–١٩٨٨م
» النكت على مقدمة ابن الصلاح، للإمام بدر الدين محمد بن عبد الله بن هادر الزركشي رحمه الله المتوفى: ٧٩٤ هجري، تحقيق: محمد علي سمك، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٥ هجري–٢٠٠٤م
» النهاية في غريب الحديث والأثر، للإمام أبي مجد الدين أبي السعادات المبارك بن محمد الجزري المعروف بابن الأثير رحمه الله المتوفى سنة ٦٠٦ هجري دار المعرفة بيروت الطبعة الثالثة ١٤٣٠ هجري - ٢٠٠٩م
» النهر الفائق شرح كنز الدقائق للإمام سراج الدين عمر بن إبراهيم ابن نجيم الحنفي المتوفى سنة ١٠٠٥ هجري تحقيق: أحمد عزو عناية، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٢ هجري– ٢٠٠٢م

» الوليديه في آداب البحث والمناظرة مع الشرح السيد عبد الوهاب، للإمام محمد بن أبي بكر المرعشلي، المعروف بساجقلي زادة، المتوفى: ١١٥٠ هجري مصطفى البابي الحلبي، مصر، ط: ١٩٦١م

» الهداية شرح بداية المبتدي، للإمام أبي الحسن برهان الدين علي بن أبي بكر المرغيناني، رحمه الله (٥١١هجري - ٥٩٣ هجري) مكتبة البشري، كراتشي، الطبعة الثانية: ١٤٢٨ هجري - ٢٠٠٧م

» الهداية للإمام أبي الحسن برهان الدين علي بن أبي بكر المرغناني، رحمه الله (٥١١هجري - ٥٩٣ هجري) مع فتح القدير، للشيخ الإمام كمال الدين محمد بن عبد الواحد المعروف بأبن الهمام الحنفي رحمه الله المتوفى سنة: ٦٨١ هجري تحقيق: الشيخ عبد الرزاق غالب المهدي، المكتبة الرشيدية، كوئتة.

» الإتقان في علوم القرآن، لشيخ الإسلام جلال الدين عبد الرحمن السيوطي الشافعي رحمه الله المتوفى سنة: ٩١١ هجري سهيل اكيدمي لاهور، الطبعة الثانية: ١٤٠٠ هجري - ١٩٨٠م

» الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان، للأمير ابن بلبان الفارسي، تحقيق: الشيخ شعيب الأرناؤط مؤسسة الرسالة بيروت، الطبعة الأولى: ١٩٨٨م

» الإحكام في أصول الأحكام، للإمام علي بن أحمد بن حزم الأندلسي، دار الحديث، القاهرة، الطبعة الأولى: ١٤٠٤م

» الإعجاز العلمي في لفظ الجنابة وحكمها الشرعي، للدكتور عبد البديع حمزة زللي، أستاذ علم التلوث والبيئي، المشارك بجامعة طيبة بالمدينة المطورة.

» الإقتراح في بيان الاصطلاح وما أضيف إلى ذلك من الأحاديث المعدودة من الصحاح، للإمام تقي الدين محمد بن علي، الشهير بأبن دقيق العيد، تحقيق: قحطان عبد الرحمن الدوري، دار العلوم، عمان، الأردن، الطبعة الأولى: ٢٠٠٦م

» الإكمال في رفع الارتياب عن المؤتلف والمختلف في الأسماء والكنى والأنساب، للإمام الحافظ أبو نصر سعد الملك علي بن هبة الله بن علي بن جعفر ابن علكان بن محمد المعروف بأبن ماكولا، المتوفى: ٤٧٥ هجري الموافق ١٠٨٢م الناشر: محمد أمين دمج، بيروت.

» الإمام أبو حنيفة حياته وعصره، آراءه وفقهه، للإمام أبي زهرة محمد بن أحمد (١٨٩٨م - ١٩٧٤م)، دار الفكر العربي، بيروت، ط: ١٩٩١م

» الإنصاف في مسائل الخلاف بين النحويين البصريين والكوفيين، لعبد الرحمن محمد الأنباري، ومعه كتاب الانتصاف من الإنصاف، لمحمد محيي الدين عبد الحميد، دار الفكر.

» الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف على مذهب الإمام المبجل أحمد بن حنبل، للعلامة علاء الدين أبي الحسن علي بن سليمان المرداوي (٨١٧هجري - ٨٨٥ هجري) تحقيق: محمد حامد الفقي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٠٠ هجري - ١٩٨٠م

» آثار الحديث، تاليف علامه خالد محمود (پی ایچ ڈی، لندن) دار المعارف، لاہور، اشاعت اول: ١٩٨٨ء.
» آداب البحث والمناظرة، للشيخ محيي الدين عبد الحميد المصري، المتوفى: ١٣٩٢ هـ
» أحكام القرآن، للشيخ مولانا أشرف على التهانوي رحمه الله، المتوفى سنة: ١٣٦٢ هجري، إدارة القرآن والعلوم الإسلامية، كراتشي.
» أحكام القرآن، لأبي بكر محمد بن عبدالله المعروف بابن العربي رحمه الله، المتوفى سنة: ٥٤٣ هجري، دار الكتب العلمية، بيروت.
» أحكام القرآن، للإمام حجة الإسلام أبي بكر أحمد بن على الرازي الجصاص رحمه الله، المتوفى سنة: ٣٧٠ هجري تحقيق: عبد السلام و محمد شاهين، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٢٤ هجري–٢٠٠٣ م
» أسد الغابة في معرفة الصحابة، للإمام عز الدين أبي الحسين على بن محمد الجزري المعروف بابن الأثير رحمه الله، المتوفى سنة: ٦٣٠ هجري دار الكتب العلمية، بيروت.
» أسرار العربية، لعبد الرحمن بن محمد الأنباري، تحقيق: محمد بهجت البيطار، مطبوعات المجمع العلمي العربي، دمشق، الطبعة الأولى: ١٩٧٥ م
» أشرف الوسائل إلى فهم الشمائل، للإمام الشيخ شهاب الدين الشيخ أحمد بن حجر الهيتمي، المتوفى: ٩٧٤ هجري، تحقيق: أبي الفوارس أحمد بن فريد المزيدي، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٩ هجري–١٩٩٨ م
» أصول الشاشي للإمام العلامة نظام الدين الشاشي رحمه الله المتوفى: ٣٢٥ هجري مكتبة البشري كراتشي الطبعة الرابعة: ١٤٣٣ هجري–٢٠١٢ م
» أعلام الحديث في شرح صحيح البخاري للإمام المحدث أبي سليمان حمد بن محمد الخطابي رحمه الله المتوفى سنة ٣٨٨ هجري مركز إحياء التراث الإسلامي جامعة أم القرى مكة المكرمة
» أعلام الموقعين عن رب العالمين، للإمام ابن قيم الجوزية رحمه الله، دار الجيل، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٩ م
» أماني الأحبار في شرح معاني الآثار، للفقيه المحدث الداعية الكبير مولانا محمد يوسف بن الشيخ مولانا محمد إلياس الكاندهلوي رحمهما الله، إدارة تاليفات أشرفية، ملتان.
» أنوار الباري (اردو شرح) صحيح البخاري، إفادات الشيخ الكشميري وغيره، للشيخ السيد أحمد رضا البجنوري رحمه الله، إدارة التاليفات الأشرفية، ملتان، اشاعت: ١٤٢٥ هجري.
» اوجز المسالك إلى مؤطا مالك، للإمام المحدث محمد زكريا الكاندهلوي المدني رحمه الله المتوفى سنة ١٤٠٢ هجري دار القلم دمشق، الطبعة الأولى: ١٤٢٤ هجري–٢٠٠٣ م
» أوضح المسالك إلى ألفية ابن مالك، للإمام جمال الدين عبدالله بن يوسف بن أحمد ابن هشام الأنصاري رحمه الله المتوفى: ٧٦١ هجري ومعه عدة السالك إلى تحقيق أوضح المسالك،

لمحيي الدين عبدالحميد، المكتبة العصرية، بيروت ط: ١٤٢٩ هجري – ٢٠٠٨م، دار الجيل، بيروت الطبعة الخامسة: ١٩٧٩م

» بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع للإمام علاء الدين أبي بكر بن مسعود الكاساني الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ٥٨٧هجري تحقيق: علي محمد معوض وعادل أحمد عبدالموجود، الطبعة الثانية (١٤٢٤ هجري–٢٠٠٣م) دار الكتب العلمية بيروت.

» بداية المجتهد ونهاية المقتصد للإمام القاضي أبي الوليد بن أحمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد المالكي القرطبي رحمه الله المتوفى سنة ٥٩٥ هجري تحقيق: علي محمد معوض وعادل أحمد عبدالموجود، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية (١٤٢٣هجري–٢٠٠٣م)

» بذل المجهود في حل سنن أبي داؤد للإمام المحدث الكبير الشيخ خليل أحمد السهارنبوري رحمه الله المتوفى سنة ١٢٦٩ هجري – ١٣٤٦م، تعليق: الدكتور تقي الدين الندوي، مركز الشيخ أبي الحسن الندوي للبحوث والدراسات الإسلامية، الهند، الطبعة الأولى: ١٤٢٧ هجري – ٢٠٠٦م

» بهجة النفوس وتحليها بمعرفة مالها وما عليها، شرح مختصر لصحيح البخاري للإمام المحدث الورع أبي محمد عبدالله بن أبي جمرة الأندلسي رحمه الله المتوفى سنة ٦٩٩ هجري مطبعة الصدق الخيرية بجوار الأزهر بمصر

» بيان القرآن للشيخ مولانا أشرف علي التهانوي رحمه الله المتوفى سنة ١٣٦٢ هجري إدارة التاليفات الاشرفية ملتان.

» تأريخ ابن خلدون المسمى ب كتاب العبر وديوان المبتدأ والخبر في أيام العرب والعجم والبربر ومن عاصرهم من ذوي السلطان الأكبر (مقدمة ابن خلدون)، للعلامة عبدالرحمن بن خلدون ٧٣٢ هجري - ٨٠٨ هجري/١٣٣٢م – ١٤٠٦م، دار الكتب العلمية بيروت، سنة الطباعة: ٢٠٠٦م

» تأريخ الطبري (تأريخ الأمم والملوك)، لأبي جعفر بن جرير الطبري ٢٢٤ - ٣١٠ هجري منشورات محمد علي بيضوي، دار كتب العلمية بيروت، الطبعة الثالثة: ٢٠٠٥ هجري الموفق: ١٤٢٦ هجري

» تأريخ الإسلام ووفيات المشاهير والأعلام للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي الدمشقي رحمه الله، المتوفى سنة: ٧٤٨ هجري، تحقيق: مصطفى عبدالقادر عطا، دار لكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٦ هجري–٢٠٠٥م

» تأريخ بغداد، أو مدينة السلام، للإمام الحافظ أبي بكر أحمد بن علي بن ثابت المعروف بالخطيب البغدادي رحمه الله، المتوفى سنة: ٤٦٣ هجري تحقيق: مصطفى عبدالقادر عطا، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٥ هجري–٢٠٠٤م

» تاريخ مدينة دمشق، للإمام الحافظ أبي القاسم علي بن الحسن ابن هبة الله بن عمر بن عزامة العمراوي، دار الفكر، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٨ عبدالقادر عطا، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٦ هجري-٢٠٠٥م
-١٩٩٨م

» تبصرة الحكام في أصول الأقضية ومناهج الإحكام للإمام برهان الدين أبي الوفاء إبراهيم بن أبي عبدالله محمد فرحون اليعمري المالكي، تحقيق: جمال المرعشلي، دار الكتب العلمية، بيروت.

» تبيين الحقائق، للإمام فخر الدين بن عثمان بن علي الزيلعي الحنفي رحمه الله، المتوفى سنة: ٧٤٣ هجري، تحقيق: أحمد عزو عناية، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٠ هجري - ٢٠٠٠م

» تحرير تقريب التهذيب، للدكتور بشار عواد معروف والشيخ شعيب الأرناؤط، مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٧ هجري-١٩٩٧م

» تحفة الأحوذي بشرح الجامع للإمام الترمذي، للإمام الحافظ أبي العلى محمد بن عبدالرحمن ابن عبدالرحيم المباركفوري، المتوفى سنة: ١٣٥٣ هجري، دار الفكر، بيروت.

» تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف، للحافظ جمال الدين أبي الحجاج يوسف المزي رحمه الله، المتوفى سنة: ٧٤٢ هجري مع النكت الظراف على الأطراف، لابن حجر العسقلاني، تحقيق: عبدالصمد شرف الدين، المكتبة الإسلامي، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٠٣/١٩٨٣م

» تحفة الباري شرح صحيح البخاري المسمى بمنحة الباري، للإمام شيخ الإسلام أبي يحيى زكريا بن محمد الأنصاري المصري الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ٩٢٦ هجري دار الكتب العلمية بيروت تصحيح محمد أحمد عبدالعزيز سالم، الطبعة الأولى: ١٤٢٥-٢٠٠٤م دار ابن حزم، بيروت.

» تحفة الفقهاء، لعلاء الدين محمد بن أحمد بن أبي أحمد، أبي منصور السمرقندي، المتوفى سنة: ٥٣٩/٥٤٠ هجري، المكتبة المعروفية كوئتة، الطبعة الجديدة: ٢٠١١م الموافق: ١٤٣٢ هجري.

» تحفة الملوك (في فقه مذهب الإمام أبي حنيفة النعمان)، للشيخ زين الدين محمد بن أبي بكر بن عبدالقادر الرازي، دار البشائر الإسلامية، الطبعة الثانية: ١٤٣٣ هجري الموافق ٢٠١١م

» تخليص الشواهد وتلخيص الفوائد، للإمام جمال الدين عبدالله بن يوسف بن أحمد ابن هشام الأنصاري رحمه الله المتوفى: ٧٦١ هجري تحقيق: عباس مصطفى الصالحي، المكتبة العربية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٩٨٦م

» تدريب الراوي في شرح تقريب النووي، للإمام عبدالرحمن بن أبي بكر السيوطي، المتوفى: ٩١١ هجري تحقيق: عبدالوهاب عبداللطيف، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٠٩ هجري.

» تذكرة الحفاظ للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي رحمه الله المتوفى سنة ۷۴۸ هجري دار إحياء التراث العربي بيروت.
» تراجم رجال الدارقطني في سننه الذين لم يترجم لهم في التقريب ولا في رجال الحاكم، لمقبل بن هادي بن مقبل بن قائدة الهمداني الوداعي، المتوفى: ۱۴۲۲ هجري دار الآثار، صنعاء الطبعة الأولى: ۱۴۲۰ هجري-۱۹۹۹م
» ترجمة القرآن لشيخ الهند محمود حسن الديوبندي رحمه الله مع التفسير العثماني، مكتبة دار القرآن اردو بازار لاهور.
» تعليقات الدكتور بشار عواد معروف على تهذيب الكمال في أسماء الرجال، للحافظ المتقن جمال الدين أبي الحجاج يوسف المزي رحمه الله، المتوفى سنة: ۷۴۲ هجري، مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الخامسة: ۱۴۱۳ هجري-۲۰۰۳م
» تعليقات الدكتور عبدالمعطي أمين قلعجي على الضعفاء الكبير، دار الكتب العلمية، بيروت.
» تعليقات الشيخ العلامة نور البشر حفظه الله على خير الأصول في حديث الرسول، مكتبة معهد عثمان بن عفان، كراتشي، ط: ۱۴۳۴ هجري-۲۰۱۳م
» تعليقات الشيخ المحدث: محمد عوامه على الكاشف في معرفة من له الرواية في الكتب الستة، للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد الذهبي الدمشقي رحمه الله، المتوفى سنة: ۷۴۸ هجري، الطبعة الأولى: ۱۴۱۳ هجري-۱۹۹۲م
» تعليقات الشيخ المحدث محمد عوامه على تقريب التهذيب، للحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن حجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله، (۷۷۳ هجري- ۸۵۲ هجري) دار الرشيد ودار البشائر الإسلامية، سوريا، حلب، الطبعة الأولى: ۱۴۰۶ هجري- ۱۹۸۶م، هجري دار الكتب العلمية، بيروت، تحقيق: مصطفى عبدالقادر عطا، الطبعة الأولى ۱۴۱۳ هجري-۱۹۹۳م
» تعليقات الشيخ المحقق المحدث محمد عوامه على المصنف لابن أبي شيبة للإمام أبي بكر عبدالله بن محمد بن أبي شيبة رحمه الله المتوفى سنة: ۲۳۵ هجري إدارة القرآن والعلوم الإسلامية كراتشي، الطبعة الأولى: ۱۴۲۷ هجري- ۲۰۰۶م/ شركة دار القبلة/ مؤسسة علوم القرآن.
» تعليقات الشيخ أحمد محمد شاكر والشيخ محمد فؤاد عبدالباقي على جامع الترمذي، الجامع المختصر من السنن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ومعرفة الصحيح والمعلول وما عليه العمل، للإمام الحافظ أبي عيسى محمد بن عيسى بن سورة ابن موسى الترمذي رحمه الله، ۲۰۰ هجري- ۲۷۹ هجري، دار إحياء التراث العربي، بيروت.
» تعليقات الشيخ سعيد عبدالرحمن القزقي على تغليق التعليق على صحيح البخاري، للحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن حجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة: ۸۵۲ هجري، المكتبة الإسلامي دار عمار، المكتبة الأثرية باكستان.

» تعليقات الإمام المحدث محمد زكريا الكاندهلوي رحمه الله المتوفى: ١٤٠٢ هجري على بذل المجهود في حل سنن أبي داؤد، للإمام المحدث الكبير الشيخ خليل أحمد سهارنبوري رحمه الله (١٢٦٩ هجري - ١٣٤٦ هجري)، تعليق: الدكتور تقي الدين الندوي، مركز الشيخ أبي الحسن الندوي للبحوث والدراسات الإسلامية، الهند، الطبعة الأولى: ١٤٢٧ هجري-٢٠٠٦ م

» تعليقات الإمام المحدث محمد يحيى الكاندهلوي المتوفى: ١٣٣٤ هجري لامع الدراري على جامع البخاري، للإمام الفقيه المحدث الشيخ رشيد أحمد الجنجوهي رحمه الله المتوفى سنة: ١٣٢٣ هجري، المكتبة الإمدادية، مكة المكرمة، ط: ١٣٩٦ هجري-١٩٨٦ م

» تعليقات على محمد معوض وعادل أحمد عبد الموجود على بداية المجتهد ونهاية المقتصد، للإمام القاضي أبي الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد ابن رشد المالكي القرطبي رحمه الله المتوفى سنة: ٥٩٥ هجري على محمد معوض وعادل أحمد عبد الموجود، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٢٤ هجري-٢٠٠٣ م

» تغليق التعليق على صحيح البخاري، للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن الحجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ۸۵۲ تحقيق: سعيد عبد الرحمن القزقي، المكتبة الأسلامية دار عمار، المكتبة الأثرية باكستان

» تفسير ابن كثير، المسمى بتفسير القرآن العظيم، للإمام الحافظ أبي الفداء إسماعيل ابن كثير القرشي الدمشقي (٧٠١ هجري - ٧٧٤ هجري) تحقيق: عبد الرازق المهدي، وحيدي كتب خانه، بشاور.

» تفسير الكشاف المسمى بالكشاف عن حقائق غوامض التنزيل وعيون الأقاويل في وجوه التأويل، للعلامة جار الله أبي القاسم محمود بن عمر الزمخشري رحمه الله المتوفى: ٥٣٨ الطبعة الأولى: ١٤١٨ هجري، تحقيق: محمد عبد السلام شاهين، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الرابعة: ١٤٢٧ هجري-٢٠٠٦ م / قديمي كتب خانه كراتشي، تحقيق عبد الرازق المهدي.

» التفسير المظهري، للعلامة القاضي محمد ثناء الله بن حبيب الله بن هدايت الله المظهري بأني بتي رحمه الله المتوفى سنة ۱۲۲۵ هجري بلوجستان بك دبو باكستان

» التفسير ما في الصحيحين البخاري ومسلم، للإمام محمد بن أبي نصر فتوح بن عبد الله الأزدي الحميدي، تحقيق: زبيدة محمد سعيد عبد العزيز، مكتبة السنة، القاهرة، مصر، ط: ١٤١٥ هجري - ١٩٩٥ م

» تقريب التهذيب للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن الحجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة هجري ٨٥٢ هجري - ٧٧٣ هجري، تقديم ودراسة: الشيخ المحدث محمد عوامه، دار الرشيد ودار البشائر الإسلامية سوريا، حلب، الطبعة الأولى: ١٤٠٦ هجري - ١٩٨٦ م دار الكتب العلمية، بيروت، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، الطبعة الأولى: ١٤١٣ هجري-١٩٩٣ م

» تعليقات الإمام المحدث محمد زكريا الكاندهلوي رحمه الله المتوفى: ۱۴۰۲ هجري على بذل المجهود في حل سنن أبي داؤد، للإمام المحدث الكبير الشيخ خليل أحمد سهارنبوري رحمه الله (۱۲۶۹ هجري - ۱۳۴۶ هجري)، تعليق: الدكتور تقي الدين الندوي، مركز الشيخ أبي الحسن الندوي للبحوث والدراسات الإسلامية، الهند، الطبعة الأولى: ۱۴۲۷ هجري - ۲۰۰۶ م

» تعليقات الإمام المحدث محمد يحيى الكاندهلوي المتوفى: ۱۳۳۴ هجري لامع الدراري على جامع البخاري، للإمام الفقيه المحدث الشيخ رشيد أحمد الجنجوهي رحمه الله المتوفى سنة: ۱۳۲۳ هجري، المكتبة الإمدادية، مكة المكرمة، ط: ۱۳۹۶ هجري - ۱۹۸۶ م

» تعليقات على محمد معوض وعادل أحمد عبد الموجود على بداية المجتهد ونهاية المقتصد، للإمام القاضي أبي الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد ابن رشد المالكي القرطبي رحمه الله المتوفى سنة: ۵۹۵ هجري على محمد معوض وعادل أحمد عبد الموجود، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ۱۴۲۴ هجري - ۲۰۰۳ م

» تغليق التعليق على صحيح البخاري، للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن الحجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ۸۵۲ تحقيق: سعيد عبد الرحمن القزقي، المكتبة الأسلامية دار عمار، المكتبة الأثرية باكستان

» تفسير ابن كثير، المسمى بتفسير القرآن العظيم، للإمام الحافظ أبي الفداء إسماعيل ابن كثير القرشي الدمشقي (۷۰۱ هجري - ۷۷۴ هجري) تحقيق: عبد الرازق المهدي، وحيدي كتب خانه، بشاور.

» تفسير الكشاف المسمى بالكشاف عن حقائق غوامض التنزيل وعيون الأقاويل في وجوه التأويل، للعلامة جار الله أبي القاسم محمود بن عمر الزمخشري رحمه الله المتوفى: ۵۳۸ الطبعة الأولى: ۱۴۱۸ هجري، تحقيق: محمد عبد السلام شاهين، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الرابعة: ۱۴۲۷ هجري - ۲۰۰۶ م / قديمي كتب خانه كراتشي، تحقيق عبد الرازق المهدي.

» التفسير المظهري، للعلامة القاضي محمد ثناء الله بن حبيب الله بن هدايت الله المظهري بانى بتي رحمه الله المتوفى سنة ۱۲۲۵ هجري بلوچستان بك دپو باكستان

» التفسير ما في الصحيحين البخاري ومسلم، للإمام محمد بن أبي نصر فتوح بن عبد الله الأزدي الحميدي، تحقيق: زبيدة محمد سعيد عبد العزيز، مكتبة السنة، القاهرة، مصر، ط: ۱۴۱۵ هجري - ۱۹۹۵ م

» تقريب التهذيب للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن الحجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة هجري ۸۵۲ هجري - ۷۷۳ هجري، تقديم ودراسة: الشيخ المحدث محمد عوامه، دار الرشيد ودار البشائر الإسلامية سوريا، حلب، الطبعة الأولى: ۱۴۰۶ هجري - ۱۹۸۶ م دار الكتب العلمية، بيروت، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، الطبعة الأولى: ۱۴۱۳ هجري - ۱۹۹۳ م

» تقرير بخاري إفادات العلامة المحدث الكبير، ريحانة الهند الشيخ مولانا محمد زكريا بن مولانا محمد يحيى الكاندهلوي رحمه الله المتوفى سنة ١٤٠٢، مكتبة الشيخ كراتشي
» تلخيص الحبير في تخريج الأحاديث الرافعي الكبير للإمام الحافظ أحمد بن علي بن الحجر العسقلاني رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٢ هجري تحقيق: عادل أحمد عبد الموجود وعلي محمد معوض، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٢٧ هجري-٢٠٠٦م
» تنزيه الشريعة المرفوعة عن الأحاديث الشنيعة الموضوعة، للإمام أبي الحسن علي بن محمد عراق الكناني (٩٠٧ هجري-٩٦٣ هجري) تحقيق: عبد الوهاب عبد اللطيف وعبد الله محمد الصديق، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٠١ هجري-١٩٨١م
» توضيح الأفكار لمعاني تنقيح الأفكار، للإمام أبي إبراهيم محمد بن إسماعيل بني صلاح، المعروف بالأمير الصنعاني، المتوفى ١١٨٢ هجري تحقيق: صلاح محمد عويضه، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٧ هجري-١٩٩٧م
» تهذيب الأسماء واللغات، للإمام العلامة الحافظ الفقيه أبي زكريا محيي الدين بن شرف النووي رحمه الله، المتوفى سنة: ٦٧٦ هجري دار الكتب العلمية، بيروت.
» تهذيب التهذيب للحافظ ابي الفضل احمد بن علي بن حجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى: ٨٥٢ هجري دار صادر بيروت، دائرة المعارف النظامية الكائنة في حيدرآباد الهند، الطبعة الأولى: ١٣٢٥ هجري مؤسسة الرسالة.
» تهذيب الكمال في أسماء الرجال للحافظ المتقن جمال الدين أبي الحجاج يوسف المزي رحمه الله المتوفى سنة ٧٤٢ هجري تحقيق: الدكتور بشار عواد معروف، مؤسسة الرسالة، بيروت، ط: ١٤١٣ هجري-١٩٩٢م
» تهذيب اللغة للأزهري، لإمام اللغة العلامة أبي منصور بن أحمد الأزهري رحمه الله، المتوفى سنة ٣٧٠ هجري المؤسسة المصرية العامة للتأليف والنشر.
» جامع الأصول في أحاديث الرسول للإمام مجد الدين أبي السعادات المبارك بن محمد الجزري المعروف بابن الأثير رحمه الله المتوفى سنة ٥٤٤ هجري - ٦٠٦ هجري، تحقيق: عبد القادر الأرناؤط، دار الفكر بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٠٣ هجري-١٩٨٣م
» جامع البيان عن تأويل القرآن المعروف بتفسير الطبري للإمام المفسر أبي جعفر محمد بن جرير الطبري رحمه الله المتوفى: ٣١٠ هجري، مكتبة ابن تيمية، القاهرة.
» جامع الترمذي، الجامع المختصر من السنن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ومعرفة الصحيح والمعلول وما عليه العمل، للإمام الحافظ أبي عيسى محمد بن عيسى بن سورة ابن موسى الترمذي رحمه الله (٢٠٠ هجري - ٢٧٩ هجري) بإشراف ومراجعة: فضيلة الشيخ صالح بن عبد العزيز بن محمد بن إبراهيم آل الشيخ، دار السلام للنشر والتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم ١٤٢١ هجري-أبريل ٢٠٠٠م/ دار إحياء التراث العربي، بيروت، تحقيق: الشيخ أحمد محمد شاكر والشيخ محمد فؤاد عبد الباقي.

» جامع الدروس العربية، للشيخ مصطفى الغلاييني رحمه الله، ۱۳۰۳ ـ ۱۳۶۴ هجري/ ۱۸۸۶ ـ ۱۹۴۴ م، تحقيق: الدكتور عبد المنعم خليل إبراهيم، قديمي كتب خانه كراتشي.
» جامع بيان العلم وفضله وما ينبغي في روايته وحمله، للإمام الحافظ أبي عمر يوسف بن عبد البر القرطبي المتوفى: ۴۶۳ هجري دار الفكر، بيروت.
» جمع الجوامع، الجامع الكبير في الحديث، والجامع الصغير وزوائده، للإمام جلال الدين عبد الرحمن بن أبي بكر السيوطي المتوفى: ۹۱۱ هجري تحقيق: خالد عبد الفتاح شبل، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ۱۴۲۱ هجري ـ ۲۰۰۰ م.
» جمع الوسائل في شرح الشمائل، للعلامة الفقيه المحدث الشيخ علي بن سلطان محمد القاري رحمه الله المتوفى سنة: ۱۰۱۴ هجري، إدارة تاليفات أشرفيه، ملتان.
» جنة المرتاب بنقد المغني عن الحفظ والكتاب للشيخ أبي حفص عمر بن بدر الموصلي، تصنيف: أبو إسحاق الحويني، دار الكتاب العربي، بيروت، الطبعة الثانية: ۱۴۱۴ هجري ـ ۱۹۹۴ م.
» جواهر الرشيد للشيخ المفتي رشيد أحمد اللدهيانوي، كتاب كهر كراتشي.
» جواهر الإكليل شرح مختصر العلامة الشيخ خليل في مذهب الإمام مالك إمام دار التنزيل، للعلامة صالح عبد السميع الأبي الأزهري، دار الفكر، بيروت.
» حاشية الأنوار الباري (اردو شرح) صحيح البخاري، إفادات الشيخ الكشميري وغيره، للشيخ السيد أحمد رضا البجنوري رحمه الله، إدارة التاليفات الأشرفية، ملتان، اشاعت: ۱۴۲۵ هجري.
» حاشية تقرير بخاري، إفادات العلامة المحدث الكبير، ريحانة الهند الشيخ مولانا محمد زكريا بن مولانا محمد يحيى الكاندهلوي رحمه الله المتوفى سنة: ۱۴۰۲ هجري، مكتبة الشيخ كراتشي.
؟؟» حاشية الدسوقي للإمام العلام الشيخ محمد بن أحمد بن عرفة الدسوقي المالكي رحمه الله المتوفى سنة ۱۲۳۰ هجري على الشرح الكبير للشيخ أبي البركات أحمد بن محمد العدوي، الشهير بالدردير المالكي المتوفى: ۱۲۰۱ هجري تخريج: محمد عبد الله شاهين، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الثانية: ۱۴۲۴ هجري ـ ۲۰۰۳ م.
» حاشية السندي على سنن النسائي، للإمام أبي الحسن نور الدين محمد بن عبد الهادي السندي رحمه الله المتوفى سنة ۱۱۳۸ دار المعرفة، بيروت، قديمي كتب خانه، كراتشي.
» حاشية السندي على صحيح البخاري للإمام أبي الحسن نور الدين محمد بن عبد الهادي السندي رحمه الله المتوفى سنة ۱۱۳۸ دار المعرفة، بيروت، قديمي كتب خانه كراچي.
» حاشية الصاوي على الشرح الكبير، للعلامة أحمد بن محمد الصاوي المالكي، دار المعارف، مصر: ۱۳۹۲ هجري.
» حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح للإمام العلامة أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ۱۲۳۱ هجري قديمي كتب خانه كراچي/دار الكتب العلمية بيروت.

» حاشية الإمام السندي على سنن ابن ماجه، للإمام أبي الحسن نورالدين محمد بن عبدالهادي السندي رحمه الله المتوفى سنة: ١١٣٨ هجري دار المعرفة، بيروت.
» حاشية السعدي جلبي مع فتح القدير على الهداية، تحقيق: الشيخ عبدالرازق غالب المهدي، المكتبة الرشيدية، كوئته.
» حاشية كتاب التاريخ الكبير، للحافظ القادر شيخ الإسلام أبي عبدالله إسماعيل بن ابراهيم البخاري رحمه الله المتوفى سنة: ٢٥٦ هجري المتوفق: ٨٦٩ م هجري دار الكتب العلمية بيروت، لبنان، الطبعة الأولى: ١٤٠٧ هجري - ١٩٨٦ م.
» حلية الأبرار، لهاشم البحراني، مكتبة يعسوب الدين، الإلكترونية.
» حلية الأولياء وطبقات الأصفياء، للحافظ أبي نعيم أحمد بن عبدالله الأصفهاني رحمه الله، المتوفى سنة: ٤٣٠ هجري دار الفكر، بيروت، ط: ١٤١٢ هجري - ١٩٩٢ م/ دار الكتب العلمية بيروت.
» خزانة الأدب ولب لباب لسان العرب، لعبدالقادر بن عمر البغدادي، تحقيق: عبدالسلام محمد هارون، مكتبة الخانجي، القاهرة، الطبعة الثالثة: ١٩٨٩ م.
» خصائل نبوی صلی اللہ علیہ وسلم مع اردو ترجمہ وشرح حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا مہاجر مدنی، رحمہ اللہ متوفی: ١٤٠٢ ہجری مکتبہ البشری کراچی الطبعۃ الاولی: ١٤٣٠ ہجری الموافق: ٢٠٠٨م.
» خلاصه الأقوال في معرفة الرجال، لأبي منصور الحسن بن يوسف المطهر الأسدي الشيعي، المتوفى سنة: ٧٢٦ هجري تحقيق: جواد القيومي، مؤسسة النشر الإسلامي، مؤسسة نشر الفقاهة، ط: ١٤١٧ هجري.
» خلاصة الخزرجي (خلاصة تذهيب تهذيب الكمال) للعلامة صفي الدين الخزرجي رحمه الله المتوفى سنة ٩٢٣ هجري مكتب المطبوعات الإسلامي بحلب، الطبعة الثانية: ١٣٩١ هجري - ١٩٧١ م دار إحياء التراث العربي/ دائرة المعارف النظامية بهند.
» دلائل النبوة لأبي بكر أحمد بن الحسين البيهقي رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٨ هجري تحقيق: الدكتور عبدالمعطي قلعجي، دار الكتب العلمية بيروت/ المكتبة الأثرية لاهور/ دار الريان التراث.
» ديوان رؤية بن العجاج، تحقيق: وليم بن الورد، دار الآفاق الجديده، بيروت، الطبعة الثانية: ١٩٨٠ م.
» ذيل الكاشف للإمام الحافظ أبي زرعة أحمد بن عبدالرحيم العراقي، المتوفى: ٨٢٦ هجري بهامش الكاشف في معرفة من له الرواية في الكتب الستة، للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد الذهبي الدمشقي رحمه الله، المتوفى سنة: ٧٤٨ هجري، توثيق ومقابلة: صدقي جميل العطار، دار الفكر، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٨ هجري - ١٩٩٧ م/ دار القبلة للثقافة الإسلامية، جدة، تحقيق الشيخ المحدث محمد عوامه، الطبعة الأولى: ١٤١٣ هجري - ١٩٩٢ م.
» رجال الخاقاني، لعلي الخاقاني، تحقيق: محمد صادق بحر العلوم، مكتبة الإعلام الإسلامي، الطبعة الثانية: ١٤٠٤ هجري.

» رجال السيد بحر العلوم المعروف بالفوائد الرجالية، لمحمد المهدي الطباطبائي الشيعي، تحقيق: محمد صادق، مكتبة العلمين: الطوسي وبحر العلوم، النجف، مكتبة الصادق، طهران، الطبعة الأولى: ۱۳۶۳ هجري.

» رحماء بینهم، محقق العصر مولانا محمد نافع صاحب دامت برکاتهم، دار الکتاب، لاهور، اشاعت ستمبر: ۲۰۰۶ م

» ردالمحتار على الدر المختار، للفقيه العلامة خاتمة المحققين محمد أمين بن عمر، الشهير بابن عابدين رحمه الله المتوفى سنة: ۱۲۵۲ هجري تحقيق: الدكتور حسام الدين بن محمد صالح فرفور، دار الثقافة والتراث، دمشق سورية، الطبعة الأولى: ۱۴۲۱ هجري–۲۰۰۰ م / مكتبة رشيدية، كوئتة، الطبعة الأولى: ۱۴۱۲ هجري.

» رسالة شرح تراجم أبواب صحيح البخاري (المطبوع مع صحيح البخاري) للإمام المحدث العارف الرباني الشيخ أحمد بن عبد الرحيم المعروف بالشاه ولي الله رحمه الله المتوفى سنة: ۱۱۷۶ هجري، قديمي كتب خانه كراچي، الطبعة الثانية: ۱۳۸۱ هجري–۱۹۶۱ م

» رصف المباني في شرح حروف المعاني، لأحمد بن عبد النور المالقي، تحقيق: أحمد محمد الخراط مطبوعات مجمع اللغة العربية، دمشق، الطبعة الأولى: ۱۹۷۵ م

» روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني، للإمام العلامة أبي الفضل شهاب الدين السيد محمود الألوسي البغدادي رحمه الله المتوفى سنة ۱۲۷۰ هجري ضبطه وصححه علي عبد الباري عطية، دار الكتب العلمية بيروت الطبعة الثانية: ۱۴۲۶ هجري–۲۰۰۵ م

» زاد المعاد في هدي خير العباد للإمام العلامة المحدث شمس الدين أبي عبد الله محمد بن أبي بكر الدمشقي المعروف بابن القيم الجوزية رحمه الله المتوفى سنة ۷۵۱ هجري مؤسسة الرسالة/ مكتبة المنار الإسلامية

» سبل السلام شرح بلوغ المرام من جمع أدلة الأحكام، للسيد الإمام محمد بن اسماعيل الكحلاني ثم الصنعاني المعروف بالأمير رحمه الله المتوفى: ۱۱۸۲ هجري ولية نخبة الفكر في مصطلح أهل الأثر، مكتبة إحياء التراث العربي بيروت لبنان، الطبعة الخامسة: ۱۳۹۱ هجري ۱۹۷۹ م

» سر صناعة الإعراب، لأبي الفتح عثمان بن جني، تحقيق: حسن الهنداوي، دار القلم، دمشق، الطبعة الأولى: ۱۹۸۵ م

» سراج القاري، للشيخ مولانا عبد الرحيم مد ظله، تحقيق: مولانا محمد سالم قاسمي هردوئي، الجامعة القاسمية دار العلوم زكريا بهند، طبع اول: ۱۴۳۲ هجري–۲۰۱۱ م

» سنن ابن ماجة للإمام الحافظ أبي عبد الله محمد بن يزيد الربعي ابن ماجة القزويني رحمه الله المتوفى سنة ۲۷۳ھ بإشراف ومراجعة، فضيلة الشيخ صالح بن عبد العزيز بن محمد بن إبراهيم آل الشيخ، دار السلام للنشر والتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم ۱۴۲۱ هجري أبريل ۲۰۰۰ م

» سنن الدارقطني للإمام المحدث الحافظ الكبير علي بن عمر الدارقطني رحمه الله المتوفى سنة ۳۸۵هجري دار نشر الكتب الإسلامية لاهور/مؤسسة الرسالة/دار المعرفة بيروت
» سنن الدارمي، للإمام الحافظ عبدالله بن عبدالرحمن الدارمي السمرقندي رحمه الله، المتوفى سنة: ۲۵۵ هجري تحقيق: فؤاد أحمد زمرلي وخالد السبع العلمي، قديمي كتب خانه، كراچي.
» سنن النسائي الصغري، المجتبى من السنن للإمام الحافظ أبي عبدالرحمن أحمد بن شعيب بن علي بن سنان النسائي رحمه الله المتوفى سنة ۳۰۳ بإشراف ومراجعة: فضيلة الشيخ صالح بن عبدالعزيز بن محمد بن إبراهيم آل الشيخ، دار السلام للنشر والتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم: ۱۴۲۱ هجري أبريل ۲۰۰۰م
» سنن أبي داؤد السنن للإمام الحافظ أبي داؤد سليمان بن الأشعث بن إسحاق الأذدي السجستاني رحمه الله المتوفى سنة ۲۷۵ هجري بإشراف ومراجعة: فضيلة الشيخ صالح بن عبدالعزيز بن محمد بن إبراهيم آل الشيخ، دار الاسلام للنشر والتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم: ۱۴۲۱ هجري أبريل ۲۰۰۰م
» سير أعلام النبلاء للإمام شمس الدين أبي عبدالله بن محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي رحمه الله المتوفى سنة ۷۴۸ هجري إشراف وتحقيق: الشيخ شعيب الأرناؤط، مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الرابعة: ۱۴۰۶ هجري–۱۹۸۶م
» سيرت حضرت امير معاوية رضي الله عنه، مولانا محمد نافع صاحب دامت بركاتهم العالية، دار الكتاب، لاهور، اشاعت: جنوري ۲۰۰۷م
» شذرات الذهب في أخبار من ذهب، للإمام شهاب الدين أبي الفلاح عبد الحيي بن أحمد بن محمد العكري الحنبلي الدمشقي رحمه الله المتوفى سنة: ۱۰۸۹ هجري دار ابن كثير.
» شرح ابن بطال على صحيح البخاري لأبي الحسن علي بن خلف بن عبدالملك ابن بطال البكري القرطبي رحمه الله المتوفى سنة ۴۴۹ هجري تحقيق: مصطفى عبدالقادر عطا، دار الكتب العلمية بيروت ۱۴۲۴ هجري-۲۰۰۳م/مكتبة الرشد رياض.
» شرح ابن عقيل على ألفية (الإمام جمال الدين) ابن مالك، للعلامة النحوي بهاء الدين عبدالله بن عقيل العقيلي المصري الهمداني رحمه الله المتوفى سنة: ۷۶۹ هجري ومعه كتاب منحة الجليل بتحقيق شرح ابن عقيل، لمحمد محي الدين عبدالحميد، قديمي كتب خانه كراچي، دار جروس، طرابلس (لبنان) تحقيق: أحمد سليم الحمصي ومحمد أحمد القاسم، الطبعة الأولى: ۱۹۹۰م.
» شرح الأشموني على ألفية ابن مالك، لأبي الحسن نور الدين علي بن محمد بن عيسى المتوفى: ۹۰۰ هجري تحقيق: حسن حمد، دار الكتب العلمية بيروت، ط: ۱۴۱۹ هجري–۱۹۹۸م، ومكتبة النهضة المصرية، القاهرة، الطبعة الأولى: ۱۹۵۵م.

» شرح التصريح على التوضيح، لخالد بن عبدالله الأزهري، مع تعليقات يأسين بن زين الدين، دار إحياء الكتب العربية (عيسى البابي الحلبي وشركاه) القهرة.
» شرح الرضي على الكافية، لرضي الدين محمد بن الحسن الأسترآبادي، المتوفى: ۶۸۶ هجري، تحقيق: الدكتور إميل بديع يعقوب، مكتبة المنار، كوئتة.
» شرح الزرقاني على الموطا للإمام العلامة محمد بن عبدالباقي بن يوسف الزرقاني رحمه الله المتوفى سنة ۱۱۲۲ هجري، تحقيق: لجنة من العلماء، دار الفكر، بيروت
» شرح الشمائل للعلامة الشيخ عبدالرؤف المناوي المصري، المتوفى: ۱۰۰۳ هجري بهامش جمع الوسائل في شرح الشمائل، للعلامة الفقيه المحدث الشيخ علي بن سلطان محمد القاري رحمه الله، المتوفى سنة: ۱۰۱۴ هجري، إدارة تاليفات أشرفيه، ملتان.
» شرح الطيبي على مشكاة المصابيح، المسمى ب الكاشف عن حقائق السنن للإمام الكبير شرف الدين حسين بن محمد بن عبدالله الطيبي رحمه الله المتوفى سنة ۷۴۳ هجري، تحقيق: المفتي عبدالغفار وجماعة من العلماء، إدارة القرآن والعلوم الإسلامية، كراتشي، الطبعة الأولى: ۱۴۱۳ هجري.
» شرح الكرماني على صحيح البخاري، المسمى بالكوكب الدراري، للإمام العلامة المحدث شمس الدين محمد بن يوسف بن علي الكرماني رحمه الله المتوفى سنة ۷۸۶ هجري دار إحياء التراث العربي، بيروت، الطبعة الثانية: ۱۴۰۱ هجري - ۱۹۸۱ م
» شرح المفصل، لابن يعيش بن علي، عالم الكتب، بيروت، ومكتبة المتنبي، القاهرة.
» شرح النووي على صحيح الإمام مسلم المسمى بالمنهاج للإمام العلامة الفقية الحافظ أبي زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي رحمه الله المتوفى سنة ٦٧٦ هجري دارالمعرفة بيروت، تحقيق: خليل مأمون شيخا / الطبعة الثانية عشر: ۱۴۲۷ هجري - ۲۰۰۶ م / هجري قديمي كتب خانه كراجي، ١٣٧٤ المطبعة المصرية بالأزهر.
» شرح آداب البحث لسمرقندي، قطب الدين محمد الكيلاني، المتوفى: ۱۹۱۴ م، عكس مخطوط جامعة الملك سعود.
» شرح سنن ابي داؤد للإمام بدر الدين أبي محمد محمود بن أحمد بن موسى العيني رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٥ هجري، تحقيق: أبوالمنذر خالد بن إبراهيم المصري، مكتبة الرشيد الرياض الطبعة الأولى: ١٤٢٠ هجري - ۱۹۹۹ م
» شرح شذور الذهب، للإمام محمد جمال الدين عبدالله بن يوسف بن أحمد ابن هشام الأنصاري رحمه الله المتوفى سنة: ۷۶۱ هجري تحقيق: عبدالغني الدقر، دار الكتب العلمية، بيروت، ط: ۱۹۸۲ م
» شرح شواهد المغني، للإمام عبدالرحمن بن أبي بكر السيوطي، منشورات دار مكتبة الحياة، بيروت.

» شرح قطر الندي، للإمام محمد جمال الدين عبدالله بن يوسف بن أحمد ابن هشام الأنصاري رحمه الله المتوفى سنة: ٧٦١ هجري تحقيق: عبدالحميد، قديمي كتب خانه كراجي، مكتبة الطيبة، دار الخير.

» شرح مشكل الآثار، للإمام المحدث الفقيه أبي جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي، رحمه الله المتوفى سنة: ٣٢١ هجري مؤسسة الرسالة، بيروت.

» شرح معاني الآثار، للإمام المحدث الفقيه أبي جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي، رحمه الله المتوفى سنة: ٣٢١ هجري تحقيق: محمد زهري النجار، عالم الكتاب، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٤ هجري-١٩٩٤م/المكتبة الحقانية، ملتان.

» شعب الإيمان للحافظ أبي بكر أحمد بن الحسين البيهقي رحمه الله المتوفى سنة ٣٨٤ هجري - ٤٥٨ هجري تحقيق: أبوهاجر محمد السعيد بن بسيوني زغلول، دار الكتب العلمية بيروت لبنان

» صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان للأمير علاء الدين علي بن بلبان الفارسي، المتوفى ٧٣٩ هجري تحقيق: الشيخ شعب الأرناؤط، مؤسسة الرسالة بيروت، الطبعة الثانية: ١٤١٤ هجري - ١٩٩٣م

» صحيح البخاري الجامع المسند الصحيح من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه، للإمام أبي عبدالله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة بن بردزبه البخاري رحمه الله المتوفى سنة ١٩٤ هجري - ٢٥٦ هجري بإشراف ومراجعة: فضيلة الشيخ صالح بن عبدالعزيز بن محمد بن إبراهيم آل الشيخ، دار السلام للنشر والتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم ١٤٢١ هجري - أبريل ٢٠٠٠م/ دار الفكر، بيروت، تخريج وضبط وتنسيق الحواشي صدقي جميل العطار، الطبعة الأولى: ١٤٢٥ هجري-١٤٢٦ هجري-٢٠٠٥م/دار أرقم بيروت، تحقيق: محمد نزار تميم وهيثم نزار تميم.

» صحيح الإمام مسلم المسند الصحيح المختصر من السنن بنقل العدل عن العدل عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، للإمام الحافظ أبي الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري رحمه الله المتوفى سنة ٢٠٦ هجري - ٢٠٦ هجري، بإشراف ومراجعة: فضيلة الشيخ صالح بن عبدالعزيز بن محمد بن إبراهيم آل الشيخ، دار السلام للنشر والتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم ١٤٢١ هجري - أبريل ٢٠٠٠م

» صفت الصفوة، للإمام العالم جمال الدين أبي الفرج ابن الجوزي رحمه الله، المتوفى سنة: ٥٩٧ هجري دار المعرفة، بيروت.

» طرح التثريب في شرح التقريب، للشيخ زين الدين أبي الفضل عبدالرحيم بن الحسين العراقي: ٧٤٥-٨٠٦ هجري، تحقيق: حميدي الدمرداش محمد، الناشر: مكتبة نزار مصطفى الباز، مكة المكرمة، الرياض، الطبعة الأولى: ١٤٢٤ هجري-٢٠٠٣م

» عارضة الأحوذي بشرح صحيح الترمذي، المعروف بشرح ابن العربي على صحيح الترمذي، للإمام أبي بكر محمد عبدالله المعروف بابن العربي المالكي رحمه الله المتوفى سنة: ٥٤٣ هجري،

بحواشي الشيخ جمال المرعشلي، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، الطبعة الأولى: ۱۴۱۸ هجري -۱۹۹۷م

» علل الحديث لابن أبي حاتم، للحافظ أبي محمد عبد الرحمن بن أبي حاتم محمد بن إدريس الحنظلي الرازي رحمه الله، المتوفى سنة: ۳۲۷ هجري، مكتبة الملك فهد.

» علوم الحديث، للإمام أبي عمرو عثمان بن عبد الرحمن الشهرزوري، تحقيق: الدكتور نور الدين عتر، دار الفكر، دمشق، بيروت، الطبعة الثالثة: ۱۴۲۵ هجري-۲۰۰۴م

» عمدة القاري شرح صحيح البخاري، للإمام العلامة الفقيه المحدث بدر الدين أبو محمد محمود بن أحمد العيني رحمه الله المتوفى سنة ۸۵۵ ضبطه: عبد الله محمود محمد عمر دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ۱۴۲۱ هجري-۲۰۰۱م/إدارة الطباعة المنيرية.

» عوالي الإمام مالك رواية أبي أحمد الحاكم، تحقيق: محمد الحاج الناصر، دار الغرب الإسلامي، الطبعة الثانية: ۱۹۹۸م

» عہد اموی میں سیاسی ومذہبی احزاب، از: ڈاکٹر پروفیسر علی محسن صدیقی، قرطاس، کراچی یونیورسٹی، ط: ۱۴۲۷ ہجری-۲۰۰۷م.

» غنية المستملي في شرح منية المصلي المشتهر بشرح الكبير، للشيخ إبراهيم الحلبي الحنفي، المتوفى سنة: ۹۵۶ هجري، الناشر: سهيل اكيدمي لاهور باكستان، الطبعة الأولى: ۱۳۹۹ هجري-۱۹۷۹م

» فتاوي قاضي خان في مذهب الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان، للإمام فخر الدين أبي المحاسن الحسن بن منصور المعروف بقاضي خان الأوزجندي الفرغاني، المتوفى: ۵۹۲ هجري، قديمي كتب خانه، كراچي.

» فتح الباري شرح صحيح البخاري، للإمام العلام زين الدين عبد الرحمن بن أحمد ابن رجب الحنبلي رحمه الله، المتوفى ۷۹۵ هجري، دار الكتب العلمية/مكتبة الغرباء الأثرية، المدينة المنورة

» فتح الباري شرح صحيح البخاري للإمام الحافظ أحمد بن علي بن الحجر العسقلاني رحمه الله المتوفى ۸۵۲ هجري دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الرابعة: ۱۴۲۴ هجري-۲۰۰۳م/ دار السلام، الرياض، الطبعة الأولى: ۱۴۲۱ هجري-۲۰۰۰م

» فتح الباري شرح صحيح البخاري، للإمام العلامه زين الدين عبد الرحمن بن أحمد ابن رجب الحنبلي رحمه الله المتوفى سنة: ۷۹۵ هجري، تحقيق: أحمد فتحي عبد الرحمن، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ۱۴۲۷ هجري-۲۰۰۶م/مكتبة الغرباء الأثرية، المدينة المنورة.

» فتح القدير على الهداية للشيخ الإمام كمال الدين محمد بن عبد الواحد المعروف بابن الهمام الحنفي رحمه الله المتوفى ۸۶۱ هجري، تحقيق: الشيخ عبد الرازق غالب المهدي، المكتبة الرشيدية كوئته.

» فتح المغيث شرح ألفية الحديث، للإمام الحافظ شمس الدين محمد بن عبد الرحمن السخاوي، المتوفى: ۹۰۲ هجري، تحقيق: مجدي السيد ومصطفى شتات، المكتبة التوقيفية، القاهرة.
» فتح الملهم شرح صحيح مسلم للعلامة المحدث مولانا شبير أحمد العثماني رحمه الله المتوفى ۱۳٦۹ هجري دار القلم، دمشق، الطبعة الأولى: ۱۴۲۷ هجري-۲۰۰۶م
» فضل الباري (شرح اردو) صحيح البخاري، لشيخ الإسلام العلام شبير أحمد العثماني رحمه الله المتوفى ۱۳٦۹ هجري، ترتيب ومراجعة قاضي عبد الرحمن، إدارة العلوم الشرعيه كراتشي، ط: ۱۳۹۵ هجري-۱۹۷۵م
» فقه السنة، للسيد سابق، دار الفاتح للإعلام العربي، ط: ۱۴۱٦ هجري-۱۹۹۵م
» فقه اللغة وأسرار العربية، للإمام أبي منصور عبد الملك بن محمد بن إسماعيل الثعالبي، المتوفى: ۴۳۰ هجري، تحقيق: ياسين الأيوبي، المكتبة العصرية، بيروت، الطبعة الثانية: ۱۴۲۰ هجري-۲۰۰۰م/ مكتبة الخانجي القاهرة، الطبعة الثانية: ۱۴۱۸ هجري-۱۹۹۸م
» فوات الوفيات والذيل عليها، للإمام محمد شاكر الكبتي: ۷٦۴ هجري، تحقيق: الدكتور إحسان عباس، دار صادر بيروت.
» فهرست أسماء مصنفي الشيعة، المعروف برجال النجاشي، لأبي العباس أحمد بن علي بن العباس النجاشي، تحقيق: موسى الشبيري، ومؤسسة النشر الإسلامي، قم.
» فيروز اللغات، مصنف الحاج مولوي فيروز الدين، فيروز سنز، لاهور، كراچي، دوسرا ایڈیشن، فیروز اللغات اردو جدید، اٹھائیسویں اشاعت: ۲۰۱۲م.
» فيض الباري على صحيح البخاري للفقيه المحدث الشيخ محمد أنور الكشميري ثم الديوبندي رحمه الله المتوفى ۱۳۵۲ هجري مع حاشية البدر الساري إلى فيض الباري، للعلامة بدر عالم الميرتهي، دار الكتب العلمية/ المكتبة الرشيديه كوئته.
» قواعد في علوم الحديث (مقدمة إعلاء السنن) للعلامة المحقق الفقيه ظفر أحمد العثماني التهانوي رحمه الله المتوفى سنة: ۱۳۹۴ هجري، تحقيق: الشيخ العلامة عبد الفتاح أبو غدة، إدارة القرآن والعلوم الإسلامية كراتشي.
» كتاب الأم، للإمام الفقيه المحدث محمد بن إدريس الشافعي رحمه الله (۱۵۰ هجري-۲۰۴ هجري) بتحقيق: الدكتور أحمد بدر الدين حسون، دار قتيبة، دمشق وبيروت، الطبعة الثانية: ۱۴۲۴ هجري-۲۰۰۳م، دار الوفاء/ بتحقيق: الدكتور رفعت فوزي عبد المطلب.
» كتاب التاريخ الكبير للحافظ النقاد شيخ الإسلام أبي عبد الله إسماعيل بن إبراهيم البخاري رحمه الله المتوفى سنة ۲۵٦ هجري الموافق: ۸٦۹م دار الكتب العلمية بيروت لبنان الطبعة الأولى: ۱۴۰۷ هجري-۱۹۸٦م
» كتاب التعريفات، للإمام أبي الحسن السيد الشريف علي بن محمد بن علي الحسيني الجرجاني، الحنفي (۷۴۰ هجري-۸۱٦ هجري)، قديمي كتب خانه كراچي.

» كتاب الثقات للإمام الحافظ محمد بن حبان بن أحمد بن حاتم التميمي البستي رحمه الله المتوفى سنة ٣٥٤ هجري الموافق: ٩٦٥م تحت مراقبة: الدكتور محمد عبدالمعيد خان، دارالفكر، بيروت، الطبعة الأولى: ١٣٩٣ هجري – ١٩٧٣م/ مطبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية، حيدرآباد، الهند، ط: ١٤٠٠ هجري/دارالكتب العلمية، بيروت، مع حواشي إبراهيم شمس الدين وتركي فرحان المصطفى، الطبعة الأولى: ١٤١٩ هجري–١٩٩٨م

» كتاب الذيل على طبقات الحنابلة لابن رجب الحنبلي، للإمام الحافظ زين الدين أبي الفرج عبدالرحمن بن شهاب الدين أحمد البغدادي الحنبلي (٧٣٦ هجري - ٧٩٥ هجري)، تصحيح: محمد حامد الفقي (١٣٧٢ هجري–١٩٥٣م) مكتبة السنة المحمدية، القاهرة، مصر.

» كتاب الزهد ويليه كتاب الرقائق للإمام شيخ الإسلام عبدالله بن المبارك المروزي المتوفى سنة: ١٨١ هجري، حققه وعلق عليه: الأستاذ المحدث المحقق الشيخ حبيب الرحمن الأعظمي، دارالكتب العلمية، بيروت، لبنان، الطبعة الثانية: ١٤٢٥ هجري–٢٠٠٤م

» كتاب الضعفاء الكبير، للحافظ أبي جعفر محمد بن عمرو بن موسى بن حماد العقيلي المكي، تحقيق: الدكتور عبدالمعطي أمين قلعجي، دارالكتب العلمية بيروت.

» كتاب العلل ومعرفة الرجال، للإمام أبي عبدالرحمن عبدالله بن أحمد بن حنبل رحمه الله، تحقيق: أبوعبدالهادي محمد مجفان الجزائري، مكتبة دارابن حزم، الطبعة الأولى: ١٤٢٥ هجري الموافق: ٢٠٠٤م

» كتاب الفقيه والمتفقه، للإمام أبي بكر أحمد بن علي بن ثابت الخطيب البغدادي، المتوفى: ٤٦٢ هجري، تحقيق: أبوعبدالرحمن عادل بن يوسف الغرازي، دار ابن الجوزية، السعودية، ط: ١٤٢١ هجري.

» كتاب الفهرست لابن النديم، لأبي الفرج محمد بن أبي يعقوب إسحاق الوراق الشيعي، المعروف ابن النديم، المتوفى: ٣٨٠ هجري، تحقيق: رضا– تجدد الحائري، نور محمد كتب خانه كراچی.

» كتاب المجروحين من المحدثين، للإمام الحافظ محمد بن حبان بن أحمد أبي حاتم التميمي البستي رحمه الله المتوفى سنة: ٣٥٤ هجري، تحقيق: حمدي عبدالمجيد السلفي، دار الصميعي، المملكة العربية السعودية، الطبعة الأولى: ١٤٢٠ هجري–٢٠٠٠م/دارالمعرفة، بيروت.

» كتاب الموضوعات، للإمام أبي الفرج عبدالرحمن بن علي بن الجوزي، المتوفى: ٥٩٧ هجري، تحقيق: توفيق حمدان، دارالكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٢٧ هجري–٢٠٠٣م/ محمد سعيد اینڈ سنز، کراچی، تحقیق: عبدالرحمن محمد عثمان، الطبعة الأولى: ١٣٨٨ هجري–١٩٦٨م

» كتاب الإصابة في معرفة الصحابة، للإمام الحافظ أحمد بن علي بن حجر العسقلاني، رحمه الله (٧٧٣ هجري - ٨٥٢ هجري) دارالفكر، بيروت، الطبعة الأولى: ١٣٩٨ هجري–١٩٧٨م

» كشف الاستار عن زوائد البزار على الكتب الستة، للحافظ نور الدين علي بن أبي بكر الهيثمي (۲۰٦ هجري - ۲۸۷ هجري)، تحقيق: الشيخ العلامة حبيب الرحمن الأعظمي، مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الثانية: ۱٤۰٤ هجري - ۱۹۸٤ م

» كشف الأسرار عن أصول فخر الإسلام البزدوي، للإمام علاء الدين عبد العزيز أحمد البخاري، المتوفى: ۷۳۰ هجري مع حاشية عبد الله محمود محمد عمر، دار الكتب العلمية بيروت، ط: ۱۳۹٤ هجري - ۱۹٦۹ م

» كشف الباري عما في صحيح البخاري، لشيخ الحديث مولانا سليم الله خان دامت بركاتهم، المكتبة الفاروقية كراتشي، ط: ۱٤۲۹ هجري - ۲۰۰۸ م

» كشف الظنون عن أسامي الكتب والفنون، للمؤرخ الشهير مصطفى بن عبد الله، المعروف بحاجي خليفة وبكاتب جلبي، تقديم، شهاب الدين النجفي، مكتبة المثنى، بغداد.

» كشف القناع عن متن الإقناع للشيخ العلامة فقيه الحنابلة منصور بن يونس بن إدريس البهوتي رحمه الله المتوفى سنة ۱۰٥۱ هجري عالم الكتب الطبعة الأولى سنة ۱٤۱۷ هجري.

» كشف المشكل من حديث الصحيحين، للإمام الحافظ جمال الدين أبي الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي رحمه الله المتوفى سنة: ٥۹۷ هجري، تحقيق: الدكتور علي حسين البواب، دار النشر دار الوطن، الرياض، ط: ۱٤۱۸ هجري - ۱۹۹۷ م

» كشف الغطاء عن وجه المؤطأ (حاشية مؤطأ الإمام مالك) للشيخ محمد إشفاق الرحمن كاندهلوي رحمه الله، قديمي كتب خانه.

» كفاية الأخيار في حل غاية الاختصار، تقي الدين أبي بكر بن محمد الحسيني الدمشقي، تحقيق: كامل محمد محمد عويضه، دار الكتب العلمية بيروت، ط: ۱٤۲۲ هجري - ۲۰۰۱ م

» كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال للعلامة علاء الدين علي المتقي بن حسام الدين الهندي رحمه الله المتوفى: ۹۷٥ تحقيق: محمود عمر الدمياطي، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ۱٤۲۳ هجري - ۲۰۰٤ م

» لامع الدراري على جامع البخاري للفقيه المحدث الشيخ رشيد أحمد الجنجوهي رحمه الله المتوفى سنة ۱۳۲۳ هجري، ضبط: الإمام المحدث محمد يحيى الكاندهلوي المتوفى: ۱۳۳٤ هجري، المكتبة الإمدادية مكة مكرمة، ط: ۱۳۹٦ هجري - ۱۹۷٦ م

» لسان العرب للإمام العلام أبي الفضل جمال الدين محمد بن مكرم ابن منظور الأفريقي المصري المتوفى سنة ۷۱۱ هجري دار إحياء التراث العربي بيروت/ الطبعة الثالثة/ مؤسسة التاريخ الإسلامي بيروت لبنان.

» لسان الميزان للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن الحجر العسقلاني رحمه الله المتوفى سنة ۸٥۲ اعتنى به: الشيخ عبد الفتاح أبو غدة، مكتب المطبوعات الإسلامي، مكتبة دار البشائر الاسلامية بيروت، الطبعة الأولى: ۱٤۲۳ هجري - ۲۰۰۲ م/ دار إحياء التراث العربي، بيروت،

الطبعة الثانية: ۱٤۲۲ هجري – ۲۰۰۱م/ هجري مجلس دائرة المعارف النظامية، بحيدآباد، الدكن، الهند/ دار إحياء التراث العربي، بيروت، تحقيق: مكتبة التحقيق، بإشراف محمد عبدالرحمن المرعشلي، الطبعة الثانية: ۱٤۲۳ هجري – ۲۰۰۱م

» لغات كشوري (بڑا سائز) مؤلف سيد تصدق حسين رضوي، مير محمد كتب خانه كراچي.

» لغات القرآن مع فهرست الفاظ، مولانا عبدالرشيد النعماني، دار الاشاعت، كراچي، طباعت: ۱۹۹۴م

» مبادي العلم الحديث وأصوله للإمام العلامة الشيخ شبير أحمد عثماني، المتوفى: ۱۳۶۹ هجري المعتنى به: الشيخ عبدالفتاح أبو غدة، مكتب المطبوعات الإسلامية، دار البشائر الإسلامية، بيروت، الطبعة الرابعة في لبنان بيروت: ۱۴۳۲ هجري – ۲۰۱۱م

» مجمع الزوائد ومنبع الفوائد للحافظ نور الدين علي بن ابي بكر الهيثمي رحمه الله المتوفى: ۸۰۷ هجري بتحرير الحافظين الجليلين العراقي وابن حجر، دار الفكر بيروت الطبعة الأولى ۱۴۰۸ هجري – ۱۹۸۸م

» مجمع بحار الأنوار في غرائب التنزيل ولطائف الأخبار، للشيخ العلام اللغوي محمد طاهر الصديقي الهندي الججراتي المتوفى سنة ۹۸۶ هجري الموافق سنة ۱۵۷۸ء طبع مطبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية بحيدر آباد الدكن الهند، ط: ۱۳۹۳ هجري – ۱۹۷۳م

» مختار الصحاح للإمام محمد بن أبي بكر بن عبدالقادر الرازي رحمه الله المتوفى بعد سنة ۶۶۶ هجري دار إحياء التراث العربي، بيروت، الطبعة الأولى: ۱۴۱۵ هجري – ۱۹۹۴م

» مختصر اختلاف العلماء، للإمام المحدث الفقيه أبي جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي رحمه الله المتوفى: ۳۲۱ هجري، للإمام ابي بكر أحمد بن علي الجصاص الرازي المتوفى: ۳۷۰ هجري، تحقيق: الدكتور نذير أحمد، دار البشائر الإسلامية، بيروت، الطبعة الأولى ۱۴۱۶ هجري – ۱۹۹۵م

» مدرسة الكذابين في رواية التاريخ الإسلامي وتدوينه، للدكتور خالد كبير علال، دار البلاغ، اللجزائر، الطبعة الأولى: ۱۴۱۶ هجري – ۱۹۹۶م

» مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح للعلامة الفقيه المحدث الشيخ علي بن سلطان محمد القاري رحمه الله المتوفى سنة ۱۰۱۴ هجري، تحقيق: الشيخ جمال عيتاني، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ۱۴۲۵ هجري – ۲۰۰۷م

» مسند البزار، للحافظ الإمام أبي عمرو أحمد بن عمرو بن عبدالخالق البصري البزار رحمه الله المتوفى: ۲۹۲ هجري مكتبة العلوم والحكم، السعودية، الطبعة الأولى: ۱۴۲۴ هجري.

» مسند الحميدي، للإمام المحدث أبي بكر عبدالله بن الزبير القرشي المعروف بالحميدي رحمه الله المتوفى سنة: ۲۰۹ هجري، تحقيق: الشيخ المحدث حبيب الرحمن الأعظمي دار الفكر، بيروت، ط: ۱۳۸۰ هجري/ دار السقاء، دمشق.

» مسند الشاميين، للإمام أبي القاسم سليمان بن أحمد بن أيوب اللخمي الطبراني (۲٦٠ هجري - ۳٦٠ هجري)، تحقيق: حمدي بن عبد المجيد السلفي، مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٦ هجري-١٩٩٦م

» مسند الإمام الشافعي على ترتيب السندي، دار الكتب العلمية، بيروت.

» مسند الإمام أحمد بن حنبل، للإمام أحمد بن حنبل رحمه الله، المتوفى سنة: ٢٤١ هجري، تحقيق: الشيخ شعيب الأرنؤوط وجماعة، مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢١ هجري-٢٠٠١م/مؤسسة قرطبة، القاهرة/عالم الكتب، دار الكتب العلمية، بيروت، مع تحقيق: محمد عبد الشافي، ط: ١٤١٣ هجري-١٩٩٣م

» مسند أبي عوانة، للإمام الجليل أبي عوانة، يعقوب بن إسحاق الأسفرائيني رحمه الله، المتوفى سنة: ٣١٦ هجري، تحقيق: أيمن بن عارف الدمشقي، دار المعرفة، بيروت، لبنان، الطبعة الأولى: ١٤١٩ هجري-١٩٩٨م

» مسند أبي يعلى الموصلي، للإمام أبي يعلى أحمد بن علي بن المثنى الموصلي، المتوفى: ٣٠٧ هجري، تحقيق: حسين سليم أسد، مكتبة الرشد، الرياض، دار المأمون للتراث، دمشق، الطبعة الأولى: ١٤٣٠ هجري-٢٠٠٩م/دار الكتب العلمية، بيروت، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، الطبعة الأولى: ١٤١٨ هجري-١٩٩٨م

» مسند أطراف الإمام أحمد بن حنبل، المسمى بإطراف المسند المعتلي بأطراف المسند الحنبلي، للإمام الحافظ ابن حجر العسقلاني، المتوفى: ٨٥٢ هجري، تحقيق: الدكتور زهير بن ناصر الناصر، دار ابن كثير، دمشق، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٤ هجري-١٩٩٣م

» مسند أبي داؤد الطيالسي، للإمام المحدث أبي داؤد سليمان بن داؤد بن الجارود رحمه الله المتوفى سنة: ٢٠٤ هجري، تحقيق: محمد حسن محمد حسن إسماعيل، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٥ هجري-٢٠٠٤م

» مشارق الأنوار على صحاح الآثار، للإمام الشهير الكبير القاضي أبي الفضل عياض بن موسى بن عياض اليحصبي البتي المالكي، المتوفى: ٥٤٤ هجري، دار التراث، القاهرة.

» معارف السنن شرح سنن الترمذي، للإمام المحدث الشيخ السيد محمد يوسف بن سيد محمد زكريا الحسيني البنوري رحمه الله المتوفى سنة ١٣٩٧، المكتبة البنورية كراچی /ایچ، ایم، سعید کمپنی

» معالم السنن شرح سنن الإمام أبي داؤد رحمه الله للإمام أبي سليمان حمد بن محمد بن الخطابي البستي رحمه الله المتوفى سنة ٣٨٨ هجري طبعه وصححه محمد راغب الطباخ في مطبعة العلمية بحلب.

» معجم الأدباء، للإمام العلامة الأديب المؤرخ شهاب الدين أبي عبد الله ياقوت بن عبد الله الرومي الحموي ٥٧٧-٦٢٦ هجري/١١٧٨-١٢٢٨م، تحقيق: الدكتور عمر الفاروق، مؤسسة المعارف بيروت، الطبعة الثالثة: ١٤٢٨ هجري-٢٠٠٧م

» معجم الصحاح للإمام العلامة إسماعيل بن حماد الجوهري المتوفى سنة ٣٩٣ هجري دار المعرفة بيروت لبنان الطبعة الثالثة: ١٤٢٨ هجري-٢٠٠٧م
» معجم المؤلفين تراجم مصنفي الكتب العربية، لعمر رضا كحاله، دار إحياء التراث العربي، بيروت.
» معجم الرجال الحديث وتفصيل طبقات الرواة، لأبي القاسم الموسوي الخوئي، الطبعة الخامسة: ١٤١٣ هجري-١٩٩٢م، إيران.
» معجم مفردات القرآن، للعلامة أبي القاسم الحسين بن محمد بن المفضل، المعروف بالراغب الأصفهاني، المتوفى: ٥٠٣ هجري، دار الكتب العلمية، بيروت، ط: ١٤٢٥ هجري-٢٠٠٤م
» معجم مقاييس اللغة، لأبي الحسين أحمد بن فارس بن زكريا القزويني الرازي رحمه الله المتوفى سنة: ٣٩٥ هجري، تحقيق: عبد السلام محمد هارون، دار الفكر، بيروت، الطبعة الأولى: ١٣٩٩ هجري-١٩٧٩م
» معرفة الثقات للإمام أحمد بن عبد الله بن صالح الكوفي الحسن العجلي رحمه الله المتوفى ٢٦١ هجري تحقيق: عبد العليم عبد العظيم البستوي، مكتبة الدار المدينة المنورة، الطبعة الأولى: ١٤٠٥ هجري-١٩٨٥م
» معرفة الصحابة لأبي نعيم للإمام المحدث العلامة أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن مهران المعروف بأبي نعيم الأصبهاني رحمه الله المتوفى سنة ٤٣٠ هجري، تحقيق: محمد حسن محمد حسن إسماعيل ومسعر عبد الحميد المغني، دار الكتب العلمية بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٢ هجري -٢٠٠٢م/دار الوطن للنشر.
» معرفة أنواع علم الحديث، للإمام أبي عمرو عثمان بن عبد الرحمن الشهرزوري، تحقيق: الدكتور عبد اللطيف، ماهر ياسين الفحل، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٢٣ هجري.
» مغني اللبيب عن كتب الأعاريب، للإمام محمد جمال الدين عبد الله بن يوسف بن أحمد ابن هشام الأنصاري رحمه الله المتوفى: ٧٦١ هجري، تحقيق: حسن حمد، قديمي كتب خانه كراجي /المكتبة العصرية، بيروت، لبنان، ط: ١٩٨٧م
» مغني المحتاج إلى ألفاظ المنهاج، للشيخ محمد الخطيب الشربيني، دار الفكر، بيروت/ مطبعة مصطفى البابي وأولاده، مصر.
» مفتاح السعادة ومصباح السيادة في موضوعات العلوم، للعلامة أحمد بن مصطفى الشهير بطاش كبري زاده، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٠٥ هجري-١٩٨٥م
» مكمل إكمال الإكمال، للإمام أبي عبد الله محمد بن محمد بن يوسف السنوسي رحمه الله المتوفى: ٨٩٥ هجري، دار الكتب العلمية، بيروت.
» مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه، للإمام شمس الدين أبي عبد الله محمد بن أحمد الذهبي الدمشقي رحمه الله المتوفى سنة: ٧٤٨ هجري، مكتبة المطبوعات الإسلامية، حلب.

» مواهب الجليل لشرح مختصر الخليل، لأبي عبدالله محمد بن محمد بن عبدالرحمن المغربي المتوفى: ۹۵۴ هجري دار عالم الكتب.
» موسوعة الحديث الشريف للكتب الستة، دار السلام، المملكة العربية السعودية، الطبعة الثالثة: ۱۴۲۱ هجري-۲۰۰۰م
» موسوعة كشاف اصطلاحات الفنون والعلوم، للباحث العلامة محمد على التهانوي، تحقيق: الدكتور على دحروج، مكتبة لبنان ناشرون، الطبعة الأولى: ۱۹۹۶م
» ميزان الإعتدال في نقد الرجال للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن احمد بن عثمان بن قايماز الذهبي رحمه الله المتوفى: ۷۴۸ هجري، تحقيق: على محمد البجاوي، دار إحياء الكتب العربية، عيسى البابي الحلبي وشركاءه، الطبعة الأولى: ۱۳۸۲ هجري-۱۹۶۳م
» نزهة النظر في توضيح نخبة الفكر لابن حجر العسقلاني، تحقيق: الدكتور نور الدين العتر، الرحيم اكيدمي كراتشي، مكتبة البشري، كراتشي.
» نقد الرجال، لمصطفى بن الحسين الحسيني التفرشي الشيعي، مؤسسة آل البيت لإحياء التراث، قم إيران، الطبعة الأولى: ۱۴۱۸م
» نوادر الأصول في أحاديث الرسول صلى الله عليه وسلم، للإمام أبي عبدالله محمد بن على الحسن الحكيم الترمذي، المتوفى: ۳۶۰ هجري، تحقيق: عبدالرحمن عميرة، دار الجيل، بيروت، ط: ۱۹۹۲م
» نيل الأوطار من أحاديث سيد الأبرار شرح منتقى الأخبار، للشيخ الإمام محمد بن على الشوكاني رحمه الله المتوفى: ۱۲۵۵ هجري، تحقيق: محمد سالم هاشم، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، الطبعة الثانية: ۱۴۲۵ هجري-۲۰۰۴م
» وفيات الأعيان وأنباء أبناء الزمان، لأبي العباس شمس الدين أحمد بن محمد بن أبي بكر بن خلكان ۶۰۸ هجري - ۶۸۱ هجري، تحقيق: الدكتور إحسان عباس، دار صادر، بيروت.
» هدي الساري مقدمة فتح الباري، للحافظ أبي الفضل أحمد بن على بن حجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة: ۸۵۲ هجري، دار الكتب العلمية، بيروت، البعة الرابعة: ۱۴۲۴ هجري-۲۰۰۳م، دار السلام الرياض، الطبعة الأولى: ۱۴۲۱ هجري-۲۰۰۰م.
» همع الهوامع شرح جمع الجوامع في علم العربية، للإمام عبدالرحمن بن أبي بكر السيوطي، المتوفى: ۹۱۱ هجري، مكتبة الكليات الأزهرية والقاهرة، الطبعة الأولى: ۱۳۲۷م

تمت بالخير